کشف الباری
عما فی
صحیح البخاری
تصنیف
حضرت مولانا سلیم اللہ خان

کتاب فضائل القرآن، کتاب النکاح، کتاب الطلاق

مؤلف ← صدر وفاق المدارس مولانا سلیم الله خان مدظله العالی
شیخ الحدیث جامعه فاروقیه کراچی
ترتیب وتحقیق ← مولانا ابن الحسن عباسی (مؤلف درس مقامات)
ترجمه ← مولانا شاه فیصل فاضل وفاق المدارس، امداد العلوم

خصوصیات

جلد ⑫

① داحادیثو تخریج
② د تعلیقات بخاری تخریج کول
③ د اسماء الرجال مختصر تعارف
④ دګرانو لغاتو لغوی صرفی او نحوی حل
⑤ ماقبل باب سره د ربط په باره کښې پوره تحقیق
⑥ د شرحې د هرې خبرې په حاشیه کښې حواله ورکول
⑦ د ترجمة الباب مقصد په بیانولو کښې پوره تحقیق
⑧ د مختلفو مذاهبو تحقیقی بیان او بیا د مذهب حنفی ترجیح
⑨ دحدیث اطراف بیانول چه په بخاری کښې داحدیث په کوم کوم ځائې کښې دې

خورونکی فیصل کتب خانه محله جنګی پیښور
موبائل:- ۰۳۲۱۹۰۹۱۸۳۵

دکتاب نوم:- کشف الباری عما فی صحیح البخاری

جلد: کتاب فضائل القرآن، کتاب النکاح، کتاب الطلاق

شارح: صدر وفاق المدارس شیخ الحدیث مولانا سلیم اللہ خان مدظلہ العالی

ترتیب وتحقیق: مولانا ابن الحسن عباسی استاذ جامعہ فاروقیہ کراچی

پښتو مترجم: مولانا شاہ فیصل فاضل امداد العلوم ووفاق المدارس
ایم اے اسلامیات وعربی پیښور یونیورسټي

د ملاویدو پتې: د فیصل کتب خانه پېښور څخه علاوه

- رشیدیه کتب خانه اکوړه خټک
- علمیه کتب خانه اکوړه خټک ۰۹۲۳۶۳۰۵۹۴
- مکتبه رشیدیه کوئټه ۰۸۱۲۶۶۲۲۶۳
- مکتبه عثمانیه کانسی روډ کوئټه ۰۳۰۱۳۷۳۷۰۳۰
- مکتبه یوسفیه کانسی روډ کوئټه ۰۳۲۱۰۸۲۸۹۳۰
- راشد کتب خانه چمن ۰۳۰۰۳۸۹۶۳۵۳
- مکتبه عمریه تاج میر روډ چمن بلوچستان
- مکتبه علوم اسلامیه تاج میر روډ چمن بلوچستان ۰۳۳۳۷۹۵۸۶۹۶
- مکتبه حقانیه چمن ۰۳۳۳۷۷۵۲۲۱۹
- صداقت کتب خانه قندهار افغانستان ۰۷۸۷۷۴۲۳۲۱
- مکتبهٔ رحمانیه قندهار افغانستان ۰۷۹۷۷۳۵۲۸۱
- مکتبه عبدالحي قندهار افغانستان ۰۷۰۰۸۲٤۳۳٤
- اسدالله کتب خانه قندهار افغانستان ۰۷۰۷٤۷۷٦۲۷
- مکتبهٔ غفاریه قندهار افغانستان ۰۷۰۰۳٤۱۷٤۹
- مکتبهٔ رشیدیه قندهار افغانستان ۰۷۷۲۲۱۰۷۰۹
- مکتبهٔ حبیبیه قندهار افغانستان ۰۷۹۹٤٤۷٤۱۳
- مکتبهٔ القدس قندهار افغانستان ۰۷۰۷۹٤۸۵۵۹
- قدرت کتب خانه کابل افغانستان ۰۷۹۹۲۱۹۲۰۳
- عبدالمجید کتب خانه جلال آباد ۰۷۰۸۱۹۷۷۴۹
- شاهین کتب خانه خوست افغانستان
- بلال کتب خانه خوست افغانستان
- اسلامي کتب خانه خوست افغانستان ۰۷۹۹۳۱۰۲۴۷

فهرست مضامین

شميره	مضمون	صفحه

٦- بَاب تَأْلِيفِ الْقُرْآنِ

٧- بَاب كَانَ جِبْرِيلُ يَعْرِضُ الْقُرْآنَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

٩- بَاب فَضْلِ فَاتِحَةِ الْكِتَابِ

١۴- بَاب فَضْلِ الْمُعَوِّذَاتِ

١٧- بَاب فَضْلِ الْقُرْآنِ عَلَى سَائِرِ الْكَلَامِ

٢٠- بَاب اغْتِبَاطِ صَاحِبِ الْقُرْآنِ

شمیره	مضمون	صفحه

شمیرہ	مضمون	صفحہ

۹_ بَابِ نِکَاحِ الْأَبْكَارِ

۱۱_ بَابِ تَزْوِيجِ الصِّغَارِ مِنَ الْكِبَارِ

۱۳- بَابِ اتِّخَاذِ السَّرَارِيِّ وَمَنْ أَعْتَقَ جَارِيَتَهُ ثُمَّ تَزَوَّجَهَا

۱۴- بَابِ مَنْ جَعَلَ عِتْقَ الْأَمَةِ صَدَاقَهَا

شمیره	مضمون	صفحه

شمیرہ	مضمون	صفحہ

شمیره	مضمون	صفحه

شمیرہ	مضمون	صفحہ

۶۸- بَابُ الْوَلِيمَةِ وَلَوْ بِشَاةٍ

۷۱- بَابُ حَقِّ إِجَابَةِ الْوَلِيمَةِ وَالدَّعْوَةِ وَمَنْ أَوْلَمَ سَبْعَةَ أَيَّامٍ وَنَحْوَهُ

۷۶- بَابُ هَلْ يَرْجِعُ إِذَا رَأَى مُنْكَرًا فِي الدَّعْوَةِ

۷۸- بَابُ النَّقِيعِ وَالشَّرَابِ الَّذِي لَا يُسْكِرُ فِي الْعُرْسِ

شمیره	مضمون	صفحه

۸۲- بَابُ حُسْنِ الْمُعَاشَرَةِ مَعَ الْأَهْلِ

۷۳ - بَابُ مَوْعِظَةِ الرَّجُلِ ابْنَتَهُ لِحَالِ زَوْجِهَا

۸۴- بَابُ صَوْمِ الْمَرْأَةِ بِإِذْنِ زَوْجِهَا تَطَوُّعًا

شمیره	مضمون	صفحه

۸۹- بَاب الْمَرْأَةُ رَاعِيَةٌ فِي بَيْتِ زَوْجِهَا

۹۲- بَاب مَا يُكْرَهُ مِنْ ضَرْبِ النِّسَاءِ

۹۶- بَاب الْقُرْعَةِ بَيْنَ النِّسَاءِ إِذَا أَرَادَ سَفَرًا

شمیرہ	مضمون	صفحہ

۷۱- کتاب الطلاق

۲- بَاب مَنْ طَلَّقَ وَهَلْ يُوَاجِهُ الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ بِالطَّلَاقِ

شمیره	مضمون	صفحه

شمیره	مضمون	صفحه

۱۱- بَابُ الْخُلْعِ وَكَيْفَ الطَّلَاقُ فِيهِ

شميره	مضمون	صفحه

شمیره	مضمون	صفحه

۲۶- بَاب یَبْدَأُ الرَّجُلُ بِالتَّلَاعُنِ

۲۸- بَاب التَّلَاعُنِ فِي الْمَسْجِدِ

۳۲- بَاب التَّفْرِيقِ بَيْنَ الْمُتَلَاعِنَيْنِ

شمیره	مضمون	صفحه

یو وضاحت

کتاب فضائل القرآن: الاحادیث (۴۶۹۴- ۴۷۷۵)

د صحیح بخاری کتاب فضائل القرآن په ۳۷ بابونو مشتمل دې او په دې کښې امام بخاری ټول (۹۹) احادیث مرفوعه ذکر کړی دی په دې کښې د معلق او متابعاتو تعداد اتلس دې او باقی ۸۱ احادیث موصوله دی ۷۳ احادیث په کښې مکرر دی یعنی هغه مخکښې تیر شوی دی او باقی ۲۶ احادیث هغه دی چه امام دلته په اول ځل ذکر کړی دی د فضائل قرآن د یوولسو احادیثو نه علاوه باقی ټولو احادیث امام مسلم رحمه الله هم نقل کړی دی په دې وجه ددې باب اکثر احادیث متفق علیه دی کتاب فضائل القرآن کښې امام بخاری رحمه الله د صحابو رضی الله عنهم او سلف صالحینو اووه آثار هم نقل کړی دی ـ

....

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ
حامداً ومصلیاً:

د مرتب درخواست: دصحیح البخاری د جلد ثانی نه د کشف الباری دریم جلد ستاسو په لاسونو کښې دې داپه کتاب فضائل القرآن،کتاب النکاح او کتاب الطلاق باندې مشتمل دې کتاب التفسیر د کتاب المغازی نه درې کاله ورسته راغلې وو ددې دریم جلد په ترتیب ،تحقیق ، تعلیق او کتابت او طباعت کښې دوه کاله وخت اولګیدلو ،دکشف الباری کتاب المغازی اوکتاب التفسیر هریو د جدا جدا موضوع په وجه دمستقل کتاب حیثیت لری همدا شان دا جلد هم د جدا موضوع په وجه د مستقل کتاب حیثیت لری دا جلد چه د صحیح البخاری د کومې حصې په تشریح مشتمل دی په دې حصه کښې امام بخاری رحمه الله انسان د ازدواجی ژوند متعلق د نبی کریم ﷺ احادیث مبارکه او د صحابه رضی الله عنهم او سلف صالحینو رحمهم الله آثار او اقوال خپل خاص او منفرد اسلوب سره جمع کړی دی امام بخاری رحمه الله په کتاب فضائل القرآن کښې (۳۷) بابونه ،کتاب النکاح کښې (۱۳۶) بابونه او کتاب الطلاق کښې (۵۳) بابونه قائم کړی دی نو په دې جلد کښې ټول (۲۱۶) بابونه دی دا بابونه په(۴۴۵) مرفوع،احادیثو او د حضرات صحابه کراموﷺ او سلف صالحینو رحمهم الله په (۱۳۳) آثارو باندې مشتمل دې

مرفوع احادیثو کښې (۳۲۷) احادیث مکرر دی او (۱۱۸) احادیث په اول ځل امام بخاری رحمه الله ذکر کړی دی دغه په اول ځل راغلی احادیثو په تخریج کښې په حاشیه کښې د صحاح سته نه شوې دې کتاب النکاح کښې امام بخاری رحمه الله د رضاع مسائل هم بیان کړی دی دغه شان کتاب الطلاق کښې د لعان، ظهار او عدت مسائل هم راغلی دی .

په ترتیب او تحقیق کښې هم د دغه امورو خیال ساتل شوې دې د کوم ذکر چه مخکنی جلدونو کښې شوې دې ترجمة الباب ، د امام بخاری رائې او رجحان ، د ائمه اربعه مسلك، او بحث طلب مسائلو کښې د دوی د دلائلو د وضاحت اهتمام شوې دې د هر کتاب په ابتداء کښې د هغې سرسری تعارف هم کړې شوې دې

دې عظیم علمی کار دپاره چه د کوم علمی ، روحانی ، او جسمانی قوتونو او صلاحیتونو د روښانه لالټین ضرورت دې د خپل ژوند په بیایان کښې د لرې لرې پورې د هغې رڼا نه ښکاری خو په دې خیال زما همت کلك او زیاتیږی چه الله جل شانه کمزوزې ګیاه لره د دروند غر د استحکام عطاء کولې شی بې وسه میږې د سلیمان علیه السلام ملګرې کولې شی یوې ذره ته وسعت او فراخوالې ورکولې شی اود مخالف موسم بې رونقۍ د فصل ګل په رونقونو بدلولې شی .

الله تعالی خالص په خپل فضل او کرم سره د د رې جلدونو د ترتیب کولو توفیق ماته نصیب کړه او د هغه د فضل نه مې دا امید دې چه هم دغه شان به راتلونکی جلدونه هم مکمل شی

آخر کښې د لوستونکو نه د حضرت شیخ الحدیث دامت برکاتهم د صحت او عافیت دپاره د خصوصی دعاګانو درخواست دې چه دا کار الله تعالی د هغوی د شفقت په سیوری کښې مکمل کړی اودې ناکاره ته د باقی حصو دتکمیل توفیق نصیب کړی او په وختونو کښې برکت او د ترتیب او تحقیق په مراحلو کښې آسانی پیدا کړی آمین ــ وصلی الله علی خیر خلقه محمد وآله وصحبه اجمعین

ابن الحسن عباسی ۱۵ ذی قعده ۱۴۲۰ ﻫ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

۶۹= كِتَابُ فَضَائِلِ الْقُرْآنِ

امام بخاری د کتاب ا لتفسير نه روسته کتاب فضائل القرآن ذکر کړو د دواړو بابونو په مینځ کښې مناسبت بیخی ښکاره دې د ابو ذرد نسخې نه علاوه باقی نسخو کښې لفظ د کتاب په دې مقام کښې نشته (۱)

فضائل جمع د فضیلة ده دا د «نقیصة» ضد دې د فضل او فضیلت دواړو یوه معنی ده (۲)

آیا د قرآن یوه حصه د بلې حصې نه افضله ده او که نه ؟ ؟

په دې مقام کښې د فضائل قرآن د مناسبت په وجه یو بحث کیږی چه د قرآن کریم بعضې حصه د بعضې نورو حصو نه افضله وی که نه ؟ په دې مسئله کښې اختلاف دې او دا اختلاف د دویمې هجرئ صدئ نه پس هغه وخت پیدا شو چه د خلق القرآن مسئله رااوچته شوه د دې نه مخکښې په دې مسئله کښې هیڅ قسم اختلاف نه وو د قرآن کریم د بعضې سورتونو او خاص آیاتونو متعلق چه فضائل راغلی دی په هغې کښې هیڅ قسم تاویل ته ضرورت پیښ شوې نه وو خوپه دویمه هجری صدئ کښې چه کله د خلق القرآن مسئله رااوچته شوه او جمهور اهل سنت او ائمؤ د معتزله فرقې په رد کښې د کلام الله د غیر مخلوقیت عقیدې وضاحت اوکړو هغه وخت دا مسئله مخې ته راغله (۳)

د معتزلؤ په نیز کلام الله چونکه مخلوق دې او د مخلوق په ما بین کښې د تفضیل نه انکار نشی کیدې په دې وجه د قران د یوې حصې افضل کیدل د بلې حصې نه دهغوی په نیزڅه د اشکال خبره نه ده خودومره ده چه اهل سنت په نیز په دې مسئله کښې دوه مذهبه پیدا شول

① د امام ابو الحسن اشعري ،قاضی ابو بکر باقلانی ، احمد بن کلاب او د متاخرینو شافعیه مذهب دا دې چه قرآ کریم کښې تفاضیل نشته یعنی دا اووئیل چه د قرآن کریم بعضې حصه د بعضې نورې نه افضله ده صحیح خبره نه ده (۴)

یوه وجه ده دا چه که یوه حصه د بلې نه افضله ومنلې شی نو د مفضل علیه د ناقصیت وهم پیدا کیږی او قران خو د هر قسم نقصان نه پاك دې (۵)

دویمه وجه دا ده چه کلام الله د الله تعالی صفت قدیمه دې اوپه صفات قدیمه کښې تفاضل جائز نه دې پهدې وجه د تاضل قول صحیح نه دې بلکه ابوعبدالله دراج په دې موضع باندې مستقله رساله تفاصل لیکلې ده او په هغې کښې په امتناع د تفاضل باندې د اهل سنت اجماع نقل کړې ده لکه هغه لیکی: «أجمع أهل السنة على أن ما ورد في الشرع مما ظاهره المفاضلة بين

---

۱) فتح الباری (۹\۴۱) وعمدة القاری (۲۰\۱۱)_

۲) عمدة القاری (۲۰\۱۱)_

۳)فتاوی ابن تیمیة کتاب التفسیر (۱۷\۵۳)_

٤) التعلیق الصبیح (۳\۳۲)_

۵) فتاوی شیخ الإسلام ابن تیمیه کتاب التفسیر (۱۷\۶۹)_

آی القرآن وسورة لیس المراد به تفضیل ذوات بعضها علی بعض إذ هم کله کلام الله وصفة من صفاته بل هو کله لله فاضل کسائر صفاته الواجب لها نعت الکمال»(۳)
باقي کومو آیاتونو یا سوتونو ته چه افضل یا اعظم وئیلې شوې دی‌دا حضرات ئې دوه مطلبه بیانوی
① یو دا چه د افضل او اعظم نه مراد عظیم او فاضل والې مراد دې یعنی ددې نه مقصود نفس فضیلت او عظمت دې د بل څیز په مقابله کښې اعظم او افضلیت مراد نه دې (۴) یا افضل او اعظم ئې ورته په اعتبار د ثواب او جزاء وئیلې دې یعنی دغه حصه د بلې حصې نه د ثواب په اعتبار سره افضله او غوره ده او د ثواب په اعتبا سره په تفاضل کښې د چا اختلاف نشته څکه چه ثواب او جزاء مخلوق دې او په مخلوق کښې تفاضل د ټولو په نیز صحیح دې (۱)
② دویم مسلك د جمهورو امت او ائمه اربعه دې چه د قرآن کریم بعضې حصه د بعضې بلې حصې نه افضل ده (۲)
د دې حضراتو مستدلات هغه نصوص دی په کومو کښې چه د مختلفو آیاتونو او سورتونو فضیلت او عظمت او خاص اهمیت بیان شوې دې چه منجمله د هغې نه څو فضائل راروان دی مثلاً آیة ا لکرسیٔ ته د قرآنی آیاتونو سردار وئیلې شوې ده سورة یسین ته قلب القرآن وئیلې شوی دی سورة اخلاص د ثلث القرآن مساوی ګڼړلې شوې دې دا ټول نصوص په دې خبره دلالت کوی چه د قرآن یوه حصه به په بله حصه افضلیت لری
پاتې شوه دا خبره چه بعضو لره په بعضو فضیلت ورکړې شی نو د مفضل علیه د نقص وهم لازمیږی دا څه وزنی دلیل نه دې یو څیز که د بل څیز په مقابله کښې افضل اوګڼړلې شی د هغې مطلب هیڅکله دا نه وی چه ګویا دا بل څیز ناقص دې بعضې انبیاء د نورو انبیاؤ نه افضل دی خو ددې مطلب دا نه دې چه مفضل علیه کښې نقص یا کمې او کوتاهی موجود ده بیا که چا ته دا وهم واقع کیږی نو د هغه د وهم په وجه خو دا صحیح او صریح روایات نشی رد کولې دا د جمهورو عالمانو مسلك دې (۳)
لکه علامه ابن تیمیه رحمه الله چه لیکی :«والقول بأن کلام الله بعضه أفضل من بعض هو القول المأثور عن السلف وهو الذی علیه أئمه الفقهاء من الطوائف الأربعة وغیرهم»(۳)
مثلاً قل هو الله احد او «تبت یدا أبی لهب» دا دواړه دا لله تعالی کلام دې خو د متکلم فیه په اعتبار سره دواړو کښې تفاضل دې یو کښې متکلم فیه د الله تعالی جل شانه ذات او صفات دی اوبه دویم کښې یو کافر متکلم فیه دې په دې اعتبار سره په دواړو کلامونو

۱) فتاوی شیخ الإسلام ابن تیمیه (۷۳\۱۷)_
۲) فتاوی شیخ الإسلام ابن تیمیة (۶۹\۱۷)_
۳) مجموع فتاوی شیخ الإسلام ابن تیمیة (۱۳\۱۷ ، التعلیق الصبیح :۳۲/۳)_
٤) مجموع فتاوی شیخ الإسلام احمد بن تیمیة کتاب التفسیر (۱۳\۱۷)_

كنبي تفاوت او تفاضل دې (۱)
په قرآن كريم كنبي د تفاضل دا اختلاف په حقيقت كنبې په يو بل مشهور اختلاف باندې مبنى دې او هغه دا چه كلام الله شئ واحد دې كه شئ متعدد ، د اشاعرو په نيز كلام الله شئ واحد دې په دې كنبې هيڅ قسم تنوع او تعدد نشته او كله چه تنوع او تعدد نشته نو خپل مينځ كنبې د تفاضل سوال نه پيدا كيږى ليكن د نورو عالمانو په نيز كلام الله شئ واحد نه دې لكه علامه قسطلانى چه تقديم وتاخير ليكى :

((ولعل الخلاف فى هذه المسئلة يلتفت إلى الخلاف المشهور أن كلام الله شئ واحد أم لا وعند الشعرى أنه لايتنوع فى ذاته بل بحسب متعلقاته وليس لكلام الله الذى هو صفة ذاته بعض لكن بالتاويل والتعبير، وفهم السامعين اشتمل على أنواع المخاطبات ولولا تنزله فى هذه المواقع لما وصلنا إلى فهم شئ منه))(۲)

بَاب كَيْفَ نَزَلَ الْوَحْيُ وَأَوَّلُ مَا نَزَلَ

دصحيح بخارى په اكثرو نسخو كنبې د ((نزول الوحى)) لفظ دې نزول مصدر دې خو د ابو ذر په نسخه كنبې د ((نزل الوحى)) الفاظ دى يعنى د مصدر په ځائې ((نزل)) د ماضى صيغه ده (۳)
د حافظ ابن حجر رحمه الله نه په دې مقام كنبې تسامح واقع شوې دې هغوى نزول ته د جمع صيغه وئيلې ده (۴)
علامه عينى رحمه الله دوى رانيوكه كړى دى او ليكى

((وقال بعضهم كيف نزول الوحى بصيغة الجمع قلت كأنه ظن من عدم وقوفه على العلوم العربية لفظ النزول جمع وهو غلط فاحش وإنما هو مصدر من نزل ينزل نزولاً))(۱)

قوله: قال ابن عباس المهيمن :الأمين ،القرآن أمين على كل كتاب قبله:

د سورة مائدې په آيت نمبر (۴۸) كنبې دى ((وأنزلنا إليك الكتاب بالحق مصدقاً لما بين يديه من الكتاب ومهيمناً عليه)) يعنى مونږ په تاسو داسې يو ربښتينې كتاب نازل كړې دې چه د مخكنو كتابونو تصديق كونكې دې او د هغې د مضامينو نګهبان دې
علامه شبير احمد عثمانى رحمه الله د دې آيت لاندې ليكى :
د مهيمن څو معانى بيان شوى دى امين ، غالب . حاكم ، نګهبان ، او محافظ او د هرې معنى په اعتبار سره قرآن كريم د مختلفو كتابونو دپاره مهيمن كيدل صحيح دى د الله تعالى چه كوم امانت په تورات . انجيل او نورو آسمانى كتابونو كنبې وديعت كړې شوى

۱) فتاوى شيخ الإسلام ابن تيمية (۱۷\۶۷،۶۸)_
۲) ارشاد السارى (۱۱\۲۵٤)_
۳) ارشاد السارى (۱۱\۲۵٤)_
٤) فتح البارى (۹\٤)_

وود زياتي ځيز سره په قران کښې محفوظ دی په هغې کښې هيڅ خيانت نه دې شوې او کوم چه فروعي ځيزونه په هغه کتابونو کښې د مخصوص مخاطبينو يا د زمانې د حال موافق وو هغه قرآن منسوخ کړل او کوم حقائق چه نا مکمل وو د هغې ئې تکميل اوکړو او کومه حصه چه د موجوده وخت په اعتبار سره غير مهمه وه هغه ئې بيخی پريخوده (٢)

دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما دا تعليق عبدبن حميد په خپل تفسير کښې موصولاً نقل کړې دې فرمائی (٣)

[٤٩٣٤] حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُوسَى عَنْ شَيْبَانَ عَنْ يَحْيَى عَنْ أَبِي سَلَمَةَ قَالَ أَخْبَرَتْنِي عَائِشَةُ وَابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ قَالَا لَبِثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَكَّةَ عَشْرَ سِنِينَ يُنْزَلُ عَلَيْهِ الْقُرْآنُ وَبِالْمَدِينَةِ عَشْرَ سِنِينَ [ر:٤١٩٥]

د عبيدالله بن موسی استاذ شيبان بن عبدالرحمن دې چه کنيت ئې ابو معاويه دې دده شيخ يحی بن ابی کثير دې او د يحيی شيخ ابو سلمه بن عبدالرحمن بن عوف دې دا حديث په کتاب المغازی کښې تير شوې دې (١)

[٤٩٣٥] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا مُعْتَمِرٌ قَالَ سَمِعْتُ أَبِي عَنْ أَبِي عُثْمَانَ قَالَ أُنْبِئْتُ أَنَّ جِبْرِيلَ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعِنْدَهُ أُمُّ سَلَمَةَ فَجَعَلَ يَتَحَدَّثُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأُمِّ سَلَمَةَ مَنْ هَذَا أَوْ كَمَا قَالَ قَالَتْ هَذَا دِحْيَةُ فَلَمَّا قَامَ قَالَتْ وَاللَّهِ مَا حَسِبْتُهُ إِلَّا إِيَّاهُ حَتَّى سَمِعْتُ خُطْبَةَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُخْبِرُ خَبَرَ جِبْرِيلَ أَوْ كَمَا قَالَ قَالَ أَبِي قُلْتُ لِأَبِي عُثْمَانَ مِمَّنْ سَمِعْتَ هَذَا قَالَ مِنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ [ر:٣٤٣٥]

معتمر بن سلمان فرمائی چه ما د خپل والد سليمان نه اوريدلې وو او هغه د ابو عثمان عبدالرحمن نهدی نه نقل کړی دی چه ماته خبر راکړې شوې وو چه حضرت جبرئيل عليه السلام نبی کريم ته راغلو او د نبی کريم ﷺ سره ام سلمه رضي الله عنها موجوده وه حضرت جبريل عليه السلام په خبرو کولو شروع اوکړه نبی کريم ﷺ د ام سلمې رضي الله عنها نه تپوس اوکړو دا څوک دې؟ هغې عرض اوکړو دا دحيه (صحابی) دې بيا چه نبی کريم ﷺ پاڅيدو نو حضرت ام سلمې عرض اوکړو قسم په رب ما خو دې دحيه رضي الله عنه ګنړلو تر دې چه ما د رسول الله خطبه واوريده چه هغوی د حضرت جبريل عليه السلام خبرې نقل کولې (دهغې نه اندزه لګيده چه د نبی ﷺ ته چه څوک راغلې وو هغه حضرت جبريل عليه السلام ووچه د دحيه رضي الله عنه په شکل کښې راغلې وو)

قوله: قَالَ أَبِي قُلْتُ لِأَبِي عُثْمَانَ مِمَّنْ سَمِعْتَ هَذَا: معتمر بن سليمان فرمائی چه زما پلار (سليمان) وئيلی دی چه ما د خپل شيخ ابو عثمان نه تپوس اوکړو چه تا دا حديث د چا نه اوريدلې دې ؟ نو ابو عثمان اوفرمائيل چه ما د حضرت اسامه بن زيد رضي الله عنه نه اوريدلې دې چه د رسول الله ﷺ محبوب وو

په پورتنی سند کښې ابو عثمان حديث مرسل بيان کړې دې ددې وجې د هغوی شاګرد

---

١) صحيح البخاری کتاب المغازی رقم الحديث (٤٤٦٤) ص: ٩٢٠)_

سليمان د هغوی نه تپوس اوکړو چه تاسو د چا نه اوریدلې دې نو هغوی د حضرت اسامه بن زید رضي الله عنه نوم اوخودلو ـ

خطبه د کوم څيز متعلق وه؟ ددې حديث متعلق دا خبره پاتې کيږی چه په دې خطبه کښې رسول الله ﷺ کومه خبره کړې وه او کومه قصه ئې بيان کړې وه

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه ما ته په دې باره کښې داسې څه روايت ملاو نشو چه د هغې نه دغه معلومه شی خو ډيره ممکن ده چه په دې کښې د بنو قريظه طرف ته د تلو کوم حکم ورکړې شوې وو هغه مراد وی ځکه چه په ،،دلائل بيهقی،، کښې د عبدالرحمن بن قاسم په طريق سره د حضرت عائشې رضي الله عنها نه هم دغه شان روايت منقول دې چه هغوی نبی ﷺ د سورلۍ په حالت کښې د يو کس سره خبرو کولو باندې ليدلې وود خبرو نه چه اوزګار شو نبی ﷺ دوی ته تشريف راوړو نو دوی ترې تپوس اوکړوچه دا څوك وو نو نبی ﷺ اوفرمائيل دې د چا پشان وو ؟ حضرت عائشې اوفرمائيل د دحيه رضي الله عنه پشان وو نو نبی ﷺ اوفرمائيل چه دا حضرت جبرئيل وو ماته ئې د بنو قريظه طرف ته د تلو حکم اوکړو. ددلائل بيهقی ددې روايت نه دا اخذ کولې شی چه د بخاری ذکر شوې حديث باب کښې د ((يخبر خبر جبرئيل)) نه هم دا قصه او واقعه مراد ده (١)

خو علامه عينی رحمه الله دا خبره په درې وجوه سره رد کړې ده يو دا چه په حديث باب کښې د حضرت ام سلمې ذکر دې چه هغه د نبی ﷺ سره وه او د دلائل بيهقی په روايت کښې د حضرت عائشې نوم دې دويمه دا چه راويان هم په دواړو کښې مختلف دی دريم دا چه د حديث باب نه معلوميږی چه حضرت ام سلمې رضي الله عنها نبی ﷺ په کور کښې ليدلې وو او حضرت عائشې رضي الله عنها د کور نه بهر د سورلۍ په حالت کښې ليدلې وو ددې وجې په حديث باب کښې د ((خبر جبرئيل)) نه د بنو قريظه واقعه مراد نشی اخستې (٢)

خو په دواړو کښې تطبيق کيدې شی چه واقعه خو هم هغه د بنو قريظه وه خو حضرت ام سلمې او حضرت عائشې رضي الله عنهما دواړو به ليدلې وی يو په کور کښې دننه او بل د کور نه بهر، هم دا وجه ده چه علامه قسطلانی رحمه الله د علامه عينی رحمه الله د اعتراض په ترديد کښې ليکی.

((وأجاب فی انتقاض الإعتراض : بأنه ليس فی شئ من ذلك ما يمنع إتحاد القصة فراوه کل من عائشة و أم سلمة))(٣)

[٤٦٩٦] (٣) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ حَدَّثَنَا سَعِيدٌ الْمَقْبُرِيُّ عَنْ اَبِيهِ عَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنَ الْاَنْبِيَاءِ نَبِيٌّ اِلَّا اُعْطِيَ مَا مِثْلُهُ اٰمَنَ

١) فتح البارى (٩\٦)ـ

٢) عمدة القاری (٢٠\١٢)ـ

٣) ارشاد الساری (١١\٢٥٦)ـ

٤) أخرجه البخاری ايضا فی كتاب الإعتصام باب قول الله ﷺ بعثت بجوامع الكلم رقم الحديث ٧٢٦٣ ومسلم فی كتاب الإيمان باب وجوب الإيمان برسالة نبينا محمد ﷺ رقم الحديث ١٥٢ . والنسائی فی كتاب التفسير باب قوله جل شانه ((إنا أوحينا إليک کما أوحينا إلى نوح)) رقم الحديث (١١١٢٩) وفی فضائل القرآن باب كيف نزول القرآن رقم الحديث ٧٩٧٧)ـ

عَلَيْهِ الْبَشَرُ وَاِنَّمَا كَانَ الَّذِي اُوتِيتُ وَحْيًا اَوْحَاهُ اللّٰهُ اِلَيَّ فَاَرْجُو اَنْ اَكُونَ اَكْثَرَهُمْ تَابِعًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ [ر:۶۸۴۶]

سعید مقبری د خپل پلار نه نقل کوی چه نوم ئې کیسان دې او هغوی د حضرت ابوهریره ﷛ نه نقل کوی چه نبی ﷺ فرمائیلی دی چه په پیغمبرانو کښې یو پیغمبر هم داسې نه دې تیر شوې چه یوه معجزه ورته هم نه وی ورکړې شوې چه د هغې معجزې په وجه خلقو ایمان راوړې وې یعنی هر نبی ته یوه نه یوه معجزه ضرور ورکړې شوې وه چه د هغې مشاهده به ئې اوکړه نو خلق به ایمان راوړو ته مجبوره شو خو په دې باره کښې چه کوم څیز ماته راکړې شوې دې هغه وحی الهی ده کومه چه الله تعالی په ما باندې نازل کړې ده ددې وجې زما امید دې چه د قیامت په ورځ به زما د تابعدارو شمار دټولو نه زیات وی .

د حدیث باب څلور مطلبونه : امام نووی ددې حدیث درې مطلوبه بیان کړی دی

① یو دا چه هر یو نبی ته معجزه ورکړې شوې ده ددې پشان معجزه به د دوی نه وړاندې پیغمبرانو ته هم ورکړې شوې وه خو زما لویه معجزه قران کریم دې او دا یوه داسې معجزه ده کومه چه زما نه وړاندې چاته هم نه ده ورکړې شوې ددې وجې د قیامت په ورځ به زما د امت شمار د ټولو نه زیات وی

② دویم مطلب دا دې چه نورو پیغمبرانو ته کومې معجزې ورکړې شوې وې په هغې کښې د جادو او سحر د لارې ګمان ووچه خلقو به هغې باندې د جادو او سحر ګمان کولو خو کومه معجزه چه ماته راکړې شوې ده په دې کښې داسې قسم ګمان نشی کولې

③ دریم مطلب دا دې چه د نورو انبیاؤ معجزې به د هغوی په تلو سره ختمې شوې د هغې مشاهده صرف هغه کسانو کولې شوه کوم چه د هغوی په زمانه کښې په هغه وخت کښې حاضر وو خو قرآن کریم یوه داسې معجزه ده چه د قیامت تر ورځې پورې هر سړې ددې مشاهده کولې شی (۱)

په دې درې مطلبونو کښې څه تضاد نشته ټول مراد کیدې شی په اصل کښې د حدیث سیاق د نورو پیغمبرانو د معجزاتو او د نبی کریم ﷺ په معجزه کښې د فرق ښکاره کولو دپاره دې او ذکر شوی درې واړه مطلبونو نه فرق ښکاره کیدې شی .

محشی د بخاری علامه سندی ﷫ یو بل مطلب بیان کړې دې او هغه دا دې چه د ((امن علیه البشر)) نه د نورو پیغمبرانو د معجزانو ښکاره والې خودل مقصود دې چه هغه معجزات داسې ښکاره وې چه د هغې مشاهده به ئې اوکړه نو زړه به پخپله ایمان راوړو باندې مجبوره شو لکه مړی ژوندی کول د کانړی نه اوښه راوتل وغیره خو د نبی کریم ﷺ د معجزه قرآن پاك ادراك د کمال عقل نه بغیر نشی کیدې نو نبی ﷺ ته چه د قرآن معجزه ورکړې شوې ده دا په دې خبره دلیل دې چه د امت محمدیه د خلقت بنیاد په کمال عقل باندې کیخودې شوې دې او د کمال عقل وصف دوی ته ورکړې شوې دې ددې وجې ددې

---

۱) شرح مسلم للنوی (۱۱\۸۶) وعمدة القاری (۲۰\۱۳)۔

امت نه هم دا اميد دې چه ددې اكثريت به ايمان راوړى ځكه چه د كمال عقل هم دا تقاضا ده (۱)

د «وإنما كان الذى أوتيته» كښې د «إنما» كلمه د حصر ده خو د نبى ﷺ معجزات صرف قرآن كريم كښې منحصر نه دى د دوى ﷺ نورې هم ډير معجزې شته خو په دې ټولو كښې قرآن كريم چونكه يو لازواله او لويه معجزه ده ددې وجې په كلمه حصر سره په خصوصيت سره ددې ذكر اوكړې شو (۲)

قوله: مَا مِنْ الْأَنْبِيَاءِ نَبِيٌّ إِلَّا أُعْطِيَ مَا مِثْلُهُ آمَنَ عَلَيْهِ الْبَشَرُ: په دې جمله كښې «ما» موصوله ده او دا د فعل «اعطى» دپاره مفعول به ثانى دې «مثله» مبتداء ده او «آمن عليه البشر» پوره جمله ددې خبر دې مبتدا او خبر چه دواړه ملاؤ شو د «ما» موصوله دپاره صله ده

د «آمن» په صله كښې باء او لام استعمالوى او دلته «على» استعمال شوې دې كوم چه په معنى د لام كښې ده «أى آمن لأجله البشر» او د لام په ځائې د «على» د استعمال وجه دا ده «آمن» د غلبې معنى لره متضمن دې مطلب دا دې چه ددې معجزې شان به دا وى چه ددې مشاهده اوكړى نو انسان به په ايمان راوړو باندې مجبوره او مغلوب شى او د هغې رد كولو دپاره څه وجه باقى نه پاتې كيږى (۳)

علامه طيبى رحمه الله فرمائى «عليه» د «آمن» د فاعل نه حال واقع شوې دې يعنى په دې معجزه باندې انسان ايمان راوړى په داسې حال كښې چه هغه ددې چيلنج او مقابله نه مغلوبه شى (۴)

دا حديث امام بخارى دلته په اول ځل ذكر كړې دې او وړاندې په كتاب الاعتصام كښې ئې هم دا ذكر كړې دې امام مسلم او امام نسائى هم ددې تخريج كړې دې ـ

[۴۶۹۷] حَدَّثَنَا (۵) عَمْرُو بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا أَبِي عَنْ صَالِحِ بْنِ كَيْسَانَ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ أَخْبَرَنِي أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ اللَّهَ تَعَالَى تَابَعَ عَلَى رَسُولِهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْوَحْيَ قَبْلَ وَفَاتِهِ حَتَّى تَوَفَّاهُ أَكْثَرَ مَا كَانَ الْوَحْيُ ثُمَّ تُوُفِّيَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدُ

---

۱) حاشية البخارى للسندى (۲/٧٤٤)ـ
۲) ارشاد السارى (۱۱\۲۵۷)ـ
۳) عمدة القاى (۲۰\۱۳)ـ
٤) عمدة القارى (۲۰/۱۳)- وشرح طيبى)ـ
۵) وأخرجه مسلم فى أوائل كتاب التسير رقم الحديث (۳۰۱۶) والنسائى فى كتاب فضائل القرآن باب كيف نزول القرآن رقم الحديث (۷۹۸۳)ـ

دا حديث هم امام بخاری دلته په اول خل نقل کړې دې حضرت انس بن مالك رضي الله عنه فرمائي چه په رسول الله ﷺ باندې د هغوى د وفات نه وړاندې خو ځله پرله پسې الله تعالى وحى راوليږله تردې چه نبى ﷺ پورته کړې شو يعنى د نبى ﷺ د وفات نه څه موده وړاندې نه واخله تر وفاته پورې چه کومه موده ده په هغې کښې وحى الهى پرله پسې په تواتر سره نازليدله په دغه زمانه کښې وحى د باقى نورو ټولو زمانو نه زياته وه بيا ددې نه پس نبى ﷺ وفات شو۔

قوله: حتى تَوَفَّاهُ أَكْثَرَ مَا كَانَ الْوَحْيِ: ((اكثر)) د ((الوحى)) د لفظ نه حال واقع شوې دې ((ما)) موصوله ده او د ((اكثر)) دپاره مضاف اليه ده ((أى أكثر ما كان الوحى نزولاً عليه من غيره من الأزمنة))

قوله: ثُمَّ تُوُفِّيَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدُ: ((بعد)) مبنى بر ضمه دې ځکه چه ددې مضاف اليه محذوف منوى ده ((أى بعد ذلك))

[۴۶۹۸] حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ الْأَسْوَدِ بْنِ قَيْسٍ قَالَ سَمِعْتُ جُنْدَبًا يَقُولُ اشْتَكَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ يَقُمْ لَيْلَةً أَوْ لَيْلَتَيْنِ فَأَتَتْهُ امْرَأَةٌ فَقَالَتْ يَا مُحَمَّدُ مَا أَرَى شَيْطَانَكَ إِلَّا قَدْ تَرَكَكَ فَأَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ وَالضُّحَى وَاللَّيْلِ إِذَا سَجَى مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلَى [ر: ۱۰۷۲]

۲= بَاب نَزَلَ الْقُرْآنُ بِلِسَانِ قُرَيْشٍ وَالْعَرَبِ

وَقَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى قُرْآنًا عَرَبِيًّا (يوسف: ۲): [الشعراء: ۱۹۵]

دا ترجمه په ابواب المناقب کښې تيره شوې ده خو هلته د ((بلسان قريش)) نه پس ((والعرب)) اضافه نشته (۱)

د بخارى شارحينو ددې ترجمې څه مقصد نه دې بيان کړې خو داسې معلوميږى چه امام بخارى يوې اختلافى مسئلې طرف ته اشاره کوى

أيا په قرآن کريم کښې غير عربى الفاظ شته ؟ او هغه دا چه په قرآن کريم کښې غير عربى الفاظ واقع شوى دى که نه ؟ په دې مسئله کښې دوه مذاهب دى

① د امام شافعى، ابن جرير ، طبرى ، ابوعبيده ،معمر بن مثنى ، قاضى ابوبکر باقلانى او مشهور امام لغت ابن فارس رائې دا ده چه په قرآن کريم کښې غير عربى لفظ نه دې استعمال شوې (۲)

ځکه چه الله تعالى فرمائيلى دى ((إنا أنزلناه قرآنا عربيا)) او په بل ځائې کښې فرمائى ((بلسان عربى مبين)) نو ځکه په قرآن کريم کښې غير عربى لفظ نه دې مستعمل.

---

۱) صحيح البخارى أبواب المناقب (۷۲۰)

۲) الإتقان ى علوم القرآن (۱۳۵/۱) النوع الثامن والثلاثون فيما وقع فيه بغير لغة العرب)۔

باقي په قران كريم كښې چه كوم غير عربي نومونه دي لكه ابراهيم ، موسى وغيره يا ددې نه سوا نور هغه الفاظ د كومو په باره كښې چه وئيلې شي چه دا د حبشي ژبې يا سرياني ژبې وغيره الفاظ دي دا حضرات په دې باره كښې مختلف تاويلات كوي

بعضې حضرات وائي چه داسې لغات د «توارد اللغات» د قبيلې څنې دي يعنى لكه څنګه چه دا په حبشي ،سرياني وغيره ژبو كښې استعماليږي دغه شان دغه په عربئ كښې هم استعماليږي نو دې ته غير عربي وئيل صحيح نه دي

بعضې حضرات وائي اګرچه دا اصلاً عربي ژبه كښې داخل نه دي خو د نورو ژبو سره د مخلوط معاشرت په وجه په عربئ كښې هم دغه شان داخل شوي دي چه عربي ټكي ترې جوړ شوي دي (١)

امام شافعي رحمه الله فرمائيلي دي چه د پوره عربئ لغت احاطه كول د نبي نه سوا د بل چا دپاره ممكن نه ده ددې وجې كوم كلماتو ته چه غير عربئ وئيلي شوي دى نو دا د ناواقفيت په بنياد وئيلې شوي دي قران كريم هغه د عربئ په حيثيت سره استعمال كړي دي (٢)

③ خو نور عالمان فرمائلي چه په قران كريم كښې غير عربي الفاظ استعمال شوي دي باقي په كومو آياتونو كښې چه د قرآناً عربياً وغيره الفاظ راغلي دي هغه په خپل ځائې ټيك دي ځكه چه يو غير عربي كلمات استعمال شي په دې سره قرآن د عربيت نه نهٔ اوځي كه په يوه فارسي قصيده كښې يو عربي لفظ مستعمل وي نو څوك هم دا نه وائي چه دا قصيده په فارسئ كښې نه ده هم دغه شان بعضې غير عربي كلمات چه په قرآن كښې استعمال شوي دي په دې سره د قرآن پاك په عربيت څه اعتراض نه راځي (٣)

علامه سيوطي رحمه الله هم دا قول اختيا ركړې دې دوى فرمائي چه حافظ ابن جرير طبري رحمه الله په صحيح سند سره د حضرت ابو ميسره تابعي نه روايت نقل كړې دې چه هغوى فرمائيلي دي «فى القرآن من كل لسان» په قرآن كريم كښې د هرې ژبې الفاظ دي (۴)

په قرآن كريم كښې څومره الفاظ غير عربي دي؟ : هغه غير عربي الفاظ اوكلمات كوم چه په قرآن كريم كښې استعمال شوي دي علامه تاج الدين سبكي ، حافظ ابن حجر او علامه سيوطي رحمهم الله دا شمار كړي دي

علامه تاج الدين سبكي رحمه الله اوويشت الفاظ شمار كړي دي (۵)

حافظ ابن حجر رحمه الله په دې باندې د څليريشتو زيادت كړې دې نو د دواړو نه يوپنځوس جوړيږي (۶)

---

١) الإتقان فى علوم القرآن (١٣٥/١و ١٣٦)_
٢) الإتقان ى علوم القرآن (١٣٦/١)_
٣) الإتقان فى علوم القرآن (١٣٥/١)_
٤) الإتقان فى علوم القرآن (١٣٥/١)_
٥) الإتقان فى علوم القرآن (١٤٠/١)_
٦) الإتقان فى علوم القرآن (١٤٠/١)_

علامه سيوطى رحمه الله په دې باندې د شپېتو زيادت کړې دې نو د هغې تعداد يو سل يوولس نه زيات دې (١)

علامه سيوطى رحمه الله په دې موضوع باندې يوه مستقله رساله «المهذب فيما وقع فى القرآن من المعرب» ليکلې ده د هغې خلاصه هغوى په «الإتقان فى علوم القرآن» کښې نقل کړې ده (٢)
بهرحال امام بخارى رحمه الله دا ترجمه قائمه کړې ده او د قرآن پاك آياتونه ئې ذکر کړې دى د هغې حضراتو تائيد کوى څوك چه وائى په قرآن کښې غير عربى هيڅ لفظ نشته دا دلته ددې ترجمې غرض کيدې شى.

[٤٦٩٩] حَدَّثَنَا اَبُو الْيَمَانِ حَدَّثَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ وَاَخْبَرَنِي اَنَسُ بْنُ مَالِكٍ قَالَ فَاَمَرَ عُثْمَانُ زَيْدَ بْنَ ثَابِتٍ وَسَعِيدَ بْنَ الْعَاصِ وَعَبْدَ اللّٰهِ بْنَ الزُّبَيْرِ وَعَبْدَ الرَّحْمٰنِ بْنَ الْحَارِثِ بْنِ هِشَامٍ اَنْ يَنْسَخُوهَا فِي الْمَصَاحِفِ وَقَالَ لَهُمْ اِذَا اخْتَلَفْتُمْ اَنْتُمْ وَزَيْدُ بْنُ ثَابِتٍ فِي عَرَبِيَّةٍ مِنْ عَرَبِيَّةِ الْقُرْاٰنِ فَاكْتُبُوهَا بِلِسَانِ قُرَيْشٍ فَاِنَّ الْقُرْاٰنَ اُنْزِلَ بِلِسَانِهِمْ فَفَعَلُوا [ر: ٣٣١٥]

قوله: قُرَيْشٍ فَإِنَّ الْقُرْآنَ أُنْزِلَ بِلِسَانِهِمْ فَفَعَلُوا: قرآن کريم د قريشو په ژبه کښې نازل شوې دې ددې متعلق قاضى ابو بکر باقلانى رحمه الله فرمائى چه «ان معظم القرآن أنزل بلسان قريش» يعنى لويه حصه د قريشو په ژبه کښې نازل شوې دې (٣)
او ابو شامه فرمائى چه ابتداء د نزول د قريشو په لغت کښې نازل شوې دې بيا روسته په نورو ژبو کښې هم ددې د قراءت اجازت ورکړې شو.(٤)

[٤٧٠٠] حَدَّثَنَا اَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا هَمَّامٌ حَدَّثَنَا عَطَاءٌ وَقَالَ مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ قَالَ اَخْبَرَنِي عَطَاءٌ قَالَ اَخْبَرَنِي صَفْوَانُ بْنُ يَعْلَى بْنِ اُمَيَّةَ اَنَّ يَعْلَى كَانَ يَقُولُ لَيْتَنِي اَرَى رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ يُنْزَلُ عَلَيْهِ الْوَحْيُ فَلَمَّا كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْجِعْرَانَةِ عَلَيْهِ ثَوْبٌ قَدْ اُظِلَّ عَلَيْهِ وَمَعَهُ نَاسٌ مِنْ اَصْحَابِهِ اِذْ جَاءَهُ رَجُلٌ مُتَضَمِّخٌ بِطِيبٍ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ كَيْفَ تَرَى فِي رَجُلٍ اَحْرَمَ فِي جُبَّةٍ بَعْدَ مَا تَضَمَّخَ بِطِيبٍ فَنَظَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَاعَةً فَجَاءَهُ الْوَحْيُ فَاَشَارَ عُمَرُ اِلَى يَعْلَى اَنْ تَعَالَ فَجَاءَ يَعْلَى فَاَدْخَلَ رَاْسَهُ فَاِذَا هُوَ مُحْمَرُّ الْوَجْهِ يَغِطُّ كَذٰلِكَ سَاعَةً ثُمَّ سُرِّيَ عَنْهُ فَقَالَ اَيْنَ الَّذِي يَسْاَلُنِي عَنِ الْعُمْرَةِ اٰنِفًا فَالْتُمِسَ الرَّجُلُ فَجِيءَ بِهِ اِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

---

١) الإتقان فى علوم القرآن (١٤١/١)_
٢) الإتقان فى علوم القرآن (١٣٥/١-١٤١)_
٣) فتح البارى (١١/٩)_
٤) فتح البارى (١١/٩)_

وَسَلَّمَ فَقَالَ اَمَّا الطِّيبُ الَّذِي بِكَ فَاغْسِلْهُ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ وَاَمَّا الْجُبَّةُ فَانْزِعْهَا ثُمَّ اصْنَعْ فِي عُمْرَتِكَ كَمَا تَصْنَعُ فِي حَجِّكَ [ر: ۳۶۳]

ددې حديث د ترجمة الباب سره په ظاهره څه مناسبت نشته بلکه دا په اولنى باب کښې ذکر کول پکار وو چه د وحى کيفيت په کښې بيان شوې وو خو کيدې شى د کاتب د سهو په وجه په دې باب کښې راغلى وى

علامه قسطلانى رحمه الله فرمائى چه په دې باب کښې دا حديث ذکر کړې دې او امام بخارى رحمه الله دې طرف ته اشاره کول غوښتل چه د وحى بالقرآن او وحىٰ بالسنة شان او د دواړو ژبه يوه ده (۱)

دا حديث په کتاب الحج کښې تير شوې دې (۲)

۳=بَاب جَمْعِ الْقُرْآن

قرآن مجيد د الله تعالى آخرى کتاب دې د خپل دې آخرى کتاب د حفاظت دپاره الله جل شانه مکمل انتظام کړې دې څکه چه د قرآن د انسانانو په سينو کښې د حفاظت انتظام کړې شوې دې او ددې د نزول دپاره ئې د داسې قوم انتخاب کړې دې چه په خپل قوت حافظه کښې نظير نه لرلو،د هغوى سينې د قومى واقعاتو ا قبائلى انسابو دپاره محفوظې خزانې وې،چه يوځل به ئې د سوونو اشعارو قصيده واوريده نو پوره قصيده به د هغوى په زړه او دماغو باندې نقش او ياده شوه په دې باندې د عربو تاريخ گواه دې ،خو بيا چونکه دا يو امى قوم وو ددې وجې د دوى سره د هرې خبرې د باقى ساتلو مدار صرف په حافظه باندې وو-

هم دا وجه وه چه قران کريم به څومره څومره نازليدلو نو حضرات صحابه کرام رضي الله عنهم به ډير په شوق او ذوق او دلچسپئ سره هغه يادولو په صحابه کرام رضي الله عنهم کښې لس زره حافظان صحابه زيات مشهور وو په دوى کښې ۲۷ ته اوچت مقام حاصل وو په دوى کښې د خلفاء اربعه نه سوا حضرت عبدالله بن مسعود ، حضرت طلحه،حضرت سعد بن ابى وقاص ، حضرت حذيفه بن اليمان . حضرت ابوهريره رضي الله عنه ، حضرت سعد بن عباده رضي الله عنه ، حضرت عباده بن صامت رضي الله عنه او حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما سرفهرست دې (۳)

بيا لکه څنگه چه د قرآن کريم په سينو کښې د حفاظت انتظام د اول نه شوې وو دغه شان تحريرى صورت کښې هم ددې د محفوظ ساتلو اهتمام کړې شوې وو په مستدرك حاکم کښې په صحيح سند سره روايت دې چه قران کريم په تحريرى صورت کښې درې څله جمع شوې وو ① عهدى نبوى کښې ② عهدى صديقى کښې ③ عهد عثمانى کښې په عهد نبوى کښې د قرآن جمع ـ

---

۱) ارشاد السارى (۱۱\۲۶۰)_
۲) صحيح البخارى کتاب الحج (۱) رقم الحديث (۱۵۳۶) ص، ۳۰۵)_
۳) النشر فى القراءات العشر (۱\۶) بحواله علوم القرآن (۱۷۶)_

① په عهد نبوی کښې طریقه کار دا وو چه نبی ﷺ به کله د قرآن کریم څه حصه نازله شوه نو نبی ﷺ به یو کاتب صحابی راغوښتلو او په هغه باندې به ئې اولیکله د کاتب د لیکلو نه پس به ئې بیا په خپله هغه واوریده که په هغې کښې به د کاتب نه څه غلطی شوې وه نو د هغې اصلاح به ئې اوکړه نو بیا به ئې هغه خلقو ته پیش کړه د داسې صحابو‌رضی الله عنهم شمار تقریباً څلویښت وو چه دا فریضه به ئې ادا کوله ددې تفصیل په وړاندې باب کښې راځی.
خو د نبی کریم ﷺ په زمانه کښې د قرآن جمع کول باقاعده په یو مصحف کښې نه وو بلکه په سپینو چمړو ،یا سپینو تراشلو کاڼړو یا تختو یا د لرګی په تختو به دا لیکلی شو.
په عهد نبوی کښې په یو مصحف کښې د نه جمع کیدو وجوهات: په یو مصحف کښې ددې وجې جمع نکړې شو چه د نزول قرآن په زمانه کښې د نسخې سلسله جاری وه په یو مصحف کښې د جمع کولو په صورت کښې به ناسخ او منسوخ التلاوت دواړه قسمه آیاتونه په کښې لیکلی شول او که منسوخ به ئې ویستل او ناسخ به ئې لیکل نو په دې صورت کښې به د کټ کولو مرحله راتله او دا دواړه صورتونه مناسب نه وو ددې وجې په یو مصحف کښې د جمع کولو اهتمام اونکړې شو
یوه وجه دا هم وه چه د قرآن کریم ترتیب نزولی د حالاتو او واقعاتو مطابق وو او د آیاتونو او سورتونو ترتیب د ربط مضامین په اعتبار سره وو که په عهد نبوی کښې قرآن په کتابی صورت کښې مرتب کولې شو نو چه نوې کوم آیاتونه نازلیدل هغه دخپلو مناسب آیاتونو او سورتونو سره لګولو کښې به مشکل وو (۱)
په عهد صدیقی کښې جمع د قرآن : ② خو د حضرت صدیق اکبر رضی الله عنه په زمانه کښې حالات بدل شول د نبی کریم ﷺ د وصف نه پس د وحی د نزول سلسله بنده شوه د قرآن کریم نزول مکمل شو ددې وجې اوس حالات ددې متقاضی شول چه قرآن کریم په یو مصحف کښې جمع کړې شي دلته د باب په اولنی روایت کښې په عهد صدیقی کښې د قرآن د جمع کولو تفصیل بیان شوې دې چه کله په جنګ یمامه کښې اویا قاریان شهیدان شول نو د حضرت عمر رضی الله عنه په توجو ورکولو باندې حضرت زید بن ثابت رضی الله عنه ته د یو مصحف تیارولو حکم ورکړې شو نودا مصحف د حضرت صدیق اکبر رضی الله عنه سره وو د دوی نه پس د حضرت عمر رضی الله عنه سره و او بیا حضرت حفصې رضی الله عنها ته منتقل شو ددې نسخې دا خصوصیات وو.
① په دې نسخه کښې قرآنی آیاتونه مرتب خو وو خو سورتونه مرتب نه وو هر یو سورة جدا جدا وو_ ② په دې کښې اووه حروف جمع وو③ په دې کښې صرف غیر منسوخ التلاوة آیاتونه جمع وو (۲)
په عهد عثمانی کښې د قرآن پاک جمع کول: ③ په دریم څل قرآن کریم د حضرت عثمان رضی الله عنه په زمانه کښې جمع کړې شو ددې قرآن جمع کولو پس منظر دا دې چه کله اسلام د عربو د زمکې نه بهر شوروم او ګیرچاپیره په نورو ملکونو او علاقو کښې خور شو اوپه اسلام کښې داخلیدونکې خلقو دهغه مجاهدینو او سوداګرو اوتبلیغیانو نه قرآن زده کول شروع کړو د

---

۱) علوم القرآن از مولانا شمس الحق افغانی (۱۱۴)_
۲) علوم القرآن (۱۸۶)_

چا په وجه چه هغوی ته اسلام نصیب شوې وو نو په قراءتونو کښې د اختلاف په وجه په عامو مسلمانانو کښې د فتنې پیدا کیدو خطره شوه چونکه قرآن کریم په اووه لغاتو نازل شوې وو او حضرات صحابه کرامو ﷺ د نبی ﷺ نه په مختلفو لغاتو سره قرآن لوستې وو نوهرصحابی به خپلو شاګردانو ته هم د هغه لغت مطابق قرآن وئیل د کوم مطابق چه هغه د نبی ﷺ نه وئیلې وو حضرات صحابه کرامو ﷺ ته خو چونکه معلومه شوه چه قرآن په اووه لغاتو نازل شوې دې ددې وجې په هغوی کښې د اختلاف ویره نه وه خو کله چه دا اختلاف لرې لرې ملکونو ته اورسیدل اود قرآن کریم په اووه لغاتو باندې د نزول حقیقت هغوی کښې پوره مشهور نشو نو په دغه وخت کښې په خلقو کښې جګړې پیدا شوې بعضې خلقو به خپل قراءت ته صحیح اودنورو قراءت ته غلط وئیل داختلاف دا صورت د فتنې سبب جوړیدل ددې وجې ددې خبرې ضرورت پیښ شو چه د قرآن کریم داسې نسخې په عالم اسلام کښې خورې کړې شی او عام کړې شی نچه په هغې کښې د اختلاف دغه ذکر شوې صورت ختم شی نو حضرت عثمان مستقل طور څلورو صحابه کرامو ته مستقل طور د قریشو په لغت باندې د قرآن جمع کولو حکم ورکړو په دې کښې حضرت زید بن ثابت انصاری ﷺ وو او باقی درې سعید بن العاص، حضرت عبدالرحمن بن حارث بن هشام ، او حضرت عبدالله بن زبیر قریشی ﷺ وو دلته د باب په دویم حدیث کښې په عهد عثمانی کښې د قرآن جمع کولو تفصیل بیان شوې دې

د مصحف عثمانی خصوصیات: د حضرت عثمان ﷺ په دور کښې چه کوم مصاحف تیار شوی وو د هغې خصوصیات دا وو ـ

① په عهد عثمانی کښې کوم مصحف تیار شوې وو نپه هغې کښې سورتونه مرتب نه وو بلکه هر یو سورة جدا جدا لیکلې شوې ووډ عهد عثمانی په مصاحفو کښې سورتونه مرتب کړې شوی وو. ② په مصحف کښې هغه څیز اولیکلې شو کوم چه په یقین سره قرآن وو.

③ د کوم صحت چه د نبی کریم ﷺ نه ثابت وو او د هغې د غیر منسوخ التلاوت یقین وو(١)

دحضرت عثمان ﷺ د دې مصاحفو او نسخو په شمار کښې اختلاف دې مشهوره دا ده چه پنځه نسخې تیارې کړې شوې وې بعضو د څلورو مصحفونو قول اختیار کړې دې خو ابو حاتم سجستانی ﷫ ددې نسخو شمار اووه نقل کړې دې په هغې کښې یوه نسخه په مدینه منوره کښې کیخودې شوه او یوهمکه مکرمه ته یوه شام ته او یوه یمن ته او یوه بحرین ته او یوه بصره ته او یوه کوفه ته اولیږلې شوه (٢)

بیا ددې نسخو نه مسلمانانو بې شمیره نسخې نقل کړې حضرت عثمان ﷺ نورې ټولې نسخې چه په کومو کښې د لغاتو اختلاف موجود وو ضائع کړې (٣)

---

١) علوم القرآن (١٩٠)-

٢) الإتقان فی علوم القرآن (٦٠١١) النوع الثامن عشر فی جمعه وترتیبه)ـ

٣) مباحث فی علوم القرآن للمناع القطان (١٣١) د مصاحف عثمانیه کومه نسخه چه په مدینه منوره کښې کیخودې شوې وه هغه د حضرت عثمان ﷺ د شهادت [بقیه حاشیه په راروان مخ....

[۴۷۰۱] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ اسْمَاعِيلَ عَنْ اِبْرَاهِيمَ بْنِ سَعْدٍ حَدَّثَنَا ابْنُ شِهَابٍ عَنْ عُبَيْدِ بْنِ السَّبَّاقِ اَنَّ زَيْدَ بْنَ ثَابِتٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ اَرْسَلَ اِلَيَّ اَبُوبَكْرٍ مَقْتَلَ اَهْلِ الْيَمَامَةِ فَاِذَا عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ عِنْدَهُ قَالَ اَبُوبَكْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اِنَّ عُمَرَ اَتَانِي فَقَالَ اِنَّ الْقَتْلَ قَدِ اسْتَحَرَّ يَوْمَ الْيَمَامَةِ بِقُرَّاءِ الْقُرْاٰنِ وَاِنِّي اَخْشَى اَنْ يَسْتَحِرَّ الْقَتْلُ بِالْقُرَّاءِ بِالْمَوَاطِنِ فَيَذْهَبَ كَثِيرٌ مِنَ الْقُرْاٰنِ وَاِنِّي اَرَى اَنْ تَامُرَ بِجَمْعِ الْقُرْاٰنِ قُلْتُ لِعُمَرَ كَيْفَ تَفْعَلُ شَيْئًا لَمْ يَفْعَلْهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ عُمَرُ هٰذَا وَاللّٰهِ خَيْرٌ فَلَمْ يَزَلْ عُمَرُ يُرَاجِعُنِي حَتَّى شَرَحَ اللّٰهُ صَدْرِي لِذٰلِكَ وَرَاَيْتُ فِي ذٰلِكَ الَّذِي رَاَى عُمَرُ قَالَ زَيْدٌ قَالَ اَبُوبَكْرٍ اِنَّكَ رَجُلٌ شَابٌّ عَاقِلٌ لَا نَتَّهِمُكَ وَقَدْ كُنْتَ تَكْتُبُ الْوَحْيَ لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَتَبَّعِ الْقُرْاٰنَ فَاجْمَعْهُ فَوَاللّٰهِ لَوْ كَلَّفُونِي نَقْلَ جَبَلٍ مِنَ الْجِبَالِ مَا كَانَ اَثْقَلَ عَلَيَّ مِمَّا اَمَرَنِي بِهِ مِنْ جَمْعِ الْقُرْاٰنِ قُلْتُ كَيْفَ تَفْعَلُونَ شَيْئًا لَمْ يَفْعَلْهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ هُوَ وَاللّٰهِ خَيْرٌ فَلَمْ يَزَلْ اَبُوبَكْرٍ يُرَاجِعُنِي حَتَّى شَرَحَ اللّٰهُ صَدْرِي لِلَّذِي شَرَحَ لَهُ صَدْرَ اَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا فَتَتَبَّعْتُ الْقُرْاٰنَ اَجْمَعُهُ مِنَ الْعُسُبِ وَاللِّخَافِ وَصُدُورِ الرِّجَالِ حَتَّى وَجَدْتُ اٰخِرَ سُورَةِ التَّوْبَةِ مَعَ اَبِي خُزَيْمَةَ الْاَنْصَارِيِّ لَمْ اَجِدْهَا مَعَ اَحَدٍ غَيْرِهِ لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِنْ اَنْفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَتَّى خَاتِمَةِ بَرَاءَةَ فَكَانَتِ الصُّحُفُ عِنْدَ اَبِي بَكْرٍ حَتَّى تَوَفَّاهُ اللّٰهُ ثُمَّ عِنْدَ عُمَرَ حَيَاتَهُ ثُمَّ عِنْدَ حَفْصَةَ بِنْتِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ [ر: ۴۴۰۲]

حضرت زید بن ثابت رضی اللہ عنہ فرمائی دجنګ یمامه نه سمدستی پس حضرت ابو بکر رضی اللہ عنہ یوه ورځ ماته پیغام راولیږل او زه ئې اوغوښتم زه چه هغوی ته ورغلم نو د هغوی سره حضرت عمر رضی اللہ عنہ هم موجود وو حضرت ابو بکر رضی اللہ عنہ ماته اوفرمائیل چه عمر رضی اللہ عنہ راغلو او اوس ئې

...دتیرمخ باقی حاشیه] نه پس حضرت علی رضی اللہ عنہ بیا حضرت معاویه رضی اللہ عنہ سره پاتې وه د هغې خایې نه اندلس او د اندلس نه د مراکش درالسلطنت فاس ته او د فاس نه بیا مدینې منورې ته اورسولې شوه په جنګ عظیم اول کښې د مدینې منورې ګورنر فخری پاشا دا د د نورور تبرکاتو سره قسطنطنیه ته یوړله اوهلته تر اوسه پورې موجود ده

مکی نسخه ۶۵۷ھ پورې په مکه معظمه کښې موجود وه بیا د دمشق جامع مسجد ته اورسیده د نورلسمې صدئ په آخر کښې مولانا شبلی نعمانی په جامع دمشق کښې ددې زیارت کړې وو د سلطان عبدالحمید په دور حکومت کښې کوم چه د ۱۸۷۶ء نه پس شروع کیږی مسجد جامع دمشق باندې اور اولګیدلو په هغې کښې دغه نسخه هم اوسوزیده

شامی نسخه د اندلس بادشاهانو قرطبه ته منتقل کړه او په جامع مسجد قرطبه کښې پاتې شوه د هغه ځائې نه مراکش ته او د مراکش نه د تلمان شاهی خزانې ته اورسیده بیا یو سوداګر واخسته او فارس ته ئې یوړله او هلته اوسه پورې موجود ده

یمنی نسخه د جامع ازهر مصر په کتب خانه کښې موجود ده د بحرین نسخه د فرانس په کتب خانه کښې موجود ده او د کوفې نسخه د قسطنطنیه په کتب خانه کښې موجود ده بصری نسخه په کتب خانه جدید مصر کښې وه او اوس معلومه نه ده چه کوم ځائې کښې ده د تفصیل دپاره اوګورئ (علوم القرآن از شمس الحق افغانی (۱۱۸-۱۱۹)_

ماته يوه خبره اوكړه چه په جنګ يمامه كښي د قرآن كريم د حافظانو يو لوئ تعداد شهيدان شو نو كه په مختلفو مقاماتو كښي د قرآن كريم حافظان هم دغه شان شهيدان كيږي نو ما سره ويره ده چه د قرآن كريم يوه حصه به ختمه شوه نو زما دا رائې ده چه ته په خپل حكم سره د قران كريم د جمع كولو كار شروع كړه .

ما عمر رضي الله عنه ته ووئيل كوم كار چه نبي ﷺ نه دې كړې مونږ هغه څنګه اوكړو؟ عمر رضي الله عنه جواب راكړو په الله قسم دا كار بس د خير دې ددې نه پس عمر رضي الله عنه ماته بار بار دا وئيل تردې چه په دې باندې زما شرح صدر اوشو او اوس زما رائې هم هغه شوه كومه چه د حضرت عمر رضي الله عنه وه ددې نه پس حضرت ابو بكر رضي الله عنه ماته اوفرمائيل چه ته ځوان او پوهه هلك ئې زمونږ په تا باندې څه بدګماني نشته تاسو به د رسول الله ﷺ وړاندې د كتابت وحى كار هم كولو نو ته د قرآن كريم د آياتونو لټون كوه او دا جمع كړه

حضرت زيد بن ثابت رضي الله عنه فرمائى په الله قسم كه دې حضراتو ماته ددې حكم كړې وو چه يو غر د خپل ځائې نه اخوا كړه نو په ما باندې به دومره بوج نه وو څومره چه د قرآن پاك د جمع كولو د كار شو ما هغوى ته اووئيل تاسو هغه كار څنګه كوئ كوم چه رسول الله ﷺ نه دې كړې؟ حضرت ابو بكر رضي الله عنه اوفرمائيل په الله قسم په دې كښې بس خير دې حضرت ابوبكر رضي الله عنه ماته بار بار وئيل تردې چه الله تعالى زما سينه د هغه رائې دپاره پرانسته كومه چه د حضرت ابوبكر او عمر رضي الله عنهما رائې وه نو ما د قرآن آياتونه لټول شروع كړل اود كجورو شاخونو اود كانړود تختو اود خلقو د سينو نه مې قرآن جمع كړلو.

دا حديث په كتاب التفسير كښې د سورة براءت لاندې تير شوې دې ـ

قوله: فَتَتَبَّعْتُ الْقُرْآنَ أَجْمَعُهُ مِنَ الْعُسُبِ وَاللِّخَافِ وَصُدُورِ الرِّجَالِ: يعنى ما د قرآن كريم په لټون شروع اوكړه او د قجورو د شاخ او د كانړو د تختو نه اود خلقو د سينو نه مې قرآن راجمع كول شروع كړلو.

الْعُسُبِ: دا د عسيب جمع ده د قجورې شاخ ته وائى ـ

وَاللِّخَافِ: دا د «لخفة» جمع ده نرى سپين كانړى ته وائى ـ

حضرت زيد بن ثابت رضي الله عنه د قرآن په جمع كولو كښې ډير زيات احتياط كړې وو هغوى پخپله هم حافظ قرآن وو خو صرف په خپله يا د بل چا په حافظه ئې بسوالې نه كولو.

بلكه اعلان اوشو چه كوم كس سره د قرآن كريم څه حصه ليكلې شوې وى نو هغه دې زيد ته يوسى نو دا سلسله شروع شوه هيڅ يو ليكلې شوې آيت به تر هغه وخته پورې نشو قبلولې ترڅو پورې چه به دوو قابل اعتماد ګواهانو دا ګواهى ورنكړه چه دا آيت د نبى ﷺ په وړاندې ليكلې شوې دې هيڅ يو آيت د تواتر تحريرى او زبانى ګواهئ نه بغير نشو ليكلې هم په دې احتياط سره الله جل شانه د هغوى نه دا لوئې كار واخستلو او قرآن كريم په مختلفو صحيفو كښې دوى جمع كړل.(١)

---

١) فتح البارى (١٧/٩)ـ

دا صحیفې د حضرت صدیق اکبر، بیا د حضرت عمر او ددې نه پس د حضرت حفصې ﷺ سره وې بیا مروان په خپل دور حکومت کښې دا صحیفې دحضرت حفصې ﷺ نه اوغوښتلې خو هغوی انکار اوکړو د حضرت حفصې ﷺ د وفات نه پس مروان بن الحکم هغه صحیفې راوغوښتلې او هغه ئې په دې خیال اوسوزولې چه اوس په دې خبره باندې اجماع منعقد شوې ده چه د رسم الخط او د سورتونو د ترتیب په لحاظ سره د حضرت عثمان ﷺ تیارشوی مصاحفو اتباع لازم ده د هغې د رسم الخط او ترتیب خلاف هیڅ یوه نسخ هم پاتې کول نه دی پکار.(۱)

قوله: وأمر بما سواه من القرآن في كل صحيفة أو مصحف أن يحرق: حضرت عثمان ﷺ نور مصاحف کوم چه د نورو لغاتو مطابق لیکلې شوی وو د هغې د سوزولو حکم اوکړو.

د قرآن کریم د ضعیفو پاڼړو حکم: ددې نه معلومه شوه که د قرآن مجید پاڼړې ضعیفې او ناقابل قراءت شی نو د هغې د سوزولو گنجائش شته (۲)

په بعضې روایاتو کښې «أن يخرق» په خاء معجمه سره راغلې دې یعنی هغې دې څیرې کولې شی (۳)

قاضی عیاض ﷺ فرمائی چه دغه مصاحف اول په اوبو سره اووینځلې شول او بیا اوسوزولې شو(۴)

د احنافو ﷺ په نیز د قرآن د ضعیفو پاڼړو د سوزولو او وینځلو په ځائې به هغه په پاك ځائې کښې دفن کړې شی د دوی په نیز سوزول مکروه دی (۵)

په درمختار کښې دا مسئله ذکر شوې ده (۶) په اصل کښې د ابراهیم نخعی په یو اثر کښې دی چه دفن کولې دې شی خو ابوبکر اثرم د امام احمد بن حنبل نه نقل کړی دی چه د هغوی نه تپوس اوشو چه آیا ابراهیم نخعی داسې فرمائیلی د نوهغوی اوفرمائیل «لاأصل له» یعنی خطیب بغدادی د ابوبکراثرم دا الفاظ نقل کړې دي (۷)

[۴۷۰۲] حَدَّثَنَا مُوسَى حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ حَدَّثَنَا ابْنُ شِهَابٍ أَنَّ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ حَدَّثَهُ أَنَّ حُذَيْفَةَ بْنَ الْيَمَانِ قَدِمَ عَلَى عُثْمَانَ وَكَانَ يُغَازِي أَهْلَ الشَّامِ فِي فَتْحِ إِرْمِينِيَةَ وَأَذْرَبِيجَانَ مَعَ أَهْلِ الْعِرَاقِ فَأَفْزَعَ حُذَيْفَةَ اخْتِلَافُهُمْ فِي الْقِرَاءَةِ فَقَالَ حُذَيْفَةُ لِعُثْمَانَ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ أَدْرِكْ

---

۱) فتح الباری (۲٤\۹)_
۲) فتح الباری (۲۵\۹)_
۳) فتح الباری (۲۵\۹\۹)_
٤) فتح الباری (۲۵\۹)_
۵) عمدة القاری (۲۰\۱۹) وامداد الأحکام (۱۱\۲۳۰)_
۶) الدرالمختار مع الرد المحتار (۶\٤۲۲)_
۷) ماوجدته فیما بین یدی من المراجع والمصادر)_

هَذِهِ الاُمَّةَ قَبْلَ انْ يَخْتَلِفُوا فِي الْكِتَابِ اخْتِلَافَ الْيَهُودِ وَالنَّصَارَى فَارْسَلَ عُثْمَانُ الَى حَفْصَةَ انْ ارْسِلِي الَيْنَا بِالصُّحُفِ نَنْسَخُهَا فِي الْمَصَاحِفِ ثُمَّ نَرُدُّهَا الَيْكِ فَارْسَلَتْ بِهَا حَفْصَةُ الَى عُثْمَانَ فَامَرَ زَيْدَ بْنَ ثَابِتٍ وَعَبْدَ اللّٰهِ بْنَ الزُّبَيْرِ وَسَعِيدَ بْنَ الْعَاصِ وَعَبْدَ الرَّحْمٰنِ بْنَ الْحَارِثِ بْنِ هِشَامٍ فَنَسَخُوهَا فِي الْمَصَاحِفِ وَقَالَ عُثْمَانُ لِلرَّهْطِ الْقُرَشِيِّينَ الثَّلَاثَةِ اذَا اخْتَلَفْتُمْ انْتُمْ وَزَيْدُ بْنُ ثَابِتٍ فِي شَيْءٍ مِنَ الْقُرْاٰنِ فَاكْتُبُوهُ بِلِسَانِ قُرَيْشٍ فَانَّمَا نَزَلَ بِلِسَانِهِمْ فَفَعَلُوا حَتّٰى اذَا نَسَخُوا الصُّحُفَ فِي الْمَصَاحِفِ رَدَّ عُثْمَانُ الصُّحُفَ الَى حَفْصَةَ وَارْسَلَ الَى كُلِّ افُقٍ بِمُصْحَفٍ مِمَّا نَسَخُوا وَامَرَ بِمَا سِوَاهُ مِنَ الْقُرْاٰنِ فِي كُلِّ صَحِيفَةٍ اوْ مُصْحَفٍ انْ يُحْرَقَ

قَالَ ابْنُ شِهَابٍ وَاخْبَرَنِي خَارِجَةُ بْنُ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ سَمِعَ زَيْدَ بْنَ ثَابِتٍ قَالَ فَقَدْتُ ايَةً مِنَ الْاحْزَابِ حِينَ نَسَخْنَا الْمُصْحَفَ قَدْ كُنْتُ اسْمَعُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَا بِهَا فَالْتَمَسْنَاهَا فَوَجَدْنَاهَا مَعَ خُزَيْمَةَ بْنِ ثَابِتٍ الْانْصَارِيِّ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللّٰهَ عَلَيْهِ فَالْحَقْنَاهَا فِي سُورَتِهَا فِي الْمُصْحَفِ [ر:٢٦٥٢و٣٣١٥و٣٣٠٢]

٤= بَاب كَاتِبِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

[٤٧٠٣] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ يُونُسَ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ انَّ ابْنَ السَّبَّاقِ قَالَ انَّ زَيْدَ بْنَ ثَابِتٍ قَالَ ارْسَلَ الَيَّ ابُو بَكْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ انَّكَ كُنْتَ تَكْتُبُ الْوَحْيَ لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاتَّبِعِ الْقُرْاٰنَ فَتَتَبَّعْتُ حَتّٰى وَجَدْتُ اخِرَ سُورَةِ التَّوْبَةِ ايَتَيْنِ مَعَ ابِي خُزَيْمَةَ الْانْصَارِيِّ لَمْ اجِدْهُمَا مَعَ احَدٍ غَيْرِهِ لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِنْ انْفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ الَى اخِرِهِ [ر:٣٣٠٢]

[٤٧٠٤] حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللّٰهِ بْنُ مُوسَى عَنْ اسْرَائِيلَ عَنْ ابِي اسْحَاقَ عَنِ الْبَرَاءِ قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ لَا يَسْتَوِي الْقَاعِدُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ادْعُ لِي زَيْدًا وَلْيَجِئْ بِاللَّوْحِ وَالدَّوَاةِ وَالْكَتِفِ اوِ الْكَتِفِ وَالدَّوَاةِ ثُمَّ قَالَ اكْتُبْ لَا يَسْتَوِي الْقَاعِدُونَ وَخَلْفَ ظَهْرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَمْرُو بْنُ امِّ مَكْتُومٍ الْاعْمٰى قَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ فَمَا تَامُرُنِي فَانِّي رَجُلٌ ضَرِيرُ الْبَصَرِ فَنَزَلَتْ مَكَانَهَا لَا يَسْتَوِي الْقَاعِدُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ غَيْرُ اولِي الضَّرَرِ [ر:٢٦٧٦]

دلته «كاتب» مفرد دي حافظ ابن كثير رحمه الله «كتاب» د جمعي صيغه نقل كړي ده او بيا ئي اشكال كړي دي چه امام بخاری په ترجمه كښي خو «كتاب» د جمعي صيغه استعمال كړي ده نو ددې لاندې ئي روايت صرف د يو كاتب حضرت زيد بن ثابت رضي الله عنه نوم اخستې دې فرمائي چه داسې معلوميږی چه امام بخاری رحمه الله ته د زيد بن ثابت نه علاوه د بل صحابی په باره كښي روايت د خپل شرط مطابق نه وو ملاؤ شوې

خوحافظ ابن حجر ﷫ فرمائی چه د بخاری په ټولو نسخو کښې ماته «كاتب» مفرد ملاؤ شوې دې جمعې سره راته چرته هم نه دې ملاؤ شوې ددې وجې په حديث او ترجمة الباب کښې مطابقت ښکاره دې (۱)

خو دا خبره په خپل ځائې صحيح ده چه د وحی لیکونکې څو صحابه ﷺ وو صرف حضرت زید بن ثابت ﷺ نه وو حضرات خلفاء راشدین ، ابی بن کعب ،عبدالله بن سعد بن ابی سرح او حضرت زبیربن العوام صحابه کرامو ﷺ نوموړه هم په کاتبین وحی کښې شامل دی په مکه مکرمه کښې د ټولو نه وړاندې په قریشو کښې عبدالله بن سعد بن ابی سرح د وحی لیکل کړې وو په مدینه منوره کښې د ټولو نه وړاندې د وحی د کتابت سعادت حضرت ابی بن کعب ﷺ ته حاصل شوې وو (۲)

۵=بَاب أُنْزِلَ الْقُرْآنُ عَلَى سَبْعَةِ أَحْرُفٍ

[۴۷۰۵] حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عُفَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنِي اللَّيْثُ قَالَ حَدَّثَنِي عُقَيْلٌ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ حَدَّثَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ انَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا حَدَّثَهُ انَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اقْرَانِي جِبْرِيلُ عَلَى حَرْفٍ فَرَاجَعْتُهُ فَلَمْ ازَلْ اسْتَزِيدُهُ وَيَزِيدُنِي حَتَّى انْتَهَى الَى سَبْعَةِ احْرُفٍ [ر:۳۰۴۷]

[۴۷۰۶] حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عُفَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنِي اللَّيْثُ قَالَ حَدَّثَنِي عُقَيْلٌ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ حَدَّثَنِي عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ انَّ الْمِسْوَرَ بْنَ مَخْرَمَةَ وَعَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ عَبْدٍ الْقَارِيَّ حَدَّثَاهُ انَّهُمَا سَمِعَا عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ يَقُولُ سَمِعْتُ هِشَامَ بْنَ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ يَقْرَا سُورَةَ الْفُرْقَانِ فِي حَيَاةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاسْتَمَعْتُ لِقِرَاءَتِهِ فَاذَا هُوَ يَقْرَا عَلَى حُرُوفٍ كَثِيرَةٍ لَمْ يُقْرِئْنِيهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكِدْتُ اسَاوِرُهُ فِي الصَّلَاةِ فَتَصَبَّرْتُ حَتَّى سَلَّمَ فَلَبَّبْتُهُ بِرِدَائِهِ فَقُلْتُ مَنْ اقْرَاكَ هَذِهِ السُّورَةَ الَّتِي سَمِعْتُكَ تَقْرَا قَالَ اقْرَانِيهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ كَذَبْتَ فَانَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ اقْرَانِيهَا عَلَى غَيْرِ مَا قَرَاتَ فَانْطَلَقْتُ بِهِ اقُودُهُ الَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ انِّي سَمِعْتُ هَذَا يَقْرَا بِسُورَةِ الْفُرْقَانِ عَلَى حُرُوفٍ لَمْ تُقْرِئْنِيهَا فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ارْسِلْهُ اقْرَا يَا هِشَامُ فَقَرَا عَلَيْهِ الْقِرَاءَةَ الَّتِي سَمِعْتُهُ يَقْرَا فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَذَلِكَ انْزِلَتْ ثُمَّ قَالَ اقْرَا يَا عُمَرُ فَقَرَاتُ الْقِرَاءَةَ الَّتِي اقْرَانِي فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَذَلِكَ انْزِلَتْ انَّ هَذَا الْقُرْآنَ انْزِلَ عَلَى سَبْعَةِ احْرُفٍ فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنْهُ [ر:۲۲۸۷]

---

۱) فتح الباری (۲۷\۹)_

۲) فتح الباری (۲۷\۹) وارشاد الساری (۲۶۷\۱۱)_

قوله: إِنَّ هَذَا الْقُرْآنَ أُنْزِلَ عَلَى سَبْعَةِ أَحْرُفٍ: علامه سیوطی رحمه الله لیکلی دی چه دا حدیث د ۲۱ صحابه کرامو رضی الله عنهم نه مروی دې (۱) ابو عبید قاسم بن سلام فرمائی چه دا حدیث متواتر دې (۲)

د سبعة احرف په تفسیر کښې دعالمانو لوئې اختلاف دې ابن حبان فرمائیلی دی چه په دې کښې د عالمانو ۳۵ اقوال دی (۳) تردې پورې چه محمد بن سعدان نحوی دا په متشابهاتو کښې ګرځولې دې او فرمائیلې ئې دی چه دا حدیث معلوم المعنی نه دې (۴) علامه سیوطی رحمه الله په «تنویر الحوالك» او «زهر الربی» کښې هم دا قول اختیار کړې دې (۵)

د سبعة احرف په تفسیر کښې د عالمانو اقوال: خو اکثر عالمانو دا معلوم المعنی ګرځولی نو بیا ددې په تفسیر او معنی کښې مختلف اقول نقل کړې شوې ی دی په دې کښې یو څیز دلته ذکر کولې شی.

① بعضې حضرات فرمائی چه د «سبعة أحرف» نه د اووه قاریانو مشهور قراءتونه مراد دی خودا خیال غلط او باطل دې ځکه چه د قرآن کریم متواتر صرف ددې اووه قاریانو په قراءتونه کښې منحصر نه دی بلکه ددې نه سوا هم متواتر قراءتونه ثابت دی هم دا وجه دا چه ابو شامه دا قول رد کوی او فرمائی

«ظن قوم أن القراءات السبع الموجودة الآن هي التي اريدت في الحديث وهو خلاف إجماع أهل العلم قاطبة وإنما يظن ذلك بعض أهل الجهل»(۶)

② مشهور او متواتر قراءتونه چونکه د اووه نه زیات دی ددې وجې بعضې حضراتو فرمائیلی دی چه په حدیث کښې د «سبعة أحرف» نه ټول مشهور قراءتونه مراد دی او د «سبعة» یعنی اووه د لفظ نه مخصوص عدد مراد نه دې بلکه ددې نه مراد کثرت دې لکه څنګه چه په دهایون (چه دوه هندسې په کښې یعنی د لسو نه واخله تر یو کم سلو پورې) کښې د کثرت دپاره د سبعین لفظ استعمالیږی دغه شان په آحاد کښې د «سبعة» لفظ د کثر دپاره راځی قاضی عیاض او د دوی متبعینو دې قول ته رجحان ښکاره کړې دې (۷)

خودا قول دلته د حدیث باب په وجه صحیح نه معلومیږی ځکه چه امام بخاری دلته په باب کښې چه د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما کوم حدیث نقل کړې دې په دې کښې دی چه

---

۱) مباحث فی علوم القرآن لمناع القطان (۱۵۷) والإتقان فی علوم القرآن (۱\۱٤۱)_
۲) الإتقان فی علوم القرآن (۱\۱٤۱) وفضائل القرآن للإمام ابی عبید قاسم بن سلام (۲۰۳)_
۳) فتح الباری (۹\۲۸)_
٤) البرهان فی علوم القرآن القول فی القراءات السبع (۱\۲۱۳)_
۵[زهر ربی علی امش نسائی جامع ما جاء فی القرآن (۱\۱۵) وتنویر الحوالک)_
۶) فتح الباری (۹\۳۷)_
۷) فتح الباری (۹\۲۸)_

نبی ﷺ فرمائیلی دی چه حضرت جبرئیل علیه السلام قرآن کریم په یو حرف باندې اولوستلو نو ما هغه ته مراجعت اوکړو او د زیادت طلب مې ترې کولو اوهغه به راته زیادت کولو تر دې چه اووه حرفونو ته اورسیدل ۔

ددې روایت نه ښکاره معلومیږی چه د «سبعة» لفظ د کثرت دپاره نه دې بلکه ددې نه عدد معین مراد دې

③ دریم قول د امام طحاوی رحمه الله دې علامه ابن عبدالبر رحمه الله دا اختیار کړې دې او دا ئې اکثرو عالمانو طرف ته منسوب کړې دې چه د «احرف» نه مراد معنی په مترادف لفظ سره ادا کول دی (۱)

دا حضرات فرمائی چه د قرآن کریم نزول صرف د قریشو په لغت سره شوې وو خو د اسلام په ابتداء کښې نورو قبیلو ته دا اجازت ورکړې شوې وو چه هغوی په خپله علاقائی ژبې مطابق په الفاظ مترادفو سره د قرآن کریم تلاوت کولې شی او دا مترادف الفاظ پخپله نبی کریم ﷺ متعین کړی وو لکه د «تعال» په ځائې «هلم» اود «أقبل» په ځائې «أدن» بیا چه کله د قران کریم د لغت نه نورې قبیلې په مزه مزه مانوس شوې نو رسول الله ﷺ د حضرت جبرئیل علیه السلام سره په خپل آخری دور(عریضه) کښې دا اجازت ختم کړو اوصرف هم هغه طریقه ئې باقی اوساتله په کومه چه قرآن نازل شوې وو

ددې قول مطابق د «سبعة احرف» حدیث د ابتداء اسلام سره متعلق وو او د نبی ﷺ په آخری دور کښې دا اجازت ختم کړې شوې وو د قرآن کریم په اووه حرفو باندې د نازلیدو مطلب ددې حضراتو په نیز دا دې چه دا په دې وسعت سره نازل شوې وو چه د یو مخصوص زمانې پورې دا په اووه حرفو سره لوستلې شو او د اووه حرفو نه دا مراد نه دې چه په هره کلمه کښې د اووه مرادفاتو اجازت وو بلکه مقصد دا وو چه زیات نه زیات د یو لفظ د معنی دپاره چه څومره مرادفات استعمالوې شی د هغې تعداد اووه وو اودا مرادفات هم نبی ﷺ متعین کړی وو د خلقو په مرضئ باندې ددې داررومدار نه وو (۲)

ددې قول تائید د حضرت ابوبکره رضی الله عنه په دې روایت سره کیږی کوم چه امام احمد په مسند احمد کښې نقل کړې دې په هغې کښې دی

«إن جبرئیل علیه السلام قال یا محمد اقرأ القرآن علی حرف قال میکائیل استزده حتی بلغ سبعة أحرف قال کل شاف کاف مالم تختلط آیة عذاب برحمة و رحمة بعذاب نحو قولك تعال وأقبل وهلم واذهب واسرع وعجل» (۳)

ددې روایت نه ښکاره معلومیږی چه د سبعة احرف نه د الفاظ مترادفو په ذریعه د معنی ادا کول مراد دی .

دغه شان په یو بل روایت کښې دی چه د حضرت عمر رضی الله عنه او د یو بل صحابی د قرآن کریم

---

۱) مشکل الآثار للطحاوی (۱۸۶\۱٤) وفتح الباری (۳۲\۹)۔

۲) مشکل الآثار للطحاوی (۱۸۶\۱٤- ۱۹۱) وفتح الباری (۳۲\۹و ۳٤)۔

۳) أخرجه أحمد بأسناد جید وهذا اللفظ لأحمد (وانظر مباحث فی علوم القرآن) (۱۶۲)۔

د یو آیت په قراءت کښې اختلاف پیدا شو دواړه حضرات د نبی کریم ﷺ په خدمت کښې حاضر شو نو نبی ﷺ حضرت عمر رضی الله عنه ته اوفرمائیل «یاعمر، إن القرآن کله صواب مالم تجعل رحمة عذاباً أوعذاباً رحمة»(۱)

ددې وجې دا قول د دلائلو په اعتبار سره ډیره حده پورې وزنی دې خو په دې باندې دا اشکال باقی پاتې کیږی که د «سبعة أحرف» اختلاف د نبی ﷺ په زمانه کښې ختم شوې وو نو بیاروسته د حضرت عثمان رضی الله عنه په زمانه کښې چه کوم اختلاف پیدا شوې وو د کوم په وجه چه هغوی مصاحف تیار کړل او نور ټول لغات ئې په هغې مصاحفو سره ختم کړل د هغې به څه توجیه وی؟ که «سبعة أحرف» د نبی ﷺ په زمانه کښې ختم شوی وو نو روسته اختلاف په کوم څیز کښې باقی وو د کوم د ختمولو دپاره چه حضرت عثمان رضی الله عنه مصاحف تیار کړل ـ

④ علامه ابن جریر طبری رحمه الله او د هغوی متبعینو د «سبعة أحرف» نه د عربو د قبیلو اووه لغات مراد اخستې دی بیا ددې قبیلو په تعیین کښې دوه مشهور قولونه دی یو قول دا دې چه د دې نه ① قریش ② هذیل ③ ثقیف ④ هوازن ⑤ کنانه ⑥ تمیم ⑦ او یمن مراد دې او دویم قول دا دې چه ددې نه ① قریش ② هزیل ③ تمیم رباب ④ ازد ⑤ ربیعه ⑥ هوازن ⑦ او سعد بن بکر مراد دی (۲)

په دې قول باندې یو اشکال دا کیږی چه د عربو لغات خو د اووه نه زیات دی ـ

ددې جواب دا ورکړې شوې دې چه د عربو د قبیلو لغات اګرچه د اووه نه زیات وو خو په دې کښې فصیح اووه وو بیا په اووه لغات کښې د نازلیدو مطلب دا نه دې چه هره یوه کلمه په اووه لغاتو کښې په مختلفو اندازونو باندې لوستلې شی بلکه مطلب دا دې چه متفرق طور باندې په ټول قرآن کښې اووه لغات دی (۳)

هم دا وجه دا چه امام ابوعبید قاسم بن سلام لیکی.

«ولیس معنی تلك السبعة أن یكون الحرف الواحد یقرأ علی سبعة أوجه، هذا شیئ غیر موجود ولکنه عندنا أنه نزل علی سبع لغات متفرقة فی جمیع القرآن من لغات العرب، فیکون الحرف منها بلغة قبیلة والثانی بلغة أخری سوی الأولی والثالث بلغة أخری سواهما کذلك إلی السبعة وبعض الأحیاء أسعد بها وأکثر حظاً فیها من بعض»(۴)

دسبعة احرف په سلسله کښې د علامه ابن جریر طبری رحمه الله دا قول د ټولو نه زیات مشهور دې او اکثرومتاخرینوهم دا اختیار کړې دې مولانا ظفراحمد عثمانی رحمه الله په ,,امداد الاحکام،،

۱) أخرجه أحمد بأسناد رجاله ثقاة (وانظر مباحث فی علوم القرآن (۱۶۲)ـ
۲) فتح الباری (۳۳/۹ والبرهان فی علوم القرآن (۲۱۷/۱) ومباحث فی علوم القرآن (۱۵۸)ـ
۳) فتح الباری (۳۲/۹) وروح المعانی بیان المراد بالأحرف السبعة (۲۱/۱)
۴) فضائل القرآن للإمام أبی عبیدالقاسم بن سلام باب لغات القرآن (۲۰۳)ـ

کښې هم دا قول اختیار کړې دې دوی لیکی
،،د محققین امت قول دا دې چه قرآن اول د قریشو په لغت نازل شوې وو کومه چه د رسول الله ﷺ د قوم ژبه وه په قرآن کریم هم ارشاد دې ((وما أرسلنا من رسول إلا بلسان قومه ليبين لهم)) اود نبی کریم ﷺ قوم قریش وو نو ضرور ده چه قرآن د قریشو په ژبه کښې نازل شوې وو ... دهجرت نه وړاندې چونکه اسلام راوړونکې زیات اهل مکه وودوی ټول قریش وو یا د قریشو په ژبه به ئې خبرې کولې ددې وجې د عربو په نورو ژبو کښې مسلمانانو ته د وئیلو ضرورت نه وو بیا د هجرت نه پس چونکه دعربو نورې قبیلې هم په اسلام کښې داخل شوې اولکه چه د عربو د ټولو قبیلو مشترکه ژبه عربی وه خو په تلفظ او اعراب وغیره کښې ډیر اختلاف وو مثلاً قریشو به ((حتی حین)) په حاء سره وئیلې او هذیل به دا په ((عتی عین)) عین سره لوستله .. او ددې اختلاف نظیر په هره ژبه کښې موجود دې مثلاً د دلی او لکهنو په اردو کښې اختلاف دې یو کهارا پانی وائی او بل کهاری پانی وائی (لکه په پښتو کښې قندهاریٔ پښتو یوشان ده او یوسف زیٔ پښتو بل شان ده) او قاعده ده چه مورنیٔ ژبه په سمدستی بدلول ډیر گر ان وی بیا خاص کر داسې قوم چه په هغوی کښې د لیکلو لوستلو رواج هم نه وی بلکه صرف په اوریدو باندې مدار وی او د قرآن دارومدار په دوی کښې صرف هم په دې کښې اوریدو باندې وو لیکونکې او لوستونکی ډیر کم وو بس چه څومره قرآن د چا سره وو هغه ئې یاد ووواوهم په دې حالت کښې به نورو قبیلود خپل تلفظ موافق قرآن لوستل سمدستی ئې د قریشو لغت او د قریشو تلفظ نشو ادا کولې ددې وجې نبی کریم ﷺ (په مختلفو لغاتوکښې د لوستلو) درخواست اوکړو چه چونکه اهل عرب زیات امیان دی او د دوی تلفظ او اعراب مختلف دې نو سمدستی که ټول د قریشو په لغت مکلف کولې شو په دې کښې د تکلیف ویره وه چه په دې سره به دوی کښې کوتاهی وه او ددغه کوتاهیٔ په وجه به په گناه کښې اخته کیدل ددې وجې چه په دې کښې توسیع اوشی نو درخواست ئې منظور شو او په اووه طریقو سره د قرآن لوستو اجازت ورکړې شو او د دې اووه طریقو نه مراد د عربو د قبیلو اووه لغات وو یعنی ددې اجازت ورکړې شو چه کوم کس د قریش په لغت د قرآن تلفظ نشی کولې هغه دې په دې قبیلو کښې چه د کومې قبیلې په تلفظ سره چه غواړی د قرآن الفاظ ادا کوی اوغالباً په اووه لغاتو کښې د انحصار وجه دا ده چه د دوی نه سوا د نورو قبیلو تلفظ صحیح نه وویا دا چه د دې قبیلو د تلفظ نورې قبیلې تابع وې ددې وجې د زیاتې توسیع ضرورت نه وو۔
ددې تقریر نه معلومه شوه چه د قریشو د لغت نه سوا چه کوم شپږ لغات وو په هغې کښې په حقیقت کښې قرآن نه وو نازل شوی بلکه حقیقی نزول د قریشو په لغت کښې وو خو د آسانتیا دپاره د نورو شپږو قبیلو په تلفظ کښې هم د قرآن لوستلو اجازت ورکړې شوددې وجې حکماً هغه هم منزل من الله شوې دغه شان دا هم د روایاتو نه معلومه شوې ده چه په دغه اووه لغاتو کښې لوستل د هر یو کس په رائې باندې نه وو بلکه د رسول الله ﷺ نه د اوریدلې شوې تلفظ اجازت وونبی ﷺ به پخپله په نورو لغاتو کښې هغه لوستل او خودل چه د قریشو د لغت نه سوا په دې نورو لغاتو کښې داسې لوستل جائز دی حضرات صحابه

كرامﷺ ته معلومه وه چه د قرآن نزول اول د قريشو په لغت كښې شوې وو او د هجرت نه وړاندې زمانه كښې چه په مكه كښې ديارلس كاله قيام وو هم يو قراءت او يو لغت كښې به نبیﷺقرآن لوستل او نبیﷺ هم په يو لغت كښې مسلمانانو ته قرآن خودل بيا په مدينه كښې د هجرت نه پس نبیﷺ په دې كښې د توسيع درخواست اوكړو كوم چه منظور شو دا ټولې خبرې صحابوﷺپيژندلې چه د قرآن اصل لغت د قريشو لغت دې اودنورولغاتو اجازت د آسانتيا په غرض عارضى دې او كوم حكم چه عارضى د څه خاص غرض دپاره وى هغه د حصول غرض پورې محدود وى چه كله غرض حاصل شو او په اهل عرب كښې د ليكلو او لوستلو رواج شو بل طرف د قريشو سره د نورو قبيلو اختلاط هم زيات شواو اوس ټولو ته د قريشو په لغت د قرآن لوستل آسان شو بل طرف ته دا اوكتلې شو چه په كومو لغاتو كښې د قرآن د لوستلواجازت د آسانتيا او سهولت دپاره وركړې شوې وو اوس د هغې باقى ساتل د اختلاف موجب او سبب جوړيدل چه د نورو قبيلو خلقو به خپله طريقه صحيح ګنړله اونورو طريقو ته به ئې غلطې وئيلې او د يوبل تكفير به ئې كولو نو صحابو ﷺ په اجماع سره په دې باندې اتفاق اوكړو چه اوس د نورو قراءتونو باقى پريخودل مناسب نه دى بلكه قرآن صرف د قريشو په لغت باندې جمع كول پكار دى د حضرت عثمان ﷺ په زمانه كښې د ټولو لويو صحابه كرامو په اتفاق سره صرف يو قراءت او يو صرف لغت باندې قرآن جمع كړې شو څكه چه دا د قرآن اصلى ژبه وه و په باقى ژبو كښې قرآن وئيل بند كړې شول څكه چه هغه عارضى وې كومې چه د خاص غرض دپاره جائز كړې شوې وې او اوس هغه غرض حاصل شو(١)

په دې قول باندې اشكال: چه د اووه حرفو نه د عربو د اووه قبيلو لغات مراد اخستونكو په دې قول باندې د حديث باب نه اشكال كيږى څكه چه په دې كښې دى چه د حضرت عمرﷺ او حضرت هشام بن حكيم په منيځ كښې د قرآن كريم په تلاوت كښې اختلاف پيدا شو حال دا چه دا دواړه حضرات قريشى ووكه د اووه حروفو نه د اووه مختلفو قبيلو لغات مراد وو نو د حضرت عمر او حضرت هشام ﷺ په مينځ كښې به دا اختلاف ولې راتلو حال دا چه دا دواړه قريشى وو۔

ددې اشكال جواب دا وركړې شوې دې چه كيدې شى په دې دواړو كښې يو ته نبیﷺ د قريشو د لغت نه سوا د بل چا په لغت باندې قرآن لوستلې وو (٢)

په دې قول باندې يو مضبوط اشكال دا هم كيږى كه اووه حروف د حضرت عثمان ﷺ په زمانه كښې ختم كړې شوې وو او صرف يو حرف باقى پريخودې شوې وو نو د موجوده مشهور قراءتونو اختلاف به ولې پيدا كيدل څكه چه د حديث په ذخيره كښې د قرآن كريم د تلاوت په باره كښې د يو قسم اختلاف ،، سبعة احرف،، ذكر دې ددې نه علاوه د بل قسم اختلاف ذكر نشته او چه ذكر شوې قول اومنلې شى نو د قرآن كريم په قراءت دوه قسمه

---

١) امداد الاحكام كتاب العلم فصل فى تعليم القرآن وتلاوته (١١\٢٦٤و ٢٦٦)_

٢) روح المعانى ، بيان المراد بالأحرف السبعة (١١\٢١)_

اختلاف منلو ته ضرورت پیښیږی یو اختلاف د سبعة احرف او بل اختلاف د قراءاتو.(۱)
ددې اشکال څه تسلی بخش جواب ددې قول د قائلینو سره نشته او اشکال داسې دې چه ددې نه نظر نشی اړولې ـ

⑤ د «سبعة احرف» په سلسله کښې چه محققینو عالمانو کوم قول اختیار کړې دې هغه دا دې چه ددې نه د اختلاف قراءاتو اووه نوعیتونه مراد دی قراءتونه اګر چه د اووه نه زیات دی خو په دې قراءتونو کښې چه کوم اختلافات موجود دی هغه په اووه قسمونو کښې منحصر دې امام مالك ،ابن قتیبه،امام ابوالفضل رازی ، قاضی ابو بکر باقلانی، علامه جزری او مولانا انور شاه کشمیری رحمه الله هم دا قول اختیار کړې دې (۲)
داختلاف قراءات د اووه نوعیتونو تعیین مختلفو عالمانو کړې دې او ددې په تعیین کښې لږ ډیر اختلاف هم شته امام ابو الفضل رازی رحمه الله ددې تفصیل داسې بیان کړې دې

① د اسماؤ اختلاف ، د مفرد ،تثنیه ، جمع او تذکیر او تانیث په اعتبار سره لکه «تمت کلمة ربك» او «تمت کلمات ربك»

② د افعال اختلاف: د ماضی ،مضارع او امر په اعتبار سره لکه «ربنا باعد بین أسفارنا» او «بعد بین أسفارنا» «باعد» امر دې او «بعد» ماضی ده ـ

③ د وجوه اعراب اختلاف لکه «ولا یضار کاتب» د راء نصب او رفع قراءت کښې ـ

④ د الفاظو د کمی بیشی په اعتبار سره لکه «وما خلق الذکر والأنثی» او «والذکر والأنثی» په نورو قراءتونو کښې «ما خلق» نشته

⑤ د تقدیم او تاخیر اختلاف لکه «وجاءت سکرة الموت بالحق» او «وجاءت سکرة الحق بالموت»

---

۱) مولانا محمد تقی عثمانی مد ظلهم لیکی بیا عجیب خبره دا ده چه د علامه ابن جریر د قول مطابق صحابو رضی الله عنهم شپږ حروف خو د اختلاف د ویرې د وجې ختم کړل او قراءتونه (کوم چه د هغوی په قول کښې دحروفو نه جدا دی) هم هغه شان باقی پاتې کړې شول هغه تر ننه پورې محفوظ راروان دی سوال دا دې چه د افتراق او اختلاف د ویرې په مختلفو حروفو کښې د قرآن پاك د تلاوت په جاری والی کښې وو آیا هم هغه ویره د قراءاتو په اختلاف کښې نه وه ؟ حال دا چه ددې قراءتونو په رنړا کښې کله کله یو یو حرف په شلو شلو مختلفو طریقو سره لوستلې شی؟ که د شپږو حروفو ختمولو منشاء هم دا وه چه په مسلمانانو کښې اتفاق پیدا وی او دوی ټول په یوه طریقه د قرآن پاك تلاوت کوی نو د قراءتونو اختلاف آخر ولې ختم نه کړې شو هرکله چه د قراءتونو داختلاف باوجود امت د انتشار نه بچ کولې شو او مسلمانان په دې باندې پوهولې شول چه په دې ټولو طریقو باندې تلاوت جائز دې نوهم دا تعلیم د حروف سبعه په باب کښې د فتنې سبب ولې ګرځولې شی حقیقت دا دې چه د حافظ ابن جریر رحمه الله د قول مطابق د ،،حروف سبعه،، اود ،،قراءات،، په باره کښې صحابه کرامو رضی الله عنهم ته د دوه داسې دوو حیرت انګیز عملونو منسوب کولو ضرورت پیښیږی چه دهغې څه معقوله توجیه په پوهه کښې نه راځی (علوم القران (۱۲۱-۱۲۲)ـ

۲) فتح الباری (۹\۳۵) والبرهان فی علوم القرآن (۱\۲۲۳) والنشر فی القراءات العشر (۱\۳۱) وفیض الباری (۳\۳۲۱- ۳۲۲) وغرائب القرآن للنیشابوری علی هامش ابن جریر (۱\۲۱)ـ

⑥ ابدال يعنى په يو قراءت كښې يو لفظ وى او په بل قراءت كښې بل لفظ وى لكه «تنشزها» او «ننشرها»

⑦ د لهجو او لغاتو اختلاف ادغام ،اظهار،ترقيق ، تفخيم، او اماله وغيره په اعتبار سره (١) لكه «موسى او موسى» په اماله او غير اماله سره .

دا قول ځومحققينو عالمانو اختيار كړې دې امام مالك ،علامه جزرى، مولا على قارى او مولانا انورشاه كشميرى وغيره محققينو عالمانو ﷺاختيار كړې دې(لكه څنګه چه تيرشو)

ددې قول مطابق «سبعة أحرف» ختم شوى نه دى ا نه منسوخ شوى دى بلكه د قرآن مجيد په تلاوت كښې چه كوم مختلف قراتونه مشهور دى هغه د «سبعة أحرف» مصداق دى

په دې قول باندې يو اشكال او د هغې حل څو په دې قول باندې دااشكال كيږى كه د «سبعة أحرف» اختلاف اوس هم باقى وى او ختم شوې نه وى نو بيا هغه څنګه اختلاف وو د كوم د ختمولو دپاره چه حضرت عثمان رضی الله عنه قرآن كريم جمع كړلو اويو مصحف ئې تيار كړلو

ددې جواب دا وركړې شوې دې حضرت عثمان په يو مصحف كښې قرآن جمع كړو او هغه اختلاف ئې ختم كړو كوم چه په هغه وخت كښې په انفرادى مصاحفو كښې موجود وو ند چا مصحف په يو حرف باندې وو او د چا په بل حرف باندې،دكوم په وجه چه ديوحرف لوستونكى به بعضې وخت د بل حرف لوستونكى ته غلط وئيل د كومې په وجه چه به جنګ او فساد ته خبره اورسيده حضرت عثمان رضی الله عنه يو داسې مصحف تيار كړو په كوم كښې چه ددې ټولو حروفو ګنجائش موجود وو دې دپاره چه په يو حرف باندې تلاوت كونكې د بل حرف لوستونكى قارى ته غلط اونه وائى دا داسې وه چه د يو څيز په باره كښې دوه اقوال وى او دواړه جائز وى يوه ډله يو قول او بله ډله بل قول اختياروى او هره يوه ډله خپله غوره كړې قول ته صحيح وائى او د بلې ډلې قول ته غلط وائى نو په داسې صورت كښې كه يو كس ذكر شوې دواړه قولونه ثابت كړى نو د هر قول ګنجائش او جواز معلوميږى او اختلاف ختميږى حضرت عثمان رضی الله عنه په يو مصحف كښې سبعة احرف جمع كړل او دغه شان ئې د اختلاف ختمولو كارنامه اوكړه (٢)والله اعلم

ددې قول مطابق سبعة احرف اوس هم باقى دى منسوخ نه دى ـ

د سبعة احرف په باره كښې دا څو مشهور اقوال دى ددې نه علاوه نور اقوال هم شته (مثلاً يوقول داهم دې چه ددې نه دكلام اووه اصناف محكم، متشابه ،ناسخ، منسوخ ، خصوص، عموم او قصص مراد دى يا امر، نهى ،وعد ،وعيد، اباحت، ارشاد او اعتبار مراد دې(٣)

١) فتح البارى (٩\٣٥)ـ
٢) علوم القرآن (١٤١-١٤٢)ـ
٣) روح المعانى (١\٢١)ـ

دغه شان يو قول دا نقل شوې دې چه ددې نه اقاليم سبعه مراد دی او حرف په معنی د غاړې دې او مطلب دا دې چه قرآن مجيد د عالم د ټولو طرفونو د هدايت دپاره رالیږلې شوې دې) خو مشهور او راجح اقوال هم هغه دی کوم چه پورته ذکر شول.

٦=بَاب تَأْلِيفِ الْقُرْآنِ

د الفاظو په اعتبا سره په دې ترجمه او ماقبل «باب جمع القرآن» په ترجمه کښې فرق دې خو د معنی په اعتبار سره په جمع او تالیف کښې څه فرق نشته ددې وجې په ظاهره په دواړو ترجمو کښې تکرار دې

ددې جواب دا ورکړې شوې دې چه د ماقبل په ترجمه کښې امام بخاری رحمه الله د قرآن د آياتونو او سورتونو مطلقاً په مصحف کښې د جمع کولو بيان کړې وو او په دې ترجمه کښې امام بخاری رحمه الله د سورتونو ترتيب بيانوی او دا خودل مقصود دې چه ترتيب وار سورتونه په مصحف کښې جمع شوی دی (١)

ددې نقل کولو وجه دا پيښه شوه چه په اصل کښې څو مصاحف وو او د ټولو ترتيب د يو بل نه مختلف وو د حضرت علی رضی الله عنه د مصحف ترتيب د نزول مطابق وو په هغې کښې مکی سورتونه اول او مدنی سورتونه روسته.وو د حضرت ابی بن کعب او حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنهما د مصاحفو ترتيب بل وو خو د مصحف عثمانی ترتيب د ټولو نه اکمل دې (٢)

آيا د سورتونو ترتيب توقيفی دې؟ په دې خبره خو اتفاق دې چه د قرآن مجيد د آياتونو ترتيب توقيفی دې په دې کښې اجتهاد ته دخل نشته چه په نبی صلی الله علیه وسلم به آياتونه نازل شول د وحی کاتب به ئې راوغوښتلو او ورته به ئې خودل چه دا آياتونه په فلانی فلانی ځائې کښې درج کړه (٣) خو په دې کښې اختلاف دې چه د سورتونو ترتيب توقيفی دې او که دا د حضرات صحابه کرامو اجتهادی عمل دې په دې کښې د عالمانو څلور اقوال دی

① د جمهورو عالمانو رائې دا ده چه د قرآن مجيد د سورتونو ترتيب د صحابه کرامو په اجتهاد سره قائم شوې دې د امام مالك او قاضي ابوبكر هم دا رائې ده (٤)

ددې دليل دا ورکولې شی چه د صحابه کرامو په مصاحفو کښې د ترتيب اختلاف وو که د سورتونو ترتيب توقيفی وونو بيا به د دوی په مصاحفو کښې څه اختلاف نه واقع کيدلو.

② ابن الانباری او علامه طيبی رحمهما الله فرمائيلی دی چه لکه څنګه د آياتونو ترتيب توقيفی دې دغه شان د قرآن پاك د سورتونو ترتيب هم توقيفی دې په دې کښې د اجتهاد دخل نشته (٥)

---

١) الأبواب والتراجم (٥٩/٢)_
٢) فتح الباری (٥٠/٩-٥١)_
٣) فتح الباری (٥١/٩)_
٤) البرهان في علوم القرآن فصل فی عدد سور القرآن وآياته (٢٥٧/١)_
٥) البرهان فی علوم القرآن (١٦٠/١)_

علامه بدرالدین زرکشی رحمه الله په «البرهان فی علوم القرآن» کښې نقل کړی دی چه په ذکر شوو دوارو قولونو کښې واقعه دا اختلاف لفظی دې معنی اختلاف نه دې کوم حضرات چه وائی چه د سورتونو ترتیب توقیفی دې د هغوی مراد فعلی توقیفی دې او کوم حضرات چه دې ته اجتهادی وائی هغوی د توقیفی قولی نفی کوی په دې معنی چه نبی کریم ﷺ په خپل قول او ارشاد په ذریعه ددې ترتیب نه دې متعین کړې خو په دې کښې څه شك نشته چه نبی ﷺ دیوخاص ترتیب مطابق قرآن مجید لوستلې دې او صحابه کرامو رضی الله عنهم دهغه ترتیب مطابق قرآن مجید اوریدلې دې اوهم دهغه ترتیب په مصحف عثمانی کښې خیال ساتلې شوې دې(۱).

③ دریم قول د ابن عطیه دې هغوی فرمائی چه د ډیرو سورتونو ترتیب د نبی ﷺ په ژوند کښې معلوم شوې وو لکه سبع طوال ،حوامیم ، او مفصل سورتونه ،ددې نه علاوه د باقی سورتونو ترتیب صحابو رضی الله عنهم ته حواله کړې شوې وو (۲)

④ امام بیهقی رحمه الله په ، ،المدخل، ، کښې یو څلورم قول اختیار کړې دې هغوی فرمائی چه د نبی ﷺ په زمانه کښې د قرآن مجید ټول آیاتونه او ټول سورتونه مرتب شوی ووصرف د سورة انفال او سورة براءت ترتیب باقی پاتې شوې وودا حضرت عثمان رضی الله عنه قائم کړې وو (۳)

[۴۷۰۷] حَدَّثَنَا اِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى اَخْبَرَنَا هِشَامُ بْنُ يُوسُفَ اَنَّ ابْنَ جُرَيْجٍ اَخْبَرَهُمْ قَالَ وَاَخْبَرَنِي يُوسُفُ بْنُ مَاهَكٍ قَالَ اِنِّي عِنْدَ عَائِشَةَ اُمِّ الْمُؤْمِنِينَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا اِذْ جَاءَهَا عِرَاقِيٌّ فَقَالَ اَيُّ الْكَفَنِ خَيْرٌ قَالَتْ وَيْحَكَ وَمَا يَضُرُّكَ قَالَ يَا اُمَّ الْمُؤْمِنِينَ اَرِينِي مُصْحَفَكِ قَالَتْ لِمَ قَالَ لَعَلِّي اُوَلِّفُ الْقُرْاٰنَ عَلَيْهِ فَاِنَّهُ يُقْرَاُ غَيْرَ مُؤَلَّفٍ قَالَتْ وَمَا يَضُرُّكَ اَيَّهُ قَرَاْتَ قَبْلُ اِنَّمَا نَزَلَ اَوَّلَ مَا نَزَلَ مِنْهُ سُورَةٌ مِنَ الْمُفَصَّلِ فِيهَا ذِكْرُ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ حَتَّى اِذَا ثَابَ النَّاسُ اِلَى الْاِسْلَامِ نَزَلَ الْحَلَالُ وَالْحَرَامُ وَلَوْ نَزَلَ اَوَّلَ شَيْءٍ لَا تَشْرَبُوا الْخَمْرَ لَقَالُوا لَا نَدَعُ الْخَمْرَ اَبَدًا وَلَوْ نَزَلَ لَا تَزْنُوا لَقَالُوا لَا نَدَعُ الزِّنَا اَبَدًا لَقَدْ نَزَلَ بِمَكَّةَ عَلَى مُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاِنِّي لَجَارِيَةٌ اَلْعَبُ بَلِ السَّاعَةُ مَوْعِدُهُمْ وَالسَّاعَةُ اَدْهَى وَاَمَرُّ وَمَا نَزَلَتْ سُورَةُ الْبَقَرَةِ وَالنِّسَاءِ اِلَّا وَاَنَا عِنْدَهُ قَالَ فَاَخْرَجَتْ لَهُ الْمُصْحَفَ فَاَمْلَتْ عَلَيْهِ اَيَ السُّوَرِ [ر:۴۵۹۵]

یوسف بن ماهك فرمائی چه زه د حضرت عائشې سره ووم.په دې کښې هغې ته یو عراقی کس راغلو (د هغه نوم معلوم نشو) (۴) او تپوس ئې اوکړو کوم یو کفن غوره دې ؟ یعنی د کومې جامې کفن غوره دې (کیدې شی چه دغه کس د حضرت سمره رضی الله عنه مرفوع حدیث اوریدلی وو په کوم کښې چه د سپینې جامې د کفن حکم ورکړې شوې دې چه د حضرت

۱) البرهان فی علوم القرآن (۲۵۷/۱)_
۲) البرهان فی علوم القرآن (۲۵۷/۱)_
۳) علوم القرآن(۱۱۷)_
٤) قال الحافظ فی الفتح (۴۷/۹) ولم أقف علی إسمه)_

عائشې ﷞ نه ني تپوس اوكړو كيدې شي دغه كس ددې تصديق كول غوښتل) (١)
حضرت عائشې ورته اوونيل هلاك شې تاته څه نقصان رسوى يعنى تاته چه كوم يو كفن هم
واغوستولې شى هغه به كافى وى.
بيا هغه تپوس اوكړوام المومنين ماته خپل مصحف اوښايه دوى ترې تپوس اوكړو ولې
؟هغه اوونيل زه د هغې مطابق خپل قرآن مرتب كوم ځكه چه قرآن په غير مرتب طريقه
باندې لوستلې شى ((ممكن ده چه دا واقعه د حضرت عثمان ﷛ د تيار كړى مصحف نه
اوړاندې وه او دا هم ممكن دې چه روستنۍ واقعه وى خو چونكه دې د عراق وو او هلته د
حضرت عبدالله بن مسعود ﷛ قراءت مشهور وو كيدې شى هغه د دهغوى نه وئيلې وو او
چونكه د هغوى د مصحف ترتيب د مصحف عثمانى د ترتيب نه مختلف وو ددې وجې هغه
اوونيل چه قرآن په غير مرتب طريقې سره لوستلې شى)(٢) حضرت عائشې ﷞ اوفرمائيل
ته چه كوم يو سورة هم وړاندې اووائې ستا په هغې كښې څه نقصان نشته كوم سورتونه چه
په ابتداء كښې نازل شوى وو په هغې كښې يو سورة مفصل دې په هغې كښې د جنت او
جهنم ذكر دې چه خلق اسلام طرف ته راغلو نو بيا د حلالو او حرامو احكام نازل شوكه د
ټولو نه وړاندې دا حكم نازل شوې وو چه شراب مه څكئ نو خلقو به وئيل چه مونږ شراب
بيخى نه پريږدو دغه شان كه د زنا ممانعت راغلې وو نو خلقو به د زنا پريخودو نه انكار
كړې ووپه نبى كريم ﷺ په مكه كښې د سورة قمر دا آيت نازل شو ((بل الساعة موعدهم
،والساعة أدهى وأمر)) زه په دغه وخت كښې وړه جينۍ ووم.چه لوبې به مې كولې (دحضرت
عائشې ﷞ مطلب دا ووچه داحكامو په نزول كښې الله تعالى د حكمت او مصلحت د نظر
وړاندې ساتلې دې او تدريجاً نزول اوشو په اول كښې د ترغيب او ترهيب آياتونه نازل شول
بيا تدريجاً دحرامو او حلالو احكام نازل شول، په مكه كښې د سورة قمر نزول اوشو په دې
كښې احكام نشته) حضرت عائشه ﷞ فرمائى د سورة بقرې او سورة نساء د نزول په وخت
كښې زه د نبى ﷺ سره ووم.(يعنى دا دواړوه سورتونه په احكامو مشتمل دى ددې وجې
ددې نزول د هجرت نه پس شوې دې كله چه زه د نبى ﷺ په نكاح كښې راغلې ووم) ددې نه
پس حضرت عائشې ﷞ دعراقى كس دپاره مصحف راويستلو اود سورتونو د آياتونو املاء
ئې ورته اوكړه فأملت عليه اى السورة
دحديث ددې آخرى جملې نه معلوميږى چه ددې عراقى تپوس د آياتونو د ترتيب په باره
كښې وو حال دا چه ددې نه وړاندې د حضرت عائشې ﷞ د قول ((ومايضرك أية قرأت قبل)) نه

---

١) فتح البارى (٩/٤٧)_
٢) فتح البارى (٩/٤٧)_

معلومیږی چه د هغه تپوس د سورتونو دترتیب په باره کښې وو
حافظ ابن حجر رحمه الله لیکلی دی چه ممکن ده چه د هغه تپوس د آیاتونو او سورتونو دواړو د ترتیب په باره کښې وو.(۱)
شیخ الحدیث مولانا زکریا رحمه الله فرمائیلي دی چه دهغه تپوس د سورتونو د ترتیب په باره کښې وو د آیاتونو املاء حضرت عائشې رضي الله عنها ضمنا اوکړه. (۲)

یو اشکال او دهغې حل: په پورتنی روایت کښې دی «إنما نزل أول ما نزل منه سورة من المفصل فیها ذکر الجنة والنار» په دې باندې اشکال کیږی چه د «أول ما نزل» مصداق خو د سورة علق اولنی پنځه آیاتونه دی په دې کښې خو د جهنم او جنت ذکر نشته.

ددې یو جواب دا ورکړې شوې دې چه دلته «من» محذوف دې «أی من أول ما نزل» یعنی په اول کښې نازلیدونکی آیاتونود مفصل په یو سورت کښې د جنت او جهنم ذکر دې (۳)

او یا د «أول ما نزل» نه سورة مدثر مراد دې ځکه چه د فترة وحی نه پس دا د «اول ما نزل» مصداق دې او ددې په آخر کښې د جنت او جهنم ذکر شته (۴)

[۴۷۰۸] حَدَّثَنَا آدَمُ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ قَالَ سَمِعْتُ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ يَزِيدَ بْنِ قَيْسٍ سَمِعْتُ ابْنَ مَسْعُودٍ يَقُولُ فِي بَنِي إِسْرَائِيلَ وَالْكَهْفِ وَمَرْيَمَ وَطه وَالْأَنْبِيَاءِ إِنَّهُنَّ مِنَ الْعِتَاقِ الْأُوَلِ وَهُنَّ مِنْ تِلَادِي [ر:۴۴۳۱]

په دې روایت کښې حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه پنځه سورتونه خپله پخوانۍ غوره سرمایه خودلی ده حال دا چه دا ذکر شوی سورتونه په مصحف عثمانی کښې په ابتداء کښې نشته بلکه په مینځ کښې دی البته ددې پنځو سورتونو په خپل مینځ کښې هم هغه ترتیب دې کوم چه په روایت کښې دې «عتاق» د «عتیق» جمع ده هرښه څیز ته وائی «أول» د «أول» جمع ده «تلاد» زوړ موروثی مال.

[۴۷۰۹] حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ أَنْبَأَنَا أَبُو إِسْحَاقَ سَمِعَ الْبَرَاءَ بْنَ عَازِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ تَعَلَّمْتُ سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى قَبْلَ أَنْ يَقْدَمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ر:۳۷۰۹]

حضرت براء رضي الله عنه فرمائی چه ما سورة الاعلی د نبی کریم صلی الله علیه وسلم مدینې منورې ته د راتلو نه وړاندې زده کړې وو.سورة اعلی په اول کښې نازلیدونکی سورتونو کښې دې خو په مصحف عثمانی کښې په آخری پاره کښې وه معلومه شوه چه د سورتونو ترتیب د نزول د ترتیب نه مختلف دي

---

۱) فتح الباری (۹/۴۸)_
۲) الأبواب والتراجم (۱۲/۶۰)_
۳) فتح الباری (۹/۴۸)_
۴) فتح الباری (۹/۴۸)_

[۵۰۴۳] حَدَّثَنَا عَبْدَانُ عَنْ اَبِي حَمْزَةَ عَنِ الْاَعْمَشِ عَنْ شَقِيقٍ قَالَ قَالَ عَبْدُ اللّٰهِ لَقَدْ تَعَلَّمْتُ النَّظَائِرَ الَّتِي كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَؤُهُنَّ اثْنَيْنِ اثْنَيْنِ فِي كُلِّ رَكْعَةٍ فَقَامَ عَبْدُ اللّٰهِ وَدَخَلَ مَعَهُ عَلْقَمَةُ وَخَرَجَ عَلْقَمَةُ فَسَأَلْنَاهُ فَقَالَ عِشْرُونَ سُورَةً مِنْ اَوَّلِ الْمُفَصَّلِ عَلَى تَأْلِيفِ ابْنِ مَسْعُودٍ اٰخِرُهُنَّ الْحَوَامِيمُ حم الدُّخَانِ وَعَمَّ يَتَسَاءَلُونَ [ر: ۷۴۲]

شقیق بن سلمه نه روایت دې چه حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ فرمائیلی دی چه زه هغه نظائر پیژنم کوم چه نبی کریم ﷺ په یو رکعت کښې دوه دوه لوستل (د نظائرو نه هغه سورتونه مراد دی کوم چه د مضمون ،طوالت اواختصارپه اعتبار سره یو د بل نظیر او مشابه دي (١)

حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ دا اووئیل او پاسیدلو کورته لاړلوحضرت علقمه هم د دوی سره دننه لاړلو حضرت علقمه چه کله راووتلو نو مونږ دهغه نه تپوس اوکړو (چه هغه کوم سورتونه دی) نوهغه اووئیل هغه د ابن مسعود د مصحف د ترتیب مطابق د مفصل ابتدائی شل سورتونه دی د کوم په آخر کښې چه ((حم)) یعنی سورة دخان او عم یتسآءلون دی

ددې روایت نه معلومه شوه چه د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ د مصحف ترتیب د مصحف عثمانی د ترتیب نه خلاف ووځکه چه په هغې کښې ئې د مفصل ترتیب بیان کړې دې او ((حم الدخان)) او ((عم یتسآءلون)) ئې په آخر کښې بیان کړې دی په مصحف عثمانی کښې حم الدخان او عم یتساءلون متصل نه دی سورة دخان مجازاً په مفصل کښې شمارلې شوې دې ځکه چه د مفصل سورتونو ابتداء د سورة حجرات نه کیږی (٢)

د سورة حجرات نه تر آخره پورې سورتونو ته مفصل ددې وجې وائی چه په دې کښې د بسم الله په ذریعه فصل زیات واقع دې په یو قول کښې سورة دخان هم په مفصل کښې داخل دې(٣) په روایت باب کښې د مفصل د کومو شلو سورتونو ذکر دې چه نبی ﷺ دا په یو رکعت کښې دوه دوه ملاووهل او لوستل د ابوداود په روایت کښې د دغه سورتونو نومونه ذکر شوی دی په هغې کښې دی

((کان یقرأ النظائر السورتین فی رکعة الرحمن والنجم فی رکعة واقتربت والحاقة فی رکعة والذاریات والطور فی رکعة ، والواقعة ونون فی رکعة ، وسأل والنازعات فی رکعة ، وویل للمطففین وعبس فی رکعة ، والمدثر والمزمل فی رکعة ، وهل أتی ولا أقسم فی رکعة ، وعم یتساءلون والمرسلات فی رکعة ، وإذا الشمس کورت والدخان فی رکعة)) (٤)

روایت الباب په کتاب الصلاة کښې د ((باب الجمع بین السورتین)) لاندې تیر شوې دې (٥)

١) ارشاد الساری (٣٧٣\١١)_
٢) ارشاد الساری (٢٧٣\١١)_
٣) فتح الباری کتاب الأذان باب الجمع بین السورتین فی الرکعة (٢٥٩٢)_
٤) فح الباری کتاب الأذان باب الجمع بین السورتین فی رکعة (٢٥٩\٢)_
٥) صحیح البخاری مع الفتح کتاب الأذان باب الجمع بین السورتین (٢٥٥\٢)_

۷=بَاب كَانَ جِبْرِيلُ يَعْرِضُ الْقُرْآنَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

په ترجمه کښې د مجرد صیغه ((یعرض)) ده او په کښې حدیث د باب مفاعله صیغه ((یعارض)) استعمال شوې ده د دې نه معلومیږی چه د دواړو طرفونو به عرض کیدلو او حقیقت هم دا دې دلته د امام بخاری رحمه الله مقصد دا دې چه نبی کریم ﷺ به حضرت جبرئیل علیه السلام ته قرآن کریم تیرولو.

وَقَالَ مَسْرُوقٌ عَنْ عَائِشَةَ عَنْ فَاطِمَةَ عَلَيْهَا السَّلَام أَسَرَّ إِلَيَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ جِبْرِيلَ كَانَ يُعَارِضُنِي بِالْقُرْآنِ كُلَّ سَنَةٍ وَإِنَّهُ عَارَضَنِي الْعَامَ مَرَّتَيْنِ وَلَا أُرَاهُ إِلَّا حَضَرَ أَجَلِي [ر:٣٤٢٦]

د حضرت فاطمې رضی الله عنها نه روایت دې چه نبی ﷺ ماته په پټه باندې اووئیل چه حضرت جبرئیل علیه السلام به هر کال د قرآن کریم یو دور ما سره کولو او سخ کال هغوی ماسره دوه خله دور اوکړو زما خیال دې ه زما د وفات وخت رانزدې شوې دې

د نبی ﷺ سره په آخری رمضان کښې حضرت جبرئیل علیه السلام دوه خله د قرآن پاك دور کړې وو یو خل خو ددې دپاره چه د هر آیت او هر سورت مقام او ترتیب متعین شی د منسوخ او غیر منسوخ علم راشی اودوباره دور یا خو ددې دپاره وو چه د قرآن کریم نزول په رمضان کښې شروع شوې وو نو په اول کال کښې دور نه وو شوې او س د نبی ﷺ د دنیا نه د تشریف اوړلو وخت رانزدې شو نو د هغه اولنی کال تلافی په آخری کال کښې داسې اوشوه چه دوه خله دور اوکړې شو اویا دا وئیلی شی چه صرف د تقریر او تاکید دپاره دوباره دور اوکړې شو چه په ښه شان سره د آیاتونو او سورتونو ترتیب متعین شی

د مسروق دا تعلیق امام بخاری په ((علامات النبوة)) کښې موصولاً نقل کړې دې (١)

[٤٧٠٧] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ قَزَعَةَ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ عَنْ الزُّهْرِيِّ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَجْوَدَ النَّاسِ بِالْخَيْرِ وَأَجْوَدُ مَا يَكُونُ فِي شَهْرِ رَمَضَانَ لِأَنَّ جِبْرِيلَ كَانَ يَلْقَاهُ فِي كُلِّ لَيْلَةٍ فِي شَهْرِ رَمَضَانَ حَتَّى يَنْسَلِخَ يَعْرِضُ عَلَيْهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْقُرْآنَ فَإِذَا لَقِيَهُ جِبْرِيلُ كَانَ أَجْوَدَ بِالْخَيْرِ مِنْ الرِّيحِ الْمُرْسَلَةِ [ر:٦]

ددې حدیث پوره تفصیل په ((باب بدء الوحی)) کښې تیر شوې دې هم هغه متعلق مباحث دې اوکتلې شی (٢)

١) ارشاد اساری (١١\٢٧٤)_
٢) کشف الباری (١\٤٦۶ و ٤٧١)_

[٤٧٢] حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ يَزِيدَ حَدَّثَنَا ابُو بَكْرٍ عَنْ ابِي حَصِينٍ عَنْ ابِي صَالِحٍ عَنْ ابِي هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ يَعْرِضُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْقُرْاٰنَ كُلَّ عَامٍ مَرَّةً فَعَرَضَ عَلَيْهِ مَرَّتَيْنِ فِي الْعَامِ الَّذِي قُبِضَ فِيهِ وَكَانَ يَعْتَكِفُ كُلَّ عَامٍ عَشْرًا فَاعْتَكَفَ عِشْرِينَ فِي الْعَامِ الَّذِي قُبِضَ فِيهِ [ر:١٩٣٩ و ٣٠٤٨]

٨=بَابُ الْقُرَّاءِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

[٤٧٣] حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَمْرٍو عَنْ ابْرَاهِيمَ عَنْ مَسْرُوقٍ ذَكَرَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عَمْرٍو عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ مَسْعُودٍ فَقَالَ لَا ازَالُ احِبُّهُ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ خُذُوا الْقُرْاٰنَ مِنْ ارْبَعَةٍ مِنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ وَسَالِمٍ وَمُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ وَاُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ [ر:٣٥٤٨]

په دې حدیث کښې د څلورو قاریانو ذکر دې په حضرات صحابه کرامو رضی الله عنهم کښې هسې خو قاریان ډیر وو خو ددې څلورو ذکر د هغوی د اختصاص او د قرآن کریم د قراءت سره د زیات شغف په وجې کړې شوې دې (١)

[٤٧٤] حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصٍ حَدَّثَنَا ابِي حَدَّثَنَا الْاَعْمَشُ حَدَّثَنَا شَقِيقُ بْنُ سَلَمَةَ قَالَ خَطَبَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مَسْعُودٍ فَقَالَ وَاللّٰهِ لَقَدْ اخَذْتُ مِنْ فِي رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِضْعًا وَسَبْعِينَ سُورَةً وَاللّٰهِ لَقَدْ عَلِمَ اصْحَابُ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انِّي مِنْ اعْلَمِهِمْ بِكِتَابِ اللّٰهِ وَمَا انَا بِخَيْرِهِمْ قَالَ شَقِيقٌ فَجَلَسْتُ فِي الْحِلَقِ اسْمَعُ مَا يَقُولُونَ فَمَا سَمِعْتُ رَادًّا يَقُولُ غَيْرَ ذٰلِكَ

واخذت من في رسول الله صلى الله عليه وسلم سمعت منه مباشرة (بضعا) ما بين الثلاث الى التسع (الحلق) جمع حلقة وهي القوم المجتمعون مستديرين. ليستمعوا العلم ونحوه (رادا) عالما يرد قول ابن مسعود رضي الله عنهما اويخالفه

[٤٧٥] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ اخْبَرَنَا سُفْيَانُ عَنِ الْاَعْمَشِ عَنْ ابْرَاهِيمَ عَنْ عَلْقَمَةَ قَالَ كُنَّا بِحِمْصَ فَقَرَا ابْنُ مَسْعُودٍ سُورَةَ يُوسُفَ فَقَالَ رَجُلٌ مَا هٰكَذَا انْزِلَتْ قَالَ قَرَاتُ عَلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ احْسَنْتَ وَوَجَدَ مِنْهُ رِيحَ الْخَمْرِ فَقَالَ اتَجْمَعُ انْ تُكَذِّبَ بِكِتَابِ اللّٰهِ وَتَشْرَبَ الْخَمْرَ فَضَرَبَهُ الْحَدَّ

دلته دوه خبرې قابل غور دی اوله خو دا چه حضرت عبدالله بن مسعود دغه کس د کتاب په تکذیب کولو باندې موندلو خو د هغه تکفیر ئې اونکړلو او د هغه د ځتې وهلو فیصله ئې اونکړله ددې وجه یا خو دا کیدې شی چه حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه د جهالت په وجه هغه معذور اوګرځرلو او دا خیال ئې اوکړوچه دې چونکه ناواقف دې څکه

---

١) عمدة القاری (٢٠\٢٤)_

تكذيب كوي په حقيقت كښې دده مقصد په قصد باندې تكذيب كول نه دى او يا دا وئيلې شي چه دا كس چونكه د نشې په حالت كښې وو اود هغه حواس صحيح نه وو ددې وجې حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه هغه غير مكلف اوګڼړلو د هغوى رائې د وه چه د بيهوشۍ او نشې په حالت كښې كه سړې داسې قسم خبره اوكړى نو دهغې څه اعتبار نشته.(١)

دويمه خبره دا ده چه حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه ته بوئې محسوس شو او په هغه ئې حد جارى كړو نو آيا كه د شرابو بوئې د چا نه راځى په هغه باندې حد جارى كول جائز دى؟

امام مالك رحمه الله د جواز قائل دې (٢) امام ابوحنيفه او امام شافعى رحمه الله په داسې صورت كښې د حد د جواز قائل نه دى (٣) د امام احمد بن حنبل نه د جواز او عدم جواز دواړه روايتونه منقول دى (۴) حديث باب د امام مالك مستدل دې

په حديث باب باندې يو اشكال دا كيږى چه حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه په خپله څنګه حد جارى كړول د حد جارى كولو اختيار خو امام ته وى

ددې جواب دا دې چه كيدې شى د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه مسلك دا وو چه حد هر څوك جارى كولې شى د امام شرط په كښې نشته .

او دا هم ممكن ده چه حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه د دغه ښار امير يا د امير نائب وو ددې وجې هغوى حد جارى كړې وى (۵)

اوچا وئيلى دى چه دا امام جارى كړې وو خود عبدالله بن مسعود رضي الله عنه په ګواهۍ او وئيلو باندې ئې جارى كړې ووددې وجې هغوى طرف ته نسبت شوې دې (٦) والله اعلم

[۴۷۱۶] حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصٍ حَدَّثَنَا أَبِي حَدَّثَنَا الأَعْمَشُ حَدَّثَنَا مُسْلِمٌ عَنْ مَسْرُوقٍ قَالَ قَالَ عَبْدُاللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَاللهِ الَّذِي لَا اِلٰهَ غَيْرُهُ مَا اُنْزِلَتْ سُورَةٌ مِنْ كِتَابِ اللهِ اِلَّا اَنَا اَعْلَمُ اَيْنَ اُنْزِلَتْ وَلَا اُنْزِلَتْ آيَةٌ مِنْ كِتَابِ اللهِ اِلَّا اَنَا اَعْلَمُ فِيمَ اُنْزِلَتْ وَلَوْ اَعْلَمُ اَحَدًا اَعْلَمَ مِنِّي بِكِتَابِ اللهِ تُبَلِّغُهُ الاِبِلُ لَرَكِبْتُ اِلَيْهِ

دا دحضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه دحرص على العلم حال دې او هم دا د عامو صحابه كرامو رضي الله عنهم كيفيت وو.

[۴۷۱۸\۴۷۱۷] حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ حَدَّثَنَا هَمَّامٌ حَدَّثَنَا قَتَادَةُ قَالَ سَأَلْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مَنْ جَمَعَ الْقُرْآنَ عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اَرْبَعَةٌ

---

١) فتح البارى (٦٠\١٩)_
٢) فتح البارى (٦٠\١٩)_
٣) فتح البارى (٦٠\١٩) وعمدة القارى (٢٦\٢٠)_
٤) فتح البارى (٦١\١٩)_
٥) عمدة القارى (٢٦\٢٠)_
٦) ارشاد السارى (٢٧٨\١١)_

كُلُّهُمْ مِنَ الْأَنْصَارِ أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ وَمُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ وَزَيْدُ بْنُ ثَابِتٍ وَأَبُو زَيْدٍ
تَابَعَهُ الْفَضْلُ عَنْ حُسَيْنِ بْنِ وَاقِدٍ عَنْ ثُمَامَةَ عَنْ أَنَسٍ

په روايت کښې دی چه د رسول الله ﷺ په زمانه کښې څلورو صحابوﷺ قرآن کريم جمع کړې وو ﷺ ددې جمع نه «جمع فى الصدور» يعنى حفظ مراد دې او حفظ کونکى صحابه هم په څلورو کښې منحصر نه وو بلکه د هغوى ډير شمارتقديم وتاخير وو په روايت باب کښې چه د دې څلورو کوم ذکر شوې دې ددې مختلف وجوهات بيان شوى دى

① دا عدد دې او د عدد د مفهوم اعتبار نه وى د څلورو په تذکرې سره د باقى نفى نه کيږى.② د وجوه قراءات جامع دا څلورحضرات ووددې وجې د دوى ذکر شوې دې

③ دې څلورو ته د ناسخ او منسوخ دواړه قسمه آياتونه حفظ وو ددې وجې د دوى ذکر اوشو

④ ددې څلورو ذکر د دې وجې شوې دې چه هغوى د نبى ﷺنه براه راست قرآن مجيد اوريدلې وواو د دوى نه علاوه نورو حضراتو څه د نبى ﷺ نه اوريدلې او ياد کړې وو اوځه د نورو ذرائع نه ياد کړې وو.

⑤ ذکر شوې څلور حضرات چونکه د قرآن کريم په تعليم او تعلم کښې مشهور وود هغوى د انهماك او قرآن سره د شغف په نسبت سره زيات وودې وجې د دې څلورو ذکر اوشو.(١)

⑥ حافظ ابن حجرﷺپه دې باره کښې يوه بله توجيه راجحه ګرځولې ده چه ددې څلورو ذکر د يو خاص ډلې او خاصو افرادو په مقابله کښې شوې دې ابن جرير طبرى د حضرت انس ﷺ نه يه روايت نقل کړې دې چه يو ځل په قبيله اوس او قبيله خزرج کښې د افتخار خبره راغله د اوس قبيلې اووئيل چه مونږ سره څلور کسان داسې دې کوم چه په خاصو صفتونوموصوف دى په مونږ کښې يوکس داسې دې چه دهغه په مرګ باندې دالله تعالى عرش په حرکت کښې راغلې وو.يعنى حضرت سعدبن معاذدويم کس داسې دې چه دهغه ګواهى نبى ﷺ د دوو کسانو د ګواهئ برابر کړې ده يعنى حضرت خزيمه بن ثابت .دريم کس داسې دې چا ته چه فرښتو غسل ورکړې دې يعنى حضرت حنظله بن ابى عامر ، څلورم داسې دې چه ډنبرو يا د شاتو مچو دهغه د لعش حفاظت کړې دې يعنى حضرت عاصم بن ثابت انصارى ـ
ددې په جواب کښې د خزرج قبيلې اووئيل په مونږ کښې هم څلور کسان داسې دى چا چه قرآن مجيد جمع کړې دې اود ذکر شوو څلورو حضراتو نومونه ئې واخستل نو دلته د خزرج او اوس په مينځ کښې مقابله وه په خزرج کښې څلور کسان حافظان وو او په قبيله اوس کښې نه وو نو دوى په مقابله کښې د هغه څلورو ذکر راغلو خو که د اوس په قبيله کښې حافظ نه وو نو ددې نه دا نه لازميږى چه نور صحابه هم حافظان نه وو.(٢)

د فضل بن موسى متابعت اسحاق بن راهويه په خپل مسند کښې موصولاً کړې دې(٣)

---

١) فتح البارى (٩\٦٢)ـ
٢) فتح البارى (٩\٦٢)ـ
٣) ارشاد السارى (١١\٢٧٩)ـ

[۴۷۱۸] حَدَّثَنَا مُعَلَّى بْنُ اَسَدٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ الْمُثَنَّى قَالَ حَدَّثَنِي ثَابِتٌ الْبُنَانِيُّ وَثُمَامَةُ عَنْ اَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ مَاتَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ يَجْمَعِ الْقُرْاٰنَ غَيْرُ اَرْبَعَةٍ اَبُوالدَّرْدَاءِ وَمُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ وَزَيْدُ بْنُ ثَابِتٍ وَاَبُوزَيْدٍ قَالَ وَنَحْنُ وَرِثْنَاهُ [ر: ۳۵۹۹]

په دې روایت کښې د حضرت ابی بن کعب په ځائې د حضرت ابوالدرداء رضی الله عنه نوم راغلې دې امام بیهقی رحمه الله فرمائیلی دی چه دا وهم دې صحیح ابی بن کعب رضی الله عنه دې (۱)

قوله: وَنَحْنُ وَرِثْنَاهُ: حضرت انس رضی الله عنه فرمائی چه د ابوزید وارث مونږ شو ځکه چه هغه د دوی تره وو او د هغه خپل څه اولاد نه وو.(۲)

[۴۷۱۹] حَدَّثَنَا صَدَقَةُ بْنُ الْفَضْلِ اَخْبَرَنَا يَحْيٰى عَنْ سُفْيَانَ عَنْ حَبِيبِ بْنِ اَبِي ثَابِتٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ عُمَرُ اُبَيٌّ اَقْرَؤُنَا وَاِنَّا لَنَدَعُ مِنْ لَحَنِ اُبَيٍّ وَاُبَيٌّ يَقُولُ اَخَذْتُهُ مِنْ فِي رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَا اَتْرُكُهُ لِشَيْءٍ قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى مَا نَنْسَخْ مِنْ اٰيَةٍ اَوْ نُنْسِهَا نَاْتِ بِخَيْرٍ مِنْهَا اَوْ مِثْلِهَا [ر: ۴۲۱۱]

مطلب دا دې چه حضرت ابی بن کعب رضی الله عنه ډېر لوئې قاری دې خو مونږ د هغه ډېر قراءتونه پرېږدو هغوی خو هم دا وائی چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم د خولې مبارکې نه دا اوریدلی دی ځکه ئې زه نه پرېږدم.خو بعضې آیتونه منسوخ وی الله تعالی پخپله فرمائی ((ما ننسخ من آية...)) نو دا منسوخ آیتونه به پریخودل وی حال دا چه ابی بن کعب رضی الله عنه په خپل مصحف کښې د هغې تلاوت هم کولو د ((لحن)) نه مراد قراءت دې .(۳)

۹=بَابُ فَضْلِ فَاتِحَةِ الْكِتَابِ

[۴۷۲۰] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنَا يَحْيٰى بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ حَدَّثَنِي خُبَيْبُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ عَنْ حَفْصِ بْنِ عَاصِمٍ عَنْ اَبِي سَعِيدِ بْنِ الْمُعَلّٰى قَالَ كُنْتُ اُصَلِّي فَدَعَانِي النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ اُجِبْهُ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ اِنِّي كُنْتُ اُصَلِّي قَالَ اَلَمْ يَقُلِ اللّٰهُ اسْتَجِيبُوا لِلّٰهِ وَلِلرَّسُولِ اِذَا دَعَاكُمْ ثُمَّ قَالَ اَلَا اُعَلِّمُكَ اَعْظَمَ سُورَةٍ فِي الْقُرْاٰنِ قَبْلَ اَنْ تَخْرُجَ مِنَ الْمَسْجِدِ فَاَخَذَ بِيَدِي فَلَمَّا اَرَدْنَا اَنْ نَخْرُجَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ اِنَّكَ قُلْتَ لَاُعَلِّمَنَّكَ اَعْظَمَ سُورَةٍ مِنَ الْقُرْاٰنِ قَالَ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ هِيَ السَّبْعُ الْمَثَانِي وَالْقُرْاٰنُ الْعَظِيمُ الَّذِي اُوتِيتُهُ [ر: ۴۲۰۴]

دا روایت په کتاب التفسیر کښې تیر شوې دې او هلته په دې باندې بحث شوې دې (٤)

---

۱) فتح الباری (۹\٦٤)_
۲) فتح الباری (۹\٦٤)_
۳) ارشاد الساری (۱۱\۲۸۱)_
٤) کشف الباری کتاب التفسیر:۸)_

[٤٧٢١] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى حَدَّثَنَا وَهْبٌ حَدَّثَنَا هِشَامٌ عَنْ مُحَمَّدٍ عَنْ مَعْبَدٍ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ كُنَّا فِي مَسِيرٍ لَنَا فَنَزَلْنَا فَجَاءَتْ جَارِيَةٌ فَقَالَتْ إِنَّ سَيِّدَ الْحَيِّ سَلِيمٌ وَإِنَّ نَفَرَنَا غَيْبٌ فَهَلْ مِنْكُمْ رَاقٍ فَقَامَ مَعَهَا رَجُلٌ مَا كُنَّا نَأْبُنُهُ بِرُقْيَةٍ فَرَقَاهُ فَبَرَأَ فَأَمَرَ لَهُ بِثَلَاثِينَ شَاةً وَسَقَانَا لَبَنًا فَلَمَّا رَجَعَ قُلْنَا لَهُ أَكُنْتَ تُحْسِنُ رُقْيَةً أَوْ كُنْتَ تَرْقِي قَالَ لَا مَا رَقَيْتُ إِلَّا بِأُمِّ الْكِتَابِ قُلْنَا لَا تُحْدِثُوا شَيْئًا حَتَّى نَأْتِيَ أَوْ نَسْأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا قَدِمْنَا الْمَدِينَةَ ذَكَرْنَاهُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ وَمَا كَانَ يُدْرِيهِ أَنَّهَا رُقْيَةٌ اقْسِمُوا وَاضْرِبُوا لِي بِسَهْمٍ

دا روايت په كتاب الاجاره كښې تير شوې دې (١) «أبن» «ص» «أبنا بشئ» تهمت لګول ، عيب لګول «ماكنانأبنه برقية» مونږ په هغه باندې د منتر ونيلو عيب نه لګولو يعنى د هغه په باره كښې د منتر كولو علم مونږ ته نه وو او هغه په دې حيثيت سره مشهور نه وو.

وَقَالَ أَبُو مَعْمَرٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ حَدَّثَنَا هِشَامٌ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سِيرِينَ حَدَّثَنِي مَعْبَدُ بْنُ سِيرِينَ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ بِهَذَا [ر: ٢١٥٦]

په پورتنى سند كښې عنعنه ده هشام د محمد بن سيرين نه په «عن» سره روايت نقل كړې دې په دې تعليق كښې د تحديث تصريح ده ددې وجې امام بخارى رحمه الله دا دلته ذكر كړې دې دا تعليق اسماعيلى موصولاً نقل كړې دې (٢)

١٠ = بَابُ فَضْلِ سُورَةِ الْبَقَرَةِ

[٤٧٢٢] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ عَنْ سُلَيْمَانَ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ قَرَأَ بِالْآيَتَيْنِ

وَحَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَزِيدَ عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَرَأَ بِالْآيَتَيْنِ مِنْ آخِرِ سُورَةِ الْبَقَرَةِ فِي لَيْلَةٍ كَفَتَاهُ [ر: ٣٧٨٦]

په دې روايت كښې د آيتين نه «آمن الرسول» نه واخله تر آخر د سورت پورې دوه آياتونه مراد دى ددې دواړو آياتونو په باره كښې راغلى دى چه د شپې كوم كس دا اولولى دا دواړه آياتونه د هغه دپاره كافى كيږى

د كوم څيز دپاره كافى كيږى ؟ بعضو وئيلى دى چه د قيام الليل نه كافى كيږى بعضو وئيلى دى چه د شيطان د شر نه كفايت كوى بعضو وئيلى دى چه د قرآن كريم د تلاوت دپاره ورله كافى كيږى بعضو وئيلى دى چه د هر شر نه د حفاظت دپاره ورله كافى كيږى (٣)

---

١) فتح البارى (٦٦/٩)_
٢) ارشاد السارى (٢٨٤/١١)_
٣) فتح البارى (٦٨/٩)_

خو په دې اقوالو كښې څه تضاد نشته ټول جمع كيدې شي.

[۴۷۲۳] وَقَالَ عُثْمَانُ بْنُ الْهَيْثَمِ حَدَّثَنَا عَوْفٌ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ وَكَّلَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِحِفْظِ زَكَاةِ رَمَضَانَ فَأَتَانِي آتٍ فَجَعَلَ يَحْثُو مِنَ الطَّعَامِ فَأَخَذْتُهُ فَقُلْتُ لَأَرْفَعَنَّكَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَصَّ الْحَدِيثَ فَقَالَ إِذَا أَوَيْتَ إِلَى فِرَاشِكَ فَاقْرَأْ آيَةَ الْكُرْسِيِّ لَنْ يَزَالَ مَعَكَ مِنَ اللَّهِ حَافِظٌ وَلَا يَقْرَبُكَ شَيْطَانٌ حَتَّى تُصْبِحَ وَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَدَقَكَ وَهُوَ كَذُوبٌ ذَاكَ شَيْطَانٌ [ر:۲۱۸۷]

دا تعليق دې اسماعيلى او ابونعيم دا موصولاً نقل كړې دې (۱) دا په كتاب الوكالة كښې تير شوې دې او په دې كښې چه كومه واقعه ذكر ده هغه هم هلته تيره شوې ده (۲)

((يحثومن الطعام)) يعنى هغه د طعام (دانو) نه لپه ډكوله .

۱۱=بَابُ فَضْلِ سُورَةِ الْكَهْفِ

[۴۷۲۴] حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ خَالِدٍ حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ حَدَّثَنَا أَبُو إِسْحَاقَ عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ كَانَ رَجُلٌ يَقْرَأُ سُورَةَ الْكَهْفِ وَإِلَى جَانِبِهِ حِصَانٌ مَرْبُوطٌ بِشَطَنَيْنِ فَتَغَشَّتْهُ سَحَابَةٌ فَجَعَلَتْ تَدْنُو وَتَدْنُو وَجَعَلَ فَرَسُهُ يَنْفِرُ فَلَمَّا أَصْبَحَ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ ذَلِكَ لَهُ فَقَالَ تِلْكَ السَّكِينَةُ تَنَزَّلَتْ بِالْقُرْآنِ [ر:۳۴۱۸]

حضرت براء بن عازب رضی اللہ عنہ فرمائى چه يو سړى سورة كهف وئيل او دده يوطرف ته يو اس په رسئ پورې تړلې شوې وو په هغه كس باندې وريځ راغله او چه هغه وريځ هغه ته ورنزدې شوه نو اس اووريدل صبا چه كله نبى ﷺ ته دا واقعه بيان كړې شوه نو نبى ﷺ اوفرمائيل دا سكينه وه كومه چه د قرآن پ وجه نازله شوې وه

((شطنين)) دا د شطن تثنيه ده رسئ ته وائى سكينه يو مخلوق دې چه په هغې كښې رحمت ،وقار او فرشتې شامل وى رحمہ اللہ د سكينه په باره كښې اقوال په كتاب التفسير كښې تير شوى دى.(۳)

۱۲=بَابُ فَضْلِ سُورَةِ الْفَتْحِ

[۴۷۲۵] حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَسِيرُ فِي بَعْضِ أَسْفَارِهِ وَعُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ يَسِيرُ مَعَهُ لَيْلًا فَسَأَلَهُ عُمَرُ

---

۱) ارشاد السارى (۱۱\۲۸۵)_

۲) صحيح البخارى كتاب الوكالة باب إذا وكل الرجل (۳۱۰\۱۱)_

۳) كشف البارى كتاب ا لتفسير (۶۰۸) تفسير سورة الفتح)_

عَنْ شَيْءٍ فَلَمْ يُجِبْهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ سَأَلَهُ فَلَمْ يُجِبْهُ ثُمَّ سَأَلَهُ فَلَمْ يُجِبْهُ فَقَالَ عُمَرُ ثَكِلَتْكَ أُمُّكَ نَزَرْتَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ كُلُّ ذٰلِكَ لَا يُجِيبُكَ قَالَ عُمَرُ فَحَرَّكْتُ بَعِيرِي حَتّٰى كُنْتُ أَمَامَ النَّاسِ وَخَشِيتُ أَنْ يَنْزِلَ فِيَّ قُرْآنٌ فَمَا نَشِبْتُ أَنْ سَمِعْتُ صَارِخًا يَصْرُخُ بِي قَالَ فَقُلْتُ لَقَدْ خَشِيتُ أَنْ يَكُونَ نَزَلَ فِيَّ قُرْآنٌ قَالَ فَجِئْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ فَقَالَ لَقَدْ أُنْزِلَتْ عَلَيَّ اللَّيْلَةَ سُورَةٌ لَهِيَ أَحَبُّ إِلَيَّ مِمَّا طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ ثُمَّ قَرَأَ إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُبِينًا [ر: ۳۹۴۳]

۱۳= بَابُ فَضْلِ قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ

فِيهِ عَمْرَةُ عَنْ عَائِشَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ر: ۶۹۴۰]

د دې سورة په فضيلت كښې «عمرة عن عائشة» په طريق سره روايت وراندې په كتاب التوحيد كښې امام بخارى رحمه الله موصولاً نقل كړې دې چه رسول الله ﷺ يو سړې په سريه باندې امير مقرر كړلو او وې ليږلو هغه به په مانځه كښې «قل هو الله أحد» لوستل د روايت په آخر كښې دى چه نبى كريم ﷺ اوفرمائيل دې كس ته خبر وركړئ چه الله تعالى ده سره محبت كوى (۱)

[۴۷۲۷ ۶۶۴۳] (۲) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ أَبِي صَعْصَعَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَجُلًا سَمِعَ رَجُلًا يَقْرَأُ قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ يُرَدِّدُهَا فَلَمَّا أَصْبَحَ جَاءَ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ ذٰلِكَ لَهُ وَكَأَنَّ الرَّجُلَ يَتَقَالُّهَا فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ إِنَّهَا لَتَعْدِلُ ثُلُثَ الْقُرْآنِ وَزَادَ أَبُو مَعْمَرٍ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ جَعْفَرٍ عَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ أَبِي صَعْصَعَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَخْبَرَنِي أَخِي قَتَادَةُ بْنُ النُّعْمَانِ أَنَّ رَجُلًا قَامَ فِي زَمَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ مِنَ السَّحَرِ قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ لَا يَزِيدُ عَلَيْهَا فَلَمَّا أَصْبَحْنَا أَتَى الرَّجُلُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ (۳)

حضرت ابو سعيد خدرى رضي الله عنه فرمائى چه يو كس بل سړې اوليدل چه بار بار ئې «قل هو الله

---

۱) فتح البارى (۹/۷۲)_

۲) أن رجلاً سمع رجلاً) السامع هو ابوسعيد الخدرى والقارى قتادة بن النعمان رضي الله عنه (يرددها) يكررها (يتقالها)) يرى أن الإقتصار على قراءتها قليل (لتعتدل ثلث القرآن) ثوابها يضاعف بقدر ثواب ثلث القرآن .وقيل غير ذلك (من السحر) فى السحر وهو وقت ما قبيل الفجر)_

۳) أخرجه البخارى أيضاً فى كتاب الأيمان والنذور باب كيف كانت يمين النبى ﷺ رقم الحديث ۶۶۴۳ وفى كتاب التوحيد باب ما جاء فى دعاء النبى ﷺ رقم الحديث (۷۳۷۴ الإام مالك فى الموطا فى كتب القرآن باب ما جآء فى قراءة قل هو الله أحد رقم الحديث (۱۷)_

أحد» وئيل ويونکې قتاده بن نعمان وو. اواوريدونکې د حديث راوی ابوسعيد خدری ﷺ وو. «و: أن الرجل يتقالها» يعنی اوريدونکی سړی دا سورة کم اوګڼړلو چه دا خو ورکوټې سورة دې «يتقالها» ددې اصل «يتقاللها» دې «أی عدها قليلة» نو نبی کريم ﷺ اوفرمائيل قسم دې وی په هغه ذات باندې چه د هغه قدرت کښې زما روح دې دا سورة خو د ثلث القرآن سره برابر دې

د سوره اخلاص د ثلث القرآن کيدو مطلب : سورة اخلاص چه د ثلث القرآن برابر ګرځولې شوې دې عالمانو ددې مختلف وجوهات بيان کړی دی.

① ابوالعباس بن سريج فرمائيلی دی چه د قرآن کريم درې قسمونه دی
① په يو ثلث کښې احکام دی
② په درويم ثلث کښې وعد او وعيد دې
③او په دريم ثلث کښې اسماء او صفات دی او سورة اخلاص په دې دريم قسم باندې مشتمل دې ددې وجې دا د ثلث القرآن سره برابرګرځولې شوې دې علامه ابن تيميه رحمه الله دا توجيه احسن ګرځولې ده.(۱)

② علامه ابن جوزی رحمه الله فرمائيلی دی چه د الله تعالی معرفت په درې قسمه دې
① د الله تعالی د ذات معرفت
② د الله تعالی د صفاتو او اسماؤ معرفت
③ د الله تعالی د افعالومعرفت سورة اخلاص د الله تعالی د ذات په معرفت باندې مشتمل دې ددې وجې دا ثلث قرآن ګرځولې شوی دې (۲)

③ امام غزالی رحمه الله فرمائيلی دی چه د قرآن کريم ټول درې مهمات دی.
① د الله تعالی معرفت
② د آخرت معرفت
③ او د صراط مستقيم معرفت اصل معارف هم دا درې دی او باقی توابع دی او سورة اخلاص په دې کښې په يو يعنی دالله تعالی د ذات په معرف باندې مشتمل دې ددې وجې قرآن ته د ثلث القرآن مساوی ګرځولې شوې دې

④ علامه مازری رحمه الله فرمائی چه قرآن کريم په درې قسمه مضامينو باندې مشتمل دې
① قصص ② احکام ③ او دالله تعالی اوصاف سورة اخلاص په درې صفاتو باندې مشتمل دې ددې وجې دې ته ثلث القرآن وئيلې شوی دی (۳)

بهر حال عالمانو د سورة اخلاص د ثلث القرآن سره د مساوی ګرځولو دا مختلف وجوه بيان کړی دی او حقيقت دا دې چه په دې کښې څه قسم تضاد نشته ټولې جمع کيدې شی

۱) ممو ع فتاوی ابن تيمية(۱۰۳\۱۷)_
۲) مجموع فتاوی شيخ الاسلام ابن تيميه (۱۰٤\۱۷)_
۳) مجموع فتاوی ابن تيمية (۱۲۲\۱۷)_

سورة اخلاص د ثلث القرآن مساوي ګرځولو مطلب دا دې چه ددې ثواب د ثلث القرآن د ثواب سره برابر دې (۱)

يو اشكال او د هغې جوابونه: په دې باندې دا اشكال كيدې شي كه يو كس درې ځله سورة اخلاص اووائي نو هغه ته د ټول قرآن ثواب ملاويږي نو بيا د ټول قرآن كريم د تلاوت څه ضرورت دې

① ددې يو جواب دا دې چه د ثواب دوه قسمونه دي يو ثواب اصلي او بل ثواب تضعيفي او فضلي ، د سورة اخلاص تلاوت چه كوم يو كس كوي ده ته د هغې اجر اصلي هم ملاويږي او دغه اصلي اجر زيات كړې شي تردې چه د ثلث قرآن د ثواب اصلي سره برابر شي او چه ددې اجر اصلي او تضعيفي ملاؤ شي نو د اجر اصلي سره برابر شي دا مطلب نه دې چه ددې اجر اصلي د ثلث قرآن د اجر اصلي سره برابريږي يا ددې اجر تضعيفي د ثلث قرآن د اجر تضعيفي سره برابريږي چه ددې اجراصلي او اجر تضعيفي ملاؤ شي نو د ثلث قرآن د اجر اصلي او اجر تضعيفي سره برابر شي ـ

② دويم جواب دا دې ه د سورة اخلاص د تلاوت ثواب په دې لحاظ سره د ثلث قرآن د تلاوت سره برابر اوګرځولې شو چه دا مضامين قرآن پاك كښې په يو قسم باندې مشتمل دې نو كه څوك يو ځل سورة اخلاص اووائي نو د يو ثلث ثواب ورته ملاويږي او چه دوباره ئې اووائي نو هم د هغه ثلث ثواب ملاويږي د باقي دوو مضامينو ثواب د سورة اخلاص په وئيلو سره نه حاصليږي په دې وجه دا نشي وئيلې درې ځله د سورة اخلاص په وئيلو سره د ټول قرآن د تلاوت ثواب ملاويږي بلكه د يو ثلث مكرر او درې كرته ثواب ملاويږي علامه ابن تيميه رحمه الله ليكي

«فإذا قرأ الإنسان «قل هو الله أحد» حصل له ثواب بقدر ثواب ثلث القرآن لكن لا يجب أن يكون الثواب من جنس الثواب الحاصل ببقية القرآن بل قد يحتاج إلى جنس الثواب الحاصل بالأمر والنهي والقصص فلا تسد «قل هو الله أحد» مسد ذلك ولا تقوم مقامه فلهذا لو لم يقرأ قل هو الله أحد فإنه ومن حصل له أجر عظيم لكن جنس الأجر الذي يحصل بقراءة غيرها لا يحصل له بقراءتها بل يبقى فقيرا محتاجا إلى ما يتم به إيمانه من معرفة الأمر والنهي والوعد والوعيد ولم قام بالواجب عليه ،فالمعارف التي تحصل بقراءة سائر القرآن لا تحصل بمجرد قراءة هذه السورة فيكون من قرأ القرآن أفضل ممن قرأها ثلاث مرات من هذه الجهة لتنوع الثواب وإن كان قارئ «قل هو الله أحد» ثلاثاً يحصل له ثواب بقدر ذلك الثواب لكنه جنس واحد ليس فيه الأنواع التي يحتاج إليها العبد كمن معه ثلاثة آلاف دينار وآخر معه طعام ولباس ومساكن ولقد يعدل ثلاثة آلاف دينار فإن هذا معه ما ينتفع به في جميع أموره وذالك محتاج إلى ما مع هذا وإن كان معه يعدل ما مع هذا» (۲)

---

۱) فتح الباري (۹/۷۵)ـ

۲) مجموع فتاوى ابن تيمية (۱۷/۱۳۳)ـ

[٤٧٢٧] حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصٍ حَدَّثَنَا أَبِي حَدَّثَنَا الأَعْمَشُ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ وَالضَّحَّاكُ الْمَشْرِقِيُّ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَصْحَابِهِ أَيَعْجِزُ أَحَدُكُمْ أَنْ يَقْرَأَ ثُلُثَ الْقُرْآنِ فِي لَيْلَةٍ فَشَقَّ ذَلِكَ عَلَيْهِمْ وَقَالُوا أَيُّنَا يُطِيقُ ذَلِكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ فَقَالَ اللَّهُ الْوَاحِدُ الصَّمَدُ ثُلُثُ الْقُرْآنِ

قال ابوعبدالله عن ابراهيم مرسل وعن الضحاك المشرقي مسند [ر: ٦٢٦٧، ٦٩٣٩]

د امام بخاری رحمه الله مقصد دا دې چه اعمش د ابراهيم نه هم دا روايت نقل کوی او د ضحاك مشرقی نه هم دا نقل کوی خو د اعمش روايت کوم چه د ابراهيم نخعی نه دې هغه مرسل دې او کوم چه د ضحاك مشرقی نه منقول دې هغه مسند دې د ابراهيم نخعی په طريق د ابو سعيد خدری رضي الله عنه ذکر نشته د دې وجې هغه مرسل دې او د ضحاك مشرقی په طريق کښې د ((عن أبي سعيد الخدري)) اضافه موجود ده نو هغه مسند دې د ابراهيم نخعی روايت ته امام بخاری رحمه الله منقطع ددې وجې وئيلې دې چه د دوی سماع د حضرت ابوسعيد خدری رضي الله عنه نه ثابته نه ده.

١٤ = بَاب فَضْلِ الْمُعَوِّذَاتِ

[٤٧٢٨، ٤٧٢٩] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا اشْتَكَى يَقْرَأُ عَلَى نَفْسِهِ بِالْمُعَوِّذَاتِ وَيَنْفُثُ فَلَمَّا اشْتَدَّ وَجَعُهُ كُنْتُ أَقْرَأُ عَلَيْهِ وَأَمْسَحُ بِيَدِهِ رَجَاءَ بَرَكَتِهَا

[٤٧٢٩] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا الْمُفَضَّلُ بْنُ فَضَالَةَ عَنْ عُقَيْلٍ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا أَوَى إِلَى فِرَاشِهِ كُلَّ لَيْلَةٍ جَمَعَ كَفَّيْهِ ثُمَّ نَفَثَ فِيهِمَا فَقَرَأَ فِيهِمَا قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ وَقُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ وَقُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ ثُمَّ يَمْسَحُ بِهِمَا مَا اسْتَطَاعَ مِنْ جَسَدِهِ يَبْدَأُ بِهِمَا عَلَى رَأْسِهِ وَوَجْهِهِ وَمَا أَقْبَلَ مِنْ جَسَدِهِ يَفْعَلُ ذَلِكَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ [ر: ٣١٧٥]

په معوذات کښې تغليباً ((قل هو الله احد)) هم شامل کړې شوې دې

١٥ = بَاب نُزُولِ السَّكِينَةِ وَالْمَلَائِكَةِ عِنْدَ قِرَاءَةِ الْقُرْآنِ

[٤٧٣٠] وَقَالَ اللَّيْثُ حَدَّثَنِي يَزِيدُ بْنُ الْهَادِ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ عَنْ أُسَيْدِ بْنِ حُضَيْرٍ قَالَ بَيْنَمَا هُوَ يَقْرَأُ مِنْ اللَّيْلِ سُورَةَ الْبَقَرَةِ وَفَرَسُهُ مَرْبُوطَةٌ عِنْدَهُ إِذْ جَالَتْ الْفَرَسُ فَسَكَتَ فَسَكَتَتْ فَقَرَأَ فَجَالَتْ الْفَرَسُ فَسَكَتَ وَسَكَتَتْ الْفَرَسُ ثُمَّ قَرَأَ فَجَالَتْ الْفَرَسُ فَانْصَرَفَ وَكَانَ ابْنُهُ يَحْيَى قَرِيبًا مِنْهَا فَأَشْفَقَ أَنْ تُصِيبَهُ فَلَمَّا اجْتَرَّهُ رَفَعَ رَأْسَهُ إِلَى السَّمَاءِ حَتَّى مَا يَرَاهَا فَلَمَّا أَصْبَحَ حَدَّثَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اقْرَأْ يَا ابْنَ حُضَيْرٍ اقْرَأْ يَا ابْنَ حُضَيْرٍ قَالَ فَأَشْفَقْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَنْ تَطَأَ يَحْيَى وَكَانَ مِنْهَا قَرِيبًا فَرَفَعْتُ رَأْسِي فَانْصَرَفْتُ إِلَيْهِ فَرَفَعْتُ رَأْسِي إِلَى السَّمَاءِ

قال وما ذاك قال تلك الملائكة دنت لصوتك ولو قرأت لأصبحت ينظر الناس إليها لا تتوارى منهم قال ابن الهاد وحدثني هذا الحديث عبد الله بن خباب عن أبي سعيد الخدري عن أسيد بن حضير

د اس د توپ وهلو او د خاموش كيدو وجه دا وه چه كله به حضرت اسيد ﷜ د شپې په څه حصه كښې د قرآن كريم تلاوت كولو نو د قرائت اوريدو دپاره به فرښتې ښكته راتلې چه هغوى به نې اوكتل نو اس به د ويرې د وجې توپ كړې هم دا وجه وه چه چه د تلاوت پاك په بنديدو سره فرښتې پورته لاړلې او اس تړپونه وهل پريخودل.

قوله: اقرأ يا ابن حضير اقرأ يا ابن حضير: علامه طيبى ﷫ فرمائى چه د امر د صيغې مقصد په زمانه ماضى كښې د طلب زيادت دې لكه چه نبى ﷺ د دغه عجيبه او ناشنا حالت استحضار اوكړو او حضرت اسيد بن حفير ته نې د ونيلو ترغيب وركولوچه حاصل نې دا دې چه «هلا زدت» په دې باندې دليل دا دې چه پخپله وړاندې حضرت اسيد بن حضير په جواب كښې فرمائى «أشفقت يا رسول الله أن تطأيحيى» زه ددې خبرې نه اوويريدم چه هسې نه اس يحى پانمال كړى څكه چه اس د يحى سره نزدې وو(۱)

ملا على قارى ﷫ فرمائى چه د وريځې سره د تشبيه وجه دا ده چه فرښتې د قرآن كريم د اوريدو دپاره ډيرې په كثرت سره راتلې نو كله چه حضرت اسيد اوكتل نو داسې ورته محسوس شوه چه د پردې پشان څه څيز دې كوم چه د دوى او د آسمان په مينځ كښې حائل كيږى نو دهغې څيز نه نې په وريځې سره تعبير اوكړو او په هغې كښې چه كومه ډيوه بليدله هغه د فرښتو مخونه وو كوم چه د ډيوو پشان روښانه وو.(۲)

حاصل دا دې چه دلته د «اقرأ» نه د حكايت په وخت كښې لوستل مراد نه دى بلكه نبى ﷺ دهغه د اصلى حالت استحضار اوكړو او وې فرمائيل لكه چه نبى ﷺ حضرت حضير په هغه حالت كښې ليدل چه فرښتو په هغه باندې سيورې كړې وو او جمع شوې وې او په دغه حالت كښې ورته حكم وركوى چه ته لګيا اوسه دې دپاره د فرښتو د اوريدو او د هغوى د موجودګئ په وجه په تا باندې بركت نازليږى (۳)

امام بخارى ﷫ دا روايت تعليقاً نقل كړې دې او ابوعبيد په فضائل القرآن كښې دا موصولاً نقل كړې دې (٤)

---

۱) شرح الطيبى (۲۲۱۱٤) كتاب فضائل القرآن)_

۲) مرقاة شرح مشكاة (۳۳۹۱٤)_

۳) فتح البارى (۷۸۱۹)_

٤) فضائل القرآن لابى عبيد :باب فضل قراءة القرآن والإستماع له (۲۵)_

١٦=بَابُ مَنْ قَالَ لَمْ يَتْرُكِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا مَا بَيْنَ الدَّفَّتَيْنِ

[٤٧٣١]حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ رُفَيْعٍ قَالَ دَخَلْتُ أَنَا وَشَدَّادُ بْنُ مَعْقِلٍ عَلَى ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا فَقَالَ لَهُ شَدَّادُ بْنُ مَعْقِلٍ أَتَرَكَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ شَيْءٍ قَالَ مَا تَرَكَ إِلَّا مَا بَيْنَ الدَّفَّتَيْنِ قَالَ وَدَخَلْنَا عَلَى مُحَمَّدِ بْنِ الْحَنَفِيَّةِ فَسَأَلْنَاهُ فَقَالَ مَا تَرَكَ إِلَّا مَا بَيْنَ الدَّفَّتَيْنِ

دلته د روایت نه شبه پیدا کیږی چه قرآن کریم د نبی ﷺ په زمانه کښې په بین الدفتین کښې جمع کړې شوې ووحال دا چه داسې نه ده

جواب دا دې چه د «ماترك إلا مابين الدفتين» مقصد دا دې چه نن چه کوم «مابين الدفتين» موجود دی نبی ﷺ هم دا پریخودې وو او د دنیا نې ئې تشریف اوړې ووداً مطلب نه دې چه د نبی کریم ﷺ په زمانه کښې قرآن کریم په «مابين الدفتين» کښې جمع شوې وو.

امام بخاری رحمه الله په اصل کښې د روافضو تردید کول غواړی د هغوی نظریه ده چه د قرآن کریم نه حضرت عثمان رضی الله عنه وغیره ډیر آیاتونه ویستلی دی امام بخاری رحمه الله د حضرت علی رضی الله عنه د رشته دارانو نه او هم خیالو کسانو حضرت عبدالله بن عباس، او دغه شان دهغوی د خامنو حضرت محمد بن حنفیه نه روایت نقل کړلو او د روافضو تردید ئې اوکړو چه نبی ﷺ ما بین الدفتین پریخودې دی او تشریف ئې اوړې دې د دوی نه پس په دې کښې نه د څه آیت اضافه شوې ده او نه د دې نه یو آیت کم شوې دې (۱)

١٧=بَابُ فَضْلِ الْقُرْآنِ عَلَى سَائِرِ الْكَلَامِ

امام بخاری رحمه الله دا خودل غواړی چه د کلام په ټولو قسمونو باندې قرآن مجید ته کلی فضیلت حاصل دې امام ترمذی په دې مفهوم باندې یو روایت هم نقل کړې دې په هغې کښې دی «فضل كلام الله على سائر الكلام كفضل الله على خلقه»(٢)

[٤٧٣٢](٣)حَدَّثَنَا هُدْبَةُ بْنُ خَالِدٍ أَبُو خَالِدٍ حَدَّثَنَا هَمَّامٌ حَدَّثَنَا قَتَادَةُ حَدَّثَنَا أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ

---

١) فيض البارى (٤\٢٦٨)_

٢) سنن الترمذی قبيل كتاب القراءت بحديث (٥٢٩٢٦\١٨٤)_

٣) وأخرجه البخارى أيضاً فى كتاب فضائل القرآن باب إثم من رائ بقراءة القرآن أوتأكل به أو فجر به رقم الحديث (٥٠٥٩) وفى كتاب الأطعمة باب ذكر الطعام رقم الحديث (٥٤٢٧) وفى كتاب التوحيد باب قراءة العاجر ولامنافق وأصواتهم لا تجاوز حناجرهم رقم الحديث (٧٥٦٠) ومسلم فى كتاب صلاة المسافرين وقصرها باب فضيل- حافظ القرآن رقم الحديث (٧٩٧) والترمذى فى كتاب الأمثال باب ما جاء مثل المومن القارى وغير القارى رقم الحديث (٢٤٦٥) وأبوداود فى كتاب الأدب باب من يؤمر أن يجالس رقم الحديث (٤٨٢٩) وابن ماجه فى المقدمة باب فضل من تعلم القرآن وعلمه رقم الحديث (٢١٤) والدارمى فى كتاب فضائل القرآن باب مثل المومن الذى يقرأ القرآن رقم الحديث (٣٣٦٢)_

عَنْ اَبِي مُوسَى الاَشْعَرِيِّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَثَلُ الَّذِي يَقْرَأُ الْقُرْاٰنَ كَالاُتْرُجَّةِ طَعْمُهَا طَيِّبٌ وَرِيحُهَا طَيِّبٌ وَالَّذِي لَا يَقْرَأُ الْقُرْاٰنَ كَالتَّمْرَةِ طَعْمُهَا طَيِّبٌ وَلَا رِيحَ لَهَا وَمَثَلُ الْفَاجِرِ الَّذِي يَقْرَأُ الْقُرْاٰنَ كَمَثَلِ الرَّيْحَانَةِ رِيحُهَا طَيِّبٌ وَطَعْمُهَا مُرٌّ وَمَثَلُ الْفَاجِرِ الَّذِي لَا يَقْرَأُ الْقُرْاٰنَ كَمَثَلِ الْحَنْظَلَةِ طَعْمُهَا مُرٌّ وَلَا رِيحَ لَهَا [ر: ۴۷۷۲و۵۱۱۱و۷۱۲۱]

په دې روايت کښې مثال بيان شوې دې چه لکه څنګه د نارنج خوشبوی ښه وی او د هغې خوند هم ښه وی نو د قرآن کريم لوستونکې هم دغه شان بهترين دې او چه کوم سړې مومن وی خو قرآن نه لولی د هغه مثال د قجورې پشان دې چه خوند خو ئې ښه وی خو خوشبو ئې نه وی نو د ايمان په‌وجه داسې کس خوښه دې خو د قرآن لوستلو خوشبوئي نه دې محروم دې او هغه ګناهګار چه قرآن لولی هغه د ګل ريحان پشان دې چه خوشبوئی خو ئې ښه وی خو خوند ئې تريخ وی او هغه فاجر چه قرآن نه لولی د هغه مثال د حنظله دتريخ پشان دې چه خوند ئې هم ترخ وی او خوشبوئی په کښې هم نه وی.

په دې روايت کښې چه نبی ﷺ د قرآن پاك د قاری کوم فضيلت بيان کړې دې هغه د قرآن په بنياد باندې دې ددې نه معلومه شوه‌قرآن مجيد د کلام په ټولو قسمونو کښې غوره دې.

[۴۷۳۳] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ عَنْ يَحْيَى عَنْ سُفْيَانَ حَدَّثَنِي عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ دِينَارٍ قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِنَّمَا اَجَلُكُمْ فِي اَجَلِ مَنْ خَلَا مِنَ الاُمَمِ كَمَا بَيْنَ صَلَاةِ الْعَصْرِ وَمَغْرِبِ الشَّمْسِ وَمَثَلُكُمْ وَمَثَلُ الْيَهُودِ وَالنَّصَارَى كَمَثَلِ رَجُلٍ اسْتَعْمَلَ عُمَّالًا فَقَالَ مَنْ يَعْمَلُ لِي اِلَى نِصْفِ النَّهَارِ عَلَى قِيرَاطٍ فَعَمِلَتِ الْيَهُودُ فَقَالَ مَنْ يَعْمَلُ لِي مِنْ نِصْفِ النَّهَارِ اِلَى الْعَصْرِ عَلَى قِيرَاطٍ فَعَمِلَتِ النَّصَارَى ثُمَّ اَنْتُمْ تَعْمَلُونَ مِنَ الْعَصْرِ اِلَى الْمَغْرِبِ بِقِيرَاطَيْنِ قِيرَاطَيْنِ قَالُوا نَحْنُ اَكْثَرُ عَمَلًا وَاَقَلُّ عَطَاءً قَالَ هَلْ ظَلَمْتُكُمْ مِنْ حَقِّكُمْ قَالُوا لَا قَالَ فَذَاكَ فَضْلِي اُوتِيهِ مَنْ شِئْتُ [ر: ۵۳۲]

دا روايت په کتاب الصلاة کښې تير شوې دې د ترجمة الباب سره ئې مطابقت داسې دې چه په دې روايت کښې د امت محمديه فضيلت بيان شوې دې او د امت محمديه فضيلت د قرآن کريم په وجه دې په کوم باندې د عمل کولو چه دوی ته حکم شوې دې (۱)

۱۸= بَابُ الْوَصِيَّةِ بِكِتَابِ اللّٰهِ عَزَّوَجَلَّ

((وصاة)) د وصيت په معنی کښې مصدر دې رسول الله ﷺ په کتاب الله باندې دعمل کولو دپاره وصيت کړې وو په دې باب کښې ددې بيانول مقصود دی

[۴۷۳۴] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ مِغْوَلٍ حَدَّثَنَا طَلْحَةُ قَالَ سَاَلْتُ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ اَبِي اَوْفَى اَوْصَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَا فَقُلْتُ كَيْفَ كُتِبَ عَلَى

---

۱) فتح البارى (۸۳/۹)_

النَّاسِ الْوَصِيَّةُ امِرُوا بِهَا وَلَمْ يُوصِ قَالَ اوْصَى بِكِتَابِ اللَّهِ [ر:۲۵۸۹]

مطلب دا دی چه خلقو ته د وصیت کولو کوم حکم ورکړي شوی دی هغه د حقوقو متعلق دی او په نبی باندې چونکه د چا حق نه وو ددې وجې نبی ﷺ د حقوقو په باره کښې وصیت نه وو کړې باقی دا چه په نبی ﷺ باندې د امت د لارخودلو حق وو نو په ټول ژوند کښې نبی ﷺ دا حق ادا کولو او خلقو ته به ئې لار خودله او د دنیا د تلو په وخت کښې نبی ﷺ د امت ددې حق بیا خیال اوساتلونو دوی ته ئې تاکید اوکړواو وصیت ئې اوکړو چه په کتاب الله باندې عمل کوئ او په کتاب الله باندې عمل چونکه د رسول الله ﷺ د سنتو نه بغیر ممکن نه دی ددې وجې ئې په کتاب الله باندې د عمل کولو په وصیت کښې په سنت باندې عمل کول هم داخل کړو.(۱)

۱۹=بَابُ مَنْ لَمْ يَتَغَنَّ بِالْقُرْآنِ [ر:۵۰۸۹]

وَقَوْلُهُ تَعَالَى اوَلَمْ يَكْفِهِمْ انَّا انْزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ يُتْلَى عَلَيْهِمْ (العنكبوت[۵۱]

امام بخاری رحمه الله چه په ترجمه کښې کوم الفاظ ذکر کړی دی نو دا الفاظ وړاندې په کتاب التوحید کښې امام بخاری د ابن شهاب زهری په سند سره نقل کړی دی (۲)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائیلی دی چه امام بخاری رحمه الله په کتاب الاحکام کښې دا الفاظ نقل کړی دی(۳) خودا دحافظ صاحب سهو دحدیث الفاظ دا دی «من لم يتغن بالقرآن فليس منا»

د تغنی بالقرآن په تفسیر کښې اقوال : ددې په تفسیر او تشریح کښې اختلاف دې او د عالمانو مختلف اقوال دی:

① یو قول دا دې چه د تغنی نه استغناء مراد ده بیا ددې استغناء بالقرآن په مطلب کښې هم دوه اقوال دی :

① امام احمد بن حنبل رحمه الله د وکیع بن جراح نه نقل کړی دی چه ددې نه مراد «استغناء عن أخبار الأمم الماضية» دې او مطلب دا دې چه کوم کس د قرآن مجید تلاوت کوی هغه ته پکار دی چه د تیرو شوو امتونو د حالاتو او واقعاتو په تحقیق او لټون کښې نه مشغوله کیږی هم قرآن مجید دده دپاره کافی دې که دې د یهودو او نصاری کتابونه لولی او د هغوی د صحیفیو مطالعه کوی اود قرآن مجید په بیان کړو واقعاتو باندې قناعت نه کوی نو دې زمونږ نه نه دې (۴)

---

۱) قال العینی فی عمدة القاری (۳۹\۱۲) والمراد بالوصية بكتاب الله حفظه حسا ومعنى وإكرامه وصونه ولا يسافر به إلى أرض العدو ويتبع ما فيه . فيعمل بأوامره ويجتنب نواهيه . ويداوم على تلاوته وتعلمه وتعليمه)

۲) صحيح البخاری كتاب التوحيد باب قول الله تعالى وأسروا قولكم .. وهو اللطيف الخبير .. رقم الحديث (۷۵۲۵ ص، ۱۵۸۱)_

۳) فتح الباری (۸٤\۹)_

٤) فتح الباری (۸٤\۹)_

ددې قول تائيد په هغه روايت سره كيږى كوم چه ابن جرير طبرى د يحى بن جعده نه نقل کړې دې چه څو مسلمانانو څه كتابونه راوړل او حاضر شول په هغې كښې د يهودو نه اوريدلې خبرې ليکلې وې نبى چه هغه كتابونه اوليدل نو وې فرمائيل«كفى بقوم ضلالة أن يرغبوا عما جاء به نبيهم إليهم إلى ما جاء به غيره إلى غيرهم» يعنى د خپل نبى راوړې كتاب نه ږده كول او د بل راوړې څيز كښې رغبت كول د ګمراهئ دپاره كافى دى په دې باندې د قرآن كريم دا آيت نازل شو (۱)

امام بخارى رحمه الله په ترجمة الباب كښې دا آيت ذكر كړې دې او د تغنى بالقرآن په باره كښې ئې د وكيع بن جراح ذكر شوى روايت راجح كيدو ته اشاره كړې ده

② دويم قول د سفيان بن عيينه دې بلكه څنګه چه امام بخارى رحمه الله ددې باب په آخر كښې ليکلى دې چه د استغناء بالقرآن نه مراد استغناء عن اكثار الدنيا ده او مطلب دادې چه كوم كس د قرآن كريم زده كولو نه د دنيا نه استغناء اختيار نكړى نو هغه زمونږ نه نه دې د ابوعبيد قاسم بن سالم رجحان دې قول طرف ته دې (۲) اګرچه امام شافعى رحمه الله ابن جرير طبرى او ابوعاصم نبيل د سفيان بن عيينه قول رد كړې دې(۳)

امام شافعى رحمه الله فرمائى كه د تغنى نه مراد استغناء وى نو نبى ﷺ به د «من لم يتغن بالقرآن» په ځائې «من لم يستغن بالقرآن» ونيلې وو (٤)

ابوعاصم نبيل فرمائيلى دى «لم يصنع سفيان بن عيينة شيأ» يعنى سفيان بن عيينه چه دا مطلب بيان كړې دې څه ښه كارنامه ئې نه ده كړې بهر حال دا اولنې قول وو چه د تغنى نه مراد استغناء ده «الاستغناء عن إخبار الأمم الماضية»

③ دويم قول دا دې چ ددې نه تشاغل مراد دې عرب وائى «تغنى بالمكان» كله چه سړې په هغې كښې قيام او شغل اختيار كړى مطلب دا شوچه څوك د قرآن سره شوق او ددې شغل نه ساتى هغه زمونږ په طريقه نه دې زمونږ سره د هغه څه تعلق نشته (۵)

④ دريم قول د امام شافعى رحمه الله دې چه ددې نه درد او حزن سره د قرآن كريم ونيل مراد دې.

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه د امام شافعى رحمه الله په كلام كښې د تغنى دا تفسير ماته ملاؤ نشوخو امام بيهقى په سنن كبرى كښې د امام شافعى رحمه الله نه دا تفسير نقل كړې دې نو دهغوى الفاظ دا دى «أن يقرأه تحزنا»(۶)

---

۱) فتح البارى (۹\۸٤)_

۲) فتح البارى (۹\۶۸) فضائل القرآن لأبى عبيد باب فضل الحض على القرآن والإيصاء وإيثاره على ماسوا (۲۹)

۳) فتح البارى (۹\۸۷)_

٤) فتح البارى (۹\۸۷)_

۵) فتح البارى (۹\۸۷)_

۶) سنن كبرى للبيهقى كتاب الشهادات باب تحسين الصوت بالقرآن والذكر(۱۰\۲۳۰)_

④ څلورم قول دا دې چه ددې نه د تلذذ او حلاوت احساس مراد دې او مطلب دا دې چه کوم کس د قرآن کريم د تلاوت لذت او خوند نه محسوسوی نوهغه زمونږ سره متعلق نه دې لکه څنګه چه اهل عرب په غناء او ګانو سره لذت محسوسوی دغه شان اهل ايمان لره پکار دی چه د قرآن کريم په تلاوت سره لذت محسوسوی.

ابن الانباری په «الزاهر» کښې دا تفسير نقل کړې دې (۱)

⑤ پنځم قول دا دې چه د تغنی نه مراد د قرآن مجيد هر وخت وئيل دی د عربو عادت وو چه هغوی به د سورلۍ په حالت کښې او که په کور کښې به ناست وو څه نه څه وئيل د قرآن کريم د نزول نه پس د نبی ﷺ خواهش وو چه مسلمانان د اشعارو وغيره په ځائې د قرآن کريم د آياتونو وئيل کوی ابن العربی دا تفسير نقل کړې دې (۲)

⑥ شپږم قول دا دې چه ددې نه مراد تحسين صوت او خوش آوازی ده يعنی د قرآن کريم تلاوت په ښکلی آواز سره کول د آواز په ښکلی والی کښې د لفظونو صحيح ادا کول اود لهجې صحت داخل دې .

ابن ابی مليکه ،عبدالله بن مبارك و نضر بن شميل دا قول اختيار کړې دې (۳)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه د تغنی په تفسير کښې چه دا کوم اقوال ذکر شول په دې کښې تطبيق کيدې شی دا د يو بل سره جمع کيدې شی او مطلب دا دې چه د قرآن کريم تلاوت په درد او ښکلی آواز سره چه د استغناء صفت ئې په ځان کښې پيدا کړی وئيل پکار دی دوی ليکی

«الحاصل أنه يمكن الجمع بين أكثر التاويلات المذكورة وهو أنه يحسن به صوته جاهرا به مترنما على طريق التحزن، مستغنيا به عن غيره من الأخبار طالباً به غنى النفس، راجيا به غنى اليد وقد نظمت ذلك فى بيتين

تغن بالقرآن حسن به الصوت حزيناً جاهرا رنم واستغن عن كتب الاولى طالباً غنى يدٍ به والنفس ثم الزم (۴)

[۴۷۳۶،۴۷۳۵] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنِي اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ اَخْبَرَنِي اَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ عَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّهُ كَانَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَأْذَنِ اللّٰهُ لِشَيْءٍ مَا اَذِنَ لِلنَّبِيِّ اَنْ يَتَغَنّٰى بِالْقُرْاٰنِ وَقَالَ صَاحِبٌ لَهُ يُرِيدُ يَجْهَرُ بِهِ

[۴۷۳۶] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ اَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ عَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا اَذِنَ اللّٰهُ لِشَيْءٍ مَا اَذِنَ

---

۱) فتح الباری (۸۶/۹)_
۲) فتح الباری (۸۶/۹)_
۳) فتح الباری (۸۷/۹)_
۴) فتح الباری (۸۸/۹)_

لِلنَّبِيِّ اَنْ يَتَغَنَّى بِالْقُرْاٰنِ قَالَ سُفْيَانُ تَفْسِيْرُهُ يَسْتَغْنِي بِهٖ(۱) [ر: ۔۔۔]

نبى كريم ﷺ فرمائيلى دى چه الله تعالى هيڅ يو څيز دومره په توجه سره نه دي اوريدلي لكه څنګه چه ني په توجه سره اوريدل كړى دى دهغه پيغمبر نه چه قرآن كريم په خوش آوازئ سره وائى .

«اذن» د باب سمع نه راخى ددې مصدر «إذن» دهمزه په كسره او ذال په سكون سره راخى نو ددې معنى د اجازت وركولو راخى او كله چه مصدر «أذن» د همزه او ذال په فتحه سره راشى نو ددې معنى اوريدل او استماع ده دلته د اوريدو او استماع په معنى كښې دي(۲)

قوله: وَقَالَ صَاحِبٌ لَهٗ يُرِيْدُ يَجْهَرُ بِهٖ: «له» كښې ضمير ابوسلمه طرف ته راجع دي كوم چه د ابن شهاب زهرى شيخ دي او د صاحب نه مراد عبدالحميد بن عبدالرحمن بن زيد بن الخطاب دي او مطلب دا دي چه د ابوسلمه ملګرى عبدالحميد وئيلى دى چه : «يتغنى بالقرآن» نه په اوچت آواز سره قرآن لوستل مراد دى

دا تفسيرابن شهاب زهرى د خپل شيخ ابوسلمه نه اوريدلي دي بلكه عبد الحميد د هغه نه اوريدلي دي د «زهريات» په روايت كښې د عبدالحميد د نوم تصريح دى :

۲۰= بَابُ اغْتِبَاطِ صَاحِبِ الْقُرْاٰنِ

يعنى هغه كس چه حافظ قرآن او قارى او عالم وى هغه لائق د رشك او غبطه دي په ترجمة الباب كښې د اغتباط مصدر اضافت مفعول طرف ته شوي دي (۳)

[۴۷۳۷] حَدَّثَنَا اَبُو الْيَمَانِ اَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ حَدَّثَنِي سَالِمُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ اَنَّ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ لَا حَسَدَ اِلَّا عَلَى اثْنَتَيْنِ رَجُلٌ اٰتَاهُ اللّٰهُ الْكِتَابَ وَقَامَ بِهٖ اٰنَاءَ اللَّيْلِ وَرَجُلٌ اَعْطَاهُ اللّٰهُ مَالًا فَهُوَ يَتَصَدَّقُ بِهٖ اٰنَاءَ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ [ر: ۷۳]

ددې دوه مطلبه بيانيدې شى يو دا كه چرته حسد جائز او مستحب وي نود ذكر شوو دوو كسانو سره به پكار ده چه جائز وي (خو حسد جائز نه دي)

او دويم مطلب دا دي چه حسد مجازاً د غبطه او پسخيدلو په معنى دى چه د پسخيدو لائق دا ذكر شوي دوه كسان دى ددې دويم مطلب تائيد د باب په دويم روايت سره كيږى په دې كښې د ى «ليتنى أوتى مثل ما أوتى فلان فعملت مثل مايعمل» معلومه شوه چه حسد د رشك او

---

۱) (يستغنى به) يشغله عن غيره من الكتب وينفعه فى إيمانه ودنياه وآخرته)۔

۲) ما أذن مثل إذنه (يتغنى بالقرآن) يحسن صوته به ويطرب له (صاحب له) أى لأبى سلمة بن عبدالرحمن وو عبدالحميد بن عبدالرحمن (يريد يجهر به) أى أيريد النبى ﷺ بالتغنى بالقرآن الجهر به)۔

۳) الأبواب والتراجم (۲)۔

غبطه په معنى كښې دې ځکه چه په غبطه كښې د بل سره د موجوده نعمت تمنا او آرزو كولې شى او په حسد كښې د بل سره چه كوم نعمت وى د هغې د زوال تمنا كولې شى (١) په دې باندې تفصيلى بحث په كتاب العلم كښې په باب اغتباط العلم كښې تير شوې دى.

[٤٧٣٨]حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ ابْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا رَوْحٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ سُلَيْمَانَ سَمِعْتُ ذَكْوَانَ عَنْ ابِى هُرَيْرَةَ انَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا حَسَدَ الَّا فِى اثْنَتَيْنِ رَجُلٌ عَلَّمَهُ اللَّهُ الْقُرْآنَ فَهُوَ يَتْلُوهُ انَاءَ اللَّيْلِ وَانَاءَ النَّهَارِ فَسَمِعَهُ جَارٌ لَهُ فَقَالَ لَيْتَنِى اوتِيتُ مِثْلَ مَا اوتِىَ فُلَانٌ فَعَمِلْتُ مِثْلَ مَا يَعْمَلُ وَرَجُلٌ اتَاهُ اللَّهُ مَالًا فَهُوَ يُهْلِكُهُ فِى الْحَقِّ فَقَالَ رَجُلٌ لَيْتَنِى اوتِيتُ مِثْلَ مَا اوتِىَ فُلَانٌ فَعَمِلْتُ مِثْلَ مَا يعمل [ر:٦٨٠٥و٧٠٩٠]

قوله: حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ إِبْرَاهِيمَ: دعلى بن ابراهيم په باره كښې درې اقوال دى :

① يو دا چه ددې نه على بن ابراهيم بن عبد الحميد واسطى مراد دې او هم دا د اكثرو حضراتو قول دې دې ثقه دې دامام بخارى د وفات نه پس شل كالو پورې ژوندې وو

② دويم قول دا دې چه ددې نه على بن الحسن بن ابراهيم بن اشكاب مراد دې دلته په سند كښې د دوى نسبت د پلار په ځائې نيكه ،،على بن ابراهيم،، ته شوې دې ابن عدى هم دا قول اختيار كړې دې ③ دارقطنى او ابوعبدالله بن منده فرمائيلى دى چه ددې نه على بن عبدالله بن ابراهيم مراد دې (٢)

٢١=بَاب خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَعَلَّمَهُ

((خيركم من تعلم القرآن وعلمه)) كښې دوه روايتونه دى يو په ((واو)) سره او بل په ((او)) سره امام بخارى رحمه الله په ترجمة الباب كښې په ((واو)) سره ذكر كړې دې او د ((أو))روايت ته ئې د مرجوح كيدو په وجه اشاره كړې ده (٣) مطلب دا دې چه د قرآن كريم په تعليم او تعلم دواړو باندې خير مرتب كيږى صرف په يو باندې نه.

[٤٧٣٩، ٤٧٤٠] حَدَّثَنَا حَجَّاجُ بْنُ مِنْهَالٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ اخْبَرَنِى عَلْقَمَةُ بْنُ مَرْثَدٍ سَمِعْتُ سَعْدَ بْنَ عُبَيْدَةَ عَنْ ابِى عَبْدِ الرَّحْمَنِ السُّلَمِىِّ عَنْ عُثْمَانَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ النَّبِىِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَعَلَّمَهُ قَالَ وَاقْرَا ابُو عَبْدِ الرَّحْمَنِ فِى امْرَةِ عُثْمَانَ حَتَّى كَانَ الْحَجَّاجُ قَالَ وَذَاكَ الَّذِى اقْعَدَنِى مَقْعَدِى هَذَا

وَعَلَّمَهُ قَالَ وَاقْرَا ابُو عَبْدِ الرَّحْمَنِ فِى امْرَةِ عُثْمَانَ حَتَّى كَانَ الْحَجَّاجُ

سعدبن عبيده فرمائى چه ابى عبدالرحمن سلمى (خلقو ته) دحضرت عثمان رضى الله عنه په دور

١) فتح البارى (١٩/٩٠)-
٢) فتح البارى (١٩/٩٠و ٩١)_
٣) فتح البارى (١٩/٩٢)_

حكومت كښې قران خودل شروع كړى وو اوخودل به ئې تردې دحجاج بن يوسف زمانه راغله.
دحضرت عثمان رضي الله عنه د ابتدائى دوراو د حجاج دآخرى دور په مينځ كښې درې مياشتې كم ۷۲ كاله فاصله وه اود حضرت عثمان رضي الله عنه د آخرى دور او د حجاج د ابتدائى دور په مينځ كښې ۳۸ كاله فاصله وه په تعين سره نشى معلوميدې چه د كوم كال نه تر كوم كاله پورې به ئې خودل كول (۱) خو دومره خبره يقينى ده چه د ديرش څلويښتو كالو نه كم دوى (قرآن پاك) نه دې خودلې

قوله: قَالَ وَذَاكَ الَّذِي أَقْعَدَنِي مَقْعَدِي هَذَا: ابوعبدالرحمن سلمى فرمائى چه د نبى كريم صلى الله عليه وسلم دا وينا چه «خيركم من تعلم القرآن وعلمه» زه داسې كينولې اووم.يعنى د نبى صلى الله عليه وسلم بيان كړى فضيلت حاصلولو دپاره ما خپل ژوند د قرآن كريم د تعليم او تعلم دپاره وقف كړې وو او مسلسل مې دا خدمت كولو.

[۴۷۴۰] حَدَّثَنَا اَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ مَرْثَدٍ عَنْ اَبِي عَبْدِ الرَّحْمٰنِ السُّلَمِيِّ عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ اَفْضَلَكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْاٰنَ وَعَلَّمَهُ

ددې نه وړاندې روايت د شعبه دې او دا روايت د سفيان ثورى نه منقول دې د شعبه په روايت كښې د علقمه او ابوعبدالرحمن سلمى په مينځ كښې د سعدبن عبيده واسطه ده او د سفيان په روايت كښې د سعد واسطه نشته.
حفاظ حديث دسفيان ثورى روايت راجح ګرځولې دې په كوم كښې چه واسطه نشته او د شعبه روايت ئې د «مزيد فى متصل الأسانيد» د قبيلې څخې شمارلې دې (۲)
امام بخارى رحمه الله د دواړو روايت ذكر كړې دې غالباً دې طرف ته ئې اشاره كړې ده چه ذكر شوې دواړه روايتونه محفوظ دى هغه داسې چه علقمه دا حديث د سعدبن عبيده په واسطه سره هم اوريدلې دې او ددوى دواسطې نه بغيرئې براه راست دابوعبدالرحمن نه هم اوريدلې دې شعبه د واسطې روايت ذكر كړې دې او سفيان د غيرواسطې روايت نقل كړې دې (۳)

[۴۷۴۱] حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَوْنٍ حَدَّثَنَا حَمَّادٌ عَنْ اَبِي حَازِمٍ عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ اَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ امْرَاَةٌ فَقَالَتْ اِنَّهَا قَدْ وَهَبَتْ نَفْسَهَا لِلّٰهِ وَلِرَسُوْلِهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَا لِي فِي النِّسَاءِ مِنْ حَاجَةٍ فَقَالَ رَجُلٌ زَوِّجْنِيهَا قَالَ اَعْطِهَا ثَوْبًا قَالَ لَا اَجِدُ قَالَ اَعْطِهَا وَلَوْ خَاتَمًا مِنْ حَدِيدٍ فَاعْتَلَّ لَهُ فَقَالَ مَا مَعَكَ مِنَ الْقُرْاٰنِ قَالَ كَذَا وَكَذَا قَالَ فَقَدْ زَوَّجْتُكَهَا بِمَا مَعَكَ مِنَ الْقُرْاٰنِ [ر:۲۱۸۶]

---

۱) فتح البارى (۹۴/۱۹)_
۲) فتح البارى (۹۲/۱۹)_
۳) فتح البارى (۹۲/۱۹)_

په دې روايت باندې به وړاندې انشاء الله په كتاب النكاح كښې بحث راشى چونكه ددې روايت نه دعظمت قرآن اوفضيلت قرآن ثبوت ملاويږى ددې وجې امام بخارى دا دلته ذكر كړو(۱)

قوله: فاعتل له: قال الكرمانى (اعتل) أى حزن وتضجر له (له) أى لأجل ذلك (۲) يعنى چه څه هم ورسره نه وو نو په دې وجه هغه پريشانه وو.

۲۲=باب القراءة عن ظهر القلب

[۴۷۴۲] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ أَبِي حَازِمٍ عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ أَنَّ امْرَأَةً جَاءَتْ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ جِئْتُ لِأَهَبَ لَكَ نَفْسِي فَنَظَرَ إِلَيْهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَعَّدَ النَّظَرَ إِلَيْهَا وَصَوَّبَهُ ثُمَّ طَأْطَأَ رَأْسَهُ فَلَمَّا رَأَتِ الْمَرْأَةُ أَنَّهُ لَمْ يَقْضِ فِيهَا شَيْئًا جَلَسَتْ فَقَامَ رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِهِ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنْ لَمْ يَكُنْ لَكَ بِهَا حَاجَةٌ فَزَوِّجْنِيهَا فَقَالَ هَلْ عِنْدَكَ مِنْ شَيْءٍ فَقَالَ لَا وَاللَّهِ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ اذْهَبْ إِلَى أَهْلِكَ فَانْظُرْ هَلْ تَجِدُ شَيْئًا فَذَهَبَ ثُمَّ رَجَعَ فَقَالَ لَا وَاللَّهِ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا وَجَدْتُ شَيْئًا قَالَ انْظُرْ وَلَوْ خَاتَمًا مِنْ حَدِيدٍ فَذَهَبَ ثُمَّ رَجَعَ فَقَالَ لَا وَاللَّهِ يَا رَسُولَ اللَّهِ وَلَا خَاتَمًا مِنْ حَدِيدٍ وَلَكِنْ هَذَا إِزَارِي قَالَ سَهْلٌ مَا لَهُ رِدَاءٌ فَلَهَا نِصْفُهُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا تَصْنَعُ بِإِزَارِكَ إِنْ لَبِسْتَهُ لَمْ يَكُنْ عَلَيْهَا مِنْهُ شَيْءٌ وَإِنْ لَبِسَتْهُ لَمْ يَكُنْ عَلَيْكَ شَيْءٌ فَجَلَسَ الرَّجُلُ حَتَّى طَالَ مَجْلِسُهُ ثُمَّ قَامَ فَرَآهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُوَلِّيًا فَأَمَرَ بِهِ فَدُعِيَ فَلَمَّا جَاءَ قَالَ مَاذَا مَعَكَ مِنَ الْقُرْآنِ قَالَ مَعِي سُورَةُ كَذَا وَسُورَةُ كَذَا عَدَّهَا قَالَ أَتَقْرَؤُهُنَّ عَنْ ظَهْرِ قَلْبِكَ قَالَ نَعَمْ قَالَ اذْهَبْ فَقَدْ مَلَّكْتُكَهَا بِمَا مَعَكَ مِنَ الْقُرْآنِ [ر: ۲۱۸۶]

دقرآن پاک تلاوت په كتلوافضل دې اوكه په ياد؟: د امام بخارى رحمه الله ددې ترجمة الباب نه مقصد د قرآن پاك د زبانى ونيلو جوازخودل دى خو عالمانو ددې تصريح كړې د ه چه په قرآن كريم كښې په كتلو په يادو د تلاوت كولو نه افضل دى (۳)

ابوعبيد قاسم بن سلام په ،،فضائل القرآن ،، كښې يو مرفوع روايت نقل كړې دې ((فضل قرءة القرآن نظراً على من يقرءه ظهراً كفضل الفريضة على النافلة))(۴) خو ددې سند كمزورې دې (۵)

---

۱) وفى الفتح (۹۶/۹) وجه دخوله أن فضل القرآن ظهر على صاحبه فى العاجل بأن قام له مقام المال الذى يتوصل به إلى بلوغ الغرض وإما نفعه فى الأجل فظاهر لا خفاء به)_

۲) ارشاد السارى (۳۰۴/۱۱) مجمع بحار الأنوار(۶۵۹/۳)_

۳) فتح البارى (۹۷/۹)_

۴) فضائل القرآن لأبى عبيد :باب فضل قراءة الذى لا يقيم القرآن)_

۵) فتح البارى (۹۷/۹)_

هغوی د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه نه یو موقوف روایت نقل کړې دې او د هغې سند صحیح دې د هغې الفاظ دی «أديموا النظر في المصحف»(۱)

په معنوی لحاظ سره کتل او لوستلو کښې یوه فائده دا هم ده چه غلطی نه کیږی دویمه دا چه ددې په حروفو او نقوشو باندې مسلسل نظر پریوځی.

بعضې حضراتو فرمائیلی دی چه قرآن کریم په یادو ونیل په مصحف کښې کتل او ونیلو نه افضل دې د دوی استدلال د ابن ابی داود په صحیح روایت سره دې کوم چه د ابوامامه نه منقول دې په هغې کښې د ی «اقرأوا القرآن ولا تغرنكم هذه المصاحف المعلقة فإن الله لا يعذب قلباً وعى القرآن»(۲) دغه شان په یادو ونیلو کښې استحضار زیات وی او په تلاوت کښې د ریا ویره کمه وی

خو حقیقت دا دې چه په دې کښې تفصیل دې که یو کس ته په کتلو او ونیلو کښې استحضار او خشوع زیاته محسوسیږی نو د هغه دپاره کتل غوره دی خو په دې شرط چه د ریا ویره نه وی خو که یو کس ته د ریا ویره وی نو بیا دهغه دپاره په یادو ونیل زیات غوره دی حاصل دا چه د افضلیت د اشخاصو او احوالو په اختلاف سره مختلف کیږی (۳)

۲۳=بَابُ اسْتِذْكَارِ الْقُرْآنِ وَتَعَاهُدِهِ

دامام بخاری رحمه الله مقصد دا دې چه د قرآن مجید د حفظ نه پس ددې د تلاوت اهتمام کول پکار دی اوددې د حفاظت کوشش او سعی جاری ساتل پکار ده داسې نه چه د حفظ کولو نه پس دې ته شا کړی اودا هیر کړی «تعاهده أي تجديد العهد به بملازمة تلاوته»(٤)

[۴۷۴۳-]حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّمَا مَثَلُ صَاحِبِ الْقُرْآنِ كَمَثَلِ صَاحِبِ الْإِبِلِ الْمُعَقَّلَةِ إِنْ عَاهَدَ عَلَيْهَا أَمْسَكَهَا وَإِنْ أَطْلَقَهَا ذَهَبَتْ

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه د قرآن ویونکی مثال د تړلی شوی اوبن پشان د خاوند پشان دې که هغه ددې خیال ساتی نوهغه به ئې راتینګ کړئی شی اوکه هغه پریږدی نو لاړبه شی.

[۴۷۴۴\۴۷۴۵]حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَرْعَرَةَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ أَبِي وَائِلٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِئْسَ مَا لِأَحَدِهِمْ أَنْ يَقُولَ نَسِيتُ آيَةَ كَيْتَ وَكَيْتَ بَلْ نُسِّيَ وَاسْتَذْكِرُوا الْقُرْآنَ فَإِنَّهُ أَشَدُّ تَفَصِّيًا مِنْ صُدُورِ الرِّجَالِ مِنَ النَّعَمِ

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه دا خبره بده ده چه په تاسو کښې څوک اووائی چه ما فلانې

۱) فضائل القرآن لأبی عبید باب فضل قراءة القرآن نظراً وقراءة الذی لا یقیم ا للقرآن (٤۶)_
۲) فتح الباری (۹\۹۷)_
۳) فتح الباری (۹\۹۷)_
٤) الأبواب والتراجم (۲\۶۲)_

فلانې آیت هیر کړو بلکه داسې دې وائی چه هغه آیت زما نه هیر کړې شو تاسو خلق قرآن یاد ساتئ: ځکه چه دا د سړو د سینو نه په وتلو کښې د وحشی ځناور نه زیات په تیخته وتونکې دې

قوله: بِئْسَ مَا لِأَحَدِهِمْ أَنْ يَقُولَ نَسِيتُ آيَةَ كَيْتَ وَكَيْتَ بَلْ نُسِّيَ: ددې جملې په تشریح کښې مختلف اقوال دی :

① ددې یو مطلب دا بیان شوې دې چه دا قول نبی ﷺ د خپل ځان په باره کښې فرمائیلې دې چه کوم کس زما په باره کښې دا اووائی چه ما فلانې فلانې آیت هیر کړو نو دده دا وئیل بد دی بلکه هغه دې وائی چه هغه آیت زما نه هیر کړې شو د نسخ یو صورت دا هم وو چه منسوخ آیت به د نبی ﷺ نه هیر کړې شوېه قرآن کریم کښې دی «ما ننسخ من آية أو ننسها نأت بخير منها» او بل ځائې کښې دی «سنقرئك فلا تنسى إلا ما شاء الله» په دې صورت کښې به دنسیت فاعل نبی کریم ﷺ وی اسماعیلی دا مطلب لیکلې دې

② دویم مطلب دا بیان شوې دې چه «نسیت» د «ترکت» په معنی شی او مطلب دا شی چه د یو کس دا وئیل چه ما فلانې آیت پریخودو ترك کړو لکه څنګه چه د قرآن کریم آیت «نسوا الله فنسيهم» کښې نسیان د ترك په معنی کښې دې ابوعبید قاسم بن سلام او یوې ډلې دا قول اختیار کړې دې (۱)

③ علامه انور شاه کشمیری رحمه الله فرمائیلی دی چه د قرآن کریم هیرول یوه ګناه ده ددې معصیت د کولو نه پس ددې اعلان کول مذموم اوګرځولې شو ځکه چه د ګناه په اعلان کښې یو قسم زړه ورتیا او جسارت دې نو د ادب تقاضا دا ده چه خپل ځان طرفته دې د نسیان نسبت نه کوی دوی فرمائی

«یعنی أما إذا ارتکبت معصیة، وانسیت القرآن فلا تجهر بها فإنك إن غفلت عنك الإستكار والإستظهار به فلا يفت عنك الأدب وهو أن لاينسب النسيان إلى نفسه ليدل على تجاسره بل يقول نسی كأنه من سهب سماوی» (۲)

④ څلورم قول دا دې چه داسې اسباب دې اختیار نکړې شی چه د هغې په وجه د نسیان نسبت خپل ځان طرف ته د کولو ضرورت پیښ شی که یو کس داسې اسباب اختیاروی نه تلاوت نه کوی د قرآن نه غفلت کوی نو ددې په نتیجه کښې هغه «نسیت آیة کیت وکیت» اووائی نو دا مذموم دې بلکه ده له پکار دی چه د قرآن پاك تلاوت مسلسل کوی ددې باوجود هم که دده نه هیرېږی خو هغه د الله تعالی د طرف نه تنسه د ه نسیان نه دې حضرت ګنګوهی فرمائی :

«یعنی بذلك أنه لاینبغی له التغافل وعلیه أن یتعاهد القرآن فإذا ذهب عنه مع تعاهده فهو تنسیة من الله،

---

۱) فتح الباری (۱۰۰/۹)_
۲) فیض الباری (۲۷۰/٤)_

وليس بنسيان ولا مواخذة فيه ولا نهى له أن يغفل عنه حتى يلزم النوبة أن يقول نسيته»(١)

[۴۷۴۵] حَدَّثَنَا عُثْمَانُ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنْ مَنْصُورٍ مِثْلَهُ تَابَعَهُ بِشْرٌ عَنِ ابْنِ الْمُبَارَكِ عَنْ شُعْبَةَ وَتَابَعَهُ ابْنُ جُرَيْجٍ عَنْ عَبْدَةَ عَنْ شَقِيقٍ سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ر: ۴۷۵۲]

قوله: تَابَعَهُ بِشْرٌ عَنِ ابْنِ الْمُبَارَكِ عَنْ شُعْبَةَ: دلته د باب په دويم روايت كښې د امام بخارى رحمه الله شيخ محمد بن عرعره دې امام بخارى رحمه الله فرمائى چه د شعبه په روايت كولو كښې د محمد بن عرعره متابعت عبدالله بن مبارك هم كړې دې بشر بن محمد مروزى دامام بخارى رحمه الله شيخ دې په بدء الوحى كښې امام بخارى ددوى نه روايت نقل كړې دې(٢)

قوله: وَتَابَعَهُ ابْنُ جُرَيْجٍ عَنْ عَبْدَةَ عَنْ شَقِيقٍ سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ: د عبده نه عبده بن ابى لبابه مراد دې د شقيق نه شقيق بن سلمه اود عبدالله نه حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه مراد دې دا متابعت امام مسلم رحمه الله موصولاً نقل كړې دې (٣)

ددې متابعت په بيانولو كښې د امام بخارى رحمه الله مقصد دادې چه د منصور نه حماد بن زيد او عاصم دا روايت موقوفاً نقل كړې دې د بشر او ابن جرير په متابعت كښې دا روايت مرفوع دې دابن جرير په روايت كښې «سمعت النبى صلى الله عليه وسلم» تصريح كړې ده امام بخارى رحمه الله چه دا ذكركړې دې نو په دې سره ئې د هغه حضراتو تائيد كړې دې كوم چه روايت مرفوعاً نقل كوى(٤)

[۴۷۴۶] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ عَنْ بُرَيْدٍ عَنْ أَبِي بُرْدَةَ عَنْ أَبِي مُوسَى عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ تَعَاهَدُوا الْقُرْآنَ فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَهُوَ أَشَدُّ تَفَصِّيًا مِنَ الْإِبِلِ فِي عُقُلِهَا

عُقُلِهَا: عقل(د قاف په ضمه او سكون سره) د عقال جمع ده عقال رسۍ ته وائى (٥)

۲۴=بَابُ الْقِرَاءَةِ عَلَى الدَّابَّةِ

[۴۷۴۷] حَدَّثَنَا حَجَّاجُ بْنُ مِنْهَالٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبُو إِيَاسٍ قَالَ سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ مُغَفَّلٍ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ وَهُوَ يَقْرَأُ عَلَى رَاحِلَتِهِ سُورَةَ الْفَتْحِ [ر: ۴۰۳۱]

---

١) لامع الدرارى (٢٤/٩)_
٢) فتح البارى (١٠١/٩)_
٣) فتح البارى (١٠١/٩)_
٤) فتح البارى (١٠١/٩)_
٥) فتح البارى (١٠٣/٩)_

امام بخاری رحمه الله دا خودل غواړی چه په سورلئ باندي د سورلئ په حالت کښې د قران په تلاوت کښې څه قباحت نشته ابن ابی داود د بعضې سلفو نه ددې کراهت نقل کړې دې امام بخاری د هغوی رد عمل غواړی .(۱)

۲۵=بَاب تَعْلِيمِ الصِّبْيَانِ الْقُرْآنَ

د ماشومانو د تعليم قرآن مسئله: دسعيد بن جبير او ابراهيم نخعي نه دا منقول دیٰ چه وړو ماشومانو ته د قرآن مجيد تعليم نه دی ورکول پکار، ځکه چه هغوی د قرآن مجيد ادب نشی کولې . خو د جمهورو مسلك دا دې چه وړو ماشومانو ته هم د قرآن مجيد تعليم ورکول پکار دی په دې کښې څه حرج او بدوالې نشته

امام بخاری رحمه الله په دې ترجمه کښې د سعيد بن جبير او ابراهيم نخعي قول رد کړې دې او د جمهورو تائيد ئې کړې دې (۲)

پاتې شوه دا خبره چه ماشوم خو يقينی ده چه ادب نشی کولې د دې جواب دا دې چه هغوی ددې مکلف هم نه دی استاذانو ته پکار دی چه هغوی ته ادب اوښائی ماشومانو ته د قرآن کريم د تعليم ورکولو اهتمام د دې وجې کول پکار دی چه لوئې شی نو د سړی مشاغل زيات شی نورې ذمه دارئ ئې په سره شی بيا هغه د قرآن مجيد د تعليم دپاره خپل ځان نشی فارغ کولې لکه څنګه چه ورته ماشومان فارغ وی

[۴۷۴۹،۴۷۴۸] حَدَّثَنِي مُوسَى بْنُ اسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا ابُو عَوَانَةَ عَنْ ابِي بِشْرٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ قَالَ انَّ الَّذِي تَدْعُونَهُ الْمُفَصَّلَ هُوَ الْمُحْكَمُ قَالَ وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ تُوُفِّيَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَانَا ابْنُ عَشْرِ سِنِينَ وَقَدْ قَرَاتُ الْمُحْكَمَ

حضرت سعيد بن جبيرفرمانيلی دی چه تاسو چاته مفصل وائې هم هغه محکم دی يعنی د مفصل دويم نوم محکم هم دې مفصل خو دې ته ځکه وائی چه د دې سورتونه جدا جدا دی او محکم د متشابه ضد نه دې بلکه د منسوخ ضد دې او مطلب دا دې چه دا ټول سورتونه منسوخ نه دی ددې تلاوت او ددې احکام باقی دی سوا د سورة کافرون د آخری آيت نه چه «لکم دينکم ولی دين» ځکه چه په دې کښې دوه قولونه دی د بعضې حضراتو په نيز دا آيت د جهاد دحکم نه وړاندې وو د جهاد د مشروعيت نه پس دا منسوخ شوې دې او د بعضو په نيز منسوخ نه دې بلکه په دې کښې زجر مقصود دې لکه څنګه چه په «فمن شاء فليؤمن ومن شاء فليکفر» کښې زجر مقصود دې (۳)

د صحيح قول مطابق مفصل د سورة حجرات نه تر آخر د قرآن پورې سورتونو ته وائی (۱)

قوله: قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ تُوُفِّيَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا ابْنُ عَشْرِ سِنِينَ: د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وفات په وخت کښې د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما په عمر کښې

---

۱) فتح الباری (۹/۱۰۳)-

اختلاف دې او په دې باره کښې شپږ اقوال دی
① لس کاله لکه څنګه چه په روايت باب کښې دی ② دولس کاله ③ ديارلس کاله
④ څوارلس کاله ⑤ پنځلس کاله ⑥ شپاړس کاله (۱)
په روايت باب کښې لس کاله خودلی شوی دی خو په دې باندې د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما د يو بل روايت په وجه اشکال کيږی په هغې کښې دوی فرمائيلی دی چه دحجة الوداع په موقع باندې دوی بلوغ ته نزدې وونو بيا د دوی عمر د نبی ﷺ د وفات په وخت کښې لس كاله څنګه کيدې شی ددې وجې بعضې حضراتو روايت باب ته وهم ونيلی دی (۲)
قاضی عياض فرمائيلی دی چه دا ممکن ده چه «عشر سنين» د حفظ القرآن سره متعلق کړې شی د نبی ﷺ د وفات سره دا متعلق نکړې شی په دې صورت کښې به تقديری عبارت داسې وی «توفي النبي ﷺ وقد جمعت المحكم وأنا ابن عشر سنين» يعنی دقرآن حفظ د لسو کالو په عمر کښې کړې وو (۳)
مشهوره هم دا ده چه د نبی ﷺ د وفات په وخت کښې د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما عمر ديارلس کاله وو. (٤)

[۴۷۴۹] حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ أَخْبَرَنَا أَبُو بِشْرٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا جَمَعْتُ الْمُحْكَمَ فِي عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ لَهُ وَمَا الْمُحْكَمُ قَالَ الْمُفَصَّلُ

قوله: فَقُلْتُ لَهُ وَمَا الْمُحْكَمُ قَالَ الْمُفَصَّلُ: دقلت فاعل ابوبشر دې اوپه «له» کښې ضمير سعيد بن جبير طرف ته راجع دې يعني ابو بشردسعيدبن جبير نه تپوس اوکړچه محکم څه دی نوهغوی اوفرمائيل مفصل چونکه د باب په اولنی روايت کښې سعيد بن جبير طرف ته دا قول صراحتاً منسوب دې په دې دويم روايت کښې د ظاهر سياق نه معلوميږی چه حضرت سعيد بن جبير د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه تپوس اوکړو چه محکم څه څيز دې نو هغوی په جواب کښې «المفصل» اوونيل خو په حقيقت کښې داسې نه دی :
اودا هم ممکن ده چه په ابو بشر او سعيدبن کښې هر يو د خپل شيخ نه دا سوال کړې دې د ابوبشر شيخ سعيد دې او د سعيد شيخ حضرت ابن عباس رضي الله عنهما دې (۵)

---

۱) فتح الباری (۹/۱۰٤)_
۲) فتح الباری (۹/۱۰۳و ۱۰٤)-
۳) فتح الباری (۹/۱۰٤)_
٤) فتح الباری (۹/۱۰٤)_
۵) فتح الباری (۹/۱۰۳)_

۲۶=بَاب نِسْيَانِ الْقُرْآنِ وَهَلْ يَقُولُ نَسِيتُ آيَةَ كَذَا وَكَذَا وَقَوْلِ اللّٰهِ تَعَالٰى سَنُقْرِئُكَ فَلَا تَنْسَى إِلَّا مَا شَاءَ اللّٰهُ [۶]

د نسیان قرآ په مسئله کښې اختلاف دې
امام ابوالقاسم رافعی او امام نووی فرمائی چه د قرآن مجید نسیان په لویو گناهونو کښې شامل ده د احنافو او حنابلوْ هم دا مسلك دې (۱)
خو علامه سیوطی فرمائیلی دی چه دا به هغه وخت کښې په کبائرو کښې شامل وی چه د تساهل نه کار اخستې شوی وی (۲)
ملا علی قاری فرمائی چه د نسیان قرآن مطلب دا دې چه نه ئې په یادو وئیلی شی اونه ئې په کتلو سره وئیلی شی (۳)
امام مالك رحمه الله فرمائی چه قرآن شریف د یادولو نه پس هیرول مکروه دی
امام بخاری رحمه الله په ترجمة الباب کښې اجمال ساتلې دې اوڅه تفصیل ئې نه دې کړې چه د نسیان قرآن څه حکم دې خو دحدیث نه ددې مذمت معلومیږی

قوله: وَهَلْ يَقُولُ نَسِيتُ آيَةَ كَذَا وَكَذَا: آیا سړې د نسیان نسبت خپل طرف ته کولې شی چه داسې اووائی چه ما فلانې فلانې آیت هیر کړې دې امام بخاری رحمه الله دلته د «هل» لفظ استعمال کړې دې او په روایت کښې تیر شوی دی چه «نسیت آیة کیت وکیت» نه دی وئیلې پکاربلکه «نسی» وئیل پکار دی ځکه چه په «نسیت» کښې دا مفهوم وی چه قرآن شریف ئې غیراهم اوگڼړلو او هیر ئې کړو اود قران مجید عظمت او اهمیت دده په زړه کښې نشته نو داسې عنوان چه د هغې نه دا گمان کیږی هغه صحیح نه دې
خو سوال دا دې چه امام بخاری رحمه الله د «هل» لفظ ولې استعمال کړلو نو ددې وجه په اصل کښې دا ده چه د حدیث باب نه ددې گنجائش راوځی چه نبی کریم ﷺ د یو کس نه په جمات کښې واوریدل چه قرآن ئې لوستلونو وې وئیل چه ده فلانې فلانې آیت ماته یاد کړلوددې نه په ظاهر دا احتمال په نظر راځی چه سړې «نسیت آیة کذا» وئیلی شی
حضرت گنگوهی فرمائیلی دی چه د امام بخاری رحمه الله ددې باب نه مقصد دا دې چه د

---

۱) قال جلال الدين السيوطى فى الإتقان (۱۰۵\۱) نسانه كبيرة صرح به النووى فى الروضة وغيرها قال القارى فى المرقات (۲\۱۵) قال ابن حجر أى إن الله سبحانه هو الذى أنساها له بسبب منه تارة بأن ترك تعهدالقرآن وقال القارى فى المرقات (۳\۱۵) ثم النسان عند علماءنا محمول على حال لم يقدر عليه بالنظر سواء كان حافظاً أم لا وقال الحافظ فى الفتح (۱۰۶\۹) ومن طريق ابن سيرين بإسناد صحيح فى الذين ينسى القرآن كانوا يكرهونه ويقولو فيه قولاً شديداً_
۲) حواله سابقه)_
۳) حواله سابقه)_

نسيان لفظ خپل ځان طرف ته منسوب کړي او استعمال کړي په دې کښې څه کراهت نشته کراهت او ممانعت د قرآن نه په غفلت کولواو اهتمام نه کولو په باره کښې دې (۱)

خلاصه دا ده چه د نبى ﷺ «نسيت كذا وكذا» باندې انکار کول دالفاظو سره متعلق نه دي بلکه د قرآن کريم نه د تغافل او دهغه اسبابو سره متعلق دې د کومو په وجه چه د نسيان نسبت خپل ځان ته کولې شي

۴۷۵۰\۴۷۵۱: حَدَّثَنَا رَبِيعُ بْنُ يَحْيَى حَدَّثَنَا زَائِدَةُ حَدَّثَنَا هِشَامٌ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ سَمِعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا يَقْرَأُ فِي الْمَسْجِدِ فَقَالَ يَرْحَمُهُ اللَّهُ لَقَدْ أَذْكَرَنِي كَذَا وَكَذَا آيَةً مِنْ سُورَةِ كَذَا

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدِ بْنِ مَيْمُونٍ حَدَّثَنَا عِيسَى عَنْ هِشَامٍ وَقَالَ أَسْقَطْتُهُنَّ مِنْ سُورَةِ كَذَا تَابَعَهُ عَلِيُّ بْنُ مُسْهِرٍ وَعَبْدَةُ عَنْ هِشَامٍ

مطلب دادې چه دباب د ړومبى روايت په متن کښې محمد بن عبيد په دې طريقه کښې د لفظ «اسقطتهن» اضافه ده. په شهادات کښې هم په دې طريقه دا روايت تيرشوې دې. په هغه ځائې کښې الفاظ دى چه «فقال رحمه الله لقد اذكرنى كذا و كذا اية اسقطتهن من سورة كذا و كذا» (۲)

يعنى حضور ﷺ دهغه سړى تلاوت واوريدو نو وې فرمائيل ،الله ﷻ دې په ده رحم اوکړى ، ده ماته فلانې فلانې آيت راياد کړو، حالانکه مادا آيت د(نسيان په وجه) ساقط کړې وو.تابعه على بن مسهرو عبدة عن هشام يعنى دمحمد بن عبيد متابعت دوؤ حضراتو کړې دې. يو على به مسهر او بل عبده بن سليمان .

دعلى بن مسهرروايت امام بخارى رحمه الله ددې نه د مخکښې باب په آخر کښې موصولا نقل کړې دې اور د عبده بن سليمان متابعت ئې په دعوات کښې موصولا نقل کړې دې. (۳)

[۴۷۵۱] حَدَّثَنَا أَحْمَدُ ابْنُ أَبِي رَجَاءٍ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ سَمِعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا يَقْرَأُ فِي سُورَةٍ بِاللَّيْلِ فَقَالَ يَرْحَمُهُ اللَّهُ لَقَدْ أَذْكَرَنِي كَذَا وَكَذَا آيَةً كُنْتُ أُنْسِيتُهَا مِنْ سُورَةِ كَذَا وَكَذَا [ر: ۲۵۱۲]

(۴۷۵۲): حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ أَبِي وَائِلٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِئْسَ مَا لِأَحَدِهِمْ يَقُولُ نَسِيتُ آيَةَ كَيْتَ وَكَيْتَ بَلْ هُوَ نُسِّيَ [ر: ۴۷۴۴]

---

۱) لامع الدرارى (۲۵۰/۱۹)_

۲) فتح البارى : ۱۰۴/۹۰)

۳) فتح البارى :۱۰۵/۹)

٢٧=باب من لم یر بأسا أن یقول سورة البقرة وسورة كذا وكذا

[٤٧٥٣] حدثنا عمر بن حفص حدثنا ابى حدثنا الاعمش قال حدثنى ابراهيم عن علقمة وعبد الرحمن بن يزيد عن ابى مسعود الانصاري قال قال النبي صلى الله عليه وسلم الايتان من اخر سورة البقرة من قرأ بهما في ليلة كفتاه [ر:٣٧٨٦]

[٤٧٥٤] حدثنا ابو اليمان اخبرنا شعيب عن الزهري قال اخبرنى عروة بن الزبير عن حديث المسور بن مخرمة وعبد الرحمن بن عبد القاري انهما سمعا عمر بن الخطاب يقول سمعت هشام بن حكيم بن حزام يقرأ سورة الفرقان في حياة رسول الله صلى الله عليه وسلم فاستمعت لقراءته فاذا هو يقرؤها على حروف كثيرة لم يقرئنيها رسول الله صلى الله عليه وسلم فكدت اساوره في الصلاة فانتظرته حتى سلم فلببته فقلت من اقرأك هذه السورة التى سمعتك تقرأ قال اقرانيها رسول الله صلى الله عليه وسلم فقلت له كذبت فوالله ان رسول الله صلى الله عليه وسلم هو اقرانى هذه السورة التى سمعتك فانطلقت به الى رسول الله صلى الله عليه وسلم اقوده فقلت يا رسول الله انى سمعت هذا يقرأ سورة الفرقان على حروف لم تقرئنيها وانك اقرأتنى سورة الفرقان فقال يا هشام اقرأها فقرأها القراءة التى سمعته فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم هكذا انزلت ثم قال اقرأ يا عمر فقرأتها التى اقرانيها فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم هكذا انزلت ثم قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ان القرآن انزل على سبعة احرف فاقرءوا ما تيسر منه [ر:٢٢٨٧]

[٤٧٥٥] حدثنا بشر بن ادم اخبرنا علي بن مسهر اخبرنا هشام عن ابيه عن عائشة رضي الله عنها قالت سمع النبي صلى الله عليه وسلم قارئا يقرأ من الليل في المسجد فقال يرحمه الله لقد اذكرنى كذا وكذا اية اسقطتها من سورة كذا وكذا [ر:٢٥١٢]

دبعضو اسلافو نه نقل دى چه "سورة البقرة، سورة النساء" نه دى وئيل پكار بلكه «السورة التى تذكر فيها البقرة، والتى تذكر فيها النساء» وئيل پكار دى. د دې مستدلل د حضرت انس رضي الله عنه يو مرفوع حديث دې چه هغه ابن قانع او طبرانى موصولا نقل كړې دې. «لا تقولوا سورة البقرة، ولا ال عمران، ولا سورة النساء وكذالك القران كله». (١)

ليكن جمهور علماء كرام په داشان وئيلو كښې څه حرج نه ګڼړى، امام بخارى رحمه الله په دې ترجمه كښې د جمهورو تائيد او د مذكوره بعضو حضراتو ترديد كول غواړى. او هغوى فرمائى چه سورة البقره وئيلو كښې څه حرج نشته دې.

امام بخارى رحمه الله په ترجمة الباب كښې د ثبوت دپاره درې روايتونه فرمائيلى دى. په ړومبى

١- فتح البارى: ٩/١٠٨).

كښې «سورة البقرة» او دويم روايت كښې د «سورة الفرقان» تصريح ده. داشان په دريم روايت كښې «سورة كذا» ده. معلوم شو چه د سورة اضافت دې څيزطرف ته په كولوكښې هيڅ حرج نشته چه دهغې ذكر په دې سورت كښې وارد شو.

تر كومې چه د حضرت انس رضی الله عنه د روايت تعلق دې نو هغه ضعيف ګرزولې شوې دې. ددې په سند كښې يو راوى عيسى بن ميمون عطار ضعيف دې.(۱) ابن الجوزى رحمه الله په كتاب الموضوعات كښې ددې ذكر كړې دې او د امام احمد قول ئې ددې متعلق نقل كړې دې چه دا حديث منكر دې ، لهذا قابل د استدلال نه دې. (۲)

حافظ ابن حجر رحمه الله اوفرمائيل چه د دواړو په شان روايات جمع كولې شى. روايات باب په جواز اود حضرت انس رضی الله عنه روايت په خلاف اولى باندې محمول كړې شى يعنى «سورة البقرة» وغيره وئيل جائز خو دى ليكن خلاف اولى دى. عبدالرازق ، كلبى ، ابومحمد بن حاتم او حكيم ترمذى به احتياطاً دا شان نه وئيل .(۳)

په دې مسئله باندې څه تفصيل د كتاب التفسير په شروع كښې هم تير شوې دې.(۴)

۲۸=بَابُ التَّرْتِيلِ فِي الْقِرَاءَةِ

وَقَوْلِهِ تَعَالَى: ﴿وَرَتِّلِ الْقُرْآنَ تَرْتِيلًا﴾(المزمل:۴)
وَقَوْلِهِ: ﴿وَقُرْآنًا فَرَقْنَاهُ لِتَقْرَأَهُ عَلَى النَّاسِ عَلَى مُكْثٍ﴾(الاسراء:۱۰۶).
وَمَا يُكْرَهُ أَنْ يُهَذَّ كَهَذِّ الشِّعْرِ
فِيهَا﴿يُفْرَقُ﴾(الدخان:۴). يُفَصَّلُ: قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ فَرَقْنَاهُ فَصَّلْنَاهُ

د ترتيل مطلب دادې چه حرفونه (تورى) په واضحه طور ادا كړې شى او په ادا كولو كښې عجلت (تيزى) نه وى چه معنې په فهم كښې آسانتيا وى. (۵) په قرآن پاك كښې الله ﷻ د «وَقُرْآنًا فَرَقْنَاهُ لِتَقْرَأَهُ عَلَى النَّاسِ عَلَى مُكْثٍ» حكم رسول كريم ﷺ ته وركړې دې.

داشان په قرآن پاك كښې سورة مزمل كښې دى چه ((وَرَتِّلِ الْقُرْآنَ تَرْتِيلًا)) يعنى قرآن پاك مونږ بيل بيل كړې دې . (سورتونه او آيتونه جدا جدا اوساتى). چه ستاسو په مخكښې ئې په اطمينان سره اولولى.

---

۱) فتح البارى :۱۰۸/۹).
۲) فتح البارى : ۱۰۸/۹- والموضوعات لابن الجوزى ، ابواب تتعلق باالقران ، باب لا يقال سوره كذا۱/ ۲۵۰، ۲٤۱).
۳) فتح البارى ۱۰۸/۹).
٤) كشف البارى، كتاب التفسير : ۱۰، ۱۱)
۵) فتح البارى : ۱۰۹/۹).

قوله: وَمَا يُكْرَهُ أَنْ يَهُذَّ كَهَذِّ الشِّعْرِ: قرآن کریم د شعر په شان په دې انداز سره تیز وئیل چه د حرفونو ادا کول صحیح نه وی مکروه دی . «هذ» «هذا» تیزئ سره وئیل.
په دې خائې کښې داشبه کیدیشی چه عموماً شعر ترنم او په مزه وئیل کیږی.
جواب دادې چه په مجلس کښې شعر ترنم سره او په مزه وئیلې کیږی لیکن کله چه سړې خپل محفوظ شوی شعرونه دوباره وائی نو بیا هغه په تیزئی سره وائی. قرآن کریم داشان وئیل نه دی پکار.

قوله: فِيهَا يُفْرَقُ : يُفَصَّلُ : دا په سورة دخان کښې دی. «فیها یفرق کل امرحکیم» په دې «لیلة القدر» کښې هریو کار جدا جدا وی. تللې شوې، په دې آیت کریمه کښې «یفرق» «یفصل» یعنی د جدا کیدو په معنی ده ، دا دحضرت ابوعبیده تفسیر دې. (۱) په مناسبت سره ئې دا په دې خائې ذکر کړو.

قوله: قَالَ ابن عباس : فرقناه : فصلناه: ابن جریر د حضرت ابن عباس ﷺ دا تعلیق موصولا نقل کړې دې.
قرآن پاك په مزه مزه وئیل افضل دی یا تیزئی سره ؟
په دې کښې اختلاف دې چه قرآن پاك په مزه مزه وئیل افضل دی او یا په تیزئی سره تلاوت کول افضل دی.
حضرت ابن عباس ﷺ له یو سړې راغلو او وې وئیل چه څه په دریو ورځو کښې قرآن پاك ختموم. حضرت ابن عباس ﷺ په جواب کښې اوفرمائیل «لان اقرا القرة ارتلها فاتدبرها خیر من ان اقرأ کما تقول» یعنی د پوره قرآن کریم (بغیر د سوچ فکر) نه وئیلو کښې دا څه بهتر گرم صرف سورة بقره اووایم په ترتیل او غور و فکر سره اووایم. (۲)
لیکن حقیقت دادې چه په مزه وئیلو او تیز وئیلو دواړو کښې د هر یو دپاره د فضیلت یو اړخ دې. دداسې سړو په حق کښې په مزه وئیل افضل دی چه د قرآن کریم په معنو باندې پوهیږی او چه هغوی ته په مزه مزه وئیلو کښې حلاوت محسوسیږی او په تلاوت کښې زړه بنه لگی. خو څه خلق داسې وی چه هغوی ته په مزه مزه وئیلو کښې خو استحضار وی ، په تیزه وینا کښې هغوی خائې په خائې انخلی نو د هغوی دپاره تیز وئیل افضل دی. په دې شرط د مخارجو لحاظ به ساتی او یو حرف د بل حرف په وجه مخفی او پټ نه وی. (۳)

۴۷۵۶: حَدَّثَنَا أَبُو النُّعْمَانِ حَدَّثَنَا مَهْدِيُّ بْنُ مَيْمُونٍ حَدَّثَنَا وَاصِلٌ عَنْ أَبِي وَائِلٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ غَدَوْنَا عَلَى عَبْدِ اللَّهِ فَقَالَ رَجُلٌ قَرَأْتُ الْمُفَصَّلَ الْبَارِحَةَ فَقَالَ هَذًّا كَهَذِّ الشِّعْرِ إِنَّا

۱) فتح الباری : ۹/۱۰۹)
۲) فتح الباری : ۹/۱۱۰).
۳) فتح الباری : ۹/۱۱۰).

قَدْ سَمِعْنَا الْقِرَاءَةَ وَإِنِّي لَأَحْفَظُ الْقُرَنَاءَ الَّتِي كَانَ يَقْرَأُ بِهِنَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَمَانِيَ عَشْرَةَ سُورَةً مِنَ الْمُفَصَّلِ وَسُورَتَيْنِ مِنْ آلِ حم (ر: ۷۴۰).

په دې روايت باندې يو اشکال خو دادې چه ذکر شوې روايت د اعمش په طريقې سره په «باب تأليف القرآن» کښې تير شوې دې. په هغه ځائې کښې «عشرين سورة من اول المفصل آخرهن من الحاميم حم الدخان و عم يتساءلون» ونيلې شوې دی. يعنی هغه ځائې کښې د مفصل شل سورتونه اوپه دې ځائې کښې دمفصل اتلس سورتونه ذکر کړی دی. په هغه ځائې کښې سورة دخان پهمفصل کښې شمار کړې شوې دې او په دې ځائې کښې نه دې شمار کړې شوې.

ددې جواب دادې چه په هغه ځائې کښې «عشرين» تغليبا ونيلې شوی وو، سورة دخان او دې سره متصل چه کوم سورة په مصحف ابن مسعود کښې وو هغه مفصل کښې شامل نه دې ليکن تغليبا دا دواړه هم ورسره شامل کړې شو او ورته عشرين اوونيلې شو. (۱)

دويم اشکال داکيږی چه د «سورتين من آل حم» نه معلوميږی چه دې شلو سورتونو کښې حواميم نه دوه سوتونه داخل دی. حالانکه ټول روايات په دې متفق دی چه په دې شلو سورتونو کښې صرف سورة دخان شامل وو، باقی د حم هيڅ يو سورت شامل نه وو.

حافظ ابن حجر رحمه الله اوفرمائيل چه په دې کښې لفظ د «احدهما» محذوف دې او اصل عبارت دې «وسورتين احدهما من آل حاميم» (۲)

او داهم ممکن دی چه ددې نه سورة جاثية او دخان مراد وی. او ددې دواړو په شروع کښې «حم» دې. د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه مصحف د مصحف عثمانی نه مختلف وو. په دې کښې سورة جاثية مقدم او سورة دخان موخر دې. د مفصل شروع د سورة جاثية نه ده. علامه قسطلانی ليکی چه:

«يحتمل أن يكون تاليف مصحف ابن مسعود على خلاف تاليف مصحف غيره، فيكون اول المفصل عند ابن مسعود اول الجاثية، والدخان متاخرة فى ترتيبه من الجاثية» (۳)

هذا كهذ الشعر: هذا مفعول مطلق دې. أی هذ ذت هذا كهذا الشعر

۴۷۵۷: حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنْ مُوسَى بْنِ أَبِي عَائِشَةَ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا فِي قَوْلِهِ لَا تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهِ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا نَزَلَ جِبْرِيلُ بِالْوَحْيِ وَكَانَ مِمَّا يُحَرِّكُ بِهِ لِسَانَهُ وَشَفَتَيْهِ فَيَشْتَدُّ عَلَيْهِ وَكَانَ يُعْرَفُ مِنْهُ فَأَنْزَلَ اللَّهُ الْآيَةَ الَّتِي فِي لَا أُقْسِمُ بِيَوْمِ الْقِيَامَةِ لَا تُحَرِّكْ بِهِ

---

۱) فتح الباری: ۹/ ۱۱۰).
۲) فتح الباری، کتاب الصلوة باب الجمع بين السورتين فی الرکعة: ۲/ ۲۵۹)
۳) ارشاد الساری: ۱۱/ ۳۱۶).

لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهِ اِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُ فَاِنَّ عَلَيْنَا اَنْ نَجْمَعَهُ فِي صَدْرِكَ وَقُرْاٰنَهُ فَاِذَا قَرَاْنَاهُ فَاتَّبِعْ قُرْاٰنَهُ فَاِذَا اَنْزَلْنَاهُ فَاسْتَمِعْ ثُمَّ اِنَّ عَلَيْنَا بَيَانَهُ قَالَ اِنَّ عَلَيْنَا اَنْ نُبَيِّنَهُ بِلِسَانِكَ قَالَ وَكَانَ اِذَا اَتَاهُ جِبْرِيلُ اَطْرَقَ فَاِذَا ذَهَبَ قَرَاَهُ كَمَا وَعَدَهُ اللّٰهُ (ر:٥).

٢٩- بَابُ مَدِّ الْقِرَاءَةِ

٤٧٥٨/٤٧٥٩: حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ اِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا جَرِيرُ بْنُ حَازِمٍ الْاَزْدِيُّ حَدَّثَنَا قَتَادَةُ قَالَ سَاَلْتُ اَنَسَ بْنَ مَالِكٍ عَنْ قِرَاءَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ كَانَ يَمُدُّ مَدًّا

٤٧٥٩: حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَاصِمٍ حَدَّثَنَا هَمَّامٌ عَنْ قَتَادَةَ قَالَ سُئِلَ اَنَسٌ كَيْفَ كَانَتْ قِرَاءَةُ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ كَانَتْ مَدًّا ثُمَّ قَرَاَ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ يَمُدُّ بِبِسْمِ اللّٰهِ وَيَمُدُّ بِالرَّحْمٰنِ وَيَمُدُّ بِالرَّحِيمِ

په دې خائې کښې داوئيل غواړی چه قرآت کښې د مد رعايت ډير ضروری دې. په دې خائې کښې د مد نه مراد مد اصلی دې يعنی هغه حرف چه دهغې نه پس الف ، واو، يا ياء وی. (١)

حضور ﷺ به په «بسم الله» کښې مد فرمائيلو او «الرحمان، الرحيم» کښې هم يعنی «بسم الله» او د «الرحمان، الرحيم» الف او د «الرحيم» ياء به ئې واضحه کوله او وئيله.

٣٠- بَابُ التَّرْجِيعِ

٤٧٦٠: حَدَّثَنَا اٰدَمُ بْنُ اَبِي اِيَاسٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ حَدَّثَنَا اَبُو اِيَاسٍ قَالَ سَمِعْتُ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ مُغَفَّلٍ قَالَ رَاَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَاُ وَهُوَ عَلٰى نَاقَتِهِ اَوْ جَمَلِهِ وَهِيَ تَسِيرُ بِهِ وَهُوَ يَقْرَاُ سُورَةَ الْفَتْحِ اَوْ مِنْ سُورَةِ الْفَتْحِ قِرَاءَةً لَيِّنَةً يَقْرَاُ وَهُوَ يُرَجِّعُ (ر:٤٠٣١).

د مکې د فتحې په وخت کښې حضرت رسول کريم ﷺ سورة فتح لوستله او ترجيع ئې کوله. د ترجيع معنی داده چه د قرآن پاك د تلاوت په وخت کښې په آواز کښې امتداد او تيزوالې او روالې اوموندې شی، چه ددې کيفيت د بخاری شريف په کتاب التوحيد کښې په يو روايت کښې د حضرت معاويه بن قره نه داشان منقول دې «ءآ ، ءآ، ءآ» (د همزه مفتوحه نه پس آواز اوږدول) . (٢)

چونکه حضرت نبی کريم ﷺ په اوښ باندې سور وو ددې و جې د حرکت په وجه ددوی ﷺ په آواز کښې تيز والې او رووالې وو. بعضو وئيلی دی چه د ترجيع نه تحسين التلاوة مراد ده. (٣) ددې څه تفصيل په کتاب المغازی کښې تير شوې دې . (٤)

---

١) فتح الباری ١١٢/٩).
٢) صحيح البخاری ، کتاب التوحيد ، باب ذکر النبی ﷺ و رواية عن ربه : ١١٢٥/٢).
٣) فتح الباری : ١١٣/٩).
٤) كشف الباری ، کتاب المغازی : ٥١٠)

۳۱_ بَابُ حُسْنِ الصَّوْتِ بِالْقِرَاءَةِ لِلْقُرْآنِ

د امام بخاری رحمه الله مقصد دادې چه قرآن مجيد په ښکلی آواز سره وئيل پکار دی. د قرآت په وخت کښې د تحصين صوت اهتمام کول مستحب دی. او غالباً امام بخاری رحمه الله د حضرت براء بن عازب رضي الله عنه حديث طرف ته اشاره کړې ده، چه په دې کښې فرمائيلې شوی دی چه «زينوا القرآن باصواتكم» امام احمد او ابو داود او نسائی او امام ابن ماجه ددې تخريج کړې دې. (۱)

علامه نووی رحمه الله په «التبيان فى اداب حملة القران» کښې نقل کړی دی چه په دې خبره باندې اجماع ده چه دقرآن پاك په تلاوت کښې دې دحسن صوت اهتمام اوکړې شی. ليکن د تحسين صوت په رعايت کښې دې په مخارجوباندې دې څه اثر اونه غورزولې شی. داسې تحسين صوت چه په هغې کښې داظهار و اخفاء وغيره لحاظ اونه ساتلې شی. علامه نووی رحمه الله دې ته ناجائزه وئيلی دی. (۲)

علامه ابن قيم رحمه الله ليکلی دی چه ډير قراء د تلاوت کولو په وخت کښې تکليف کوی. او ددوی قراء ت د غنا شکل اختياروی. دا ډير زيات خراب او مکروه دی. البته که تکليف نه وی او د قرآت د حدودو او احکامو رعايت وی نو بيا په تحسين صوت او تطريب کښې څه حرج نشته دې. (۳)

۴۷۶۱: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ خَلَفٍ أَبُو بَكْرٍ حَدَّثَنَا أَبُو يَحْيَى الْحِمَّانِيُّ حَدَّثَنَا بُرَيْدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي بُرْدَةَ عَنْ جَدِّهِ أَبِي بُرْدَةَ عَنْ أَبِي مُوسَى رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَهُ يَا أَبَا مُوسَى لَقَدْ أُوتِيتَ مِزْمَارًا مِنْ مَزَامِيرِ آلِ دَاوُدَ

دمحمد بن خلف کنيت ابوبکر دې. دوی د بغداد اوسيدونکی دی او قاری دی. دامام بخاری رحمه الله په صغار شيوخ کښې دې. د امام بخاری رحمه الله د وفات نه پس پنځه کاله پورې ژوندي وو. ددوی شيخ ابوحمانی دې. د هغوی نوم عبدالحميد بن عبدالرحمان دې، د کوفې اوسيدونکې دې. په صحيح بخاری کښې ددې دواړو صرف هم دا يو حديث دې. (۴)

قوله: لَقَدْ أُوتِيتَ مِزْمَارًا مِنْ مَزَامِيرِ آلِ دَاوُدَ: «ال داود» کښې لفظ د «ال» زائد دې، مراد پخپله حضرت داود عليه السلام دې، څکه چه دهغوی آواز ډير خوږ وو. دهغوی په اولاد او خپلو کښې هيچا ته دا صفت نه وو ورکړې شوې. «مزمار» ديو آلې نوم دې ليکن مراد ددې نه خوش آوازی ده. (۵) حضرت ابوموسی رضي الله عنه ډير خوش آوازه وو.

---

۱) اخرجه ابوداود رقم (۱۴۶۸) فی الصلوة، باب استحباب الترتيل فی القرأن، والنسائی (۱۷۹/۲، ۱۸۰) فی الصلوة، باب تزين القرأن بالصلوة، واحمد (۲۸۳/۴، ۲۹۶، ۳۰۴) و ابن ماجه رقم (۱۳۴۲).
۲) شرح مسلم للنووی: کتاب فضائل القران، باب تحسين باالقران: ۱۳۴۲/۱)
۳) راجع للفصيل زاق المعاد، فصل فی هديه صلی الله عليه وسلم فی قراه باالقران: ۴۸۴/۱-۴۹۳).
۴) فتح الباری: ۱۱۴/۹).
۵) فتح الباری: ۱۱۵/۹).

۳۲_ بَابُ مَنْ أَحَبَّ أَنْ يَسْمَعَ الْقُرْآنَ مِنْ غَيْرِهِ

۴۷۶۳: حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصِ بْنِ غِيَاثٍ حَدَّثَنَا أَبِي عَنِ الأَعْمَشِ قَالَ حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ عَنْ عَبِيدَةَ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ لِي النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اقْرَأْ عَلَيَّ الْقُرْآنَ قُلْتُ أَقْرَأُ عَلَيْكَ وَعَلَيْكَ أُنْزِلَ قَالَ إِنِّي أُحِبُّ أَنْ أَسْمَعَهُ مِنْ غَيْرِي [ر: ۴۳۰۶]

مطلب دادې چه که څوك سړې د بل چا نه قرآن پاك آوريدل غواړى نو په سنتوكښې ددې اصل موجود دې. بعضې وختونو كښې قرآن پاك لوستلو ته د سړى زړه نه كيږى بلكه دنورو نه آوريدو ته ئې زيات زړه كيږى ،ددې باب نه ددې ثبوت مقصود دې.

۳۳_ بَابُ قَوْلِ الْمُقْرِءِ لِلْقَارِءِ حَسْبُكَ

۴۸۶۳: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنِ الأَعْمَشِ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنْ عَبِيدَةَ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ لِي النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اقْرَأْ عَلَيَّ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَقْرَأُ عَلَيْكَ وَعَلَيْكَ أُنْزِلَ قَالَ نَعَمْ فَقَرَأْتُ سُورَةَ النِّسَاءِ حَتَّى أَتَيْتُ إِلَى هٰذِهِ الآيَةِ فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ بِشَهِيدٍ وَجِئْنَا بِكَ عَلَى هٰؤُلَاءِ شَهِيدًا قَالَ حَسْبُكَ الآنَ فَالْتَفَتُّ إِلَيْهِ فَإِذَا عَيْنَاهُ تَذْرِفَانِ (۴۳۰۶).

امام بخارى رحمه الله دا وئيل غواړى چه بعضې وخت كښې استاد شاګرد ته وائى چه ؟ بس كړه ‘ نو دده دا وينا منع من الخير كښې داخل نه ده ،په سنت كښې ددې اصل موجوق دې چه داسې وئيلې شى.

۳۴_ بَابُ فِي كَمْ يُقْرَأُ الْقُرْآنُ

وَقَوْلِ اللّٰهِ تَعَالَى: فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنْهُ (المزمل:۲۰)

ختم قرآن دې په څومره موده كښې اوكړې شى: قرآن مجيد په څومره موده كښې ختمول پكار دى . په دې كښې دحضرات علماء كرام اختلاف دې.

① امام احمد بن حنبل او ابوعبيد قاسم بن سلام فرمائى چه ددريو ورځو نه كمه موده كښې قرآن پاك ختمول پكار دى. (۱) ابوعبيده قاسم بن سلام د حضرت معاذ بن جبل متعلق روايت نقل كړې دې چه هغه به د دريو ورځو نه په كمه موده كښې قرآن پاك ختمول مكروه گنړل (فضائل القران، باب القارى يقرأ القران من سبع ليال الى ثلاث : ۸۹)

دهغوى استدلال دحضرت عبدالله بن عمرو بن العاص روايت دې چه دا ترمذى او ابو داود نقل كړې دې. ((لم يفقه القران من قرأ القران ان فى أقل من ثلاث)) (۲)

---

۱) فتح البارى : ۱۱۹/۹_

۲) الحديث اخرجه الترمذى فى سننه ، فى كتاب القرأات : ۱۹۷/۵، رقم الحديث : ۲۹۴۹ واخرجه ابوداود، باب فى كم يقرأ القرأن : ۵۴/۳ ، رقم الحديث : ۳۹۰، واخرجه ايصال الدارمى ، باب ختم القرأن : ۵۶۲/۲، رقم الحديث : ۳۴۸۷)

بعضو ظاهریه ددې روایت په پیش نظر د دریو ورځو نه په کمه موده کښې دقرآن پاك ختمولو ته حرام وئیلی دی.(۱)

② لیکن د جمهور علماء کرامو ائې داده چه په دې کښې د شریعت د طرف نه دڅه وخت تحدید او تعیین نشته . (۲)

دهغه دقاری قوت او تازګئ باندې ده ، که یو سړې ددریوورځو نه په کمه موده کښې قران پاك په تازګئ سره ختمولې شی او هغه دحرفونو په ادا کولوکښې دتجوید د اصولو رعایت سره تلاوت جاری ساتلې شی نوپه کښې څه حرج نشته. (۳)

په اسلافوکښې ډیر حضرات داسې تیر شوی دی چه هغوی به په شپه ورځ کښې یو (ختم) کولو، دصوفی ابن الکاتب باره کښېمشهوردی چههغوی به څلور ختمونه په ورځ کښې او څلور په شپه کښې یعنی شواروزکښې به ئې اته ختمونه کول. (۴)

علامه قسطلانی لیکلی دی چه په ۸۷۶ هجرئی کښې په قدس شریف کښې یو سړې ما اوکتلو، دده کنیت ابوطاهر وو او هغه دشیخ شهاب الدین بن رسلان دملګرو نه وو. دده په باره کښې ماته اووئیلې شو چه هغوی په شپه ورځ کښې پنځلس ختمونه کول. (۵)

حضرت عثمان، تمیم داری ، سعید بن جبیر په باره کښې لیکلی دیچه دا حضراتو به په یو رکعت کښې پورا قرآن پاك ختمولو.(۶)

حضرت شیخ الحدیث مولانا زکریا رحمه الله به هم په رمضان کښې شپه ورځ کښې دیو ختم کولو معمول وو. (۷)

امام ابوحنیفه رحمه الله نه منقول دی چه کوم سړې په کال کښې دوه ځله قرآن پاك ختموی‌نو هغه دقرآن پاك حق ادا کولو والا دې ، ځکه چه حضور صلی الله علیه وسلم د وفات په کال حضرت جبریل علیه السلام سره دود ځله قرآن پاك ختم کړې وو. (۸)

اسحاق بن راهویه‌او امام احمد بن حنبل نه نقل شوی دی چه سړې دې کم از کم په څلویښتو ورځو کښې یو ځل قرآن پاك ختم کړی‌یعنی روزانه دې پاؤ کم یو پاره لولی.(۹)

---

۱ فتح الباری : ۱۲۰/۹)
۲ (فتح الباری : ۱۲۰/۹)
۳ (فتح الباری : ۱۲۰/۹)
٤ (شرح الطیبی : ۲۸۱/٤ ، وارشاق الساری : ۳۲۵/۱۱).
۵) ارشادالساری : ۳۲۵/۱۱).
۶) ارشادالساری : ۳۲۵/۱۱).
۷) اوګورئ آپ بیتی.
۸) الابواب والترجم : ۶۳/۲).
۹) فتح الباری : ۹/ ، وفی کنز الدقائق : ولحافظ القرأن ان یختم کل اربعین یوما" لان المقصود من قرأة القران فهم معانیه والاعتبار بما فیه لا مجرد التلاوة قال الله تعالی : افلا یتدبرون القرأن ام علی قلوب اقفالها" وذالک یحصل باالثانی لا باالتوانی فی المعانی . فقد الختم اقله اربعون یوما کل یوما حزب و نصف او ثلثا حزب او اقل (البحر الرائق شرح کنز الدقائق . مسائل شتی : ۴۸۲/۸)

په دې خائې كښې د باب په آخرى روايت كښې حضور ﷺ حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص ته اوفرمائيل «اقرأه في سبع ولا تزد على ذالك» يعنى په اوو ورځوكښې ختموه. ملا علي قاري ليكلي دى چه په اووه ورځوكښې ختم داكثرو صحابه كرامو ﷺ معمول وو .دقرآن پاك اووه احزاب دى. ددې اوو احزابو ترتيب حضرت على ﷺ منسوب دى. يو قول «فمي بشوق» كښې داشان وارد دى چه د فاءنه«فاتحة»ميم نه «مائدة» يا نه«يونس» باء نه«بنى اسرائيل»شين نه «شعراء» ،واؤ نه «والصافات» او د قاف نه «سورة ق»طرف ته اشاره ده.(۱)
داشان قرآن كريم په اوو ابوابوكښې دې تقسيم كړې شى او يو باب دې روزانه اولوستلې شى نو په هفته كښې به د قرآن پاك ختم مكمل كړې شى.

امام بخارى ﷺ په ترجمة الباب كښې د «فاقروا ما تيسر منه» آيت نقل كړې دې او دې طرف ته ئې اشاره كوى چه په دې كښې هيڅ تحديد نشته دې ، چه څومره سهولت سره كيديشي نوسړې دې هغه هومره قرآت كوى.

۴۷۶۳: حَدَّثَنَا عَلِيٌّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ لِي ابْنُ شُبْرُمَةَ نَظَرْتُ كَمْ يَكْفِي الرَّجُلَ مِنْ الْقُرْآنِ فَلَمْ اجِدْ سُورَةً اقَلَّ مِنْ ثَلَاثِ ايَاتٍ فَقُلْتُ لَا يَنْبَغِي لِاحَدٍ انْ يَقْرَا اقَلَّ مِنْ ثَلَاثِ ايَاتٍ قَالَ عَلِيٌّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ اخْبَرَنَا مَنْصُورٌ عَنْ ابْرَاهِيمَ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَزِيدَ اخْبَرَهُ عَلْقَمَةُ عَنْ ابِي مَسْعُودٍ وَلَقِيتُهُ وَهُوَ يَطُوفُ بِالْبَيْتِ فَذَكَرَ قَوْلَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انَّهُ مَنْ قَرَا بِالْآيَتَيْنِ مِنْ اخِرِ سُورَةِ الْبَقَرَةِ فِي لَيْلَةٍ كَفَتَاهُ (ر:۳۷۸۶).

عبدالله بن شبرمه دكوفې قاضى وو ، فقيه وو ،په تابعينوكښې دهغوى شماركيږى،امام احمد ،ابو حاتم اونسائى ددې توثيق كړې دې. ابن حبان په كتاب الثقات كښې ددوى ذكر كړې دې، امام بخارى ﷺ ددوى روايات استشهاداذكر كوى او په كتاب الادب كښې ددوى يو روايت هم ذكر كوى. امام ترمذى نه علاوه باقى اصحاب سته ددوى نه روايات اخستى دى. په كال ۱۴۴ هجرئى كښې دوى وفات شو.(۲)

هغوى فرمائى چه ما غور اوكړو دسړى دپاره(په مونځ ما شپه ورځ كښې)
دقرآن پاك چه څومره حصه كافى كيدل پكار دى نو ما اوكتل چه د قرآن پاك هيڅ يو سورة د دريو آيتونونه كم نه دې ، ددې وجې ما اووئيل چه ديو سړى دپاره مناسب نه دى چه هغه (په مونځ كښې) درې آياتونو نه كم اولولى.
قال على .... دا ما قبل سند سره متصل دې ، تعليق نه دې ،داحديث تيرشوې دې.

۴۷۶۵/۴۷۶۶ :حَدَّثَنَا مُوسَى حَدَّثَنَا ابُو عَوَانَةَ عَنْ مُغِيرَةَ عَنْ مُجَاهِدٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ انْكَحَنِي ابِي امْرَاةً ذَاتَ حَسَبٍ فَكَانَ يَتَعَاهَدُ كَنَّتَهُ فَيَسْالُهَا عَنْ بَعْلِهَا فَتَقُولُ نِعْمَ

---

۱) مرقاه شرح مشكوه : ۵/ ۱۰) .
۲) ددې ذكر شوى تفصيل دپاره اوګورئ تهذيب الكمال : ۱۵/ ۷۶ ، رقم الترجمه : ۳۳۲۸ و عمده القاري: ۲۰ /۵۷)

الرَّجُلِ مِنْ رَجُلٍ لَمْ يَطَأْ لَنَا فِرَاشًا وَلَمْ يُفَتِّشْ لَنَا كَنَفًا مُنْذُ اَتَيْنَاهُ فَلَمَّا طَالَ ذٰلِكَ عَلَيْهِ ذَكَرَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ الْقَنِي بِهِ فَلَقِيتُهُ بَعْدُ فَقَالَ كَيْفَ تَصُومُ قَالَ كُلَّ يَوْمٍ قَالَ وَكَيْفَ تَخْتِمُ قَالَ كُلَّ لَيْلَةٍ قَالَ صُمْ فِي كُلِّ شَهْرٍ ثَلَاثَةً وَاقْرَأِ الْقُرْاٰنَ فِي كُلِّ شَهْرٍ قَالَ قُلْتُ اُطِيقُ اَكْثَرَ مِنْ ذٰلِكَ قَالَ صُمْ ثَلَاثَةَ اَيَّامٍ فِي الْجُمُعَةِ قُلْتُ اُطِيقُ اَكْثَرَ مِنْ ذٰلِكَ قَالَ اَفْطِرْ يَوْمَيْنِ وَصُمْ يَوْمًا قَالَ قُلْتُ اُطِيقُ اَكْثَرَ مِنْ ذٰلِكَ قَالَ صُمْ اَفْضَلَ الصَّوْمِ صَوْمَ دَاوُدَ صِيَامَ يَوْمٍ وَاِفْطَارَ يَوْمٍ وَاقْرَأْ فِي كُلِّ سَبْعِ لَيَالٍ مَرَّةً فَلَيْتَنِي قَبِلْتُ رُخْصَةَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَذَاكَ اَنِّي كَبِرْتُ وَضَعُفْتُ فَكَانَ يَقْرَأُ عَلَى بَعْضِ اَهْلِهِ السُّبْعَ مِنَ الْقُرْاٰنِ بِالنَّهَارِ وَالَّذِي يَقْرَؤُهُ يَعْرِضُهُ مِنَ النَّهَارِ لِيَكُونَ اَخَفَّ عَلَيْهِ بِاللَّيْلِ وَاِذَا اَرَادَ اَنْ يَتَقَوّٰى اَفْطَرَ اَيَّامًا وَاَحْصٰى وَصَامَ مِثْلَهُنَّ كَرَاهِيَةَ اَنْ يَتْرُكَ شَيْئًا فَارَقَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْهِ قَالَ اَبُوعَبْدِاللّٰهِ وَقَالَ بَعْضُهُمْ فِي ثَلَاثٍ وَفِي خَمْسٍ وَاَكْثَرُهُمْ عَلَى سَبْعٍ

مخکښې چه کوم روایت نقل شوې دې ، په هغې کښې دحضور نبی کریم ﷺ ارشاد نقل کړې شوې دې چه حضور علیہ السلام حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص ته اوفرمائیل چه((اقرأه فی کل سبع لیال مرة))امام ابوعبدالله بخاری فرمائی چه بعضو راویانو((سبع)) په ځائې((اقرأه فی کل ثلاث))اوبعضو ((اقرأه فی کل خمس)) نقل کړې دې.لیکن اکثرو راویانو((سبع))نقل کړې دې.نوهم ددې باب په آخری روایت کښې دی((فاقرأه فی سبع ولاتزد علی ذالك)).

٤٧٦٦ : حَدَّثَنَا سَعْدُ بْنُ حَفْصٍ حَدَّثَنَا شَيْبَانُ عَنْ يَحْيٰى عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِالرَّحْمٰنِ عَنْ اَبِي سَلَمَةَ عَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ لِي النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي كَمْ تَقْرَأُ الْقُرْاٰنَ حَدَّثَنِي اِسْحَاقُ اَخْبَرَنَا عُبَيْدُ اللّٰهِ بْنُ مُوسٰى عَنْ شَيْبَانَ عَنْ يَحْيٰى عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ مَوْلٰى بَنِي زُهْرَةَ عَنْ اَبِي سَلَمَةَ قَالَ وَاَحْسِبُنِي قَالَ سَمِعْتُ اَنَا مِنْ اَبِي سَلَمَةَ عَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اقْرَأِ الْقُرْاٰنَ فِي شَهْرٍ قُلْتُ اِنِّي اَجِدُ قُوَّةً حَتّٰى قَالَ فَاقْرَأْهُ فِي سَبْعٍ وَلَا تَزِدْ عَلٰى ذٰلِكَ [ر:١٠٧٩]

قوله: عن ابی سلمة قال:واحسبنی قال : سمعت أنا من أبی سلمة: دا د یحیی بن ابی کثیر قول دې،مخکښې سند کښې د یحیی شیخ محمد بن عبد الرحمان دې اومحمد بن عبدالرحمان شیخ ابوسلمه دې نو یحیی د ابوسلمه نه د محمد بن عبدالرحمانه نه نقل کوی ، لیکن دوی ته په دې کښې تامل دې.نوهغوی اوفرمائیل چه ځما خیال دادې چه ما دا حدیث نیغ په نیغه د ابوسلمه نه پخپله آورېدلې دې یعنی د محمد بن عبدالرحمان واسطه نشته . (١)

١) عمدة القاری : ٢/ ٦٠ ، وفتح الباری : ٩/ ١٢٠).

۳۵_ بَابُ الْبُكَاءِ عِنْدَ قِرَاءَةِ الْقُرْآنِ

مطلب دادې چهٔ دقرآن كريم دتلاوت په وخت ژړا ثابت ده .امام نووى رحمه الله فرمائيلى دى چه دقرآن پاك دقراءت په وخت كښې ژړل د عارفانو صفت دې او دصالحانو شعار دې.(۱) امام غزالى رحمه الله فرمائى چه دقرآن پاك د تلاوت په وخت كښې ژړل مستحب دى. (۲)

ددې طريقه داده چه د قرآن پاك د بيان شوى وعيد اوتهديد او وعدې اود ترغيب استحضار اوكړنې اوپه خپل غفلت باندې نظر واچولې شي.نوداشان به زړه غمگمين شي.ا وكه بيا هم ژړا رانشى نود ژړاكوونكى كيفيت جوړول پكار دى.

امام ابن ماجه دحضرت سعد بن ابى وقاص رضى الله عنه نه روايت كړې دې چه حضور اكرم صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل «ان هذا القرآن نزل بحزن فاذا قرأتموه فابكوا، فان لم تبكوا فتباكوا». (۳)

۴۷۶۸/۴۷۶۹ : حَدَّثَنَا صَدَقَةُ أَخْبَرَنَا يَحْيَى عَنْ سُفْيَانَ عَنْ سُلَيْمَانَ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنْ عَبِيدَةَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ يَحْيَى بَعْضُ الْحَدِيثِ عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ قَالَ لِي النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ عَنْ يَحْيَى عَنْ سُفْيَانَ عَنِ الْأَعْمَشِ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنْ عَبِيدَةَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ الْأَعْمَشُ وَبَعْضُ الْحَدِيثِ حَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ مُرَّةَ عَنْ إِبْرَاهِيمَ وَعَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي الضُّحَى عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اقْرَأْ عَلَيَّ قَالَ قُلْتُ أَقْرَأُ عَلَيْكَ وَعَلَيْكَ أُنْزِلَ قَالَ إِنِّي أَشْتَهِي أَنْ أَسْمَعَهُ مِنْ غَيْرِي قَالَ فَقَرَأْتُ النِّسَاءَ حَتَّى إِذَا بَلَغْتُ فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ بِشَهِيدٍ وَجِئْنَا بِكَ عَلَى هَؤُلَاءِ شَهِيدًا قَالَ لِي كُفَّ أَوْ أَمْسِكْ فَرَأَيْتُ عَيْنَيْهِ تَذْرِفَانِ

امام بخارى رحمه الله داحديث د دوؤ حضراتونه نقل كړې دې، يو د شيخ،دده صدقة بن الفضل مروزى دې او دويم شيخ مسدد دې.د صدقة بن الفضل مروزى دطريقې متن امام په تفسير كښې ذكر كړې دې. په دې‌ځاى كښې‌چه كوم متن دحديث دې دا دمسدد د طريقې دې.(۴)

دصدقة بن الفضل په طريق كښې يحيى القطان فرمائى «قال يحيى : بعض الحديث عن عمرو بن مرة» يعنى د حديث بعضې حصه سليمان‌اعمش د عمرو بن مرو نه نقل كړې ده.دسليمان شيخ ابراهيم نخعى دې . ليكن‌دا پوره حديث هغوى د ابراهيم نخعى نه نيغ په نيغه نه دې نقل كړې ، بلكه څه حصه ئې نيغ په نيغه دهغوى نه نقل كړې ده او څه ئې دعمرو بن مره په واسطې سره د ابراهيم نخعى نه‌نقل كړې ده.نو دمسدد په طريق كښې تصريح ده.«قال

---

۱) فتح البارى : ۱۲۱/۹).

۲) فتح البارى : ۱۲۱/۹).

۳) سنن ابن ماجه كتاب اقامة الصلوة والسنة فيها، باب حسن الصوت بالقرآن ، رقم الحديث : ۱۳۳۷)فى الزوائد فى اسناده ابو رافع ، اسمه اسماعيل بن رافع ضعيف متروك).

٤) فتح البارى : ۱۲۱/۹).

الاعمش : وبعض الحديث حدثني عمرو بن مرة ، عن ابراهيم» سليمان اعمش فرمائي چه د حديث څه حصه دعمروبن مره په واسطې سره د ابراهيم نخعي نه نقل کړې ده.
حاصل دادې چه سليمان څه حصه د اعمش نه نيغ په نيغه نقل کوی او څه حصه عمرو بن مره په واسطه. حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه د «فقرأت النساء .....» نه دحديث تر آخره پورې حصه ابراهيم نه منقول ده لکه څنګه چه دباب په بل حديث کښې صرف هم دا حصه منقول ده. (۱)

قوله: وعن ابيه : عن ابي الضحى عن عبدالله: ددې عطف «عن سليمان» باندې کيږي يعنی سفيان ثوری دا روايت د اعمش نه هم نقل کوی او دخپل پلار (سعيد بن مسروقه ثوری) نه هم نقل کوی ، ليکن دده دپلار طريق منقطع دې ځکه چه ددوی پلار ابو الضحى (مسلم بن صبيح) نه نقل کوی اوابو الضحى حضرت عبدالله بن مسعود نه وو ليدلې، ددې وجې دابوالضحى روايت منقطع دې . (۲)

قوله: فرأيت عينيه تذرفان: دحضور نبی کريم ﷺ د ژړا وجه ابن بطال دا ليکلې ده چه کله حضور نبی کريم ﷺ «فكيف اذا جئنا من كل امة بشهيد» والا آيت واوريدو نو د قيامت منظر او ددې ويره ددوی ﷺ په مخکښې شوه نوددې وجې حضور ﷺ اوژړل. (۳)
حافظ ابن حجر رحمه الله اوفرمائيل چه حضور ﷺ په خپل امت باندې د شفقت کولو په وجه اوژړل ، ځکه چه امت محمديه به دخپل عمل په بناء ګواهي ورکوی او کله چه هم دده عمل صحيح نه وی چه ددې په وجې سره به ورته عذاب ورکولې شی. ددې وجې نې اوژړل. (۴)
علامه زمحشری رحمه الله فرمائي چه دا ژړا د غم او حزن په وجه نه وه بلکه دخوشحالئ او مسرت په وجه وه .مسرت ددې خبرې چه الله ﷻ امت محمديه په ټولو امتونو باندې ګواه جوړ کړو ، د خوشحالئ د وجې نه هم سړې ژاړی. شاعر وائی :

طفح السرور علي حتى انه   من فرط ما قد سرني ابكاني (۵)

ترجمه: ماباندې دمسرت داسې دوران راغلو چه د خوشحالئ دلاسه مې اوژړل.

۴۷۶۹: حَدَّثَنَا قَيْسُ بْنُ حَفْصٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنْ عَبِيدَةَ السَّلْمَانِيِّ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ لِي النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اقْرَأْ عَلَيَّ قُلْتُ أَقْرَأُ عَلَيْكَ وَعَلَيْكَ أُنْزِلَ قَالَ إِنِّي أُحِبُّ أَنْ أَسْمَعَهُ مِنْ غَيْرِي (ر:۴۳۰۶).

---

۱) فتح الباری : ۱۲۱/۹).
۲) فتح الباری : ۱۲۱/۹).
۳) فتح الباری : ۱۲۲/۹).
٤) فتح ا لباری : ۱۲۲/۹).
۵) ارشاد الساری : ۳۶۶/۱۱ - ۳۶۷).

۳۶ ـ بَابُ إِثْمِ مَنْ رَاءَى بِقِرَاءَةِ الْقُرْآنِ أَوْ تَأَكَّلَ بِهِ أَوْ فَخَرَ بِهِ

په دې خانې کښې دهغه سړي د مذمت (غندنې) بيان کول مقصود دی چه د قرآن په قرآت کښې ښودنه کوی يا دا چه هغه په دې سره دنيا کټل غواړی او ددنيا مال او متاع حاصلول مقصدوی يا دا چه هغه د فخراو غرور دپاره دقرآن پاك تلاوت کوی.«راءی ـ مراءاة» دباب مفاعله نه ده ، ښودنه کول ، په يو روايت کښې دی چه رايا ياء سره ده ، ددې هم دا معنی ده. «تأکل»د باب تفعل نه دې ، اکل طلب کول . «فخربه»فخر کول ، بعضو نسخو کښې فجربه دی. (۱)

۴۷۷۰ : حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا الأَعْمَشُ عَنْ خَيْثَمَةَ عَنْ سُوَيْدِ بْنِ غَفَلَةَ قَالَ عَلِيٌّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ يَأْتِي فِي آخِرِ الزَّمَانِ قَوْمٌ حُدَثَاءُ الأَسْنَانِ سُفَهَاءُ الأَحْلاَمِ يَقُولُونَ مِنْ خَيْرِ قَوْلِ الْبَرِيَّةِ يَمْرُقُونَ مِنَ الإِسْلاَمِ كَمَا يَمْرُقُ السَّهْمُ مِنَ الرَّمِيَّةِ لاَ يُجَاوِزُ إِيمَانُهُمْ حَنَاجِرَهُمْ فَأَيْنَمَا لَقِيتُمُوهُمْ فَاقْتُلُوهُمْ فَإِنَّ قَتْلَهُمْ أَجْرٌ لِمَنْ قَتَلَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ (ر:۳۴۱۵).

په دې کښې قلب دې .اصل عبارت دې «يقولون من قول خير البرية» يعنی هغه دخير البريه قول بيانوی.

د خير البريه نه مراد يا حضور اکرم ﷺ دې چه هغه خلق به درسول کريم ﷺ حديث بيانوی. او يا ددې نه الله ﷻ مراد دې چه هغه خلق به دقرآن پاك تلاوت کوی اوهم دا هغه بل مطلب دې چه دترجمة الباب مناسبت سره دې. (۲)

۴۷۷۱ : حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ بْنِ الْحَارِثِ التَّيْمِيِّ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ يَخْرُجُ فِيكُمْ قَوْمٌ تَحْقِرُونَ صَلاَتَكُمْ مَعَ صَلاَتِهِمْ وَصِيَامَكُمْ مَعَ صِيَامِهِمْ وَعَمَلَكُمْ مَعَ عَمَلِهِمْ وَيَقْرَءُونَ الْقُرْآنَ لاَ يُجَاوِزُ حَنَاجِرَهُمْ يَمْرُقُونَ مِنَ الدِّينِ كَمَا يَمْرُقُ السَّهْمُ مِنَ الرَّمِيَّةِ يَنْظُرُ فِي النَّصْلِ فَلاَ يَرَى شَيْئًا وَيَنْظُرُ فِي الْقِدْحِ فَلاَ يَرَى شَيْئًا وَيَنْظُرُ فِي الرِّيشِ فَلاَ يَرَى شَيْئًا وَيَتَمَارَى فِي الْفُوقِ (ر:۳۴۴۳).

حضرت ابوسعيد خدری ؓ فرمائی چه ما د حضرت رسول کريم ﷺ نه آوريدلی دی چه په تاسوکښې به يو قوم راوزی چه هغوی مقابله کښې به‌تاسو خپل مونځ ، روژه او اعمال حقير گنړئی ، هغوی به قرآن پاك لولی چه دابه دهغوی د مرئی او حلق نه لاندې نه کوزيږی ، دوی به ددين نه داسې اوزی لکه‌څنګه‌چه غشی د ښکار نه اوځی‌چه ښکاری ته نه معلوم

۱) ددې پورتنی تفصيل دپاره اوګورئ فتح الباری : ۱۲۳/۹ ، وارشاد االساری : ۱۱).

۲) ارشاد الساری : ۳۲۷/۱۱).

وي اونه ني ډنډې پورې څه لګيدلى وى اونه څه محسوس شوى وى اونه په دې څه اثر وى البته سوفار (د غشي خله) باندې څه شك وى.

((نصل: حديد السهم)) يعنى پيكان. ((قدح)) (بكسر القاف) غشي: پيكان او دريش په مينځ كښې ډنډا. ((يتمارى)) شك كول. ((فوق)) سوفار ، دغشي خله . (١)

مطلب دادې چه څنګه هغه غشي: د ښكار نه صفا اوځى و داشان په دې خلقو باندې هم داسلام هيڅ اثر به نه كيږى.

حديث كښې چه كوم قوم ذكر شوي دې ، ددې نه خوارج مراد دى ، ددې حديث متعلق تفصيلى بحث مخكښې په كتاب المحاربين په باب قتال الخوارج كښې راځى.

په دې ذكر شوؤ دوؤ احاديثونه د ترجمة الباب جزء ((او فجربه)) ثابتيږى . ځكه چه په دې د كوم قوم ذكر دې هغوى خو به قرآن پاك لولى ليكن ددې نه باوجود فسق وفجور نه بهخالى نه وى (٢)

٤٧٧٢: حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ شُعْبَةَ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ عَنْ أَبِي مُوسَى عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْمُؤْمِنُ الَّذِي يَقْرَأُ الْقُرْآنَ وَيَعْمَلُ بِهِ كَالْأُتْرُجَّةِ طَعْمُهَا طَيِّبٌ وَرِيحُهَا طَيِّبٌ وَالْمُؤْمِنُ الَّذِي لَا يَقْرَأُ الْقُرْآنَ وَيَعْمَلُ بِهِ كَالتَّمْرَةِ طَعْمُهَا طَيِّبٌ وَلَا رِيحَ لَهَا وَمَثَلُ الْمُنَافِقِ الَّذِي يَقْرَأُ الْقُرْآنَ كَالرَّيْحَانَةِ رِيحُهَا طَيِّبٌ وَطَعْمُهَا مُرٌّ وَمَثَلُ الْمُنَافِقِ الَّذِي لَا يَقْرَأُ الْقُرْآنَ كَالْحَنْظَلَةِ طَعْمُهَا مُرٌّ أَوْ خَبِيثٌ وَرِيحُهَا مُرٌّ (٤٧٣٢).

دا روايت په ((باب فضل القرآن على سائر الكلام)) كښې تير شوي دې ، هغه ځائې كښې الفاظ وو ((ولا ريح لها)) او په دې ځائې كښې الفاظ دى ((وريحها مر)).

علامه بدالدين زركشى رحمه الله فرمائى چه ((لا ريح لها)) والا روايت راجح دې .(٣) باندې اشكال كيږى چه په دې كښې څه دتريخ والى بوئى نشته بلكه داخو دمطعوماتو صفت دې ، په دې ځائې كښې ريح ته څنګه ((مر)) اووئيل.

ددې جواب دا وركړې شو چه حلاوت او مرارت اګر چه دمطعوماتود صفاتونه دى ليكن په دې ځائې كښې د استعارې په طور دمرارت اطلاق په ريح باندې اوكړې شو چه دحنظله دپاره د ذائقې په شان ددې بو هم ښه نه وى ، نوعلامه قسطلانى رحمه الله فرمائى چه :

((واستشكل من حيث أن المرارة من اوصاف الطعوم ، فكيف يوصف بها الريح ، وأجيب بأن ريحها لما كان كطعمها ، أستعيرله وصف المرارة)) (٤)

---

١) ارشاد السارى : ١١/٣٢٩).
٢) فتح البارى ٩/١٢٤).
٣) فتح البارى : باب فضل القران على سائر الكلام : ٩/١٢).
٤) ارشاد السارى : ١١/٣٢٩).

ترجمة الباب سره مناسبت: ددې حديث مناسبت ترجمة الباب واضحه دی ځکه چه په دې کښې قرآن پاك لوستونکی دمنافق ذکر دې اوظاهر دی چه منافق قران کريم يا خو دښودنې په طور لولي او يا دا د خوراك څکاك ذريعه جوړولو دپاره لولی . حافظ ابن حجر داحاديث او دترجمة الباب په مناسبت کښې ليکی

((فالاحاديث الثلاثة دالة لاركان الترجمة لان منهم من راياٰبه واليه الاشارة فى حديث ابى موسى ، ومنهم من تاكل به ، وهومخرج من حديثه ايضا ، ومنهم من فجربه ، وهومخرج من حديث على وابى سعيد))(۱)

۳۷_ بَابُ اقْرَءُوا الْقُرْآنَ مَا ائْتَلَفَتْ عَلَيْهِ قُلُوبُكُمْ

۴۷۷۳/۴۷۷۲ : حَدَّثَنَا أَبُو النُّعْمَانِ حَدَّثَنَا حَمَّادٌ عَنْ أَبِي عِمْرَانَ الْجَوْنِيِّ عَنْ جُنْدَبِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اقْرَءُوا الْقُرْآنَ مَا ائْتَلَفَتْ قُلُوبُكُمْ فَإِذَا اخْتَلَفْتُمْ فَقُومُوا عَنْهُ(۲)

(۴۷۷۴) : حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ حَدَّثَنَا سَلَّامُ بْنُ أَبِي مُطِيعٍ عَنْ أَبِي عِمْرَانَ الْجَوْنِيِّ عَنْ جُنْدَبٍ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اقْرَءُوا الْقُرْآنَ مَا ائْتَلَفَتْ عَلَيْهِ قُلُوبُكُمْ فَإِذَا اخْتَلَفْتُمْ فَقُومُوا عَنْهُ

دحديث په باب کښې مختلف مطالب: ددې حديث ډير مطلبونه بيان شوی دی.

① يو معنی ئې دا بيان شوې ده چه تر کومې پورې مو زړه غواړی نو دقرآن پاك تلاوت کوئی او کله چه موزړه تنګ شی نو دتلاوت سلسله موقوف کړئی ، ځکه چه بغير د زړه نه دقرآن پاك تلاوت کوی څه خوښ عمل نه دې.(۳)

② دويم مطلب دادې که يو ډله په تلاوت کښې مشغوله وی يا دقرآن پاك معنانی او علوموپه غور او فکر کښې مشغول وی نو ده دوی تر هغه وخته پورې خپل تلاوت اومذاکره جاری ساتل پکار دی چه ترکومې چه په خپلوکښې د اختلافات او يو بل سره متشابهات وغيره کښې دنزاع او ترديدسلسله شروع نشی ، که د اختلاف نوبت راشی نوبيا دې دا موقوف کړې شی. (۴)

---

۱) فتح الباری : ۱۲٤/۹)

۲ (٤۷۷۳) واخرجه البخاری ايضا متصلا بهذالحديث ، رقم الحديث : ٤۷۷٤ ، وفی کتاب الاعتصام باب کراهية الاختلاف ، رقم الحديث : ۷۳٦٤ ، ۷۳٦٥، ومسلم فی کتاب العلم ، باب النهی عن اتباع متشابه القران ، رقم الحديث : ۲٦٦۷ ، والنسائی فی کتاب فضائل القران ،باب ذکر الا ختلاف ، رقم الحديث : ۸۰۹۹، ۷۰۹۷).

۳) فی الباری : ۲۷۲/٤ ، ارشاد الساری : ۳۳۰/۱۱).

٤) فتح الباری : ۱۲٥/۹).

قاضی عیاض فرمائیلی دی چه ممکن دی چه دا حکم دحضور ﷺ د زمانې سره خاص وی ځکه چه د حضور ﷺ په زمانه کښې داشان صورت کښې د څه داسې حکم د نازلیدو امکان وو چه هغه داختلاف کوونکو دپاره د غم باعث شی ، چه څنګه دالله ﷻ قول دې چه ﴿لَا تَسْئَلُوا عَنْ اَشْيَآءَ اِنْ تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ﴾(۱)

③ اودا هم ممکن دی چه دا حدیث د اختلاف قرآت سره متعلق وی ، قرآن پاك په مختلفو لغاتوکښې دوئیلو جواز وو او په یو لغت باندې دویونکو دبل لغت ویونکو والو سره د اختلاف اندیښنه وه ،نو دې نه پس دا اختلاف زیات شو.په دې صورت کښې به د حدیث مطلب دا وی چه د قرآن پاك تلاوت خپل قرآءت مطابق تر هغه وخته پورې جاری ساتئ چه تر کومې څه اختلاف راپیښ نه شي. لیکن که څوك ستاسو په قرآءت باندې نه نکیر کوی او داختلاف صورت پیدا شی نو تلاوت بس کول پکار دی.

امام بخاری رحمه الله ددې باب په آخر کښې داختلاف قرآءت متعلق دحضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه روایت ذکر کوی او غالبًا هم دې مطلب طرف ته ئې اشاره کړې ده.(۲)

تَابَعَهُ الْحَارِثُ بْنُ عُبَيْدٍ وَسَعِيدُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ اَبِي عِمْرَانَ وَلَمْ يَرْفَعْهُ حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ وَاَبَانُ

یعنی دسلام بن ابی مطیع متابعت حارث بن عبید او سعید بن زید هم کړې دې ،چه څنګه سلام دا حدیث مرفوعًا نقل کړې دې دې دواړو هم مرفوعا نقل کړې دې.

دحارث متابعت دارمی او دسعید متابعت حسن بن سفیان موصولاً نقل کړې دې . (۳)

قوله: ولم یرفعه حماد بن سلمه و ابان: حماد بن سلمه اوابان ابن یزید عطار دا حدیث مرفوعًا نه دې نقل کړې بلکه موقوفًا ئې نقل کړې دې.حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه ماته د حماد روایت چرته هم موصولاً ملاؤ نشو.او د ابان روایت دحباب بن هلال په طریق باندې په صحیح مسلم کښې موصولاً ذکر دې.خو په هغه ځائې کښې موقوف نه دې بلکه مرفوع دې. ممکن دی چه امام بخاری رحمه الله ته څه بلې طریقې سره دهغه روایت موقوف معلوم شوې وی.(۴)

قوله: وَقَالَ غُنْدَرٌ عَنْ شُعْبَةَ عَنْ اَبِي عِمْرَانَ سَمِعْتُ جُنْدَبًا قَوْلَهُ: یعنی غندر هم داروایت موقوفًا نقل کړې دې.«سمعت جندبا قوله» یعنی دا حدیث ئې دجندب دقول په طور آوریدلې وی ، حضرت رسول الله ﷺ طرف ته ددې نسبت په دې طریق کښې نشته دې.

دغندر دا تعلیق اسماعیلی موصولاً نقل کړې دې. (۵)

---

۱) فتح الباری : ۱۲۵/۹).
۲) فتح الباری : ۱۲۵/۹).
۳) فح الباری : ۱۲۵/۹).
٤) فح الباری : ۱۲۵/۹).
۵) فتح الباری : ۱۲۵/۹).

قوله: وَقَالَ ابْنُ عَوْنٍ عَنْ أَبِي عِمْرَانَ عَنْ عَبْدِ اللّهِ بْنِ الصَّامِتِ عَنْ عُمَرَ قَوْلَهُ وَجُنْدَبٌ أَصَحُّ وَأَكْثَرُ:(٦٩٣٠ ، ٦٩٣١): يعنى عبدالله بن عون همدا روايت موقوفا نقل كړې دې . ليكن دجندب په ځائې حضرت عمر ﷺ سره داموقوفًا نقل كړې دې . ابو عبيده ﷺ دا روايت موصولاً نقل كړې دې.(١)

قوله: وجندب أصح وأكثر: يعنى دجندب روايت د سند لحاظ سره اصح او د طرق لحاظ سره كثير دې.مطلب دادې چه موقوف على جندب دې.

خلاصه دادده چه په تير شوى روايت كښې اختلاف دې چه دا موقوف دې يامرفوع دې. كه مرفوع وى نو بيا دحضرت جندب ﷺ په مسند كښې شمارلې شى اوكه‌دا موقوف وى‌نو په دې كښې دوه اقوال دى.يو دا چه‌دا موقوف‌على جندب دې او دويم دادې چه‌دا موقوف‌على عمر دې.امام بخارى ﷺ ((وجندب أصح وأكثر))وئيلو سره ئې ترجيح وركړې ده. دا خبره چه دا موقوف على جندب دې.

۴۷۷۵ : حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ مَيْسَرَةَ عَنْ النَّزَّالِ بْنِ سَبْرَةَ عَنْ عَبْدِ اللّهِ أَنَّهُ سَمِعَ رَجُلًا يَقْرَأُ آيَةً سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خِلَافَهَا فَأَخَذْتُ بِيَدِهِ فَانْطَلَقْتُ بِهِ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ كِلَاكُمَا مُحْسِنٌ فَاقْرَآ أَكْبَرُ عِلْمِي قَالَ فَإِنَّ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ اخْتَلَفُوا فَأَهْلَكُو(ر:٢٢٧٩).

قوله: انه سمع رجلا يقرأ:حافظ ابن حجر ﷺ فرمائى چه‌ممكن دى چه‌درجل نه حضرت ابى بن كعب ﷺ مراد وى .

قوله: اكبر علمي قال: داد شعبه قول دې هغه فرمائى چه‌ځما غالب گمان دادې چه حضور اكرم ﷺ دا فرمائيلى دى چه((فان من كان قبلكم اختلفو فاهلكهم)) باقى دحديث‌باره كښې خو هغه ته يقين دې ، ليكن ددې جملې متعلق هغه ته يقين نشته دې ، بلكه غالب گمان دې.

الحمدلله الذى بنعمته تتم الصالحات

وصلى الله تعالى على خيرخلقه محمد وعلى اله واصحابه اجمعين

---

١) فتح البارى : ١٢٥/٩).

كتاب النكاح

كتاب النكاح: الأحاديث (٤٧٧٦-٤٩٥٢)

په كتاب النكاح كښې امام بخارى رحمه الله يو سل شپږ ويشت (۱۲۶) بابونه قائم كړى دى په دې كښې دوه بابونه بلا ترجمه دى د كتاب النكاح د مرفوع احاديثو شمارده سوه اتلس (۲۱۸) دې په دې كښې پنځه څلويښت (۴۵) تعليقات او متابعات دى او باقى يو سل درې اتيا (۱۸۳) احاديث موصول دى په دې كښې يو سل دوه شپيته احاديث مكرر دى او شپږ شپيته (۶۶) احاديث داسې دى چه هغه امام په كتاب النكاح كښې په اول كښې ذكر كړى دى په دې كښې د دويشت (۲۲) احاديثو نه سوا باقى ټول احاديث متفق عليه دى يعنى امام مسلم رحمه الله هم هغه ذكر كړى دى د صحابو رضي الله عنهم او سلفو رحمهم الله (۳۶) آثار امام بخارى رحمه الله په كتاب النكاح كښې ذكر كړى دى په كتاب النكاح كښې امام بخارى رحمه الله د شلو بابونو نه پس د رضاعت مسئلې هم ذكر كړى دى په بعضې نسخو كښې د دې دپاره مستقل د كتاب الرضاع عنوان هم شته

٧٠_ كتاب النكاح

١=باب=الترغيب في النكاح.

لقوله تعالى ﴿فَانكِحُوا مَا طَابَ لَكُم مِّنَ النِّسَاءِ﴾ (النساء :٣)

په لغت کښې دنکاح معنی ضم هم راځي. او د وطی هم ، وطی دضم ذریعه ده ، دې نه پس د نکاح دلفظ په تزویج باندې اطلاق کوی ځکه تزویج د ((ضم بين الرجل والمراة)) سبب دې.

په دې کښې ا ختلاف دې دنکاح لفظ داصل وضع اعتبار سره عقد دپاره دې یا وطی دپاره ، په دې سلسله کښې دعلماء درې قولونه دی.

①دحضرات شوافع قول اصح ا و د حضرات مالکیه راجح مذهب دادې چه لفظ دنکاح په عقد کښې حقیقت دې او وطی کښې هم مجاز ده. (١)

②دحضرات حنفیه مسلك دادې چه لفظ دنکاح دوطی په معنی کښې حقیقت دې او په عقد کښې مجاز ، دحضرات شوافع هم دا یو روایت دې . (٢)

③دریم قول دادې لفظ دنکاح وطی او عقد دواړو دپاره على السواء استعمالیږی. او دواړو کښې بالاشتراك حقیقت دې(٣)

حنابله کښې قاضی ابویعلی هم دا اختیارکړې دې ، شوافع نه هم یو روایت هم د نقل شوې دې او حافظ ابوالقاسم زجاجی هم ددې تائید کړې دې. (٤)

نکاح باب د عبادات نه دې یا مباحات نه ؟ دې نه پس په دې کښې اختلاف دې چه نکاح آیا په باب دعبادات کښې شامل دې یا مباحات کښې ؟ حضرات حنفیه او حنابله په نیز دا په عبادات کښې شامل دی. (٥) او حضرات شوافع دا په مباحات کښې شمیری. (٦)

دمالکیه نه دواړه قولونه منقول دی. یو دا چه نکاح ((اقوات "کښې نه ده ،((قوت)) هغه څیز ته ونیلې شی چه دهغې نه بغیر ژوند تیرول مشکل وی او نکاح داسې څیز دې چه ددې نه بغیر ژوند مشکل دی ، دویم قول دادې نکاح دتفکهات دقبیل نه ده او دفواکه شان داوی که استعمال شی نو ډیره ښه ، که نه وی نو هیڅ حرج نشته. (٧)

---

١) او جز المسالک ٦٢٥/٩_ والحاوی الکبیر للماوردی ، کتاب النکاح :١١/٩).

٢) فتح الباری :١٢٨/٩_ اوجز المسالک الی موطا الامام مالک :٦٢٥/٩).

٣) اوجز المسالک :٦٢٥/٩ ، وفتح الباری : ١٢٨/٩).

٤) اوجز المسالک :٩/ ٦٢٥ وفی اصطلاح الشریعة (عقد یفید ملک المتعة قصدا کذافی در ا لمختار : ٢٥٨/٢)

٥) فتح التقدیر : ٩٨/٣).

٦) اوجز المسالک : ٢٦٦/٩_ وفتح التقدیر :١٠١/٣).

٧) فتح التقدیر: ١٠١/٣ : اوجز المسالک : ٢٦٧/٩_ المغنی لابن قدامة: ٤/٧).

تخلى للنوافل افضل دى يا نكاح ؟ بيا په دې كښې اختلاف دې چه نكاح كول سنت دى يا واجب ؟ دجمهور علماء كرام مسلك دادې چه نكاح كول سنت دى . او دداود ظاهرى رحمه الله ، علامه ابن حزم رحمه الله او امام احمد بن حنبل رحمه الله يو قول دادې چه نكاح كول واجب دى. (١)
دا اختلاف دعامو حالاتو په اعتبار سره دې ، كله چه انسان ته په زنا وغيره كښې دمبتلا كيدو ويره نه وى ، كه ددې ويره وى نو ((عندالتوقان)) بيا دټولو دپاره نكاح كول واجب دى (٢) البته حضرات شوافع په دې صورت كښې هم دوجوب قائل نه دى ، بلكه هغوى ورته صرف مستحب وائى. (٣)
چه كوم حضرات دوجوب نكاح قائل دى لكه څنګه چهد داود ظاهرى رحمه الله وغيره مذهب دې(٤)
هغوى دقران عظيم الشان آيت مبارك ﴿فَانْكِحُوْا مَا طَابَ لَكُمْ مِّنَ النِّسَآءِ﴾ نه استدلال كوى چه ((فَانْكِحُوا)) دامر صيغه ده ، داشان په حديث كښې ((تزوجوا الولود الودود فانى مكاثربكم الامم)) (٥) كښې واردشوى دى او په دې كښې هم ((تزوجو)) دامر صيغه ده. داشان په بخارى شريف كښې يو حديث رازى ، ددې په آخر كښې دى چه ((فمن رغب عن سنتى فليس منى)) ، ددې نه هم وجوب ثابتيږى.
ليكن جمهور عالمان فرمائى چه دا دلائل دوجوب دپاره كافى نه دى ، آيت كريمه چه ((فَانْكِحُوا)) دامر صيغه دې ليكن امر هر ځائې كښې دوجوب دپاره نه رازى، د آيت كريمه سياق وسباق هم په دې باندې دلالت كوى چه نكاح واجب نه ده، داشان ((تزوجوا الولود الودود)) ، كښې دامر صيغه خوده ليكن مخكښې چه په ((مكاثربكم الامم)) سره كوم علت بيان فرمائيلې دې، دې نه متبادر هم دا كيږى چه وجوب لره بيانول مقصود نه دې.
او ((من رغب عن سنتى فليس منى)) دهغه سړى دپاره بيان فرمائيلې شوى دى چه د حضرت نبى كريم دسنتو مبارك نه اعراض اوكړى، بيا هم كه يو سړې دسنت نه اعراض نه كوى او هغه نكاح صرف په دې وجه نه كوى چه ده ته دنكاح كولو ضرورت او حاجت نشته نو دا وعيد دهغه دپاره نه دې.
دشام مشهور عالم شيخ عبدالفتاح ابوغده په يو كتاب د ((العلماء العزاب الذين اثروا العلم على الزواج)) نوم سره تحرير فرمائيلى دى ، په دې كښې هغوى دهغه عالمانو مختصر حالات جمع كړى دى چه هغوى دعلمى مصروفياتو په وجه د ازواج ضرورت محسوس نه كړو .

١) تفصيل دپاره اوګورئ اوجزالمسالک: ٢٦٦/٩؛ وبدائع الصنائع : ٢٢٨/٢).
٢) اوجزالمسالک: ٢٦٦/٩).
٣) شرح مسلم للنوى : چه/٤٤٨ ، كتاب النكاح ، باب استحباب النكاح).
٤) اوجزالمسالک: ٢٦٦/٩).
٥) مجمع الزوائد: ٢٥٢/٤ ، باب الحث على النكاح وما جاء فى ذالک ، وفتح البارى: ١٣٨/٩)

اوپه دې كښې هغوى تقريبا د شپږديرشو (۳۶) عالمانو ذكر فرمائيلې دې چه په هغوى كښې ابن تيميه رحمه الله او علامه نووى رحمه الله پشان اساطين علم نومونه شامل دى. ظاهره ده چه ددې اهل علم متعلق خودا نشى وئيلې كيدې چه هغوى يو واجب عمل پريښودو.

پخپله دامام بخارى رحمه الله دصنيع اوطرزنه معلوميږى چه هغه هغوى مطلقا دنكاح دوجوب قائل نه دې ځكه د «فَانْكِحُوا» والاآيت هغوى په «باب الترغيب فى النكاح» لاندې ذكركړې دې.

دې خبرې طرفته داشارې كولو دپاره دا په وجوب باندې دال نه دې ، صرف دترغيب دپاره دې.

[۴۷۷۶] حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي مَرْيَمَ أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ أَخْبَرَنَا حُمَيْدُ بْنُ أَبِي حُمَيْدٍ الطَّوِيلُ أَنَّهُ سَمِعَ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقُولُ جَاءَ ثَلَاثَةُ رَهْطٍ إِلَى بُيُوتِ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْأَلُونَ عَنْ عِبَادَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا أُخْبِرُوا كَأَنَّهُمْ تَقَالُّوهَا فَقَالُوا وَأَيْنَ نَحْنُ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ وَمَا تَأَخَّرَ قَالَ أَحَدُهُمْ أَمَّا أَنَا فَإِنِّي أُصَلِّي اللَّيْلَ أَبَدًا وَقَالَ آخَرُ أَنَا أَصُومُ الدَّهْرَ وَلَا أُفْطِرُ وَقَالَ آخَرُ أَنَا أَعْتَزِلُ النِّسَاءَ فَلَا أَتَزَوَّجُ أَبَدًا فَجَاءَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَيْهِمْ فَقَالَ أَنْتُمُ الَّذِينَ قُلْتُمْ كَذَا وَكَذَا أَمَا وَاللَّهِ إِنِّي لَأَخْشَاكُمْ لِلَّهِ وَأَتْقَاكُمْ لَهُ لَكِنِّي أَصُومُ وَأُفْطِرُ وَأُصَلِّي وَأَرْقُدُ وَأَتَزَوَّجُ النِّسَاءَ فَمَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِي فَلَيْسَ مِنِّي.

درې سړى د حضرت نبى كريم ﷺ كور والو ته راغلل او د حضرت نبى كريم ﷺ دعبادت حال د معلومولو په غرض سره راغلل،هركله چه كوروالو هغوى ته صورت حال اووئيلو هغوى داعبادت كم اوګڼړلو، خو بيا هغوى اووئيل زمونږ او د حضرت نبى كريم ﷺ په مينځ څه نسبت كيدې شى ؟د حضرت نبى كريم ﷺ خو ټول مخكښنى روستى ګناهونه معاف شوى دى. په هغوى كښې يو اوئيل چه څه پوره شپه په مونځ كښې مشغول اوسم ،دويم اووئيل څه به هميشه روژدار يم ،او هېڅكله به نه بې روژې كيږم ،دريم اووئيل څه دښځو نه جدا يم ،واده به نه كوم بالكل ، په دې كښې حضرت نبى كريم ﷺ تشريف راوړو ، وې فرمائيل تاسو خلقو داسې داسې اووئيل ، والله څه په تاسو د الله ﷻ نه ډير زيات ويريدونكې يم ، زه خو روژه نيسم او افطار هم كوم ،دشپې مونځ كوم اوآرام هم كوم ،ښځو سره واده كوم ،نو څوك چه ځما نه اعتراض كوى هغه به ځما نه نه وى.

قوله: جاء رهط......: امام عبدالرزاق د سعيد المسيب نه مرسلاً نقل كړى دى چه په دې دريو واړو سړو كښې يو على ﷺ بن ابوطالب، دويم عبدالله بن عمرو بن العاص او دريم عثمان بن مظعون وو. (۲)

خو په دې د دريو واړو كښې د عثمان بن مظعون ﷺ ذكر مشكوك اومتكلم فيه دې. او وجه ددې داده چه د عثمان بن مظعون ﷺ وفات په دوئمه هجرئى كښې شوې وو.په مدينه منوره كښې دهغوى انتقال دتهولو نه مخكښې شوې وو.

۱) فتح البارى : ۱۲۹/۹_ چه ۳۰ وارشادالسارى : ۲۳۴۲/۱۱).

«فهواول من مات بالمدينة من دفن بالبقيع....»(۱)اوحضرت عبدالله بن عمربن العاص دهغوى دوفات نه پس مدينې منورې ته هجرت کړې دې. (۲) خکه ددې دواړو جمع کيدل په ظاهر پوهه کښې نه راځى.

قوله: والله انى لاخشاكم الله واتقاكم له: مطلب دادې چه دطاعات دکثرت دپاره ددې خبرې ضرورت کيږى چه قوت علميه وعمليه داعلى درجې وى او څما قوت علميه وعمليه ستاسو په مقابله کښې زياته ده. ددې باوجود څما طريقه داده چهځه روژه نيسم او افطار هم کوم ،دشپې تهجد هم کوم او آرام هم کوم او ښځو سره نکاح هم کوم ، نو تاسوته پکار دى چه څما تابعدارى اوکړئى. خکه چه کله يو سړى روژه نيسى او کله افطار کوى نو په دې سره په روژه کښې دطبعى مزې کيفيت برقرار پاتې کيږى ،هم دا حال دشپې د عبادت هم دې چه څه حصه آرام اوکړې شى او څه حصه د تهجدو دپاره خاص کړى نو په عبادت کښې نشاط پاتې شى، داشان نکاح سره دشرمگاه حفاظت او د عفت سامان هم پيدا کيږى.

قوله: كأنهم تقالوها: «تقالوا» د«قلة» نه دې او د باب تفاعل نه د جمع غائب صيغه ده ، اصل کښې «تقالو» په وزن د «تفاعلوا» دې، لام اول لام ثانى کښې ادغام شو ... «تقالوها اى عدوها قليلة»(۳) يعنى هغوى دا عبادت کم اوګڼړلو.

قوله: من رغب عن سنتى: په دې کښې " سنت " د طريقې په معنى کښې دې ، دفرضو په مقابله کښې اصطلاحى دسنت مراد نه ده ،دسنت نکاح پريښودو دوه صورتونه کيدشى ① يو صورت دادې چه سړى ته څه عذر وى چه دهغې په وجه هغه نکاح نه کوى. داسې سړې ته ذکر شوى وعيد نه دې شامل ، دا وعيد دهغه سړى دپاره دې چه دقدرت او استطاعت او ضرورت نه باوجود دې اعراض کوى اووائى ۱دا يوفضول او لايعنى څيز دې ، دې نه خوښوى ، داسې سړې په دې وعيد کښې داخل دې.

فائده : دنکاح په خطبه کښې دې الفاظو سره يومشهور حديث وئيلې کيږى «النكاح من سنتى فمن رغب عن سنتى فليس منى» بعينه هم داالفاظ په حديثو کښې نه ملاويږى، په دې ځائې کښې په بخارى شريف کښې دومره دى چه «فمن رغب عن سنتى فليس منى».
امام ابن ماجه رحمه الله د حضرت عائشه رضي الله عنها يوحديث نقل فرمائى چه ددې الفاظ دادى:
«النكاح من سنتى، فمن لم يعمل بسنتى فليس منى، وتزوجوا فانى مكاثربكم الامم، ومن كان ذا طول

۱) الاصابة تميز الصحابة: ۴۶۴/۲) وفيه "عن عائشه رضى الله عنها قالت قبل النبى ﷺ عثمان بن مظعون ،وقالت امراة ترثية، وهو يبكى وعيناه تذر فان ،ولما توفى ابراهيم بن النبى ﷺ قال: الحق بسلفنا الصالح عثمان بن مظعون ، وقالت امراة ترثية ، ياعين جودى بدمع غير ممنون على رزية عثمان بن مظعون).
۲) فتح البارى : ۱۳۰/۹).
۳) عمده القارى : ۶۵/۲۰).

فليكنكح ومن لم يجد فعليه بالصيام فان الصوم له وجاء» (١)
ددې روايت سند كښې عيسى بن ميمون يو ضعيف راوى دې ، حافظ ابن حجر رحمه الله په تلخيص دالحبير كښې دابن ماجه ددې الفاظو سره يوشان الفاظ نقل كړى دى(٢) خو مشهور الفاظ هغه هم نه دى ذكر كړى البته امام ابوالقاسم الرافعى د «النكاح من سنتي فمن رغب عن سنتي فليس مني» الفاظ نقل كړى دى. (٣)

[٤٧٧٦] :حَدَّثَنَا عَلِيٌّ سَمِعَ حَسَّانَ بْنَ ابْرَاهِيمَ عَنْ يُونُسَ بْنِ يَزِيدَ عَنْ الزُّهْرِيِّ قَالَ اخْبَرَنِي عُرْوَةُ انَّهُ سَالَ عَائِشَةَ عَنْ قَوْلِهِ تَعَالَى وَانْ خِفْتُمْ الَّا تُقْسِطُوا فِي الْيَتَامَى فَانْكِحُوا مَا طَابَ لَكُمْ مِنْ النِّسَاءِ مَثْنَى وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ فَانْ خِفْتُمْ الَّا تَعْدِلُوا فَوَاحِدَةً اوْ مَا مَلَكَتْ ايْمَانُكُمْ ذَلِكَ ادْنَى الَّا تَعُولُوا قَالَتْ يَا ابْنَ اخْتِي الْيَتِيمَةُ تَكُونُ فِي حَجْرِ وَلِيِّهَا فَيَرْغَبُ فِي مَالِهَا وَجَمَالِهَا يُرِيدُ انْ يَتَزَوَّجَهَا بِادْنَى مِنْ سُنَّةِ صَدَاقِهَا فَنُهُوا انْ يَنْكِحُوهُنَّ الَّا انْ يُقْسِطُوا لَهُنَّ فَيُكْمِلُوا الصَّدَاقَ وَامِرُوا بِنِكَاحِ مَنْ سِوَاهُنَّ مِنْ النِّسَاءِ[ر:٢٣٦٣].

دامام بخارى رحمه الله دشيخ نه په دې ځائې كښې مراد عبدالله مدينى دې ، دا حديث په سورة النساء تير شوې دې.

٢-بَاب قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ اسْتَطَاعَ مِنْكُمْ الْبَاءَةَ فَلْيَتَزَوَّجْ لِأَنَّهُ أَغَضُّ لِلْبَصَرِ وَأَحْصَنُ لِلْفَرْجِ وَهَلْ يَتَزَوَّجُ مَنْ لَا أَرَبَ لَهُ فِي النِّكَاحِ

امام بخارى رحمه الله دترجمة الباب نه په دې خبره باندې تنبيه وركول غواړى كوم سړى ته په نكاح كولو قدرت حاصل وى نوهغه ته نكاح كول پكار دى ځكه په دې كښې دوه فائدې دى.
① يو فائده خودادچه نظرئې لاندې وى.
② دونمه فائده دادچه شرمګاه دګناه نه محفوظ وى. دې نه پس ئې اوفرمائيل چه «وهل يتزوج من لا ارب في النكاح» آيا هغه سړې دې نكاح اوكړى چه نكاح كولو حاجت نه وى ، حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه امام بخارى رحمه الله غالبًا يو اختلافى مسئلې طرفته اشاره كول غواړى او هغه داچه يو سړى ته د نكاح كولو شديده تقاضا نه وى نو دهغه دپاره نكاح كول مندوب دې يا نه؟ دجمهورو عالمانو په نيز سنت دى. او دشوافع په نيز مباح ، امام بخارى رحمه الله د «هل يتزوج...» الفاظ راوړى او همدې اختلاف طرفته اشاره كوى.

---

١) سنن ابن ماجه ، كتاب النكاح ، باب ماجاء فى فضل النكاح : ٥٩٢/١ ، رقم الحديث : ١٨٤٦).
٢) حافظ دا الفاظ نقل كړى دى ، ((النكاح سنتى فمن رغب عن سنتى فليس منى (تلخيص الجير كتاب النكاح رقم الحديث:١٤٣٥ ج/١١٦/٣) رحمه الله
٣) هذ الكتاب ا ليس بموجود لدينا).

[٤٧٧٨] حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصٍ حَدَّثَنَا أَبِي حَدَّثَنَا الأَعْمَشُ قَالَ حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ عَنْ عَلْقَمَةَ قَالَ كُنْتُ مَعَ عَبْدِ اللَّهِ فَلَقِيَهُ عُثْمَانُ بِمِنًى فَقَالَ يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمَنِ إِنَّ لِي إِلَيْكَ حَاجَةً فَخَلَوَا فَقَالَ عُثْمَانُ هَلْ لَكَ يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمَنِ فِي أَنْ نُزَوِّجَكَ بِكْرًا تُذَكِّرُكَ مَا كُنْتَ تَعْهَدُ فَلَمَّا رَأَى عَبْدُ اللَّهِ أَنْ لَيْسَ لَهُ حَاجَةٌ إِلَى هَذَا أَشَارَ إِلَيَّ فَقَالَ يَا عَلْقَمَةُ فَانْتَهَيْتُ إِلَيْهِ وَهُوَ يَقُولُ أَمَا لَئِنْ قُلْتَ ذَلِكَ لَقَدْ قَالَ لَنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا مَعْشَرَ الشَّبَابِ مَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمُ الْبَاءَةَ فَلْيَتَزَوَّجْ وَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَعَلَيْهِ بِالصَّوْمِ فَإِنَّهُ لَهُ وِجَاءٌ [ر: ١٨٠٦].

دې سند اصح الاسانيد ونيلې شوى دى . (١)

حضرت ابراهيم نخعي رحمه الله . حضرت علقمه بن قيس نه نقل كوى چه هغوى اوفرمائيل چه عبدالله بن مسعود رضي الله عنه سره اووم نوپه منى كښې حضرت عثمان رضي الله عنه هغوى سره ملاؤ شو. وې ونيل اې ابو عبدالرحمان ! (دا دحضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه كنيت دې) ځما تاسره يو كار دې. نودواړه جدا شول. حضرت عثمان رضي الله عنه اوفرمائيل ابوعبدالرحمان ! كه ستاسو خوښه وى نو مونږ به ستاسو نكاح يوپيغلې جينۍ سره اوكړوچه هغه به ستاد تير شوى دور خواهشات پوره كړى. حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه چه اوكتل د حضرت عثمان رضي الله عنه سوا ددې نه (دنكاح دمشورې نه) بل څه كار نشته دې نو ماته ئې اشاره اوكړه او وې فرمائيل اې عقلمه ! نو څه هغه لره ورغلم. په دې حال كښې چه هغوى (دحضرت عثمان رضي الله عنه په جواب كښې) هغوى ته ونيل چه واوره كه تاسو دا فرمائې نومونږ ته حضرت نبى كريم صلى الله عليه وسلم فرمائيلى دى چه «يامعشر الشباب» چه په تاسو كښې څوك دنكاح طاقت لرى نو هغه دې واده اوكړى او چه څوك استطاعت نه لرى نو هغه دې روژې نيسى ځكه روژه شهوت لره ختموى .

«فخلينا» دا لفظ محل داشكال دې ځكه ددې ماده «خلو» دې واوى دې ځكه «فخلوا» كيدل پكار دى. دابومحمد اصيلى په نسخه كښې «فخلوا» وارد شوى دى. اوابن التين هم دا صحيح فرمائيلې دې. (٢) يعنى هغوى دواړه خالى ځائې ته لاړل .

قوله: هل لك يا اباعبدالرحمان: حضرت عثمان رضي الله عنه حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه ته د پيغلې ښځې دنكاح پيشكش اوكړو. د حضرت عثمان رضي الله عنه خيال ووچه دښځې نه بغير وخت تيروى. ښه ده چه دد سره د وخت تيرولو دپاره څوك ښځه وى نوده ته به راحت وى. بعضې حضراتو ونيلى دى چه حضرت عثمان رضي الله عنه په د جمع قران پاك كښې حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه وو شامل كړې ،نودهغه خيال وو شائد دې ځما نه خفه دې. دده د خفګان لرې كولو دپاره حضرت عثمان رضي الله عنه دوى ته دا خبره اوكړه ، بهر حال حضرت عبدالله رضي الله عنه دنكاح دپاره تيار نه وو.

---

١) عمدة القارى : ٦٧/٢٠).

٢) فتح البارى :١٣٣/٩، وارشاد السارى :٣٣٧/١١).

قوله: تذكرك ما كنت تعهد: دعهد (س) عهدا ډيري معنې دی. حفاظت كول ، پروزش كول ، مطلب دادې چه مونږ به ستا نكاح ديو پيغلې ښځې سره اوكړو چه تاسو د پرورش كولو وخت دریاد كړى يعنى ځنګه ستاسو په طبيعت كښې به ماضى كښې دقوت نشاط او بدن اولباس باندې مو زيب وزينت آثار ښكاره به وو ، په نوې نكاح سره به هم هغه وخت درياد شى.

قوله: من استطاع منكم الباءة: لفظ د «الباءة» كښې درې لغتونه دی . ① الباءة (همزه اوهاء سره). ② الباة (بغير دهمزه نه) الباء (بغير دهاء نه) (١) اوددې دوه معنې دى.
① بعضې حضراتو اووئيل چه ددې نه مراد جماع ده او مطلب دادې چه كوم سړې په جماع باندې قادر وى او نان ونفقه اداكولې شى ،هغه ته پكار دى چه هغه نكاح اوكړى. (٢) خو علامه انورشاه كشميرى رحمه الله فرمائيلى دى كه «الباءة» نه په دې ځائې كښې مراد جماع واخستلې شى نو دحديث په آخرى حصه كښې بيا صحيح نه ښكارى ځكه چه په دې صورت كښې به دحديث دوه معنې وى . ① چه كوم سړې په جماع باندې قدرت لرى نو هغه دې نكاح اوكړى ②او چه كوم قدرت نه لرى نوهغه دې روژې نيسى. حالانكه كله چه جماع باندې قادر وى هغه نو هغه ته د روژې نيولو ضرورت نشته دې .علامه كشمير رحمه الله ليكى :

«وقيل : المراد به الجماع قلت : وحينئذ لا يلائمه اخر الحديث لان الحديث هذا من استطاع منكم الباءة فليتزوج ومن لم يستطع فعليه بالصوم فلو اردنا من الباءة الجماع ، كان المعنى : من لم يستطع الجماع فعليه بالصوم ومعلوم انه اذن لا حاجة له الى الصوم ، لان الحاجة اليه لانكسار الشهوة ومن لا يقدر على الجماع يستغنى عنه لا محالة» (٣)

خو علامه نووى رحمه الله دې ږومبۍ معنى ته اصح وئيلى دى. نو فرمائى چه «اصحها ان المراد معناه اللغوى وهو الجماع فتقديره من استطاع منكم الجماع لقدرته على مونه _ وهى مون النكاح _ فليتزوج ، ومن لم يستطع الجماع لعجزه عن مونه فعليه بالصوم ليدفع شهوته ويقطع شر منيه كما يقطعه الوجاء» (٤)
يعنى چه كوم سړې په جماع باندې قادر وى كه هغه ته په نان نفقه قدرت حاصل وى نو هغه دې نوهغه دې نكاح اوكړى او چه چاته استطاعت حاصل نه وى نو هغه دې روژه اونيسى (٥)
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه دا لفظ په عامه معنى باندې محمول كولې شى كه د «الباءة» نه قدرت على الوطى اوقدرت على النفقه دواړه مراد واخستلې شى.په دې صورت

---

١) فتح البارى :١٣٤/٩).
٢) ارشاد السارى : ٣٣٧/١١).
٣) فيض البارى: ٢٧٤/٤).
٤) عمدة القارى : ٢٨/٢٠).
٥) عمدة القارى :٦٨/٢٠ . وفتح البارى :١٣٤/٩).

کښې مطلب به دا وی چه کوم سړې قادر على الجماع او قادر على النفقه دواړه وی نو هغه دې نکاح اوکړی او چه کوم سړې په دې دواړو باندې قادر نه وی هغه دې روژه اونیسي.

قوله: فَانّه له وجاء: د ((وجاء)) لغوی معنی د ((رض الخصيتين)) ده. (۱) يعنى خصيتين ټکول او ضائع کول او مطلب دادې داشان په روژه نیولو سره به دده شهوت مغلوب وی. او دحرام واقع کیدو اندیښنه به نه وی.

خو دا کیفیت هله پیدا کیږی چه کله یو مودې پورې مسلسل روژې اونیسي ګنی څو ورځو روژو نیولوسره شهوت کاذبه نور هم رابیداریږی، خصوصا په ځوانانو کښې. چونکه د حرارت غزیزیه غلبه وی ځکه مسلسل روژې نیولو سره شهوت صادقه کښې فتور اوکمی واقع کیږی.

۳_ بَاب مَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ الْبَاءَةَ فَلْيَصُمْ

[۴۷۷۹]: حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصِ بْنِ غِيَاثٍ حَدَّثَنَا أَبِي حَدَّثَنَا الأَعْمَشُ قَالَ حَدَّثَنِي عُمَارَةُ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَزِيدَ قَالَ دَخَلْتُ مَعَ عَلْقَمَةَ وَالأَسْوَدِ عَلَى عَبْدِ اللَّهِ فَقَالَ عَبْدُ اللَّهِ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَبَابًا لاَ نَجِدُ شَيْئًا فَقَالَ لَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا مَعْشَرَ الشَّبَابِ مَنْ اسْتَطَاعَ الْبَاءَةَ فَلْيَتَزَوَّجْ فَإِنَّهُ أَغَضُّ لِلْبَصَرِ وَأَحْصَنُ لِلْفَرْجِ وَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَعَلَيْهِ بِالصَّوْمِ فَإِنَّهُ لَهُ وِجَاءٌ [ر:۱۸۰۶].

۴_ بَاب كَثْرَةِ النِّسَاءِ

ددې ترجمة الباب نه امام بخاری رحمه الله دوه ملطلبونه کیدیشی. ① یو دا که د نکاح کثرت طرفته ترغیب ورکول مقصود دی، ځکه چه په حدیث مبارك کښې راځی ((فانی مکاثرکم الامم)). او ظاهره ده چه دنکاح په کثرت سره به اولاد کښې به کثرت وی. ② دوئم مطلب داهم کیدیشی امام بخاری رحمه الله ددې نه یو زائد نکاح په جواز کښې ثابتول غواړی که یو سړې په عدل بین الازواج باندې قادر دې نوهغه دیو نه زیاتې نکاح کولې شی او دده دپاره کثرت نساء جائز دی.

[۴۷۸۰] حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى أَخْبَرَنَا هِشَامُ بْنُ يُوسُفَ أَنَّ ابْنَ جُرَيْجٍ أَخْبَرَهُمْ قَالَ أَخْبَرَنِي عَطَاءٌ قَالَ حَضَرْنَا مَعَ ابْنِ عَبَّاسٍ جِنَازَةَ مَيْمُونَةَ بِسَرِفَ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ هَذِهِ زَوْجَةُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا رَفَعْتُمْ نَعْشَهَا فَلاَ تُزَعْزِعُوهَا وَلاَ تُزَلْزِلُوهَا وَارْفُقُوا فَإِنَّهُ كَانَ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تِسْعٌ كَانَ يَقْسِمُ لِثَمَانٍ وَلاَ يَقْسِمُ لِوَاحِدَةٍ.

عطاء بن ابی رباح فرمائی چه مونږ په مقام سرف کښې د ام المومنین حضرت میمونه رضی الله عنها په جنازه کښې حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما سره وو، نوهغوی اوفرمائیل چه دا رسول الله صلی الله علیه وسلم بی بی ده، هرکله چه تاسوددې نعش مبارك اوچت کړئی نو دا ډیر مه خوزوئی او نرمی

---

۱) فتح الباری: ۱۳۵/۹).

سره ددې جنازه ويسئ . ځکه چه د حضرت نبی کريم نهه (۹) بيبيانې وې چه په هغوی کښې اتو (۸) دپاره هغوی نمبر مقرر کړې وو ، حضرت ميمونه رضي الله عنها په هغه اتو (۸) کښې شامله وه. اودرسول کريم ﷺ دې سره محبت وو نوددې وجې ددې جنازه په احترام سره اوړنې. چه دکومو دپاره حضرت نبی کريم ﷺ نمبر نه وو مقرر کړې ، په هغوی کښې حضرت سوده رضي الله عنها وه چه هغې خپل نمبر حضرت عائشه رضي الله عنها ته هبه کړې وو. دترجمة الباب مناسبت دحديث سره نه ظاهر دی.

نکته د حضرت ميمونه رضي الله عنهاپه باره کښې يو عجيبه خبره ده چه هغې نکاح همد حضرت نبی کريم سره په مقام سرف کښې شوې وه. اوبيا دې سره بنااو زفاف هم په مقام سرف کښې شوې وو. انتقال ئې هم په مقام سرف کښې اوشو،اوددوی قبرمبارک هم په مقام سرف کښې دې.(۱) دمدينې منورې په لارکښې مکې مکرمې ته‌نزدې دوی قبر مبارک اوس هم ښکاري.

تنبيه : وَلَايَقْسِمُ لِوَاحِدَةٍ: امام مسلم رحمه الله په روايت کښې دومره زياتوالئ دې چه «قال عطاء: التی لايقسم لها صفية بنت حی بن اخطب» (۲)

امام طحاوی رحمه الله فرمائی چه‌دا وهم دې ، صحيح دادی چه«واحدة» نه حضرت سوده بنت زمعه مراد ده. هغوی خپل نمبر حضرت عائشه رضي الله عنها ته ورکړې وو. ددې وجې دوی به دهغې دپاره قسم خوړو. (۳)

حافظ ابن حجر رحمه الله هم دحضرت سوده رضي الله عنها دنوم تشريح کړې ده ،دعطاء نه ابن جريج دا نقل کړی دی او دا وهم دې چه په حقيقت کښې دابن جريج نه شوې دې.(۴)

فائده : دوفات په وخت کښې د حضرت نبی کريم ﷺ نهه(۹) بيبيانې وې ، چه هغوی نومونه مبارک دادی:

① حضرت سوده رضي الله عنها ② حضرت عائشه رضي الله عنها ③ حضرت حفصه رضي الله عنها ④ حضرت ام سلمه رضي الله عنها ⑤ حضرت زينب بنت جحش رضي الله عنها ⑥ حضرت ام حبيبه رضي الله عنها ⑦ حضرت جويريه رضي الله عنها ⑧ حضرت صفيه رضي الله عنها ⑨ حضرت ميمونه رضي الله عنها. (۵)

[۴۷۸]: حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ حَدَّثَنَا سَعِيدٌ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَطُوفُ عَلَى نِسَائِهِ فِي لَيْلَةٍ وَاحِدَةٍ وَلَهُ تِسْعُ نِسْوَةٍ وَقَالَ لِي خَلِيفَةُ حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ حَدَّثَنَا سَعِيدٌ عَنْ قَتَادَةَ أَنَّ أَنَسًا حَدَّثَهُمْ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ر:۲۶۵]

---

۱) ارشادالساری : (۳۳۷/۱۱).
۲) الاصابه فی تمييز الصحابه: (۴۱۳/۴).
۳) فتح الباری: (۱۴۱/۹).
۴) فتح الباری :(۱۴۱/۹)
۵) فتح الباری : ۱۴۱/۹ ، عمدة القاری : ۶۹/۲۰ ، دامذکوره ترتيب دنومونو دهغوی د نکاح په اعتبار سره دې).

داحدیث ددې نه زیات په تفصیل سره په کتاب الغسل کښې تیر شوې دې . په هغې کښې دی چه دحضرت نبی کریم ﷺ نهه (۹) بیبیانې وې او داسې هم شوی دی حضرت نبی کریم ﷺ دې ټولو کره په شپه کښې لاړل. دځلورونه زیاتو ښځو سره نکاح کول د حضرت نبی کریم ﷺ خصوصیت وو او په دې کښې داسلام ډیر مصلحتونه او حکمتونه پټ وو.

دازواجو په تعداد کښې حکمتونه او مصلحتونه: یو حکمت داوو چه احکام اسلام چه څنګه د سړی متعلق دی ، همداشان دښځو متعلق هم دی. دسړی دپاره د کورنی ژوند داحکامو او تعلیماتو وضاحت او دهغې اشاعت دپاره تعدد ازواج کیدل ضروری وو چه ډیرې ښځې دژوند په دې ډکر کښې داحکام او تعلیماتو دبیان ذریعه جوړې شی ځکه حضرت نبی کریم ﷺ ته ددې خصوصیت اجازت ورکړې شو.

دبیبیانو په تعداد کښې یو حکمت دا هم وو چه حضرت نبی کریم په باره کښې اعداء الاسلام به پروپیګنډه کړې وه چه معاذ الله حضرت نبی کریم ﷺ کاهن اوساحر دې، د مختلفو قبائلو مختلفو ښځو نکاح کولو کښې ددې پروپیګنډې توږ هم راغلو چه یو ښځه دخاوند حالت په ښه شان پیژندلې شی. هرکله چه مختلفو کورنو دې ښځو د نبی کریم ﷺ د ذاتی ژوند مشاهده اوکړه او حضرت نبی کریم ﷺ ئې د نزدې نه اوکتلو نوهغه پروپیګنډه په شاه شوه چه کوم اعداء الاسلام کړې وه او دا خبره ښکاره مخکښې راغله چه دکهانت اوسحر په دې خانې کښې هیڅ تصور صحیح نه دې.

دې سره تعدد ازواج کښې داسلام نشرواشاعت حکمت هم پټ دې. دمختلفو قبائلو ښځو سره حضرت نبی کریم ﷺ ودونه اوکړل ، دې سره فطری طور ددې قبائلو رجحان اسلام او حضرت نبی کریم ﷺ طرفته شو. اودا ودونه داسلام په اشاعت کښې مددګار ثابت شو.داد رشتې خصوصیت وی چه ددې په وجه د انسان میلان کیږی.

[۴۷۸۲] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ الْحَكَمِ الْأَنْصَارِيُّ حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ عَنْ رَقَبَةَ عَنْ طَلْحَةَ الْيَامِيِّ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ قَالَ قَالَ لِي ابْنُ عَبَّاسٍ هَلْ تَزَوَّجْتَ قُلْتُ لَا قَالَ فَتَزَوَّجْ فَإِنَّ خَيْرَ هَذِهِ الْأُمَّةِ أَكْثَرُهَا نِسَاءً

حضرت سعید بن جبیر رحمه الله نه روایت دې چه ما نه حضرت ابن عباس رضی الله عنهما تپوس اوکړو تاسو واده کړې دې ؟ما اووئیل نه .نوهغوی اوفرمائیل واده اوکړه ځکه چه ددې امت دټولو نه بهترین سړې هغه دې چه دهغه بیبیانې ډیرې وی.

«خَيْرَ هَذِهِ الْأُمَّةِ» نه یا خو حضرت نبی کریم ﷺ مراد دې او دحدیث مطلب دادې چه ددې امت دټولونه بهترین سړې حضرت محمد ﷺ دې. او دهغوی نهه (۹) بیبیانې وې. ځکه تاسو هم واده اوکړئی او یا ددې نه حضرت محمد ﷺ مراد نه دې بلکه عام امتی مراد دې. په دې صورت کښې به دحدیث مطلب داوی چه دچا ښځې زیاتې وی هغه به بهتر سړې وی. (په دې شرط چه هغه عدل بین الازواج کولو والاوی) ځکه هغه به د حضرت نبی کریم ﷺ په امت دزیاتی سبب جوړیږی. (۱)

۱) فتح الباري : ۹/۱٤۲، وارشاد الساري: ۱۱/۳٤۱).

۵_ بَاب مَنْ هَاجَرَ أَوْعَمِلَ خَيْرًالِتَزْوِيجِ امْرَأَةٍ فَلَهُ مَا نَوَى

[۴۷۸۳]: حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ قَزَعَةَ حَدَّثَنَا مَالِكٌ عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ ابْرَاهِيمَ بْنِ الْحَارِثِ عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ وَقَّاصٍ عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعَمَلُ بِالنِّيَّةِ وَانَّمَا لِامْرِءٍ مَا نَوَى فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ الَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ فَهِجْرَتُهُ الَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ الَى دُنْيَا يُصِيبُهَا اوْامْرَاةٍ يَنْكِحُهَا فَهِجْرَتُهُ الَى مَا هَاجَرَ الَيْهِ [ر:۱].

امام بخاری رحمه الله ددې ترجمة الباب نه دا ثابتول غواړی که سړې يو نيکی اوکړی نو په دې کښې ده لرې ددې نيکۍ نيت کول هم پکار دی، لکه که څوك دنکاح کولو اراده کوی نو په دې کښې هم د سنت اتباع ، تکثيرامتاو دخپلې شرمګاه دحرام نه محفوظ کولو نيت کول پکار دی. پاتې شوه خبره چه نکاح از قبيل عبادت دې يا از قبيل مباحات ؟ دا خبره مخکښې تيره شوې ده.

ددې حديث مکمل تفصيل په باب بدء الوحی کښې تير شوې دې.

۶_ بَاب تَزْوِيجِ الْمُعْسِرِ الَّذِی مَعَهُ الْقُرْآنُ وَالْإِسْلَامُ فِيهِ سَهْلُ بْنُ سَعْدٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

دامام بخاری رحمه الله مقصد دادې که څوك سړې غريب وی او ده سره څه مال نه وی ليکن هغه مسلمان دې او هغه ته قران پاك ياد دې که پوره قران پاك هغه ته ياد وی اوکه څه حصه ورته ياده وی ، نوهغه ته نکاح کول پکار دی. دمال څه حقيقت دې؟ په ايمان او قران پاك کښې ډير نعمتونه دی ، ددې نعمتونو په موجودګۍ کښې دا حقير نه دی ګنړل پکار او نکاح کول پکار دی.

قوله: فيه سهل عن النبی صلى الله عليه وسلم: يعنی په دې باب کښې دحضرت سهل بن سعد انصارساعدی رضی الله عنه نه حديث نقل شوې دې چه په کتاب فضائل القرآن کښې دې، «باب القراءة عن ظهر القلب»لاندې تير شوې دې. په دې کښې دی چه «ما ذا معك من القران قال : معی سورة كذا وكذا: قال: اتقرؤهن عن ظهر قلبك، قال: نعم قال: فقد ملكتكها بما معك من القران»(۱)

[۴۷۸۴]: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى حَدَّثَنَا يَحْيَى حَدَّثَنَا اسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِی قَيْسٌ عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ كُنَّا نَغْزُو مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ لَنَا نِسَاءٌ فَقُلْنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ الَا نَسْتَخْصِی فَنَهَانَا عَنْ ذَلِكَ [ر:۴۳۳۹].

---

۱) عمدة القاری: ۲۰/ ۷۱).

په روايت كښې دى چه «ليس لنا نساء»سوال دادې چه ددې نه د «تزويج معسر» مسئله څنګه ثابته شوه ،ددې جواب دادې چه مخکښې بل روايت راغې په هغې كښې د«ليس لنا شئ»الفاظ دى، د«ليس لنا نساء»دالفاظونه هم ترجمه ثابتيدې شى ، داسې به ونيلې شى چه د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه مقصد دا وو چه مونږ چونکه دنان نفقه بندوبست نه وو نو ځکه بيبيانې هم نه وې ، دقران پاك او د اسلام د دولت نه خودا خلق بهر حال مالامال وو ،د خصى كيدو اجازت حضرت نبى كريم صلى الله عليه وسلم نه دې وركړې حالانکه هغوى ته د ښځو ضرورت وو، ځکه د دلالة النص په طور ددې نه معلوميږى چه حضرت نبى كريم صلى الله عليه وسلم دوى ته دقران په بدله كښې دنكاح كولو اجازت وركړې وو ، چنانچه علامه قسطلانى ليکى :

«ومطابقة الحديث للترجمة كما قال ابن المنير انه عليه الصلاة والسلام نهاهم عن الاستخصاء ، ووكلهم الى النكاح ، فلو كان المعسر لا ينكح وهو ممنوع من الاستخصاء لكلف شططا ، وكان كل منهم لا بد أن يحفظ شيئا من القران فتعين التزويج بما معهم من القران فحكم الترجمة من حديث سهل بالتصيص ومن حديث ابن مسعود بالاستدلال» (۱)

۷_ بَابُ قَوْلِ الرَّجُلِ لِأَخِيهِ انْظُرْ أَيَّ زَوْجَتَيَّ شِئْتَ حَتَّى أَنْزِلَ لَكَ عَنْهَا رَوَاهُ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَوْفٍ [ر: ۱۹۴۳].

حضرت شيخ الحديث مولانا زكريا رحمه الله فرمائى چه امام بخارى رحمه الله دا ونيل غواړى كه ديو سړى دوه ښځې وى او اوهغه دخپل يو دوست دپاره قربانى كول غواړى او وائى چه ته خما دواړه ښځې اوګوره اوكومه يوه چه دې خوښه وى نو خه به هغې ته طلاق وركړم اوته هغې سره نكاح اوكړه. امام ونيل غواړى چه دا د «خطبة على الخطبة» په باب كښې داخل نه دى ځکه چه په دې ځائې كښې دخطبې نه زياته نكاح شوې ده. په داسې صورت كښې ددې سړى دنكاح په خاطر دښځو كتل درست دى. (۲)

دې سره سره امام بخارى رحمه الله دښځې به باب كښې داشان دايثار دجواز طرفته اشاره هم كول غواړى ، كه ښځې دوه وى اوكه يو، كه دوه وى نو خبره بالكل ښكاره ده اوكه يو وى نو بياهم جائز دى لكه دسړى عمر دشپيتو كالونه زيات دې اودده دښځې عمر شل پنځويشت كاله دې ،هغه ګنړى چه خه خوهسې هم نزدې وفات كيدو والايم نو په دې وجه كه دې چاته داشان پيشكش اوكړى نو دا جائز دى.

[۴۷۸۵]: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ عَنْ سُفْيَانَ عَنْ حُمَيْدٍ الطَّوِيلِ قَالَ سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ قَالَ قَدِمَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَوْفٍ فَآخَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ سَعْدِ

۱) ارشادالسارى: ۳۴۴/۱۱، المتوارى على تراجم البخارى : ۲۸۰.
۲) الابواب والتراجم لصحيح البخارى: ۶۴/۲.

بْنِ الرَّبِيعِ الأَنْصَارِيِّ وَعِنْدَ الأَنْصَارِيِّ امْرَأَتَانِ فَعَرَضَ عَلَيْهِ أَنْ يُنَاصِفَهُ أَهْلَهُ وَمَالَهُ فَقَالَ بَارَكَ اللَّهُ لَكَ فِي أَهْلِكَ وَمَالِكَ دُلُّونِي عَلَى السُّوقِ فَأَتَى السُّوقَ فَرَبِحَ شَيْئًا مِنْ أَقِطٍ وَشَيْئًا مِنْ سَمْنٍ فَرَآهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ أَيَّامٍ وَعَلَيْهِ وَضَرٌ مِنْ صُفْرَةٍ فَقَالَ مَهْيَمْ يَا عَبْدَ الرَّحْمَنِ فَقَالَ تَزَوَّجْتُ أَنْصَارِيَّةً قَالَ فَمَا سُقْتَ إِلَيْهَا قَالَ وَزْنَ نَوَاةٍ مِنْ ذَهَبٍ قَالَ أَوْلِمْ وَلَوْ بِشَاةٍ [ر:١٩٤٤].

حضرت انس بن مالك رضي الله عنه نه روايت دي چه حضرت عبدالرحمان بن عوف رضي الله عنه چه كله مديني منورې ته هجرت اوكړو او راغلل نو حضرت نبی کریم ﷺ دده او د حضرت سعدبن الربيع انصارى په مينځ كښې رورولى قائمه كړه ،د حضرت سعد رضي الله عنه دوه ښځې وې ، حضرت سعد رضي الله عنه حضرت عبدالرحمان بن عوف رضي الله عنه ته اوونيل چه څما په مال او ښځو كښې نيم‌نيم واخله ،هغوى جواب وركړو الله ﷻ دې ستا په مال او په كوروالوكښې بركت واچوى،ماته بازار اوښايه . نوبازار ته لاړو او په پنير او غوړو كښې فائده حاصله كړه ، څو ورځې پس حضرت نبی کریم ﷺ دده په كپړو باندې زيړوالئ اوكتلو نووې فرمائيل ائې عبدالرحمان دا څه خبره ده ؟هغوى اوفرمائيل چه ما يو انصارى ښځې سره نكاح كړې ده . حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائيل په څومره مهر سره ؟عرض ئې اوكړو چه تقريباً په څلور تولّه سرو زرو، حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائيل چه وليمه هم اوكړه اګر كه يو چيلئ وى.

«أَقِط» پنير ته وائى. «وَضَرٌ» نه يو خاص قسم خوشبومراد ده.چه دزيړ رنګ به وه او عام طور به دواده په موقع باندې‌استعماليده. «مَهْيَمْ»(دميم په فتحه ، دهاء په سكون اود يا په فتحه سره) «اى ماحالك وماشانك ؟ فما سقت»: بروزن ، قلت ،ساق ، (ن) سوقا: راښكل ، راښكل او اوړل، «فما سقت اليها» يعنى تا هغه ښځې ته څه وركړل. «وزن نواة من ذهب : وهو اسم لخمسة دراهم اى مقدار خمسة دراهم وزنا من الذهب». (١)

داحديث به كتاب البيوع كښې تير شوې دې اوپه هغه ځائې كښې په دې باندې بحث تير شوې دې.

٨=بَابُ مَا يُكْرَهُ مِنَ التَّبَتُّلِ وَالْخِصَاءِ

امام بخاری رحمه الله په دې ځائې كښې دتبتل مكروه صورت بيانول غواړى ، دتبتل معنى راځى د ښځو نه انقطاع اوجدائى اختيارول اودخصاء معنى راځى د خصيتين اوښكل ، حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى‌چه امام بخاری رحمه الله په دې سره ددې تبتل دمكروه كيدو طرفته اشاره كړې ده چه دا «تحريم ما احل الله» طرفته ته مفضى وى يعنى چه كوم حلال دحراميدو ذريعه جوړ شى ګنى عام تبتل او عبادت دپاره انقطاع عن الخلق اختياورولوكښې هيڅ باك نشته يعنى تبتل فى حدذاته مكرونه نه دې. (٢)

١) عمدة القارى : ٢٠/٧٢).
٢) فتح البارى :٩/١٤٦).

خو په دې باندې اشكال كيديشى چه تبتل نه بعد مخكښې د «خصاء» هم ذكر دې. ددې مطلب به بيا دا وى چه «خصاء» هم مكروه ده چه «تحريم ما احل الله» طرفته مفضى وى گنى فى حد ذاته هغه مكروه نه دې. ددې جواب به وركولې شى چه امام بخارى رحمه الله لفظ دتبتل نه پس لفظ د «خصاء» اضافه په حقيقت كښې دتبتل مكروه صورت متعين كولو دپاره فرمائيلى دى چه تبتل به مكروه وى ، كله چه په دې كښې «خصاء» والى كيفيت اختيار كړې شى نوكه ددې د اختيارولونوبت رانشى نو بيا تبتل كښې هيڅ مضائقه نشته دې.

[۴۷۸۶]: حَدَّثَنَا اَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ حَدَّثَنَا اِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ اَخْبَرَنَا اِبْنُ شِهَابٍ سَمِعَ سَعِيدَ بْنَ الْمُسَيَّبِ يَقُولُ سَمِعْتُ سَعْدَ بْنَ اَبِي وَقَّاصٍ يَقُولُ رَدَّ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى عُثْمَانَ بْنِ مَظْعُونٍ التَّبَتُّلَ وَلَوْ اَذِنَ لَهُ لَاخْتَصَيْنَا

حَدَّثَنَا اَبُو الْيَمَانِ اَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ اَخْبَرَنِي سَعِيدُ بْنُ الْمُسَيَّبِ اَنَّهُ سَمِعَ سَعْدَ بْنَ اَبِي وَقَّاصٍ يَقُولُ لَقَدْ رَدَّ ذٰلِكَ يَعْنِي النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى عُثْمَانَ بْنِ مَظْعُونٍ وَلَوْ اَجَازَ لَهُ التَّبَتُّلَ لَاخْتَصَيْنَا

قوله: وَلَوْ أَذِنَ لَهُ لَاخْتَصَيْنَا ....: په دې ځاې كښې اشكال كيږى چه دسياق دكلام تقاضا خوداوه چه ونيلې شوې وې چه «ولواذن له لتبتلنا "اخْتَصَيْنَا"» ولې اوونيلې شو. جواب دادې چه دتبتل اصل مقصد حاصلولو دپاره محض انقطاع عن النساء كافى نه ده ، ښځونه جدائى او انقطاع كه اختيار كړې شى خو كله چه محل دشهوت موجود وى نو ظاهره ده چه په شهود كښې به جوش پيدا او اشتعال پيدا كيږى نو داسې تبتل اختيارولو نه آخر څه فائده به وى ، ددې وجې د «لاختصينا» لفظ استعمال كړې شو. يعنى دتبتل مقصد حاصولو دپاره مونږ خپل ځان له خصى كوؤ چه محل دشهوت د بيخه ختم شى خوحضرت نبى كريم ﷺ ددې اجازت نه دې وركړې.(۱)

[۴۷۸۷] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنْ اِسْمَاعِيلَ عَنْ قَيْسٍ قَالَ قَالَ عَبْدُ اللّٰهِ كُنَّا نَغْزُو مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَيْسَ لَنَا شَيْءٌ فَقُلْنَا اَلَا نَسْتَخْصِي فَنَهَانَا عَنْ ذٰلِكَ ثُمَّ رَخَّصَ لَنَا اَنْ نَنْكِحَ الْمَرْاَةَ بِالثَّوْبِ ثُمَّ قَرَاَ عَلَيْنَا يَا اَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوا لَا تُحَرِّمُوا طَيِّبَاتِ مَا اَحَلَّ اللّٰهُ لَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوا اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ [ر: ۴۳۳۹]

---

۱) قال الطيبى قوله : ولو اذن له لاختصينا كان الظاهر ان يقول ولو اذن له لتبتلنا لكنه عدل عن هذا الظاهر الى قوله لاختصينا لارادة المبالغة الى لبالغنا فى التبتل حتى يفضى بناالامر الاختصاء ولم يردبه حقيقة الاختصاء لانه حرام وقيل بل هو على ظاهره وكان ذالک قبل النهى عن الاختصاء (فتح البارى : ۱۴۷/۹؛ شرح الطيبى:۸۱۲/۶).

[۴۷۸۸] وَقَالَ اَصْبَغُ اَخْبَرَنِي ابْنُ وَهْبٍ عَنْ يُوْنُسَ بْنِ يَزِيْدَ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ اَبِي سَلَمَةَ عَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قُلْتُ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ اِنِّي رَجُلٌ شَابٌّ وَاَنَا اَخَافُ عَلٰى نَفْسِي الْعَنَتَ وَلَا اَجِدُ مَا اَتَزَوَّجُ بِهِ النِّسَاءَ فَسَكَتَ عَنِّي ثُمَّ قُلْتُ مِثْلَ ذٰلِكَ فَسَكَتَ عَنِّي ثُمَّ قُلْتُ مِثْلَ ذٰلِكَ فَسَكَتَ عَنِّي ثُمَّ قُلْتُ مِثْلَ ذٰلِكَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا اَبَا هُرَيْرَةَ جَفَّ الْقَلَمُ بِمَا اَنْتَ لَاقٍ فَاخْتَصِ عَلٰى ذٰلِكَ اَوْذَرْ (۱)

حضرت ابوهريره ﷺ فرمائي چه ما حضرت نبي کريم ﷺ ته اووئيل څه خوان يم اوځه ويريږم چه په زنا کښې به اخته شم او مال سره مال هم نشته چه ددې په ذريعه واده اوکړې شم (نوددې وجې تاسو ماته دخپل ځان دخصى کيدو اجازت راکړئى) حضرت نبي کريم ﷺ په دې آوريدو سره خاموش شول ، حضرت ابوهريره ﷺ درې ځل بيا دا سوال اوکړو نو حضرت نبي کريم ﷺ ورته اوفرمائيل ((يا اباهريرة جف القلم بما انت لاق فاختص على ذالك اوذر)) يعني ائې ابوهريره ﷺ ! چه څه ستا په تقدير کښې وو او ستامناسب وو قلم دهغې په ليکلو اوچ شو نوپه داسې صورت کښې اوس ستا مرضى ده که خصى کيږې او که نه.

قوله: أَخَافُ عَلٰى نَفْسِي الْعَنَتَ: ((الْعَنَتَ)) د تهمت او شدت او زنا په معنى کښې رازى. (۲) ددې نه په دې ځائې کښې مراد زنا ده.

قوله: وَلَا أَجِدُ مَا أَتَزَوَّجُ بِهِ النِّسَاءَ: دحرمله په روايت کښې دى چه دې نه پس دا اضافه ده ((فاذن لي ان اختصى)). (۳) يعنى تاسوماته دخصى کيدو اجازت راکړئى ، مخکښې کلام هم په دې جمله باندې مرتب دې چه په دې ځائې کښې دبخارى په روايت کښې نشته دې.

قوله: جَفَّ الْقَلَمُ بِمَا انت لاق: يعنى ستاسو دپاره چه کوم مناسب وو چه څه ستا په تقدير کښې وو هغه ئې اوليکل او اوچ شو ، قاعده ده چه کله قلم کښې سياهى وى نو په تحرير کښې تغير او تبديلى کيديشى خو د سياهئ اوچيدو نه پس په دې کښې تبديلى نه شى کيدې. منشا دا وه چه تقدير په ازل کښې ليکلې شوې دې او په دې کښې اوس دتغير امکان نشته دې، چه څه په تقدير کښې اوليکلې شو هغه به ضرور کيږى.

قوله: فاختص على ذالك اوذر: اختص دا خبره دباب افتعال نه اختصاء نه دامر صيغه ده: خصى کيدل ، دمصابيح په روايت کښې د ((فاختصر)) لفظ دې، (۴)

او حافظ ابن حجر رحمه الله دمصابيح په حواله د ((فاقتصر)) لفظ نقل کړې دې.(۵)

---

۱ (لم يخرجه احد عن من اصحاب الصحاح السنة سوى البخارى-قال العينى الحديث من افراده (عمدة القارى ۲۰/۷٤).

۲) فتح البارى : ۱٤۸/۹).

۳) ارشادالسارى :۳٤٤/۱۱ و فتح البارى :۱٤۸/۹).

٤) اوګورئ التعليق الصحيح على مشكاة المصابيح ،باب الايمان باالقدير: ۸۳/۱).

٥) فتح البارى : ۱٤۸/۹).

د «فاختص» او «فاختصر» يو معنى ده يعني يا خو دې تقدير باندې اكتفاء او اعتماد اوكړه اوخپل ځان لره خصي مه جوړوه اويا تقدير پريږده او خپل ځان لره خصي جوړ كړه. «ذر» دا دامرصيغه ده، په معنى دپريښودو، ترك كولو. «فاختص» كښې امر دترغيب دپاره نه دې بلكه تهديد دپاره دې ، لكه څنګه چه په قران پاك كښې آيت ﴿ فَمَنْ شَآءَ فَلْيُؤْمِنْ وَّمَنْ شَآءَ فَلْيَكْفُرْ﴾ كښې امر دلته دې دپاره دې. (۱) اوددې نه خصي كيدل جوازنه مستنبط كيږي بلكه ددې د نهى مفهوم بالكل خارجيږي چه تقدير نشي بدليدې نوپه خصي كيدو كښې آخر بيا څه فائده ده؟مخكښې د عثمان بن مظعون په روايت كښې تير شوى دى چه حضرت نبى كريم ﷺ هغه دخصي كيدو نه منع كړې وو. «على ذالك» جار مجرور متعلق محذوف دې. «اى اختص حال استعلائك على العلم بأن كل شئ بقضاء الله وقدره»

يو اشكال اودهغې جوابات: په دې باندې اشكال كيديشى چه حضرت نبى كريم ﷺ حضرت ابوهريره رضی الله عنه ته دروژې نيولوحكم ولې اونكړو لكه څنګه چه مخكښې حديث تير شوې دې،

قوله: ومن لم يستطع بالصوم: ① ددې يو جواب دا وركړې شو چه حضرت ابوهرير رضی الله عنه به اكثر روژې نيولې او كثير الصيام وو ليكن ددې باوجود هغوى رضی الله عنه ته دخپل شهوانى قوت په وجه په فتنه كښې د اخته كيدو انديښنه وه. (۲)

② دويم جواب داوركړې شو چه حضرت ابوهريره رضی الله عنه داسوال ديو غزوه په موقع باندې كړې وو او دجنګ او غزوې په موقع باندې نفلى روژې نيول دضعف وكمزورتيا باعث جوړيدې شى ، په دې موقع باندې افطار ته ترجيح وركولې شى ، ځكه د روژې حكم ورنكړې شو. حضرت حافظ ابن حجر رحمه الله ليكلى :

«قلت : ويحتمل أن يكون أبوهريرة سمع يامعشر الشباب من استطاع منكم الباءة فليتزوج " الحديث، لكنه انما سأل عن ذالك فى حال الغزو كما وقع لابن مسعود، وكانوا فى حال الغزو يؤثرون الفطر على الصيام للتقوى على القتال، فأداه اجتهاده الى حسم مادة الشهوة بالاختصاء كما ظهر لعثمان فمنعه ﷺ من ذالك» (۳)

۹ـ بَابُ نِكَاحِ الْأَبْكَارِ

وَقَالَ ابْنُ اَبِى مُلَيْكَةَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ لِعَائِشَةَ لَمْ يَنْكِحِ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِكْرًا غَيْرَكِ [ر:۴۴۷۶]

دې نه پس د «تزويج الثيبات» ترجمه راځى. مقصد دادې چه پيغلې جينۍ سره هم نكاح كول جائز دى او ثيبه سره هم جائز دى.حضرت ا مام بخارى رحمه الله «نكاح الابكار» په «نكاح الثيبات»

۱) ارشادالسارى : ۳۴۸/۱۱_ وفتح البارى : ۱۴۸/۹).
۲) فتح البارى: ۱۴۹/۹).
۳) فتح البارى :۱۴۹/۹).

باندې مقدم كړو نو لكه چه په دې كښې دابكار سره دنكاح كولو ترغيب او فضيلت طرفته امام اشاره اوفرمائيله.

حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما مقام مدح كښې حضرت عائشه رضي الله عنها ته اوفرمائيل «لم ينكح النبي ﷺ بكرا غيرك» يعنى ستاسو نه علاوه حضرت نبى كريم ﷺ هيڅ باكرې سره واده نه وو كړې. دسورت نور په تفسير كښې دا تعليق امام بخارى رحمه الله موصولا نقل كړى دى. (۱)

[۴۷۸۹]: حَدَّثَنَا اسْمَاعِيلُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ حَدَّثَنِي اخِي عَنْ سُلَيْمَانَ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ ابِيهِ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ ارَايْتَ لَوْ نَزَلْتَ وَادِيًا وَفِيهِ شَجَرَةٌ قَدْ اكِلَ مِنْهَا وَوَجَدْتَ شَجَرًا لَمْ يُؤْكَلْ مِنْهَا فِي ايِّهَا كُنْتَ تُرْتِعُ بَعِيرَكَ قَالَ فِي الَّذِي لَمْ يُرْتَعْ مِنْهَا تَعْنِي انَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَتَزَوَّجْ بِكْرًا غَيْرَهَا

حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائى چه ما اووئيل يارسول الله ﷺ! تاسو لږ اووائې چه تاسو په يو وادئ كښې راكوز شئ اوپه هغه ځائې كښې څه داسې ونې وى چه هغې نه خوراك كړې شوې وى ، او څه ونې داسې ملاؤ شوې وى چه دهغې نه خوراك نه وى كړې شوې ، نو تاسو به خپل اوښ په دې ونو كښې كوم ځائې كښې څرونئ ؟نو حضرت نبى كريم ﷺ اوفرمائيل چه دهغه ونو نه چه دهغې نه خوراك نه دې شوې. دحضرت عائشه رضي الله عنها مطلب ددې سوال نه دا وو چه حضرت نبى كريم ﷺ ددوى نه علاوه هيڅ باكره سره واده نه وو كړې.

حضرت عائشه رضي الله عنها دكنايه په اندازكښې ددې خبرې ذكر اوكړو چه تاسو ماسره كوم واده اوكړو دنورو ازاوجو په واده كښې ددې نظير نشى ملاويدې،دا شدت محبت په وجه حضرت عائشه رضي الله عنها ذكركړې وو ، حافظ ليكى چه:«ويحتمل أن تكون عائشه كنت بذالك عن المحبة بل عن أدق من ذالك» (۲)

[۴۷۹۰]: حَدَّثَنَا عُبَيْدُ بْنُ اسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا ابُو اسَامَةَ عَنْ هِشَامٍ عَنْ ابِيهِ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ارِيتُكِ فِي الْمَنَامِ مَرَّتَيْنِ اذَا رَجُلٌ يَحْمِلُكِ فِي سَرَقَةِ حَرِيرٍ فَيَقُولُ هَذِهِ امْرَاتُكَ فَاكْشِفُهَا فَاذَا هِيَ انْتِ فَاقُولُ انْ يَكُنْ هَذَا مِنْ عِنْدِ اللَّهِ يُمْضِهِ [ر: ۳٦۸۲]

حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائى چه حضرت نبى كريم ﷺ ماته اوفرمائيل چه ما ته دوه ځل په خوب كښې كتلې وې چه يوسړى ستا صورت په ريښمى ټكړه كښې راخستې دې او وائې چه دا ستا زوجه ده. ما چه دا پرانيسته نوهغه ستاصورت وو. بيا ما اووئيل كه دا خبره دالله ﷻ دجانب نه وى نو دا به جارى كړى.

قوله: إِذَا رَجُلٌ يَحْمِلُكِ: رجل نه مراد فرښته ده، دترمذى په روايت كښې دى چه دا فرښته

---

۱) عمده القارى: ۲۰/۷٤).
۲) فتح البارى : ۹/۱۵۰) .

حضرت جبرئیل علیه السلام وو. (۱)

قوله: سَرَقَةِ حَرِيرٍ: دریښمو کپړا ، د «سرقة» معنی ټکړه ده ، «یمضه» مضارع مجزوم دې ، خکه چه جواب واقع کیږي ، «امضی، امضاء» کول .

په دې خانې کښې اشکال دادې چه دنبیانو خوب خو وحی وی ، بیا دوی ته په دې کښې تردد ولې اوشو چه دوی د «أن یکن» شکی لفظ استعمال کړو؟

① ددې یو جواب داورکړې شو چه دا خوب دوی دنبوت نه مخکښې کتلې وو اودنبوت نه مخکښې خوب وحی نه وی.

② دویم جواب دادې چه دا جمله دوی دشك په طور او ترددپه طور نه وه وئیلې بلکه د یقین په طور وئیلې وه که دا دالله ﷻ طرفنه دی ، او یقیناً دالله ﷻ دطرفنه دې. نو هغه پاك ذات به دا پوره کوی، (۲) والله اعلم

۱۰_ بَابُ تَزْوِيجِ الثَّيِّبَاتِ

وَقَالَتْ أُمُّ حَبِيبَةَ قَالَ لِي النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَعْرِضْنَ عَلَيَّ بَنَاتِكُنَّ وَلَا أَخَوَاتِكُنَّ [ر: ۴۸۱۳].

دابوذر په نسخه کښې «باب تزویج الثیبات» دی ، (۳)

حضرت امام بخاری رحمه الله دترجمة الباب نه د کونډو ښځو سره دجواز نکاح ثابتول غواړی .

دې نه پس متصل حضرت امام بخاری رحمه الله دحضرت ام حبیبه رضي الله عنها قول نقل کړېدې چه حضرت نبی کریم صلی الله علیه وسلم هغې ته اوفرمائیل «لاتعرضن علی بناتکن ولا اخواتکن» یعنی خپلې لونړه او خپلې خوئندې ماته مه وړاندې کوه ځکه چه هغوی شرعی طور په ما باندې حرامې دی ، دې قول سره ضمنی طور معلومیږی چه حضور نبی کریم صلی الله علیه وسلم لونړوو الا ښځې سره نکاح کړې وه او هم په دې مناسبت سره ددې قول لاندې دا باب ذکرفرمائیلې شوې دې.

[۴۷۹۱/۴۷۹۲] : حَدَّثَنَا أَبُو النُّعْمَانِ حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ حَدَّثَنَا سَيَّارٌ عَنْ الشَّعْبِيِّ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ قَفَلْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ غَزْوَةٍ فَتَعَجَّلْتُ عَلَى بَعِيرٍ لِي قَطُوفٍ فَلَحِقَنِي رَاكِبٌ مِنْ خَلْفِي فَنَخَسَ بَعِيرِي بِعَنَزَةٍ كَانَتْ مَعَهُ فَانْطَلَقَ بَعِيرِي كَأَجْوَدِ مَا أَنْتَ رَاءٍ مِنْ الْإِبِلِ فَإِذَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَا يُعْجِلُكَ قُلْتُ كُنْتُ حَدِيثَ عَهْدٍ بِعُرْسٍ قَالَ أَبِكْرًا أَمْ ثَيِّبًا قُلْتُ ثَيِّبًا قَالَ فَهَلَّا جَارِيَةً تُلَاعِبُهَا وَتُلَاعِبُكَ قَالَ فَلَمَّا ذَهَبْنَا لِنَدْخُلَ قَالَ أَمْهِلُوا حَتَّى تَدْخُلُوا لَيْلًا أَيْ عِشَاءً لِكَيْ تَمْتَشِطَ الشَّعِثَةُ وَتَسْتَحِدَّ الْمُغِيبَةُ

---

۱) عمده القاری: ۷۵/۲۰، وسنن ترمذی: ۲۲۶/۲ ، ابواب المناقب من فضل عائشه رضی الله عنها).

۲) مذکوره دواړوجوابونودپاره اوګورئ عمده القاری: ۷۵/۲۰).

۳) ارشاد الساری: ۳۴۹/۱۱، په دې خانې کښې دتقریر نسخه هم دابوذر دنسخې مطابق ده).

په دې ځائې کښې دامام بخارى رحمه الله شيخ ابو نعمان دې چه د هغوى نوم محمد بن الفضل سدوسى دې. حضرت جابر رضي الله عنه فرمائى چه يو غزوه نه مونږ واپس راتلو،حضرت نبى كريم ﷺ مونږ سره وو،ما کوشش کولو چه ځما سست اوښ تيز لاړشى، نوپه دې ځما نه يوس روستو راروان وو هغوى ماسره يو ځائې شو او ځما اوښ ئې دروستو نه په نيزه باندې اووهلو نو ځما اوښ داسې تيز شو لکه څنګه چه ښه نه ښه اوښ وى ، ما چه کله روستو اوکتل نو هغه حضور نبى كريم ﷺ وو ، وې فرمائيل چه اې جابر رضي الله عنه ! ته ولې دومره تيزى کوې ؟ ما اووئيل چه ځما نوې واده شوې دې . حضور نبى كريم ﷺ اوفرمائيل چه پيغله يا کونډې سره.مااووئيل کونډه ده. حضور نبى كريم ﷺ اوفرمائيل چه يو پيغلې کم عمروالا جينئ سره ولې واده نه کوې چه هغه به تاسره او ته به هغې سره لوبې کوې. حضرت جابر رضي الله عنه فرمائى چه کله مونږ مدينې ته نزدې شو نو حضور نبى كريم ﷺ اوفرمائيل چه اودريږه او دشپې يعنى دماسختن په وخت کښې مدينې منورې ته داخل شه چه خرابو ويښتو والا ښځې خپلو ويښتو کښې ږمنځې اووهي اوهغه ښځې خپل (زيرناف) ويښته صفا کړى ، دکومو خاوند چه دهغې نه غائب وو.

قوله: أَمْهِلُوا حَتَّى تَدْخُلُوا لَيْلًا أَيْ عِشَاءً: يعنى فى الحال اودريږه او دشپې په وخت کښې کورته داخل شه، د دې حديث مبارك په ظاهر مخکښې راتلونکى حديث سره تعارض دې.چه په هغې کښې دى «لايطرق احدكم اهله ليلا» يعنى کور والوته دشپې راتلل نه دې پکار. د دواړو په مينځ کښې دتطبيق صورت دادې چه ممانعت په هغه وخت کښې دې چه کله سړې ناڅاپه راشى اوکور والو ته دده دراتلو خبر نه وى دمخکښې نه. خوکه کوروالو ته د سړى دراتګ خبر مخکښې نه وى نو بيا دشپې په راتګ کښې هيڅ باك نشته دې.(١)

قوله: لِكَيْ تَمْتَشِطَ الشَّعِثَةُ وَتَسْتَحِدَّ الْمُغِيبَةُ: چه ګنده ښځې خپلو ويښتو کښې ګومنځ اووهى «شعثة» داسې ښځې چه دهغوى ويښته ږمنځ شوې نه وى يعنى خراب وى او پريشانې وى،«تستحد أى تستعمل الحديد وهى الموسى»يعنى چه هغوى خپل زير ناف ويښته په استرې بليډ وغيره سره صفا کړې شى ، د «تستحد» معنى ده اوسپنه استعمالول،مراد ترې د ويښتو صفائى دپاره استعمالولو والا داوسپنې آله ده لکه څنګه چه نن سبا بليډ وغيره ددې دپاره استعماليږى . «المغيبة» هغه ښځه چه دهغې خاوند غائب وى.
دا حديث په کتاب البيوع اوکتاب الجهاد کښې تير شوې دې.

[٤٧٩٢] : حَدَّثَنَا آدَمُ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ حَدَّثَنَا مُحَارِبٌ قَالَ سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا يَقُولُ تَزَوَّجْتُ فَقَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا تَزَوَّجْتَ فَقُلْتُ تَزَوَّجْتُ ثَيِّبًا فَقَالَ مَا لَكَ وَلِلْعَذَارَى وَلِعَابِهَا فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِعَمْرِو بْنِ دِينَارٍ فَقَالَ عَمْرٌو سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ يَقُولُ قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلَّا جَارِيَةً تُلَاعِبُهَا وَتُلَاعِبُكَ [ر:٤٣٢]

---

١) فتح البارى: ١٥٢/٩).

قوله: مَـالَكَ وَلِلْعَذَارَىٰ وَلِعَـابِهَـا: یعنی تاسوته د پیغلو او ددوی د لوبو رغبت نشته دې . «لعاب» د لام په کسره سره دباب مفاعله نه مصدر دې «لاعب ...ملاعبه ولعابا» دمستملی په روایت کښې «لعاب» دلام په ضمه سره دې . چه ددې نه ریق الفم مراد دې ، په دې صورت کښې دې خبرې طرفته به اشاره وی که تاسو باکره سره واده کوئی نو ددوی د شونډو او ژبو نه به مو انتفاع حاصلوله ، علامه قسطلانی لیکی :

«وفی روایة المستملی : ولعابها ، بضم اللام والمراد به الریق وفیه اشارة الی مص لسانها ورشف شفتها وذالك یقع عند الملاعبة والتقبیل» (۱)

قوله: فَذَكَرْتُ ذَٰلِكَ لِعَمْرٍو: دادشعبه قول دې هغه فرمائی چه ما دا قول «مالك و للعذاری....» عمرو بن دینار په مخکښې ذکر کړو نو عمرو بن دینار اووئیل چه ما دحضرت جابر ﷺ نه دحضرت نبی کریم ﷺ کوم الفاظ آوریدلی دی هغه الفاظ دادی «هلاجاریة تلاعبها وتلاعبك».

دشعبه شیخ مذکوره روایت کښې محارب بن دثارسدوسی دې ، د محارب الفاظ پورته حدیث کښې ذکر شوی دی «مالك وللعذاری ولعابها» شعبه دا الفاظ دعمرو بن دینار په مخکښې ذکر کړل نوهغوی «هلاجاریة تلاعبها وتلاعبك» والا الفاظ بیان کړل اووې وئیل چه ما دا الفاظ آوریدلی دی.

فائده په دې حدیث کښې چه دکومې کونډې سره دحضرت جابر ﷺ دنکاح ذکر دې،ابن سعد په طبقات کښې دهغې نوم سهله بنت مسعود بن اوس بن مالك لیکلې دې (۲)

۱۱_ بَابِ تَزْوِيجِ الصِّغَارِ مِنْ الْكِبَارِ

[۴۷۹۳] : حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ يَزِيدَ عَنْ عِرَاكٍ عَنْ عُرْوَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَطَبَ عَائِشَةَ إِلَى أَبِي بَكْرٍ فَقَالَ لَهُ أَبُو بَكْرٍ إِنَّمَا أَنَا أَخُوكَ فَقَالَ أَنْتَ أَخِي فِي دِينِ اللَّهِ وَكِتَابِهِ وَهِيَ لِي حَلَالٌ

دامام بخاری مقصد دادې چه دزیات عمر والا سړې د کم عمر والا جینۍ سره واده کولې شی. ابن بطال فرمائی چه دا مسئله اجماعی ده . (۳)

حضور نبی کریم ﷺ حضرت ابوبکر صدیق ﷺ له دحضرت عائشه ﷺ سلسله کښې دنکاح پیغام اولیږلو نو حضرت ابوبکر صدیق اوفرمائیل خه ستارورور یم نو حضور نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه ته خما دینی رور ئې حضرت عائشه ﷺ خما دپاره حلاله ده.

---

۱) ارشادالساری: ۱۱/۳۵۱).
۲) ارشادالساری : ۱۱/۳۵۱).
۳) فتح الباری : ۹/۱۵٤).

يعنى اخوت الدينيه مانع عن النكاح نه ده. ځکه چه ټول مسلمانان په خپلوکښې رونړه رونړه دى ﴿إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ﴾

داحديث په ظاهره مرسل دې ،ځکه چه عروه تابعى دې او هغوى دصحابى نوم نه دې ذکر کړې ، ممکن دى چه هغوى دا حديث دخپلې ترور حضرت عائشه رضي الله عنها نه يا د خپلې مور حضرت اسماء بنت ابى بکر نه آوريدلې وى ځکه چه عام طور هغه داقسمه روايات دحضرت عائشه رضي الله عنها او حضرت اسماء نه بيانوى ،علامه قسطلانى ليکى:

((وهذا الحديث صورته صورة المرسل ويحتمل انه حمله عن خالته عائشة اوعن امه اسماء بنت ابى بكر وقال ابو عمر بن عبدالبر: اذاعلم لقاء الراوى لمن اخبرعنه، ولم يكن مدلسا، حمل ذالك على سماعه اخبرعنه ولولم يات بصيغه تدل على ذالك))(١)

١٢=بَاب إِلَى مَنْ يَنْكِحُ وَأَيُّ النِّسَاءِ خَيْرٌ وَمَا يُسْتَحَبُّ أَنْ يَتَخَيَّرَ لِنُطَفِهِ مِنْ غَيْرِ إِيجَابٍ

[٤٧٩٤]: حَدَّثَنَا ابُو الْيَمَانِ اخْبَرَنَا شُعَيْبٌ حَدَّثَنَا ابُو الزِّنَادِ عَنْ الْاعْرَجِ عَنْ ابِى هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ خَيْرُ نِسَاءٍ رَكِبْنَ الْابِلَ صَالِحُ(٢) نِسَاءِ قُرَيْشٍ احْنَاهُ عَلَى وَلَدٍ فِي صِغَرِهِ وَارْعَاهُ عَلَى زَوْجٍ فِي ذَاتِ يَدِهِ[ر:٣٢٥١].

امام بخارى رحمه الله په دې ځائې د ترجمة الباب درې احکام ذکر کړى دى .

① رومبئ مسئله ده ﴿إِلَى مَنْ يَنْكِحُ﴾ کومې ښځې سره نکاح اوکړې شى

② دويمه مسئله ﴿وَأَيُّ النِّسَاءِ خَيْرٌ﴾ کومې ښځې بهترې دې

③ اودريمه مسئله ده ﴿وَمَا يُسْتَحَبُّ أَنْ يَتَخَيَّرَ لِنُطَفِهِ﴾ او کوم مستحب دى چه خپله نطفه او نسل دپاره اختيار کړې يعنى خپل نسل دپاره ښه قسمه ښځې منتخب کولو يېان دې.

«الى ماينكح» نه مکښې عبارت مخذوف دى «أى اذا اراد أن يتزوج ينتهى أمره الى من ينكح»(٣) يعنى کوم سړې چه دواده اراده لرى نو دهغه انتهائى امر داوى چه هغه کومې ښځې سره نکاح اوکړى «فى ذات يده أى فى ماله»

«من غير ايجاب» يعنى په ترجمة الباب کښې چه کوم درې احکام ومسائل بيان شوى دى دا

---

١) ارشاد السارى (٣٥٢/١١).

٢) (صالح) من صلاح الدين . وصلاح المخالفة للزوج وغيره ممن تجوز مخالفته وذكر اللفظ باعتبار لفظ الحبر المقدم خير (احناه) من الحنو وهو الشفقة : والحانية هى التى تقوم على ولدها بعد يتمه ولا تتزوج (ارعاه) احفظه واصونه (فى ذات يده) ماله المضاف اليه . وذالک بالامانة فيه . والصيانة له وترک التبذير فى الانفاق فيه).

٣) عمده القارى : (٧٨/٢٠).

داستحباب په درجه کښې دی واجب نه دی.

امام بخاري ﷫ ددې لاندې دحضرت ابوهریره ﷜ روایت ذکر کړې دې «خیرالنساء رکبن الابل» یعنی دټولو نه ښه ښځې په اوښانو سورلی کونکې دقریشو ښځې دی. ددې نه دترجې دوه جزونه ثابت شو ، هرکله چه دقریشو ښځې د ټولو نه ښه دې نو معلومه شوه چه قریشی ښځو سره نکاح کول پکار دی. اود خیرالنساء اطلاق هم صراحتا په هغوی باندې اوکړې شو ، دریم حکم وو چه خپل نسل او نطفې دپاره کومه یوه ښځه منتحب کړی. دا حکم په طریق دلزوم ثابتیږی چه دقریشو ښځې د نکاح دپاره خوښې ګنړلې شی. او هغه خیر ا لنساءدی نو ددې نه په خپله دا خبره په پوهه کښې راځی چه دنسل دپاره اونطفې دپاره هم ددې ښځو انتخاب به بهتر اومستحب وی. (۱)

بعضې حضراتووئیلی دی چه امام بخاري ﷫ «مایستحب أن یتخیر لنطفه» نه دحضرت عائشه ﷞ دې روایت طرفته ارشاره کړې ده چه کوم حاکم او ابن ماجه ذکر کړې دې یعنی «تخیروا لنطفکم وانکحو الاکفاء» (۲) یعنی خپله نطفې دپاره ښه ښځې منتخب کړئی او په کفوکښې واده اوکړئی. دا روایت هشام بن عروه عن ابیه عن عائشه په سند سره روایت شوی دې.حاکم ددې تصحیح کړې ده (۳) خو علامه ذهبی ﷫ په دې باندې نقد کړې دې او حافظ ابوالفضل ابن طاهر فرمائی چه هشام نه روایت کولو والا ددې حدیث ټول راویان ضعیف دی. (۴)

قوله: صَالِحُ نِسَاءِ قُرَيْشٍ: دا په اصل کښې «صالحون» دې. نون جمع داضافت په وجه حذف کړې شوې دې. داصیلی په روایت کښې صلح (دصادضمه اولام تشدید سره) دې. (۵) چه دا د صالح جمع ده.

قوله: أَحْنَاهُ عَلَى وَلَدٍ فِي صِغَرِهِ: یعنی کومې چه په خپل بچی باندې دهغه په وړوکوالی کښې ډیرې شفقت کونکې وی، او دخپل خاوند دمال حفاظت کولو والاوی.

په دې حدیث باندې یو اشکال واردیږی چه په دې ځائې کښې دقریشو ښځو ته خیر النساء اوونیلې شو حالانکه خیرالنساء حضرت مریم علیها السلام ته وئیلې شوی دی ،نوپه ظاهره په دواړوکښې تعارض دې.

① ددې جواب وي دا ورکړې شو چه په دې ځاې کښې ددې ښځو خپل مینځ کښې د فضیلت بیان دې ، چه په اوښ باندې سورلی کوی ،«رکبن الابل» چه عام طور سره د عربو

---

۱) عمده القاري: ۲۰/ ۷۸).
۲) مستدرک حاکم : ۲/ ۱۶۳ ، کتاب النکاح ،وسنن ابن ماجه ۱٤۱ ، کتاب النکاح ، باب الاکفاء).
۳) مستدرک حاکم ۲/ ۱۶۳).
٤) حاشیه مستدرک حاکم : ۲/ ۱۶۳).
۵) ارشاد الساري: ۱۱/ ۳۵۲).

ښځې كوى. دعربو په دغه ښځوكښې دقريشو ښځې بهترې دى. حالانكه حضرت مريم عليها السلام هيڅكله هم په اوښ باندې نه وه سوره شوې. په كتاب الانبياء كښې دحضرت ابوهريره رضي الله عنه قول تير شوې دې ((ولم تركب بعيرا قط))(۱)

② دويم جواب دادې چه دقريشو ښځو ته دخپلې زمانې په اعتبار سره خير النساء ونيلې شوى دى. مطلقا ورته خير النساء نه دى وئيلې شوى ، نودې سره حضرت مريم عليها السلام باندې د قريشى ښځو فضيلت لازم نه رازى (۲) والله اعلم.

۱۳=باب اتخاذ السراري ومن أعتق جاريته ثم تزوجها

[۴۷۹۵]: حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ اسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ حَدَّثَنَا صَالِحُ بْنُ صَالِحٍ الْهَمْدَانِيُّ حَدَّثَنَا الشَّعْبِيُّ قَالَ حَدَّثَنِي ابُوبُرْدَةَ عَنْ ابِيهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ايُّمَا رَجُلٍ كَانَتْ عِنْدَهُ وَلِيدَةٌ فَعَلَّمَهَا فَاحْسَنَ تَعْلِيمَهَا وَادَّبَهَا فَاحْسَنَ تَادِيبَهَا ثُمَّ اعْتَقَهَا وَتَزَوَّجَهَا فَلَهُ اجْرَانِ وَايُّمَا رَجُلٍ مِنْ اهْلِ الْكِتَابِ امَنَ بِنَبِيِّهِ وَامَنَ بِي فَلَهُ اجْرَانِ وَايُّمَا مَمْلُوكٍ ادَّى حَقَّ مَوَالِيهِ وَحَقَّ رَبِّهِ فَلَهُ اجْرَانِ

((السراری:)) دا د((سرية))(دسين په ضمه ، را مشدد مكسوره سره)جمع ده.دا لفظ د((تسر)) نه ماخوذ دې. ددې اصل((سر))دې. اوسر دجماع په نومونوكښې يو نوم دې (۳)

((سر)) رازاوهغه څيز ته هم وئيلې شى چه هغه پټ كړې شى چونكه وينځې سره نكاح د ښځې نه په پټه كولې شى نو په دې مناسبت سره وينځې ته ((سرية)) وئيلې شى. (۴)

بعضې حضراتو وئيلى دى چه دا دسرور نه ماخوذ دې چه ددې معنى خوشحالى ده ، چونكه داشان وينځه دسړى دپاره دخوشحالۍ باعث وى نو ددې وجې دې ته ((سرية)) وئيلې شى.

امام بخارى رحمه الله د ترجمة الباب نه دجماع دپاره خپل څان سره دوينځو ساتلو دجواز طرفته اشاره كول غواړى.امام ابو داود په ((مراسيل)) كښې دزبير بن سعد په طريق روايت نقل كړې دې چه حضور نبى كريم صلى الله عليه وسلم فرمائى چه ((عليكم بامهات الاولاد فانهن مباركات الارحام))(۵)

خو ددې روايت سند كمزورې دې. امام احمد بن حنبل رحمه الله هم په مسند كښې يو روايت ددې مفهوم نقل كړې دې چه د حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص نه روايت دې ، دهغې الفاظ دى چه ((انكحوا امهات الاولاد فانى اباهى بكم يوم القيامة)) ددې سند داول حديث نه قوى دې.(۶)

---

۱) فتح البارى: ۱۵۴/۹).
۲) عمده القارى : ۷۸/۲۰).
۳) ارشادالسارى: ۳۵۳/۱۱).
٤) عمده القارى: ۷۹/۲).
۵) ارشادٌ السارى : ۳۵۳/۱۱) .
۶) فتح البارى: ۱۵۷/۹).

قوله: وَمَنْ اَعْتَقَ جَارِيَةً ثُمَّ تَزَوَّجَهَا: دائې په ترجمة الباب كښې دويمه مسئله ذكر اوفرمائيله ،چه يوسړې وينځه ازاده كړى اوبيا دې سره نكاح اوكړى ، دا جائز بلكه بهتر دى. دراتلونكې باب په ړومبى روايت كښې ددې فضيلت راغلې دې. بعضو حضرات صحابه كرام ﷺ ته شائد دا حديث معلوم نه وو، ځكه هغوى په شروع كښې دا مكروه اوګنړل. حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ ،حضرت عبدالله بن عمر ﷺ ، حضرت انس بن مالك ﷺ او تابعينو كښې حضرت سعيد بن ا لمسيب او حضرت ابراهيم نخعى ﷺبه دې ته مكروه وئيل. (۱)

امام بخارى رحمة ا لله عليه دكراهت ددې نقطې ترديد كول غواړى او دروايت نه ثابتوى چه وينځه آزادول او بيا دې سره نكاح كولو كښې نه صرف دا چه حرج پكښې نشته دې بلكه په دې كښې دوچند ثواب دې.

دحضرت ابوموسى اشعرى ﷺ روايت ئې دليل پيش كړې دې چه په كتاب العلم كښې تير شوې دې.

قوله: قَالَ الشَّعْبِيُّ خُذْهَا بِغَيْرِ شَيْءٍ قَدْ كَانَ الرَّجُلُ يَرْحَلُ فِيمَا دُونَهَا إِلَى الْمَدِينَةِ: عامر شعبى چه دصالح بن صالح شيخ دې،دا دهغه قول دې. هغوى دا حديث بيان كړو اوابيا ئې اوفرمائيل چه دا روايت په مفتو كښې واخله،بغير دڅه دنياوى بدلې نه حاصل كړه،حالانكه سړى به ددې نه دكمې درجې والا حديث دپاره دمدينې منورې سفر كولو.

په دې ځائې كښې دظاهر عبارت نه دا غلط فهمى كيږى چه حضرت عامر شعبى داخبره خپل شاګرد صالح بن صالح ته اووئيله. خو حقيقت دې چه دا خبره دوى يو خراسانى سړى ته وئيلې ده .خراسانى حضرت شعبى ته وئيلې وه كه يوسړې خپله وينځه آزاده كړى او بيا هغې سره واده اوكړى نوزمونږ خلق دا ښه نه ګنړى،نودده په سوال باندې حضرت شعبى دا روايت واورولو اوهغه ته ئې اووئيل چه داقيمتى روايت بغير دعوض نه واخله . (۲)

قوله: وَقَالَ أَبُوبَكْرٍ عَنْ أَبِي حَصِينٍ عَنْ أَبِي بُرْدَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْتَقَهَا ثُمَّ أَصْدَقَهَا: [ر:۹۷]: دا تعليق دې ،ابوداود طيالسى په خپل مسند كښې دا تعليق موصولا نقل كړې دې(۳) د ابوبكر نوم شعبه بن عياش دې چه مشهور قارى او داحاديثو حفاظو نه دې ،ددوى شيخ ابوحصين دې ، دهغه نوم عثمان بن عاصم دې ، (۴)

پورته چه دموسى بن اسماعيل روايت تير شوې دې ، په هغې كښې د «ثم أعتقها تزوجها» الفاظ دى او ابوبكر په روايت كښې«ثم اعتقها ثم أصدقها» الفاظ دى. يعنى دا آزاده كړه او

---

۱) فتح البارى:۱۵۲/۹).
۲) فتح البارى: ۱۵۸/۹ ، وعمده القارى : ۷۹/۲).
۳) ارشاد السارى : ۳۵٤/۱۱).
٤) عمده القارى: ۸۰/۲۰).

بيا دې ته مهر ورکړه ،په دې روايت کښې دمهر ورکولو تصريح ده. د ړومبى روايت نه ظاهرا دا مفهوم دې چه آزادى او عتق لره مهر ګرزولې شوې دې ، خو په دې روايت کښې تصريح شوې ده چه عتق سره سره دې ته مهر هم ورکړې نو دده دپاره دوه اجرونه دى ،عتق مهر جوړيدېشى که نه ؟ په دې سلسله کښې عالمانو او آئمه کرام اختلاف مخکښې رازى.

[۴۷۹۶]: حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ تَلِيدٍ قَالَ أَخْبَرَنِي ابْنُ وَهْبٍ قَالَ أَخْبَرَنِي جَرِيرُ بْنُ حَازِمٍ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ مُحَمَّدٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ح حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ عَنْ حَمَّادِ بْنِ زَيْدٍ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ مُحَمَّدٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَكْذِبْ إِبْرَاهِيمُ إِلَّا ثَلَاثَ كَذَبَاتٍ بَيْنَمَا إِبْرَاهِيمُ مَرَّ بِجَبَّارٍ وَمَعَهُ سَارَةُ فَذَكَرَ الْحَدِيثَ فَأَعْطَاهَا هَاجَرَ قَالَتْ كَفَّ اللَّهُ يَدَ الْكَافِرِ وَأَخْدَمَنِي آجَرَ قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ فَتِلْكَ أُمُّكُمْ يَا بَنِي مَاءِ السَّمَاءِ[ر:۲۱۰۴]

امام بخارى رحمه الله ددې حديث دوه سندونه ذکر فرمائيلى دى . ړومبې سند د سداسى دې يعنى په دې کښې دامام بخارى رحمه الله اود حضور نبى کريم په مينځ کښې شپږ واسطې دى او دويم سند دخماسى دې ، امام په دې ځائې کښې چه کوم الفاظ نقل کړى دى ،هغه دونم سند دى. (۱)

داحديث په کتاب احاديث الانبياء کښې تير شوې دې . اودحضرت ابراهيم عليه السلام ثلاث کذبات بيان په کتاب التفسير کښې تفصيل سره تير شوې دې. (۲)

دحديث مناسبت دترجمة الباب نه ظاهر دى چه دخدمت په طور ساره ته بادشاه حضرت هاجره ورکړې وه ،حضرت ساره دا حضرت ابراهيم عليه السلام ته هبه کړې وه ، اوحضرت ابراهيم عليه السلام داخپل ځان سره اوساتلنو «اتخاذ سريه» ددې نه ثابت شو.

«اجر» په دې کښې هاء همزه سره بدل کړې شو ، مراد حضرت هاجره ده.(۳)

قوله: فَتِلْكَ أُمُّكُمْ يَا بَنِي مَاءِ السَّمَاءِ: داجمله حضرت ابوهريره رضي الله عنه دحضرت هاجره متعلق اهل عرب ته خطاب اوکړو او وې فرمائيل ځکه چه حضرت اسماعيل عليه السلام د حضرت هاجره د بطن نه وو. او عرب د حضرت اسماعيل عليه السلام اولاد دى. يعنى د «انکم تتعاظمون فى أنفسکم وتلك امکم» مطلب دادې چه تاسو خپل ځان ډير عظيم ګنړئى ، حالانکه ستاسو مور يو وينځه وه ، «بنو ماء السماء» ئې په دې وجه اوفرمائيل چه دحضرت اسماعيل عليه السلام نسب ډير پاك او طاهر وو نو لکه څنګه چه دآسمان اوبه دهر قسم آلودګئ نه پاکې وى ، داشان ددې اهل عرب نسب هم پاك ، طاهر او دشکوك وشبهات نه صفا دې.

۱) فتح البارى: ۹/۱۵۹).
۲) اوګورئ کشف البارى کتاب التفسير:۳۷۳).
۳) ارشاد السارى : ۱۱/۳۵۵).

بعضې حضراتو اوفرمائيل چه «بنو ماء السماء» ئې په دې مناسبت سره اوفرمائيل چه الله ﷻ دحضرت اسماعيل عليه السلام دپاره د آب زمزم اوبه جارى اوفرمائيلې اوهغه دآسمان اوبه دى، (۱) خو دا توجيه مستبعده ده. زمزم ته آسمانى اوبه څنګه وئيلې شى.
بعضو ددې يوبله وجه ليکلې ده چه عرب به په اصل کښې داوبو په تلاش کښې وو، چه کوم ځائې کښې به باران کيدو او اوبه په جمع کيدې نو هغه ځائې کښې به ئې پړاؤ کولو ، دې مناسبت سره هغوى ته «بنوماء سماء» اووئيلې شو. (۲)

[۳۸۹۷]: حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا اسْمَاعِيلُ بْنُ جَعْفَرٍ عَنْ حُمَيْدٍ عَنْ انَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ اَقَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ خَيْبَرَ وَالْمَدِينَةِ ثَلَاثًا يُبْنَى عَلَيْهِ بِصَفِيَّةَ بِنْتِ حُيَيّ فَدَعَوْتُ الْمُسْلِمِينَ اِلَى وَلِيمَتِهِ فَمَا كَانَ فِيهَا مِنْ خُبْزٍ وَلَا لَحْمٍ اَمَرَ بِالْاَنْطَاعِ فَاُلْقِيَ فِيهَا مِنَ التَّمْرِ وَالْاَقِطِ وَالسَّمْنِ فَكَانَتْ وَلِيمَتَهُ فَقَالَ الْمُسْلِمُونَ اِحْدَى اُمَّهَاتِ الْمُؤْمِنِينَ اَوْمِمَّا مَلَكَتْ يَمِينُهُ فَقَالُوا اِنْ حَجَبَهَا فَهِيَ مِنْ اُمَّهَاتِ الْمُؤْمِنِينَ وَاِنْ لَمْ يَحْجُبْهَا فَهِيَ مِمَّا مَلَكَتْ يَمِينُهُ فَلَمَّا ارْتَحَلَ وَطَّى لَهَا خَلْفَهُ وَمَدَّ الْحِجَابَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ النَّاسِ [ر: ۳۶۴].

په دې حديث کښې حضرت صفيه رضي الله عنها سره دحضور نبى کريم ﷺ د واده بيان دې . تفصيل په کتاب المغازى کښې تير شوې دې. د ترجمة الباب ددې حديث نه دا ثابتيږى چه صحابه کرام رضي الله عنهم اووئيل چه «ان حجبها فهى من أمهات المومنين وان لم يحجبها فهى مما ملكت يمينه» دحضرات صحابه کرام رضي الله عنهم وينا هم په دې بنياد ده چه «اتخاذ سرارى» جائز وو.

۱۴= بَابُ مَنْ جَعَلَ عِتْقَ الْاَمَةِ صَدَاقَهَا

[۴۷۹۸] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا حَمَّادٌ عَنْ ثَابِتٍ وَشُعَيْبِ بْنِ الْحَبْحَابِ عَنْ انَسِ بْنِ مَالِكٍ اَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَعْتَقَ صَفِيَّةَ وَجَعَلَ عِتْقَهَا صَدَاقَهَا [ر: ۳۶۴]

آيا عتق لره مهر جوړولې شى؟: ① دوينځې آزادى دهغې مهر جوړولې شى که نه ؟په دې کښې اختلاف دې ، حضرت سعيد بن المسيب ، طاوس ، ابن شهاب زهرى ، اسحاق بن راهويه ،امام احمد بن حنبل ،سفيان ثورى اوقاضى ابويوسف رحمهم الله فرمائى چه آزادى اوعتق لره مهر جوړولې شى (۳) دا حضرات دحديث دباب نه استدلال کوى.
② دامام ابوحنيفه رحمه الله ، امام مالك او امام شافعى رحمهم الله په نيز عتق لره مهر جوړول جائز نه دى. (۴) امام ترمذى او علامه ابن حزم د امام شافعى رحمه الله قول جواز نقل کړې دې. (۵) خو

۱) الكرمانى: ۶۸/۲۱).
۲) عمده القارى: ۸۰/۲۰).
۳) عمدة القارى : ۱۶/۲۰، وبدايه المجتهد: ۱۶/۲ الباب الثانى فى موجبات صحه النكاح).
٤) عمدة القارى : ۸۱/۲۰).
۵) سنن الترمذى : ۲۱۱/۱ ، باب ماجاء فى الرجل يعتق الامه ثم يتزوجها وفتح البارى : ۱۶۱/۹).

علماء شافعیه دا قول ضعیف ګڼلي دي. او دهغوی صحیح مسلك ئې عدم جواز نقل کړې دي. (۱) داحضرات د حدیث دباب نه مختلف جوابات ورکوی.

① یو جواب دا ورکړې شوي دی چه «وجعل عتقها صداقها» دحضرت انس ﷺ خپل قول دې، هغوی خپله رائې او ظن په بناء باندې دا جمله ونیلې ده (۲)

خودا جواب ضعیف دې. ځکه چه دطبرانی په روایت کښې پخپله دحضرت صفیه ﷺ قول دې چه «اعتقني النبي ﷺ وجعل عتقي صداقي» (۳) دل روایت د حضرت انس ﷺ د حدیث موافق دې.

② امام مزنی ﷺ د امام شافعی او امام بیهقی او امام یحیی بن اکثم نه نقل کړی دی چه عتق لره مهر جوړل د حضرت نبی کریم ﷺ په خصائص کښې داخل دی. (۴) امام طحاوی ﷺ هم دا د حضرت نبی کریم په خصوصیاتو کښې شمارلې دې. (۵) .نوددوی نه پس دا دهیچا دپاره جائز نه دی.

③ حافظ ابن حجر ﷺ فرمائی چه دا اعتاق علی شرط التزویج وو یعنی حضور نبی کریم ﷺ دې شرط سره حضرت صفیه ﷺ آزاده کړې وه چه حضرت نبی کریم ﷺ سره به واده کوی او کله چه داشان کیږی نو د وینځې قیمت مهر شمارلې کیږی. حضور نبی کریم ﷺ د حضرت صفیه قیمت دهغې مهر جوړ کړو. او چونکه قیمت معلوم وو ځکه ددې دمهر په جوړولو کښې څه باقی نه وو، حافظ ابن حجر دا جواب حدیث ته نزدې ترین جواب ګڼلې دې .نو هغه لیکی :

«واجاب الباقون عن ظاهر الحديث باجوبة اقربها الى لفظ الحديث انه اعتقها بشرط ان يتزوجها فوجبت له عليها قيمتها وكانت معلومة فتزوجها بها» (۶)

۱۵=بَاب تَزْوِيجِ الْمُعْسِرِ

لِقَوْلِهِ تَعَالَى ﴿إِنْ يَكُونُوا فُقَرَاءَ يُغْنِهِمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ﴾ (النور:۳۲)

ددې نه مخکښې یو ترجمه د «باب تزويج المعسر معه القران والاسلام» عنوان لاندې تیره شوې ده ، په دواړو ترجمو کښې فرق ظاهر دې. چه ماقبل والا ترجمه خاص ده. ځکه چه په هغې کښې د «الذي معه القران والاسلام» قید دې او مذکوره ترجمه عام ده .د امام بخاری ﷺ مقصد دادې که څوك غریب سړی سره نکاح اوکړی جائز دی . په استدلال کښې دسورت نور آیت پیش کوی ، په سورت نور کښې دی چه ﴿وَأَنكِحُوا الْأَيَامَىٰ مِنكُمْ وَالصَّالِحِينَ مِنْ عِبَادِكُمْ وَإِمَائِكُمْ﴾

---

۱) فتح الباری: ۱۶۱/۹).
۲) فتح الباری : ۱۶۰/۹).
۳) فتح الباری: ۱۶۰/۹).
٤) فتح الباری: ۱۶۱/۹).
۵) شرح معانی الاثار للطحاوی: ۱۲/۲)
۶) فتح الباری: ۱۶۰/۹).

إِنْ يَكُونُوا فُقَرَاءَ يُغْنِهِمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ ۗ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ﴾
علامه شبير احمد عثمانى رحمه الله ددې آيت لاندې فائده كښې ليكى چه :
"بعضې خلق په نكاح كښې په دې وجه پس پيش كوى چه دنكاح كولو نه پس به دښځې اوبچوبار څنګه اوچتوى ، نودوى پوهه كړې شو چه د داسې مهمو خطراتو په وجه نكاح مه پريږدئى. روزى ستاسواو ستاسو د بچو دالله ﷻ سره ده، څه معلوم چه دهغوى د قسمت په وجه ستارزق فراخه كړى ، نه مجرد پاتې كيدل نه دغنا موجب دې ، اونه نكاح كول فقرو افلاس لره مستلزم دى. دا خبرې الله ﷻ په مشيت باندې دى.لكه څنګه چه په بل ځائې كښې فرمائى ﴿وَإِنْ خِفْتُمْ عَيْلَةً فَسَوْفَ يُغْنِيكُمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ إِنْ شَاءَ﴾ اوظاهرى اسبابو اعتبار سره هم دا څيزونه معقول دى چه نكاح كولو سره يا دداسې ارادې كولو سره په سړى باندې بوج رازى ، اوهغه دمخكښې نه زيات دګټې وټې كوشش كوى ،بل طرفته چه كله دښځې اولاد اوشى نو بالكل بعضې وختونو كښې خاندان والا هم په كسب معاش كښې دهغه سره مددكوى، بهر حال دروزئ تنګسيا يا وسعت په نكاح يا تجردباندې موقوف نه دى. نو دا خيال دنكاح كولو نه ولې منع كوى" . (۱)

[۴۷۹۹] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ أَبِي حَازِمٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ السَّاعِدِيِّ قَالَ جَاءَتِ امْرَأَةٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ جِئْتُ أَهَبُ لَكَ نَفْسِي قَالَ فَنَظَرَ إِلَيْهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَعَّدَ النَّظَرَ فِيهَا وَصَوَّبَهُ ثُمَّ طَأْطَأَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأْسَهُ فَلَمَّا رَأَتِ الْمَرْأَةُ أَنَّهُ لَمْ يَقْضِ فِيهَا شَيْئًا جَلَسَتْ فَقَامَ رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِهِ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنْ لَمْ يَكُنْ لَكَ بِهَا حَاجَةٌ فَزَوِّجْنِيهَا فَقَالَ وَهَلْ عِنْدَكَ مِنْ شَيْءٍ قَالَ لَا وَاللَّهِ يَا رَسُولَ اللَّهِ فَقَالَ اذْهَبْ إِلَى أَهْلِكَ فَانْظُرْ هَلْ تَجِدُ شَيْئًا فَذَهَبَ ثُمَّ رَجَعَ فَقَالَ لَا وَاللَّهِ مَا وَجَدْتُ شَيْئًا فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انْظُرْ وَلَوْ خَاتَمًا مِنْ حَدِيدٍ فَذَهَبَ ثُمَّ رَجَعَ فَقَالَ لَا وَاللَّهِ يَا رَسُولَ اللَّهِ وَلَا خَاتَمًا مِنْ حَدِيدٍ وَلَكِنْ هَذَا إِزَارِي قَالَ سَهْلٌ مَا لَهُ رِدَاءٌ فَلَهَا نِصْفُهُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا تَصْنَعُ بِإِزَارِكَ إِنْ لَبِسْتَهُ لَمْ يَكُنْ عَلَيْهَا مِنْهُ شَيْءٌ وَإِنْ لَبِسَتْهُ لَمْ يَكُنْ عَلَيْكَ مِنْهُ شَيْءٌ فَجَلَسَ الرَّجُلُ حَتَّى إِذَا طَالَ مَجْلِسُهُ قَامَ فَرَآهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُوَلِّيًا فَأَمَرَ بِهِ فَدُعِيَ فَلَمَّا جَاءَ قَالَ مَاذَا مَعَكَ مِنَ الْقُرْآنِ قَالَ مَعِي سُورَةُ كَذَا وَسُورَةُ كَذَا عَدَّدَهَا فَقَالَ تَقْرَؤُهُنَّ عَنْ ظَهْرِ قَلْبِكَ قَالَ نَعَمْ قَالَ اذْهَبْ فَقَدْ مَلَّكْتُكَهَا بِمَا مَعَكَ مِنَ الْقُرْآنِ [ر:۲۱۸۶]

حضرت سهل بن سعدى ساعدى رضي الله عنه نه روايت دې چه دحضرت رسول كريم ﷺ په خدمت كښې يو ښځه راغله او وې وئيل يارسو الله ﷺ ! ماخپل نفس تاسو لره هبه كړې دې. حضرت رسول كريم ﷺ هغې ته دپورته نه لاندې پورې اوكتل بيا ئې سرښكته كړو ،ښځې چه كله اوكتل چه حضرت رسول كريم ﷺ څه فيصله نه كوى نو كيناستله،په صحابه كرام

---

۱) تفسير عثمانى : ۲۵۲ سورت التوبه).

ﷺ كښې يوسړې پاسيدواو وې وئيل ، يارسول الله ﷺ كه تاسو ته ددې ښځې ضرورتنه وى نو ماسره دې واده اوكړئى ، حضرت نبى كريم ﷺ اوفرمائيل چه آيا تاسره څه شته دې ؟ نوهغه اووئيل چه ماسره خو هيڅ نشته دې ، حضرت رسول كريم ﷺ ورته اوفرمائيل چه كورته لاړشه او اوګوره چه څه شته دې كه نه ؟هغه كور ته ځى او واپس راځى او فرمائى چه ما خو هيڅ اونه موندل ،حضرت رسول كريم ﷺ ورته اوفرمائيل چه اوګوره كه داوسپنې يو ګوتمه هم وى نو هغه راوړه ، هغه لاړو او واپس راغلو اووې وئيل چه يارسول الله ﷺ ماته د اوسپنې يو ګوتمه هم ملاؤ نشوه. او داځما ازار دې دا به نيم ددې شى. حضرت سهل ﷺ اوفرمائيل چه هغه صرف يو ازار وو، رداء ورسره نه وه ، يعنى صرف لنګ وو بل څادر نه وو چه دقميص په ځائې ئې استعمالولې شى. حضرت رسول كريم ﷺاوفرمائيل چه دا ښځه به ستا ازار سره څه اوكړى، كه دا ته اغوندې نو دې ته به هيڅ ملاؤ نشى. او كه هغه ئې اغوندى نه تاته به هيڅ ملاؤ نشى. (يعنى دا يوسړې استعمالولې شى د دوؤ سړو داستعمال دپاره كافى نه دې)نو هغه سړې كيناستواو ډير ساعت كيناستو نه پس پاسيدو او روان شو . حضرت‌رسول كريم ﷺ چه هغه واپس په تلو اوليدو نو هغه ته ئې راواپس كيدو حكم اوكړو ، هركله چه هغه راغلو نوحضرت رسول كريم ﷺ هغه اووئيل چه دقران پاك نه تاسره څه دى؟هغه اووئيل ماسره فلانې فلانې سورت دې . حضرت رسول كريم ﷺ ورته اووئيل چه ته دا سورتونه زبانى وئيلې شې . هغه اووئيل آوجى. حضرت رسول كريم ﷺ ورته اوفرمائيل څه د قران پاك څومره حصه چه تاسره ده دهغې په بدله كښې ما ته ددې ښځې مالك كړې.

قوله: جَاءَتْ امْرَأَةٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ددې ښځې باره كښې حافظ ابن حجر ﷫ لاعلمى ظاهره كړې ده اوليكلى ئې دى((وهذا المرأة هذه لم أقف على اسمها)) (١) او ابن قصاع ددې نوم ليكلې دې.چه دامذكوره ښځه خوله بنت حكيم يا ام شريك وه. (٢)

قوله: فَصَعَّدَ النَّظَرَ فِيهَا وَصَوَّبَهُ: يعنى حضرت نبى كريم ﷺ نظر پورته كړو اوبيائې لاندې طرفته ته ،مقصد دادې چه حضرت نبى كريم ﷺ هغه‌ښځې ته دپورته نه لاندې پورې اوكتل. ((صوب)) لاندې كول ، دباب تفعيل نه دې او د ((طأطأ)) معنى هم لاندې كول دى.

قوله: فَقَامَ رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِهِ: دا سړې څوك وو ،دده نوم معلوم نشو، البته دطبرانى يو روايت كښې دى چه ((فقام رجل احسبه من الانصار))(٣) څوك انصارى سړې وو.

قوله: انْظُرْ وَلَوْ خَاتَمًا مِنْ حَدِيدٍ: ددې نه بعضې حضرات استدلال كوى چه داوسپنې

١) فتح البارى : ٢٥٧/٩).
٢) فتح البارى: ٢٥٧/٩).
٣) فتح البارى: ٢٥٩/٩).

په‌گوتمه اچولوکښې هیڅ حرج نشته دې ،دامام شافعی رحمه الله هم دا مسلك دې (۱) خو حنفیه او جمهور عالمان داوسپنې گوتمه مکروه تحریمي گنړی. (۲) ددې وجې دابو دواود په یو روایت کښې راغلی دی‌چه حضرت نبی کریم ﷺ یو سړې اوکتلو چه‌هغه‌داوسپنې گوتمه اغوستې وه نو وې فرمائیل «مالی اری علیك حلیة اهل النار»دې نه پس هغه سړی دپیتلو گوتمه واچوله، حضرت نبی کریم ﷺ چه اوکتلو نو وې فرمائیل چه «مالی أجد منکم ریح الاصنام» بیا هغه تپوس اوکړو چه کومه یوه گوتمه استعمال کړم ، حضرت نبی کریم اوفرمائیل چه دچاندئی گوتمه واچوه (۳)

دحدیث باب د جواب ورکړې شوې دې چه‌داوسپنې د گوتمې ذکر نه دا لازم نه دی چه حضرت نبی کریم ﷺ ددې داستعمال اجازت ورکوی ، دحضرت نبی کریم ﷺ دا مقصد وو چه دمعمولی نه معمولی قمیت والا څیز که وی نو هغه راوړه (۴)ددې مزید تفصیل به مخکښې په کتاب اللباس کښې رازی.

قوله: وَلَكِنْ هَذَا إِزَارِي قَالَ سَهْلٌ مَالَهُ رِدَاءٌ فَلَهَا نِصْفُهُ: اصل عبارت دې «ولکن هذا ازاری فلها نصفه» یعنی ماسره دا ازار دې ، ددې نیمه به دې ښځې ته ورکړې شی ،«قال سهل ماله رداء» دا په مینځ کښې جمله معترضه ده ، راوی دحدیث حضرت سهل بن سعدساعدی رضی الله عنه فرمائی چه‌د دې سړی دغربت دا حالت وو چه‌هغه سره رداء هم نه وه ، صرف ازاربند اوتهبند وو.

قوله: قَالَ اذهب فقد ملکتها بمَا ذَا مَعَكَ مِنَ الْقُرْآنِ: دحدیث باب ددې مذکوره جملې نه استدلال کوی او حضرات شافعیه د تعلیم القران مهر جوړول جائز گنړی(۵) دجمهور اوحنفیه په نیزتعلیم القران مهر جوړول جائزنه دی. (۶)

دجمهورو استدلال دقرآن پاك آیت دې ﴿وَأُحِلَّ لَكُمْ مَا وَرَاءَ ذَٰلِكُمْ أَنْ تَبْتَغُوا بِأَمْوَالِكُمْ﴾ په دې کښې د ابتغاء بالمال حکم ورکړې شوې دې . چه ددې مطلب دادې چه‌دمهرد‌پاره د مال متقوم کیدل ضروری دی او چه کوم مال نه وی نوهغه مهر نه شی جوړیدې ، اوتعلیم القران هم مال نه دې ،څکه ددې مهر جوړول جائز نه دی.ترڅو چه تعلق دې دحدیث باب نو ددې مختلف جوابونه ورکړې شوی دی.

①یو جواب دا ورکړې شو چه‌تعلیم القران لره مهر جوړول دمتعلقه صحابی رضی الله عنه خصوصیت

---

۱) المجوعه شرح المهذب: ٤/٣٤٤، باب مایکره لبسه ومالایکره).
۲) البحرالرائق : ۱۹۱/۸ ، کتاب الکراهیه فصل فی اللبس ، فتح التقدیر:۴۵۷/۸، کتاب الکراهیه).
۳) سنن ابی داود: ۵۸۰/۲_ باب ماجاء فیٌ خاتم حدید).
٤) فتح الباری:۲۶٤/۹).
۵) المجوع شرح المهذب: ۴۸۶/۱۵، کتاب الصداق، مساله اذا تزوجها واصدقهاتعلیم القران).
۶) المغنی لابن قدامه:۶۸۳/۶_ کتاب الصداق).

وو. نو دده دا خصوصيت په بعضو رواياتوكښې تصريح دې. «ان رسول الله ﷺ زوج رجلا على سورة من القران ثم قال : لاتكون لاحد بعدك مهرا» دا روايت ابن قدامه په «المغنى» كښې نقل كړې دې، (۱)

② دويم جواب دادې وركړې شو چه «بما معك من القران» كښې باء عوض لره نه ده بلكه باء سببيت دپاره ده او مطلب دادې چه «ملكتكها لانك من اهل القران» يعنى دا اهل قران كيدو په وجه په تا باندې مهر معجل واجب نه دې البته مهر موجل دقواعدو مطابق به واجب وى.(۲)

۱۶=بَابُ الْأَكْفَاءِ فِي الدِّينِ

﴿وَقَوْلُهُ: وَهُوَ الَّذِي خَلَقَ مِنَ الْمَاءِ بَشَرًا فَجَعَلَهُ نَسَبًا وَصِهْرًا ۗ وَكَانَ رَبُّكَ قَدِيرًا﴾ (الفرقان: ۵۴).(۳)

دحضرت امام بخارى رحمه الله مقصد ددې ترجمې نه دادې چه دنكاح په سلسله كښې په دين كښې دننه مشاركت اومماثلت مطلوب دى.

په دې باندې خو دټولو اتفاق دې چه دين كښې كفاءت ضرورى دې ، د مسلمانې ښځې ديو كافر سړى سره او دمسلمان سړى ديو كافرې ښځې سره نكاح كول جائزنه دى. البته كتابيات ددې حكم نه مستثنى دى.

ددين نه علاوه څه بل څيز هم داسې دې چه په هغې كښې كفاءت مطلوب دې. په دې كښې اختلاف دې ،د امام مالك رحمه الله په نيز صرف دين كښې دننه كفاءت ضرورى دې ،ددې نه علاوه باقى په يو څيز كښې هم كفو كيدل ضرورى نه دى. امام احمد رحمه الله نه هم يو روايت داشان منقول دې.

جمهور علماء فرمائى چه خلور څيزونه داسې دى چه په هغې كښې به دكفاءت اجازت كيدلې شى. ① دين ② نسب ③ حرفت وصنعت ④ حريت(۴)

باقى پاتې شو مال كښې كفاءت ، په دې كښې اختلاف دې ، بعضې حضرات ددې اعتبار كوى او بعضې نه كوى ،مخكښې دا بحث رازى.

امام بخارى رحمه الله چونكه د كفاءت فى النسب قائل نه دې ددې وجې هغوى دقران مجيد چه

---

۱) اوګورئ المغنى لابن قدامه ۶/۶۸۴_ كتاب الصداق).

۲) اوجز المسالک:۹/۲۹۴_ كتاب النكاح باب ماجاء الصداق والاباء).

۳) (الاكفاء) جمع كفء . وهو المثل والنظير (من الماء) من النطفة (فجعله) قسمين (نسبا) ذوى نسب . أى ذكورا ينسب اليهم . (وصهرا) ذوات صهر .أى اناثا يصاهر بهن . والاتيان بالاية . يفيد . أن البشر من منشأ واحد . فلا تمايز بينهم من حيث الجنس . وانما ينبغى أن يكون التمايز من حيث الدين ولذالک كانت الكفارة بين الزوجين معتبرة الدين لا بغيره).

۴) دمذكوره تفصيل دپاره اوګورئ الفقه الاسلامى وادلته :۷/۲۴۰_۲۴۱، المبحث الخامس ماتكون فيه الكفاءه).

كوم آيت منتخب كړو ((وَهُوَ الَّذِیْ خَلَقَ مِنَ الْمَآءِ بَشَرًا فَجَعَلَهٗ نَسَبًا وَّصِهْرًا)) دې نه ثابتول غواړي چه الله ﷻ مطلقًا دبشرمتعلق دا اوفرمائيل ((فَجَعَلَهٗ نَسَبًا وَّصِهْرًا)) چه بعضې خلق داسې وی چه هغوی سره دنسب تعلق وی، هغوی سره دنکاح کول حلال نه دی ، او دبعضو سره دصهر تعلق قائمولې شی. يعنی هغوی سره نکاح کول حلال دی. امام فراء فرمائی چه ((النسب من لايحل نكاحه والصهر من يحل نكاحه)) (١) په آيت کريمه کښې بشر لره په دوؤ قسمونو کښې تقسيم کړې شوې دې چه ددې نه معلوميږی چه هر بشر د بل دپاره کفو دې، دين نه پس په څه بل څيز کښې دکفاءت ضرورت نشته.

او واقعه هم دادهچه کفاءت فی الانساب باره کښې چه څومره روايتونه هم پيش کولې شی په هغې يو هم داسې نه دې چه نقد او کلام نه خالی وی. (٢) دکفاءت انساب باره کښې دټولو نه قوی دليل دحضرت علی رضي الله عنه دې چه په ترمذی کښې دې. ((ياعلی، ثلاث لاتوخرها: الصلاة اذا حانت والجنازة اذا حضرت ،والايم اذا وجدت لها كفوا)) (٣) امام بيهقی فرمائی چه دکفاءت په باب کښې دټولو نه امثل هم دادې (۴)

څوک دچا کفو دې ؟: امام اعظيم رحمه الله فرمائی چه قريش ديو بل دباره کفو دی. دقريشونه علاوه عام عرب ديوبل دپاره کفو دی ،او هيڅ يوعجمی د عربی دپاره کفو نه دې.((لان العجم ضيعوا انسابهم)) شوافع نه هم يو روايت کښې دا تفصيل منقول دې.ليکن دهغوی صحيح قول دادې چه بنو هاشم اوبنو المطلب خلقو باندې مقدم دی اوددوی نه علاوه باقی بعضی د بعضو دپاره کفو دی . (۵)

کفاءت حق الله دې يا حق المراه: کفاءت حق الله دې يا حق المراة والاولياء ،دجمهور علماء مسلك دادې چه کفاءت حق الله نه دې دا حق المراة والاولياء دې ، اوچونکه دا دهغوی حق دې ، ځکه جمهور علماء او ائمه ثلاثه فرمائی چه کفاءت صحت نکاح دپاره شرط نه دی ، دبنځې اواولياء په رضا مندئی سره غير کفو کښې که نکاح اوشی نودرست دی ، امام احمد بن حنبل رحمه الله هم يو روايت داشان دې او ددوی بل روايت دادې چه کفاءت صحت نکاح دپاره شرط دې . (۶)

---

١) فتح الباری: ١٦٤/٩).
٢) وفی الفتح :١٦٤/٩ ، ولم يثبت فی اعتبار الكفاءه باالنسب حديث).
٣) عمده القاری : ٨٧/٢٠).
٤) السنن الكبری للبيهقی ، كتاب النكاح ، باب اعتبارالكفاءه : ١٣٢/٧).
٥) فتح الباری : ١٦٤/٩).
۶) اوګورئ المغنی لابن قدامه : كتاب النكاح : رقم المساله: ٥١٨٩، : ٢٦/٧ مختصر العلماء للطحاوی كتاب النكاح :٢٥٣/٢).

امام بخارى رحمه الله چونكه صرف دين كښې دننه كفاءت اختياروى. نسب وحريت وغيره كښې دكفاءت اعتبار دهغوى په نيز درست نه ده. ددې وجې هغوى په دې باب كښې خپل مذهب لره دثابتولو دپاره داسې روايتونه پيش كړى دى چه دهغې نه معلوميږى چه خاندانى لحاظ سره د اوچتې درجې ښځه غير كفو كښې نكاح شوې ده . لكه په ړومبى حديث كښې دى چه د هندبنت الوليد بن عتبه بن ربيعه نكاح حضرت سالم سره اوشوه ،چه دې د يو انصارى ښځې آزاد شوې غلام وو او هند بنت الوليد قريشيه وه. داشان دباب په دويم روايت كښې دى چه ضباعه بنت الزبير حضرت مقداد بن الاسودپه نكاح كښې وه ، حضرت مقداد غير قريشي وو.حالانكه حضرت ضباعه قريشيه وه.

[۴۸۰۰] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّ أَبَا حُذَيْفَةَ بْنَ عُتْبَةَ بْنِ رَبِيعَةَ بْنِ عَبْدِ شَمْسٍ وَكَانَ مِمَّنْ شَهِدَ بَدْرًا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَبَنَّى سَالِمًا وَأَنْكَحَهُ بِنْتَ أَخِيهِ هِنْدَ بِنْتَ الْوَلِيدِ بْنِ عُتْبَةَ بْنِ رَبِيعَةَ وَهُوَ مَوْلًى لِامْرَأَةٍ مِنَ الْأَنْصَارِ كَمَا تَبَنَّى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَيْدًا وَكَانَ مَنْ تَبَنَّى رَجُلًا فِي الْجَاهِلِيَّةِ دَعَاهُ النَّاسُ إِلَيْهِ وَوَرِثَ مِنْ مِيرَاثِهِ حَتَّى أَنْزَلَ اللَّهُ ادْعُوهُمْ لِآبَائِهِمْ إِلَى قَوْلِهِ وَمَوَالِيكُمْ فَرُدُّوا إِلَى آبَائِهِمْ فَمَنْ لَمْ يُعْلَمْ لَهُ أَبٌ كَانَ مَوْلًى وَأَخًا فِي الدِّينِ فَجَاءَتْ سَهْلَةُ بِنْتُ سُهَيْلِ بْنِ عَمْرٍو الْقُرَشِيِّ ثُمَّ الْعَامِرِيِّ وَهِيَ امْرَأَةُ أَبِي حُذَيْفَةَ بْنِ عُتْبَةَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّا كُنَّا نَرَى سَالِمًا وَلَدًا وَقَدْ أَنْزَلَ اللَّهُ فِيهِ مَا قَدْ عَلِمْتَ فَذَكَرَ الْحَدِيثَ [ر:٣٧٧٨].

امام بخارى رحمه الله داحديث په دوه ځايونوكښې ذكركړې دې . يوپه دې ځائې كښې او يو په كتاب المغازى «باب شهود الملائكة بدرا» نه پس «باب بلاترجمة» كښې او په هغه ځائې كښې مونږ ددې حديث تفصيل بيان كړې دې.

[۴۸۰۱] حَدَّثَنَا عُبَيْدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ عَنْ هِشَامٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ دَخَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى ضُبَاعَةَ بِنْتِ الزُّبَيْرِ فَقَالَ لَهَا لَعَلَّكِ أَرَدْتِ الْحَجَّ قَالَتْ وَاللَّهِ لَا أَجِدُنِي إِلَّا وَجِعَةً فَقَالَ لَهَا حُجِّي وَاشْتَرِطِي وَقُولِي اللَّهُمَّ مَحِلِّي حَيْثُ حَبَسْتَنِي وَكَانَتْ تَحْتَ الْمِقْدَادِ بْنِ الْأَسْوَدِ

حضرت عائشه رضي الله عنها نه روايت دې چه حضرت نبى كريم ﷺ ضباعه بنت الزبير بنت عبدالمطلب لره راغلواو تپوس ئې ترې اوكړو چه شائد تاسودحج كولو اراده كړې ده؟نوهغې اووئيل چه څه په خپل بدن كښې درد محسوسوم (يعنى بيماره يم ، په بدن كښې مې درد اوتكليف) حضرت نبى كريم ﷺ ورته اوفرمائيل تاسو حج ته لاړ شئ،او شرط اوكړئ او دا اوائې چه ائې الله ﷻ ! څما په احرام كښې دحلاليدو ځائې هغه دې چه په كوم ځائې كښې ته مالره دبيمارئى په وجه منع كړې ، (يعنى په كوم مقام باندې چه ماته كوم غذريا بيمارى راپيښه شي نو په هغه ځائې كښې به ماته داحرام نه دوتلو اختيار وى) اوضباعه(قريشيه)

حضرت مقداد بن الاسود (غيرقريشى) په نكاح كښې وه (هم دا جمله ترجمة الباب له ثابتوى).
امام بخارى رحمه الله علهې دا حديث په دې ځائې كښې په رومبى ځل ذكر اوفرمائيلو. دكتاب الحج متعلق دا حديث هغوى په هغه ځائې كښې ذكر نه كړو، په دې ځائې كښې هغه دا كفاءت فى النسب غيرمعتبر كيدو او صرف كفاءت فى الدين معتبر كيدو باندې په طور استدلال پيش كړې دې.

قوله: دَخَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى ضُبَاعَةَ بِنْتِ الزُّبَيْرِ: ضباعه بن الزبير بن عبدالمطلب دحضور اكرم ﷺ د تره لور وه.

قوله: وَاللَّهِ لَا أَجِدُنِي إِلَّا وَجِعَةً: «وجعه» (د واوفتحه او دجيم كسرې سره) صفت مشبه صيغه ده «اى ذاك الوجع» يعنى څه خپل ځان بيماره او مرض والا محسوسوم.

قوله: حُجِّي وَاشْتَرِطِي: داحرام په وخت كښې سړې داشان شرط لګولې شى كه نه ؟ددې پوره تفصيل په كتاب الحج كښې «ابواب المحصر» لاندې تير شوې دې چه دامام ابوحنيفه رحمة الله عليه، امام مالك رحمه الله، اود سفيان ثورى په نيز داسې شرط اعتبار نشته دې، امام شافعى رحمه الله قول هم دا دې. دحنابله، امام اسحاق او دشافعيه دقول قديم كاكره كښې داشان شرط لګول دحديث باب په وجه جائز دې. او چه په كوم ځائې كښې څه عذر راپيش كيږى په هغه ځائې كښې به محرم بغير ددم نه حلال وى. (۱)
حضرات حنيفه دحديث باب جواب دا وركوى دا د ضباعه بنت الزبير خصوصيت وو. (۲)
امام بخارى رحمه الله په دې مذكوره باب كښې كفاءت فى الدين دمعتبر كيدو او كفاءت فى النسب غيرمعتبر كيدو استدلال كړې دې ځكه چه په دواړو روايتونو كښې د قريشى ښځو دغير قريشى سړو سره دنكاح كولو ذكر دې.
خو كوم حضرات چه د كفاءت فى النسب اعتبار كوى، هغوى ددې حديثونو متعلق وائى چه په دې دواړو صورتونو كښې زوجه او ددې اولياء راضي وو. هغوى په خپلې رضا سره خپل حق ساقط كړو. او كه يو ښځه اودهغې اولياء په خپل كفاءت فى النسب اعتبار نه كوى نو جائز دى.

تنبيه: امام بخارى رحمه الله دا حديث د كتاب الحج په ځائې په دې مقام باندې په كتاب النكاح كښې ذكر كړې دې. په دې بناء بعض حضراتو ته ددې روايت په صحيح بخارى كښې د كيدو علم اونشو. حضرت مولانا محمد يوسف بنورى رحمه الله په معارف السنن كښې ليكلى دى چه مولانا ظفر احمد عثمانى رحمه الله ته هم دا حديث په صحيح بخارى كښې نه وو ملاؤ شوې. (۳)

---

۱) عمدة القارى: ۸۵/۲۰، ومعارف السنن: ۵۸۵/۶).
۲ ([عمدة القارى: ۱٤۷/۱۰، باب الاحصار فى الحج).
۳) علامۀ بنورى رحمه الله ليكلى: وقدخفى على كثير محله فى الصحيح لاخراجه فى غير محله وفى عندالقوم. فانكروه وادعوه انه ليس متفقا عليه كالشيخ احمد شاكر، والشيخ العثمانى صاحب اعلاء السنن وغيرهما (معارف السنن: ۵۷٤/۶).

خو په دې كښې امام بنورى رحمه الله نه تسامح شوې ده ، ځكه چه علامه ظفر احمد عثمانى رحمه الله اعلاء السنن كښې صراحتًا ليكلى دى «اخرجها البخارى فى كتاب النكاح لا فى الحج»(١)

[٣٨٠٢] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ قَالَ حَدَّثَنِي سَعِيدُ بْنُ أَبِي سَعِيدٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ تُنْكَحُ الْمَرْأَةُ لِأَرْبَعٍ لِمَالِهَا وَلِحَسَبِهَا وَجَمَالِهَا وَلِدِينِهَا فَاظْفَرْ بِذَاتِ الدِّينِ تَرِبَتْ يَدَاكَ

حضرت ابوهريره رضى الله عنه نه روايت دې چه حضرت نبى كريم اوفرمائيل چه دخلورو څيزونو په وجه ښځې سره نكاح كول پكار دى. ① مال② حسب③ ښائست④ ديندارى.او تاسو ددين والا په ذريعه كاميابى حاصله كړئ. (كه په چا كښې دا ټول صفات وى نو سبحان الله ! اوكه ټول نه وى نو بيا ديندارئ باندې داررومدار كول پكاردى.

قوله: فَاظْفَرْ بِذَاتِ الدِّينِ: امام بخارى رحمه الله هم په دې جمله كښې خپل مذهب ثابت كړې دې چه دحضرت نبى كريم صلى الله عليه وسلم دا ارشاد دې خبرې طرفته مشير دې چه اصل څيز هم دين دې.هم ددې اعتبار اهم او ضرورى دې. امام ابن ماجه دحضرت عبدالله بن مسعود رضى الله عنه نه دا قسمه يوروايت نقل فرمائيلې دې.

«لاتزوجوا النساء لحسنهن فعسى حسنهن أيرديهن .. أى يهلكهن ... ولاتزوجوهن لأموالهن فعسى أموالهن أن تطغيهن ولكن تزوجوهن على الدين ولأمة سوداء ذات دين أفضل»(٢)

قوله: لابد...ملابدة: تيتيدل ، «ورهاء» بيوقوفه ښځه يعنى دبيوقوفې ښځې مال عقل مند سړې لره ددې مخكښې ټيټوى او دې دكم عقلې ښځې لره تابع كوى.

قوله: تَرِبَتْ يَدَاكَ: «تَرِبَتْ» باب سمع نه دې ، په معنى دخيرن ،د جمله دفقرئى نه كنايه ده، او په طور د بددعاء استعماليږى، علامه ابن العربى رحمه الله فرمائى چه په دې مقام باندې دې جملې لره به جزا جوړولې شى اوددې دپاره به شرط محذوف وى «أى ان لم تظفر بذات الدين تربت يداك»(٣)

---

١) اوګورئ اعلاء السنن: ٤٣٧/١٠ ، باب الاشتراط فى الحج والعمره).

٢) فتح البارى: ١٦٨/٩_ وقال بكير الاسدى:

و اول خبث المرء خبث ترابه	و اول لوم المرء لوم المناكح

وقال آخر:

واذا كنت تبغى ايما بجهالة	من الناس فانظر من ابوها وخالها
فانهما منها كما هى منهما	كقدك تعلان اريد مثالها
ولاتطلب البيت الذى فعاله	و لابد ذا عقل لورهاء مالها
فان الذى ترجو من المال عندها	سيأتى عليه شومها و عيالها

٣)) فتح البارى: ١٦٨/٩).

حضرت حسن بصری رحمه الله ته یوسړی اووئیل چه خما یولور ده ، خمادې سره ډیر زیات محبت دې. مختلفو خلقو راته دنکاح پیغام رالیږلی دې . تاسواووائې چه خه ددې واده کوم سړی سره اوکړم؟حضرت حسن بصری رحمه الله اوفرمائیل چه ددې واده داسې سړی سره اوکړه چه دالله ﷻ نه ویریږی او که د هغه ستادلورنه نفرت وی نو په هغې به ظلم نه کوی (۱)

[۴۸۰۳] حَدَّثَنَا اِبْرَاهِيمُ بْنُ حَمْزَةَ حَدَّثَنَا ابْنُ اَبِي حَازِمٍ عَنْ اَبِيهِ عَنْ سَهْلٍ قَالَ مَرَّ رَجُلٌ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَا تَقُولُونَ فِي هَذَا قَالُوا حَرِيٌّ اِنْ خَطَبَ اَنْ يُنْكَحَ وَاِنْ شَفَعَ اَنْ يُشَفَّعَ وَاِنْ قَالَ اَنْ يُسْتَمَعَ قَالَ ثُمَّ سَكَتَ فَمَرَّ رَجُلٌ مِنْ فُقَرَاءِ الْمُسْلِمِينَ فَقَالَ مَا تَقُولُونَ فِي هَذَا قَالُوا حَرِيٌّ اِنْ خَطَبَ اَنْ لَا يُنْكَحَ وَاِنْ شَفَعَ اَنْ لَا يُشَفَّعَ وَاِنْ قَالَ اَنْ لَا يُسْتَمَعَ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَذَا خَيْرٌ مِنْ مِلْءِ الْاَرْضِ مِثْلَ هَذَا [۶۰۸۲](۲)

په سندکښې د «ابن ابی حازم» نه مراد عبدالعزیز دې ، دابوحازم نوم سلمه بن دینار دې ، عبدالعزیز خپل پلار سلمه بن دینار نه روایت کوی.

حضرت سهیل بن سعد رضی الله عنه نه روایت دې چه دحضور اکرم ﷺ سره یوسړې تیر شو نو حضرت نبی کریم ﷺ دحضرات صحابه کرام رضی الله عنهم نه تپوس اوکړو چه تاسوددې سړې په باره کښې څه وائې ؟نوهغوی اوفرمائیل چه داسړې ددې خبرې مستحق اوسزاوار دې چه که چرته دده دنکاح پیغام اولیږلې شی نو نکاح به ئې اوکړې شي ،که سفارش اوکړی نو دده سفارش به قبول کړې شی ، اوکه خبره اوکړی نو دده خبره آوریدلې شی ، حضرت سهل فرمائی چه حضور نبی کریم ﷺ خاموش شو،په دې کښې یو فقیرمسلمان تیرشو، حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه تاسو ددې سړی به باره کښې څه وائې؟هغوی عرض اوکړو چه دې ددې مستحق دې که دې دنکاح پیغام اولیږی نو نکاح به ئې اونه شی او که سفارش اوکړی نو هغه به قبول نشی اوکه خبره اوکړی نو دده خبره نه آوریدلې کیږی ، په دې باندې حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه دا فقیر ددغه رنګ ټولو مالدارو نه بهتر دې .

امام بخاری رحمه الله ددې حدیث نه ترجمة الباب ثابت کړې دې او فرمائی چه اصل اعتبار دین او دینداری ده ،ددې نه علاوه دمال اوحسب هیڅ اعتبار نشته دې ځکه چه حضور نبی کریم ﷺ یو دیندارفقیر سړی لره دیو مالدارنه بهتر او افضل خودلې دې.

حضور اکرم ﷺ سره دوه سړی چه تیر شوی وو دا څوك وو؟حافظ ابن حجر رحمه الله وائی چه ماته ددې دواړونومونه معلوم نه دی. (۳) بعضې حضراتو ددې فقیر مسلمان نوم جعیل بن سراقه رضی الله عنه خودلې دې(۴)

---

۱) ارشاد الساری: ۱۱/۳۶۵).
۲) واخرجه البخاری ایضافی کتاب الرقاق باب فضل ا لفقر رقم الحدیث :۶۰۸۲، وابن ماجه فی کتاب الزهد . باب فضل الفقراء رقم الحدیث : ٤۱۲۰).
۳) فتح الباری : ۹/۱۶۹).
٤) فتح الباری:۹/۱۶۹).

علامه قسطلانی رحمه الله لیکی . ((واطلاقه التفضیل علی الغنی المذکور لایلزم منه تفضیل کل فقیر علی کل غنی... کمالایخفی.. نعم فیه تفضیله مطلقاً فی الدین فیطابق الترجمة)). (۱)
په دې باندې به تفصیلی کلام به مخکښې په په کتاب الرقاق کښې د "باب فضل الفقر" لاندې راشی.

۱۷=بَابُ الْأَكْفَاءِ فِي الْمَالِ وَتَزْوِيجِ الْمُقِلِّ الْمُثْرِيَةَ

[۴۸۰۴] حَدَّثَنِي يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ أَخْبَرَنِي عُرْوَةُ أَنَّهُ سَأَلَ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا وَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تُقْسِطُوا فِي الْيَتَامَى قَالَتْ يَا ابْنَ أُخْتِي هَذِهِ الْيَتِيمَةُ تَكُونُ فِي حَجْرِ وَلِيِّهَا فَيَرْغَبُ فِي جَمَالِهَا وَمَالِهَا وَيُرِيدُ أَنْ يَنْتَقِصَ صَدَاقَهَا فَنُهُوا عَنْ نِكَاحِهِنَّ إِلَّا أَنْ يُقْسِطُوا فِي إِكْمَالِ الصَّدَاقِ وَأُمِرُوا بِنِكَاحِ مَنْ سِوَاهُنَّ قَالَتْ وَاسْتَفْتَى النَّاسُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ ذَلِكَ فَأَنْزَلَ اللَّهُ وَيَسْتَفْتُونَكَ فِي النِّسَاءِ إِلَى وَتَرْغَبُونَ أَنْ تَنْكِحُوهُنَّ فَأَنْزَلَ اللَّهُ لَهُمْ أَنَّ الْيَتِيمَةَ إِذَا كَانَتْ ذَاتَ جَمَالٍ وَمَالٍ رَغِبُوا فِي نِكَاحِهَا وَنَسَبِهَا وَسُنَّتِهَا فِي إِكْمَالِ الصَّدَاقِ وَإِذَا كَانَتْ مَرْغُوبَةً عَنْهَا فِي قِلَّةِ الْمَالِ وَالْجَمَالِ تَرَكُوهَا وَأَخَذُوا غَيْرَهَا مِنَ النِّسَاءِ قَالَتْ فَكَمَا يَتْرُكُونَهَا حِينَ يَرْغَبُونَ عَنْهَا فَلَيْسَ لَهُمْ أَنْ يَنْكِحُوهَا إِذَا رَغِبُوا فِيهَا إِلَّا أَنْ يُقْسِطُوا لَهَا وَيُعْطُوهَا حَقَّهَا الْأَوْفَى فِي الصَّدَاقِ [ر:۲۳٦۳].

((المقل)) : فقیر. ((المثریة)) (دمیم په ضمه ، دثاء په سکون ، دراء په کسر او د یاء په فتحه سره). ((هی التی لهاثراء)) : یعنی مالداره ښځه.
دامام بخاری رحمه الله په نیز مال کښې دکفاءت اعتبار نشته دې.
((الاکفاء فی المال)) نه پس د ((تزویج المقل المثریة)) اضافه دې طرفته اشاره کولو دپاره ده چه یو فقیر اومسکین سړې د مالدارې ښځې سره نکاح کولې شی.
دکفاءت فی المال په سلسله کښې حضرات آئمه کرام کښې اختلاف دې.
حضرات حنفیه اوحنابله دکفاءت فی المال اعتبار کوی.(۲) دابن قاسم مالکی هم دامسلك دې .(۳) اود امام شافعی رحمه الله هم صحیح مسلك همدادې.(۴)
دامام مالك رحمه الله مسلك هم دا دې چه کفاءت فی المال غیر معتبر دې. (۵)

---

۱) ارشاد الساری: ۱۱/۳٦٦).
۲) الفقهه الاسلامی وادلته: ۷/۲٤۰).
۳) اوګورئ الشرح الصغیر علی اقرب المسالک الی المذهب الامام مالک للدر دیر ، کتاب النکاح :۲/٤۰۰ ، خو هغوی د ابن قاسم دنوم تصریح نه ده کړې).
٤) فتح الباری : ۹/۱۷۰).
۵) اختلاف العلماء :۲/۲۵۲ ، فی الاکفاء فی النکاح والمدونة الکبری ، کتاب النکاح :۲/۱٦۳_۱٦٤، والحاوی الکبیر للماوردی:۱۱/۱٤۱).

دامام احمد بن حنبل رحمه الله یودا قول هم ددې مطابق دې (۱) اودامام شافعي رحمه الله هم دا مسلك دې. (۲)

دکفاءت فی المال مطلب دادې چه‌سړی په نفقه او مهر دواړوباندې قادر وی. دحنیفه‌هم دا ظاهر روایت دې (۳) البته امام یوسف رحمه الله فرمائی چه کفاءت فی المال نه‌دسړی په نفقه باندې قادر کیدل مراد دی. که په مهر باندې قادر وی اوکه نه وی. (۴)

اویودادی چه ((کفاءت فی المال فی الیسار والغنی)) ددې مطلب دادې چه‌په مالدارئی او غناء کښې مساوات دی. امام ابوحنیفه رحمه الله او امام محمد رحمه الله هم دا اعتبارکړې دې. دا حضرات فرمائی چه‌که ښځه مالداره وی اوسړې سره ددې په مقابله کښې مال کم وی‌نودښځې دپاره داخبره عموما د شرم سبب ګرځی اوبیا هغه دتفوق او تعلی اظهار کوی(۵) چه دهغې په وجه‌دزوجین په مینځ کښې ناګواری پیداشی او ازدواجی ژوند کامیاب پاتې نشی.

امام بخاری رحمه الله دکفاءت فی المال اعتبار نه کوی، دهغوی په نیز صرف کفاءت فی الدین معتبر دې. هغوی په دې باب کښې په دې ځائې کښې چه کوم روایت ذکر فرمائیلې دې دهغې تشریح په کتاب التفسیر کښې د سورة النساء په تفسیر کښې تیر شوې دې. په هغې کښې دی چه ((الا ان یقسطوا فی اکمال الصداق)) ددې نه امام بخاری رحمه الله ترجمة الباب ثابتوی، چونکه دا عام دی اوهر هغه سړی دپاره دی چه‌پوره مهر ادا کړی که هغه مقل وی یا مکثر. مال ده سره زیات وی اوکه کم، په دې کښې د((مکثر)) هیڅ قید نشته دې، ددې نه معلومیږی چه د کفاءت فی المال‌هیڅ اعتبار نشته دې.

۱۸ = بَابُ مَا يُتَّقَى مِنْ شُؤْمِ الْمَرْأَةِ وَقَوْلِهِ تَعَالَى

﴿إِنَّ مِنْ أَزْوَاجِكُمْ وَأَوْلَادِكُمْ عَدُوًّا لَكُمْ﴾ [التغابن: ۱۴]

دامام بخاری رحمه الله مقصد دادې چه‌په ښځه کښې بعضې صفات دنحوست هم کیدیشی. لکه ژبه ئې خرابه وی، په خبره خبره باندې دشور او جنګ عادت وی، ددې نه بچ کیدل پکار دی. دقرآن پاك آیت ﴿إِنَّ مِنْ أَزْوَاجِكُمْ وَأَوْلَادِكُمْ عَدُوًّا لَكُمْ﴾ نه مراد دې طرفته اشاره کړې ده چه‌ستاسو بعضې ښځې ستاسو دښمنانې دی، رشته دارو سره تعلقات خرابوی، جنګ او فساد کوی او په خاندان کښې دتلخئ سبب جوړیږی.

---

۱) المغنی لابن قدامه: ۲۹/۷، شرط الکفاءه، کتاب النکاح).

۲) فتح الباری: ۱۷۰/۹، داشان اوګوری العزیز شرح الوجیز للرافعی، کتاب النکاح: ۵۷۶/۷، القول فی الکفاءه فی النکاح والحاوی الکبیر: ۱۴۷/۱۱).

۳) الهدایه: ۲۹۰/۲. کتاب النکاح).

٤) الهدایة: ۲۹۰/۲، کتاب النکاح).

٥) الهدایة: ۲۹۰/۲، کتاب النکاح).

[۴۸۰۵] حَدَّثَنَا اسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ حَمْزَةَ وَسَالِمٍ ابْنَيْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا انَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الشُّؤْمُ فِي الْمَرْاَةِ وَالدَّارِ وَالْفَرَسِ

[۴۸۰۶] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مِنْهَالٍ حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ مُحَمَّدٍ الْعَسْقَلَانِيُّ عَنْ ابِيهِ عَنْ ابْنِ عُمَرَ قَالَ ذَكَرُوا الشُّؤْمَ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انْ كَانَ الشُّؤْمُ فِي شَيْءٍ فَفِي الدَّارِ وَالْمَرْاَةِ وَالْفَرَسِ [ر: ۱۹۹۳]

[۴۸۰۷] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ يُوسُفَ اخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ ابِي حَازِمٍ عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ انَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ انْ كَانَ فِي شَيْءٍ فَفِي الْفَرَسِ وَالْمَرْاَةِ وَالْمَسْكَنِ [ر: ۲۷۰۳]

[۴۸۰۸] حَدَّثَنَا ادَمُ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ سُلَيْمَانَ التَّيْمِيِّ قَالَ سَمِعْتُ ابَا عُثْمَانَ النَّهْدِيَّ عَنْ اسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا تَرَكْتُ بَعْدِي فِتْنَةً اضَرَّ عَلَى الرِّجَالِ مِنْ النِّسَاءِ

حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه نه روایت دې چه حضرت رسول کریم ﷺ فرمائیلی دی چه نحوست په ښځه کښې اوکور کښې او آس کښې وی. (۱)

په دویم روایت کښې دی چه دحضرت نبی کریم ﷺ په مخکښې دنحوست ذکر اوشو نو حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه که نحوست دې نو په کور کښې دې او په ښځه کښې دې او په آس کښې دې.

په دې روایاتوکښې اشکال کیږی چه دحضرت نبی کریم ﷺ په یو روایت کښې دی چه «لاعدوی ولا طیرة» (۲)

په دې کښې بدشګونۍ نه منع فرمائیلې شوې ده ، ښځه ، کوراوآس کښې دننه د شوم داتصور بدفالی او بدشګونی ده. په ظاهره په دواړه قسمه روایتونوکښې تعارض دې.

① امام مالك رحمه الله احادیث باب په خپله ظاهری معنی باندې محمول کړې دې . او فرمائیلی ئې دی چه دا احادیث دعام قانون نه مستثنی دی.(۳)

② بعضې حضرات فرمائی چه دا احادیث د قران پاك دآیت «مَا أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي أَنفُسِكُمْ إِلَّا فِي كِتَابٍ مِّن قَبْلِ أَن نَّبْرَأَهَا» سره منسوخ دی.(۴)

---

۱) نقل ا لحافظه ابوذر الهروی عن البخاری ان شوم الفرس اذا کان حزونا وشوم المرأة سوء خلقها وشوم الدار سوء جارها وقال غيره . شوم الفرس ان لا يغزى عليها وشوم ا لمرأة لا تلد وشوم الدار ضيقها وقيل شوم المرأة غلامهرها_ (ارشادلساری:۱۱/۳۶۸).

۲) صحیح مسلم مع تکملة فتح المهلم . کتاب الطب باب لاعدوی ولا طيرة: ۳۷۰).

۳) تکملة ا لمهلم :۴/۳۸۰ کتاب الطب).

۴) تکملة فتح الملهم : ۴/۳۸۰ ، کتاب الطب).

⑩ بعضوحضراتو دا جواب کړې دې چه‌دا کلام شرط سره دې . لکه څنګه چه‌په دې خانې کښې د باب په دويم حديث کښې دى«ان كان الشوم»حرف شرط سره دې اومطلب دادې چه شوم ونحوست که‌په څه څيز کښې کيديشى نو هغه ښځه ، کور او آس کښې کيديشى .(۱)
ليکن‌شوم په څه څيز کښې نه وى ددې وجې په دې دريو څيزونوکښې ددې تصور نشى کيدې.
⑪ بعضې عالمانو فرمائيلى دى چه‌په حقيقت کښې دشوم دوه قسمونه دى. يو شوم په معنى د عدم موافقت او دويم شوم په معنى دنحوست ، حديث باب کښې شوم بمعنى عدم موافقت دې او«لاعدوى ولا طيرة» کښې شوم دنحوست په معنى کښې دى. په دې صورت کښې به د شوم دار مطلب داوى چه‌هغه تنګ وى او په هغه خانې کښې ګوانډيانو ښه نه وى يا په هغه خانې کښې آب وهوا خرابه وى ، داشان د شوم مراة مطلب دادې چه دهغه اولادنه وى . ژبه ني ګز وى ، دعفت اوپاکدامنۍ خيال نه ساتى، او دشوم فرس مطلب دادې چه‌هغه په جهاد کښې په کار رانشى ،سرکښه وى يا ددې قيمت زيات وى. (۲)
امام بخارى رحمه الله دا روايت په دې خانې کښې دحضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه نه نقل کړې دې . امام مسلم رحمه الله دحضرت ابوهريره رضي الله عنه نه نقل کړې دې .امام طحاوى رحمه الله دحضرت عائشه رضى الله عليه نه نقل کړې دې چه کله هغې د حضرت ابوهريره رضي الله عنه دا روايت واوريدو نو خفه شوه او وې فرمائيل چه‌د احضرت ابوهريره رضي الله عنه ته‌صحيح ياد نه دې پاتې شوې . حضرت نبى کريم ﷺ داشان نه دى فرمائيلى چه‌په زمانه دجاهليت کښې په خلقو ښځه . کور اوآس کښې د بدشګونۍ عقيده لرله . حضرت رسول الله ﷺ ددې عقيدې ترديد فرمائيلې وو. امام طحاوى رحمه الله خپل رجحان دې طرفته ظاهر کړې دې. (۳)

۱۹=بَابُ الْحُرَّةِ تَحْتَ الْعَبْدِ

[۴۸۰۹] (۴) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ رَبِيعَةَ بْنِ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ الْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ كَانَ فِي بَرِيرَةَ ثَلَاثُ سُنَنٍ عَتَقَتْ فَخُيِّرَتْ وَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْوَلَاءُ لِمَنْ أَعْتَقَ وَدَخَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ

---

۱) تكملة فتح الملهم: ٤ /۳۸۱، كتاب الطب).
۲) لامع لدرارى:۹/۲٦۷).
۳) فتح البارى:٦/٦۲ ، باب الجهاد).
٤) اخرجه مسلم فى العتق : باب : انماالولاء لمن أعتق: رقم: ۱۵۰٤، (سنن) طرائق وأحكام شرعية استفادمنها الناس جميعا (فخيرت) خيرها رسول الله ﷺ فى البقاء عنه زوجهااوفراقه وفسخ نكاحه (الولاء لمن أعتق) انظر كتاب العتق . (برمة) قدر متخذ من حجر وقيل من غيره (أدم البيت) ما يوتدم به مما يوجد فى البيت عادة(المراد البرمة)أى اين الطعام الذى كان يطبخ فيها(هوعليها..)أى هى ملكته بسبب التصدق به عليها ، ونحن نملكه بسبب اهدائها لنامنه وعليه فقد اختلف سبب الملك فاختلف الحكم وجازلنا أكله).

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَبُرْمَةٌ عَلَى النَّارِ فَقُرِّبَ إِلَيْهِ خُبْزٌ وَأُدْمٌ مِنْ أُدْمِ الْبَيْتِ فَقَالَ أَلَمْ أَرَ الْبُرْمَةَ فَقِيلَ لَحْمٌ تُصُدِّقَ بِهِ عَلَى بَرِيرَةَ وَأَنْتَ لَا تَأْكُلُ الصَّدَقَةَ قَالَ هُوَ عَلَيْهَا صَدَقَةٌ وَلَنَا هَدِيَّةٌ [ر: ۴۹۷۵، ۵۱۱۴]

د امام بخاري رحمه الله مقصد دادې چه د آزادې ښځې غلام سره نکاح جائز ده. دليل کښې هغوی دحضرت بريره عنهما حديث پيش کړې دې. چه دهغې خاوند مغيث غلام وو. اوبريره رضي الله عنها وينځه وه ، روستو بيا حضرت بريره ته آزادی ملاو شوه او خيار عتق هم ملاو شو ، دااختيار ملاويدل ددې خبرې دليل دې چهآزاده ښځه دغلام په نکاح کښې پاتې کيدېشي.

ليکن ظاهر دی چه دا استدلال په هغه وخت کښې صحيح او مکمل کيدېشي چه کله مخکښې دا ثابت شی چهد حضرت بريره د آزادئ په وخت کښې حضرت مغيث رضي الله عنه غلام وو. او دا قطعی طور باندې ثابتيدلې نشی . ځکه چهپه دې سلسله کښې روايات مختلف دی. بعضو رواياتو نه معلوميږی چهدبريره دآزادئ په وخت کښې حضرت مغيث رضي الله عنه آزاد وو. او دبعضې رواياتو نهمعلوميږی چههغهٔ غلام وو. دحضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما او حضرت عائشه رضي الله عنها روايتونه په دې سلسله کښې نقل کيږی . حضرت مغيث رضي الله عنه د بريره د آزادئ په وخت کښې غلام وو.(۱)

البته دحضرت عائشه رضي الله عنها روايت کښې اختلاف دې. بعضو روايتونو نه دبريره د آزادئی په وخت کښې د حضرت مغيث رضي الله عنه غلام کيدل معلوميږی او بعضو نه آزادی. (۲) ګنی د ترجمة الباب دثبوت دپاره به دا روايت نه پيش کولې. دخيارمسئله مخکښې کتاب الطلاق کښې مستقل باب لاندې رازی ، د مذاهب آئمه تفصيل به په هغه ځائې کښې بيانيږی.

دحديث مفهوم دادې چهدحضرت بريره په واقعه کښې شرعی مسئلې دی. ړومبی مسئله داد چه«الولاء لمن اعتق» يعنی حق ولاء دآزاد کننده حق دې ، دوئمه مسئله داده چهخيار عتق يعنی بريره ته دآزادئی نهاختيار ورکړې شوې وو که غواړې نو مغيث سره اوسيږې يا نه . اودريمه مسئله داده چه«هوعليها ولنا هدية» چه حضرت رسول کريم ﷺ کور ته داخل شو . اندِنی په اور باندې پرته وه ، حضرت نبی کريم ﷺ لره روټئ او دکور سالن راوړې شو . حضرت نبی کريم ﷺ تپوس اوکړو چهددې څه وجه ده چه په دسترخوان باندې داندِئی سالن په نظرنه راځی نو جواب ورکړې شو چهپه دې کښې دحضرت بريره ورکړې شوې صدقې غوښه ده. اوحضرت نبی کريم ﷺ صدقه نه خوری ، نو په دې باندې حضرت نبی کريم ﷺ اوفرمائيل چههغه دده دپاره صدقه زمونږ دپاره هديه ده. (نو داشان تبدل ملك نه تبدل عين مسئله هم ددې واقعې نه معلومه شوه).

۲۰= بَابُ لَا يَتَزَوَّجُ أَكْثَرَ مِنْ أَرْبَعٍ لِقَوْلِهِ تَعَالَى :

﴿ مَثْنَى وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ ﴾ (النساء: ۳). وَقَالَ عَلِيُّ بْنُ الْحُسَيْنِ عَلَيْهِمَا السَّلَام يَعْنِي مَثْنَى أَوْ ثُلَاثَ أَوْ رُبَاعَ وَقَوْلُهُ جَلَّ ذِكْرُهُ أُولِي أَجْنِحَةٍ مَثْنَى وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ يَعْنِي مَثْنَى أَوْ ثُلَاثَ أَوْ رُبَاعَ.

---

۱) فتح الباري: ۵۱/۹ ، کتاب النفقات).

۲) ارشاد الساري: ۳۷۱/۱۱).

[۴۸۱۰] حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ اخبَرَنَا عَبْدَةُ عَنْ هِشَامٍ عَنْ ابِيهِ عَنْ عَائِشَةَ وَانْ خِفْتُمْ اَلَّا تُقْسِطُوا فِي الْيَتَامَى قَالَتْ الْيَتِيمَةُ تَكُونُ عِنْدَ الرَّجُلِ وَهُوَ وَلِيُّهَا فَيَتَزَوَّجُهَا عَلَى مَالِهَا وَيُسِيءُ صُحْبَتَهَا وَلَا يَعْدِلُ فِي مَالِهَا فَلْيَتَزَوَّجْ مَا طَابَ لَهُ مِنَ النِّسَاءِ سِوَاهَا مَثْنَى وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ [ر: ۲۳۶۲].

د څلورو نه دزياتو ښځو سره دنكاح عدم جواز متعلق تفصيل دسوره نساء په تفسير كښې تير شوې دې. په هغه ځائې كښې ونيلې شوى وو چه اهل ظاهر او بعضې خارجى دڅلورونه دزياتو ښځو د جواز قائل دى. علامه عبدالحئ لكهنوى رحمة الله عليه د شرح وقايه په حاشيه كښې په "عمدة الرعايه" كښې دقاضى شوكانى د طرف نه دڅلورو نه دزياتو ښځو سره دنكاح دجواز قول منسوب كړې دې او ليكلى ئې دى چه ((وقدزاد بعضو أفاضل اليمن وهو محمد بن على الشوكاني نغمة فى الطنبور، فأباح نكاح النساء من غير حصر)) . (۱) خو حقيقت دادى چه علامه شوكانى طرفته دا نسبت كول درست نه دى. ځكه چه هغوى په ((نيل الاوطار)) كښې په دې مسئله باندې بحث كړې دې. او صفائى سره ئې ليكلى دى چه دقران پاك په آيت باندې اګر چه دڅلورو نه زياتو ښځو سره دنكاح په جواز باندې استدلال كولې شى ليكن دحضرت رسول كريم ﷺ احاديث او اجماع امت د څلورو نه زياتو ښځو سره دنكاح اجازت ندې وركړې ، ددې وجې دڅلورو نه زياتو ښځو سره نكاح كول جائز نه دى. (۲)

۲۱= بَاب

﴿وَأُمَّهَاتُكُمُ اللَّاتِي أَرْضَعْنَكُمْ (النساء: ۲۳). وَيَحْرُمُ مِنَ الرَّضَاعَةِ مَا يَحْرُمُ مِنَ النَّسَبِ﴾

امام بخارى رحمه الله په دې ځائې كښې درضاعت مسائل بيان فرمائى . په بعضو نسخو كښې په دې ځائې كښې د ((كتاب الرضاع)) عنوان هم قائم كړې شوې دې . (۳) ((رضاعت)) د راء په كسره او فتحه د دواړو رنګه لوستلې كيږى (۴)

په لغت كښې د ((رضاعت)) معنى رازى ((مص الصبى اللبن من الثدى)) يعنى د سينو نه دبچى پئ رودل او په اصطلاح كښې ((رضاعت)) وائى ((مص الصبى لبن المرأة فى مدة مخصوصة)) (۵)

قوله: يحرم من الرضاعة ما يحرم من النسب: يعنى نسب چه په كوم ځائې كښې دحرمت باعث دې نو په هغه ځائې كښې رضاعت هم حرمت هم پيدا كوى. بعض حضرات

۱) حاشيه عمده الرعايه : ۱۷/۲: كتاب النكاح).

۲) نيل الاوطار: ۱۷۰/۶، باب العدد المباح للحر والعبد ، كتاب النكاح).

۳) ارشاد السارى: ۳۷۴/۱۱).

۴) تعليقات هدايه للشيخ عبدالحى اللكنوى :۳۲۰/۲، كتاب الرضاع ، وارشادالسارى: ۳۷۴/۱۱).

۵) وفى الشريعة عبارة عن مص مخصوص ، وهو ان يكون صبيا رضيعا ، من ثدى مخصوص ، وهو ثدى الادمية .. فى وقت مخصوص (كذافى حاشية الهداية:۳۲۰/۲).

ددې قاعدې كليې څه استثنائي صورتونه هم راويستلى دي . حافظ ابن حجر رحمه الله څلور صورتونه مستثنى كړي او هغه ليكي:

((اربع نسوة يحرمن في النسب مطلقا وفي الرضاع قد لا يحرمن الاولى ، أم الاخ في النسب حرام لأنها اما ام او زوج أب وفي الرضاع قد تكون اجنبية فترضع الأخ فلا تحرم على اخيه الثانية أم الحفيد حرام في النسب لأنها اما بنت او زوج ابن ، وفي الرضاع قد تكون اجنبية فترضع الحفيد فلا تحرم على جده الثالثة جدة الولد في النسب حرام لأنها اما أم أو أم زوجة وفي الرضاع قد تكون اجنبية أرضعت الولد فيجوز لوالده أن يتزوجها الرابعة أخت الولد حرام في النسب لأنها بنت أو ربيبة وفي الرضاع قد تكون أجنبية فترضع الولد فلا تحرم على الولد وهذه القصور الاربع اقتصر عليها جماعة ولم يتشن الجمهور شيئا)) (۱)

حافظ ابن حجر رحمه الله دا څلور صورتونه ذكرفرمائيلي دي. علامه ابن نجيم دكنز په شرح كښې يو اتيا (۸۱) صورتونه بيان كړي دي. (۲) حقيقت دادې چه دا استثنائي صورتونه مستثنى منقطع نه قبيل نه دي . وجه دا ده چه حرمت رضاعت په هغه وخت كښې ثابتيږي كله چه درضاعت رشته هم په دې حيثيت سره اومونديې شي. چه په كوم وخت كښې هغه په نسب كښې حرام وي. دحيثيت په بدليدو صورتونوكښې حرمت نه پاتې كيږي ، فقهاء كرام چه استثنائي صورتونه بيان كړي دي ، په هغې كښې دحرمت نه كيدو وجه دا ده چه په هغې كښې حيثيت بدل شوې دې.

دې نه پس دې دا خبره په ذهن كښې وي چه مرضعه طرفته حرمت عام وي. يعنى رضيع باندې مرضعه هم حرام ، ددې خاوند هم ، ددې اصول وفروع هم اوداشان ددې دخاوند اصول وفروع هم ټول حرام دي. او درضيع دطرفنه چه كوم حرمت وى هغه صرف فروع دپاره دى ددې داصول دپاره نه دى. (۳)

[۴۸۱۱] حَدَّثَنَا اِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ عَبْدِاللَّهِ بْنِ اَبِي بَكْرٍ عَنْ عَمْرَةَ بِنْتِ عَبْدِالرَّحْمَنِ اَنَّ عَائِشَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَخْبَرَتْهَا اَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ عِنْدَهَا وَاَنَّهَا سَمِعَتْ صَوْتَ رَجُلٍ يَسْتَاذِنُ فِي بَيْتِ حَفْصَةَ قَالَتْ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ هَذَا رَجُلٌ يَسْتَاذِنُ فِي بَيْتِكَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اُرَاهُ فُلَانًا لِعَمِّ حَفْصَةَ مِنْ الرَّضَاعَةِ قَالَتْ عَائِشَةُ لَوْ كَانَ فُلَانٌ حَيًّا لِعَمِّهَا مِنْ الرَّضَاعَةِ دَخَلَ عَلَيَّ فَقَالَ نَعَمْ الرَّضَاعَةُ تُحَرِّمُ مَا تُحَرِّمُ الْوِلَادَةُ [ر: ۲۵۰۳].

قوله: لَوْ كَانَ فُلَانٌ حَيًّا لِعَمِّهَا مِنْ الرَّضَاعَةِ دَخَلَ عَلَيَّ: په دې كښې اشكال دادى چه مخكښې په باب لبن الفحل كښې روايت كښې رازى ، په هغې كښې دحضرت

---

۱) فتح الباري : ۱۷۶/۹).
۲) اوګورئ البحرالرائق: ۲۳۳/۳ ، كتاب الرضاع).
۳) ارشاد الساري: ۳۷۵/۱۱).

عائشه رضي الله عنها رضاعی تره حضرت افلح حضرت عائشه رضي الله عنها کره دراتلو اجازت اوغوښتلو ، دحجاب نزول شوې وو ، حضرت عائشه رضي الله عنها انکار اوکړو اوکور ته ئې ورته دراتګ اجازت ورنکړو ، هرکله چه حضور نبی کریم ﷺ تشریف راوړونو حضرت عائشه رضي الله عنها ورته د افلح دراتګ ذکر اوفرمائیلو نو حضرت نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل چه هغه ته اجازت ورکړه ، نو هغې ورته دراتګ اجازت ورکړو. نوددې راتلونکې روایت نه معلومیږی چه دحضرت عائشه رضي الله عنها تره ژوندې وو ، او روایت باب نه معلومیږی چه هغه فوت شوې وو . په دواړو روایتونو کښې په ظاهره تعارض معلومیږی .

ابوالحسن تابعی نه چه کله ددې تعارض متعلق تپوس اوکړې شو نو هغوی اوفرمائیل چه دراصل دحضرت عائشه رضي الله عنها دوه رضاعی ترونه وو ، یو دحضرت صدیق اکبر رضي الله عنه رضاعی رور وو او دهغه انتقال شوې وو ، په دې خائې حدیث باب کښې د هغه ذکر دې ، اودویم تره ئې دحضرت عائشه رضي الله عنها درضاعی پلار نسبی رور وو ، چه دهغه نوم افلح وو ، په راتلونکی روایت کښې د هغه ذکر دې. خودواړه بیل بیل واقعات دی. (۱)

دحضرت افلح ر اتګ نه مخکښې حضرت عائشه رضي الله عنها انکار ولې اوکړو؟ که د افلح د راتګ واقعه د حضرت حفصه رضي الله عنها د حدیث باب والا واقعې نه مخکښې وی نو انکار معقول دې ، اوکه ددې نه پس وی نو بیا د انکار وجه دا کیدیشی چه حضرت عائشه رضي الله عنها پوهیدله چه اجازت ددې د تره دپاره دې چه دحضرت حفصه رضي الله عنها دتره پښان وو او دحضرت حفصه رضي الله عنها تره دهغې دنسبی دپلار رضاعی رور وو. حالانکه حضرت افلح دحضرت عائشه رضي الله عنها درضاعی پلار نسبی رور وو. نو اګر چه حضرت عائشه رضي الله عنها ته دحضرت حفصه رضي الله عنها دواقعې نه دنسبی پلار رضاعی رور حکم معلوم شوې وو خو بیا هم دې ته د رضاعی پلار دنسبی رور حکم اوسه پورې معلوم نه وو ، خکه حضرت نبی کریم ﷺ دمعلوملو نه پس هغه ته دراتګ اجازت ورکړو.

او دا هم ممکن دی چه حضرت عائشه رضي الله عنها دا ګنړی چه اوس هغه حکم باقی پاتې نشو ، چه دحضرت حفصه رضي الله عنها قصه کښې درضاعی تره دپاره اجازت وو.

اوداهم ممکن دی چه حضرت حفصه رضي الله عنها دډیرې مودې تیریدو په وجه حضرت حفصه رضي الله عنها والا واقعه یاده نه وی. (۲)

[۴۸۱۲] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ شُعْبَةَ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ جَابِرِ بْنِ زَيْدٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قِيلَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَا تَتَزَوَّجُ ابْنَةَ حَمْزَةَ قَالَ إِنَّهَا ابْنَةُ أَخِي مِنَ الرَّضَاعَةِ

دجابر بن زید کنیت ابوالشعشاء دې ، دې بصری دې ، او دنوم نه زیات په کنیت سره مشهور دې. (۳)

---

۱) فتح الباری: ۹/۱۷٤).

۲) مذکوره تفصیل دپاره اوګورئ فتح الباری :۹/۱۷۵).

۳) عمده القاری: ۲۰/۹۲).

قوله: قِيلَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: دمسلم په روايت کښې تصريح ده چه حضرت نبی کريم ﷺ ته دا خبره کوونکې حضرت علی رضی الله عنه وو. (۱) هغوی حضرت نبی کريم ﷺ ته اوونيل چه تاسو دحضرت حمزه رضی الله عنه لور سره واده ولې نه کوئی؟حضرت نبی کريم ﷺ اوفرمائيل چه هغه ځما د رضاعی رور لورده . يعنی ځما رضاعی وريره ده. (ددې وجې هغې سره ځما نکاح شرعی لحاظ سره صحيح نه ده).

حضرت علی رضی الله عنه ته غالبًا دامعلوم نه وو چه حضرت حمزه رضی الله عنه دحضرت نبی کريم ﷺ رضاعی رور وو. اودا هم کيديشی چه هغوی ته معلوم وو خو دحضرت نبی کريم ﷺ دپاره نې د اخصوصيت په ذهن کښې وی. (۲)

دحضرت حمزه رضی الله عنه ددې لور دنوم متعلق مختلف اقوال بيان شوی دی. حافظ ابن حجر رحمه الله اووه اقوال ذکر کړی دی. ① امامه ② عماره ③ سلمی ④ عائشه ⑤ فاطمه ⑥ امة الله ⑦ يعلی. (۳)

قوله: بِشْرُ بْنُ عُمَرَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ سَمِعْتُ قَتَادَةَ سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ زَيْدٍ مِثْلَهُ: [۲۵۰۲:]

داتعليق دې . دمخکښې حديث په سند کښې عتغنه دې، «عن قتادة عن جابربن زيد» قتاده بن زيد دعامه چونکه مدلس دی ددې وجې امام بخاری رحمه الله دا تعليق فرمائيلې دې ،په دې کښې تحديث تصريح دې ، علامه عينی رحمه الله ليکی:

«وهذا تعليق، رواه مسلم عن محمد بن يحيى عنه، وفائدته عند البخاری لبيان سماع قتادة عن جابربن زيد لانه مدلس» (۴)

[۴۸۱۳] حَدَّثَنَا الْحَكَمُ بْنُ نَافِعٍ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ (۵) قَالَ أَخْبَرَنِي عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ أَنَّ زَيْنَبَ بِنْتَ أَبِي سَلَمَةَ أَخْبَرَتْهُ أَنَّ أُمَّ حَبِيبَةَ بِنْتَ أَبِي سُفْيَانَ أَخْبَرَتْهَا أَنَّهَا قَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ انْكِحْ أُخْتِي بِنْتَ أَبِي سُفْيَانَ فَقَالَ أَوَتُحِبِّينَ ذَلِكِ فَقُلْتُ نَعَمْ لَسْتُ لَكَ بِمُخْلِيَةٍ وَأَحَبُّ مَنْ

---

۱) فتح الباری: ۱۷۶/۹).
۲) ارشادالساری: ۳۷۵/۱۱).
۳) فتح الباری: ۱۷۶/۹).
٤) عمده القاری: ۹۳/۲۰).
٥) واخرجه البخاری ايضا فی باب : (وربائبكم اللاتی فی حجوركم) رقم الحديث : ٤٩٠٠ . وباب (وان تجمعوابين الاختين الا ما قد سلف) رقم الحديث : ٤٩٠١ . وباب عرض الانسان ابنته اواخته على اهل الخير . رقم الحديث ٤٩١٦ . و فی كتاب النفقات . باب المراضع من المواليات وغيرهن . رقم الحديث : ٥٣٧٣ . واخرجه مسلم فی كتاب الرضاع . باب تحريم الربيبة واخت المراة رقم الحديث : ١٤٤٩ . والنسائی فی كتاب النكاح باب تحريم الربيبة التی فی حجرة تحريم الجمع بين الام والبنت . رقم الحديث ٥٤١٥ و ٥٤١٦ . وابن ماجه فی كتاب النكاح باب يحرم من الرضاع مايحرم من النسب . رقم الحديث : ١٩٣٩ . وابوداود فی كتاب ا لنكاح باب ما يحرم من الرضاعة ما يحرم من النسب رقم الحديث : ٢٠٥٦).

شَارَكَنِي فِي خَيْرٍ أُخْتِي فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ ذَلِكِ لَا يَحِلُّ لِي قُلْتُ فَإِنَّا نُحَدَّثُ أَنَّكَ تُرِيدُ أَنْ تَنْكِحَ بِنْتَ أَبِي سَلَمَةَ قَالَ بِنْتَ أُمِّ سَلَمَةَ قُلْتُ نَعَمْ فَقَالَ لَوْ أَنَّهَا لَمْ تَكُنْ رَبِيبَتِي فِي حَجْرِي مَا حَلَّتْ لِي إِنَّهَا لَابْنَةُ أَخِي مِنَ الرَّضَاعَةِ أَرْضَعَتْنِي وَأَبَا سَلَمَةَ ثُوَيْبَةُ فَلَا تَعْرِضْنَ عَلَيَّ بَنَاتِكُنَّ وَلَا أَخَوَاتِكُنَّ قَالَ عُرْوَةُ وَثُوَيْبَةُ مَوْلَاةٌ لِأَبِي لَهَبٍ كَانَ أَبُو لَهَبٍ أَعْتَقَهَا فَأَرْضَعَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا مَاتَ أَبُو لَهَبٍ أُرِيَهُ بَعْضُ أَهْلِهِ بِشَرِّ حِيبَةٍ قَالَ لَهُ مَاذَا لَقِيتَ قَالَ أَبُو لَهَبٍ لَمْ أَلْقَ بَعْدَكُمْ غَيْرَ أَنِّي سُقِيتُ فِي هَذِهِ بِعَتَاقَتِي ثُوَيْبَةَ
[٥٠٥٧ ، ٤٨٣١ ، ٤٨١٨ ، ٤٨١٧].

حضرت ام حبیبه ﷺ نه روایت دې چه هغې حضرت نبی کریم ﷺ ته اوونیل چه یارسول الله ﷺ !تاسو څما خور دختر ابو سفیان سره واده اوکړئی ، حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه آیا ستا دا خوښه ده ؟(یعنی ته په بن باندې بد نه ګنړې)،ما اوونیل چه اوس هم څه ستاسو یو ښځه نه یم ، ددې وجې څه خپله خور ستاسو دذات دښیګړې دپاره شریکول غواړم ،په دې باندې حضرت نبی کریم ﷺاوفرمائیل چههغه مالره جائز نه ده(یعنی د دوؤ خویندو نکاح یو سره کول جائز نه دی)په دې باندې ما اوونیل چه مونږ آوریدلی دی چه تاسو دام سلمی لور سره نکاح کول غواړئی ، حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه د ام سلمي لور سره ؟ما اوونیل چه آو جی ،حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل که هغه څما ربیبه نه وې نو بیا به هم څمادپاره حلاله نه وه څکه چههغه څما رضاعی وریره ده،ماته او ابوسلمه ته یو ثوبیه نومې ښځې پئ راکړی وو.(مطلب دادې چه هغه څما ربیه ده اوربیبه سره نکاح کول صحیح نه دی ، لیکن که ربیبههم نه وی نو بیا هم هغه څما دپاره حلاله نه وه ، څکه چه هغه څما رضاعی وریره ده ،نو په دې وجه په دې کښې دوه حرمتونه جمع شوی دی.
①ربیبه کیدل② او رضاعی وریره) نو تاسوماته خپلې خویند او لونړه مه پیش کوئی.
عروه وائی چه ثوبیه دابولهب وینځه وه ، ابولهب هغه آزاده کړې وه ، او بیا هغې حضرت رسول کریم ﷺ تهپئ ورکړی وو. هرکله چه ابولهب مړ شونو دهغه دکور والو نه هغه په خوب کښې اولیدوچه ډیر په خراب حالت کښې دې‌اوتپوس ئې ترې اوکړوچه څه معامله ده ؟هغه جواب ورکړو چه کله ستانه جداشوې یم نو ډیرسخت عذاب کښې یم،البته دثوبیه دآزادولو په وجه لږې شان اوبه راته ملاویږی.
دا حدیث امام بخاری رحمه الله په دې‌خائې کښې په ړومبی څل ذکر فرمائیلې دې . ددې نه مخکښې په بخاری کښې نه دې تیر شوې.

قوله: أَنْكِحْ أُخْتِي بِنْتَ أَبِي سُفْيَانَ: دحضرت ابوسفیانددې لور نوم‌څه ووچه کومې سره دنکاح کولو دپاره حضرت ام حبیبه ﷺحضرت نبی کریم ﷺ تهوئیلی وو ، په دې سلسله کښې روایات مختلف دی.د صحیح مسلم او نسائی په روایت کښې ددې نوم" عزه " راغلې دې ، د طبرانی په روایت کښې " حمنه" دې او بعضو روایتونوکښې" درة " دې لیکن مشهور " عزة " دې . (١)

١) فتح الباري: ١٧٨/٩).

قوله: لَسْتُ لَكَ بِمُخْلِيَةٍ: «مخليه» دا اخلاء باب افعال نه دې داسم فاعل مونث صيغه ده يعنى خه ستا يوازې او بنې نه خالى بى بى نه يم ،بنې خو هسې هم ماسره دى نو خما خور به هم په دوى كښې شريكه شى.

قوله: فَإِنَّا نُحَدَّثُ أَنَّكَ تُرِيدُ أَنْ تَنْكِحَ بِنْتَ أَبِي سَلَمَةَ: «نحدث»دا باب تفعيل نه دجمع متكلم مجهول صيغه ده ، يعنى مونږ ته دا خبره خودلې شوې ده .د ابو سلمه ددې لور نوم دطبرانى په روايت كښې" دره " راغلې دې ، اودابو داود روايت كښې " دره " او" ذره "شك سره وارد شوې دې . (١)

په دې ځائې كښې شك كيږى چه حضرت ام حبيبه ﵂ دحضرت نبى كريم ﷺ نه دا سوال ولې كړې وو حالانكه په قران مجيد كښې «وَرَبَآئِبُكُمُ الَّتِي فِي حُجُورِكُمْ» وارد شوى دى ، حافظ ابن حجر ددې په جواب كښې ليكى :

وكان ام حبيبه لم تطلع على تحريم ذالك ، اما لان ذالك قبل نزول اٰية التحريم واما بعد ذالك و ظنت انه من خصائص النبى ﷺ (٢)

قوله: وَثُوَيْبَةُ مَوْلَاةٌ لِأَبِي لَهَبٍ: ثويبه دحضرت نبى كريم ﷺ رضاعى مور وه ،او دابو لهب وينځه وه، د هغې خونې مسروح وو . ده سره حضرت نبى كريم ﷺ دهغې پئ رودلى وو ، دا دهغه وخت خبره ده چه كله حضرت نبى كريم ﷺ حليمه سره نه وو ، ثويبه حضرت حمزه ﵁ او حضرت ابو سلمه ته پئ وركړى وى. چه ددې په وجه د حضرت نبى كريم ﷺ رضاعى رور شو.

دثويبه داسلام متعلق اختلاف دې ، ابن منده په صحابه كرام ﵃ كښې ددې ذكر كړې دې ، ابو نعيم فرمائيلى دى چه ابن منده نه علاوه چا هم ددې داسلام ذكر نه دې كړې ، (٣) حافظ ابن حجر ﵀ هم په " الاصابة " كښې ددې ذكر په صحابه كرام ﵃ كښې كړې دې. (۴)

حضرت نبى كريم ﷺ به ددې ډير زيات احترام كولو ،او مدينې منورې ته دهجرت كولو نه پس به دې لره مكې معظمې ته هديې ليږلې. ددې وفات په كال ٩ هجرئى كښې د غزوه خيبر نه پس شوې دې . (۵)

قوله: وَكَانَ أَبُو لَهَبٍ أَعْتَقَهَا فَأَرْضَعَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ددې جملې نه معلوميږى چه ابو لهب مخكښې ثويبه ازاده كړې وه ، اودې نه پس ئې حضرت نبى كريم ﷺ ته پئ وركړى وو . ليكن دسيرت په كتابونو كښې ددې خلاف دى ، البته علامه سهيلى

---

١) فتح البارى: ١٧٨/٩).
٢) فتح البارى : ١٧٨/٩).
٣) فتح البارى : ١٨٠/٩ . وعمده القارى: ٩٣/٢٠).
٤) الاصابه فى تميز ا لصحابه: ٢٥٨/٤).
٥) عمده القارى: ٩٣/٢٠ . والاصابه : ٢٥٨/٤).

نقل كړې دى چه دې عتاق رضاع نه مخکښې وو. (١)

قوله: أُرِيَهُ بَعْضُ أَهْلِهِ بِشَرِّ حِيبَةٍ: «أرى» دا دمجهول صيغه ده . او متعدى دوه مفعول دې «أى رأى أبالهب بعض أهله فى المنام» په دې ځائې کښې دروئيت نه مراد منام دې «حيبة» (دحاء په کسره او دياء په سکون سره)، حالت ، حاجت ، مسکنت ، ته وئيلې شى. «بات الرجل بحيبة سوء» يعنى سړى په خراب حالت کښې شپه تيره کړه. دبغوى شرح" شرح السنه " کښې دحاء فتحه سره «حيبة» دې. او دمستملى په نسخه کښې«بخيبة» د خا معجمه سره دې ، «أى فى حالة خائبة من كل خير» (٢)

دمرګ نه پس ابولهب چا په خوب کښې ليدلې وو؟علامه سهيلى رحمه الله نقل کړى دى چه حضرت عباس رضى الله عنه دا خوب کتلې وو ،چنانچه علامه سهيلى رحمة ا لله عليه فرمائى چه :

ان العباس قال : لما مات ابولهب رايته فى منامى بعد حول فى شر حال : فقال مالقيت بعدكم راحة الا ان العذاب يخفف عنى كل يوم اثنين قال وذالك ان النبى ﷺ ولد يوم الاثنين وكانت ثويبة بشرت ابالهب بمولده فاعتقها.(٣)

قوله: لَمْ أَلْقَ بَعْدَكُمْ غَيْرَ أَنِّي : په روايت کښې د «لم الق» مفعول به ذکر نه دې کړې شوې ؛ ابن بطال فرمائيلى دى چه دبخارى په روايت کښې مفعول به نه دې ذکر شوې حالانکه دې نه بغير معنى درست نه ده، د اسماعيل په روايت کښې دى چه «لم الق بعدكم رخاء»او دعبدالرزاق په روايت کښې دى چه «لم الق بعدكم راحة»يعنى ستا نه پس مې هيڅ راحت اونه موندو.(٤) او دقسطلانى په نسخه کښې«لم الق بعدكم خيرا» دى. (٥)

قوله: غَيْرَ أَنِّي سُقِيتُ فِي هَذِهِ بِعَتَاقَتِي ثُوَيْبَةَ: «سقيت» دا دباب ضرب واحد متکلم مجهول صيغه ده ،د «فى هذه» مشار اليه په دې ځائې کښې روايت کښې ذکر نه ده ، د عبدالرزاق په روايت کښې دى چه «وأشار الى النقرة بين الابهام والتى تليها من الاصابع»(٦) ددې روايتونو نه معلوم شو چه د «هذه»مشار اليه«نقرة»ده يعنى ابهام او د شهادت دګوتې په مينځ کښې چه کوم وړوکې شان کنده وى د هغې طرفته اشاره وه ، مطلب دادې چه ددې

---

١) فتح البارى: ١٨٠/٩).
٢) اوګورئ تفصيل دپاره عمده القارى: ٩٤/٢٠).
٣) فتح البارى: ١٨٠/٩).
٤) فتح البارى: ١٨٠/٩).
٥) ارشادالسارى: ٣٧۶/١١).
۶) عمده القارى: ٩٤/٢٠).

دواړوګوتو په مینځ کښې چه کوم معمولی شان ځائې خالی دې په دومره مقدار کښې ماته لږې شان اوبه راکولې شی ، اوددې وجه داده چه ما ثویبه آزاده کړې وه . ابولهب ثویبه د شهادت دګوتې په اشارې سره آزاده کړې وه . ددې وجې الله ﷻ ورته ددې په بدله کښې ده د ګوتې د دمینځ ځائې په برابر اوبه ورکوی او ورته راحت رسوی.

یو اشکال او دهغې جواب : دحدیث نه معلومیږی چه په آخرت کښې به کافرانو ته هم دهغوی نیك عمل فائده ورکوی ، حالانکه په قران پاك کښې دی چه ﴿وَقَدِمْنَآ إِلَىٰ مَا عَمِلُوا۟ مِنْ عَمَلٍ فَجَعَلْنَٰهُ هَبَآءً مَّنثُورًا﴾ ددې آیت کریمه نه معلومیږی چه کفارو ته دهغوی عمل په آخرت کښې فائده نه ورکوی ، په ظاهره په دواړو کښې تعارض دې.

① ددې جواب یو دا ورکړې شو چه په روایت کښې دی چه د((غیرانی سقیت)) داحصه حضرت عروه نه مرسلًا نقل شوې ده ، موصولاً نه ده ، لهذا ددې اعتبار نشته دې ، او صحیح خبره هغه ده په کومه باندې دقران پاك آیت دلالت کوی چه کفارو ته به دهغوی نیك اعمال هیڅ فائده نه ورکوی . (۱)

② اوکه دا موصول هم تسلیم کړې شی نوبیا هم دا خوب دې حجت نه دې (۲)

③ او دې لره خصوصیت هم ګروزلې شی ځکه چه ددې واقعې تعلق د حضرت نبی کریم ﷺ سره وو ، چه ددې په وجه ابولهب سره دا خصوصی رعایت اوکړې شو ، علامه قرطبی رحمه الله فرمائی چه : ((هذا التخفیف خاص بهذا وبمن ورد النص فیه)) (۳)

۲۲= بَابُ مَنْ قَالَ لَا رَضَاعَ بَعْدَ حَوْلَيْنِ لِقَوْلِهِ تَعَالَى :

﴿حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ لِمَنْ أَرَادَ أَنْ يُتِمَّ الرَّضَاعَةَ (البقرة: ۲۳۳) وَمَا يُحَرِّمُ مِنْ قَلِيلِ الرَّضَاعِ وَكَثِيرِهِ﴾.

امام بخاری رحمه الله په دې باب کښې دوه مسئلې بیان کړی دی ① رومبئ مسئله دمودې درضاعت ده ، دجمهورو عالمانو په نیز درضاعت موده دوه کاله ده ، دامام مالك رحمه الله ، امام شافعی رحمه الله ، امام احمد رحمه الله ، امام ابویوسف رحمه الله اوامام محمد رحمه الله مسلك هم دا دې.(۴)

امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائی چه درضاعت موده دیرش میاشتې (دوه نیم) کاله ده. (۵)

امام بخاری رحمه الله دجمهورو عالمانو تائید کوی ، دلیل کښې هغوی دقران پاك دا آیت پیش کوی چه ﴿وَالْوَالِدَاتُ يُرْضِعْنَ أَوْلَادَهُنَّ حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ﴾ په آیت مبارك کښې د رضاعت موده دوه کاله خودلې شوې ده.

---

۱) عمده القاری: ۹۵/۲۰ . وفتح الباری: ۱۸۱/۹).
۲) عمدة القاری: ۹۵/۲۰).
۳) فتح الباری: ۱۸۱/۹).
٤) الهدایه : ۳۲۰/۲، کتاب الرضاع).
۵) الهدایه: ۳۲۰/۲ ، کتاب الرضاع).

امام ابوحنیفه رحمه الله استدلال دقران پاك دبل آیت نه دې ، چه په هغې کښې دی چه ﴿وَحَمْلُهُ وَفِصٰلُهُ ثَلٰثُوْنَ شَهْرًا﴾ په دې کښې مدت دحمل اومدت درضاعت دواړو دپاره دیرش میاشتې یعنی دوه‌نیم کاله‌موده ذکر شوې ده.
البته په دې باندې اشکال کیږی چه دحمل موده خو بالاتفاق دوه کاله ده. اود امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د استدلال نه معلومیږی چه موده د حمل دوه نیم کاله ده.
صاحب هدایه ددې جواب ورکړې دې چه‌په آیت کریمه کښې اګر چه موده دحمل‌اوموده د رضاعت دواړو دپاره دوه نیمه کاله موده بیان شوې‌ده ، البته‌په موده دحمل کښې دحضرت عائشه رضی الله عنها دیوحدیث په وجه شپږ میاشتې کمې کړې شوې دی .«لایکون الحمل اکثرمن سنتین قدرمایتحول ظل المغزل» (۱) یعنی بچې دوه کاله پس دمور خیټه کښې د چرخې د تار د چکر برابر هم نه پاتې کیږی ددې حدیث په وجه موده دحمل کښې شپږ میاشتې کمې اوکړې شو. (۲)
خو په دې باندې اشکال کیږی دحضرات حنفیه په نیزخو داخبار آحاد په وجه‌دقران پاك‌آیت کښې نسخ نشته دې. دحضرت عائشه رضی الله عنها مذکوره حدیث خو موقوف دې، ددې وجې نه‌دا به نسخ څنګه وی. هم په دې وجه حضرت مولانا حضرت انور شان کشمیری رحمه الله فرمائی چه «ماأجاب به صاحب الهدایة ههنا فهو رکیك جدا» (۳) ځکه چه دحضرت عائشه رضی الله عنها نه دآیت منسوخ کیدل لازم رازی چه جائزنه دی.
په دې ځائې کښې شك کول نه دی پکار چه دحضرت عائشه رضی الله عنها اثر ناسخ نه دې بلکه مخصوص دې. ځکه چه‌تخصیص عام وی جبکه آیت کښې دعدد‌ذکر دې ، چه خاص قبیل دې. ددې وجې په دې صورت کښې‌اثر ناسخ به وی مخصوص به نه وی. (۴)
علامه نسفی رحمه الله یو خبرخ بنه کړې‌ده او هغه دا چه آیت کریمه کښې دحمل نه«حمل فی البطن» مراد نه دې بلکه«حمل فی الایدی» مراد دې. د آیت مطلب به په دې صورت کښې دا وی چه په دوه نیم کاله موده کښې بچی لره په غیږ کښې‌اخستې شی ، په لاسونو کښې اوچتولې شی اوده لره دپئیو نه خلاصولې شی. (۵)
خو په دې کښې هیڅ شك نشته دې چه دجمهورومذهب راجح او ددوی دلائل قوی دی ،دحنفیه په نیز هم فتوی دصاحبینو په دلائلو باندې ده او درضاعت موده دوه کاله ده ، خو که یو بچی دوه کاله پس نور د دوه نیمو کالو موده کښې دننه پئ اورودل نو په هغه وخت به حرمت رضاعت احتیاطًا تسلیمولې شی.

---

۱) اوګورئ سنن دار قطنی :۴۲۲/۳ ، باب المهر و سنن کبری للبیهقی : ۴۴۳/۷ ، باب ماجاء فی اکثر الحمل).
۲) اوګورئ الهدایه : ۳۲۰/۲ ، کتاب الرضاع).
۳) فیض الباری: ۴) .
۴) فیض الباری : ۴).
۵) تفسیر مدارک: ۲۵/۵).

قوله: وما یحرم من قلیل الرضاع وکثیره: په دې ځائې کښې ا مام بخاری رحمه الله دوېمه مسئله بیان فرمائی او هغه دا چه حرمت درضاعت په څومره مقدار کښې دپئیو څکلو نه به ثابت وی ،په دې سلسله کښې څلور مذهبونه مشهور دی.

① رومبې مذهب دادې چه رضاعت قلیل وی اوکه کثیر، نو په دې سره به حرمت د رضاعت ثابت وی. دحضرات حنفیه ، امام مالك رحمه الله ، سفیان ثوری رحمه الله ، امام اوزاعی رحمه الله ، سعید بن المسیب رحمه الله اود حضرت حسن بصری رحمه الله هم دا مسلك دې. امام احمد رحمه الله مشهور روایت هم ددې مطابق دې (۱)

② دویم مسلك دادې چه حرمت رضاعت کم از کم د درې رضعات نه ثابتیږی. ددې نه کم نه، د دوادظاهری رحمه الله ، ابن المنذر رحمه الله ، اسحاق بن راهویه رحمه الله هم دا مذهب دې ، او دامام احمد رحمه الله هم یو روایت ددې مطابق دې (۲)

③ دریم مذهب دادې چه د پنځو رضعاتونه به حرمت درضاعت ثابت وی ، ددې نه اقل کښې حرمت درضاعت به ثابت نه وی، دا پنځه راضعات هم متفرق اوقاتوکښې پکار دی. د امام شافعی رحمه الله هم دا مسلك دې،اوامام احمد رحمه الله یو روایت هم ددې مطابق دې،(۳)

④ څلورم مسلك دادې چه دلسو رضاعتو نه به کم کښې حرمت درضاعت ثابت نه وی، د حضرت حفصه رضی الله عنها هم دامسلك دې،اودحضرت عائشه رضی الله عنها نه هم داروایت شوې دې،(۴) حضرت عائشه رضی الله عنها نه لس ، اووه او پنځه رضاعات مختلف روایات منقول دی. (۵)

چه کوم خلق وائی چه درې رضاعات به محرم وی نوهغوی دصحیح مسلم روایت «لاتحرم المصة ولا المصتان ولا الاملاجة ولا الاملاجتان»(۶) ددې نه استدلال کوی.

چه څوك خمس رضاعات لره محرم ګڼړی ، هغوی دحضرت عائشه رضی الله عنها روایت نه استدلال کوی چه په هغې کښې دی چه «انزل فی القرآن عشر رضعات معلومات فنسخ من ذالك خمس وصار الی خمس رضعات معلومات فتوفی رسول الله ﷺ والامر علی ذالك».

دا دترمذی روایت الفاظ دی. او دصحیح مسلم په روایت کښې دی چه «کان فیما انزل من القرآن عشر رضعات معلومات یحرمن ثم نسخن بخمس معلومات فتوفی رسول الله ﷺ وهی فی ما یقرأ من القرآن»(۷)

---

۱) عمده القاری: ۹۶/۲۰).
۲) عمدة القاری: ۹۶/۲۰).
۳) فتح التقدیر: ۳۰۵/۳).
٤) اوګورئ موطا امام مالک : ۵۳۶ ، باب رضاعه الصغیر).
۵) عمده القاری: ۹۶/۲۰)
۶) صحیح مسلم ، کتاب الرضاع: ۹۶/۲۰).
۷) سنن الترمذی،کتاب الرضاع ،باب ماجاء لاتحرم المصة ولاالمصتان : ٤۵۶/۳ . صحیح مسلم ، کتاب الرضاع : ٤۶۸/۱)_٤۶۹).

دجمهورو استدلال دقران پاك آیت ﴿وَأُمَّهَٰتُكُمُ ٱلَّٰتِیٓ أَرۡضَعۡنَكُمۡ﴾ نه دې . چه په دې کښې مطلق رضاعت لره سبب د تحریم ګرځولې شوې دې .د قلیل وکثیر څه قید نشته دې . اوکتاب الله باندې خبر واحد نه تقید وتخصیص ذریعه څه زیاتې نشی کولې . (۱)

داشان دحضرت نبی کریم ﷺ ارشاد دې چه ((یحرم من الرضاع مایحرم من النسب))په دې کښې هم مطلق درضاعت محرم ګرځولې شوې دې . بلکه یو روایت کښې د ((قلیله وکثیره))تصریح هم وارد شوې ده . (۲) او په دې روایت کښې ټول رجال ثقات دی. په خاټې کښې روایت باب کښې ((فانما الرضاعة من المجاعة)) هم مطلق دې او قلیل اوکثیر په دې برابر دی

ترکومې چه تعلق دې دهغه روایاتو چه دهغې نه امام شافعی رحمه الله وغیره استدلال کوی ، جمهور فرمائی چه هغه منسوخ دې ، حضرت ابن عباس رضی الله عنهما ته چا د((لاتحرم الرضعة ولا الرضعتان)) ذکر اوکړو نو هغوی اوفرمائیل چه ((قدکان ذالك فام الیوم فالرضعة الواحدة تحرم))(۳)

[۴۸۱۴] حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنِ الْأَشْعَثِ عَنْ أَبِيهِ عَنْ مَسْرُوقٍ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَلَيْهَا وَعِنْدَهَا رَجُلٌ فَكَأَنَّهُ تَغَيَّرَ وَجْهُهُ كَأَنَّهُ كَرِهَ ذَلِكَ فَقَالَتْ إِنَّهُ أَخِي فَقَالَ انْظُرْنَ مَنْ إِخْوَانُكُنَّ فَإِنَّمَا الرَّضَاعَةُ مِنَ الْمَجَاعَةِ [ر:۲۵۰۴]

داشعث دپلار نوم سلیم بن اسود محاربی دې او دده کنیت ابوالشعثا دې (۴)

قوله: وَعِنْدَهَا رَجُلٌ: حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه ددې سړی نوم خوماته معلوم نشو خو خما خیال دې چه دادحضرت عائشه رضی الله عنها درضاعی تره ابوالقعیس خوئې وو (۵) دده په کتلو سره دحضرت نبی کریم ﷺ څهره مبارکه دناګوارئی په وجه بدله شوې وه ، حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی چه دا خما رضاعی رور دې. نوحضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل اوګوره چه ستا رضاعی رونړه کوم کوم دی څکه چه دضاعت تعلق د اولړې سره دې یعنی دحرمت رضاعت دبچپن نه داشان په پنیو رودلو سره ثابتیږی چه هغه پې دبچی اولږه ختموی اودده دپاره خوراك جوړ شی.

قوله: مَا إِخْوَانُكُنَّ: په دې کښې "ما" بمعنی "من" ده ، دکشمیهنی په روایت کښې ((من اخوانکن)) دی. (۶)

---

۱) اوګورئ احکام القرام للجصاص:۲/۱۲٤_۱۲۶).
۲) اوګورئ جامع المسانید للخوارزی ، ۲/۹۷ ، الباب الثالث والعشروت فی النکاح ، وعقود الجواهر المنیفة: ۱/۱۵۹ ، باب الرضاع).
۳) احکام القران للجصاص:۲/۱۲۵ ، مطلب اختلف السلف فی التحریم بقلیل الرضاع).
٤) ارشاد الساری:۱۱/۳۸۰).
۵) فتح الباری: ۹/۱۸۳).
۶) فتح الباری: ۹/۱۸۳).

حافظ ابن حجر رحمه الله د «انما الرضاعة من المجاعة» معنى بيانوى او ليكى چه :
اى الرضاعة تثبت بها الحرمة وتحل بها الخلوة هى حيث يكون الرضيع طفلا لسد اللبن جوعته لان معدته ضعيفه يكفيها وينبت بذالك لحمه فيصير كجزء من المرضعه فيشترك فى الحرمة مع اولادها فكانه قال، لا رضاعة معتبرة الا المغنية عن المجاعة والمطعمة من المجاعة كقوله تعالى ﴿اطعمهم من جوع﴾ (۱)

۲۳= بَاب لَبَنِ الْفَحْلِ

[۴۸۱۵] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ اَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ عَنْ عَائِشَةَ اَنَّ اَفْلَحَ اَخَا اَبِي الْقُعَيْسِ جَاءَ يَسْتَاذِنُ عَلَيْهَا وَهُوَ عَمُّهَا مِنْ الرَّضَاعَةِ بَعْدَ اَنْ نَزَلَ الْحِجَابُ فَاَبَيْتُ اَنْ اٰذَنَ لَهُ فَلَمَّا جَاءَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَخْبَرْتُهُ بِالَّذِي صَنَعْتُ فَاَمَرَنِي اَنْ اٰذَنَ لَهُ [ر:۲۵۰۱]

فحل مذكر ته ونيلې شي او د لبن نه مراد پئ دى ، چه ديو سړى په وطى سره د ښځې د سينو نه پيدا كيږى. هغه پئ دې فحل دې پئيو طرفته منسوب كيږى.
دا مسئله خو متفق عليه ده چه د رضاعت وجې سره مرضعه رضيع دپاره حرام كيږى ، او رضيع مرضعه دپاره.
خو په دې كښې اختلاف دې چه د مرضعه خاوند به هم رضيع دپاره حرام وى او كه نه؟ حضرت سعيد بن المسيب رحمه الله، حضرت ربيعه الرى رحمه الله، حضرت ابراهيم نخعى رحمه الله، حضرت ابراهيم بن عليه رحمه الله، حضرت قاسم بن محمد رحمه الله، سالم رحمه الله او حضرت دواد ظاهرى رحمه الله فرمائى چه د رضيع دپاره به د مرضعه خاوند حرام نه وى. (۲)
خو آئمه اربعه او جمهور علماء كرام فرمائى چه څنګه د رضيع دپاره مرضعه حراميږى داشان د دې خاوند هم حراميږى (۳)

امام بخارى رحمه الله د «لبن الفحل» ترجمه كوى او د جمهورو تائيد كوى او په دليل كښې حديث باب پيش كوى او فرمائى چه د حضرت عائشه رضي الله عنها رضاعى تره چه كله حضرت عائشه رضي الله عنها كره راغلو نو حضرت عائشه رضي الله عنها هغې ته د راتګ اجازت ورنكړو او ددې اطلاع يې حضرت نبى كريم صلى الله عليه وسلم ته وركړه. نو حضرت نبى كريم صلى الله عليه وسلم ورته اجازت وركړو چه ددې نه دا خبره واضحه شوه چه د مرضعه خاوند هم حرام دې . څكه چه په دې حديث كښې د خاوند رور د حرمت د رضاعت په وجه ورته د داخليدو اجازت وركړې شوې دې نو د مرضعه خاوند چه رضاعى پلار دې د ده حرمت بطريق اولى ثابتيږى.

---

۱) فتح البارى: ۹/۱۸٤).
۲) عمده القارى: ۲۰/۹۷).
۳) عمدة القارى: ۲۰/۹۷).

٢٤=باب شهادة المرضعة

[٤٨١٦] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا اسْمَاعِيلُ بْنُ ابْرَاهِيمَ اخْبَرَنَا ايُّوبُ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ ابِي مُلَيْكَةَ قَالَ حَدَّثَنِي عُبَيْدُ بْنُ ابِي مَرْيَمَ عَنْ عُقْبَةَ بْنِ الْحَارِثِ قَالَ وَقَدْ سَمِعْتُهُ مِنْ عُقْبَةَ لَكِنِّي لِحَدِيثِ عُبَيْدٍ احْفَظُ قَالَ تَزَوَّجْتُ امْرَاةً فَجَاءَتْنَا امْرَاةٌ سَوْدَاءُ فَقَالَتْ ارْضَعْتُكُمَا فَاتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ تَزَوَّجْتُ فُلَانَةَ بِنْتَ فُلَانٍ فَجَاءَتْنَا امْرَاةٌ سَوْدَاءُ فَقَالَتْ لِي انِّي قَدْ ارْضَعْتُكُمَا وَهِيَ كَاذِبَةٌ فَاعْرَضَ عَنِّي فَاتَيْتُهُ مِنْ قِبَلِ وَجْهِهِ قُلْتُ انَّهَا كَاذِبَةٌ قَالَ كَيْفَ بِهَا وَقَدْ زَعَمَتْ انَّهَا قَدْ ارْضَعَتْكُمَا دَعْهَا عَنْكَ وَاشَارَ اسْمَاعِيلُ بِاصْبَعَيْهِ السَّبَّابَةِ وَالْوُسْطَى يَحْكِي ايُّوبَ [ر:٨٨]

په كتاب العلم كښې په دې مسئله باندې تفصيلى بحث تير شوې دې اودا حديث هم په هغه ځائې كښې تير شوې دې. ((دعهاعنك اشار اسماعيل باصبعيه السبابة والوسطى يحكى أيوب))

اسماعيل بن ابراهيم په خپلو دوو ګوتو دشهادت په ګوتې او مينځۍ ګوتې سره اشاره كوى او فرمائى چه ايوب به داشان اشاره كوله اوفرمائيل به ئې. حافظ ابن حجر رحمة ا لله عليه ليكى چه :

((يحكى أيوب)) يعنى يحكى اشار أيوب ، والقائل على بن عبدالله ، والحاكى اسماعيل بن ابراهيم والمراد حكاية فعل النبى ﷺ حيث اشار بيده وقال بلسانه (دعها عنك) فحكى ذالك كل روا لمن دونه. (١)

دعبدالله بن ابى مليكه شيخ عبيدبن ابى مريم دى ،صحيح بخارى كښې دده صرف هم دا حديث دې ، حافظ ابن حجر رحمه الله ليكلى دى چه ماته دده حالات معلوم نشو البته ابن حبان په ثقات تابعين كښې دده ذكر كړې دې . (٢)

٢٥=باب مَا يَحِلُّ مِنَ النِّسَاءِ وَمَا يَحْرُمُ وَقَوْلِهِ تَعَالَى

((حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ امَّهٰتُكُمْ وَبَنٰتُكُمْ وَاخَوٰتُكُمْ وَعَمّٰتُكُمْ وَخٰلٰتُكُمْ وَبَنٰتُ الْاخِ وَبَنٰتُ الْاخْتِ)) الى اخرالايتين الى قوله((انَّ اللّٰهَ كَانَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا)) (النساء: ٢٣، ٢٤). (٣)

وَقَالَ انَسٌ وَالْمُحْصَنَاتُ مِنَ النِّسَاءِ ذَوَاتُ الْازْوَاجِ الْحَرَائِرُ حَرَامٌ الَّا مَا مَلَكَتْ ايْمَانُكُمْ لَا يَرَى بَاسًا انْ يَنْزِعَ الرَّجُلُ جَارِيَتَهُ مِنْ عَبْدِهِ وَقَالَ وَلَا تَنْكِحُوا الْمُشْرِكَاتِ حَتَّى يُؤْمِنَّ (البقرة:٢٢١)

حضرت انس رضي الله عنه فرمائى چه هغه آزادې منكوحه ښځې چه دهغو ى خاوند تراوسه پورې

---

١) فتح البارى: ٩/١٩٠) .

٢) اوګورئ تفصيل دپاره فتح البارى: ٩/١٩٠).

٣) (حرمت عليكم) اى حرم عليكم الزواج منهن وتتمه الايتين حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ اُمَّهٰتُكُمْ وَبَنٰتُكُمْ وَاَخَوٰتُكُمْ وَعَمّٰتُكُمْ وَخٰلٰتُكُمْ وَبَنٰتُ الْاَخِ وَبَنٰتُ الْاُخْتِ وَاُمَّهٰتُكُمُ الّٰتِیْۤ اَرْضَعْنَكُمْ وَاَخَوٰتُكُمْ مِّنَ الرَّضَاعَةِ وَاُمَّهٰتُ نِسَآىٕكُمْ وَرَبَآىٕبُكُمُ الّٰتِیْ فِیْ حُجُوْرِكُمْ مِّنْ نِّسَآىٕكُمُ الّٰتِیْ دَخَلْتُمْ بِهِنَّ فَاِنْ لَّمْ تَكُوْنُوْا دَخَلْتُمْ بِهِنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَیْكُمْ وَحَلَآىٕلُ اَبْنَآىٕكُمُ الَّذِیْنَ مِنْ اَصْلَابِكُمْ وَاَنْ تَجْمَعُوْا بَیْنَ الْاُخْتَیْنِ اِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ غَفُوْرًا رَّحِیْمًا)

موجود دي هغه حرام دي. «الا ماملكت ايمانكم لايرى باسا ان ينزع الرجل جاريته من عبده» داشان که چاسره وينځه وه او خپل غلام سره هغه ددې وينځې نکاح اوکړه نو دحضرت انس رضي الله عنه نقطه نظر دادې چه په دې صورت کښې مولی ته حق حاصل دې چه هغه دا وينځه غلام ته دنکاح کولونه باوجود واپس واخلی ، اوپخپله ورسره وطی کوی ،چونکه په «ماملكت ايمانكم» کښې دا خل ده او قران دې لره حلال ګروزی ، داشان دحضرت انس رضي الله عنه خيال دادې کهچا واده شوې وينځه واخستله نو دا بيع به دهغه وينځې دپاره پشان دطلاق شی او هغه بيا دې وينځې سره هم بستری کولې شی .

خو جمهور علماء ته دې جائز نه وائی ، هغوی فرمائی چه دقران پاك آيت «الا ما ملكت ايمانكم» نه هغه ښځې مراد دی چه کومې جهاد کښې په قبضه کښې راشی، نوهغه د مسلمانانو دپاره حلالې دی ،اودهغوی د کافرو خاوندانو هيڅ اعتبار نشته دې ، نو علامه شبير احمد عثمانی رحمه الله ددې آيت مبارك لاندې ليکی چه :

دمحرماتو ذکر فرمائی او په آخرکښې اوس دهغه ښځو دحرمت بيان فرمائی چه دچا په نکاح کښې وی يعنی ښځه چه دچا په نکاح کښې ده ،دهغې نکاح بل چاسره نشی کيدلې ، ترهغه وخته پورې چه هغه د طلاق يا د خاوند په مرګ دنکاح نه جدا نشی ،اوعدت دطلاق يا عدت د وفات پوره کړی ، تر هغه وخته پورې هېڅوك دې سره نکاح نشی کولی ، ليکن كه څوك ښځه داسې ستاسو په ملکيت کښې راشی چه دهغې خاوند وی نوددې حکم حرمت نه مستثنی ده . او په تاسوباندې حلاله ده ، اګر چه ددې خاوند ژوندې وی ، اوهغه ورته طلاق هم ورکړې نه وی ، اوددې صورت دادې چه کافر سړی او کافره ښځه خپلو په نکاح کښې وی او مسلمان دارالحرب باندې حمله اوکړی اودې ښځې لره قيد کړی او دارالاسلام ته ئې راولی نودا ښځهچه يو مسلمان ته ملاويږی نو هغه لره حلاله ده، اګر چه ددې خاوند ژوندې وی په دارالحرب کښې موجود وی ، او هغه ورته طلاق نه وی ورکړې . (فائد) چه کومه ښځه کافره دارالحرب کښې اونيولې شوه ، ددې دحلاليدو دپاره دا ضروری دی چه يو حيض پرې تير شی او هغه ښځه مشرکه بت پرسته نه وی بلکه اهل کتاب نه وی . (١)

قوله: وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ مَا زَادَ عَلَى أَرْبَعٍ فَهُوَ حَرَامٌ كَأُمِّهِ وَابْنَتِهِ وَأُخْتِهِ: حضرت ابن عباس رضي الله عنهما دا تعليق فريابی او عبدبن حميد موصولانقل کړې دې (٢)

قوله: وَقَالَ لَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ عَنْ سُفْيَانَ حَدَّثَنِي حَبِيبٌ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ حَرُمَ مِنَ النَّسَبِ سَبْعٌ وَمِنَ الصِّهْرِ سَبْعٌ ثُمَّ قَرَأَ حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهَاتُكُمُ الآيَةَ: دکتاب المغازی په آخرکښې مونږ وئيلې وو چه د امام احمد بن حنبل رحمه الله نه امام بخاری رحمه الله درې روايتونه نقل کړی دی ، يو په کتاب

١) اوګورئ تفسير عثمانی: ١٠٥ ، فائده نمبر ١).
٢) ارشاد الساری: ١١/٣٨٤).

المغازی کښې ، دویم په دې ځائې کښې اودریم مخکښې په کتاب اللباس کښې ، کتاب المغازی والا روایت مرفوع دې او روایت باب موقوف دې (۱)

قوله: عن ابن عباس ؓ حرم من النسب سبع ومن الصهر سبع: حضرت ابن عباس ؓ نه روایت دې چه هغوی اوفرمائیل چه نسب نه اووۀ قسمه ښځې حرام دی او دصهر نه اووۀ قسمه ښځې حرام دی اوبیا د قرآن آیت «حرمت علیکم امهاتکم» تلاوت کړو.

دنسب نه اووه قسمه ښځې چه حرام دی ، په آیت کریمه کښې دهغې تفصیل دادې:

① امهات ② بنات ③ اخوات ④ عمات ⑤ خالات ⑥ بنات الاخ ⑦ بنات الاخت .

او دصهر متعلق چه کومې اووه قسمه ښځې حرام دی هغه دادی چه : ① امهات رضاعیه ②اخوات رضاعیه ③ امهات نساء یعنی دښځو میاندې ④ ربائب یعنی دهغه ښځولونړه چه هغوی سره همبستری شوې وی یا هغوی سره خلوت صحیحه شوې وی. ⑤ دخامنو ښځې ⑥ او دوه خویندې جمع کول .اووم قسم په دې آیت کښې نه دې بلکه ددې نه مخکښې آیت کریمه کښې دی ⑦ «ولاتنکحوا مانکح اباوکم من النساء» .دطبرانی په روایت کښې تصریح شوې ده چه حضرت ابن عباس ؓ د آیت باب نه تلاوت کولو نه پس ده اووم قسم بیانولو دپاره«ولاتنکحوا مانکح اباوکم»تلاوت فرمائی او بیا فرمائی چه «هذا الصهر» صهر دځخرګنئ رشتې ته وائی ، رضاعی رشتو باندې دصهر اطلاق مجازی طور شوې دې (۲)

قوله: وَجَمَعَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ جَعْفَرٍ بَيْنَ ابْنَةِ عَلِيٍّ وَامْرَأَةِ عَلِيٍّ وَقَالَ ابْنُ سِيرِينَ لَا بَأْسَ بِهِ وَكَرِهَهُ الْحَسَنُ مَرَّةً ثُمَّ قَالَ لَا بَأْسَ بِهِ: حضرت عبدالله بن جعفر ؓ دحضرت علی ؓ لور حضرت زینب او دده ښځه لیلی بنت مسعود دواړه جمع کړې وې یعنی دحضرت عبدالله بن جعفر ؓ په نکاح کښې دحضرت علی ؓ لور زینب وه ، بیا دحضرت علی ؓ د وفات نه پس دهغه ښځې لیلی سره هم حضرت عبدالله بن جعفر واده اوکړو. نوداشان‌هغوی بی بی اودهغه دسابقه خاوند لور جمع کړل. حضرت محمدبن سیرین فرمائی چه په دې کښې هیڅ حرج نشته دې ، حضرت حسن بصری ؒ په ابتداء کښې دا مکروه ګڼړل لیکن روستوهغه اوونیل چه «لاباس به» .امام بغوی ؒ په «جعدیات» کښې دا اثر موصولاً نقل کړې دې (۳) دحضرت ابن سیرین قول سعید بن منصور اود حضرت حسن بصری قول دار قطنی موصولاً نقل کړې دې (۴)

قوله: وَجَمَعَ الْحَسَنُ بْنُ الْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ بَيْنَ ابْنَتَيْ عَمٍّ فِي لَيْلَةٍ وَكَرِهَهُ جَابِرُ

---

۱) اوګورئ کشف الباری، کتاب المغازی : ۶۹۲).

۲) فتح الباری: ۱۹۲/۹).

۳) فتح الباری: ۱۹۲/۹).

٤) فتح الباری: ۱۹۳/۹).

بْنُ زَيْدٍ لِلْقَطِيعَةِ وَلَيْسَ فِيهِ تَحْرِيمٌ لِقَوْلِهِ تَعَالَى وَأُحِلَّ لَكُمْ مَا وَرَاءَ ذَلِكُمْ (النساء:٢٤): حضرت حسن بن الحسن دخپل تره دوه لونړو لره په يو شپه کښې جمع کړې وې يعنى دواړه دتره لونړوسره چه دده په نکاح کښې وې په يوشپه‌کښې جماع کړې وه.

جابر بن زيد دې لره مکروه ګڼړى او وائى چه‌په دې د قطع رحمۍ شکل مونډې شى،امام بخارى رحمه الله فرمائى چه دې دمکروه وئيلو مطلب دانه دې چه‌دې لره حرام اوګنړلې شى ، دا حرام نه دى ځکه‌چه دقران پاك آيت ﴿وَأُحِلَّ لَكُمْ مَّا وَرَآءَ ذَٰلِكُمْ﴾ کښې داخل دې ، ابن المنذر فرمائى چه ((لااعلم احدا ابطل هذا النكاح)) (١)

حضرت حسن مذكوره اثر لره دعبدالرزاق نه موصولاً نقل کړې دې . په دې کښې دمره اضافه هم ده چه ((فى ليلة واحدة بنت محمد بن على وبنت عمر بن على)) (٢) او دجابر بن زيداثر لره ابوعبيده موصولاً نقل کړې دې (٣)

قوله: وَقَالَ عِكْرِمَةُ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ إِذَا زَنَى بِأُخْتِ امْرَأَتِهِ لَمْ تَحْرُمْ عَلَيْهِ امْرَأَتُهُ: دجهمور عالمانو هم دامسلك دې ليکن يو جماعت ددې حکم مخالفت اوکړو او دحرمت فيصله ئې ورکړې ده . (۴) حضر ت ابن عباس رضى الله عنهما دې اثر لره عبدالرزاق موصولاق نقل کړې دې . (۵)

قوله: وَيُرْوَى عَنْ يَحْيَى الْكِنْدِيِّ عَنْ الشَّعْبِيِّ وَأَبِي جَعْفَرٍ فِيمَنْ يَلْعَبُ بِالصَّبِيِّ إِنْ أَدْخَلَهُ فِيهِ فَلَا يَتَزَوَّجَنَّ أُمَّهُ وَيَحْيَى هَذَا غَيْرُ مَعْرُوفٍ وَلَمْ يُتَابَعْ عَلَيْهِ: دمستملى په نسخه کښې د ((ابى جعفر)) په ځائې ((ابن جعفر)) دې ليکن هغه غير معتمددې ،صحيح متن والا نسخه د ((ابى جعفر)) ده ، (۶)

په دې اثر کښې که يوسړى يو بچى سره بدفعلى اوکړه‌نو دده موربه په ده باندې حرامه شى. سفيان ثورى رحمه الله ، امام‌اوزاعى رحمه الله ،او امام‌احمدبن حنبل رحمه الله ددې قائل‌دى ليکن دجمهور علماء په نيز لواطت سره حرمت مصاهرت نه ثابتيږى ، ددې وجې‌ديو بچى سره‌بد فعلۍ کولو سره به ددې دبچى مور حرمت بدفعلۍ کولووالا دپاره‌نه ثابتيږى او دده مور سره دې نکاح کولې شى (٧)

---

١) فتح البارى: ١٩٣/٩).
٢) ارشادالسارى: ٣٨٥/١١، وفتح البارى: ١٩٣/٩).
٣) فتح البارى: ١٩٣/٩).
٤) فتح البارى:١٩٤/٩).
٥) فتح البارى: ١٩٤/٩).
۶) عمد القارى: ١٠٢/٢٠).
٧) ارشادالسارى: ٣٨۶/١١، وعمده القارى: ١٠٢/٢٠، وفتح البارى : ١٩٤/٩).

قوله: قال ابن الملقن في عجالته وهذه مقالة عجيبة لونزه البخاري عنها كتابه لكان اولى (١) ويحيى هذا غيرمعروف ولم يتابع عليه: امام بخاري رحمه الله فرمائى چه دا يحيى كندى غيرمعروف دې ، دده متابعت نه دې كړې شوې ،په ده باندې اشكال دى چه دسفيان ثورى ، ابوعوانه او شريك يحيى بن قيس كندى نه روايت كوى اوكله چه ديوسړى نه دوه روايت كولو والا سړى وى نو ده ته غير معروف او مجهول نه شي وئيلې.

ددې جواب دادې چه په دې خائې كښې جهالت د عين مراد نه دې ، جهالت وصف مراد دې چه دده حال معلوم نه دې ، په دې باندې اشكال دى چه ابن حبان په كتاب الثقات كښې ديحيى كندى ذكر كړې دې . بيا ده ته مجهول بالوصف ولې وئيلې شى ، ددې جواب دادې چه دابن حبان مسلك دادې چه په كوم راوى باندې جرح نه وى شوې او دده نه روايت كولو والا پورته لاندې راوى مستند اوقابل اعتماد وى نو ابن حبان داسې راوى لره په كتاب الثقات كښې ذكر كړې دې . ليكن دا د مجهول بالوصف منافى نه ده څكه دې سره داامام بخارى رحمه الله په فيصله زدنه پريوزى، (٢)

قوله: وَقَالَ عِكْرِمَةُ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ إِذَا زَنَى بِهَا لَا تَحْرُمُ عَلَيْهِ امْرَأَتُهُ وَيُذْكَرُ عَنْ أَبِي نَصْرٍ أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ حَرَّمَهُ وَأَبُو نَصْرٍ هَذَا لَمْ يُعْرَفْ بِسَمَاعِهِ مِنْ ابْنِ عَبَّاسٍ وَيُرْوَى عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ وَجَابِرِبْنِ زَيْدٍ وَالْحَسَنِ وَبَعْضِ أَهْلِ الْعِرَاقِ تَحْرُمُ عَلَيْهِ وَقَالَ عِكْرِمَةُ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ إِذَا زَنَى بِهَا لَا تَحْرُمُ عَلَيْهِ امْرَأَتُهُ: يعنى كه چاخپلې خواښې سره زنا اوكړه نو ښځه پرې نه حراميږى ، دحضرت عكرمه رضي الله عنه مسلك هم دا دې ، دحضرت ابن عباس رضي الله عنه دا تعليق امام بيهقى موصولاً نقل كړې دې (٣)امام شافعى رحمه الله هم ددې قائل دې (۴)

ليكن امام ابوحنيفه رحمه الله ، سفيان ثورى رحمه الله او ا مام احمدبن حنبل رحمه الله فرمائى چه ښځه به پرې حرامه شى. (۵) دمالكيه دوه قوله دى ،ليكن راجح قول هم دحرمت والا دې. (۶)

قوله: ويذكر عن ابى نصران ابن عباس حرمه: دا دحضرت ابن عباس رضي الله عنه نه دوئم روايت دې چه خواښې سره زنا كولوسره ښځه به پرې حرامه شى ، خودامام بخارى رحمه الله په نيز تحريم والا روايت ثابت نه دې ، ددې وجې بصيغه مجهول ذكر كړې دې، امام بخارى رحمه الله فرمائى ((وابونصرهذا لم يعرف بسماعه عن ابن عباس)) يعنى د ابونصر سماع د حضرت ابن

---

١) ارشادالسارى:١١/٣٨۶).
٢) اوګورئ مذكوره تفصيل دپاره عمده القارى: ١٠٢/٢٠ . وفتح البارى: ١٩٤/٩).
٣) فتح البارى: ١٩٤/٩ ، وعمده القارى: ١٠٢/٢٠).
٤) الهداية . كتاب النكاح، باب المحرمات:٢٧٧/٢).
۵) عمده القارى: ١٠٣/٢٠).
۶) فتح البارى: ١٩٥/٩).

عباس نه معروف نه ده .د تحريم ذكر شوې دې دا تعليق سفيان ثورى رحمه الله په خپل جامع كښې موصولاً نقل كړې دې ، دده الفاظ دادى ((ان رجلا قال : انه اصاب ام امرأته فقال له ابن عباس حرمت عليك امرأتك وذالك بعد ان ولدت منه سبعة اولاد كلهم بلغ مبلغ الرجال))(١)

مخكښې امام بخارى رحمه الله فرمائى چه عمران بن حصين رحمه الله، جابر بن زيد رحمه الله، حسن بصرى رحمه الله او دبعض اهل عراق قول هم دې حرمت دې ((بعض اهل العراق)) نه بقول مولانا انورشاه كشميرى رحمه الله حنفيه مراد دې.(٢) اوحافظ فرمائى چه ددې نه شائد سفيان ثورى مراد دى (٣) دعمران بن حصين رحمه الله قول لره عبدالرزاق ، جابر بن زيد رحمه الله اوحسن بصرى رحمه الله قول لره ابن ابى شيبه موصولاً نقل كړې دې . (۴)

قوله: وَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ لَا تَحْرُمُ حَتَّى يُلْزِقَ بِالْأَرْضِ يَعْنِي يُجَامِعَ وَجَوَّزَهُ ابْنُ الْمُسَيَّبِ وَعُرْوَةُ وَالزُّهْرِيُّ وَقَالَ الزُّهْرِيُّ قَالَ عَلِيٌّ لَا تَحْرُمُ وَهَذَا مُرْسَلٌ: دحضرت ابو هريره رضي الله عنه ددې قول مقصد دادې چه صرف د خوابنې د لمس په وجې سره دبنځې حرمت ثابت نه دې .كه خوابنې سره ئې جماع اوكړه نوبيا به هم حرمت ثابت وى. ((وقال : ابن التين يلزق بفتح اوله وضبطه غيره بالضم وهو اوجه وبالفتح لازم وبالضم متعد يقال لزق به لزوقا والزقه بغيره وهو كناية عن الجماع)) (۵) دحضرات حنفيه په نيز صرف دمس په وجه هم حرمت به ثابت وى ،(۶) او ابن مسيب ،عروه اوزهرى رحمه الله فرمائى چه خوابنې سره جماع كولو سره بنځه حرامېږى ، لكه څنګه چه مخكښې دحضرت عكرمه رضي الله عنه اوحضرت شافعى رحمه الله مذهب بيان شوې دې.

قوله: وقال الزهري: قال علي : لايحرم وهذا مرسل: دزهرى قول لره بيهقى موصولاً نقل كړې دې . امام بخارى رحمه الله فرمائى چه دا مرسل دې ، مرسل نه مراد په دې ځائې كښې منقطع دې . مرسل اصطلاحى مراد نه دې. (٧)

٢٦=بَاب

وَرَبَائِبُكُمُ اللَّاتِي فِي حُجُورِكُمْ مِنْ نِسَائِكُمُ اللَّاتِي دَخَلْتُمْ بِهِنَّ (النساء : ٢٣). وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ الدُّخُولُ وَالْمَسِيسُ وَاللِّمَاسُ هُوَ الْجِمَاعُ وَمَنْ قَالَ بَنَاتُ وَلَدِهَا مِنْ بَنَاتِهِ

---

١) فتح البارى: ١٩٤/٩).
٢) فيض ا لبارى: ٢٧٨/٤).
٣) فتح البارى: ١٩٥/٩) .
٤) عمده القارى: ١٠٣/٢٠).
٥) فتح ألبارى: ١٩٥/٩).
٦) الهدايه ،كتاب النكاح ،باب المحرمات:٢٧٧/٢).
٧) عمده ألقارى: ١٠٣/٢٠).

فِي التَّحْرِيمِ لِقَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأُمِّ حَبِيبَةَ لَا تَعْرِضْنَ عَلَيَّ بَنَاتِكُنَّ وَلَا أَخَوَاتِكُنَّ وَكَذَلِكَ حَلَائِلُ وَلَدِ الْأَبْنَاءِ هُنَّ حَلَائِلُ الْأَبْنَاءِ

وَهَلْ تُسَمَّى الرَّبِيبَةَ وَإِنْ لَمْ تَكُنْ فِي حَجْرِهِ وَدَفَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَبِيبَةً لَهُ إِلَى مَنْ يَكْفُلُهَا وَسَمَّى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ابْنَ ابْنَتِهِ ابْنًا (ر:۳۵۳٦).

دربیبه دحرمت دپاره په آیت کریمه کښې دوه قیدونه ذکر شوی دی ① یوخو دا چه هغه ستاپه غیږ کښې وی ② او دویم دا چه دهغې مور ستا مدخول بها وی.

دمدخول بها قید خو اتفاقی دې او په دې کښې اختلاف نشته البته ددخول تفسیر کښې اختلاف دې.

دامام شافعی رحمه الله دوه قولونه دی او اصح قول دادې چه د دخول نه مراد جماع ده حالانکه آئمه ثلاثه فرمائی چه ددې نه خلوت صحیحه مراد دې ، (۱)

البته رومبې قید یعنی د ربیبه غیږ او پرورش کښې کیدل په دې کښې اختلاف دې. د جمهورعلماء کرام، ائمه اربعه اودفقهائې مدینه په نیزدا قید ، قیداتفاقی دې، قید احترازی نه دې بلکه عموما ربیبه دزوج په پرورش کښې وی ددې وجې دا قید اولګولې شو(۲)

لیکن داودظاهری فرمائی چه دا قید احترازی دې،علامه ابن حزم هم داا ختیارکړې دې(۳)

ددې تائید ددې روایت نه کیږی چه کوم امام عبدالرزاق د مالك بن اوس نه نقل کړې دې او په دې کښې اختلاف دې «كانت عندی امراة قدولدت لى، فماتت فوجدت عليها ، فلقيت على ابن ابى طالب فقال لى ، مالك فاخبرته فقال : الهابنة . يعنى من غيرك قلت نعم قال . كانت فى حجرك ، قلت : لا ، هى فى الطائف ،قال: فانكحها قلت: فاين قوله تعالى . وربائبكم، قال : انهالم تكن فى حجرك» (۴)

په دې روایت کښې حضرت علی رضی الله عنه نه صراحتًا منقول دی چه د «فى حجوركم» قید احترازی دې اتفاقی نه دې.

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه زمونږ شیخ علامه ذهبی رحمه الله دا اثر دشیخ الاسلام ابن تیمیه په مخکښې پیش کړې دې ، نوهغوی په دې باندې توقف کړې دې . (۵) حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه : که په دې مسئله کښې اجماع نه وې اومخالفت نادر او کم نه وې نو په دې اثر باندې عمل کول اولی وو، ځکه چه تحریم ربیبه په نورو شرطونو سره مشروط دې،اویو شرط د دخول احتراز دپاره دې ،نودویم شرط هم د «حجوركم» د احتراز دپاره پکار

۱) عمده القاری: ۱۰۳/۲۰ . فتح الباری: ۱۹٦/۹_۱۹۷).
۲) لامع الدراری :۲۷۹/۹).
۳) لامع الدراری: ۲۸۰/۹).
٤) فتح الباری: ۱۹۷/۹).
۵) لامع الدراری: ۲۸۰/۹).

دي. نو لیکئ: ((ولولا الاجماع الحادث فی المسالة وندرة المخالف لکان الاخذبه اولی لان التحریم جاء مشروطا بامرین : ان تکون فی الحجر ، وان یکون الذی یرید التزوج قد دخل بالام فلا تحرم بوجود احد الشرطین)) (۱)

قوله: ومن قال بنات ولدها من بناته فی التحریم لقول النبی ﷺ لا تعرضن علی بناتکن.: ((من)) موصوله دي . مطلب دادي چه د ښځې نمسۍ په حرمت کښې دده دلونړو په شان دی ، ځکه چه حضور اکرم ﷺ حضرت ام حبیبه رضی الله تعالی ته وئیلی وو ((لاتعرضن علی بناتکن ولا اخواتکن)) داشان د نمسی د ښځې حکم هم د لور پشان دي.

قوله: ودفع النبی ﷺ ربیبة له الی من یکفله: ددې جملې نه مخکښې امام بخاری رحمه الله فرمائی چه ((هل تسمی الربیبة وان لم تکن فی حجره)) یعنی ربیبه که پرورش اوغیږ کښې نه وی نو په دې باندې د ربیبه اطلاق کیږی که نه ؟او سړی دپاره هغه حرام ده یا حلاله ؟د ((دفع النبی ﷺ)) نه استدلال کوی ، امام بخار رحمه الله فرمائیل غواړی چه د ربیبه غیږ او پرورش کښې کیدل شرط نه دې دا محض قید اتفاقی دې ، ځکه پخپله حضور ﷺ یو ربیبه کفالت کولو والا یو رشته دار ته حواله کړې وه ،چه ددې نه معلومیږی چه دربیبه پرورش کیدل څه ضروری نه دی ،ربیبه که په غیږ یا پرورش کښې نه وی نوبیا هم په دې باندې د ربیبه اطلاق کړې شی.

دحضرت نبی کریم ﷺ چه دکومې ربیبه په دې ځائې کښې ذ کر کړې دې هغه دحضرت ام سلمه رضی الله عنها لور وه چه هغه حضرت نبی کریم ﷺ نوف اشجعی ته حواله کړې وه. (۲)

[۴۸۱۷] حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا هِشَامٌ عَنْ اَبِيهِ عَنْ زَيْنَبَ عَنْ اُمِّ حَبِيبَةَ قَالَتْ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ هَلْ لَكَ فِي بِنْتِ اَبِي سُفْيَانَ قَالَ فَاَفْعَلُ مَاذَا قُلْتُ تَنْكِحُ قَالَ اَتُحِبِّينَ قُلْتُ لَسْتُ لَكَ بِمُخْلِيَةٍ وَاَحَبُّ مَنْ شَرِكَنِي فِيكَ اُخْتِي قَالَ اِنَّهَا لَا تَحِلُّ لِي قُلْتُ بَلَغَنِي اَنَّكَ تَخْطُبُ قَالَ ابْنَةَ اُمِّ سَلَمَةَ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ لَوْ لَمْ تَكُنْ رَبِيبَتِي مَا حَلَّتْ لِي اَرْضَعَتْنِي وَاَبَاهَا ثُوَيْبَةُ فَلَا تَعْرِضْنَ عَلَيَّ بَنَاتِكُنَّ وَلَا اَخَوَاتِكُنَّ وَقَالَ اللَّيْثُ حَدَّثَنَا هِشَامٌ دُرَّةُ بِنْتُ اَبِي سَلَمَةَ [ر: ۴۸۱۳]

پورته روایت کښې دحضور اکرم ﷺ دلور بی بی نوم ذکر نه دې ،د لیث روایت کښې ددې نوم مذکور دې ، ((درة بنت ابی سلمة)) ((وقال اللیث)) تعلیق نه دې بلکه سند مذکوره سره موصول دې .

---

۱) فتح الباری: ۱۹۷/۹).
۲) فتح الباری: ۱۹۸/۹).

۲۷=باب وأن تجمعوا بين الأختين إلا ما قد سلف [النساء : ۲۳]

[۴۸۱۸] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ أَنَّ عُرْوَةَ بْنَ الزُّبَيْرِ أَخْبَرَهُ أَنَّ زَيْنَبَ بِنْتَ أَبِي سَلَمَةَ أَخْبَرَتْهُ أَنَّ أُمَّ حَبِيبَةَ قَالَتْ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ انْكِحْ أُخْتِي بِنْتَ أَبِي سُفْيَانَ قَالَ وَتُحِبِّينَ قُلْتُ نَعَمْ لَسْتُ لَكَ بِمُخْلِيَةٍ وَأَحَبُّ مَنْ شَارَكَنِي فِي خَيْرٍ أُخْتِي فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ ذَلِكِ لَا يَحِلُّ لِي قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ فَوَاللَّهِ إِنَّا لَنَتَحَدَّثُ أَنَّكَ تُرِيدُ أَنْ تَنْكِحَ دُرَّةَ بِنْتَ أَبِي سَلَمَةَ قَالَ بِنْتَ أُمِّ سَلَمَةَ فَقُلْتُ نَعَمْ قَالَ فَوَاللَّهِ لَوْ لَمْ تَكُنْ فِي حَجْرِي مَا حَلَّتْ لِي إِنَّهَا لَابْنَةُ أَخِي مِنَ الرَّضَاعَةِ أَرْضَعَتْنِي وَأَبَا سَلَمَةَ ثُوَيْبَةُ فَلَا تَعْرِضْنَ عَلَيَّ بَنَاتِكُنَّ وَلَا أَخَوَاتِكُنَّ [ر: ۴۸۱۳]

دامام بخاری رحمه الله مقصد دادی چه د دوؤخویندو په یونکاح کښې جمع کیدل جائز نه دی. که حقیقی خویندې وې اوکه علاتی وی یااخیافی وی یارضاعی وی ، دامسئله خومتفق علیه ده.

البته ملك یمین کښې دوه خویندې جمع کیدلې شی ، په دې سلسله کښې اختلاف دې ،دجمهور علماء په نیز ملك یمین کښې دوه خویندې جمع کول درست نه دی ، بعض سلف دجواز قائل دی ، امام احمد رحمه الله نه هم دایوروایت دجواز منقول دې . (۱)

دحدیث مطابقت دترجمة الباب سره ظاهرنه دی ، حضرت نبی کریم ﷺ ام المومنین حضرت ام حبیبه رضی الله عنها ت اوفرمائیل «لا تعرضن علی بناتکن ولا اخواتکن»

۲۸=باب لا تنکح المرأة علی عمتها

امام بخاری رحمه الله فرمائی چه که دچا په نکاح کښې ترور وی بیا ددې وریرې سره نکاح کول جائز نه دی او هم دا حکم دترور او ددې خورزې دې ، امام ترمذی رحمه الله ، ابن منذر رحمه الله ، ابن حزم رحمه الله ، علامه نووی رحمه الله اوقرطبی رحمه الله فرمائی چه دا مسئله اجماعی ده ، البته امام نووی رحمه الله د روافضو اوابن منذر او قرطبی د خوارجو استثنی کړې ده. (۲) حنفیه یوقاعده بیان کړې ده چه دداسې دوؤ ښځو نکاح کښې جمع کول حرام دی چه په هغوی کښې یو سړې فرض کړې شی نو دده بلې سره نکاح کول جائز نه دی لیکن که حرمت یو طرفنه وی او بل طرفنه نه وی نوبیا جمع کیدلو کښې هیڅ حرج نشته . (۳)

[۴۸۱۹/۴۸۲۱] حَدَّثَنَا عَبْدَانُ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا عَاصِمٌ عَنِ الشَّعْبِيِّ سَمِعَ جَابِرًا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ تُنْكَحَ الْمَرْأَةُ عَلَى عَمَّتِهَا أَوْ خَالَتِهَا وَقَالَ دَاوُدُ وَابْنُ عَوْنٍ عَنِ الشَّعْبِيِّ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ

---

۱) اوګورئ دتفصیل دپاره فتح الباری: ۱۹۹/۹).
۲) اوګورئ دتفصیل دپاره فتح الباری: ۲۰۱/۹).
۳) اوګورئ الهدایه ،کتاب النکاح ، باب المحرمات: ۲۷۷/۲).

[٤٨٢٠] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ يُوسُفَ اَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ اَبِى الزِّنَادِ عَنِ الْاَعْرَجِ عَنْ اَبِى هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يُجْمَعُ بَيْنَ الْمَرْاَةِ وَعَمَّتِهَا وَلَا بَيْنَ الْمَرْاَةِ وَخَالَتِهَا

[٤٨٢١] حَدَّثَنَا عَبْدَانُ اَخْبَرَنَا عَبْدُ اللّٰهِ قَالَ اَخْبَرَنِى يُونُسُ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ حَدَّثَنِى قَبِيصَةُ بْنُ ذُؤَيْبٍ اَنَّهُ سَمِعَ اَبَا هُرَيْرَةَ يَقُولُ نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنْ تُنْكَحَ الْمَرْاَةُ عَلَى عَمَّتِهَا وَالْمَرْاَةُ وَخَالَتُهَا فَنُرَى خَالَةَ اَبِيهَا بِتِلْكَ الْمَنْزِلَةِ لِاَنَّ عُرْوَةَ حَدَّثَنِى عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ حَرِّمُوا مِنَ الرَّضَاعَةِ مَا يَحْرُمُ مِنَ النَّسَبِ(١)

حضرات جمهور ددې پشان داحاديثو په وجه آيت كريمه ﴿وَأُحِلَّ لَكُم مَّا وَرَآءَ ذَٰلِكُمْ﴾ عموم كښې دتخصيص قائل دى. جمهور علماء چونكه قران كريم تخصيص په اخبار آحاد جائز منى .(٢)نو پدې وجه په دوى باندې هيڅ اشكال نه وى.
ليكن حضرات حنيفه باندې اشكال كيږى څكه چه هغوى داخبار آحاد نه تخصيص دكتاب الله قائل نه دى ، صاحب هدايه دا جواب كړې دې چه دا اخبار آحاد نه دې بلكه دا ټول احاديث مشهور دى ددې وجې دوى نه په قران پاك كښې تخصيص كيدلې شى. (٣)
په دې باندې اشكال كيږى چه كوم شهرت محدثينو لره معتبر دې هغه په دې آحاديثو كښې نه موندې كيږى چه كوم په دې ځائې كښې موندې شى. ددې حضرات محدثينو په خپله اصطلاح كښې اعتبار نه دې كړې څكه دمحدثينو په اصطلاح كښې خبرمشهور هغې ته وئيلې شى چه دهغې راوى هره زمانه كښې دريو نه كم نه وى، كم از كم درې وى ، (٤) او احاديث باب داشان نه دى.
دحنفيه دطرفنه دويم جواب دا وركړې شوې دې چه په دوى باندې چونكه دامت اجماع منعقد شوې ده ، ددې وجې دا احاديث مستند بالاجماع دى ، چنانچه په آيت كريمه كښې تحصيص داجماع ذريعې سره شوې دې ، دخبر واحد په ذريعه نه دې ، علامه انور شاه كشميرى رحمه الله ددې اشكال جواب فرمائى چه :

١) داخرجه ابوداود فى كتاب النكاح ، باب مايكره ان يجمع بينهن من النساء ، رقم ا لحديث : ٢٠٢٥، والترمذى فى كتاب النكاح ، باب تحريم النكاح ، باب ماجاء لاتنكح المراة على عمتها ولا على خالتها . رقم الحديث: ١١٢٦، والنسائى فى كتاب النكاح ،باب تحريم الجمع بين المراة وعمتها . رقم ا لحديث: ٥٤١٩، وابن ماجه فى كتاب النكاح ،باب لا تنكح المراة على عمتها ولا على خالتها رقم الحديث: ١٩٢٩ . واخرجه مالک فى كتاب النكاح ،باب مالا يجمع بينه من النساء ،رقم الحديث : ٢٠).
٢) فتح البارى: ٢٠١/٩).
٣) فتح البارى: ٢٠١/٩ . وعمده القارى: ١٠٧/٢٠ . والهدايه: ٢٧٧/٢ . كتاب الحج).
٤) ظفرالامانى بشرح مختصر ا لسيد ا لجرجانى: ٦٥ . وشرح النخبه :١٨ _٣١ . وتدريب الراوى :٣٦٨_٣٦٩ . كذا على هانش علوم ا لحديث: ٢٦٥).

واورد عليه ابن القيم فى اعلام الموقعين ، قال : وهى زيادة على الكتاب من خبر الواحد ، وهو ساقط عندى ، لان هذا مجمع عليه ، فلم يبق خبرا واحدا ، وقد مر ان خبر الواحد عند المحدثين ماكان له سند دون المشهور ، وعند الاصوليين هو مالم يتلق بالقبول فى عهد السلف فان تلقى فهو مشهور ، فهم تسبوا الخبر باعتبار التلقى وعلمه فما تلقى يصير الخبر عندهم مشهورا ، فتجوز به الزيادة على الكتاب على انه متواتر عملا ، وان لم يكن متواتر سندا لان السند عبارة عن من عن ولى تواتر الطبقة يكون احد الطبقة عن الطبقة وثالثا : انه ليس من باب الزيادة بل تنقيح المناط لقوله وان تجمعوا بين الاختين ، ، فافهم ، (۱)

قوله: وقال داود ابن عون عن الشعبي ،عن ابي هريرة: د داود بن ابی هند روايت امام ابو داود ، امام ترمذی ،او دارمی موصولاً نقل کړې دې. دهغه الفاظ دی ((ان رسول الله ﷺ نهى ان تنكح المراة على عمتها او المراة على خالتها او العمة على بنت اخيها او الخالة على البنت اختها ،لا الصغرى على الكبرى ولا الكبرى على الصغرى)) (۲)

اوعبدالله بن عون روايت لره امام نسائی موصولاً نقل کړې دې ،دده الفاظ دی ((لاتزوج المراة على عمتها ولا على خالتها)) (۳)

قوله: فنرى خالة ابيها بتلك المنزلة: ((نرى)) بضم النون أى نظن وبفتحها أى نعتقد خالة ابيها بتلك المنزلة، أى من التحريم.

دا حضرت زهری رحمه الله قول دې. هغوی دحضرت ابوهريره رضي الله عنه نه حديث نقل کړې دې چه حضرت نبی کريم ﷺ د ترور په نکاح باندې د وريرې نکاح نه او دترور په نکاح باندې د خورزې نکاح نه منع فرمائيلې ده. حضرت زهری رحمه الله د ښځې دپلاردتروره هم مونږدا حکم ګڼړو ، يعنی ښځه او دده دپلار ترور هم په نکاح کښې جمع کولې نشی (داشان دنسب تحريم لاندې سره خاص نه دې ، دپورته طرفته به هم ددې اعتبار کولې شی).

قوله: لان عروة حدثني عن عائشة: حضرت زهری رحمه الله دحضرت عائشه رضي الله عنها دا حديث دخپل قول ((فنرى خالة ابيها بتلك المنزلة)) دپاره ددليل په طور پيش کړې دې.

ليکن په دې باندې اشکال کيږی چه حکم ودعوی او دليل دواړوکښې مطابقت نشته دې ، دعوی خو داده چه ښځه او ددې دپلار ترور په يو نکاح کښې جمع کولې نشی ، اودليل دا ورکړې کيږی چه ((حرموا من الرضاعة مايحرم من النسب)) دليل کښې پيش کړې شوې دې ، په دې روايت کښې حرمت درضاعت بيان دې ، او په دعوی کښې حرمت نسب او حرمت

---

۱) فيض الباری: ۲۸۱/٤).
۲) فتح الباری . ۲۰۰/۹).
۳) فتح الباری: ۲۰۰/۹).

مصاهرت ذکر دی چه بنځه او ددې دپلار تروړنشي جمع کولې ، صاحب التوضیح فرمائي چه : «استدلال الزهری غیر صحیح لانه استدل علی تحریم من حرمت بالنسب فلا حاجة تشبیها من الرضاع» (۱)

ابن حجر رحمه الله لیکي : «فی اخذ هذا الحکم من هذا الحدیث نظر وکانه اراد الحاق مایحرم بالصهر مایحرم بالنسب کما یحرم بالرضاع مایحرم بالنسب ولما کانت خالة الاب من الرضاع لا یحل نکاحها فکذالك خالة الاب لایجمع بینها وبین بنت ابن اخیها» (۲)

۲۹=بَاب الشِّغَارِ

[۴۸۲۲] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ اخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ نَافِعٍ عَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا انَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ الشِّغَارِ وَالشِّغَارُ انْ يُزَوِّجَ الرَّجُلُ ابْنَتَهُ عَلَى انْ يُزَوِّجَهُ الاخَرُ ابْنَتَهُ لَيْسَ بَيْنَهُمَا صَدَاقٌ [ر: ۲۵۵۹].

شغار یعنی دادل بدل نکاح تفسیر دادې چه یو سړې بل ته اووائي چه څه تاسره دخپلې خور یا دخپلې لور نکاح کول غواړم ، په دې شرط باندې چه ته دخپلې خور یا لورنکاح ماسره اوکړې ، او احد العقدین دبل عوض شي ، ددې نه علاوه څه نور مهرنه وي. (۳)

داد «شغرالبلد من السلطان» نه ماخوذ دې ، دا په هغه وخت کنبې وائي چه کله ښار دسلطان نه خالي شي، چونکه دا نکاح دمهر نه خالي وي ددې وجې دې ته شغار وائي. (۴)

بعضو حضرات وئیلی دی چه دا شغرالکلب نه ماخوذدې ، دا په هغه وخت کنبې وئیلې کیږي چه کله سپې متیازو دپاره خپله پښه اوچته کړي ، په نکاح شغارکنبې هم چونکه دجانبینو دطرفنه شرط وی «لاأرفع رجل سنتك حتی لا ترفع رجل بنتی» ددې وجې دې ته نکاح شغار وائي.

دنکاح شغار په ناجائز کیدو باندې دټولو اتفاق دې ، ابن عبدالبر په دې باندې اجماع نقل کړې ده ، (۵) لیکن که داشان نکاح اوکړې شي نو سوال دادې چه هغه نکاح به منعقد وي که او که نه به وي ؟ دجمهورو رائې داده چه منعقد به نه وي؟ دحضرات حنفیه په نیز به منعقد وي ، امام احمد بن حنبل رحمه الله هم یو روایت دادې اومهر المثل به لازم وي. (۶)

دنکاح شغار دانعقاد دپاره دا مسئله داصول فقهه دمشهورې قاعدې متفرع ده چه نهی عن

---

۱) عمده القاری: ۱۰۸/۲۰).
۲) فتح الباری: ۲۰۱/۹).
۳) النهایه لابن : ۴۸۲/۲ ، وفتح الباری : ۲۰۳/۹).
۴) ، عمدة القاری: ۱۰۸/۲۰ ، وبدائع الصنائع ، کتاب النکاح: ۲۷۷/۲ ، والهدایه: ۲۹۷/۲ ، کتاب النکاح).
۵) فتح الباری: ۲۰۳/۹ ، ۲۰۴).
۶) فتح الباری: ۲۰۴/۹ ، وعمده القاری: ۱۰۸/۲۰).

الافعال الشرعیه حنفیه په نیزد مشروعیت تقاضا کوی ، لهذا نکاح به منعقد وی اومهر مثل به واجب وی ،ددې وجه داده چهاحد البضعین چه دنورو مهر مقرر شوې دې دا تسمیه فاسده ده ،ځکه چه بضع مال نه ده ددې وجې مهر نشي جوړيدلې ، داسې صورت کښې بنځه به دمهر مثل مستحقه وی او احدالبضعین لره مهر ګرځول شرط فاسد دی او نکاح شرط فاسد سره باطله کیږی نه بلکهشرط باطل او نکاح صحیح کیږی به .

امام بخاری رحمه الله دجمهور تائید کړې دې او «ان رسول الله ﷺ نهی عن الشغار»ئې دلیل پیش کړې دې.

حضرات حنفیه رحمهم الله دحدیث باب جواب ورکوی چه په دې کښې شغار دجاهلیت نه منع واردشوې ده. چه په هغې کښې به مهر نه وو ، هغه زمونږ په نیز هم ناجائزدی. مونږ چه د جواز کوم قول اختیار کړې دې هغه مهر مثل سره دې ددې وجې دا شغار دممنوع په زمره کښې نه رازی. (۱) دویم جواب دا ورکړې شوې دې چه دا نهی په کراهت باندې محمول ده په حرمت باندې نه ده . (۲)

فائده: دشغار یو صورت داهم کیږی چهسړې دخپل خوئې نکاح دبل سړی لور سره اوکړی په دې شرط باندې چه هغه بل سړې دې دخپل خوئ نکاح دده لور سره اوکړی او احد العقدین د بل عوض وی ، په دې صورت هم مهر مثل به واجب نه وی،البته که احد العقدین ته دبل عوض اونه خودلې شو نو بیا به هغه مذکوره صورت دشغار لاندې نه رازی.

قوله: الشغار ان یزوج الرجل ابنته: دشغار په تفسیر کښې د محدثینو اختلاف دې چه آیا دا حصه د حدیث مرفوع ده یا راوی حدیث امام مالک رحمه الله دطرفنه په طور دتشریح مدرج ده ، خطیب بغدادی رحمه الله فرمائی چه دا حدیث مرفوع نه دې بلکه دا دامام مالک رحمه الله قول دې.(۳)

بعضو دا مام مالک رحمه الله دشیخ نافع رحمه الله قول ګرزولې دې ، او بعضو دا دحضرت ابن عمر رضی الله عنهما قول ګرزولې دې ، (۴) علامه قرطبی رحمه الله لیکی :

«تفسیر الشغار صحیح لما ذکره أهل اللغة فان کان مرفوعًا فهو المقصود ، وان کان من قول الصحابي فمقبول أیضالانه أعلم بالمقال، وأقعد بالحال» (۵)

شغار تفسیر کښې د «بنت» ذکر په طورد مثال دې ، هرهغه نکاح چه په هغې کښې احد العقدین لره د بل عوض اوګرزولې شی ، هغه شغار دې ، که هغه دبنت نکاح وی اوکه د اخت یا ددې نه علاوه.

---

۱) عمدة القاری: ۲۰/۱۰۹).
۲) عمدة القاری: ۲۰/۱۰۹).
۳) عمدة القاری: ۲۰/۱۰۸ ، وفتح الباری: ۹/۲۰۲).
٤) عمدة القاری: ۲۰/۱۰۸).
۵) عمدة القاری: ۲۰/۱۰۸).

٣٠=بَاب هَلْ لِلْمَرْأَةِ أَنْ تَهَبَ نَفْسَهَا لِأَحَدٍ

[٤٨٢٣] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَامٍ حَدَّثَنَا ابْنُ فُضَيْلٍ حَدَّثَنَا هِشَامٌ عَنْ أَبِيهِ قَالَ كَانَتْ خَوْلَةُ بِنْتُ حَكِيمٍ مِنْ اللَّائِي وَهَبْنَ أَنْفُسَهُنَّ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ عَائِشَةُ أَمَا تَسْتَحِي الْمَرْأَةُ أَنْ تَهَبَ نَفْسَهَا لِلرَّجُلِ فَلَمَّا نَزَلَتْ تُرْجِئُ مَنْ تَشَاءُ مِنْهُنَّ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا أَرَى رَبَّكَ إِلَّا يُسَارِعُ فِي هَوَاكَ
رَوَاهُ أَبُو سَعِيدٍ الْمُؤَدِّبُ وَمُحَمَّدُ بْنُ بِشْرٍ وَعَبْدَةُ عَنْ هِشَامٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ يَزِيدُ بَعْضُهُمْ عَلَى بَعْضٍ [ر: ٣٥١٠]

كه يو ښځه دچا دپاره خپل ځان لره هبه كړي نو دا جائز دي اوكه نه ؟ددې دوه صورتونه كيدېشي ،

① يو صورت دادې چه صرف لفظي هبه ذكر كړي اومهر وغيره ذكر نه كړي ، دجمهورو په نيز دا نكاح باطله ده ،دحنفيه اود امام اوزاعي
په نيزدا جائز دي ، او داسې صورت كښې مهر مثل به واجب وي. (١)

جمهور دقرآن كريم آيت ﴿خَالِصَةً لَّكَ مِن دُونِ الْمُؤْمِنِينَ﴾ نه استدلال كوي چه بغير دمهر دذكر نه په لفظ هبه سره نكاح كول دحضرت نبي كريم ﷺ خصوصيت وو.

حضرات حنفيه فرمائي چه په دې سره به دواهبه حضرت نبي كريم ﷺ سره خاص كيدل مراد دي ،مطلق دهبه نكاح دپاره دده خاص كيدل مراد نه دي. (٢)

② دويم صورت دادې چه د عقدنكاح لفظ به دهبه سره منعقد كيږي كه نه ، دشوافع په نيز به نه منعقد كيږي او ددوى په نيز صرف په دوؤ لفظونو سره منعقد كيږي ، يو لفظ نكاح او بل تزويج . (٣)

خودحضرات حنفيه او داكثر عالمانو دارائي ده چه عقد نكاح په ټولو الفاظو سره منعقد كيږي ،چه په ملك مو باندې دلالت كوي ، لكه څنګه چه ملك ، صدقه ، هبه وغيره الفاظ دي ،(٤)

قوله: رواه ابوسعيد المودب ومحمد بن بشر، وعبدة عن هشام عن ابيه: دابو سعيد نوم محمد بن بشر بن مسلم بن ابي الوضاح دي ، ابن مردوديه دده روايت موصولاً نقل كړې دي ، دمحمد بن بشرروايت لره امام احمد رحمه الله موصولاً نقل كړې دې . او دعبدبن سليمان روايت لره امام مسلم اوامام ابن ماجه موصولاً نقل كړې دې. (٥)

---

١) فتح الباري: ٢٠٣/٢٠).
٢) فتح الباري: ٢٠٤/٩).
٣) فتح الباري: ٢٠٤/٩).
٤) عمده القاري: ١٠٩/٢٠).
٥) عمدة القاري: ١٠٩/٢٠).

۳۱=بَابُ نِكَاحِ الْمُحْرِمِ

[۴۸۲۴] حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ اسْمَاعِيلَ اخْبَرَنَا ابْنُ عُيَيْنَةَ اخْبَرَنَا عَمْرٌو حَدَّثَنَا جَابِرُ بْنُ زَيْدٍ قَالَ انْبَانَا ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا تَزَوَّجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ مُحْرِمٌ [ر: ۱۷۴۰].

د آئمه ثلاثه په نیز حالت داحرام کښې نه نکاح جائزده او نه انکاح .دحضرات حنفیه په نیز داحرام په حالت کښې نکاح هم جائز ده او انکاح هم . البته جماع او دواعی جماع حلالیدو پورې جائزنه دی.
امام بخاری رحمه الله چه کوم حدیث پیش کړې دې هغه د حنفیه مستدل دې او دامام بخاری رحمه الله مسلك شاندهم دجواز دې . خکه حدیث باب نه هغوی په جواز باندې استدلال کړې دې . ددې مسئلې تفصیلی بحث په کتاب الحج کښې تیر شوې دې.

۳۲=بَابُ نَهْيِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ نِكَاحِ الْمُتْعَةِ آخِرًا

[۴۸۲۵] حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ اسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا ابْنُ عُيَيْنَةَ انَّهُ سَمِعَ الزُّهْرِيَّ يَقُولُ اخْبَرَنِي الْحَسَنُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ عَلِيٍّ وَاخُوهُ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مُحَمَّدٍ عَنْ ابِيهِمَا انَّ عَلِيًّا رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ لِابْنِ عَبَّاسٍ انَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ الْمُتْعَةِ وَعَنْ لُحُومِ الْحُمُرِ الاهْلِيَّةِ زَمَنَ خَيْبَرَ [ر: ۳۹۷۹].

[۴۸۲۶] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ ابِي جَمْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ سُئِلَ عَنْ مُتْعَةِ النِّسَاءِ فَرَخَّصَ فَقَالَ لَهُ مَوْلًى لَهُ انَّمَا ذٰلِكَ فِي الْحَالِ الشَّدِيدِ وَفِي النِّسَاءِ قِلَّةٌ اوْ نَحْوَهُ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ نَعَمْ

[۴۸۲۷] حَدَّثَنَا عَلِيٌّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ عَمْرٌو عَنِ الْحَسَنِ بْنِ مُحَمَّدٍ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ وَسَلَمَةَ بْنِ الاكْوَعِ قَالَا كُنَّا فِي جَيْشٍ فَاتَانَا رَسُولُ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ انَّهُ قَدْ اذِنَ لَكُمْ انْ تَسْتَمْتِعُوا فَاسْتَمْتِعُوا وَقَالَ ابْنُ ابِي ذِئْبٍ حَدَّثَنِي ايَاسُ بْنُ سَلَمَةَ بْنِ الاكْوَعِ عَنْ ابِيهِ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ايُّمَا رَجُلٍ وَامْرَاةٍ تَوَافَقَا فَعِشْرَةُ مَا بَيْنَهُمَا ثَلَاثُ لَيَالٍ فَانْ احَبَّا انْ يَتَزَايَدَا اوْ يَتَتَارَكَا تَتَارَكَا فَمَا ادْرِي اشَيْءٌ كَانَ لَنَا خَاصَّةً امْ لِلنَّاسِ عَامَّةً قَالَ ابُو عَبْدِ اللّٰهِ وَبَيَّنَهُ عَلِيٌّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انَّهُ مَنْسُوخٌ

دمتعه متعلق تفصیلی بحث په کشف الباری کتاب المغازی کښې (صفحه ۴۳۴) باندې په باب غزوه خیبر کښې تیر شوې دې.

قوله: وَقَالَ ابْنُ ابِي ذِئْبٍ...: حضرت نبی کریم ﷺ فرمانیلی دی چه کوم سړې او

ښځه يو بل سره موافق وی نو ددوی په مينځ کښې تر دريو ورځو پورې معاشرت پکار دی . دې نه پس که هغوی په موده کښې اضافه کول غواړی نو اضافه دې اوکړی ، اوکه يو بل لره پريښودل غواړی نو پردې کيږدی. حضرت سلمه بن الاکوع فرمائی چه اوس ماته معلوم نه دی چه دا حکم زمونږ دپاره خاص وو اوکه عامو خلقو دپاره هم دې.

قوله: فان أحبا أن يزايدا أويتتاركا تتاركا: په دې جمله کښې د «يتزايدا» جواب محذوف دې ، اصل عبارت دا دې «فان أحبا أن يتزايدا تزايدا أويتتاركا تتاركا» يعنی که دوی دواړه په خپل مينځ کښې اضافه کول غواړی نو اضافه دې .

دابن ابی ذئب دا تعليق لره امام طبرانی موصولاً نقل کړې دې.

قوله: قالوا ابوعبدالله : وقدبينه علی عن النبی ﷺ انه منسوخ: ابوعبدالله دامام بخاری رحمه الله کنيت دې ، فرمائی چه حضرت علی رضی الله عنه دحضرت نبی کريم ﷺ نه نقل کړی دی چه مذکوره حکم منسوخ شوې دې.

۳۳=بَابُ عَرْضِ الْمَرْأَةِ نَفْسَهَا عَلَى الرَّجُلِ الصَّالِحِ

[۴۸۲۸] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا مَرْحُومُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ مِهْرَانَ قَالَ سَمِعْتُ ثَابِتًا الْبُنَانِيَّ قَالَ كُنْتُ عِنْدَ أَنَسٍ وَعِنْدَهُ ابْنَةٌ لَهُ قَالَ أَنَسٌ جَاءَتْ امْرَأَةٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَعْرِضُ عَلَيْهِ نَفْسَهَا قَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَلَكَ بِي حَاجَةٌ فَقَالَتْ بِنْتُ أَنَسٍ مَا أَقَلَّ حَيَاءَهَا وَاسَوْأَتَاهْ وَاسَوْأَتَاهْ قَالَ هِيَ خَيْرٌ مِنْكِ رَغِبَتْ فِي النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَعَرَضَتْ عَلَيْهِ نَفْسَهَا [ر:۵۷۷۲].

[۴۸۲۹] حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي مَرْيَمَ حَدَّثَنَا أَبُو غَسَّانَ قَالَ حَدَّثَنِي أَبُو حَازِمٍ(۱) عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ أَنَّ امْرَأَةً عَرَضَتْ نَفْسَهَا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ يَا رَسُولَ اللَّهِ زَوِّجْنِيهَا فَقَالَ مَا عِنْدَكَ قَالَ مَا عِنْدِي شَيْءٌ قَالَ اذْهَبْ فَالْتَمِسْ وَلَوْ خَاتَمًا مِنْ حَدِيدٍ فَذَهَبَ ثُمَّ رَجَعَ فَقَالَ لَا وَاللَّهِ مَا وَجَدْتُ شَيْئًا وَلَا خَاتَمًا مِنْ حَدِيدٍ وَلَكِنْ هَذَا إِزَارِي وَلَهَا نِصْفُهُ قَالَ سَهْلٌ وَمَا لَهُ رِدَاءٌ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَا تَصْنَعُ بِإِزَارِكَ إِنْ لَبِسْتَهُ لَمْ يَكُنْ عَلَيْهَا مِنْهُ شَيْءٌ وَإِنْ لَبِسَتْهُ لَمْ يَكُنْ عَلَيْكَ مِنْهُ شَيْءٌ فَجَلَسَ الرَّجُلُ حَتَّى إِذَا طَالَ مَجْلِسُهُ قَامَ فَرَآهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَعَاهُ أَوْ دُعِيَ لَهُ فَقَالَ لَهُ مَاذَا مَعَكَ مِنَ الْقُرْآنِ فَقَالَ مَعِي سُورَةُ كَذَا وَسُورَةُ كَذَا لِسُوَرٍ يُعَدِّدُهَا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمْلَكْنَاكَهَا بِمَا مَعَكَ مِنَ الْقُرْآنِ [ر:۲۱۸۶].

---

۱) واجرجه البخاری ايضا فی كتاب الادب ،باب مالا يستحی من التفقه فی الدين ،رقم الحديث : ۶۱۲۳، والنسائی فی كتاب النكاح ، باب عرض المراة علی من ترضی ، رقم الحديث: ۵۳۶۱، ۵۳۶۲، وابن ماجه فی كتاب النكاح ،باب التی وهبت نفسها للنبی ﷺ رقم الحديث: ۲۰۰۱).

دامام بخارى رحمه الله مقصد دادي چه يوښځه خپل خان لره يو نيك سړى ته پيش كړى نو په سنتوكښې ددې اصل موجود دې .
علامه ابن منير مالكى رحمه الله فرمائى چه دا دامام بخارى رحمه الله په لطائفوكښې ده چه هغوى حديث باب كښې دواهبې ددې قصې نه عجيبه مسئله مستنبط كړې چه بيشكه دا واقعه سره خاص وه ، خودديې نه دا راوزى كه يو ښځه خپل خان لره يو نيك سړى ته پيش كړى نو په سنت كښې ددې اصل موجود دې .(۱)

قوله: حدثنا على بن عبدالله...: ثابت بنانى فرمائى چه خه حضرت انس سره اوم ،د حضرت انس لور بى بى هم دوى سره وه ، حضرت انس رضي الله عنه اوفرمائيل چه دحضور صلى الله عليه وسلم په خدمت كښې يو ښځه حاضره شوه او خپل نفس ئې حضرت نبى كريم صلى الله عليه وسلم ته پيش كړو او وې وئيل يارسول الله صلى الله عليه وسلم آيا تاسوته خماضرورت شته دې ؟نو دحضرت انس رضي الله عنه لور بى بى اوفرمائيل چه څومره بې حياء ښځه وه، هائې بې شرمى!، نوحضرت انس رضي الله عنه اوفرمائيل چه هغه ښځه ستانه بهتره وه ځكه چه دهغې حضرت نبى كريم صلى الله عليه وسلم سره رغبت وو نوددې وجې خوئې حضرت نبى كريم صلى الله عليه وسلم ته خپل خان پيش كړو.

قوله: مرحوم: دامرحوم بن عبدالعزيز بن مهربان دې ، دبصرې اوسيدونكې دې ، ثقه دې . په كال ۱۸۷ هجرئى كښې ددوى وفات اوشو ، په صحيح بخارى كښې ددوى صرف يو حديث دې ،دا حديث امام بخارى رحمه الله مخكښې په كتاب الادب كښې هم ذكر كړې دې (۲)

قوله: وعنده ابنة انس: دحضرت انس رضي الله عنه دهغه لور بى بى نوم معلوم نشو، حافظ اوعينى ليكلى دى چه شائد ددې نوم امينة وو. (۳)

قوله: واسوأتاه: د«سوأة» معنى بې حيائى او خراب كار هم رازى ، او شرمگاه ته هم «سوأة» وائى . په دې ځائې كښې ددې رومبئ معنى مراد ده ، ددې په آخر كښې الف ندبه دې او هاء سكته ده يعنى هائې بې شرمى!.

تنبيه : حضرت انس رضي الله عنه په دې حديث كښې بيان شوې واقعې باره كښې حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه دا دحضرت سهل بن سعد بيان شوې واقعې نه مختلف ده ، دا دوه مختلفې واقعې دى. (۴)

۳۴=بَابُ عَرْضِ الْإِنْسَانِ ابْنَتَهُ أَوْأُخْتَهُ عَلَى أَهْلِ الْخَيْرِ

[۴۸۳۰] حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا اِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ عَنْ صَالِحِ بْنِ كَيْسَانَ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ اَخْبَرَنِى سَالِمُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ اَنَّهُ سَمِعَ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا

---

۱) فتح البارى: ۲۱۸/۹).
۲) اوگورئ عمده القارى: ۱۱۳/۲۰).
۳) فتح البارى: ۲۱۸/۹ ، وعمده البارى: ۱۱۳/۲۰).
۴) فتح البارى: ۲۱۸/۹).

يُحَدِّثُ انَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ حِينَ تَأَيَّمَتْ حَفْصَةُ بِنْتُ عُمَرَ مِنْ خُنَيْسِ بْنِ حُذَافَةَ السَّهْمِيِّ وَكَانَ مِنْ اَصْحَابِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتُوُفِّيَ بِالْمَدِينَةِ فَقَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ اَتَيْتُ عُثْمَانَ بْنَ عَفَّانَ فَعَرَضْتُ عَلَيْهِ حَفْصَةَ فَقَالَ سَانْظُرُ فِي اَمْرِي فَلَبِثْتُ لَيَالِيَ ثُمَّ لَقِيَنِي فَقَالَ قَدْ بَدَا لِي اَنْ لَا اَتَزَوَّجَ يَوْمِي هٰذَا قَالَ عُمَرُ فَلَقِيتُ اَبَا بَكْرٍ الصِّدِّيقَ فَقُلْتُ اِنْ شِئْتَ زَوَّجْتُكَ حَفْصَةَ بِنْتَ عُمَرَ فَصَمَتَ اَبُو بَكْرٍ فَلَمْ يَرْجِعْ اِلَيَّ شَيْئًا وَكُنْتُ اَوْجَدَ عَلَيْهِ مِنِّي عَلَى عُثْمَانَ فَلَبِثْتُ لَيَالِيَ ثُمَّ خَطَبَهَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاَنْكَحْتُهَا اِيَّاهُ فَلَقِيَنِي اَبُو بَكْرٍ فَقَالَ لَعَلَّكَ وَجَدْتَ عَلَيَّ حِينَ عَرَضْتَ عَلَيَّ حَفْصَةَ فَلَمْ اَرْجِعْ اِلَيْكَ شَيْئًا قَالَ عُمَرُ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ اَبُو بَكْرٍ فَاِنَّهُ لَمْ يَمْنَعْنِي اَنْ اَرْجِعَ اِلَيْكَ فِيمَا عَرَضْتَ عَلَيَّ اِلَّا اَنِّي كُنْتُ عَلِمْتُ اَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ ذَكَرَهَا فَلَمْ اَكُنْ لِاُفْشِيَ سِرَّ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَوْ تَرَكَهَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَبِلْتُهَا [ر: ۳۷۸۳].

[۴۸۳۱] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ يَزِيدَ بْنِ اَبِي حَبِيبٍ عَنْ عِرَاكِ بْنِ مَالِكٍ اَنَّ زَيْنَبَ بِنْتَ اَبِي سَلَمَةَ اَخْبَرَتْهُ اَنَّ اُمَّ حَبِيبَةَ قَالَتْ لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّا قَدْ تَحَدَّثْنَا اَنَّكَ نَاكِحٌ دُرَّةَ بِنْتَ اَبِي سَلَمَةَ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَعَلَى اُمِّ سَلَمَةَ لَوْ لَمْ اَنْكِحْ اُمَّ سَلَمَةَ مَا حَلَّتْ لِي اِنَّ اَبَاهَا اَخِي مِنَ الرَّضَاعَةِ [ر: ۴۸۱۳].

كه يوځوك خپله لور يا خور د چا په مخكښې پيش كړى دنكاح دپاره نو په دې كښې هيڅ باك نشته دې . او دابه دحيا خلاف نه ګڼړلې كيږى.

دباب لاندې چه كوم دوه حديثونه بيان شوى دى ، په هغې باندې كلام تيرشوې دې ، رومبې حديث په كتاب المغازى كښې تير شوې دې ، او دويم حديث په ماقبل «باب وان تجمعوا بين الاختين» لاندې تير شوې دې . په هغه ځائې كښې الفاظ دا وو «قالت ام حبيبه يا رسول الله ﷺ، انكح اختى» خپله خورحضرت ام حبيبه رضي الله عنها دنكاح دپاره پيش كړه ،چه ددې نه ترجمة الباب «عرض الانسان اخته» ثابت شو.

۳۵=بَابُ قَوْلِ اللّٰهِ جَلَّ وَعَزَّ

﴿ وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا عَرَّضْتُمْ بِهِ مِنْ خِطْبَةِ النِّسَاءِ اَوْ اَكْنَنْتُمْ فِي اَنْفُسِكُمْ عَلِمَ اللّٰهُ اَنَّكُمْ سَتَذْكُرُونَهُنَّ وَلٰكِنْ لَا تُوَاعِدُوهُنَّ سِرًّا اِلَّا اَنْ تَقُولُوا قَوْلًا مَعْرُوفًا وَلَا تَعْزِمُوا عُقْدَةَ النِّكَاحِ حَتّٰى يَبْلُغَ الْكِتٰبُ اَجَلَهُ وَاعْلَمُوا اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا فِي اَنْفُسِكُمْ فَاحْذَرُوهُ وَاعْلَمُوا اَنَّ اللّٰهَ غَفُورٌ حَلِيمٌ ﴾ (البقرة: ۲۳۵)

اَوْ اَكْنَنْتُمْ اَضْمَرْتُمْ وَكُلُّ شَيْءٍ صُنْتَهُ وَاَضْمَرْتَهُ فَهُوَ مَكْنُونٌ

وَقَالَ لِي طَلْقٌ حَدَّثَنَا زَائِدَةُ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ مُجَاهِدٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ فِيمَا عَرَّضْتُمْ بِهِ مِنْ خِطْبَةِ النِّسَاءِ يَقُولُ اِنِّي اُرِيدُ التَّزْوِيجَ وَلَوَدِدْتُ اَنَّهُ تَيَسَّرَ لِي امْرَاَةٌ صَالِحَةٌ وَقَالَ الْقَاسِمُ يَقُولُ اِنَّكِ

عَلَىَّ كَرِيمَةٌ وَإِنِّي فِيكِ لَرَاغِبٌ وَإِنَّ اللَّهَ لَسَائِقٌ إِلَيْكِ خَيْرًا أَوْ نَحْوَ هَذَا
وَقَالَ عَطَاءٌ يُعَرِّضُ وَلَا يَبُوحُ يَقُولُ إِنَّ لِي حَاجَةً وَأَبْشِرِي وَأَنْتِ بِحَمْدِ اللَّهِ نَافِقَةٌ وَتَقُولُ هِيَ قَدْ أَسْمَعُ مَا تَقُولُ وَلَا تَعِدُ شَيْئًا وَلَا يُوَاعِدُ وَلِيُّهَا بِغَيْرِ عِلْمِهَا وَإِنْ وَاعَدَتْ رَجُلًا فِي عِدَّتِهَا ثُمَّ نَكَحَهَا بَعْدُ لَمْ يُفَرَّقْ بَيْنَهُمَا
وَقَالَ الْحَسَنُ لَا تُوَاعِدُوهُنَّ سِرًّا الزِّنَا وَيُذْكَرُ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ حَتَّى يَبْلُغَ الْكِتَابُ أَجَلَهُ تَنْقَضِيَ الْعِدَّةُ(١)

په آيت باب كښې څلور حكمونه بيان شوى دى.

① يو تعريض يعني داسې كلام چه په هغې كښې دنكاح صراحت خو نه وى ليكن دا معلوم شى چه دنكاح اراده ده .

② دويم حكم داكنال دې ،چه په زړه زړه كښې دا سوچ اوكړى د عدت تيريدونه پس دې ښځې سره به نكاح كومه ، او هېڅوك دخپل خيال نه نكړل.

د آيت كريمه شروع كښې ددې دواړو حكمونو جواز بيان شوېدې چه په داشان كولو كښې هيڅ باك نشته دې.

③ دريم حكم دې ﴿لَا تُوَاعِدُوهُنَّ سِرًّا﴾ يعنى پټ په پټه دوى سره وعده مه كوئى ، د عدت په دوران كښې پټ پټه ښځې سره دنكاح كولووعده جائز نه ده، ددې نه منع كړې شوې ده.

④ څلورم حكم دادې ﴿وَلَا تَعْزِمُوا عُقْدَةَ النِّكَاحِ﴾ يعنى دعدت په موده كښې دعقد نكاح اراده هم ممنوع ده. مخكښې دطلق بن غنام په روايت كښې دتعريض الفاظ نقل كړې شوى دى چه سړې په كومو الفاظو سره دنكاح دپاره به دتعريض تعبير اختيار روى.

قوله: وقال القاسم يقول : انك على كريمة: دا قاسم بن محمد بن ابى بكر صديق رضي الله عنه دې ، دا تعليق امام مالك رحمه الله موصولا نقل كړې دې . (٢)

قوله: وقال عطاء يعرض ولا يبوح: عطاء بن ابى رباح فرمائى چه صراحت كول درست نه دى ، تعريض به كوى، لكه وائى به چه «ان لى حاجة وانت بحمدالله نافقة» يعنى ماته ضرورت دې او تاسو الحمد لله چليدونكې ئې .دنافقه معنى «رائجة» ده يعنى چليدونكې چه كهوټه نه وى.

دعطاء بن ابى رباح تعليق دې ،امام عبدالرزاق موصولاً نقل كړې دې (٣)

---

١) (ولاجناح.....) وتتمتها: {وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا عَرَّضْتُمْ بِهِ مِنْ خِطْبَةِ النِّسَاءِ أَوْ أَكْنَنْتُمْ فِي أَنْفُسِكُمْ عَلِمَ اللَّهُ أَنَّكُمْ سَتَذْكُرُونَهُنَّ وَلَكِنْ لَا تُوَاعِدُوهُنَّ سِرًّا إِلَّا أَنْ تَقُولُوا قَوْلًا مَعْرُوفًا وَلَا تَعْزِمُوا عُقْدَةَ النِّكَاحِ حَتَّى يَبْلُغَ الْكِتَابُ أَجَلَهُ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِي أَنْفُسِكُمْ فَاحْذَرُوهُ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ غَفُورٌ حَلِيمٌ} البقرة ٢٣٥ (وقوله معروفا) عرف جوازه فى الشرع وهو التعريض (عقدة النكاح) عقده (فاحذروه) ان يعاقبكم اذا عقدتم العقد قبل انتها العدة).

٢) فتح البارى:٩/٢٢٣).

٣) فتح البارى: ٩/١٢٤).

قوله: وقال الحسن لاتواعدهن سرا الزنا: حضرت حسن بصری رحمه الله فرمائی چه آیت کریمه کښې ((سرا)) نه مراد زنا ده . یعنی دې سره دزنا وعده مه کوئی ، علامه عینی رحمه الله فرمائی چه په دې تفسیر کښې تامل دې، ځکه چه دزما وعده نه سرا صحیح ده اونه جهراً صحیح ده ،نولیکی چه ((ولکن فیه تامل لان الزنا لایجوز المواعدة به سرا ولا جهرا)) (۱)

دآیت کریمه سیاق وسباق هم په دې باندې دلالت نه کوی ، واضح مطلب هم هغه دې چه کوم جمهورو اختیار کړې دې چه تاسو سرا هغې سره دنکاح وعده مه کوئی.

حضرت حسن بصری رحمه الله دا تعلیق لره عبدبن حمید موصولاً نقل کړې دې.(۲)

په آخر کښې دحضرت ابن عباس رضی الله عنهما تعلیق لره طبری موصولاً نقل کړې دې (۳)

۳۶=بَاب النَّظَرِ إِلَى الْمَرْأَةِ قَبْلَ التَّزْوِيجِ

[۴۸۳۲] حَدَّثَنَا مسدد: حدثنا حماد بن زيد، عَنْ هِشَامٍ عَنْ ابِيهِ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (رايتك فِي الْمَنَامِ يجيء بك الملك من سَرَقَةٍ حَرِيرٍ فقال لي هَذِهِ امْرَأَتُكَ فَكَشَفْتُ عن وجهك الثوب فاذا هي انت فقلت ان يَكُنْ هَذَا مِنْ عِنْدِ اللَّهِ يُمْضِهِ[ر:۳۶۸۲]

[۴۸۳۳] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ ابِي حَازِمٍ عَنْ ابِيهِ عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ السَّاعِدِيِّ قَالَ جَاءَتْ امْرَاةٌ الى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ جِئْتُ اهَبُ لَكَ نَفْسِي قَالَ فَنَظَرَ اليْهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَعَّدَ النَّظَرَ فِيهَا وَصَوَّبَهُ ثُمَّ طَاطَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَاسَهُ فَلَمَّا رَاتْ الْمَرْاةُ انَّهُ لَمْ يَقْضِ فِيهَا شَيْئًا جَلَسَتْ فَقَامَ رَجُلٌ مِنْ اصْحَابِهِ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ انْ لَمْ يَكُنْ لَكَ بِهَا حَاجَةٌ فَزَوِّجْنِيهَا فَقَالَ وَهَلْ عِنْدَكَ مِنْ شَيْءٍ قَالَ لَا وَاللَّهِ يَا رَسُولَ اللَّهِ فَقَالَ اذْهَبْ الى اهْلِكَ فَانْظُرْ هَلْ تَجِدُ شَيْئًا فَذَهَبَ ثُمَّ رَجَعَ فَقَالَ لَا وَاللَّهِ مَا وَجَدْتُ شَيْئًا فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انْظُرْ وَلَوْ خَاتَمًا مِنْ حَدِيدٍ فَذَهَبَ ثُمَّ رَجَعَ فَقَالَ لَا وَاللَّهِ يَا رَسُولَ اللَّهِ وَلَا خَاتَمًا مِنْ حَدِيدٍ وَلَكِنْ هَذَا ازَارِي قَالَ سَهْلٌ مَا لَهُ رِدَاءٌ فَلَهَا نِصْفُهُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا تَصْنَعُ بِازَارِكَ انْ لَبِسْتَهُ لَمْ يَكُنْ عَلَيْهَا مِنْهُ شَيْءٌ وَانْ لَبِسَتْهُ لَمْ يَكُنْ عَلَيْكَ مِنْهُ شَيْءٌ فَجَلَسَ الرَّجُلُ حَتَّى اذَا طَالَ مَجْلِسُهُ قَامَ فَرَاهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُوَلِّيًا فَامَرَ بِهِ فَدُعِيَ فَلَمَّا جَاءَ قَالَ مَاذَا مَعَكَ مِنْ الْقُرْانِ قَالَ مَعِي سُورَةُ كَذَا وَسُورَةُ كَذَا عَدَّدَهَا فَقَالَ تَقْرَؤُهُنَّ عَنْ ظَهْرِ قَلْبِكَ قَالَ نَعَمْ قَالَ اذْهَبْ فَقَدْ مَلَّكْتُكَهَا بِمَا مَعَكَ مِنْ الْقُرْانِ [ر:۲۱۸۶]

---

۱) عمده القاری: ۲۰/۱۱۸).

۲) فتح ألباری: ۹/۲۲٤، عمده القاری: ۲۰/۱۱۸).

۳) فتح الباری:۹/۲۲۵)

دنکاح نه مخکښې ښځه کتلې شی که نه ؟ اسماعیل بن علیه او یونس بن عبید اجازت نه ورکوی. (۱)

جمهور عالمان فرمائی چه په کتلو کښې څه حرج نشته دې ، بلکه علامه موفق الدین خو په دې باندې اجماع کړې ده ، شائد چه هغوی ددې دوؤ حضراتو انکار لره یا اهمیت نه دې ورکړې یا ده ته د هغوی دانکار علم نه دې شوې ، په دې وجه په جواز باندې اجماع نقل کوی. (۲)

امام بخاری رحمه الله په دې مسئله کښې دجمهورو سره دې ، په دې مسئله کښې صحیح ترین روایت هغه دې کوم چه امام مسلم رحمه الله په صحیح مسلم کښې نقل کړې دې ،«قال رجل : انه تزوج مراة من الانصار فقال رسول الله ﷺ أنظرت الیها ، قال: لا ، قال ، فاذهب فانظر الیها فان فی أعین الانصار شیئا»(۳)

حضرت مغیره بن شعبه رضی الله عنه نه هم اصحاب سنن روایت کړې دې چه هغوی یو ښځې ته پیغام اولیږلو دنکاح دپارهٔ نو حضرت نبی کریم ﷺ دهغه نه تپوس اوکړو چه «انظر الیها فانه أحری ان یودم بینکما». (۴)

چه کوم حضرات اجازت نه ورکوی هغوی دامام ترمذی ددې روایت نه داستدلال کوی چه په هغې کښې دی چه «یاعلی لاتتبع النظرة النظر، فان لك الاولی، ولیست لك الاخرة» (۵)

خو ددې جواب ظاهر دې چه دا خو دهغه نظر متعلق دی چه دنکاح د ارادې نه بغیر وی.(۶)

د مخطوبه څومره حصې لره کتلې شی ؟ : دښځې د نکاح نه مخکښې دکتلو اجازت خو دې لیکن دې کښې اختلاف دې چه ددې څومره حصه کتلې شی ؟

په دې باندې دجمهورو اتفاق دې چه وجه و کفین کتلې شی . (۷)

امام اوزاعی رحمه الله فرمائی چه دشرمګاه نه علاوه چه کومه حصه کتل غواړی نوکتلې شی.(۸)

د کتلو دپاره داجازت مسئله : علامه بن حزم او دواود ظاهری فرمائی چه دبدن هره حصه کتلې شی. (۹)

---

۱) عمده القاری: ۱۱۹/۲۰).

۲) المغنی لابن قدامه کتاب النکاح ، احکام النظر الی المراة: ۷۳/۷).

۳) فتح الباری: ۲۲۶/۹).

٤) فتح الباری: ۲۲۶/۹ ، عمده القاری: ۱۱۹/۲۰) .

٥) سنن ابی داود ،کتاب النکاح ،باب مویومر به من غض البصر ،۲٤۶/۲ رقم الحدیث ۲۱٤۹ ، وسنن الترمذی ، کتاب الادب باب ماجاء فی نظر الفجارة:۱۰۱/۵ ، رقم الحدیث :۲۷۷۷).

۶) عمده القاری: ۱۱۹/۲۰).

۷) فتح الباری: ۲۳۷/۹ ، والمغنی لابن قدامه:۷۳/۷).

۸) فتح الباری:۲۲۷/۹).

۹) فتح الباری: ۲۲۷/۹ ، وشرح مسلم للنووی :٤۶/۱ ، عمده القاری: ۱۱۹/۲۰).

دښځې کتلودپاره به دهغې نه اجازت غوښتلې شي یا به ددې داجازت نه بغیرهم کتلې شي؟
جهمور عالمان فرمائی چه دښځې داجازت نه بغیر کتلې شي ، (۱)
دامام ابو حنیفه رحمه الله مسلك دادې چه نکاح به بعبارة النساء ولی نه بغیر منعقد کیږی په دې شرط چه ښځه آزاده او عاقله اوبالغه وی ، البته ولی کیدل مستحب دی (حضرت امام بخاری رحمه الله)
البته چه کوم روایت هغوی مخکښې پیش کړې دې د هغې نه معلومیږی چه څهره کتلې شی ځکه چه په دې کښې «فکشفت عن وجهك الثوب» الفاظ واردی شوی دی ، او دواهبه چه کوم روایت هغوی ذکر کړې دې دهغې نه معلومیږی چه د پورته نه لاندې پورې کتلې شی.
حضرت عائشه رضی الله عنها په استدلال باندې اشکال کیږی چه حضرت جبریل علیه السلام حضرت نبی کریم ﷺ ته دحضرت عائشه رضی الله عنها تصویر خودلې وو ، لکه څنګه چه دترمذی روایت کښې نه معلومیږی نو دتصویر کتلو سره نفس ښځې باندې دکتلو استدلال څنګه صحیح کیدیشی ، اوکه دا تصویر تسلیم نه کړې شی نو بیا هم دې لره زیات نه زیات شبیه اومثال وئیلې شی ، بیا دویمه خبره داده چه هغه خو په هغه وخت کښې وړه ماشومه وه ، او ظاهر دی چه د «لاعورة للصبية» ددې نه بالغې طرفته کتلو باندې استدلال کولو کښې بهرحال سقم دې ، لهذا دا به وئیلې کیږی چه دا روایت صرف استیناس دپاره نقل شویدې دې ، استدلال دپاره نه دې.(۲)

۳۷=بَاب مَنْ قَالَ لَانِكَاحَ إِلَّا بِوَلِيٍّ لِقَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى

فَلَا تَعْضُلُوهُنَّ [البقرة: ۲۳۲] فَدَخَلَ فِيهِ الثَّيِّبُ وَكَذٰلِكَ الْبِكْرُ وَقَالَ وَلَا تُنْكِحُوا الْمُشْرِكِينَ حَتّٰى يُؤْمِنُوا (البقرة:۲۲۱).
وَقَالَ وَأَنْكِحُوا الْأَيَامٰى مِنْكُمْ (النور:۳۲).

امام بخاری رحمه الله په دې ترجمة الباب کښې هغه مشهوره مسئله بیان کړې ده چه نکاح بغیر دولی نه کیدیشی که نه ؟ یا فقهی اصطلاح کښې عبارت نساء سره نکاح منعقد کیږی یا نه چه ښځه دولی د اجازت نه بغیر خپله اوکړی نو هغه نکاح به منعقد وی اوکه نه؟
دجمهور علماء کرام او آئمه ثلاثه په نیز دولی داجازت. و عبارت نه بغیر نکاح نه منعقد کیږی اونه عبارت نکاح سره نکاح منعقد کیږی ، دانعقاد نکاح دپاره دولی داجازت وتعبیر ضروری دې ، که ښځه صغیره وی اوکه کبیره یا باکره یا ثیبه. (۳) البته امام احمد بن حنبل رحمه الله نه یو روایت کښې صرف داجازت شرط منقول دې ، که ولی ورته اجازت ورکړونو نکاح

---

۱) فتح الباري: ۲۲۷/۹).
(۵) دامام مالك رحمه الله یو روایت دې چه دهغې دکتلودپاره اجازت شرط دې ، اجازت نه بغیر نشی کتلې . (فتح الباري: ۲۲۷/۹ ، عمده القاری: ۱۱۹/۲۰).
۲) فتح الباري: ۲۲۷/۹ ، عمده القارّی: ۱۱۰/۲۰).
۳) فتح الباري: ۲۳٤/۹، وبدايه ا لمتجهد:۷/۲ ، والمجموعه المهذب: ۳۰۲/۱۵ ، والمحلی : ۴۵۱/۹).

په منعقد وی ، اګر چه تعبیر دده نه وی ،دابوثور هم دا مسلك دې . (۱)
دامام ابوحنیفه رحمه الله ظاهرالروایة هم دا دې ، ددوی نه بل روایت حسن بن زیاد دا نقل کړې دې اګر که کفو کښې نکاح کوی نو منعقد به وی اوکه غیرکفو وی نو درست به نه وی ، فتوی په دې روایت باندې ده . (۲)
امام ابویوسف رحمه الله نه ددې مسئلې باره کښې درې روایتونه منقول دی ، ړومبی روایت جهمورو مطابق یعنی مطلق عدم جواز ، بیا هغوی دامام ابوحنیفه رحمه الله دویم روایت طرفته رجوع کړې ده یعنی جواز فی الکفووعدم جواز فی غیر الکفو او آخر کښې هغوی دامام صاحب ړومبی روایتچه ظاهرالروایة دې دې طرفته رجوع کړې ده یعنی مطلقاً جواز(۳)
دشمس الائمه سرخی هم داتحقیق دې ، لیکن امام طحاوی او ابوالحسن نقل کړې دی چه دقاضی ابو یوسف قول آخیر همدادېچه نکاح بعبارة النساء بلاولی نه منعقد کیږی چه کوم دجمهورو عالمانو مسلك دې . (۴)
دامام محمد رحمه الله په دې مسئله کښې دوه روایتونه دی.
① ړومبې روایت دادې چه " نکاح بعبارة النساء "دولی په اجازت باندې موقوف ده که هغه کفو کښې وی اوکه غیر کفو کښې .
②او په دویم روایت کښې هم ددوی هغه مسلك نقل کړې شوې دې چه کوم امام ابوحنیفه رحمه الله په ړومبی روایت کښې دې یعنی مطلقاً جواز. (۵)
خلاصه دکلام داده چه بغیر ولی نه نکاح بعبارة النساء منعقد کیږی که کفو کښې وی اوکه غیر کفو کښې وی، هم دا دامام ابوحنیفه رحمه الله ظاهرالروایة دې، او امام ابویوسف رحمه الله او امام محمد رحمه الله نه هم دې روایت طرفته ته رجوع منقول ده.
چه کوم خلق په نکاح کښې داشتراط ولی قائل دی چه دقرآن پاك آیات او احادیث نه استدلال کوی.

① ددوی مستدل دحضرت ابوموسی اشعری رضی الله عنه حدیث «لا نکاح الا بولی» دې ، دا حدیث چونکه امام بخاری رحمه الله په شرط باندې نه دې ددې وجې هغوی ددې تخریج نه دې کړې او دا ئې د ترجمة الباب په طور ذکر کړو ،دا حدیث امام ترمذی رحمه الله ، ابن حبان رحمه الله او حاکم رحمه الله نقل کړې دې . (۶)

---

۱) اوګورئ المغنی لابن قدامه : ۲۳/۷ ، کتاب ا لنکاح وفتح الباری: ۲۵۳/۹).
۲) تبیین الحقائق: ۱۱۷/۲ ، بابٌ الاولیاء ولاکفاء).
۳) فتح التقدیر ۱۵۷/۳، باب الاولیاء والاکفاء والمبسوط للسرخی:۱۰/۵ ، باب النکاح بغیر ولی).
٤) فتح التقدیر: ۱۵۷/۳ باب الاولیاء والاکفاء).
۵) فتح التقدیر:۱۵۷/۳).
۶) الحدیث اخرجه الترمذی فی سننه :۲۰۸/۱ ، کتاب النکاح ،باب ماجاء لانکاح الا بولی، وابوداود فی سننه :۲۸٤/۱ باب فی الولی ، وابن ماجه فی سننه :۱۳۵، باب لانکاح الا بولی ، والحاکم فی المستدرک :۱۶۹/۲، کتاب النکاح).

اودجمهورو په مذهب باندې صريح دى چه ولى نه بغير نكاح نه كيږى.

حنفيه ددې حديث مختلف جوابات وركړى دى.

يو جواب داوركړې شوې دې چه په دې حديث كښې رفعًا دوقفًا اضطراب دې،چنانچه امام ترمذى رحمه الله فرمائى چه«وحديث ابى موسى فيه اختلاف»، (۱) او ملا على قارى رحمه الله فرمائى چه «فانه ضعيف مضطرب فى اسناده وفى صله وانقطاعه وارساله» (۲)

ليكن دامام ترمذى رحمه الله كلام نه معلوميږى چه هغوى رفع ته ترجيح وركړې ده،اودا ئې په مختلفو طريقود اسرائيل بن يونس په طريقه باندې راجح ګڼړلې دى چه مرفوع دې ، (۳)او هم دا خبره درست معلوميږى . امام موفق فرمائى چه مروزى دامام احمد بن حنبل رحمه الله اويحيى بن معين رحمه الله نه «لانكاح الا بولى»والا حديث متعلق سوال اوكړو نوهغوى اوفرمائيل چه دا صحيح دې. (۴)

نورو حضرات محدثينو هم ددې حديث تصحيح كړې ده ، ددې وجې دې لحاظ سره ددې حديث بالكليه رد نشى كولې.

بعض حضرات دا جواب وركړې دې چه «لانكاح الا بولى»والا روايت كښې«لا» دنفى كمال دپاره ده او مطلب دادې چه بغير دولى نه نكاح كيږى ليكن كمال هله رازى چه كله ولى هم شريك وى. (۵)

② دجمهورو دويم استدلال دحضرت عائشه رضي الله عنها روايت دې چه په هغې كښې حضرت نبى كريم صلى الله عليه وسلم نه ارشاد نقل كړې شوې دې چه «أيما امرأة نكحت بغير أذن وليها فنكاحها باطل ، باطل ، باطل» امام ترمذى ، ابو داود ،ابن جاردو، دارقطنى اوامام احمد ددې حديث تخريج كړې دې اوامام حاكم دې ته صحيح وئيلى دى. (۶)

دحضرات حنفيه د طرفنه ددې حديث متعلق وئيلې شوى دى چه دا حديث ضعيف دې . ځكه چه اسماعيل بن ابراهيم بن عليه د ابن جريج نه قول نقل كړې دې چه ما ددې حديث متعلق دزهرى نه سوال اوكړو نوهغوى ددې حديث نه انكار اوكړو. (۷) هغوى ته اووئيلې شو

---

۱) سنن ترمذى: ۲۰۸/۱ . باب ماجاء لا نكاح الا بولى.).

۲) مرقاه المفاتيح :۲۰۷/۷ . باب الولى فى النكاح واستيذان المراه).

۳) سنن ترمذى: ۲۰۹/۱).

٤) المغنى لابن قدامه . كتاب النكاح فصل لا نكاح الا بولى:۶/۷).

۵) فتح التقدير:۱۶۱/۳).

۶) الحديث ا خرجه الترمذى فى كتاب النكاح ،باب ماجاء لا نكاح الا بولى:۲۰۸/۱ . واخرجه ابوداود فى كتاب النكاح ،باب الولى:۲۲۹/۲ . رقم الحديث: ۲۰۸۳ . واخرجه الدارقطنى فى كتاب النكاح :۲۲۱/۳ ، والحاكم فى المستدرك . كتاب النكاح : ۱۶۸/۲ . وهو حديث صحيح . صححه ابوعوانه وابن خزيمه . وابن حبان والحاكم وغيرهم (وانظرالتعليق على جامع الاصول لعبد القادر الارناووط:۴۵۷/۱۱ . كتاب النكاح).

۷) سنن ترمذى: ۲۰۹/۲، باب لانكاح الابولى).

چه دا حديث سليمان بن موسى ستاسو نه نقل كوى نو وې فرمائيل چهسليمان بن موسى بيشكه ثقه دې ليكن ځما خيال دې چه هغه ته ددې حديث په نقل كولوكښې وهم شوې دې ، خه ددې حديث نه واقف نه يم . (۱)
ابن عدى رحمه الله ، امام طحاوى رحمه الله اوامام احمد رحمه الله دانقل كړى دى ليكن يحيى بن معين رحمه الله ، ابن حبان رحمه الله او حاكم رحمه الله وغيره علماء محققينو دا تعليل رد كړې دې ،هغوى وائى چهپه دې حديث باندې دا اعتراض صرف داسماعيل بن ابراهيم بن عليه رحمه الله نقل كوى اود اسماعيل بن ابراهيم رحمه الله سماع د ابن جريج رحمه الله نه درست نه ده ، (۲) امام ترمذى رحمه الله دې حديث ته حسن وئيلى دى ،(۳)
ابوعوانه رحمه الله ، ابن حزيمه رحمه الله ، ابن حبان رحمه الله ، حاكم رحمه الله او ابن خزم ظاهرى رحمه الله ددې تصحيح كړې ده. (۴) ددې وجې دا درست نه معلوميږى چه دې ضعيف اوګنړلې شى او نظرانداز كړې شى.

بعض حضرات«فنكاحها باطل»مطلب دا وائى چه داسې نكاح فائده منده نه وى ، او «باطل» غير مفيد معنى كښې استعماليږى ، دقران پاك آيت ﴿رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هٰذَا بَاطِلًا﴾ كښې «باطل» هم په دې معنى كښې مستعمل دې يا باطل بمعنى ناپائيدار او فانى دې يعنىداسې نكاح پائيدارهنه وى ، دلبيدشعر «الاكل شئ ماخلا الله باطل»باطل ناپائيدار اوزائل په معنى كښې دې. (۵)
اوبعض حضراتود مذكوره دواړو روايتونوجواب وركړې دې چه په دې صورت كښې محمول دى كله چه ښځه غير كفو كښې نكاح اوكړى او دحسن بن زياد روايت كښې امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز هم په دې صورت كښې نكاح باطل ده او دحنفيه په نيز هم دا روايت راجح او مفتى به دې(۶) قاضى خان همدې روايت ته اصح وئيلى دى(۷) شمس الائمه سرخسى فرمائى چه «هذا اقرب الى الاحتياط» (۸) محقق ابن همام فرمائى چه «اختيرت للفتوى»(۹) ددې حديث راويه حضرت عائشه رضي الله عنها پخپله دنكاح بغير د اذن ولى نه دجواز قائله ده، (۱۰) ددې وجېپه دې كښې مذكوره تاويل كول ضرورى دى ، بيا داحديث پخپله دامام

---

۱) اوګورئ فتح التقدير:۱۶۱/۳ ، وشرح معانى الاثر للطحاوى:۶/۲ ، والكامل لابن عدى :۲۶/۳ ، ترجمه سليمان بن موسى).
۲) اوګورئ سنن ترمذى: ۲۰۹/۲).
۳) سنن ترمذى: ۲۰۹/۲).
٤) التعليق المغنى على سنن الدار قطنى ، كتاب النكاح :۲۲۱/۳، والتعليق على جامع الاصول:۱۱/٤۵۷ ، والمستدرک للحاكم:۱۶۸/۲).
۵) اوګورئ مجمع بحار الانوار:۱/۱۸٤).
۶) لكه ځنګه چه ماقبل تيرشو).
۹) فتح التقدير: ۱۵۷/۳).
۱۰) شرح معانى الاثار للطحاوى: ۶/۲ ، وتعليقات لامع الدارى: ۲۹۹/۹).

شافعي رحمه الله هم خلاف دي ځکه چه ددې حديث منطوق خودادې چه بغير ولی د اجازت نه دښځې نكاح باطله ده اوددې مفهوم مخالف راوزی ، که دولی اجازت وی نونكاح كولې شي حالانكه دشوافع په نيز كه ولی اجازت هم ورکړی نوبيا هم بعبارة النساء نكاح منعقد نه كيږي ، تركومې پورې چه د ولی تعبير شامل نه وی. (۱)

دلائل د احنافو: حضرات حنفيه اول دخپل مسلك دثبوت دپاره دقران پاك دهغه آيتونونه استدلال كول چه په هغې كښې دنكاح نسبت ښځې طرفته شوې دې .

يو آيت كريم كښې دی چه ((واذا طلقتم النساء فبلغن اجلهن فلاتعضلوهن ان ينكحن ازواجهن)).
حضرات حنفيه ددې آيت كريمه نه دوه طريقو باندې استدلال كوی،يو دا چه په دې كښې اولياء د عضل نه منع كړې شوی دی ، هغوی ته اووئيلې شو چه هغوی دې ښځې دنكاح كولو نه منع كړی. دويمه خبره داده چه((ان ينكحن))كښې دنكاح نسبت ښځو طرفته شويدې ، چه ددې نه معلوميږی چه دښځو په عبارت سره هم نكاح منعقد كيديشی، ړومبې استدلال عبارة النص نه او دويم استدلال اشارة ا لنص نه دی . (۲)

دامام بخاری رحمه الله مذهب چونكه په دې مسئله كښې د شوافع او دجمهورومطابق دې ، ددې وجې هغوی ددې آيت كريمه نه په خپل مذهب باندې استدلال كړيدې .ځكه چه په آيت كښې خطاب اولياء ته دې چه ددې نه معلوميږی چه دنكاح كولوحق صرف اولياء ته حاصل دې. په ((فلاتعضلوهن)) كښې نهی په هغه وخت كښې صحيح كيديشی چه كله اولياء ته دنكاح نه په منع كولو كښې قدرت حاصل وی. كه نكاح بعبارة ا لنساء لره تسليم كړې شی نو په دې صورت كښې به نهی بې قاعده شی ځكه چه په كوم څيز باندې اولياء ته قدرت حاصل نه دې نو دهغې نه منع كړې شوې ده ، ((منع بلافائده))په زمره كښې رازی. (۳)
د دې آيت كښې شان نزول كښې حضرت معقل بن يسار چه كومه واقعه نقل كړې شوې ده دهغې نه بظاهر دامام بخاری رحمه الله د نقطه نظر تائيدكيږی چه په دې كښې ولی دښځې د مرضئ باوجود دې دنكاح اجازت نه وركوی ،نو الله ﷻ فرمائی چه ((فلاتعضلوهن ان ينكحن ازواجهن)).

امام ترمذی رحمه الله فرمائی چه داحديث په دې خبره باندې دلالت كوی چه بغير ولی نه نكاح نشی كيدلې .ځكه چه دحضرت معقل بن يسار خور ثيبه وه ، كه هغې ته اختيار وې نو هغې به خپله نكاح په خپله كړې وې ليكن ددې باوجود هغوې اونه كړه ، معلوم شو چه

۱) مرقاة المفاتيح :۶/۲۰۷ ، كتاب النكاح باب لانكاح الا بولی).
۲) اوګورئ احكام القران للجصاص: ۱/ ۴۰۰ ، سوره البقره).
۳) ارشادالسارى: ۱۱/ ۴۰۷ ، وفتح التقدير:۹/ ۲۳۴ ، المبسوط للسرخی:۵/ ۱۱ ، باب النكاح بغيرولی).

اختیار ولی ته دی . (۱) ابن جریر طبری، قاضی ابن عربیا و حافظ ابن تیمیه ﷺ هم ددې روایت نه اشتراط ولی باندې استدلال کړې دې. (۲)
لیکن حقیقت دادې چه مذکوره آیت ورروایت نه اشتراط ولی باندې ثبوت مشکل دې ، څکه حضرت معقل بن یسار خپل خور دنکاح نه منع کولوسره دا نه لازمیږی چه هغوی دشرعی حق په وجه منع کړې وه ، بلکه عامه معاشره کښې ولی ته ددخل اندازئ او دباؤ اختیار وی، حضرت معقل هم ددې اختیارپیش نظر خپل خور منع کړې وه،اوعام طور سره داسې صورتونوکښې باوجود ددې نه ښځې ته حق حاصل وی چه د ولی دمداخلت په وجه هغه په خپل حق باندې عمل اونکړې شی ، آیت کریمه کښې هم ددې معاشرتی دباؤ اچولو اودخل ا ندازئی کولونه منع کړې شویدې ، لهذا ددې نه ولی دپاره داختیارنکاح شرعی ثبوت باندې استدلال کول محل نظر دی.(۳)
داخودښځې خبره ده ،خوئې خوان شی ، او هغه ته ډیرو کارونودکولو اختیار وی ، لیکن د خپل پلارویرې دوجې هغه ډیر کارونه نشی کولې ، ددې مطلب دانه دې چه دهغه اختیار هم نشته دې.
بهر حال دمذکوره آیت کریمه نه حضرات جنفیه هم استدلال کوی. او جمهور هم. دحنفیه دویم استدلال دقرآن پاك آیت دې.((فَإِذَا بَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا فَعَلْنَ فِي أَنفُسِهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ ۗ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ)) په دې کښې وئیلې شوی دی چه ښځې د عدت تیریدو نه پس دنکاح په معامله کښې خودمختاره دی. که یو کار په معروفه طریقې سره کوی نو په دې کښې هیڅ باك نشته دې ((فعلن فی انفسهن))الفاظ صفا وائی چه نکاح دښځې فعل دې ، اوددې تعبیر سره نکاح منعقد کیږی. (۴)
دحنفیه دریم استدلال دقرآن پاك آیت نه دې . ﴿فَإِن طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهُ مِن بَعْدُ حَتَّىٰ تَنكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ ۗ﴾ په دې کښې د نکاح نسبت ښځې طرفته شوې دې ،چه دې د اشارة النص طور سره معلومیږی چه عبارة النساء سره نکاح منعقد کیږی.
دحنفیه څلورم استدلال دحضرت ابن عباس ﷺ مشهور روایت دې چه په هغې کښې دی چه حضرت نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی چه ((الایم احق بنفسها من ولیها والبکر تستاذن فی نفسها واذنها صماتها))(۵)
امام ترمذی ﷫ فرمائی چه په دې حدیث کښې په حقیقت کښې ولی ته هدایت شوې دې چه

---

۱)) اوګورئ سنن الترمذی ، کتاب التفسیر، سوره ا لبقره: ۱۲۷/۲).
۲) اوګورئ احکام القران لابن العربی: ۲۰۱/۱ ، سوره البقره وجامع ا لبیان فی تفسیر القران للطبری: ۲۹۹/۲_۳۰۰).
۳) اوګورئ ا حکام القران للجصاص: ۴۰۰/۱).
٤) ارشادالساری :۴۰۸/۱۱).
۵) امام مسلم دا حدیث نقل کړې دې کتاب النکاح : ۴۵۵/۱).

هغه دې ثیبه سره مشوره اوکړی او نکاح دې اوکړی ،دا مطلب نه دې چه ښځه دې د ولی داجازت نه بغیر نکاح کولې شی. ولی ته د نکاح چه کوم اختیار دې هغه ته هدایت ورکول مقصود دی چه «ایم» دخپل نفس حقدار دې ، ددې وجې دې سره مشوره کول پکار دی. (۱)

لېکن ظاهر دی چه درروایت دا مطلب دالفاظ حدیث مطابق نه دې ، په دې ځائې کښې دولی ذکر خو په هغه عنوان سره کړې شوې دې چه ددې په مقابله کښې «ایم» ته خپل حق زیات دې ،که هغه غواړی نو ولی نه بغیر نکاح کولې شی ، اوس کتاب طرفته راشئ.

امام بخاری رحمه الله دویم آیت ذکر اوفرمائیلو «وَلَا تُنْكِحُوا الْمُشْرِكِيْنَ حَتّٰى يُؤْمِنُوْا» په دې کښې خطاب سړو ته دې ، چه ددې نه معلومیږی چه نکاح بعبارة النساء درست نه ده، داشان «وَاَنْكِحُوا الْاَيَامٰى مِنْكُمْ» کښې هم خطاب اولیاء ته دې.(۲)

امام بخاری رحمه الله په دې باب کښې درې آیتونه اودرې آحادیث پیش کړی دی ، ددې متعلق اجمالی طور دا وئیلې شی چه ددې په معامله دنکاح کښې دولی وقوع و ثبوت واستحباب خو معلومیږی بیا هم دولی اشتراط ددې نه نه ثابتیږی. (۳)

[۴۸۳۴] قَالَ يَحْيَى بْنُ سُلَيْمَانَ حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ عَنْ يُونُسَ ح وحَدَّثَنَا اَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ حَدَّثَنَا عَنْبَسَةُ حَدَّثَنَا يُونُسُ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ اَخْبَرَنِي عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ اَنَّ عَائِشَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَخْبَرَتْهُ اَنَّ النِّكَاحَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ كَانَ عَلٰى اَرْبَعَةِ اَنْحَاءٍ فَنِكَاحٌ مِنْهَا نِكَاحُ النَّاسِ الْيَوْمَ يَخْطُبُ الرَّجُلُ اِلَى الرَّجُلِ وَلِيَّتَهُ اَوْ اِبْنَتَهُ فَيُصْدِقُهَا ثُمَّ يَنْكِحُهَا وَنِكَاحٌ اٰخَرُ كَانَ الرَّجُلُ يَقُوْلُ لِاِمْرَاَتِهِ اِذَا طَهُرَتْ مِنْ طَمْثِهَا اَرْسِلِي اِلٰى فُلَانٍ فَاسْتَبْضِعِي مِنْهُ وَيَعْتَزِلُهَا زَوْجُهَا وَلَا يَمَسُّهَا اَبَدًا حَتّٰى يَتَبَيَّنَ حَمْلُهَا مِنْ ذٰلِكَ الرَّجُلِ الَّذِي تَسْتَبْضِعُ مِنْهُ فَاِذَا تَبَيَّنَ حَمْلُهَا اَصَابَهَا زَوْجُهَا اِذَا اَحَبَّ وَاِنَّمَا يَفْعَلُ ذٰلِكَ رَغْبَةً فِي نَجَابَةِ الْوَلَدِ فَكَانَ هٰذَا النِّكَاحُ نِكَاحَ الْاِسْتِبْضَاعِ وَنِكَاحٌ اٰخَرُ يَجْتَمِعُ الرَّهْطُ مَا دُوْنَ الْعَشَرَةِ فَيَدْخُلُوْنَ عَلَى الْمَرْاَةِ كُلُّهُمْ يُصِيْبُهَا فَاِذَا حَمَلَتْ وَوَضَعَتْ وَمَرَّ عَلَيْهَا لَيَالٍ بَعْدَ اَنْ تَضَعَ حَمْلَهَا اَرْسَلَتْ اِلَيْهِمْ فَلَمْ يَسْتَطِعْ رَجُلٌ مِنْهُمْ اَنْ يَمْتَنِعَ حَتّٰى يَجْتَمِعُوْا عِنْدَهَا تَقُوْلُ لَهُمْ قَدْ عَرَفْتُمُ الَّذِي كَانَ مِنْ اَمْرِكُمْ وَقَدْ وَلَدْتُ فَهُوَ ابْنُكَ يَا فُلَانُ تُسَمِّي مَنْ اَحَبَّتْ بِاسْمِهِ فَيَلْحَقُ بِهِ وَلَدُهَا لَا يَسْتَطِيْعُ اَنْ يَمْتَنِعَ بِهِ الرَّجُلُ وَنِكَاحُ الرَّابِعِ يَجْتَمِعُ النَّاسُ الْكَثِيْرُ فَيَدْخُلُوْنَ عَلَى الْمَرْاَةِ لَا تَمْتَنِعُ مِمَّنْ جَاءَهَا وَهُنَّ الْبَغَايَا كُنَّ يَنْصِبْنَ عَلٰى اَبْوَابِهِنَّ رَايَاتٍ تَكُوْنُ عَلَمًا فَمَنْ اَرَادَهُنَّ دَخَلَ

۱) اوګورئ سنن ترمذی : ۲۱۰/۱ ، باب ماجاء فی استیمار البکر والثیب ، کتاب النکاح).

۲) وفی عمده القاری: ۱۲۱/۲۰ ، وجه الاستدلال به ان الله خاطب الاولیاء ونها هم عن انکاح المشرکین مولیاتهم مسلمات قلت الایه منسوحه بقوله : والمحصنات من الذین اوتوالکتاب من قبلکم ، والخطاب اعم من ان یکون للاولیاء اوغیرهم فلا یتم الاستدلال به)).

۳) الابواب والتراجم: ۶۸/۲).

عَلَيْهِنَّ فَإِذَا حَمَلَتْ إِحْدَاهُنَّ وَوَضَعَتْ حَمْلَهَا جُمِعُوا لَهَا وَدَعَوْا لَهُمُ الْقَافَةَ ثُمَّ أَلْحَقُوا وَلَدَهَا بِالَّذِي يَرَوْنَ فَالْتَاطَ بِهِ وَدُعِيَ ابْنَهُ لَا يَمْتَنِعُ مِنْ ذٰلِكَ فَلَمَّا بُعِثَ مُحَمَّدٌ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْحَقِّ هَدَمَ نِكَاحَ الْجَاهِلِيَّةِ كُلَّهُ إِلَّا نِكَاحَ النَّاسِ الْيَوْمَ

حضرت عائشه ﷺ فرمانى چه د جاهليت په زمانه كښې څلور قسمه نكاح ګانې كيدلې ، يو خو دا ودچه كومه نن سبا خلق كوى ، يو سړى به بل سړى ته دده وليه يا دده دلور پيغام اوليږلو اوهغې ته به ئې مهر وركړو او هغه به ئې واده كړه (هم ددې جملې مناسب سره امام بخارى ﷺ داحديث په دې خانې كښې ذكر فرمانيلې دې چه رجل به رجل ته د نكاح پيغام ليږلو معلوم شوه چه نكاح بعبارة النساء معتبره نه ده چه كوم دامام بخارى مسلك دې).

دنكاح دويمه طريقه داوه چه سړى به خپلې ښځې ته اوونيل چه كله ته د ايام نه پاكه شې نو فلانى سړى لره ورشه اودهغه نه فائده حاصله كړه ، بيا به سړى ددې ښځې نه جدا شو اودې لره به نزدې نه ورتلوتر كومې پورې چه به دهغه سړى نه حمل ظاهر نشو ،هر چه به د سړى نه ښكاره ، هر كله چه به حمل ښكاره شو نو ددې خاوند چه كله زړه اوغوښتل نودې لره به تلو ، دا ټول هر څه به ددې وجې كيدلې شوچه بچې دښه نسل نه شى ، دې نكاح ته نكاح استبضاع وائى.

قوله: اذا طهرت من طمثها: د ((طمث)) معنى دحيض راتلو ده ، ((وكان السر فى ذالك ان يسرع علوقها منه فاستبضعى منه اى اطلبى منه المباضعه ، وهو الجماع ، والمباضعة المجامعة مشتقة من البضع وهو الفرج)) (۱)

دنكاح دريم قسم دا وو چه دلسو نه كم سړو يو ډله به جمع شوه او يو ښځې سره به ئې صحبت اوكړو ، هركله چه به ددې ښځې حمل شو اوددې بچې به پيدا شو نوڅو ورځې تيريدو نه پس هغې به ټول رابلل او ددې نه به هيچا انكار نشو كولې ،هركله چه هغوى دې ښځې سر ه جمع شو نو هغې به وئيل چه تاسو ټولو ته خپل حال معلوم دې چه څه وو ، ځما بچې پيدا شويدې. اې فلانيه دا ستا ځوئې دې ته چه څه نوم ددې ايښودل غواړې نو هغه دده نوم كيږده ، اوهغه بچې به دهغه شواوهغه ته به انكار كولو مجال نه وو.

څلورم قسم نكاح دا وه چه ډيروسړو به يوښځې سره صحبت اوكړو ، او هغې به خپل طرفته راتلو نه هيڅوك نه منع كول ، په حقيقت كښې دا زناكارې وې ، دوى به دښې په طور په خپلوكورونو باندې بيرغونه نصب كول ، چه چا به غوښتل دې سره به ئې صحبت كولې شو ، هركله چه به ددې حمل شو اوبچې به ئې پيدا شو نو دې به ټول راوغوښتل او دقيافې دپاره به ئې يو قيافه شناس راوغوښتلو ، نو قيافه شناس به بچې ته هغه سړى ته وركړو چه كوم سره به ئې مشابهت لرلو نو هغه سره به بچې هغه ملاوولواو بچې به د هغه سړى ځوئې وئيلې كيدواو هغه سړى به دده انكارنشو كولې.

---

۱) فتح البارى: ۹/۲۳۱).

بيا هركله چه دحضرت نبى كريم ﷺ بعثت اوشو نودزمانه جاهليت داټولې نكاحونه باطل اوګرزولې شو ، صرف د نن سبا نكاحونه په مروجه طريقې سره باقى اوساتلې شوې .

قوله: ودعوا لهم القافة: ((القافة)) دا د ((قائف)) جمع ده ، ((هو الذى يعرف شبه الوالد بالولد بالاثار الخفية)) (۱) يعنى قائف هغه سړې دې چه د خفيه علاماتو په ذريعه دپلار او ځوې ترمينځه مشابهت اوپيژنى.

قوله: فالتاطته به: په دې كښې فاء تعقيبيه دې.((التاطت)) دا دباب افتعال نه واحد مونث غائب دماضى صيغه ده. په اصل كښې ((التواطت)) بروزن افتعلت وو ، واو ماقبل مفتوح لره په الف سره بدل كړې شو ، ((التاطت)) شو ، بمعنى لاحق كيدل يعنى دابچې به ئې هغه سړى سره اولګولو. دا ((لوط)) نه ماخوذې دې . چه ددې معنى ملاويدل او لصوق ده.

[۴۸۳۵] حَدَّثَنَا يَحْيَى حَدَّثَنَا وَكِيعٌ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ اَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ وَمَا يُتْلَى عَلَيْكُمْ فِي الْكِتَابِ فِي يَتَامَى النِّسَاءِ اللاَّتِي لاَ تُؤْتُونَهُنَّ مَا كُتِبَ لَهُنَّ وَتَرْغَبُونَ اَنْ تَنْكِحُوهُنَّ قَالَتْ هَذَا فِي الْيَتِيمَةِ الَّتِي تَكُونُ عِنْدَ الرَّجُلِ لَعَلَّهَا اَنْ تَكُونَ شَرِيكَتَهُ فِي مَالِهِ وَهُوَ اَوْلَى بِهَا فَيَرْغَبُ عَنْهَا اَنْ يَنْكِحَهَا فَيَعْضُلَهَا لِمَالِهَا وَلاَ يُنْكِحَهَا غَيْرَهُ كَرَاهِيَةَ اَنْ يَشْرَكَهُ اَحَدٌ فِي مَالِهَا [ر:۲۳۶۲].

په دې خائې كښې ترجمه داشان ثابتيږى چه ولى يتيمه دمال دوجې نه منع كوى ، اوبل سړى سره ددې نكاح نه كوى ، ددې نه امام بخارى رحمه الله دا اخذ كړى دى چه دولى نه بغير نكاح نشى كيدلې ، كه نكاح دولى نه بغير كيدېشى نو هغه يتيمه به خپله نكاح كوى.

خوددې جواب هم هغه وركړې شوې دې چه بعض اوقات ولى دخپل طاقت اوهيبت په وجه دبنځې دپاره ركاوټ جوړيږى او هغې ته دنكاح كولو نه منع كوى ، په حديث كښې ددې ذكر دې . ګنى دحديث راويه حضرت عائشه رضي الله عنها پخپله دخپل رور عبدالرحمان بن ابى بكردلور نكاح دهغه په عدم موجودګئ كښې اوكړه (۲) بيا ددې نه اشتراط ولى باندې استدلال څنګه درست كيدېشى.

[۴۸۳۶] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا هِشَامٌ اَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ حَدَّثَنَا الزُّهْرِيُّ قَالَ اَخْبَرَنِي سَالِمٌ اَنَّ ابْنَ عُمَرَ اَخْبَرَهُ اَنَّ عُمَرَ حِينَ تَاَيَّمَتْ حَفْصَةُ بِنْتُ عُمَرَ مِنِ ابْنِ حُذَافَةَ السَّهْمِيِّ وَكَانَ مِنْ اَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ اَهْلِ بَدْرٍ تُوُفِّيَ بِالْمَدِينَةِ فَقَالَ عُمَرُ لَقِيتُ عُثْمَانَ بْنَ عَفَّانَ فَعَرَضْتُ عَلَيْهِ فَقُلْتُ اِنْ شِئْتَ اَنْكَحْتُكَ حَفْصَةَ فَقَالَ سَاَنْظُرُ فِي اَمْرِي فَلَبِثْتُ لَيَالِيَ ثُمَّ لَقِيَنِي فَقَالَ بَدَا لِي اَنْ لاَ اَتَزَوَّجَ يَوْمِي هَذَا قَالَ عُمَرُ فَلَقِيتُ اَبَا

---

۱) فتح البارى: ۹/۲۳۲).
۲) شرح معانى الاثار: ۲/۶).

بَكْرٍ فَقُلْتُ اِنْ شِئْتَ اَنْكَحْتُكَ حَفْصَةَ [ر: ۳۷۸۳].

[۴۸۳۷] حَدَّثَنَا اَحْمَدُ ابْنُ اَبِي عَمْرٍو قَالَ حَدَّثَنِي اَبِي قَالَ حَدَّثَنِي اِبْرَاهِيمُ عَنْ يُونُسَ عَنِ الْحَسَنِ فَلَا تَعْضُلُوهُنَّ قَالَ حَدَّثَنِي مَعْقِلُ بْنُ يَسَارٍ اَنَّهَا نَزَلَتْ فِيهِ قَالَ زَوَّجْتُ اُخْتًا لِي مِنْ رَجُلٍ فَطَلَّقَهَا حَتّٰى اِذَا انْقَضَتْ عِدَّتُهَا جَاءَ يَخْطُبُهَا فَقُلْتُ لَهُ زَوَّجْتُكَ وَفَرَشْتُكَ وَاَكْرَمْتُكَ فَطَلَّقْتَهَا ثُمَّ جِئْتَ تَخْطُبُهَا لَا وَاللّٰهِ لَا تَعُودُ اِلَيْكَ اَبَدًا وَكَانَ رَجُلًا لَا بَاْسَ بِهِ وَكَانَتِ الْمَرْاَةُ تُرِيدُ اَنْ تَرْجِعَ اِلَيْهِ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ هٰذِهِ الْاٰيَةَ فَلَا تَعْضُلُوهُنَّ فَقُلْتُ الْاٰنَ اَفْعَلُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ فَزَوَّجَهَا اِيَّاهُ [ر: ۴۲۵۵].

۳۸=بَاب إِذَا كَانَ الْوَلِيُّ هُوَ الْخَاطِبَ

وَخَطَبَ الْمُغِيرَةُ بْنُ شُعْبَةَ امْرَاَةً هُوَ اَوْلَى النَّاسِ بِهَا فَاَمَرَ رَجُلًا فَزَوَّجَهُ

وَقَالَ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ عَوْفٍ لِاُمِّ حَكِيمٍ بِنْتِ قَارِظٍ اَتَجْعَلِينَ اَمْرَكِ اِلَيَّ قَالَتْ نَعَمْ فَقَالَ قَدْ زَوَّجْتُكِ

وَقَالَ عَطَاءٌ لِيُشْهِدْ اَنِّي قَدْ نَكَحْتُكِ اَوْ لِيَاْمُرْ رَجُلًا مِنْ عَشِيرَتِهَا

وَقَالَ سَهْلٌ قَالَتِ امْرَاَةٌ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَهَبُ لَكَ نَفْسِي فَقَالَ رَجُلٌ يَا رَسُولَ اللّٰهِ اِنْ لَمْ تَكُنْ لَكَ بِهَا حَاجَةٌ فَزَوِّجْنِيهَا [ر: ۲۸۳۳].

امام بخاری رحمه الله په دې باب کښې دا مسئله ذکرکړې ده، که ولی پخپله پیغام اولیږی د نکاح نوآیا هغه مولیه سره خپله نکاح کولې شي یا دبل سړی په ذریعه به خپله نکاح اوکړی؟

دامام بخاری رحمه الله ، امام مالك رحمه الله ، سفیان ثوری رحمه الله ، امام اوزاعی رحمه الله او ا مام احمد بن حنبل رحمه الله مسلك هم دادې چه مولیه سره نکاح پخپله کولې شی . (۱)

امام شافعی رحمه الله ،داود رحمه الله او امام زفر رحمه الله فرمائي چه یا به خو بادشاه ددې نکاح اوکړی یا به بیا ددې ښځې بل ولی ددې ښځې نکاح کوی. (۲)

امام بخاری رحمه الله چه کومه ترجمه قائم کړې ده دهغې متعلق علامه ابن منیر مالکی رحمه الله فرمائی چه امام په دې ترجمه کښې جواز اوعدم جواز دواړو دلائل فراهم کړی دی ، ګویا مسئله دمجتهد نظرته حواله کړې ده ، اوس چه هغه څه غواړی نو فیصله دې اوکړی. (۳)

دحافظ ابن حجر رحمه الله رائې داده چه دامام بخاری رحمه الله رجحان دجواز طرفته دې چه ولی که پخپله غواړی نو مولیه سره خپله نکاح کولې شی ، ترجمة الباب کښې ذکر شوی حضرت عبدالرحمان بن عوف رضی الله عنه اوحضرت عطاء رحمه الله اثر سره جواز معلومیږی. (۴)

---

۱) فتح الباری: ۲۳۶/۹).
۲) فتح الباری: ۲۳۶/۹).
۳) فتح الباری: ۱۳۵/۹).
٤) فتح الباری: ۲۳۶/۹).

قوله: وخطب المغيرة بن شعبه رضي الله عنه امراة هو اولى الناس بها فامر رجلا فزوجه: حضرت مغيره بن شعبه‌يو داسې ښځې ته دنكاح پيغام اوليږلو چه‌دهغې دې ډير نزدې ولي وو ،اويو سړي ته ئې حكم‌اوكړو ، هغه دې سره نكاح اوكړه ، دا تعليق‌امام بيهقى موصولاً نقل كړې دى.

دسعيد بن منصور روايت كښې تصريح ده چه حضرت مغيره رضي الله عنه حضرت عثمان بن العاص رضي الله عنه ته د خپل دتره عروه بن مسعود دلور ولي مقرر كړو او عثمان رضي الله عنه ددې واده حضرت مغيره رضي الله عنه سره اوكړو. عثمان بن ابى العاص رضي الله عنه هم ددې جينۍ ولى وو ليكن هغه ولى بعيد وو. (١)

قوله: وقال عبدالرحمان بن عوف لام حكيم بنت قارظ: حضرت عبدالرحمان ام حكيم بنت قارظ ته اووئيل چه ته ماته خپل اختيار راكوې،هغې اووئيل چه‌آو،حضرت عبدالرحمان اووئيل چه نوماتاسره واده اوكړو. دا ددې خبرې دليل دې چه‌ولى موليه سره نكاح كولې شى ، دا تعليق ابن سعد موصولاً نقل كړې دې . (٢)

قوله: وقال عطاء ليشهد انى قد نكحتك: عطاء بن ابى رباح فرمائى چه‌هغه دې گواه جوړ كړى په دې خبره باندې‌چه ما تاسره نكاح اوكړه ، يا دې ددې دقبيلې يو سړي ته اووائى چه هغه دې سره نكاح اوكړى ، امام‌عبدالرزاق دا تعليق موصولاً نقل كړې دې.(٣)

قوله: وقالت سهل قالت امراة: دحضرت سهل بن سعد رضي الله عنه‌ددې حديث تشريح تيره شوې ده. په دې ځائې كښې‌امام بخارى رحمه الله دا ذكر كوى او ترجمة الباب ئې داشان ثابت كړې دې‌چه‌كله واهبه خپل ځان حضرت نبى كريم ﷺ ته پيش كړو نو كه حضرت نبى كريم ﷺ دا قبوله كړې وې نو ظاهر ده چه په دې صورت كښې به حضرت نبى كريم ﷺ ددې ولى وو ،او حضرت نبى كريم ﷺ به خاطب هم وو.او خپله نكاح به ئې پخپله كړې وې ، ددې نه معلوم شوچه‌دولى دپاره پخپله خپله نكاح كول جائز دى. (۴)

[۴۸۳۸] حَدَّثَنَا ابْنُ سَلَامٍ اَخْبَرَنَا اَبُو مُعَاوِيَةَ حَدَّثَنَا هِشَامٌ عَنْ اَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا فِي قَوْلِهِ وَيَسْتَفْتُونَكَ فِي النِّسَاءِ قُلِ اللّٰهُ يُفْتِيكُمْ فِيهِنَّ اِلَى اٰخِرِ الْاٰيَةِ قَالَتْ هِيَ الْيَتِيمَةُ تَكُونُ فِي حَجْرِ الرَّجُلِ قَدْ شَرِكَتْهُ فِي مَالِهِ فَيَرْغَبُ عَنْهَا اَنْ يَتَزَوَّجَهَا وَيَكْرَهُ اَنْ يُزَوِّجَهَا غَيْرَهُ فَيَدْخُلَ عَلَيْهِ فِي مَالِهِ فَيَحْبِسُهَا فَنَهَاهُمُ اللّٰهُ عَنْ ذٰلِكَ [ر: ٢٣٦٢].

[۴۸۳۹] حَدَّثَنَا اَحْمَدُ بْنُ الْمِقْدَامِ حَدَّثَنَا فُضَيْلُ بْنُ سُلَيْمَانَ حَدَّثَنَا اَبُو حَازِمٍ حَدَّثَنَا سَهْلُ بْنُ سَعْدٍ كُنَّا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جُلُوسًا فَجَاءَتْهُ امْرَاَةٌ تَعْرِضُ نَفْسَهَا عَلَيْهِ فَخَفَّضَ

١) عمده القارى: ٢٠/١٢٤).
٢) عمدة القارى: ٢٠/١٢٤).
٣) عمدة القارى: ٢٠/١٢٥).
٤) عمدة القارى: ٢٠/١٢٥).

فِيهَا النَّظَرَ وَرَفَعَهُ فَلَمْ يُرِدْهَا فَقَالَ رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِهِ زَوِّجْنِيهَا يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ أَعِنْدَكَ مِنْ شَيْءٍ قَالَ مَا عِنْدِي مِنْ شَيْءٍ قَالَ وَلَا خَاتَمٌ مِنْ حَدِيدٍ قَالَ وَلَا خَاتَمٌ مِنْ حَدِيدٍ وَلَكِنْ أَشُقُّ بُرْدَتِي هَذِهِ فَأُعْطِيهَا النِّصْفَ وَآخُذُ النِّصْفَ قَالَ لَا هَلْ مَعَكَ مِنَ الْقُرْآنِ شَيْءٌ قَالَ نَعَمْ قَالَ اذْهَبْ فَقَدْ زَوَّجْتُكَهَا بِمَا مَعَكَ مِنَ الْقُرْآنِ [ر: ۲۱۸۶].

قوله: حدثنا ابن سلام: په دې روايت كښې دى چه ولى به يتيمې لره منع كوله او بل چا سره به ئې ددې نكاح نه كوله ، الله ﷻ ددې نه منع اوفرمائيله ، ددې نه داشارة النص په طور مستفاده كولې شى كه هغه پخپله ده سره نكاح كول غواړى نو كولې به ئې شوه .چه ددې نه معلوميږى چه ولى ته دموليه سره دنكاح كولو پخپله اختيار دى.

۳۹=بَابُ إِنْكَاحِ الرَّجُلِ وَلَدَهُ الصِّغَارَ لِقَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى

وَاللَّائِي لَمْ يَحِضْنَ (الطلاق:۴) فَجَعَلَ عِدَّتَهَا ثَلَاثَةَ أَشْهُرٍ قَبْلَ الْبُلُوغِ(۱)

«ولد»(دواو ضمه اولام سكون سره) دولد جمع ده .بعضې نسخو كښې ولد(دواو فتحه سره)ده.ولد اسم جنس دى، مذكر ومونث دواړو دپاره استعماليږى (۲)

دترجمة الباب نه دامام بخارى رحمه الله مقصد دادې چه سړې د خپل نابالغ اولاد نكاح كولې شى . په دليل كښې دسورت طلاق آيت پيش كوى ، ﴿واللائى يئسن من المحيض من نسائكم ان ارتبتم فعدتهن ثلثة اشهر واللائى لم يحضن﴾ په دې آيت كريمه كښې «واللائى لم يحضن» نه امام بخارى رحمه الله ترجمة الباب ثابت كړې دې چه په دې آيت كريمه كښې هغه نابالغه جينكئ داخلې دى چه هغوى ته د صغر په وجه حيض نه رازى. دهغوى عدت هم درې مياشتې مقرر شوې دې ، چه ددې نه داشارة النص په طور معلوميږى چه ددوى نكاح كيديشى ، ځكه چه دعدت تصور دنكاح نه پس كيديشى ، اودجمهور اود امام بخارى رحمه الله په نيز دنكاح مجاز ولى دې . لهذا معلوم شو چه سړې دوړوكى اولاد نكاح كولې شى

[۴۸۴۰] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ هِشَامٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَزَوَّجَهَا وَهِيَ بِنْتُ سِتِّ سِنِينَ وَأُدْخِلَتْ عَلَيْهِ وَهِيَ بِنْتُ تِسْعٍ وَمَكَثَتْ عِنْدَهُ تِسْعًا [ر: ۳۶۸۱]

دحضرت عائشه رضي الله عنها شپږو كالو په عمر كښې اورخصتى د نهو كالو په عمر كښې شوې وه. دا په دې خبره باندې صراحتًا دلالت كوى چه د جينئ نكاح قبل البلوغ كولې شى.

---

۱) ((واللائى...)) ومعنى الاية النساء اللائى يبلغن سنن الحيض . ان طلقت احداهن فعدتها ثلاثة اشهر ، والمراد بايراد الاية . الاحتجاج على جواز تزويج الرجل ولده الصغير لانه لما جعل الله تعالى عدة المطلقة قبل البلوغ دل على جواز تزويجها قبله).

۲) عمده القارى: ۲۰/۱۲۶).

همدا د جمهور علماء کرام مسلك دی . لیکن علامه ابن حزم دابن شبرمه نه نقل کړی دی چه دنابالغه جینۍ نکاح دولی دپاره مطلقا جائز نه ده. که هغه قابل وطی اوکه نه وی،او امام طحاوی رحمه الله دابن شبرمه نه دویم روایت دا نقل کړې دې چه جینۍ قابل وطی نه وی نو دولی دپاره دهغه نکاح کول جائز نه دی یعنی ولی ته په دې باندې دولایت اجبار حاصل نه دی.
ابن شبرمه دحضرت عائشه رضی الله عنها حدیث باب لره د حضرت نبی کریم خصوصیت باندې محمول کوی. (۱)

قوله: مکثت عندہ تسعا: دا جمله مدرج ده ،دا دحضرت هشام بن عروه قول دې ، لکه ځنګه چه دمخکښې باب په روایت کښې ددې تصریح رازی.

۴۰= بَاب تَزْوِيجِ الْأَبِ ابْنَتَهُ مِنْ الْإِمَامِ

وَقَالَ عُمَرُ خَطَبَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَيَّ حَفْصَةَ فَأَنْكَحْتُهُ [ر:۳۷۸۳].

[۴۸۴۱] حَدَّثَنَا مُعَلَّى بْنُ أَسَدٍ حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَزَوَّجَهَا وَهِيَ بِنْتُ سِتِّ سِنِينَ وَبَنَى بِهَا وَهِيَ بِنْتُ تِسْعِ سِنِينَ قَالَ هِشَامٌ وَأُنْبِئْتُ أَنَّهَا كَانَتْ عِنْدَهُ تِسْعَ سِنِينَ [ر:۳۶۸۱].

امام بخاری رحمه الله په دې باب کښې دا وئیل غواړی چه ولایت دپلار د ولایت دامام نه مقدم دې یا په نورو لفظونو کښې ولی خاص ولی عام باندې مقدم دې ، ځکه چه حضرت عمر فاروق رضی الله عنه دخپلې لور نکاح حضرت نبی کریم صلی الله علیه وسلم سره کړې وه ، داشان حضرت ابوبکر صدیق هم دخپلې لور نکاح حضرت نبی کریم صلی الله علیه وسلم سره کړې وه. ابن بطال فرمائی چه :
«دل حدیث الباب علی ان الاب اولی فی تزویج ابنته من الامام» (۲)

دا تعلیق نه دې بلکه ماقبل سند سره موصول دې ، «انبئت» دباب افعال نه «دانبا» دماضی مجهول واحد متکلم صیغه ده یعنی ماته خبر راکړې شوې دې، دمخبر نوم نه دې خودلې شوې.

۴۱= بَاب السُّلْطَانُ وَلِيٌّ

لِقَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (زَوَّجْنَاكَهَا بِمَا مَعَكَ مِنْ الْقُرْآنِ)

[۴۸۴۲] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ أَبِي حَازِمٍ عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ جَاءَتْ امْرَأَةٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ إِنِّي وَهَبْتُ مِنْ نَفْسِي فَقَامَتْ طَوِيلًا فَقَالَ رَجُلٌ زَوِّجْنِيهَا إِنْ لَمْ تَكُنْ لَكَ بِهَا حَاجَةٌ قَالَ هَلْ عِنْدَكَ مِنْ شَيْءٍ تُصْدِقُهَا قَالَ مَا عِنْدِي إِلَّا إِزَارِي فَقَالَ إِنْ أَعْطَيْتَهَا إِيَّاهُ جَلَسْتَ لَا إِزَارَ لَكَ فَالْتَمِسْ شَيْئًا فَقَالَ مَا أَجِدُ

۱) مذکوره تفصیل دپاره اوګورئ فتح الباری: ۲۳۸/۹).
۲) عمده القاری: ۱۲۷/۲۰).

شيئا فقال التمس ولو خاتما من حديد فلم يجد فقال امعك من القرآن شيء قال نعم سورة كذا وسورة كذا لسور سماها فقال قد زوجناكها بما معك من القرآن [ر: ٢١٨٦].

«السلطان ولى من لا ولى له» په اصل کښې دا حديث دې ، ا مام ابوداود اوامام ترمذی ددې تخريج کړې دې ، ابوعوانه ، ابن خزيمه ، اوابن حبان ددې تصحيح کړې ده ، (١)چونکه دا دامام بخاری رحمه الله په شرط باندې نه دې ، ددې وجې هغه د ترجمة الباب په طور ذکر کړې دې او دامسئله ئې د حضرت سهل په روايت کښې د واهبه د قصې نه ثابته کړې ده چه په هغې کښې حضرت نبی کريم ﷺ دهغه ښځې نکاح دهغه صحابی سره کړې وه چه کوم دنکاح خواهش کړې وو ، او حضرت نبی کريم ﷺ هغه ته فرمائيلی وو چه «زوجناکها بما معك من القران»معلوم شو چه سلطان ته ولايت حاصل دې.

٤٢=باب لا ينكح الأب وغيره البكر والثيب إلا برضاها

په دې ترجمة الباب کښې څلور صورتونه راوزی. ① تزويج الاب البکر ② تزويج الاب الثيب ③ تزويج غيرالاب البکر ④ تزويج غير الاب الثيب .

په دې څلورو وارو صورتونوکښې د ښځې رضا مندی ضرروی ده ،که صغر وکبر بلوغ و عدم بلوغ هم دې سره شامل کړې شی نو بيا ټول اته صورتونه جوړيږی.

قوله: مسئله ولايت اجبار: امام بخاری رحمه الله په دې باب کښې په حقيقت کښې دولايت اجبار مشهورډ مسئله بيان کړې ده، چه په هغې کښې دآئمه کرام لاندې مذهبونه دی:

① دحضرت حسن بصری رحمه الله او امام نخعی رحمه الله په نيز ولی ته مطلقاً ولايت اجبار حاصل دې ، ښځه که ثيبه وی يا باکره وی ، کبيره وی اوکه صغيره. (٢)

② دابن شبرمه رحمه الله په نيزولی ته مطلقاً ولايت اجبار حاصل نه دې ، (٣)

③ دامام شافعی رحمه الله په نيز په دې سلسله کښې مدار عورت لره دثيبه او باکره کيدوباندې دی . باکره باندې ولی ته ولايت اجبار حاصل دې ، ثيبه باندې نه دې . (٤)

④ دحضرات حنفيه په نيز مدارصغر اوکبرباندې دې ، صغيره باندې ولايت اجبار ولی ته حاصل دې . کبيره باندې نه دې . (٥)

لهذا باکره ته په صغيره باندې باتفاق ائمه اربعه ولايت اجبار دې او کبيره ثيبه باندې بالاتفاق ولايت اجبار نه دې او کبيره او باکره باندې دشوافع په نيز ولايت اجبار دې ، د حنفيه په نيزنه دې او صغير ثيبه باندې دحنفيه په نيز ولايت اجبار دې دشوافع په نيز نه دې.

---

١) عمده القاری: ٢٣٩/٩).
٢) عمدة القاری: ١٣٠/٢٠ ، وفتح الباری: ٢٣٨/٩).
٣) فتح الباری: ٢٣٨/٩).
٤) بدائع الصنائع: ٢٤١/٢ . فتح التقدير: ١٦١/٣).
٥) بدائع الصنائع: ٢٤١/٢ . فتح التقدير: ١٦١/٣ ، والهدايه: ٢٨٥/٢).

خلاصه د کلام دا ده چه په دې څلورو صورتونو کښې دوه صورتونه دائمه اربعه په نیز اتفاقي دي او دوه صورتونه اختلافي .

بیا داجبار حق کوم یو ولی ته به حاصل وی ؟ . څمونږ په نیز عصبات به علی الترتیب د اجبار به حقداروی (۱)او مشهور دادی چه پلار نیکه ته اجبار حق حاصل دې ، دا په اصل کښې دامام شافعي رحمه الله مسلك دې.

دامام مالك رحمه الله او امام احمد رحمه الله په نیزداجبار حق صرف پلار ته حاصل دې . (۲)

دامام بخاری رحمه الله په دې مسئله کښې څه رائې ده؟ظاهراً دا معلومیږی چه امام بخاری رحمه الله په دې مسئله کښې دحنفیه هم خیال دې ،یعنی دولایت اجبار مدار په صغر باندې دې .

څکه چه امام ددې باب نه مخکښې دباب ترجمه قائمه کړې وه «باب انکاح ا لرجل ولده الصغار»په دې کښې لفظ «صغار»عام دې ، باکره ثیبه دواړو دپاره شامل دی. معلومه شوه چه دولایت اجبار علت صغر دې. بکارت و عدم بکارت نه دې ، اوباب هذا کښې امام بخاری رحمه الله دبالغه حکم فرمائی که ښځه باکره وی یا ثیبه ، هرکله چه بالغه شی نو بیا په دې ولایت داجبار نشته دې، ترکومې پورې چه ددې رضامندی شامله نه وی.

[۴۸۴۳] حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ فَضَالَةَ حَدَّثَنَا هِشَامٌ عَنْ يَحْيَى عَنْ أَبِي سَلَمَةَ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ حَدَّثَهُمْ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تُنْكَحُ الْأَيِّمُ حَتَّى تُسْتَأْمَرَ وَلَا تُنْكَحُ الْبِكْرُ حَتَّى تُسْتَأْذَنَ قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ وَكَيْفَ إِذْنُهَا قَالَ أَنْ تَسْكُتَ [ر: ۶۵۶۷، ۶۵۶۹].

دا حدیث امام بخاری رحمه الله په دې ځائې کښې په ړومبی ځل ذکر اوفرمائیلو. حضرت نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمائی چه د ثیبه ښځې نه ترکومې پورې مشوره اونه غوښتلې شی نو ددې نکاح دې اونه کړې شی . او باکره سره دې ددې داجازت نه بغیر نکاح اونه کړې شی.

«ایم» نواده کړې ښځې ته وئیلې شی. ددې اطلاق ثیبه او باکره دواړو باندې کیږی. لیکن چونکه په حدیث کښې مخکښې دباکره مستقل ذکر رازی نوددې وجې«ایم»نه په دې ځائې کښې «ثیبه»مراد ده. او په «ولا تنکح البکر....» نه باکره مراد ده.څکه چه مصنف ددې نه مخکښې دا بیان کړې دې چه دصغار د نکاح ولی ته ا ختیار دې.

«استیمار» مشوره غوښتل ، او «استیذان» اجازت غوښتلو ته وئیلې شی. د «ایم» دپاره «استیمار» او باکره دپاره «استیذان»بیان شوې دې. ددې وجه داده چه په باکره کښې نسبتاً حیا زیاته وی اوددې دنکاح پیغام اولیاء ته پیش کولې شی ، ددې وجې ولی ته اجازت اغستل پکاردی او ثیبه کښې حیا نسبتاً کمه وی ، ددې وجې ولی ته پکار دی چه دې سره مشوره اوکړی. (۳)

---

۱) الهدایه: ۲/۲۸٤ . کتاب النکاح).) الهدایه: ۲/۲۸٤ . کتاب النکاح).

۲) الهدایه: ۲/۲۸٤ . کتاب النکاح).

۳) فتح الباری: ۹/۲٤۰).

[٤٨٤٤] حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ الرَّبِيعِ بْنِ طَارِقٍ قَالَ اَخْبَرَنَا اللَّيْثُ عَنْ ابْنِ اَبِي مُلَيْكَةَ عَنْ اَبِي عَمْرٍو مَوْلَى عَائِشَةَ عَنْ عَائِشَةَ اَنَّهَا قَالَتْ يَا رَسُولَ اللّٰهِ اِنَّ الْبِكْرَ تَسْتَحِي قَالَ رِضَاهَا صَمْتُهَا [ر: ٦٥٤٧ ، ٦٥٧٠].

قوله: عمرو بن ربيع: دعمرو بن ربيع مصرى كنيت ابو حفص دې . او دې په اصل كښې دكوفې اوسيدونكي دې .دده شيوخ امام مالك رحمه الله .ليث رحمه الله او يحيى بن ايوب رحمه الله دى.او دده روايت كولو والوكښې يحيى بن معين، اسحاق كوسج اوابراهيم بن هانى داخل دې. دا د امام بخارى رحمه الله قديم شيوخوكښې دى. حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه ((ولم أرله عنه فى الجامع الاهذاالحديث))عجلى او دار قطنى دده توثيق كړې دې. په كال ٢١٩ هجرئى كښې وفات شوې دې ، (١)

٤٣=بَاب إِذَا زَوَّجَ ابْنَتَهُ وَهِيَ كَارِهَةٌ فَنِكَاحُهُ مَرْدُودٌ

امام بخارى رحمه الله فرمائى كه چا په زبردستئ سره دخپلې لور نكاح اوكړه نودا نكاح مردود ده ، كه هغه ثيبه بالغه ده نوبالاتفاق درست نه دهاوكه ثيبه بالغه نه ده نوددې حكم دولايت اجبار په سلسله كښې دبيان شوى تفصيل مطابق وى.

دا ترجمه په ظاهره دمخكښې ترجمة الباب((باب انكاح الرجل ولده الصغار))خلاف ده. ځكه چه ددې نه دصغار متعلق مطلقاً دجواز معلوميږى او په دې ځائې كښې دكراهت په صورت كښې نكاح لره مردود اوګرزولې شوه. جواب دادې چه په دې ځائې كښې بالغه جينئ مراد ده. ځكه چه((وهى كارهة)) الفاظ ئې راوړى دى. اودا د بالغه صفت دې ، چنانچه علامه عينى رحمه الله ليكى:((قيل هذه الترجمة مخالفة للترجمة السابقة حيث قال : باب انكاح الرجل ولده الصغار واجيب بان المراد بنته البالغة يدل عليه قوله وهى كارهة لان هذه الصفة للبالغات)) (٢)

[٤٨٤٥] حَدَّثَنَا اِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ الْقَاسِمِ عَنْ اَبِيهِ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ وَمُجَمِّعٍ ابْنَيْ يَزِيدَ بْنِ جَارِيَةَ (٣) عَنْ خَنْسَاءَ بِنْتِ خِذَامٍ الْاَنْصَارِيَّةِ اَنَّ اَبَاهَا زَوَّجَهَا وَهِيَ ثَيِّبٌ فَكَرِهَتْ ذٰلِكَ فَاَتَتْ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَدَّ نِكَاحَهُ حَدَّثَنَا

---

١) مذكوره تفصيل دپاره اوګورئى: فتح البارى: ٢٤١/٩).

٢) عمده القارى: ١٢٩/٢٠).

٣) ٤٨٤٥: واخرجه البخارى ايضا متصلا بهذا الحديث ، رقم الحديث : ٤٩٣٢، وفى كتاب الاكراه، باب لايجوز نكاح المكره ، رقم الحديث: ٦٩٤٥ . وكتاب الحيل ،باب فى النكاح ، رقم الحديث : ٦٩٦٩ . واخرجه ابوداود فى كتاب النكاح باب فى الثيب رقم الحديث ٢١٠١ ، وابن ماجه فى كتاب النكاح باب من زوج ابنته وهى كارهة رقم الحديث : ١٨٧٣ . والنسائى فى كتاب النكاح ، باب البكريز وجهاابوها وهى كارهة رقم الحديث : ٥٣٨٣).

اسحاق اخبرنا يزيد اخبرنا يحيى ان القاسم بن محمد حدثه ان عبد الرحمن بن يزيد ومجمع بن يزيد حدثاه ان رجلا يدعى خذاما انكح ابنة له نحوه [ر ۶۵۴۶،۶۵۶۸].

سند کښې دقاسم دوه شیخان دی او دواړه رونړه دی، یوعبدالرحمان بن زید بن جاریه او بل مجمع بن یزید بن جاریه ، مجمع(دجیم په فتحه اود میم په کسره سره).

دعبدالرحمان بن یزید په بخاری شریف کښې صرف یو حدیث دې. دده پیدائش د نبی کریم ﷺ په زمانه کښې شوې وو. دې دمدینې منورې قاضی هم پاتې شوې. دده وفات په کال ۹۳ هجرئی کښې شوې وو، دمحدثینو یو ډلې دده توثیق کړې دې. (۱)

دده رور مجمع بن یزید دې.دده هم په بخاری شریف کښې یو حدیث دی. (۲)

په روایت کښې دی چه دخنساء بنت خذام نکاح دده پلار یوسړی سره اوکړه ، دخنساء هغه خوښ نه وو،هغه حضرت نبی کریم ﷺ لره راغله نو حضرت نبی کریم ﷺ ددوی نکاح رد کړه.

ددې سړی نوم څه وو؟ حافظ ابن حجر رحمه الله لیکلی دی چه ماته ددې علم اونشو ، البته واقدی په خپل سند سره دومره بیان کړی دی چه دده تعلق قبیله بنومزینه سره وو. (۳)

حضرت خنساء ثیبه وه.ددې رومبې واده انیس بن قتاده رضی الله عنه سره شوې وواو دې په جنګ احد کښې شهید شوې وو، بیا دده پلار دبنومزینه یو سړی سره ددې واده اوکړو لیکن ددې هغه سړې خوښ نه وو، ددې وجې حضرت نبی کریم ﷺ لره راغله . حضرت نبی کریم ﷺ ددوی نکاح رد کړه .او ددې واده ئې حضرت ابولبابه سره اوکړو، دامام عبدالرزاق په روایت کښې ددې تصریح کړې ده. (۴)

۴۴=باب تزويج اليتيمة

لقوله: ﴿وَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تُقْسِطُوا فِي الْيَتَامَى فَانْكِحُوا﴾ (النساء: ۲) واذا قال للولي: زوجني فلانة فمكث ساعة اوقال ما معك فقال معي كذا وكذا اولبثا ثم قال: زوجتكها فهو جائز فيه سهل عن النبي صلى الله عليه وسلم [ر: ۲۱۸۶].

[۴۸۳۶] حدثنا ابواليمان اخبرنا شعيب عن الزهري وقال الليث حدثني عقيل عن ابن شهاب اخبرني عروة بن الزبير انه سأل عائشة رضي الله عنها قال لها يا امتاه وان خفتم الا تقسطوا في اليتامى الى قوله ما ملكت ايمانكم قالت عائشة يا ابن اختي هذه اليتيمة تكون في حجر وليها فيرغب في جمالها ومالها ويريد ان ينتقص من صداقها فنهوا عن نكاحهن الا ان يقسطوا لهن في اكمال الصداق وامروا بنكاح من سواهن من النساء قالت عائشة استفتى الناس رسول الله صلى الله عليه وسلم بعد ذلك فانزل الله

۱) فتح البارى: ۹/۲۴۳ ، ۲۴۴).
۲) فتح البارى: ۹/۱۴۴).
۳) فتح البارى: ۰/۱۴۴).
۴) فتح البارى: ۹/۱۴۴).

وَيَسْتَفْتُونَكَ فِي النِّسَاءِ إِلَى قَوْلِهِ وَتَرْغَبُونَ أَنْ تَنْكِحُوهُنَّ فَأَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّوَجَلَّ لَهُمْ فِي هَذِهِ الْآيَةِ أَنَّ الْيَتِيمَةَ إِذَا كَانَتْ ذَاتَ مَالٍ وَجَمَالٍ رَغِبُوا فِي نِكَاحِهَا وَنَسَبِهَا وَالصَّدَاقِ وَإِذَا كَانَتْ مَرْغُوبًا عَنْهَا فِي قِلَّةِ الْمَالِ وَالْجَمَالِ تَرَكُوهَا وَأَخَذُوا غَيْرَهَا مِنَ النِّسَاءِ قَالَتْ فَكَمَا يَتْرُكُونَهَا حِينَ يَرْغَبُونَ عَنْهَا فَلَيْسَ لَهُمْ أَنْ يَنْكِحُوهَا إِذَا رَغِبُوا فِيهَا إِلَّا أَنْ يُقْسِطُوا لَهَا وَيُعْطُوهَا حَقَّهَا الْأَوْفَى مِنَ الصَّدَاقِ [ر: ۲۳۶۲].

په دې ترجمه کښې امام بخاری رحمه الله دا وائی چه د یتیمې جینۍ نکاح هم کیدلې شي. اوس پاتې شو دا کله کولې شي ، د بلوغ نه مخکښې یا د بلوغ نه پس؟.

امام مالك رحمه الله او امام شافعی رحمه الله فرمائی چه د بلوغ نه مخکښې د یتیمې جینۍ نکاح جائز نه ده. (۱)

امام احمد رحمه الله او امام اسحاق رحمه الله فرمائی چه کله هغه د نهو کالو عمر ته اورسی نو د دې په رضامندئی سره د دې نکاح کولې شي. او بیا د بالغ کیدو نه پس به دې ته د فسخ کیدو اختیار نه وی. (۲)

حضرات حنفیه فرمائی که هغه صغیره ده نو ته په نیکه دې باندې اجبار حاصل دې ، که څوك بل سرې د دې نکاح اوکړی نو نکاح به صحیح وی او د بالغ کیدو نه پس به ده ته د فسخ کیدو اختیار وی. او که هغه بالغه وی نو بیا په دې باندې هیڅ چا ته د اجبار حق حاصل نه دې ، څکه د بالغ کیدو نه پس په دې باندې د یتیم کیدو اطلاق هم درست نه دې ، «لایتم بعد البلوغ» (۳)

امام بخاری رحمه الله په دې مسئله کښې د امام احمد رحمه الله د مسلك سره متفق په نظر را زی. مخکښې «واذا قال للولی : زوجنی فلانة» نه امام بخاری رحمه الله د امام احمد رحمه الله مسلك طرفته اشاره کوی که ولی د یتیمې نکاح اوکړه نو صحیح ده.

ایجاب وقبول په مینځ کښې دفصل مسئله: او په دې ضمن کښې یو بله مسئلې طرفته هم اشاره اوشوه چه په کوم وخت کښې ایجاب وقبول کولې شي ، نو زر په هغه وخت کښې ضروری نه دی.

حضرات مالکیه فرمائی چه زر قبلول پکار دی ، تاخیر نه پس د قبلولو اعتبار به نه وی. (۴)

حضرات شوافع فرمائی چه «فصل یسیر» یعنی د ایجاب وقبول په مینځ کښې معمولی غونډې وی نو مضر نه دی، که چا په مینځ کښې خطبه وغیره اووئیله یا سبحان الله ئې

---

۱) مرقاه المفاتیح ، کتاب النکاح :۲۰۸/۶ ، والمغنی لابن قدامه ، کتاب النکاح ، کون الاجبار فی النکاح لایکون الا للاب :۳۲/۷ ، وتفسیر قرطبی ، سوره النساء: ۱۳/۵).

۲) فتح الباری: ۲۴۰/۹).

۳) مرقاه المفاتیح ، کتاب النکاح : ۲۰۸/۶ ، والابواب والترجم ، ۶۹/۲ ، وتفسیر قرطبی سوره النساء: ۱۳/۵).

٤) الابواب والتراجم : ۶۹/۲).

اووئيل يا ئې درود شريف اووئيلو نو په دې كښې هيڅ باك نشته دې ، ځكه دا دقبلولو دپاره په طور د تمهيد ومقدمه دى. (١)

امام ابوحنيفه رحمه الله او امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائى كه په مجلس كښې دننه ئې قبول اوكړو نو ددې قبلولو اعتبار به وى. ليكن كه مجلس مختلف شو نوبيا اعتبار نشته دې(٢)

دامام بخارى رحمه الله رجحان هم دې طرفته معلوميږى ، اوهغوى دحضرت سهل بن سعد حديث نه استدلال كړې دې. نو فرمائى چه «فيه سهل عن النبى ﷺ» يعنى په دې باره كښې دحضرت سهل مرفوع حديث وارد شوې دې ، چه په هغې كښې د واهبه قصه مذكور ده چه هم په يومجلس كښې ايجاب وقبول سره نكاح منعقد شوې وه حالانكه دايجاب وقبول په مينځ كښې فاصله وه ، نو علامه عينى رحمه الله ليكى:

«والحاصل ان التفريق اذا كان بين الايجاب والقبول فى المجلس لايضر، وان تخلل بينهما كلام، واذا حصل الايجاب فى مجلس والقبول فى آخر، لايجوز العقد قيل : اخذ هذا من حديث الباب فيه نظر، لان قصته واقعة عين فيطرقها احتمال ان يكون قبل عقيب الايجاب». (٣)

دامام بخارى رحمه الله مقصد دادې كه مجلس يو وى نو ايجاب وقبول په مينځ كښې فاصله هم راشى نومضر نه ده ، استدلال كښې دواهبه قصه ئې پيش كړې ده ،ليكن ددې واقعې نه استدلال كښې نظر دې ځكه په دې كښې داتصريح نشته دې چه دايجاب وقبول په مينځ كښې فاصله وه.

حضرت نبى كريم ﷺ چه دنكاح خواهش لرلو والا كوم صحابى رضي الله عنه سره خبرې كړې وې ،په هغې كښې ددې خبرې احتمال دې چه دايجاب نه متصل بعد بغير دڅه فاصلې نه هغه قبول كړې وى نو هله به استدلال مكمل وى ،هركله چه ثابت شى چه خبرې اترې د دايجاب نه پس وى او ددې خبرو اترونه پس بيا قبول كړې وو، نوبيا به ونيلې شى ،كه مجلس يو وى نوبيا دايجاب وقبول په مينځ كښې خبرې مضر نه دى.

٣٥= بَاب إِذَا قَالَ الْخَاطِبُ لِلْوَلِيِّ زَوِّجْنِي فُلَانَةَ فَقَالَ قَدْ زَوَّجْتُكَ بِكَذَا وَكَذَا جَازَ النِّكَاحُ وَإِنْ لَمْ يَقُلْ لِلزَّوْجِ أَرَضِيتَ أَوْ قَبِلْتَ

[٤٨٤٧] حَدَّثَنَا أَبُو النُّعْمَانِ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ أَبِي حَازِمٍ عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ امْرَأَةً أَتَتْ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَعَرَضَتْ عَلَيْهِ نَفْسَهَا فَقَالَ مَا لِي الْيَوْمَ فِي النِّسَاءِ مِنْ حَاجَةٍ فَقَالَ رَجُلٌ يَا رَسُولَ اللَّهِ زَوِّجْنِيهَا قَالَ مَا عِنْدَكَ قَالَ مَا

---

١) ارشادالسارى: ١١/٤٢٠).
٢) الابواب والتراجم: ٢/٦٩).
٣) عمده القارى: ٢/١٣١).

عِنْدِى شَىْءٌ قَالَ اَعْطِهَا وَلَوْ خَاتَمًا مِنْ حَدِيدٍ قَالَ مَا عِنْدِى شَىْءٌ قَالَ فَمَا عِنْدَكَ مِنَ الْقُرْاٰنِ قَالَ كَذَا وَكَذَا قَالَ فَقَدْ مَلَّكْتُكَهَا بِمَا مَعَكَ مِنَ الْقُرْاٰنِ [ر: ۲۱۸٦].

په دې خائې کښې امام بخارى رحمه الله دا ونيل غواړى که چا ولى ته اوونيل چه فلانئ ښځې سره خما نکاح اوکړه او هغه اوونيل چه «زوجتك بكذا وكذا» نو دا نکاح به اوشى او قبلول اوالتماس او درخواست به نکاح قائمقام اوگرزولې شى ، هم دا دحضرات حنفيه ، شوافع او حنابله وغيره مسلك دې. (۱) دې نه پس دا اوونيل چه زه راضى يم يا ما قبوله کړه نو ددې ضرورت نشته دې .

استدلال کښې دواهبه قصه ذکر شوې ده چه په دې کښې حضرت نبى کريم ﷺ صحابى رضي الله عنه په خواست باندې دښځې نکاح نې اوکړه

اووې فرمائيل چه «زوجتكها بما معك من القران» او دې صحابى رضي الله عنه نه دد «قبلت» يا د «رضيت» وغيره الفاظ منقول نه دى. معلوم شو چه التماس او درخواست د قبول قائمقام جوړيدې شى.

قوله: مالى اليوم فى النساء من حاجته: په دې باندې اشکال دى چه حضرت نبى کريم ﷺ ته ضرورت نه وو نو بيانې دې طرفته لاندې باندې ولې کتل ، لکه څنګه چه په بل طريق کښې «فصعد النظر فيها وصوبه» الفاظ راغلى دى. حافظ ابن حجر رحمة الله عليه ددې اشکال په جواب کښې ليکى چه :

«من خصاصه وان لم يرد التزويج وتكون فائدة احتمال انها تعجبه فيتزوجها مع استغنائه حينئذ عن زيادة على من عنده من النساء» (۲)

۳٦= بَاب لَا يَخْطُبُ عَلَى خِطْبَةِ أَخِيهِ حَتَّى يَنْكِحَ أَوْ يَدَعَ

[۴۸۴۸] حَدَّثَنَا مَكِّىُّ بْنُ اِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ قَالَ سَمِعْتُ نَافِعًا يُحَدِّثُ اَنَّ ابْنَ عُمَرَ رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُمَا كَانَ يَقُولُ نَهَى النَّبِىُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنْ يَبِيعَ بَعْضُكُمْ عَلَى بَيْعِ بَعْضٍ وَلَا يَخْطُبَ الرَّجُلُ عَلَى خِطْبَةِ اَخِيهِ حَتَّى يَتْرُكَ الْخَاطِبُ قَبْلَهُ اَوْ يَاْذَنَ لَهُ الْخَاطِبُ [ر: ۲۰۳۲].

په دې خائې کښې دوه مسئلې دى. يو دا چه چا يو خائې ته دنکاح پيغام اوليږلو نو دبل سړى دنکاح دپيغام ليږلو هغه خائې ته څه حکم دې ؟ په دې سلسله کښې به دمخطوبه حالت ته کتلې شى.

که مخطوبه د خاطب پيغام پخپله قبول کړې وى يائې ولى ته د قبليدو اجازت ورکړې وونو

---

۱) الهدايه ۲/ ۲۷۳،وفتح البارى: ۹/ ۲٦۷).
۲) فتح البّارى: ۹/ ۲٤۸).

په دې صورت كښې به بالاتفاق دبل سړى دپاره د نكاح پيغام ليږل حرام دى.
اوكه محطوبه دخاطب پيغام مسترد كړو نوپه دې صورت كښې بالاتفاق دنكاح پيغام ليږل درست دى.
دريم صورت دادې چه مخطوب خاطب طرفته ظاهرى ميلان ظاهركړې وى ، په دې صورت كښې اختلاف دې.
دحضرات حنفيه اومالكيه په نيز په دې صورت كښې دنكاح پيغام وركول جائزدى او دشوافع په نيز هم دا اصح روايت دې ، اوامام احمد رحمه الله نه هم يو روايت ددې مطابق روايت كوى منقول دې.
دامام شافعى رحمه الله نه دويم روايت امام ترمذى رحمه الله د عدم جواز نقل كړې دې، او ا بن قدامه رحمه الله دامام احمد رحمه الله نه هم په دې صورت كښې دعدم جواز قول نقل كړې دې. (۱)
دويمه مسئله داده كه يوسړى چرته دنكاح پيغام ليږلې دې او بل سړى په دې كښې مداخلت اوكړو او خپل ځان دپاره ئې دنكاح پيغام اوليږلو او د دويم سړى نكاح اوشوه نودده دانكاح به معتبره وى اوكه نه ؟
جمهور علماء فرمائى چه دده دانكاح به معتبره وى البته دده گناه اوكړه ، دې به گنهگار وى.(۲)
داود ظاهرى رحمه الله فرمائى چه دده دانكاح به فسخ كړې كيږى كه قبل الدخول وى اوكه بعد الدخول وى.
دمالكيه نه درې اقوال منقول دى، يو دجمهور مطابق دې ، دويم د دواد ظاهرى رحمه الله مطابق اودريم قول دادې چه قبل الدخول به فسخ كړې شى او بعد الدخول به نه فسخ كولې شى(۳)
د امام بخارى رحمه الله دترجمة ا لباب نه معلوميږى چه هغه د داود ظاهرى رحمه الله د مسلك حمايت كوى .
روايت باب كښې خطبه على خطبة اخيه نه منع كړې شوې ده. دجمهور علماء په نيز دا تحريمى دى . ددې وجې هغوى وائى چه داسې كولو والا به گنهگار وى ، علامه خطابى فرمائى چه دا نهى تاديبى ده. لهذا ددوى په نيز خاطب ثانى به گنهگار نه وى. (۴)
[۴۸۴۹] (۵) حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ جَعْفَرِ بْنِ رَبِيعَةَ عَنِ الْأَعْرَجِ قَالَ

---

۱) مذكوره تفصيل دپاره اوگورئ المغنى :۶/۶۰۴_۶۰۶ . شرح نووى مسلم :۱/۴۵۴ ، باب تحريم الخطبه وفتح البارى: ۹/۲۴۹_۲۵۰).
۲) فتح البارى: ۹/۲۵۰).
۳) فتح االبارى: ۹/۲۵۰).
۴) فتح البارى: ۹/۲۴۹).
۵) ۴۸۴۹: واخرجه البخارى ايضا فى كتاب الادب . باب ما ينهى عن التحاسد والتدابر ، رقم الحديث: ۶۰۶۴ . وفى كتاب الادب ايضا باب يايهاالذين امنوا اجتنبوا كثيرا من الظن ان بعض الظن اثم ، رقم الحديث : ۶۰۶۶ . وفى كتاب الفرايض باب تعليم الفرايض . رقم الحديث: ۶۷۲۴ . ولم يخرجه احدمن من اصحاب الصحاح الستة سوى البخارى).

قَالَ ابُو هُرَيْرَةَ يَأثُرُ (۱) عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِيَّاكُمْ وَالظَّنَّ فَاِنَّ الظَّنَّ اكْذَبُ الْحَدِيثِ وَلَا تَجَسَّسُوا وَلَا تَحَسَّسُوا وَلَا تَبَاغَضُوا وَكُونُوا اخْوَانًا وَلَا يَخْطُبُ الرَّجُلُ عَلَى خِطْبَةِ اخِيهِ حَتّٰى يَنْكِحَ اَوْ يَتْرُكَ [ر: ۵۷۱۷، ۵۷۱۹، ۶۳۴۵].

دا حدیث ا مام بخاری رحمه الله په دې مقام با ندې په رومبی ځل ذکر اوفرمائیلو. او اصحاب صحاح کښې دامام نه علاوه بل چا نه دې ذکر کړې. ددې تشریح مخکښې په کتاب الادب کښې به راشی. دروایت په آخر کښې دی چه «ولایخطب الرجل علی خطبة اخیه حتی ینکح اویترك» هم ددې جملې په وجه امام دا حدیث په دې ځائې کښې بیان کړې دې ، یعنی هېڅوك سړی دې دخپل رور په نکاح باندې د نکاح پیغام اونه لیږی. تر دې پورې چه خاطب اول نکاح اوکړی (نو په دې صورت کښې دبل دپاره دپیغام لیږلو هېڅ ګنجائش پاتې نشو) یا هغه نې پخپله پرېږدی او لاس ترې اونیسی (نو په دې صورت کښې به ددویمې نکاح پیغام لیږلې شی. حافظ ابن حجر هم ددې جملې تشریح کوی:

«قوله : حتی ینکح : ای حتی یتزوج الخاطب الاول فیحصل الیاس المحض ، وقوله : اویترك : ای الخاطب الاول التزویج فیجوز حینئذ للثانی الخطبة فالغایتان مختلفتان : الاولی ترجع الی الرجاء ونظیر الاولی قوله تعالی حتی یلج الجمل فی سم الخیاط» (۲)

د «خطبة علی خطبة » سلسله کښې امام موفق فرمائی چه په دې کښې دتحریم قول راجح دې.(۳)

علامه ابن جریر طبری رحمه الله دبعضو علماء کرام نه نقل کړې دی چه د «یخطب الرجل ....» نهی منسوخ شوې ده.(۴) او دنسخ دپاره د فاطمه بنت قیس واقعه دلیل په طور پیش کوی چه حضرت نبی کریم ﷺ په خدمت کښې راغلبه او وې وئیل چه ماته معاویه بن ابی سفیان او دابو الجهم دواړو پیغام دنکاح ورکړې دې نو حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه «اما معاویة فصعلوك لا مال له وما ابوالجهم فلا یضع عصاه من منکبه انکحی اسامة» (۵)

لیکن علامه ابن جریر طبری رحمه الله ددې دعوې تردید کوی او فرمائی چه مذکوره قصه باندې په نسخ باندې استدلال کول درست نه دی ځکه چه فاطمه بنت قیس حضرت نبی

---

۱) ۴۸۴۹: (یاثری) یروی (ایاکم والظن) احذروا سوء الظن بالمسلمین ، ولا تحدثوا عن عدم علم ویقین ، لا سیما فیما یجب فیه القطع (اکذب الحدیث) أی یقع الکذب فی الظن اکثر من وقوعه فی ا لکلام (تجسسوا) من التجسس وهو البحث عن العورات والسیئات (تحسسوا) من التحسس وهو طلب معرفة الاخبار والاحوال الغائبة عنه (حتی ینکح) أی فاذا نکح فقد امتعت خطبة الثانی قطعا.

۲) فتح الباری: ۲۵۱/۹).

۳) المغنی لابن قدامه ، کتاب النکاح ، خطبه المراه واحکامها:۱۰۹/۷).

٤) فتح ا لباری:۲۵۰/۹).

۵) اوګورئ سنن ترمذی :۲۱۵/۱ ، کتاب النکاح ، باب ماجاء ان لا یخطب الرجل علی خطبه اخیه).

کریم ﷺ سره مشوره کولو له راغلې وه او حضرت نبی کریم ﷺ هغې ته مشوره ورکړې وه . حضرت اسامه ددې حضراتو په خطبه باندې هېڅ مداخلت نه دې کړې (١)

بیا دا هم دې په ذهن کښې وی چه «لایخطب الرجل علی خطبة اخیه» کښې دمسلمانانو خطبه مراد ده چه دوی ته ددې خبرې اجازت نشته دې چه هغوی دې د نوور مسلمانانو په خطبه کښې دخل اندازی اوکړی .

لیکن که یو ذمی یو ځائې ته دنکاح پیغام اولیږلو نومسلمان هغه ځائې ته دنکاح پیغام لیږلې شی یا نه ؟

امام اوزاعی رحمه الله امام احمد رحمه الله ، ابن المنذر رحمه الله او علامه خطابی رحمه الله فرمائی چه د ذمی په خطبه باندې مسلمان خطبه کولې شی، په دې کښې هېڅ حرج نشته دې.(٢).

خو جمهور وائی چه ذمی هم مسلمانانو سره ملحق دې ، چه څنګه دمسلمان په خطبه باندې خطبه کول صحیح نه دی داشان دذمی په خطبه باندې خطبه کول صحیح نه دی،اوپه روایت کښې چه کوم«لایخطب الرجل علی خطبة اخیه»فرمائیلې شوی دی په هغې کښې د«اخی» ذکر عموم اودغلبه په طور دې ، (٣) والله اعلم.

٤٧=باب تفسیر ترك الخطبة

[٤٨٥٠] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي سَالِمُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ أَنَّهُ سَمِعَ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا يُحَدِّثُ أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ حِينَ تَأَيَّمَتْ حَفْصَةُ قَالَ عُمَرُ لَقِيتُ أَبَا بَكْرٍ فَقُلْتُ إِنْ شِئْتَ أَنْكَحْتُكَ حَفْصَةَ بِنْتَ عُمَرَ فَلَبِثْتُ لَيَالِيَ ثُمَّ خَطَبَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَقِيَنِي أَبُو بَكْرٍ فَقَالَ إِنَّهُ لَمْ يَمْنَعْنِي أَنْ أَرْجِعَ إِلَيْكَ فِيمَا عَرَضْتَ إِلَّا أَنِّي قَدْ عَلِمْتُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ ذَكَرَهَا فَلَمْ أَكُنْ لِأُفْشِيَ سِرَّ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَوْ تَرَكَهَا لَقَبِلْتُهَا

تَابَعَهُ يُونُسُ وَمُوسَى بْنُ عُقْبَةَ وَابْنُ أَبِي عَتِيقٍ عَنِ الزُّهْرِيِّ [ر:٣٧٨٣].

امام بخاری رحمه الله په ترجمة الباب کښې عنوان قائم کړې دې. «خطبه» د ترك کولو تفسیر او ددې لاندې د ام المومنین حضرت حفصه رضی الله عنها واقعه ذکر ده.

① ابن بطال رحمه الله فرمائی په ظاهره دحضرت حفصه رضی الله عنها د دې واقعې څه مناسبت ترجمة الباب معلوم نه دې، ځکه چه په دې واقعه کښې خطبه دترك کولو څه تفسیر نشته دې .

بیا فرمائی چه امام بخاری رحمه الله دا حدیث ددې باب لاندې ذکر کړو او یو لطیف او دقیق استنباط ئې کړې دې، او هغه دا چه دا حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه ته معلوم وو چه حضرت نبی کریم ﷺ کله دنکاح پیغام راولیږی نو حضرت عمر فاروق رضی الله عنه به دا نه رد کوی. امام

---

١) فتح الباری: ٢٥٠/٩).
٢) فتح الباری: ٢٥٠/٩).
٣) فتح الباری: ٢٥٠/٩_٢٥١).

بخاري رحمه الله دا واقعه ذكر كړې او فرمائيلي ئې دی چه «خطبة علی خطبة الأخ» چه ممنوع ده نوددې صرف دا يو صورت نه دې چه سړی د نكاح پيغام اوليږلواو بل سړې دې دنكاح پيغام نه ليږی بلكه په دې كښې هغه صورت هم داخل دې چه كله يوداسې سړی د نكاح اراده اوكړه او خيال ئې ظاهر كړو چه ولی ته كله ددې خيال علم اوشی نو هغه به دخپل موليه په نكاح كښې ده ته ترجيح وركوی نو داسې صورت كښې هم ددې لوئې سړی په مقابله كښې خطبه نه دی پيش كول پكار. لكه څنګه چه حضرت ابوبكر صديق رضی الله عنه ته دحضرت نبی كريم صلی الله عليه وسلم دخيال علم وو. نوهغه خپله خطبه پيش نه كړه. امام بخاری رحمه الله دا واقعه په دې باب كښې ذكر كړه اود خطبې ترك كول دې بل تفسير ته ئې اشاره كړې ده.(۱)

④ ابن منير مالكی رحمه الله يو بله خبره فرمائيلي ده، هغوی وئيلی دی چه امام بخاری رحمه الله ددې باب لاندې مذكوره واقعه ذكر كوی د «خطبة علی الخطبة» مطلقًا ممانعت بيان فرمائيلي دې. څكه چه مذكوره واقعه كښې حضرت ابوبكر صديق رضی الله عنه انكاركړې وو. حالانكه دخاطب او ولی په مينځ كښې تر اوسه پورې خبره پخه شوې نه وه. او پيغام هم نه ووليږلي شوې. اوسه پورې ئې صرف اراده اوخيال كړې وو، ددې باوجود حضرت ابوبكر صديق رضی الله عنه خطبه وركولو نه انكار كړې وو، نو چه په كوم صورت كښې پيغام دنكاح ليږلې شوې وی په هغې كښې به طريق اولی خطبه نه دې ليږل پكار. (۲)

حافظ ابن حجر رحمه الله دابن بطال رحمه الله قول اولی او دقيق ګڼړلي دې. چنانچه هغه فرمائی چه «وما أبداه ابن بطال أدق وأولى» (۳)

حضرت شيخ الحديث مولانا محمد ذكريا رحمه الله هم دا راجح ګڼړلي دې ، هغوی ليكی چه «قلت: وحاصل ما أبداه ابن بطال وهو الأوجه عندی ان الامام البخاری اشار الی ان ارادة الرجل الخطبة ايضا داخل فی الخطبة لان ابابكر امتنع عن الخطبة لعلمه ارادته صلی الله عليه وسلم الخطبة مع انه عليه السلام لم يخطب بعد، واذا كانت ارادة الخطبة فی حكم الخطبة فترك الا ارادة تركها» (۴)

④ بعضې حضراتو د ترجمة الباب يو دريم مطلب بيان كړې دې اوهغه دا چه دترك خطبه تفسير نه دامام رحمه الله مراد دادې چه څوك سړې خطبه پيش كړې او دې نه پس هغه خطبه پريښودل غواړی نو داسې نه پريږدی بلكه ددې د پريښودو وجه اوعذر دې بيان كړې ، څكه دعذربيانولو نه بغير ولی به عار محسوسوی. (۵)

ليكن روايت په دې مراد باندې دلالت نه كوی څكه چه حضرت ابوبكر صديق رضی الله عنه خطبه نه وه وركړې.

---

۱) فتح الباری: ۲۵۲/۹).
۲) اوګورئ: المتواری علی تراجم ابواب البخاری لابن المنير : ۲۸۵).
۳) فتح الباری: ۲۵۲/۹).
٤) اوګورئ الابواب والتراجم :۶۰/۲).
۵) اوګورئ الابواب والتراجم: ۷۰/۲).

قوله: تابعه يونس وموسى بن عقبة وابن ابى عتيق عن الزهري: يزيد بن يونس بن زيد متابعت لره دار قطني موصولاً نقل كړې دې. دموسى بن عقبه او دابن ابى عتيق متابعت ذهلى په «زهريات» كښې موصولاً نقل كړې دې. (١)

په «تابعه» كښې ضمير مفعول «شعيب» طرفته ته راجح دې يعنى ددې حضراتو دشعيب متابعت اوكړو.

٤٨=بَاب الْخُطْبَةِ

په نكاح كښې خطبه وئيلى كيږى ، دداود ظاهرى رحمه الله وغيره په نيزدا واجب ده ليكن جمهور علماء وائى چه په نكاح كښې خطبه سنت يا مستحب ده. (٢)

چه كوم حضرات دوجوب قائل دى هغوى وائى چه حضرت نبى كريم ﷺ د حضرت فاطمه رضي الله عنها په نكاح كښې خطبه وئيلې وه او ددوى افعال محمول على الوجوب دى. (٣)

او چه كوم حضرات دعدم وجوب قائل دى ، دهغوى استدلال دواهبه قصه ده.

چه په دې كښې خطبې نه بغير «زوجناكها بما معك من القران» وئيل او حضرت نبى كريم ﷺ نكاح كړې وه.

علامه قسطلانى رحمه الله ليكلى دى چه په نكاح كښې څلور خطبې مستحب دى.

① يو دخاطب خطبه دپيغام نه مخكښې ② دويمه ددې پيغام دقبليدو نه مخكښې ③ دريمه خطبه ايجاب نه مخكښې دولى طرفنه ④ او څلورمه نكاح كوونكى طرفنه دقبول نه مخكښې. (٤)

اصحاب السنن دنكاح خطبه نقل كړې ده چه دهغې الفاظ دى:

«ان الحمد لله نحمده و نستعينه ونستغفره ونعوذ بالله من شرور انفسنا ومن سيئات اعمالنا من يهده الله فلا مضل له ومن فلا هادى له واشهد ان لا اله الا الله وحده لاشريك له وان محمدا عبده و رسوله ﷺ وعلى آله وصحبه يا ايها الذين امنوا اتقوا الله حق تقاته ولا تموتن الا وانتم مسلمون ، يا ايها الناس اتقوا ربكم الذى خلقكم الى قوله تعالى رقيبا يا ايها الذين امنوا اتقوا الله وقولوا قولا سديدا الى قوله عظيما» (٥)

[٤٨٥١] حَدَّثَنَا قَبِيصَةُ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ زَيْدِ بْنِ اَسْلَمَ قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ عُمَرَ يَقُولُ جَاءَ رَجُلَانِ مِنَ الْمَشْرِقِ فَخَطَبَا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ مِنَ الْبَيَانِ لَسِحْرًا [ر: ٥٤٣٤]

---

١) فتح البارى: ٢٥٢/٩ ، ارشادالسارى: ٤٢٤/١١).
٢) عمده القارى: ١٣٤/٢٠).
٣) عمدة القارى: ١٣٤/٢٠).
٤) ارشادالسارى : ٤٢٥/١١).
٥) ارشادالسارى: ٤٢٥/١١).

امام بخارى رحمه الله داحديث په رومبى خل ذكر اوفرمائيلو. او مخكښې كتاب الطب كښې به هم دا ذكر كوى. په دې كښې دى چه د(مدينې منورې) مشرق (يعنى نجد)نه دوه سړى راغلل او دواړو خطبه اوونيله نو په دې باندې حضرت نبى كريم ﷺ اوفرمائيل چه ((ان من البيان لسحرا)) يعنى بعضې بيان دجادو پشان تاثير لرى.
په دې دواړوكښې ديو نوم زبرقان بن بدر وو او دبل نوم عمرو بن الاهيم وو. دوى په كال نهمه هجرتى كښې راغلى وو. (۱)
ددې حديث په ترجمة الباب كښې د ذكر كولو څه وجه د ه؟علامه انور شاه كشميرى رحمه الله فرمائى چه امام بخارى رحمه الله ته دخطبه نكاح په سلسله كښې چونكه دخپل شرط مطابق څه حديث ملاؤ نشو نو ددې وجې هغوى حديث باب ذكر اوفرمائيلو. ځكه چه په دې د اسم جنس خطبه ذكر دې.نو هغه فرمائى چه((الخطبة وهى مستحبة الا ان الحديث فيه ليس على شرطه فاتى بحديث فى الجنس))(۲)
بعض حضرات فرمائى چه دا حديث ئې په دې باب كښې ذكر امام بخارى رحمه الله په نكاح كښې دخطبه مشروعيت او ووجه حكمت طرفته اشاره كړې ده. په حديث كښې دى چه په بعضو بيانونو كښې دجادو پشان اثر وى، انسان ددې نه يودم متاثره كيږى.او چونكه دنكاح په وخت كښې اولياء ته دخپلو بچو د جدائى احساس وى نو خطبه مشروع كړې شوه چه ددې اثر نه متاثره شى او داولياء طبعى تاثر ختم شى. (۳)
قوله: ان من البيان لسحرا: ددې باره كښې دعلماؤ دوه قولونه دى:
① بعضې حضرات وائى چه دحضرت نبى كريم ﷺ مقصود ددوى دخطبې مدح كول وو او دا وئيل وو چه ددوى انداز بيان د جادو پشان اثر لرى. (۴)
② او بعضې حضرات فرمائى چه ددې جملې نه غندنه (مذمت) مقصود دې ، دا وئيل دى چه دا خو بالكل هغه انداز دې لكه څنګه چه دجادو انداز وى چه باطل لره حق او حق لره باطل كښې ظاهروى. (۵)

۴۹=بَابُ ضَرْبِ الدُّفِّ فِي النِّكَاحِ وَالْوَلِيمَةِ

[۴۸۵۲] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ الْمُفَضَّلِ حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ ذَكْوَانَ قَالَ قَالَتْ الرُّبَيِّعُ بِنْتُ مُعَوِّذِ بْنِ عَفْرَاءَ جَاءَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَخَلَ حِينَ بُنِيَ عَلَيَّ فَجَلَسَ عَلَى فِرَاشِي كَمَجْلِسِكَ مِنِّي فَجَعَلَتْ جُوَيْرِيَاتٌ لَنَا يَضْرِبْنَ بِالدُّفِّ وَيَنْدُبْنَ مَنْ قُتِلَ مِنْ

---

۱) ارشاد السارى:۱۱/۴۴۵).
۲) فيض ا لبارى: ۴/ ۲۹۰).
۳) فتح البارى: ۹/۲۵۳).
۴) فتح البارى: ۹/۲۳۸ ، كتاب الطب ، باب ان من البيان لسحرا).
۵) فتح البارى: ۹/۲۳۸ ، كتاب الطب).

ابَابِي يَوْمَ بَدْرٍ إِذْ قَالَتْ اِحْدَاهُنَّ وَفِينَا نَبِيٌّ يَعْلَمُ مَا فِي غَدٍ فَقَالَ دَعِي هَذِهِ وَقُولِي بِالَّذِي كُنْتِ تَقُولِينَ [ر:۳۷۸۰].

دامام بخارى رحمه الله مقصد دادې چه‌په نكاح او وليمه كنبې په دف غړولو كنبې څه باك نشته دې. امام احمدبن حنبل رحمه الله فرمائى چه دنكاح اظهار مستحب دې ، او په دې كنبې دف غړول پكار دى چه ښه مشهور معروف شى. (۱)

حضرات فقهاءكرام د دف غړولو اجازت وركړې دې . په دې شرط چه هغه د حدودو دننه وى او آلات دموسيقى ستار او هارمونيم وغيره دې سره نه وى. (۲)

په نكاح كنبې دشهادت حكم : دامام بخارى رحمه الله ددې ترجمې يو مختلف فيه مسئله طرفته اشاره هم كولې شى ، اودهغه دا چه‌په نكاح كنبې اشتهار او اعلان كافى دې ، د شهادت ضرورت نشته دې يا اعلان واشتهار كافى نه دې شهادت ضرورى دې، دا مسئله مختلف فيها ده. (۳)

دامام مالك رحمه الله مشهور مسلك دادې چه‌په نكاح كنبې اعلان كافى دې،دشهادت ضرورت نشته،دامام احمدبن حنبل رحمه الله هم روايت ددې مطابق دې. (۴)

باقى ائمه كرام دشهادت ضرورت گنړى، (۵) دامام مالك رحمه الله اصل مسلك دادې چه‌دنكاح په وخت كنبې شهادت ضرورت نشته دې،البته زفاف نه قبل دشهادت هم ضرورت گنړى.(۶)

مخكنبې روايت كنبې دبچيانو دپاره د دف غړولو ذكر دې ، ددې نه امام بخارى رحمه الله ثابت كړې دى چه‌د دف غړول دبناء په وخت كنبې جائز دى. ددې حديث تشريح په كتاب المغازى صفحه ۱۵۴ باندې تيره شوې ده.

۵۰=بَاب قَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى : وَآتُوا النِّسَاءَ صَدُقَاتِهِنَّ نِحْلَةً (النساء: ۴) وَكَثْرَةِ الْمَهْرِ وَأَدْنَى مَا يَجُوزُ مِنْ الصَّدَاقِ

وَقَوْلِهِ تَعَالَى: وَآتَيْتُمْ إِحْدَاهُنَّ قِنْطَارًا فَلَا تَأْخُذُوا مِنْهُ شَيْئًا (النساء:۲۰).

وَقَوْلِهِ: جَلَّ ذِكْرُهُ أَوْ تَفْرِضُوا لَهُنَّ فَرِيضَةً (البقرة:۲۳٦).

وَقَالَ سَهْلٌ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَوْ خَاتَمًا مِنْ حَدِيدٍ [ر:۲۱۸٦].

مسئله اقل مهر : په دې باب كنبې امام بخارى رحمه الله مسئله د اقل مهر بيانول غواړى. په دې خبره باندې خود ټولو اتفاق دې چه مهر شرائط نكاح كنبې داخل دې البته په دې

۱) اوګورئ الانصاف فى معرفه الراجع من الخلاف على مذهب الامام احمد بن حنبل رحمه الله . كتاب النكاح: ۳٤۱/۸).

۲) تعليقات لا مع الدرارى: ۳۰۷/۹).

۳) عمده القارى: ۱۳۶/۲۰).

٤) الهدأيه: ۲۷٤/۲).

۵) الهدايه: ۲۷٤/۲ . وفتح التقدير: ۱٤۰/۳ _ ۱٤۱).

۶) فتح البارى:۹/).

كښې اختلاف دې چه اقل مهر څومره پکار دې؟.

① ظاهريه او علامه ابن حزم فرمائي چه هر څيز مهر جوړيدېشي ، تر دې د اوربشو يو دانه هم مهر جوړيدېشي. (۱)

② ابن شبرمه رحمة الله عليه فرمائي چه اقل مهر پنځه درهمه دې (۲)

③ دمالكيه په نيز اقل مهر ربع دينار دې ، هم دا سرقه كښې دهغه په نيز دقطع د نصاب دې، دربع يد دينارعوض كښې سرقه كښې يو اندام پريكول دي اودلته ديو اندام ملكيت نه حاصليږي: (۳)

④ دامام شافعي رحمه الله او امام احمد بن حنبل رحمه الله په نيز چه كوم څيز په قيمت كښې ايږدى هغه مهر جوړيدېشي ، دامام بخاري رحمه الله رجحان هم دې طرفته معلوميږي (۴)

⑤ دحضرات حنفيه په نيز اقل مهر لس درهمه‌دې او همدا مقدار دهغوى په نيز سرقه كښې دقطع يد نصاب دې (۵)

دلائل حنفيه : حنفيه دحضرت جابر بن عبدالله رضي الله عنه د روايت نه استدلال كوى چه حضرت نبى كريم صلى الله عليه وسلم فرمائيلي دى چه «**لاتنكحوا النساء الا الاكفاء ولايزوجهن الا الاولياء ولا مهر دون عشرة دراهم**» دار قطني اوبيهقي دا روايت نقل كړې دې . (۶)

ليكن ددې په سند كښې «مبشر بن عبيد» يو متروك راوى دې ، امام احمد بن حنبل رحمه الله كذب طرفته دده نسبت كړې دې. (۷). اودده شيخ حجاج بن ارطاس دې ، هغه هم ضعيف او مدلس دې (۸)

دحضرت جابربن عبدالله رضي الله عنه دمذكوره روايت‌يو بل سندهم دې چه په هغې كښې حجاج بن ارطاة نه دې ، هغه ابويعلى‌په خپل مسند كښې ، ابن حبان په كتاب الضعفاء كښې او ابن عدى نقل كړې دې. خو هغه هم د مبشر بن عبيد په‌طريق سره منقول دې.(۹)البته محقق ابن همام دا حديث دابن حاتم په طريق نقل كړې دې چه دهغې سند حسن دې،او هغوى د

---

۱ اوګورئ المحلى لابن حزم: ۴۹۴/۹).

۲) فتح الباري: ۲۶۲/۹).

۳) فتح الباري: ۲۶۲/۹).

٤) فتح الباري: ۲۶۲/۹).

٥) اوګورئ هدايه‌مع فتح التقدير ، كتاب النكاح ، باب المهر : ۳۰۵/۳).

۶) اجرجه الدار قطني ۲٤٥/۳ ، والبيقهى : ۱۳۳/۷).

۷) فتح التقدير: ۲۸۰/۳ ، وميزان الاعتدال: ٤۳۳/۳ ، وكتاب الضعفاء الكبير: ۳۳٥/٤ ، والكامل لابن عدى: ٤۱۷/۶).) اګر چه بعض ځايونو كښې امام ترمذى رحمه الله دده روايتونوته حسن ونيلى دى تهذيب الكمال :٤۲٥/٥ رقم الترجمه: ۱۱۲۱).

۸) اوګورئ فيض البارى: ٤/۲۹۰) حضرت كشميرى رحمه الله هم دده تحسين كړې دې،

۹) اوګورئ الكامل فى ضعفاء الرجال: ٤۱۸/۶).

حافظ ابن حجر حوالې سره نقل کړې دې چه «انه بهذا الاسناد حسن ولا اقل منه»(۱) دا سناد حسن دی ، دحسن نه کمه درجه ددې نه دد ، ابن امیر الحاج هم دده تحسین کړې دې (۲)
لهذا مذکوره روایت قابل احتجاج اولائق استدلا دې.
ددې تائید حضرت علی رضی الله عنه داثرنه هم دې ، چه هغه دارقطنی په مخلف طرق سره ذکر کړې دې . «لامهر اقل من عشرة دراهم» (۳)
داشان په قران کریم کښې دی چه ﴿قَدْ عَلِمْنَا مَا فَرَضْنَا عَلَيْهِمْ فِيٓ أَزْوَاجِهِمْ﴾ دفرض معنی مقرر کول دی چه ددې نه معلومیږی چه مهر شرعًا مقرر دې ، لیکنم دا آیت بیان مقدار کښې مجمل دې او دحضرت جابر بن عبدالله رضی الله عنه حدیث واحد حدیث دې چه هغه ددې مقدار تفصیل کړې دې او ددې اجمال دپاره هغه بیان اوګنړلې شو، ددې نه علاوه هیڅ بل حدیث په دې سلسله کښې نه دې روایت شوې
دحضرات حنفیه مسلک باندې یو اشکال: دحضرات حنفیه مسلك باندې یو اعتراض داکیږی چه قران کریم کښې ﴿وَآتُوا النِّسَاءَ صَدُقَاتِهِنَّ نِحْلَةً﴾ مطلق وارد شوی دی.مطلق لره خو په خپل اطلاق باندې پریخودل پکاردی.اوقلیل اوکثیرهریو لره مهرجوړول پکار دی.مذکوره حدیث په خبر واحد دې او خبر واحد مطلق مقید نه شی کولې لکه څنګه چه دحنفیه مسلك دې.
بعضې حضرات ددې جواب کوی چه کتاب الله دمقدار بیان کښې مطلق نه دی بلکه مجمل دی او حدیث نه ددې بیان کیږی او خبر واحد بیان دپاره قابل قبول وی.
لیکن دا جواب ضعیف دې او مذکوره آیت مطلق دې ، داشان ﴿وَأُحِلَّ لَكُم مَّا وَرَآءَ...الخ﴾ هم مطلق دې .اګر چه ددې نه پس﴿ وَأُحِلَّ لَكُم مَّا وَرَآءَ...الخ﴾ کښې﴿ وَأُحِلَّ لَكُم مَّا وَرَآءَ...الخ﴾ لره حضرات حنفیه د ﴿وَأُحِلَّ لَكُم مَّا وَرَآءَ...الخ﴾ په معنی کښې اخلی او استدلال ئې ترې کړې دې چه الله ﷻ مقدار مقرر فرمائیلې دې . لیکن هغه مقدار مجمل دې اومذکوره حدیث جابر کښې ددې مقدار بیان دې، لیکن علامه ابن همام فرمائیلی دی چه په آیت کریمه کښې دمقدار دمعلومیدو نسبت الله ﷻ خپل طرفته کړې دې چه مونږ کوم مقدارمقرر کړې دې هغه معین مقدار مونږ ته معلوم دې.دخلقو دپاره ددې مقدار تعیین نه آیت کریمه خاموش دې.
دآیت کریمه دسیاق وسباق په وجې سره که مهر هم مراد واخستلې شی نو بیا به هم هغه دخلقودپاره متعین مقدار تعیین لره مستلزم نه دی. زیات نه زیات نفس وجوب ثابتوی.
باقی دخلقو په نسبت سره مقدار تعیین نه په دې کښې تفصیلاً دې او نه اجمالاً حدیث جابر بیان هم په هغه وخت کښې جوړیدیشی. هرکله چه خلقو دپاره دمقدار تعیین په دې کښې مجملاً تسلیم کړې شی . لهذا ددې نه دحنفیه مذکوره انداز نه استدلال کول درست نه دی ، چنانچه هغه لیکی چه :

---

۱) فتح التقدیر: ۲۸۱/۳ _ ۲۸۲).
۲) فتح الملهم :۳۸۰/۳. باب الصداق).
۳) اوګورئ سنن دارقطنی : ۲۴۵/۳ ، وسنن بیهقی: ۲۴۰/۷).

«اِنما افاد النص معلومية المفروض له سبحانه والاتفاق على انه فى الزوجات والمملوكين مايكفى كلا من النفقة والكسوة والسكنى فهو مراد من الاية قطعا وكون المهر ايضا مراد بالسياق ... لايستلزم تقديره بمعين» (١)

د شافعيه او حنابله دلائل: حضرات شافعيه او حنابله يو خو دقران پاك دآيت نه استدلال كوى او امام بخارى رحمه الله په دې خائې كښې فرمائى چه په دې كښې مطلق دمال ذكر دې ، هيڅ معين مقدار نشته دې .
نور هغه څو احاديثو نه استدلال كوى.

① دترمذى او ابن ماجه حديث دې «انه ﷺ اجاز نكاح امراة على نعلين» چه حضرت نبى كريم ﷺ په نعلينو باندې نكاح دښځې جائز كړې ده.،
ليكن دا حديث ضعيف دې ،اګر چه ترمذى ددې تصحيح كړې ده ، ليكن په دې كښې عاصم بن عبيدالله يو ضعيف راوى دې. (٢)

② ددوىدويم استدلال دحضرت جابر رضي الله عنه حديث دې «من اعطى فى صداق مراة مل كفيه سويقا او تمرا فقد استحل» (٣) په دې كښې يو موټئ سويق او تمر دنكاح دپاره كافى ګڼړلې شوى دى.
ليكن دا حديث هم ضعيف دې ځكه چه ددې سند كښې اسحاق بن جبريل او مسلم بن رومان او دوى دواړه مجهول دى (۴)

③ دشوافع اوحنابله دريم استدلال د دار قطنى او طبرانى روايت نه دې «ادو العلائق قيل : وما العلائق ؟ قال ماتراضى عليه الاهلون ، ولوقضيبا من اراك» (۵) يعنى د اراك دونې بناخ باندې هم كه طرفين راضى وى نونكاح به صحيح شى.
ليكن د دې حديث په سند كښې محمد بن عبدالرحمان يو ضعيف راوى دې ددې وجې قابل احتجاج نه دې . (۶)

④ دشوافع اوحنابله څلورم استدلال دحضرت سهيل رضي الله عنه حديث نه دې اوهغه صحيح حديث دې،چه په هغې كښې حضرت نبى كريم ﷺ فرمائيلى دى چه «لوخاتما من حديد».

⑤ ددوى پنځم استدلال د حضرت عبدالرحمان بن عوف رضي الله عنه حديث باب نه دې چه كله

---

١) فتح التقدير: ٣٠٩/٣).
٢) الحديث اخرجه الترمذى ١١١٣ ،وابن ماجه : ١٨٨٨ ، واحمد : ٣/ ٤٤٥ ، وقال ابن الجوزى فى التحقيق فى اسناده عاصم بن عبيدالله ، قال ابن معين : ضعيف لا يحتج به ، وقال ابن حبان : كان فاحش ا لخطاء فترك ، قاله الزيلعى فى نصب الرايه :٢٠٠/٣ ، وقال ابن ابى حاتم فى علله : ١٢٧۶ ، سالت ابى عن هذا الحديث فقال : هو منكر وعاصم منكر الحديث).
٣) فتح التقدير: ٣٠٨/٣).
٤) فتح القدير: ٣٠٨/٣).
٥) اوګورئ سنن دارقطنى ٢٤٤/٣ ، وفتح التقدير: ٢٠٧/٣).
۶) فتح التقدير:٣٠٨/٣ ، ونصب الرايه اللزيلعى:٢٠٠/٣).

هغوی حضرت نبی کریم ﷺ ته دخپلې نکاح پیغام ورکړو نو حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه "په مهر کښې دې څه ورکړل ؟ "حضرت عبدالرحمان رضی الله عنه اوفرمائیل چه ((وزن نواة من ذهب))او دا حدیث صحیح دې.

دحضرات حنفیه او مالکیه طرفنه ددې حدیثونو مختلف جوابات ورکړې شوی دی:

① مشهور جواب دادې چه ددې نه مراد مهر معجل دې . ابوالحسن ابن قصار مالکی هم دا جواب کړیدې. (۱)

②بعضو داواقعات په خصوصیت باندې محمول کړی دی . (۲) لیکن د خصوصیت دعوی به په هغه وخت کښې وی چه کله دخصوصیت دلیل هم موجود وی او په دې ځائې کښې داشان څه دلیل نشته دې.

③ علامه انورشاه کشمیری رحمه الله فرمائی چه ابتداء داسلام کښې چونکه مسلمانان غریب وو اوعسر اوتنګی وه نو ددوجې په هغه وخت کښې شریعت بیشکه دمهر په معامله کښې داشان رعایت کړې وو لیکن دې نه پس کله چه الله ﷻ فراخي اومالداری راوستله نوبیا په مهر کښې زیاتوالې اوکړې شو نو فرمائی چه :

((والرای فیه عندی ان المهر وکذا نصاب السرقة کانا قلیلین فی اول الاسلام لعسر حال المسلمین فلما وسع الله تعالی علیهم زید فی ا لمهر ونصاب السرقة ایضا حتی استقر العمل علی عشرة دراهم فیهما فلا نسخ عندی وحینئذ جاز ان یکون نحو خاتم حدید تمام المهر فی زمن)) (۳)

امام بخاری رحمه الله دا ترجمة الباب قائم کړی دی اودا خبره ئی بیان کړې ده چه مال قلیل او کثیر دواړه مهر جوریدیشی نو((واتوالنساء صدقاتهن نحلة)) او((تفرضوالهن فریضة))دادواړه آیتونه مطلق دی ، قلیل اوکثیر دواړو لره شامل دی او آیت کریمه ((واتیتم احداهن قنطارا فلا تاخذوا منه شیئا))لره په ترجمة الباب کښې((وکثرة المهر))دپاره په طور دلیل پیش کړې دې ، په دې آیت کریمه حضرت عمر فاروق رضی الله عنه په دور کښې یوې ښځې کثرت مهر باندې استدلال کړې وو ،حضرت عمر فاروق رضی الله عنه فرمائیلی دی چه ((لاتغلوا فی مهور النساء))دښځو مهرونه زیات مه کوئی.نویو ښځې اووئیل ((لیس ذالك لك یا عمر، ان الله یقول ، واتیتم احداهن قنطارا من ذهب))(دحضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه په قرات کښې داشان دی ((قنطارا))نه پس((من ذهب)) اضافه کړې شوې ده). نو په دې باندې حضرت عمر فاروق رضی الله عنه اوفرمائیل چه((امراة خاصمت عمر فخصمته)).(۴)

---

۱) صاحب فتح التقدیر هم دا حدیث په مهر معجل باندې محمول کړې دې اوګورئ فتح ا لقدیر: ۳۰۶/۳ ، ۳۰۸).

۲) اوجز المسالک :۲۹۵/۹ . کتاب النکاح . باب ماجاء فی الصداق).

۳) فیض الباری: ۲۰۹/٤).

٤) فتح الباری: ۲۵۵/۹).

[۴۸۵۳] حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ صُهَيْبٍ عَنْ أَنَسٍ أَنَّ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ عَوْفٍ تَزَوَّجَ امْرَأَةً عَلَى وَزْنِ نَوَاةٍ فَرَأَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَشَاشَةَ الْعُرْسِ فَسَأَلَهُ فَقَالَ إِنِّي تَزَوَّجْتُ امْرَأَةً عَلَى وَزْنِ نَوَاةٍ وَعَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍ أَنَّ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ عَوْفٍ تَزَوَّجَ امْرَأَةً عَلَى وَزْنِ نَوَاةٍ مِنْ ذَهَبٍ [ر: ۱۹۴۳].

په روايت كښې دى چه‌حضرت عبدالرحمان بن عوف رضي الله عنه يو ښځې سره په وزن نواة باندې نكاح‌اوكړه ، دوزن نواة تفسير كښې لوئې اختلاف دې.

امام شافعى رحمه الله فرمائى چه نواة پنځه درهمه دى ، امام بخارى رحمه الله هم په «الادب المفرد» كښې داشان فرمائيلى دى ، علامه خطابى هم ددې مطابق فرمائيلى دى،قاضى عياض دا داكثرو عالمانو قول ګنړلې دې (۱)

امام احمد رحمه الله فرمائى چه نواة درې درهمه او يو ثلث وى ، بعضې حضرات فرمائى چه نواة درې درهمه او ربع وى ،بعضې وائى درې درهمه اونصف وى.

مالكيه فرمائى چه داهل مدينه په نيز ربع دينار ته وئيلې شى ،(۲) موطا امام محمد كښې دامام محمد رحمه الله ميلان دې طرفته دې‌چه نواة لس درهمه وى (۳) نوهر سړې دخپل خپل مذهب مطابق ددې تفسير كوى ، ليكن مشهور رومبې قول دې.

او كه پنځه يا درې درهم‌وربع‌يا ثلث يا نصف مقدار مراد واخستلې شى نواحناف به په دې صورت كښې په مهر معجل باندې محمول كوى «بشاشة العرس» يعنى د واده‌خوشحالى.

۵۱=بَابُ التَّزْوِيجِ عَلَى الْقُرْآنِ وَبِغَيْرِ صَدَاقٍ

[۴۸۵۴] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ سَمِعْتُ أَبَا حَازِمٍ يَقُولُ سَمِعْتُ سَهْلَ بْنَ سَعْدٍ السَّاعِدِيَّ يَقُولُ إِنِّي لَفِي الْقَوْمِ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ قَامَتْ امْرَأَةٌ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّهَا قَدْ وَهَبَتْ نَفْسَهَا لَكَ فَرَ فِيهَا رَأْيَكَ فَلَمْ يُجِبْهَا شَيْئًا ثُمَّ قَامَتْ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّهَا قَدْ وَهَبَتْ نَفْسَهَا لَكَ فَرَ فِيهَا رَأْيَكَ فَلَمْ يُجِبْهَا شَيْئًا ثُمَّ قَامَتْ الثَّالِثَةَ فَقَالَتْ إِنَّهَا قَدْ وَهَبَتْ نَفْسَهَا لَكَ فَرَ فِيهَا رَأْيَكَ فَقَامَ رَجُلٌ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَنْكِحْنِيهَا قَالَ هَلْ عِنْدَكَ مِنْ شَيْءٍ قَالَ لَا قَالَ اذْهَبْ فَاطْلُبْ وَلَوْ خَاتَمًا مِنْ حَدِيدٍ فَذَهَبَ فَطَلَبَ ثُمَّ جَاءَ فَقَالَ مَا وَجَدْتُ شَيْئًا وَلَا خَاتَمًا مِنْ حَدِيدٍ فَقَالَ هَلْ مَعَكَ مِنْ الْقُرْآنِ شَيْءٌ قَالَ مَعِي سُورَةُ كَذَا وَسُورَةُ كَذَا قَالَ اذْهَبْ فَقَدْ أَنْكَحْتُكَهَا بِمَا مَعَكَ مِنْ الْقُرْآنِ [ر: ۲۱۸۶].

امام بخارى رحمه الله په دې باب كښې دوه مسئلې ذكر كړى دى ، يو مسئله داده چه‌تعليم القران لره‌مهر جوړولې شى كه نه ، ددې مسئلې تفصيل ما قبل كښې تير شوې دې .

---

۱) فتح البارى: ۲۹۲/۹).
۲) فتح البارى: ۲۹۲/۹).
۳) اوګورئ موطا امام محمد ، كتاب النكاح ، باب ادنى مايتزوج الرجل عليه المراه : ۳۴۳).

دمهر دذكر كولو نه بغير دنكاح انعقاد كولو مسئله : دويمه مسئله داده چه‌دمهر د ذ كر كولو نه بغير دنكاح انعقاد كيږى يا نه . په دې باندې دټولو اتفاق دې چه مهر نه بغير نكاح صحيح نه ده. بغير دمهر نه‌نكاح صرف دحضرت نبى كريم ﷺ خصوصيت وو.(۱) البته كه دمهر ذكر نه وى نو په هغه وخت كښې به نكاح اوشى اوكه نه ؟ .
حضرات حنفيه او حنابله وائى چه منعقد به شى ، داكثر شوافع هم دا رائې ده او په دې صورت كښې مهر مثل به لازم وى. (۲)
بعض شوافع‌وائى چه داسې صورت كښې به‌نكاح معتبره نه وى ، صاحب هدايه‌امام مالك رحمه الله طرفته‌دا قول منسوب كړې دې. (۳)

قوله: فرفيها رايك: يعنى تاسو په دې سلسله كښې خپله رائې قائمه كړئى. كه تاسو غواړئى نوځه خپل نفس تاسو دپاره هبه كوم. تاسو ما قبوله كړئى. «فر» په دې كښې فاء تعقيبيه يا عاطفه ده او «ر» باب فتح نه دامر حاضر صيغه ده.«رأى ، رأيا» كتل ، رائې قائمول ،«ر»اصل كښې«أراى» وو آخر نه ياءحرف علت حذف كړې شو ځكه چه‌امر مجزوم كيږى اودهمزه فتحه د راء طرفته دتخفيف په غرض سره منتقل كړې شوه اوهمزه ئې اوغورزول ،هركله چه «راء» مفتوحه شوه نو دهمزه وصل ضرورت باقى پاتې نشو ، ددې وجې همزه وصل ئې حذف كړل ا ودې نه «ر» جوړه شوه ، نو حضرت علامه عينى رحمه الله ليكى چه :

«"فر" الفاء للعطف و " ر "وحدها امرمن " رأى يرى "على وزن " ف "لان عين الفعل ولامه محذوفان لان اصله ارأى على وزن " افعل " حذفت لا الفعل للجزم لامر مجزوم ثم نقلت حركة الهمزة الى الراى للتخفيف فاستغيث عن همزة الوصل فخلاف فبقى " ر "على وزن " ف "»(۴)

۵۲=بَابُ الْمَهْرِ بِالْعُرُوضِ وَخَاتَمٍ مِنْ حَدِيدٍ

[۴۸۵۵] حَدَّثَنَا يَحْيَى حَدَّثَنَا وَكِيعٌ عَنْ سُفْيَانَ عَنْ أَبِي حَازِمٍ عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِرَجُلٍ تَزَوَّجْ وَلَوْ بِخَاتَمٍ مِنْ حَدِيدٍ[ر: ۲۱۸۶].

امام بخارى رحمه الله دا ونيل غواړى چه دمهر دپاره دراهم‌او دنانير شرط نه دى ، دسامان‌د قبيل نه ځه څيز چه وى هغه په مهر كښې وركولې شى ، دخاتم حديد ذكر مخكښې په حديث كښې په دې بنياد شوې دې.

۱) عمده القارى: ۱۳۹/۲۰).
۲) اوګورئ فتح التقدير: ۳۰۴/۳ ، ۳۱۲):
۳) اوګورئ الهدايه مع فتح التقدير: ۳۰۴/۳).
٤) عمده القارى: ۱۳۹/۲۰).

۵۳ = بَابُ الشُّرُوطِ فِي النِّكَاحِ

وَقَالَ عُمَرُ مَقَاطِعُ الْحُقُوقِ عِنْدَ الشُّرُوطِ:

وَقَالَ الْمِسْوَرُ بْنُ مَخْرَمَةَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَكَرَ صِهْرًا لَهُ فَأَثْنَى عَلَيْهِ فِي مُصَاهَرَتِهِ فَأَحْسَنَ قَالَ حَدَّثَنِي فَصَدَقَنِي وَوَعَدَنِي فَوَفَى لِي [ر: ۳۵۲۳].

[۴۸۵۶] حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ هِشَامُ بْنُ عَبْدِ الْمَلِكِ حَدَّثَنَا لَيْثٌ عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ عَنْ أَبِي الْخَيْرِ عَنْ عُقْبَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَحَقُّ مَا أَوْفَيْتُمْ مِنَ الشُّرُوطِ أَنْ تُوفُوا بِهِ مَا اسْتَحْلَلْتُمْ بِهِ الْفُرُوجَ [ر: ۲۵۷۲]

امام بخاری رحمه الله په ترجمه «ابواب الشروط» کښې هم د «الشروط في المهر عند عقدة النكاح» عنوان قائم کړې وو او په دې ځائې کښې په کتاب النکاح کښې هم دا ترجمة الباب لره قائموي.

علامه خطابی رحمه الله د شروط نکاح درې قسمه بیان فرمائیلی دی:

① اول دا چه څه داسې شرط اولګولې شی چه دهغې پوره کول دخاوند دپاره په هر حال کښې لازم اوضروری وی ،دا به هغه شرط وی چه دهغې ذکر الله ﷻ فرمائیلې دې یعنی امساك بالمعروف یا تسریح بالاحسان لکه د ښځې دطرفنه د نکاح په وخت کښې شرط اولګولې شی چه خاوند به ښځې لره په معروفه طریقه ساتی ، که دداشان ساتلو نه هغه عاجزه شو نو شرعی طریقې سره به هغه پریږدی.

② دویم قسم دهغه شرطونو دې چه دهغې پوره کول بالاتفاق ناجائز دی. لکه ښځه خاوند سره دنکاح کولو په وخت کښې دا شرط اولګوی چه هغه به مخکښنۍ ښځې ته طلاق ورکوی.

③ دریم قسم دهغه شرطونو دې چه په هغې کښې طرفینو کښې څه فائده وی ، لکه ښځه دا شرط اولګوی سرې به دې سره بل واده نه کوی ، یا به دا ددې کور نه نه اوباسی.

جمهور علماء دریم قسم شرط غیر معتبر ګڼړی. البته دامام احمد او امام اسحاق په نیز به ددې اعتبار کولې شی. (۱)

دامام بخاری رحمه الله رجحان د امام مالك رحمه الله مسلك طرفته معلومیږی. ځکه هغوی دحضرت عقبه بن عامر حدیث ذکر کړې دې. چه په هغې کښې دحضرت نبی کریم ﷺ ارشاد دې چه دنکاح په سلسله کښې تاسو چه کوم شرط قبول کړې دې هغه پوره کول پکاردی. (۲)

جمهور عالمان دا روایت د ړومبی قسم شروط باندې محمول کوی یعنی هغه شرطونه چه په مقتضیات عقد کښې داخل دی. (۳)

قوله: وقال عمر: مقاطع الحقوق عند الشروط: داتعلیق دې او ددې نه هم د امام

---

۱) مذکوره تفصیل دپاره وګورئی فتح الباری: ۲۷۲/۹).

۲) الابواب والترجم: ۷۱/۲).

۳) الابواب والترجم: ۷۱/۲ ، شرح نووی لمسلم :۴۵۵/۱ ، کتاب النکاح).

احمد رحمه الله نقطه نظر تائید کیږيچه حقوق په هغه‌خاني کښې ختمیږی چه په کوم خاني کښې شروط راشي. که خاوند دیو ښځې شرط قبول کړو نو اوس ددې متعلق دخاوند حق باقي پاتې نشو ، لکه بلې ښځې سره واده مه کوه‌دا شرط که قبول کړی نو اوس دده دبلې ښځې حق نه شته ، دشرط منلو نه پس به دده حق ختم شي.

دا تعلیق سعید بن منصور موصولاً نقل کړې دې چه عبدالرحمان بن غنم اوفرمائیل چه څه حضرت عمر فاروق رضی الله عنه سره اوم‌اودومره‌نزدې اوم چه ځما ځنګون دهغې ځنګون سره نزدې وه ،په دې کښې یو سړې ده لره راغلو او وې وئیل چه ((یاامیرالمومنین تزوجت هذه وشرطت لها دارها وانی أجمع لامری ان أنتقل الی ارض کذا وکذا)) یعنی ما هغه‌ښځې سره واده کړې دې . او شرط مې لګولې دې چه هغه به خپل کور کښې اوسی. لیکن اوس مې اراده ده‌چه فلانی خاني ته منتقل شم .نو په دې باندې حضرت عمر فاروق رضی الله عنه اوفرمائیل ((لها شرطها)) یعنی هغې ته‌په خپل شرط باندې عمل اختیار دې ، نو دې سړی اوونیل چه ((هلك الرجال اذا لاتشاء امرأة ان تطلق زوجها الا طلقت)) یعنی سړی خو بیا برباد شو نو ددې وجې‌داشان کله چه ښځه غواړی نو خاوند ته به طلاق ورکړی. نوحضرت عمر فاروق رضی الله عنه اوفرمائیل چه ((المومنین علی شروطهم عند مقاطع حقوقهم)) او بعضې روایاتوکښې دی چه ((ان مقاطع الحقوق عند الشروط)) کله چه دوی د شرط په ذریعه پخپله خپل حق ختم کړو نوپه دې کښې اوس هیڅوك دخل نشی ورکولې.(۱)

خو ابن‌وهب فرمائی چه حضرت عمر فاروق رضی الله عنه نه دا منقول دی چه هغوی شرط لره لغو اوګرزولو او وې فرمائیل چه ((المرأة مع زوجها))(۲)

امام ابوعبید فرمائی چه دحضرت عمر فاروق رضی الله عنه په روایاتوکښې تضاد دې((المرأة مع زوجها))نه معلومیږی چه دشرط اعتبار نشته او((مقاطع الحقوق عند الشروط))نه معلومیږی چه اعتبار دې،لهذاد حضرت عمرفاروق رضی الله عنه آثار به پرینښودې شی.(۳)

ابن ابی شیبه دحضرت علی رضی الله عنه اثر نقل کړې دې .((شرط الله قبل شرطها)) دالله جل جلاله شرط د ښځې شرط نه مخکښې دې اودالله تعالیٰ د شرط نه مراد((اسکنوهن من حیث سکنتم))دې چه کوم خاني کښې تاسو اوسئ په هغه خاني کښې خپلې ښځې اوسوئی. (۴)

قوله: وقال المسور بن مخرمة: دا تعلیق امام بخاری رحمه الله په ابواب المناقب کښې په باب ذکر اصهار النبی صلی الله علیه وسلم لاندې موصولاً نقل کړې دې. (۵)

---

۱) مذکوره تفصیل دپاره اوګورئی فتح الباری: ۲۷۱/۹ ، وارشادالساری: ۴۳۲/۱۱ ، وعمده القاری: ۱۴۰/۲۰).
۲) عمده القاری: ۱۴۰/۲۰).
۳) عمدهٔ القاری: ۱۴۰/۲۰ ، فتح الباری: ۱۷۲/۹_۱۷۳).
٤) تعلیقات لامع الدراری : ۳۱۰/۹).
۵) عمده القاری: ۱۴۱/۲۰).

حضرت مثور بن مخرمه رحمه الله فرمائی چه ما دحضرت نبی کریم ﷺ نه دیو څوم (زوم) تذکره واوریده. حضرت نبی کریم ﷺ د زوم په سلسله کښې دهغه تعریف اوکړو او ښه صفات ئې بیان کړل. او وې فرمائیل چه هغه ماسره خبره کړې وه نو رښتیا او وعده ئې پوره کړه.

«صهرًا»نه په دې ځائې کښې دحضرت نبی کریم ﷺ دټولو نه دمشرې لور دحضرت زینب رضی الله عنها خاوند ابوالعاص بن ربیع مراد دې. دې په غزوه بدر کښې دمسلمانانو خلاف دمشرکانو د طرفنه جنګ دپاره راغلې وو او ګرفتار شو، حضرت نبی کریم ﷺ هغه آزاد کړو او دا شرط ئې اولګولو چه هغه به حضرت زینب رضی الله عنها مدینې ته راولیږی. نو هغه همداسې اوکړل اوحضرت زینب ئې مدینې ته راولیږله. «حدثنی فصدقنی ووعدنی فوفی لی»نه دې واقعې طرفته اشاره ده. بعد کښې ده اسلام قبول کړو او د فتح مکه نه مخکښې هغه هجرت اوکړو او مدینې ته راغلې وو. حضرت زینب رضی الله عنها دوباره هغه لره ورغله ، دحضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه په دور خلافت کښې وفات شو. (۱)

امام بخاری رحمه الله دا تعلیق په دې ځائې کښې اوفرمائیلو او دې طرفته ئې اشاره اوکړه که په نکاح کښې څه شرط قبول کړې شی نو دهغې ایفاءکول پکار دی. شرط قبلول یو رنګ وعده ده. لهذا ددې ایفاءکول پکار دی.

قوله: حدثنا ابوالولید: ابوالخیر دمرثد بن عبدالله یزنی کنیت دې اوعقبه نه عقبه بن عامر جهنی مراد دې ، (۲) هغوی دحضرت نبی کریم ﷺ ارشاد نقل کړې دې چه تاسو ټولو باندې په ټولو شرطونو کښې د نکاح شرطونه پوره کول دی. چه ددې په وجه ستاسو دپاره دهغوی شرمګاهونه حلال دی.

۵۴=بَابُ الشُّرُوطِ الَّتِي لَا تَحِلُّ فِي النِّكَاحِ

وَقَالَ ابْنُ مَسْعُودٍ لَا تَشْتَرِطُ الْمَرْاَةُ طَلَاقَ اُخْتِهَا

[۴۸۵۷] حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللّٰهِ بْنُ مُوسَى عَنْ زَكَرِيَّاءَ هُوَ ابْنُ اَبِي زَائِدَةَ عَنْ سَعْدِ بْنِ اِبْرَاهِيمَ عَنْ اَبِي سَلَمَةَ عَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَحِلُّ لِامْرَاَةٍ تَسْاَلُ طَلَاقَ اُخْتِهَا لِتَسْتَفْرِغَ صَحْفَتَهَا فَاِنَّمَا لَهَا مَا قُدِّرَ لَهَا [ر:۲۰۳۳]

ددې شرطونو دبیانولو نه پس چه کوم مقرر کول جائز دی اوس په دې باب کښې امام بخاری رحمه الله هغه شروط بیانوی چه دهغې مقرر کول ناجائز دی ،

لکه ښځه داشرط اولګوی چه ته خپلې مخکښې ښځې ته طلاق ورکړه دا شان شرط لګول باطل دی او نکاح منعقد کیږی.

---

۱) مذکوره تفصیل دپاره اوګورئ عمده القاری: ۲۰/۱٤۱).

۲) ارشادالساری: ۱۱/ ٤۳۲).

۵۵=بَاب الصُّفْرَةِ لِلْمُتَزَوِّجِ

وَرَوَاهُ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ عَوْفٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

[۴۸۵۸] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ حُمَيْدٍ الطَّوِيلِ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ عَبْدَ الرَّحْمٰنِ بْنَ عَوْفٍ جَاءَ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَبِهِ أَثَرُ صُفْرَةٍ فَسَأَلَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرَهُ أَنَّهُ تَزَوَّجَ امْرَأَةً مِنَ الْأَنْصَارِ قَالَ كَمْ سُقْتَ إِلَيْهَا قَالَ زِنَةَ نَوَاةٍ مِنْ ذَهَبٍ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْلِمْ وَلَوْ بِشَاةٍ [ر: ۱۹۴۴].

امام بخاری رحمه الله فرمائی که د واده په موقع باندې د زردئی استعمالولو نویت راشی نو په دې کښې هیڅ باك نشته دې.

روایت کښې دحضرت عبدالرحمان متعلق ذکر دې چه د حضرت نبی کریم ﷺ مجلس ته راغلو نو په هغوی باندې دزردئ اثر وو. روایت او ترجمة الباب دواړوکښې مطلقًا د زردی ذکر دی.

لیکن علماءوائی چه ددې نه مراد دخلوق زردی ده.(۱) دخلوق مرکب خوشبودار وی.او په دې کښې زعفران هم شامل وی ، د زعفران استعمال دسړی دپاره جائز نه دی. په حدیث کښې دی «نهی رسول ا لله ﷺ ان یتز عفر الرجل»(۲) ددې حدیث په بنیاد باندې حضرات حنفیه اوشافعیه په نیز دسړی دپاره دزعفران استعمال مطلقًا ممنوع دې چه ددې استعمال نه په جسم جائز دې اونه په کپړو باندې او ویښتو باندې لګول جائز دی. (۳)

دحضرات مالکیه په نیز بدن کښې ددې استعمالول ممنوع دی. لیکن کپړو کښې ددې داستعمالول ګنجائش نشته دې. (۴)

په روایت باب کښې که د زردئی نه مراد خلوق دې چه په دې کښې زعفران وی نو مالکیه فرمائی چه دا په کپړه کښې لګیدلی وو نوددوی په نیزدا جائز دی. (۵)

البته دحنفیه او شافعیه په مذهب باندې روایت باب نه په دې صورت کښې به اشکال وی ، هغوی ددې حدیث مختلف جوابونه ورکوی.

① یو جواب دا ورکړې شوې دې چه دا دتحریم نه مخکښې واقعه ده لیکن ددې دپاره د دلیل ضرورت شته دې.(۶)

---

۱) ارشادالساری: ۱۱/ ٤٣٤).

۲) عمده القارئ: ۲۰ /۱٤۳).

۳) عمدة القاری: ۲۰/ ۱٤۳ ، والابواب والترجم:۲/۷۱).

٤) الابواب والترجم: ۲/ ۷۰ ، وعمده القاری: ۲۰/ ۱٤۳).

۵) فتح الباری: ۹/ ۲۹۳ ، باب الولیمة ولوبشاه) .

۶) فتح الباری: ۹/ ۲۹٤).

② دويم جواب دا وركړې شوې دې چه په دې ځائې كښې حضرت عبدالرحمان دخلوق استعمال نه ووكړې .دده ښځې استعمال كړې وو او ددې نه دحضرت عبدالرحمان رضي الله عنه په كپړوباندې بغير ارادې ددې اثر راغلې وو او دې جواب ته حضرت امام نووى رحمه الله راجح ونيلى دى.

③ دريم جواب دادې چه په هغه وخت كښې هغه سره هيڅ خوشبو نه وه ددې وجې په وخت دضرورت هغوى دې لره مباح اوګنړل. (۱)

④ څلورم جواب دادې چه دا ډيركم مقدار كښې ووچه قابل عفو دى. (۲)

⑤ بعضو ونيلى دى چه دخلوق استعمال عام خلقودپاره ممنوع دى. ليكن والده والا ددې نه مستثنى دې. بالخصوص كله چه هغه خوان وى. چنانچه د واده په موقعه باندې ددې استعمالول جائز دى ، ابوعبيده رضي الله عنه هم دا جواب وركړې دې.(۳)

امام بخارى رحمه الله دا زردى خلوق سره مقيد كړې نده. هغوى مطلق زردى ذكر كړې ده. بعض علاقو كښې دستور دې چه دواده په موقعه باندې ښځه لره بټنه وغيره لګوى چه په هغې كښې زردى شامله وى. اوسړى ئې هم لګوى. امام بخارى رحمه الله ددې دستور رعايت كوى او وائى چه ددې ګنجائش شته دې.

ليكن دامام بخارى رحمه الله دا استدلال به په هغه وخت كښې درست وى چه كله نه دصفرة مطلق زردى مراد وى.

اودا هم ممكن دى چه دامام بخارى رحمه الله د خلمى دپاره خلوق داستعمال اجازت طرفته اشاره كوى. والله اعلم.

باب

[۴۸۵۹] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ حُمَيْدٍ عَنْ أَنَسٍ قَالَ أَوْلَمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِزَيْنَبَ فَأَوْسَعَ الْمُسْلِمِينَ خَيْرًا فَخَرَجَ كَمَا يَصْنَعُ إِذَا تَزَوَّجَ فَأَتَى حُجَرَ أُمَّهَاتِ الْمُؤْمِنِينَ يَدْعُو وَيَدْعُونَ لَهُ ثُمَّ انْصَرَفَ فَرَأَى رَجُلَيْنِ فَرَجَعَ لَا أَدْرِي أَخْبَرْتُهُ أَوْ أُخْبِرَ بِخُرُوجِهِمَا [ر: ۳۵۰۳]

دا باب بلا ترجمه دې ، دنسفى روايت كښې په دې ځائې كښې لفظ «باب» نشته دې (۴) ليكن په دې صورت كښې به اشكال وى چه حديث باب «الصفرة للمتزوج» سره څه مناسبت نشته دې. ددې وجې خبره صحيح داده چه په دې ځائې كښې لفظ «باب» دې ، او دا «كالفصل من الباب السابق» او ددې لاندې ئې دام المومنين حضرت زينب بنت جحش رضي الله عنها د واده واقعه ذكر كړه اوامام بخارى دې خبرې طرفته اشاره كوى چه د واده په موقعه باندې د

---

۱) فتح البارى ۹/۲۹٤).
۲) فتح البارى ۹/۲۹٤).
۳) فتح البارى ۹/۲۹٤).
٤) فتح البارى: ۹/۲۷۲ ، وعمدة القارى: ۲۰/۱٤٤).

زردنی لګولو هیڅ ضرورت نشته دې ، او واجب نه دی خکه چه دحضرت زینبت رضي الله عنها واقعې کښې د زردئی ذکر نشته دې،نو ګویا چه په سابقه باب کښې دزردئی جواب بیان کړو او ددې باب بلا ترجمه لاندې ئې داحدیث راوړو اوددې د عدم وجوب طرفته ئې اشاره کړې ده.(۱)

۵۶=بَاب كَيْفَ يُدْعَى لِلْمُتَزَوِّجِ

[۴۸۶۰] حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا حَمَّادٌ هُوَابْنُ زَيْدٍ عَنْ ثَابِتٍ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى عَلَى عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ أَثَرَ صُفْرَةٍ قَالَ مَا هَذَا قَالَ إِنِّي تَزَوَّجْتُ امْرَأَةً عَلَى وَزْنِ نَوَاةٍ مِنْ ذَهَبٍ قَالَ بَارَكَ اللَّهُ لَكَ أَوْلِمْ وَلَوْ بِشَاةٍ [ر:۱۹۴۳]

په دې باب کښې واده کولووالا ته په کوموالفاظ او څه رنګ دعا اوکړې شي دهغې بیان دې ،دجاهلیت په زمانه کښې واده والو ته به په «بالرفاء والبنين» الفاظوسره دعا ورکولې شوه.یعنی «صرت مقرونا بالرفاء والبنين» ستا اوستا د کور والو په مینځ کښې دې تعلقات خوشګوار وی او تاته دې خامن نصیب شي.

امام بخاری رحمه الله دحضرت انس رضي الله عنه روایت ذکر کوی او فرمائی چه واده کونکی ته دې «بارك الله لك»الفاظوسره دعا اوکړې شي.اوبعضو روایتونو کښې داالفاظ «بارك الله لك وبارك عليك وجمع بينكما في خير» (۲)

۵۷=بَاب الدُّعَاءِ لِلنِّسَاءِ اللَّاتِي يَهْدِينَ الْعَرُوسَ وَلِلْعَرُوسِ

[۴۸۶۱] حَدَّثَنَا فَرْوَةُ بْنُ أَبِي الْمَغْرَاءِ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ مُسْهِرٍ عَنْ هِشَامٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا تَزَوَّجَنِي النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَتَتْنِي أُمِّي فَأَدْخَلَتْنِي الدَّارَ فَإِذَا نِسْوَةٌ مِنَ الْأَنْصَارِ فِي الْبَيْتِ فَقُلْنَ عَلَى الْخَيْرِ وَالْبَرَكَةِ وَعَلَى خَيْرِ طَائِرٍ [ر:۳۶۸۱]

په دې باب کښې دهغه ښځو دپاره ددعا ذکر دې چه دناوې رهنمائی کوی ، هغې لره ښائسته کوی اوهغه خاوند ته پیش کوی.او د ناوې دپاره ددعاهدیه او د هدیه ورکولو بیان دې.

حدیث باب کښې دحضرت عائشه رضي الله عنها د واده ذکر دې. ددې مور ام رومان دې لره دحضرت نبی کریم صلی الله علیه وسلم کور ته داخله کړه نو په هغه ځائې کښې موجود انصاری ښځو دام رومان او دناوې داستقبال دپاره دا دعائیه کلمات اوونیل «على الخير والبركة وعلى خير طائر» خیر اوبرکت او ښه نصیب باندې .

په ترجمة الباب او حدیث کښې مطابقت بالکل ظاهر دې. ترجمة الباب کښې دی چه د ناوې دپاره دعا کول پکار دی. او دهغه ښځودپاره چه کومې ښځې ناوې ښائسته کوی او جوړوی ئې . چنانچه په حدیث کښې انصاری ښځو دحضرت ام رومان او حضرت عائشه رضي الله عنها

---

۱) فتح الباری: ۲۷۶/۹ ، عمده القاری: ۱۴۵/۲۰).

۲) مذکوره تفصیل دپاره اوګورئ فتح ا لباری: ۲۷۲/۹ ، ۲۷۷).

په راتلو دعا اوکړه. ام رومان ناوې جوړه کړې وه او حضرت عائشه رضی الله عنها پخپله ناوې وه. (۱)
حافظ ابن حجر رحمه الله او بعضو نورو شارحینو په دې خائې د حدیث او ترجمة الباب مطابقت کښې ډېر درانه بحثونه کړی دی، چه دهغې په وجه دا آسانه خبره ګرانه شوه. (۲)

قوله: يهدين العروس: ((یهدین)) دهدایة نه کیدیشي په معنی د رهنمائي کولو او دا د باب افعال نه ((یهدین)) نه هم کیدیشی، په معنی د هدیه ورکولو او ددې ښائسته کولو او خلمی ته دپیش کولو(۳) مرادترې هغه ښځې دی چه کومې ناوې لره ښائسته کوی او خاوند ته پیش کوی، ددې رهنمائی کوی اودې ته هدیه وغیره ورکوی.
حدیث باب ابواب الهجرة نه مخکښې باب تزویج عائشه لاندې تفصیل سره تیر شوې دې.

۵۸=بَاب مَنْ أَحَبَّ الْبِنَاءَ قَبْلَ الْغَزْوِ

[۴۸۶۲] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ عَنْ مَعْمَرٍ عَنْ هَمَّامٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ غَزَا نَبِيٌّ مِنَ الْأَنْبِيَاءِ فَقَالَ لِقَوْمِهِ لَا يَتْبَعْنِي رَجُلٌ مَلَكَ بُضْعَ امْرَأَةٍ وَهُوَ يُرِيدُ أَنْ يَبْنِيَ بِهَا وَلَمْ يَبْنِ بِهَا [ر: ۲۹۵۶].

امام بخاری رحمه الله فرمائی چه که دیو سړي واده اوشو او ده تر اوسه پورې بناء اونکړه او د جهاد موقع راغله نو که دې غواړي چه مخکښې بناء اوکړي او بیا جهاد ته لاړ شی نو په سنت کښې ددې اصل موجود دې. حضرت نبی کریم صلی الله علیه وسلم دیو نبی علیه السلام واقعه بیان کړه چه هغوی دجهاد په موقعه باندې خپل قوم ته اوفرمائیل چه ماسره دې هغه سړې نه ځی چه چا واده کړې وی او دبناء اراده ئې وی او تر اوسه ئې بناء نه ده کړې.
په دې صورت کښې که هغه بنا اوکړی او لاړشی نو دښځې دطرفنه به دده زړه فارغ شی اودې به سکون سره جهاد اوکړې شی، لهذا داسې موقعه باندې دبنا کولو اجازت شته.
حدیث باب الجهاد کښې تیر شوې دې. چه دکوم نبی ذکر په هغې کښې دې بعضو وئیلی دی چه دا حضرت داود علیه السلام وو او بعضو وئیلی چه هغه یوشع علیه السلام وو. (۴)
ابن منیر فرمائیلی چه ددې نه دعامو خلقو دنظریې تردید کیږی چه کوم وائی چه مخکښې دې حج اوکړې شی او بیا واده. بهتر دادی چه مخکښې دې واده اوکړې شی چه دعفت سامان راشی او بیا دې حج اوکړې شی. (۵)

---

۱) ارشادالساری: ۱۱/۴۳۴).
۲) اوګورئ فتح الباری ۹/۲۷۸).
۳) فتح الباری: ۲/۲۷۸، وعمده القاری: ۲/۱۴۶).
٤) فتح الباری: ۹/۲۷۹).
٥) فتح الباری: ۹/۲۷۹).

۵۹=بَاب مَنْ بَنَى بِامْرَأَةٍ وَهِيَ بِنْتُ تِسْعِ سِنِينَ

[۴۸۶۳] حَدَّثَنَا قَبِيصَةُ بْنُ عُقْبَةَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ عُرْوَةَ تَزَوَّجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَائِشَةَ وَهِيَ بِنْتُ سِتِّ سِنِينَ وَبَنَى بِهَا وَهِيَ بِنْتُ تِسْعٍ وَمَكَثَتْ عِنْدَهُ تِسْعًا [ر: ۳۶۸۱].

امام بخاری رحمه الله فرمائی که‌دنهو کالو جینئ سره واده کړې دې نو بنا کول جائز دی ، خو شرط به داوی چه هغه مطيق للجماع وی.
په عربوکښې کم عمرئی کښې دښځو درخصتئ رواج وو ، دحضرت عائشه رضي الله عنها مورددې خاص طور سره تربيت کړې وو. دابوداود وغيره روایاتوکښې دی چه دې ته به ئې کوچ او کهجورې ورکولې ، چه ښه طاقتوره شی او صحتمنده شی. امام ابوداود په دې باندې ترجمه کړې ده چه «باب فی السمنة»(۱) په دې کښې دې طرفته اشاره کړې ده چه ښځې لره دښه صحتمندکولو اهتمام اوکړی‌او په کم عمرئی کښې ددې رخصتی کول درست دی.

۶۰=بَاب الْبِنَاءِ فِي السَّفَرِ

[۴۸۶۴] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَامٍ أَخْبَرَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ جَعْفَرٍ عَنْ حُمَيْدٍ عَنْ أَنَسٍ قَالَ أَقَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ خَيْبَرَ وَالْمَدِينَةِ ثَلَاثًا يُبْنَى عَلَيْهِ بِصَفِيَّةَ بِنْتِ حُيَيٍّ فَدَعَوْتُ الْمُسْلِمِينَ إِلَى وَلِيمَتِهِ فَمَا كَانَ فِيهَا مِنْ خُبْزٍ وَلَا لَحْمٍ أَمَرَ بِالْأَنْطَاعِ فَأَلْقَى فِيهَا مِنْ التَّمْرِ وَالْأَقِطِ وَالسَّمْنِ فَكَانَتْ وَلِيمَتَهُ فَقَالَ الْمُسْلِمُونَ إِحْدَى أُمَّهَاتِ الْمُؤْمِنِينَ أَوْ مِمَّا مَلَكَتْ يَمِينُهُ فَقَالُوا إِنْ حَجَبَهَا فَهِيَ مِنْ أُمَّهَاتِ الْمُؤْمِنِينَ وَإِنْ لَمْ يَحْجُبْهَا فَهِيَ مِمَّا مَلَكَتْ يَمِينُهُ فَلَمَّا ارْتَحَلَ وَطَّى لَهَا خَلْفَهُ وَمَدَّ الْحِجَابَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ النَّاسِ [ر: ۳۶۳].

امام بخاری رحمه الله دا وئيل غواړی چه دبناء دپاره دحضر کيدل ضروری نه دی ، په سفر کښې هم بناء جائز دی.
حديث باب کتاب المغازی کښې تفصيل سره تير شوی دې . (۲)

۶۱=بَاب الْبِنَاءِ بِالنَّهَارِ بِغَيْرِ مَرْكَبٍ وَلَا نِيرَانٍ

[۴۸۶۵] حَدَّثَنِي فَرْوَةُ بْنُ أَبِي الْمَغْرَاءِ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ مُسْهِرٍ عَنْ هِشَامٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ تَزَوَّجَنِي النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَتَتْنِي أُمِّي فَأَدْخَلَتْنِي الدَّارَ فَلَمْ يَرُعْنِي إِلَّا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضُحًى [ر: ۳۶۸].

امام بخاری رحمه الله فرمائی چه دبناء دپاره شپه ضروری نه ده ، په‌ورځ کښې هم‌جائز دی. ليکن مرکب او نيران يعنی اورلره استعمالول نه دی پکار. نن سبا دواده په موقعه باندې د

---

۱) فتح الباری: ۲۷۹/۹).
۲) کشف الباری، کتاب المغازی ،باب غزوه خيبر : ۴۳۰، ۴۳۱).

اسونو دسورلئ چه کومه طریقه رائج ده ،امام بخاري رحمه الله دراصل ددې تردید کوي ، داشان د واده په موقع باندې د اور بلولود رسم تردید کوي چه په حقیقت کښې دمجوسیانو شعار دې.
عبدالله بن قرط ثمالي دحضرت عمر فاروق رضي الله عنه د طرفنه د حمص گورنر وو. هغوی اوکتل چه دچا د جنج مخکښې څوك اوور بلوي ، هغوی ته کوړې ورکړې ، خلق منتشر شو ، بیا هغوی خطبه اوونیله او وې فرمائیل چه «ان عروسکم أوقدوا النیران وتشبهوا بالکفرة والله مطفئ نورهم» (۱)

٦٣-بَابُ الْأَنْمَاطِ وَنَحْوِهَا لِلنِّسَاءِ

[۴۸۶۶] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُنْكَدِرِ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ اتَّخَذْتُمْ أَنْمَاطًا قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ وَأَنَّى لَنَا أَنْمَاطٌ قَالَ إِنَّهَا سَتَكُونُ [ر:٣٣٢٢].

«انماط» د «نمط» جمع ده. دبسترې دپاسه چه کوم جالیدار څادر وی هغې ته وائی. جالدارې پردې او رومال هم په دې اطلاق کښې راخی.(۲)
امام بخاري رحمه الله دانماط استعمال دجائز کیدو طرفته اشاره کوي. لیکن په دې باندې د صحیح مسلم اشکال دې چه حضرت عائشه رضي الله عنها به په کور کښې جالیدار پرده زړونده کړې وه. نو حضرت نبي کریم صلی الله علیه وسلم په خپل
دست مبارك سره دا شلولې وه (۳)
ددې جواب ورکړې شو چه هغه په اصل کښې تصویرونو والا وو. ددې وجې دوی هغه اوشلوله. (۴)
اویا که دا اونیلې شي چه حضرت نبي کریم صلی الله علیه وسلم دراصل ددنیا رنګینو نه اعراض اوعدم رغبت داظهار دپاره ئې داسې اوکړل ګنی فی نفسه دا جائز دی.
اویا دا اونیلې شي چه ددې حدیث تعلق عام مواقع سره دې او په دې ځاې دنکاح په موقع باندې ددې د جواز بیان مقصود دې ځکه دکتاب النکاح (بیان) جاري دې.حدیث باب علامات النبوة کښې تیر شوې دې.

٦٤-بَابُ النِّسْوَةِ اللَّاتِي يَهْدِينَ الْمَرْأَةَ إِلَى زَوْجِهَا وَدُعَائِهِنَّ بِالْبَرَكَةِ

[۴۸۶۷] حَدَّثَنَا الْفَضْلُ بْنُ يَعْقُوبَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَابِقٍ حَدَّثَنَا إِسْرَائِيلُ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا زَفَّتْ امْرَأَةً إِلَى رَجُلٍ مِنْ الْأَنْصَارِ فَقَالَ نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى

---

۱) الابواب والترجم : ۷۲/۲).
۲) فیض الباري: ۲۹۷/٤ ، وعمده القاري: ۱٤۸/۲۰).
۳) فتح الباري: ۲۸۰/۹ ، وصحیح مسلم کتاب اللباس والزینه ، باب تحریم تصویر صوره.... ۲۰۰/۲).
٤) فتح الباري: ۳۱۱/۰ ، باب هل یرجع اذا رای منکرا).

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا عَائِشَةُ مَا كَانَ مَعَكُمْ لَهْوٌ فَإِنَّ الْأَنْصَارَ يُعْجِبُهُمُ اللَّهْوُ(۱)

دامام بخاری رحمه الله مقصد دادې چه ناوې خاوند له ليږلو دپاره که ښځې ددې ناوې ډول سنګار دپاره جمع شی نو سنت کښې ددې اصل شته دې.

او داهم ممکن دی چه امام بخاری رحمه الله دې استحباب طرفته ته اشاره کول غواړی چونکه د کور ښځې داسې موقع باندې د نورو په کاورنوکښې مصروفې وی، ددې وجې که رشته دار او نزدې رشته دارې ښځې راشی او ناوې له تياره کړی نو د کور والودپاره به آسانی وی . (۲)

دابو ذر رضی الله عنه په روايت کښې دترجمة الباب نه د«ودعائهن بالبرکة» اضافه هم شوې ده.(۳) روايت باب کښې د دعا ذکر نشته دې ، البته‌دروايت بعض طرق کښې ددعا ذکر ې . که دترجمة الباب‌نه مذکوره الفاظ ثابت اومنلې شی نو په دې صورت کښې به دامام بخاری رحمه الله مقصد دې طرفته اشاره وی چه په دې کښې ددعا ذکر دې. هغه طريق ابو الشيخ په کتاب النکاح کښې نقل کړې ده. چه دهغې الفاظ دی:

«عن عائشة انها زوجت يتيمة كانت فی حجرها رجلا من الانصار ، قالت: وكنت فيمن اهداها الی زوجها فلما رجعنا قال الی رسول الله صلی الله علیه وسلم ما قلتم يا عائشة رضی الله عنها، قالت سلمنا و دعونا الله بالبركة ثم انصرفنا» (۴)

قوله: انها زفت امراة الی رجل من الانصار: حافظ ابن حجر رحمه الله ددې ښځې دنوم متعلق دعدم واقفيت اظهار کړې دې. (۵) البته‌ابن اثير په «اسد الغابة» کښې ددې ښځې نو «فارغة بنت اسعد بن زرارة» اوددې د خاوند نوم «نبيط بن جابر انصاری» ليکلې دې. (۶)

قوله: ماکان معکم لهو: دشريك روايت کښې دی چه حضرت نبی کريم صلی الله علیه وسلم اوفرمائيل چه ته هغې سره يوجينۍ اوليږه ، چه هغه ډول غږوی او شعرونه وائی. حضرت عائشه رضی الله عنها تپوس اوکړو چه څه اشعار وائی. نو حضرت نبی کريم صلی الله علیه وسلم اوفرمائيل چه هغه دا اشعار وائی:

اتيناكم اتيناكم فحيانا وحياكم ولولا الذهب الاحمر ما حلت بواديكم

ولولا الحنطة السمراء ما سمنا عذاريكم (۷)

---

۱) والحديث لم يخرجه احد من اصحاب الصحاح الستة الا البخاری).

۲) الابواب والتراجم: ۷۲/۲).

۳) فتح الباری: ۲۸۱/۹).

٤) فتح الباری: ۲۸۱/۹).

۵) فتح الباری: ۲۸۱/۹).

۶) فتح الباری: ۲۸۱/۹).

۷) فتح الباری: ۲۸۱/۹).

٦٤= بَابُ الهَدِيَّةِ لِلعَرُوسِ

[۴۸۶۸] وَقَالَ ابْرَاهِيمُ عَنْ ابِي عُثْمَانَ وَاسْمُهُ الجَعْدُ عَنْ انَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ مَرَّ بِنَا فِي مَسْجِدِ بَنِي رِفَاعَةَ فَسَمِعْتُهُ يَقُولُ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اذَا مَرَّ بِجَنَبَاتِ امِّ سُلَيْمٍ دَخَلَ عَلَيْهَا فَسَلَّمَ عَلَيْهَا ثُمَّ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَرُوسًا بِزَيْنَبَ فَقَالَتْ لِي امُّ سُلَيْمٍ لَوْ اهْدَيْنَا لِرَسُولِ اللّهِ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَدِيَّةً فَقُلْتُ لَهَا افْعَلِي فَعَمَدَتْ الَى تَمْرٍ وَسَمْنٍ وَاقِطٍ فَاتَّخَذَتْ حَيْسَةً فِي بُرْمَةٍ فَارْسَلَتْ بِهَا مَعِي الَيْهِ فَانْطَلَقْتُ بِهَا الَيْهِ فَقَالَ لِي ضَعْهَا ثُمَّ امَرَنِي فَقَالَ ادْعُ لِي رِجَالًا سَمَّاهُمْ وَادْعُ لِي مَنْ لَقِيتَ قَالَ فَفَعَلْتُ الَّذِي امَرَنِي فَرَجَعْتُ فَاذَا البَيْتُ غَاصٌّ بِاهْلِهِ فَرَايْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَضَعَ يَدَيْهِ عَلَى تِلْكَ الحَيْسَةِ وَتَكَلَّمَ بِهَا مَا شَاءَ اللّهُ ثُمَّ جَعَلَ يَدْعُو عَشَرَةً عَشَرَةً يَاكُلُونَ مِنْهُ وَيَقُولُ لَهُمْ اذْكُرُوا اسْمَ اللّهِ وَلْيَاكُلْ كُلُّ رَجُلٍ مِمَّا يَلِيهِ قَالَ حَتَّى تَصَدَّعُوا كُلُّهُمْ عَنْهَا فَخَرَجَ مِنْهُمْ مَنْ خَرَجَ وَبَقِيَ نَفَرٌ يَتَحَدَّثُونَ قَالَ وَجَعَلْتُ اغْتَمُّ ثُمَّ خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَ الحُجُرَاتِ وَخَرَجْتُ فِي اثْرِهِ فَقُلْتُ انَّهُمْ قَدْ ذَهَبُوا فَرَجَعَ فَدَخَلَ البَيْتَ وَارْخَى السِّتْرَ وَانِّي لَفِي الحُجْرَةِ وَهُوَ يَقُولُ يَا ايُّهَا الَّذِينَ امَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتَ النَّبِيِّ الَّا انْ يُؤْذَنَ لَكُمْ الَى طَعَامٍ غَيْرَ نَاظِرِينَ انَاهُ وَلَكِنْ اذَا دُعِيتُمْ فَادْخُلُوا فَاذَا طَعِمْتُمْ فَانْتَشِرُوا وَلَا مُسْتَانِسِينَ لِحَدِيثٍ انَّ ذَلِكُمْ كَانَ يُؤْذِي النَّبِيَّ فَيَسْتَحْيِي مِنْكُمْ وَاللّهُ لَا يَسْتَحْيِي مِنَ الحَقِّ

قَالَ ابُو عُثْمَانَ قَالَ انَسٌ انَّهُ خَدَمَ رَسُولَ اللّهِ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَشْرَ سِنِينَ [ر: ۳۵۱۳].

که ناوې یا خلمی دپاره‌د تحفې په طور او هدیه څه څیز ورکړې شی نو سنت کښې ددې اصل موجود دې .

ابراهیم بن طهمان دابو عثمان نه نقل کوی. دابوعثمان نوم جعد دې. هغه وائی چه حضرت انس رضي الله عنه دبصرې په مسجدبنی رفاعه کښې خمونږ سره تیر شو نوما دهغوی نه دا واوریدل.

قوله: کان النبی ﷺ اذا مر بجنبات ام سلیم دخل علیها: یعنی حضرت نبی کریم ﷺ چه به کله دام سلیم کور داطراف نه‌تیریدو نو دوی لره‌په ورتلل او سلام به ئې کولو.

«جنبسات»د«جنبة»جمع ده په معنی د طرف،نا حیه.

په دې خائې کښې دحدیث د حصه دابوعثمان نه صرف ابراهیم بن طهمان نقل کوی او مخکښې باقی حدیث کښې دوی سره جعفر بن سلیمان اومعمر بن راشد هم شریك دې ، امام مسلم دا دواړه حدیثونه موصولاً نقل کړی دی.(۱) لیکن دابراهیم بن طهمان حدیث متعلق حافظ ابن حجر رحمه الله لیکلی دی چه هغه ماته موصولاً ملاؤنشو(۲)

---

۱) فتح الباری: ۲۸۳/۹).

۲) فتح الباری: ۲۸۳/۹).

مخکښې حدیث کښې حضرت انس رضی الله عنه فرمائی چه حضرت نبی کریم ﷺ دزینب بن جحش واده کښې خلمې وو. ام سلیم ماته اووئیل که مونږ دحضرت نبی کریم ﷺ دپاره څه هدیه اولیږلو نو دابه ډیر ښه وی. نوما هغې ته اووئیل چه او اولیږه. چنانچه هغوی کهجور، غوړی اوپنیر واخستل او دائې حیس کړل (دایو خاص قسم حلوه وی)) تیاره کړه او ماسره ئې هغه حضرت نبی کریم ﷺ کره اولیږله. حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه دا کیږده او دڅو کسانو نومونه ئې واخستل او وې فرمائیل دا راوبله او ددوی نه علاوه چه څوك تاته ملاؤ شی نو هغه راوبله. ما دحضرت نبی کریم ﷺ په حکم باندې عمل اوکړو اوکله چه کور ته واپس راغلم نو کور دخلقو نه ډك وو، ما حضرت نبی کریم ﷺ ته اوکتل چه حضرت نبی کریم ﷺ په دې حلوه باندې خپل لاس مبارك کیخودو او څه ئې پرې دم کړل، اوبیا ئې لس لس کسان رابلل او هغوی ته به ئې وئیل چه دالله تعالی نوم واخلئ او هر سړې دخپلې خپلې مخښې نه خوراك کوی.

حضرت انس رضی الله عنه فرمائی چه هغوی ټول خوراك اوکړواو منتشر شو ، څه خلق دکور نه اووتل او څه هم هغه ځائې کښې ناست وو خبرې ئې کولې ، چه ددې په وجه ماته ډیره پریشانی اوشوه (چه دې حضراتو له تګ پکاردې)دې نه پس دقران پاك آیت ﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتَ النَّبِيِّ....الخ﴾نازل شو.

یو تعارض اودهغې حل : په دې روایت باب کښې دی چه حضرت نبی کریم ﷺ خلقو باندې د کهجورو ، غوړو او پنیرو حیس اوخوړلو. په بل روایت کښې مشهور دی چه حضرت نبی کریم ﷺ غوښه او روټئ په ولیمه کښې خورولې وه. (۱)

قاضی عیاض اوفرمائیل چه راوی ته وهم شوې دې ،ده یوه قصه په بله قصه کښې ټومبلې ده.(۲)

لیکن حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه دواړو کښې جمع ممکن ده چه مخکښې حضرت نبی کریم ﷺ غوښه روټئ سره تواضع کړې وی او هغه خلق چه کوم مخکښې راغلی وو هغوی دخبز او لحم خوړولو نه پس تلی وی ، دې نه پس چه کوم خلق د خوراك نه پس ناست وواو خبرې ئې کولې دهغوی دپاره حضرت انس رضی الله عنه حیس راوړې وی ،حضرت نبی کریم ﷺ هغه دنورو خلقورابللو دپاره اولیږلو. اوهغوی حیس خوړلې وی ، لهذا په دواړو روایتونوکښې تعارض نشته دې. (۳)

٦٥=بَاب اسْتِعَارَةِ الثِّيَابِ لِلْعَرُوسِ وَغَيْرِهَا

[۴۸٦۹] حَدَّثَنِي عُبَيْدُ بْنُ اسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا اَبُو اسَامَةَ عَنْ هِشَامٍ عَنْ اَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا اَنَّهَا اسْتَعَارَتْ مِنْ اسْمَاءَ قِلَادَةً فَهَلَكَتْ فَارْسَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

۱) فتح الباری: ۹/۲۸۳).
۲) فتح الباری: ۹/۲۸۳).
۳) فتح الباری: ۹/۲۸۳).

وَسَلَّمَ نَاسًا مِنْ اَصْحَابِهٖ فِي طَلَبِهَا فَاَدْرَكَتْهُمُ الصَّلَاةُ فَصَلَّوْا بِغَيْرِ وُضُوءٍ فَلَمَّا اَتَوُا النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَكَوْا ذٰلِكَ اِلَيْهِ فَنَزَلَتْ اٰيَةُ التَّيَمُّمِ فَقَالَ اُسَيْدُ بْنُ حُضَيْرٍ جَزَاكِ اللّٰهُ خَيْرًا فَوَاللّٰهِ مَا نَزَلَ بِكِ اَمْرٌ قَطُّ اِلَّا جَعَلَ اللّٰهُ لَكِ مِنْهُ مَخْرَجًا وَجُعِلَ لِلْمُسْلِمِيْنَ فِيْهِ بَرَكَةٌ [ر: ۳۲۷].

امام بخاری ﷫ په دې ترجمة الباب کښې دا ونيل غواړی که دواده په موقع باندې د ناوې دپاره دعاريه جامې استعمال کړې شی نوجائز دی ، دغير ناوې دپاره هم عاريتا جامې استعمالول جائز دی.

امام بخاری ﷫ چه کوم روايت په دې باب نقل کړې دې ، په دې کښې د جامود رعاية اخستلو څه ذکر نشته دې بلکه د هارد رعاية ذکر دې ، دامام بخاری ﷫ منشاء داده چه څنګه هار رعاية اخستلې شی نو دا شان جامې هم عاريتا اخستلې شی.

ابواب الهبه کښې امام بخاری ﷫ يو روايت ذکر کړې دې ، په دې کښې دجامو د رعايتا اخستلو ذکر صراحتا موجود دې ، حضرت عائشه ﷝ فرمائی چه دحضرت نبی کريم ﷺ په زمانه کښې ځما سره يو قميص وو مدينه منوره کښې چه کله هم به يو ښځې لره ناوې جوړولې شی نو ځما نه به ئې هغه قميص اخستلو دعاريت په طور ، په دې حديث باندې امام بخاری ﷫ په هغه ځائې کښې ترجمه قائمه کړې ده ((الاستعارة للعروس عند البناء)) دې ترجمه او حديث لره په دې ځائې کښې پيش نظر ساتل پکار دی. (۱)

۶۶= بَابُ مَا يَقُوْلُ الرَّجُلُ إِذَا أَتَى أَهْلَهُ

[۴۸۷۰] حَدَّثَنَا سَعْدُ بْنُ حَفْصٍ حَدَّثَنَا شَيْبَانُ عَنْ مَنْصُوْرٍ عَنْ سَالِمِ بْنِ اَبِي الْجَعْدِ عَنْ كُرَيْبٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَمَا لَوْ اَنَّ اَحَدَهُمْ يَقُوْلُ حِيْنَ يَاْتِي اَهْلَهُ بِاسْمِ اللّٰهِ اَللّٰهُمَّ جَنِّبْنِي الشَّيْطَانَ وَجَنِّبِ الشَّيْطَانَ مَا رَزَقْتَنَا ثُمَّ قُدِّرَ بَيْنَهُمَا فِي ذٰلِكَ اَوْ قُضِيَ وَلَدٌ لَمْ يَضُرَّهُ شَيْطَانٌ اَبَدًا [ر: ۱۳۱].

کله چه سړې خپلې بی بی ته د صحبت په نيت سره راشی نو دا دعادې اووائې. ((بسم الله اللهم جنبنی الشيطان وجنب الشيطان مارزقتنا))

علماء فرمائی چه دا دعا کشف عورت نه مخکښې وئيل پکار دی. د حضرت عبدالله بن مسعود ﷛ يو روايت نه معلوميږی چه دانزال په وخت کښې وئيل پکار دی. دجمهورو مسلك دې چه د کشف عورت نه مخکښې وئيل پکار دی. او که مخکښې وئيل ترې هيرشی نوکله ورته ياده شی نو په زړه کښې وئيل پکاردی. (۲)

حضرت نبی کريم ﷺ فرمائی چه سړې که دا دعا اووائی نوبيا شيطان بچی لره نقصان او

---

۱) اوګورئ فتح الباری: ۲۸۴/۹، والابواب والتراجم: ۷۲/۲).

۲) وحديث ابن مسعود رواه بن ابی شيبه ولفظه وکان اذا غشی اهله فانزل قال : اللهم لا تجعل للشيطان فيما رزقتنی نصيبا (فتح الباری: ۲۴۲/۱ ، وايضا راجع عمده القاری: ۲۶۹/۲).

ضرر نشي رسولي. شيطان نه جنس شيطان او ضرر نه خاص قسم ضررر مراد دې. چه د «ام الصبيان» په نومې بيمارئي په شكل كښې بچو ته لګي.(۱) او ضرر نه عام بدنى ضرر هم مراد كيديشي. (۲)

بعضې حضرات فرمائي چه دبچې دپيدائش په وخت كښې شيطان ده ته لاس لګوى ، ددې دعا بركت سره بچې ددې نه محفوظ شي.

ليكن دا تشريح ضعيفه ده څكه چه حديث «مامن مولود الا يمسه الشيطان غير مريم وابنها» نه معلوميږى چه شيطان هر يو لره لاس اوړى سوا د مريم او دځوئي نه (۳)

بعضو فرمائيلى دى چه دشيطان دضرر رسولو مطلب دادې چه هغه په ده باندې مسلط به نه وى اودين اسلام نه به ده لره برګشته كوى نه. (۴)

او دامطلب هم كيديشي كه دا دعا اووائي نو اولاد به صالح پيداكيږى او هغه به په نيكو كارونو كښې دخپل ژوند صرف كوونكي وى ،او په دې كښې او انبياء كرام كښې فرق به داوى چه انبياء كرام دپاره عصمت وجوب په درجه كښې دى .او په دې خائې كښې عصمت جواز په درجه كښې وى. (۵)

حضرت مجاهد رحمه الله نه منقول دى چه كله سړې بسم الله نه بغير وطى كوى نو په دې كښې شيطان هم شريكيږى ليكن دا دعا دې اووائي نوددې په بركت سره به دشيطان نه حفاظت كښې به وى ، اوهغه به شركت نه كوى . حافظ ابن حجر رحمه الله داتشريح راجح ګنړلې ده. (۶)

ليكن حقيقت دادې چه په دې ټولو كښې هيڅ تضاد نشته دې اوداټول تشريحات مراد اخستې شي.

قوله: ثم قدر بينهما أو قضى ولد: راوى ته شك دې چه «وقدر بينهما» ئې وئيلى وو يائې «قضى ولد» وئيلى وو. معنى د دواړو يو ده.

۶۷= باب الوليمة حق

وَقَالَ عَبْدُالرَّحْمَنِ بْنُ عَوْفٍ قَالَ لِي النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْلِمْ وَلَوْ بِشَاةٍ [ر: ۱۹۴۳].

[۴۸۷۱] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنِي اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ أَخْبَرَنِي أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّهُ كَانَ ابْنَ عَشْرِ سِنِينَ مَقْدَمَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ فَكَانَ أُمَّهَاتِي يُوَاظِبْنَنِي عَلَى خِدْمَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

۱) النهايه الاثير: ۶۸/۱).
۲) عمده القارى: ۱۵۲/۲۰).
۳) عمدة القارى: ۱۵۲/۲۰).
٤) عمدة القارى: ۱۵۳/۲۰).
۵) فتح البارى: ۲۸۶/۹).
۶) فتح البارى: ۲۸۶/۹).

فَخَدَمْتُهُ عَشْرَ سِنِينَ وَتُوُفِّيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا ابْنُ عِشْرِينَ سَنَةً فَكُنْتُ أَعْلَمَ النَّاسِ بِشَأْنِ الْحِجَابِ حِينَ أُنْزِلَ وَكَانَ أَوَّلَ مَا أُنْزِلَ فِي مُبْتَنَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِزَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ أَصْبَحَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهَا عَرُوسًا فَدَعَا الْقَوْمَ فَأَصَابُوا مِنَ الطَّعَامِ ثُمَّ خَرَجُوا وَبَقِيَ رَهْطٌ مِنْهُمْ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَطَالُوا الْمُكْثَ فَقَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَخَرَجَ وَخَرَجْتُ مَعَهُ لِكَيْ يَخْرُجُوا فَمَشَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَشَيْتُ حَتَّى جَاءَ عَتَبَةَ حُجْرَةِ عَائِشَةَ ثُمَّ ظَنَّ أَنَّهُمْ خَرَجُوا فَرَجَعَ وَرَجَعْتُ مَعَهُ حَتَّى إِذَا دَخَلَ عَلَى زَيْنَبَ فَإِذَا هُمْ جُلُوسٌ لَمْ يَقُومُوا فَرَجَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَجَعْتُ مَعَهُ حَتَّى إِذَا بَلَغَ عَتَبَةَ حُجْرَةِ عَائِشَةَ وَظَنَّ أَنَّهُمْ خَرَجُوا فَرَجَعَ وَرَجَعْتُ مَعَهُ فَإِذَا هُمْ قَدْ خَرَجُوا فَضَرَبَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنِي وَبَيْنَهُ بِالسِّتْرِ وَأُنْزِلَ الْحِجَابُ [ر: ٣٥١٣].(١)

دحق معنى ده ثابت يعني وليمه ثابت ده. باطل نه ده، د واده په موقعه باندې چه كوم خوراك وركولې شي هغې ته وليمه وئيلې شي.

د وليمې د دعوت په حكم كښې اختلاف: دابن حزم ظاهرى ، داود ظاهرى په نيز وليمه واجب ده،امام شافعي او امام مالك نه هم يويوقول هم ذادې ، دا حضرات فرمائى چه«اولم ولوبشاة» دامر صيغه ده چه دوجوب دپاره رازى. (٢)

ليكن دجمهور علماء په نيزوليمه مسنون ده ، او هم دا د شوافع او مالكيه مسلك دې. څكه په حديث كښې ددې تشريح ده «الوليمة حق وسنة» باقى «اولم» كښې امر دجمهور په نيز داستحباب اوندب دپاره ده. (٣)

وليمه په كوم وخت كښې كول پكار دى. او په دې كښې هم مختلف اقوال دى. ① قبل الدخول ② بعد الدخول ③ عقدالنكاح په وخت كښې ④ دبناء اودخول په وخت كښې ⑤ دابتدائي عقد نه واخله تر بعدالدخول پورې په هر وخت كښې ، (٤)

قوله: ان كان ابن عشر سنين مقدم رسول الله a المدينة: حضرت رسول الله ﷺ چه كله مدينې منورې ته تشريف راوړونو په هغه وخت كښې دحضرت انس رضي الله عنه عمر مبارك لس كاله وو. بعضو رواياتو كښې دى چه په هغه وخت كښې دهغوى عمر مبارك نهه كاله وو.

صحيح خبره داده چه په هغه وخت كښې دهغوى عمر مبارك نهه كالونه څه زيات وو،چا كسر حذف كړې دې او نهه كاله ئې وئيلى دى اوچا كامل كړې دې او لس كاله ئې وئيلى دى.(٥)

١) (امهاتى) أى ا مى وخالاتى اخواتها . (جواظبتى) يدعنى استمر فى خدمته وفى نسخة . أى يوافقنى (مبتنى) وقت دخوله عليها وابتنائه بها).
٢) فتح البارى: ٢٨٧/٩ . وعمده القارى: ١٤٤/٢ . باب الصفرة للمتزوج).
٣) عمده القارى: ١٤٤/٢٠، بابٌ الصفره للمتزوج والابواب والتراجم: ٧٢/٢).
٤) فتح البارى: ٢٨٧/٩، ٢٨٨) اودا آخرى قول راجح او بهتر دې.
٥) فتح البارى: ٢٨٨/٩).

۶۸=بَاب الْوَلِيمَةِ وَلَوْ بِشَاةٍ

[۴۸۷۲] حَدَّثَنَا عَلِیٌّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ حَدَّثَنِي حُمَيْدٌ اَنَّهُ سَمِعَ اَنَسًا رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ سَاَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَبْدَ الرَّحْمٰنِ بْنَ عَوْفٍ وَتَزَوَّجَ امْرَاَةً مِنَ الْاَنْصَارِ كَمْ اَصْدَقْتَهَا قَالَ وَزْنَ نَوَاةٍ مِنْ ذَهَبٍ

وَعَنْ حُمَيْدٍ سَمِعْتُ اَنَسًا قَالَ لَمَّا قَدِمُوا الْمَدِينَةَ نَزَلَ الْمُهَاجِرُونَ عَلَى الْاَنْصَارِ فَنَزَلَ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ عَوْفٍ عَلَى سَعْدِ بْنِ الرَّبِيعِ فَقَالَ اُقَاسِمُكَ مَالِي وَاَنْزِلُ لَكَ عَنْ اِحْدَى امْرَاَتَيَّ قَالَ بَارَكَ اللّٰهُ لَكَ فِي اَهْلِكَ وَمَالِكَ فَخَرَجَ اِلَى السُّوقِ فَبَاعَ وَاشْتَرَى فَاَصَابَ شَيْئًا مِنْ اَقِطٍ وَسَمْنٍ فَتَزَوَّجَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَوْلِمْ وَلَوْ بِشَاةٍ [ر: ۱۹۴۳]

[۴۸۷۳] حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا حَمَّادٌ عَنْ ثَابِتٍ عَنْ اَنَسٍ قَالَ مَا اَوْلَمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى شَيْءٍ مِنْ نِسَائِهِ مَا اَوْلَمَ عَلَى زَيْنَبَ اَوْلَمَ بِشَاةٍ [ر: ۴۵۱۳].

[۴۸۷۴] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ عَنْ شُعَيْبٍ عَنْ اَنَسٍ اَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَعْتَقَ صَفِيَّةَ وَتَزَوَّجَهَا وَجَعَلَ عِتْقَهَا صَدَاقَهَا وَاَوْلَمَ عَلَيْهَا بِحَيْسٍ [ر: ۳۶۴].

[۴۸۷۵] حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ اِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ عَنْ بَيَانٍ قَالَ سَمِعْتُ اَنَسًا يَقُولُ بَنَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِامْرَاَةٍ فَاَرْسَلَنِي فَدَعَوْتُ رِجَالًا اِلَى الطَّعَامِ [ر: ۴۵۱۳].

امام بخاری رحمه الله فرمائی چه ولیمه کول پکار دی اګرکه یو چیلئ ولې نه وی ، دا معسر دپاره دی او ادنی درجه ده ، دکثرت هیڅ حد نشته دې.

مخکښې روایت کښې دی چه «اولم لو بشاة» داکثر علماء کرام په نیز په دې کښې «لو» تقلیل دپاره دې او دعبارت مقصود تقلیل اوکم درجه بیانول دی ، اوبعضې حضرات «لو» دتکثیر دپاره مراد اخستې شی چه زیات نه زیات یو چیلئ ذبح کړئی. حضرت ګنګوهی «لو» د تکثیر دپاره اخستې دې لیکن راجح او داکثر علماء کرام رومبې قول دې. (۱)

قوله: حدثنا سلیمان بن حرب: روایت کښې دی چه حضرت نبی کریم ﷺ داسې ولیمه په خپلو بیبیانو کښې دچا هم نه وه کړې لکه څنګه چه دحضرت زینب رضی الله عنها ولیمه ئې اوکړه ، په دې کښې حضرت نبی کریم ﷺ چیلئ په ولیمه کښې ورکړه.

ددې نه صفا معلوم شو چه دچیلئ ولیمه لویه ولیمه به شمارلې کیږی. حضرت نبی کریم ﷺ په وخت کښې چه کوم پنیر په هغه وخت کښې دستیاب وو ، هغه حضرت نبی کریم ﷺ په ولیمه کښې ورکړل. حضرت نبی کریم ﷺ به تکلف نه کولو.

دې نه پس روایت کښې دی چه دحضرت صفیه ولیمه کښې صرف کهجورو، غوړو او پنیرو

---

۱) عمده القاری: ۲۰/۱۵٤).

مختصره ولیمه حضرت نبی کریم ﷺ ورکړه. په هغه وخت کښې هم دا څیزونه دستیاب وو، معلوم شو چه د بیبیانو په ولیمه کښې مساوات لازم نه دي.

۶۹=بَابٌ مَنْ أَوْلَمَ عَلَى بَعْضِ نِسَائِهِ أَكْثَرَ مِنْ بَعْضٍ

[۴۸۷۶] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ ثَابِتٍ قَالَ ذُكِرَ تَزْوِيجُ زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ عِنْدَ أَنَسٍ فَقَالَ مَا رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْلَمَ عَلَى أَحَدٍ مِنْ نِسَائِهِ مَا أَوْلَمَ عَلَيْهَا أَوْلَمَ بِشَاةٍ [ر: ۴۵۱۳].

ددې ترجمې مطلب دادې چه د ټولو ازواجو په ولیمه کښې مساوات او برابری ضروری نه ده.

۷۰=بَابٌ مَنْ أَوْلَمَ بِأَقَلَّ مِنْ شَاةٍ

[۴۸۷۷] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ مَنْصُورِ بْنِ صَفِيَّةَ عَنْ أُمِّهِ صَفِيَّةَ بِنْتِ شَيْبَةَ قَالَتْ أَوْلَمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى بَعْضِ نِسَائِهِ بِمُدَّيْنِ مِنْ شَعِيرٍ

حدیث مرسل دې ځکه چه د صفیه بنت شیبه باره کښې دوه قوله دی ، یو قول دادې چه هغه تابعیه ده او دویم قول دادې چه هغه صحابیه ده. دصحابیه منلو په صورت کښې دا حدیث به مراسیل

کښې شمیرلې کیږی ځکه مذکوره واقعه کښې صفیه بنت شیبه پخپله موجود نه وه بلکه هغه په مکه کښې وه ،بیا په دې ځائې کښې په سند کښې صفیه نه پس دحضرت عائشه ؓ ذکر نشته دې . لیکن دمؤمل بن اسماعیل او یحیی بن الیمان عن سفیان په طریق کښې د حضرت عائشه ؓ ذکر دې، داشان د حدیث سندد مزید فی متصل الاسانیدد قبیل نه دې.(۱) دمزید فی متصل الاسانید مطلب دادې چه بعضې راویان سند کښې د یو راوی اضافه کوی او بعضو طریق کښې دهغه اضافه نه وی.(۲)

قوله: اولم النبی ﷺ علی بعض نسائه: «بعض نسائه» نه څوک مراد دی. حافظ ابن حجر ؒ فرمائی چه ما ته صراحتاً دنوم تعیین معلوم نه شو لیکن غالب دادی چه ددې نه ام المومنین حضرت ام سلمه ؓ مراد ده. (۳)

قوله: بمدین من شعیر: حضرت سفیان ثوری ؒ نه عبدالرحمان بن مهدی نه علاوه نورو ټولو راویانو «بمدین من شعیر» نقل کړی دی. البته عبدالرحمان بن مهدی «بصاعین من شعیر» نقل کړی دی. عبدالرحمان اگرچه ددې راویانو په مقابله کښې احفظ دې لیکن

---

۱) فتح الباری: ۹/۲۹۷).
۲) قال الشیخ طاهر الجزائری الدمشقی فی توجیه النظر الی وصول الاثر: ۲/۵۹۳..... المزید فی متصل الاسانید و هو کانت المخالفة فیه بزیادة فی الاسناد).
۳) فتح الباری: ۹/۲۹۷).

چونکه دهغوی تعداد زیات دې ، ددې وجې په دې ځائې کښې دهغه اعتبار کول بهتر دی.(۱) یو مد د ربع صاع برابروي.

۱۷=بَاب حَقِّ إِجَابَةِ الْوَلِيمَةِ وَالدَّعْوَةِ وَمَنْ أَوْلَمَ سَبْعَةَ أَيَّامٍ وَنَحْوَهُ وَلَمْ يُوَقِّتْ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا وَلَا يَوْمَيْنِ:

[۴۸۷۸] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ نَافِعٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا دُعِيَ أَحَدُكُمْ إِلَى الْوَلِيمَةِ فَلْيَأْتِهَا [ر: ۴۸۸۴].(۲)

[۴۸۷۹] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ سُفْيَانَ قَالَ حَدَّثَنِي مَنْصُورٌ عَنْ أَبِي وَائِلٍ عَنْ أَبِي مُوسَى عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فُكُّوا الْعَانِيَ وَأَجِيبُوا الدَّاعِيَ وَعُودُوا الْمَرِيضَ [ر: ۲۸۸۱].

دعوت ولیمه قبلول حق دې ، ددې په حکم کښې دائمه اختلاف دې.

① یو قول د وجوب دې یعنی دعوت ولیمه قبولول واجب دی. دحنفیه هم داقول دې ، دامام مالک رحمه الله نه یو قول ددې مطابق دې او شوافع او حنابله نه یو قول هم دا منقول دې. (۳)

② دویم قول دادې چهدولیمې دعوت قبلول سنت دی او هم دا دجمهور علماء کرام مسلک دې ،حنفیه ،مالکیه او شوافع اوحنابله په نیز هم دا قول راجح دې. (۴)

③ بعض شوافع او حنابله فرمائی چه فرض کفایه دی ، (۵)علامه ابن دقیق العید فرمائی چه دا په هغه وخت کښې دی چه کله عامو خلقو ته دعوت ورکړې شوې وی،لیکن کهدعوت خاص وی نو چه دچا تخصیص کړې شوې وی ، دهغه حاضریدل ضروری دی. (۶)

مخکښې د«الدعوة» لفظ دولیمې نه علاوه نورو دعوتونو متعلق خودلو دپارهدې چه ددې متعلق څه حکم دې.

---

۱) فتح الباری: ۲۹۹/۹).

۲) واخرجه البخاری ایضا فی باب اجابة الداعی فی العرس وغیرها رقم الحدیث : ۴۹۷۲ ، ومسلم فی کتاب النکاح،باب الامر باجابة الداعی الی دعوة، رقم الحدیث : ۱۴۲۹ ، وابو داود فی کتاب الاطعمة باب ماجاء فی اجابة الدعوة ، رقم ا لحدیث: ۳۷۳۶، والنسائی فی کتاب الولیمة ،باب اجابة الدعوة ، رقم الحدیث: ۶۶۰۸ ، وابن ماجه فی کتاب النکاح ، باب اجابة الداعی ، رقم الحدیث : ۱۹۱۴ ، واخرجه مالک فی الموطا فی کتاب النکاح ، باب الولیمة ، رقم الحدیث: ۴۹).

۳) فتح الباری: ۳۰۱/۹، المجموع شرح المهذب :۵۴۸/۱۵).

۴) فتح الباری: ۳۰۱/۹، المجموع شرح المهذب : ۵۴۸/۱۵، اوګورئ اعلاء السنن: ۱۰/۱۱ باب استحباب الولیمه).

۵) فتح الباری: ۳۰۱/۹).

۶) فتح الباری: ۳۰۱/۹).

قوله: ومن اولم سبعة ايام ونحوه: ددې نه امام بخاری رحمه الله يو اختلافی مسئلې طرفته اشاره کړې ده او هغه داده چه وليمه تر څو ورځو پورې کولې شی.

جمهور علماء کرام فرمائی چه وليمه په ړومبئ ورځ کول مسنون دی ، په دوئمه ورځ کول جائز او په دريمه ورځ کول مکروه او په ريا کښې داخل دی. (۱) دهغه دليل دزهير بن عثمان هغه روايت دې چه کوم امام ابوداود رحمه الله او امام نسائی رحمه الله نقل کړې دې چه حضرت نبی کريم صلی الله عليه وسلم فرمائی چه «الوليمة اول يوم حق، والثانی معروف، والثالث سمعة ورياء» ليکن امام بخاری رحمه الله وائی چه «لا يصلح اسناده ولا يصح له صحبة» نه سند صحيح دې او نه زهير بن عثمان صحابی دې.

ليکن حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه زهير بن عثمان چه کوم حديث نقل کړې دې دهغې په مضمون کښې هغه منفرد نه دې ، دهغه څو متابع هم موجود دی.چنانچه ابن ماجه دحضرت ابوهريره رضی الله عنه نه دا مضمون نقل کړې دې ، ابن عدی رحمه الله اوبيهقی رحمه الله دحضرت انس رضی الله عنه نه اوامام ترمذی رحمه الله دحضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه ددې مفهوم حديث نقل کړې دې. د ترمذی رحمه الله دحديث الفاظ دی «کان طعام اول يوم حق، وطعام اليوم الثانی سنة، وطعام اليوم الثالث سمعة» حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه هم ددې مفهوم يو حديث منقول دې ، (۲)په دې روايتونوکښې اګر چه دهر روايت‌سند باندې څه نه څه کلام دې ليکن ددې ټولو په جمع کولو سره په دې کښې قوت پيداکيږی ، او معلوميږی چه دحديث اصل شته دې ، ددې وجې ددې اعتبار کول پکار دی. (۳)

حضرات مالکيه‌فرمائی چه‌وليمه اووه ورځې کولې شی. (۴) امام بخاری رحمه الله هم په ترجمة الباب کښې دمالکيه تائيد فرمائيلې دې، او فرمائی چه «ومن اولم بسبعة ايام ونحوه ولم يوقت النبی صلی الله عليه وسلم يوما ولا يومين».

دمالکيه استدلال دحضرت ابن سيرين رحمه الله د روايت نه دې ، چه هغه ابن ابی شيبة نقل کړې دې‌چه‌دده د لور حفصه بنت‌سيرين‌په واده باندې اووه ورځې وليمه ورکړې شوه ، او امام عبدالرزاق په روايت کښې‌د اتو ورځو ذکر دې، امام بخاری رحمه الله «دسبعة ايام» نه پس «ونحوه» نه غالبًا اته ورځو والا روايت طرفته اشاره کړې ده. (۵)

جمهور فرمائی چه مذکوره روايت دخلقو په کثرت باندې محمول دې چه خلق زيات وو نو

---

۱) اوګورئ المغنی لابن قدامه : ۳/۷ . کتاب الوليمه واعلاء السنن : ۱۳/۱۱ . باب جواز الوليمه الی ايام).
۲) اوګورئ تفصيل دپاره فتح الباری: ۳۰۲/۹. وارشادالساری: ۴۴۹/۱۱).
۳) فتح الباری: ۳۰۲/۹).
۴) اوګورئی فتح الباری: ۹/. مرقاه المفاتيح: ۲۵۶/۶ . کتاب االنکاح . باب الوليمه .والابواب والتراجم: ۷۳/۲).
۵) فتح الباری: ۳۰۲/۹ . اوګورئ مصنف ابن ابی شيبه ۳۱۳/۲ . من کان يقول يطعم فی العرس والختان . وسنن کبری للبيهقی : ۲۶۱/۷).

ددې وجې هغوی اووه ورخو کښې تقسیم کړې شوی وو، هره ورځ مختلف راتلل او ولیمه به ئې خوړه اوداشان په دې صورت کښې درې ورځونه زیات جواز دې. (۱)

[۴۸۸۰] حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ الرَّبِيعِ حَدَّثَنَا أَبُو الْأَحْوَصِ عَنِ الْأَشْعَثِ عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ سُوَيْدٍ قَالَ الْبَرَاءُ بْنُ عَازِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَمَرَنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِسَبْعٍ وَنَهَانَا عَنْ سَبْعٍ أَمَرَنَا بِعِيَادَةِ الْمَرِيضِ وَاتِّبَاعِ الْجِنَازَةِ وَتَشْمِيتِ الْعَاطِسِ وَإِبْرَارِ الْقَسَمِ وَنَصْرِ الْمَظْلُومِ وَإِفْشَاءِ السَّلَامِ وَإِجَابَةِ الدَّاعِي وَنَهَانَا عَنْ خَوَاتِيمِ الذَّهَبِ وَعَنْ آنِيَةِ الْفِضَّةِ وَعَنِ الْمَيَاثِرِ وَالْقَسِّيَّةِ وَالْإِسْتَبْرَقِ وَالدِّيبَاجِ تَابَعَهُ أَبُو عَوَانَةَ وَالشَّيْبَانِيُّ عَنْ أَشْعَثَ فِي إِفْشَاءِ السَّلَامِ [ر: ۱۱۸۲].

حضرت براء بن عازب رضی الله عنه فرمائی چه حضرت رسول کریم صلی الله علیه وسلم مونږ ته د اووه څیزونو حکم را کړو اود اووه څیزونه ئې مونږ منع کړو، چه دکومو اووه څیزونو چه ئې حکم راکړو هغه دادی. ① دمریض عیادت ② دجنازې سره تلل ③ دانګیشی (انتروشی) والا جواب ورکول ④ ابرار المقسم دقسم خوړولو تصدیق کول دقسم ورکولو والا قسم پوره کول. ⑤ دمظلوم نصرت کول ⑥ دسلام اشاعت ⑦او د دعوت ورکونکی دعوت قبلول.

او چه دکومو اووه څیزونونه منع کړې یو هغه دادی: ① خواتیم الذهب: دسرو دپاره دسرو زرو دګوتمې استعمال ② دچاندئی لوښی ③ میاثر : میثره جمع ده ، ریښمی ګدئی چه سورنې د آس وغیره په ملاباندې ایږدی. ④ قسی کپړې چه په هغې کښې ریښم ګډ شوی وی ⑤ استبرق: دا یو وړوکې قسم ریښم وی. ⑥ دیباج: دا هم دریښمو یو قسم دې چه دې ته ابریشم ونیلې شی. داشپږ شو اووم په دې حدیث کښې په دې ځائې کښې ذکر نه دې ، مخکښې په کتاب اللباس کښې دا ذکر دې . ⑦ حریر یعنی عام ریښم (۲)

قوله: تابعه ابوعوانة الشيباني عن اشعث في افشاء السلام: دا حدیث په کتاب الجنائز کښې تیر شوې دې یعنی دابوالاحوص سلام بن سلیم متابعت ابوعوانه وضاح بن عبدالله یشکری کړې دې . امام بخاری رحمه الله په کتاب الاشربة کښې دا متابعت موصولاً نقل کړې دې. (۳)

او ابواسحاق شیبانی هم د ابوالاحوص متابعت کړې دې چه دا امام بخاری رحمه الله په کتاب الاستئذان کښې موصولاً نقل کړې دې. (۴) البته دهغوی په روایت کښې د«افشاء السلام» الفاظ دی. اود شعبه عن اشعث روایت کښې د «ردالسلام» الفاظ دی. کتاب الجنائز کښې ددې روایت تیر شوې دې. روایت باب کښې هم د «افشاء السلام» الفاظ دی.

فائده: ولیمې نه علاوه د دعوت په سلسله کښې دجمهور علماء مسلک دې چه دا قبلول

---

۱) فتح الباري: ۹/۳۰۳).
۲) ارشاد الساري: ۱۱/۴۵۱)..
۳) عمده القاري : ۲۰/۱۵۹).
٤) عمدة القاري : ۲/۱۵۹ ، وفتح الباري: ۹/۳۰۳).

مستحب دي .واجب نه دي ، البته علامه ابن حزم دا واجب گڼي.سرخسي شافعي رحمه الله عدم وجوب باندې اجماع نقل کړې دی. (۱)

[۴۸۸۱] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ أَبِي حَازِمٍ عَنْ أَبِي حَازِمٍ(۲) عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ دَعَا أَبُو أُسَيْدٍ السَّاعِدِيُّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي عُرْسِهِ وَكَانَتْ امْرَأَتُهُ يَوْمَئِذٍ خَادِمَهُمْ وَهِيَ الْعَرُوسُ قَالَ سَهْلٌ تَدْرُونَ مَا سَقَتْ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْقَعَتْ لَهُ تَمَرَاتٍ مِنْ اللَّيْلِ فَلَمَّا أَكَلَ سَقَتْهُ إِيَّاهُ

[۴۸۸۷ ، ۴۸۸۸ ، ۵۲۶۹ ، ۵۲۷۵ ، ۶۳۰۷]. (۳)

حضرت سهل بن سعد فرمائي چه ابواسید ساعدی رضي الله عنه حضرت نبی کریم صلی الله علیه وسلم لره په خپل واده کښې راوبللو. دده ښځې دمیلمنو خدمت کولو حالانکه هغه نوې نوې ناوې وه حضرت سهل رضي الله عنه اوفرمائیل چه تاته معلوم دی چه هغې حضرت نبی کریم صلی الله علیه وسلم له دڅکلو دپاره څه ورکړې وو ؟هغې دشپې په اوبو کښې کهجورې خوشتې کړې وې ، نو کله چه حضرت نبی کریم صلی الله علیه وسلم روټۍ اوخوړه نو هغې هغه په حضرت نبی کریم صلی الله علیه وسلم باندې اوڅکولې. «أنقعت» د «انقاع» نه دی ، په اوبه کښې خوشتول.

۷۲= بَاب مَنْ تَرَكَ الدَّعْوَةَ فَقَدْ عَصَى اللَّهَ وَرَسُولَهُ

[۴۸۸۲] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ الْأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّهُ كَانَ يَقُولُ شَرُّ الطَّعَامِ طَعَامُ الْوَلِيمَةِ يُدْعَى لَهَا الْأَغْنِيَاءُ وَيُتْرَكُ الْفُقَرَاءُ وَمَنْ تَرَكَ الدَّعْوَةَ فَقَدْ عَصَى اللَّهَ وَرَسُولَهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

امام بخاری رحمه الله دا وئیل غواړی چه یو سړی ته دعوت ورکړې شو او هغه دا پرېښودو نو هغه دالله درسول صلی الله علیه وسلم نافرمان دی.

---

۱) فتح الباري: ۹/ ۳۰۷ ، باب اجابه الداعی فی العرس وغیره).

۲) واجرجه البخاری فی عدة مواضع : باب قیام المراة علی الرجال فی العرس وخدمتهم بالنفس رقم الحدیث: ۴۹۷۵ ، ۴۹۷۶ ، وفی کتاب الاشربة باب الانتباذ فی الاوعیة والتور ، رقم الحدیث: ۵۵۹۱ ، وکتاب الاشربة باب تقیع التمر مالم یسکر رقم الحدیث: ۵۵۹۷ ، وفی کتاب الایمان والنذور ،باب اذا حلف ان لا یشرب نبیذا فشرب طلاء او سکرا... رقم الحدیث: ۶۶۸۵ ، اواخرجه ابن ماجه کتاب النکاح عن محمد بن الصباح باب الولیمة رقم الحدیث: ۱۹۱۲)

۳) اخرجه مسلم فی الاشربة :باب اباحة النبیذ الذی لم یشتد ولم یصر مسکرا رقم الحدیث: ۲۰۰۶ ، (امراته) واسمها سلامة بنت وهب رضی الله عنها ، (خادمهم) تقوم بخدمتهم وتقدم لهم الضیافة وکان ذالک قبل ان یفرض الحجاب علی انه لیس فی مجموع طرق الحدیث ما یدل انها جلست معهم ، أو أظهرت لهم الزینة اومواضها وعلیه ، فلا اشکال ولا ممسکا لذوی النفوس الضعیفة والقلوب المریضة فی مثل هذه الحوادث ، اذلذی لا یمتنع دخول المراة مجالس الرجال وخدمتهم ، ذا کانت هناک حاجة وکانت محتجبة بالحجاب افترضه الله عز وجل).

ددي نه معلوم شو چه دعلامه بن حزم رحمه الله په شان دامام بخاري رحمه الله په نيز دعوت قبلول واجب دى. ليكن ددوى په نيزهم وجوب په هغه وخت كښې دې چه كله څه عذر وى.

۷۳=بَاب مَنْ أَجَابَ إِلَى كُرَاعٍ

[۴۸۸۳] حَدَّثَنَا عَبْدَانُ عَنْ اَبِى حَمْزَةَ عَنِ الاَعْمَشِ عَنْ اَبِى حَازِمٍ عَنْ اَبِى هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِىِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَوْدُعِيتُ اِلَى كُرَاعٍ لَاَجَبْتُ وَلَوْاُهْدِىَ اِلَىَّ كُرَاعٌ لَقَبِلْتُ [ر: ۲۴۲۹].

«كراع» د پنډنى هغه حصې ته وائى چه د ګيټې نه پاس وى ، لكه لاس كښې چه مړوند وى.اردو كښې دې ته سرى پائې ونيلې شى. (۱)

په حديث كښې دى كه څوك ماته څوك كراع (دسرى پائې په شان حقير څيز دا هغه خائې عرف وو حالانكه په مونږ خلقو كښې ددې عكس دې)دعوت هم ر اكړى نو څه به دا قبلوم.

امام غزالى رحمه الله فرمائى چه كراع نه په دې خائې كښې مراد دچيلۍ پښې مراد نه دى بلكه دمدينې منورې او مكې معظې په مينځ كښې واقع «كراع الغميم» مراد دې، اومطلب ئې دادې كه څوك ماته د«كراع الغميم» غوندې لرې خائې تههم دعوت راكړى نوڅه دبُعدمكان باوجود هغه خائې ته ځم. امام بخارى رحمه الله د «كراع» نه پس د «كراع الغميم» الفاظ سره حديث ذكر كړو ليكن ددې زياتوالى هيڅ اصل نشته دې ، او جمهور په دې كښې «كراع»نه د چيلۍ وغيره پښې مراد اخلى. اومنشاء داده كه دعوت د څه معمولى څيزهم وى نوهغه قبلول پكار دى. (۲)

۷۴=بَاب إِجَابَةِ الدَّاعِي فِي الْعُرْسِ وَغَيْرِهِ

[۴۸۸۴] حَدَّثَنَا عَلِىُّ بْنُ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ اِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا الْحَجَّاجُ بْنُ مُحَمَّدٍ قَالَ قَالَ ابْنُ جُرَيْجٍ اَخْبَرَنِى مُوسَى بْنُ عُقْبَةَ عَنْ نَافِعٍ قَالَ سَمِعْتُ عَبْدَاللّٰهِ بْنَ عُمَرَ رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُمَا يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (اَجِيبُوا هَذِهِ الدَّعْوَةَ اِذَا دُعِيتُمْ لَهَا)

قَالَ: وَكَانَ عَبْدُاللّٰهِ يَاْتِى الدَّعْوَةَ فِى الْعُرْسِ وَغَيْرِ الْعُرْسِ وَهُوَ صَائِمٌ [ر: ۴۸۷۸].

«فى العرس»نه مراد وليمه ده. اود«وغيره» نه مراد عام دعوت دې .روايت كښې دى چه حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روژې په حالت كښې به تلو ، په دې كښې دا ضرورى نه دىچه هغه به خپله روژه هم افطار كوله. فقهاء كرام په دې سلسله كښې تفصيل ليكلې دې. كه روژه نفل ده او افطارنه كولو سره داعى ته تكليف اوخفګان رسى نوداسې صورت كښېهغه ته نفلى روژهافطار كول پكار دى. او دا دعوت به دده په حق كښې به شميرلې شى. ليكن

---

۱) عمده القارى: ۱۶۱/۲۰).

۲) اوګورئ فتح البارى: ۳۰۶/۹).

كه روژه نفل نه ده يا داعى ته په افطار نه كولو سره څه تكليف يا خفګان نه وى نوداسې صورت كښې بيا افطار كول نه دى پكار بلكه دداعى په حق كښې دعا كولو نه پس واپس تلل پكار دى. (١)

٧٥=بَابُ ذَهَابِ النِّسَاءِ وَالصِّبْيَانِ إِلَى الْعُرْسِ

[٤٨٨٥] حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ الْمُبَارَكِ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ صُهَيْبٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ أَبْصَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نِسَاءً وَصِبْيَانًا مُقْبِلِينَ مِنْ عُرْسٍ فَقَامَ مُمْتَنًّا فَقَالَ اللَّهُمَّ أَنْتُمْ مِنْ أَحَبِّ النَّاسِ إِلَيَّ [ر:٣٥٧٤].

د امام بخارى رحمه الله مقصد دادې چه په واده كښې دشركت دپاره ښځو اوبچو لره تلل دحديث نه ثابت دى. اوسنت كښې ددې اصل موجود دې. د واده سلسله كښې اسراف ، فضول خرچى او دنمودونمائش ګنجائش نشته دې ، يقيناً داپه شريعت كښې نشته دې.ليكن په دې كښې دومره قدرې تقشف او سادګى اختيارول چه هډو څوك شريك نه كړې شى نودا هم غلو او نامناسب دى.

روايت كښې دسند ر اويان ټول بصرى دى. (٢) حضرت انس رضى الله عنه فرمائى چه حضرت نبى اكرم صلى الله عليه وسلم ښځې او ما شومان د واده په راتلو اوليدل نو دوى طرفته نيغ اودريدل او وې فرمائيل چه تاسو خلق ماته دهرچا نه زيات محبوب يئ.

«ممتنا» د «منة» نه ماخوذ دى چه ددې معنى قوت او طاقت ده. (٣) يعنى حضرت نبى كريم صلى الله عليه وسلم ددوى طرفته قوت او طاقت اونشاط سره اودريدل ، او وې فرمائيل «اللهم أنتم من احب الناس الى» په دې كښې د «اللهم» لفظ په طور د تبرك ذكر كړې شوې دې. يا دخپلې رسڅانى دپاره په طور دګواهئ ددې ذكر كړې شوې دې. (٤)

٧٦=بَابٌ هَلْ يَرْجِعُ إِذَا رَأَى مُنْكَرًا فِي الدَّعْوَةِ

وَرَأَى أَبُو مَسْعُودٍ صُورَةً فِي الْبَيْتِ فَرَجَعَ وَدَعَا ابْنُ عُمَرَ أَبَا أَيُّوبَ فَرَأَى فِي الْبَيْتِ سِتْرًا عَلَى الْجِدَارِ فَقَالَ ابْنُ عُمَرَ غَلَبَنَا عَلَيْهِ النِّسَاءُ فَقَالَ مَنْ كُنْتُ أَخْشَى عَلَيْهِ فَلَمْ أَكُنْ أَخْشَى عَلَيْكَ وَاللَّهِ لَا أَطْعَمُ لَكُمْ طَعَامًا فَرَجَعَ

د امام بخارى رحمه الله مقصد دادې چه په دعوت كښې كه څوك منكر څيز اووينى نو واپس كيدل پكاردى اوپه دې كښې شركت نه دې پكار ،په دې باندې هغوى مختلف آثارپيش كوى.

قوله: <u>ورأى ابن مسعود صورة فى البيت فرجع:</u> دمستملى، اصيلى، قابسى اوعبدوس

---

١) فتح البارى: ٣٠٨/٩ ، وعمده القارى : ١٦٢/٢٠).
٢) فتح البارى: ٣٠٩/٩) .
٣) فتح البارى: ٣٠٩/٩).
٤) ارشاد السارى: ٤٥٥/١١).

پهروايت کښې" ابن مسعود "دې او باقي رواياتو کښې ابو مسعود دې ، حافظ ابن حجر دا دويم روايت صحيح دې. او رومبې ئې تصحيف اوګرزولو او وې فرمائيل چهدا اثر دحضرت عقبه بن عمرو دې. چه دا بيهقي موصولاً روايت کړې دې. (۱)
اودا هم ممکن دی چهحضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه سره هم داشان واقعه پيښهشوې وی چه هغوی په کور کښې تصوير کتلې وی او واپس تلی وی. (۲)

قوله: ودعا ابن عمرا باايوب ، فراي في البيت سترا: حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه حضرت ابوايوب انصاری رضي الله عنه ته دعوت ورکړو ، هرکله چه هغه ددوی کور ته راغلونو په ديوال باندې ئې يو پرده اوليده.نوحضرت ابن عمر دمعذرت په طور اوونيل چه په دې سلسله کښې مونږ باندې ښځې غالبې شوې او دا پرده ئې زړونده کړه. حضرت ابوايوب انصاری رضي الله عنه اوفرمائيل چهدکومو خلقو باره کښې ماته انديښنه کيديشوه (چه هغوی به دداسې منکر ارتکاب کوی)هغه نور خلق دی ، ستاسوباره کښې خوماته انديښنه نه وه ، (چه تاسو به هم داشان معامله کښې ښځو نه مغلوبه شئ)والله ! څهبه ستاسو خوراك اونه کړم اوواپس لاړل. امام احمد رحمه الله دا اثر موصولاً نقل کړې دې.
علامه ابن بطال رحمه الله فرمائی چه په يودعوت کښې څه منکر کيږی نوشرکت کول نه دی پکار ځکه شرکت کولو سره به دده د طرفنه دهغې منکراتو د رضا مندئی اظهار وی.
تفصيل ددې دادې که په هغهځائې کښې څهدامر منکر حرامارتکاب کيږی او ددې پهبندولو باندې دې قادر وی نو دا ختمول پکار دی. اوداسې صورت کښې هغه ځائې ته تلو کښې هيڅ حرج نشته دې او شرکت کولې شی.
ليکن که ددې دختمولو باندې قادر نه وی نوپه دې صورت کښې واپس کيدل اوشرکت نه کول پکار دی.
او که په هغهځائې کښې څه دحرام ارتکاب نه وی بلکهمکروه تنزيهی څه عمل وی نوداسې صورت کښې شرکت کولې شی ، ليکن دا هم دتقوی او ورع خلاف دی. دتقوی تقاضاهم دا ده چهپه دې صورت کښې شرکت اونه کړې شی. (۳)
صاحب هدايه دا مسئله په تفصيل سره بيانوی او ليکی "ددې حاصل دادې چهدتلو نه مخکښې معلوم کړې شی چه په هغه ځائې کښې څه منکرات اوحرامو ارتکاب به وی نو تلل جائز نه دی. که دتلو نه پس معلوم شی چهنوبيا ددې دوه صورتونه دی ، که هغه مقتدی او پيشوا دی نو ده لره شرکت کول نه دی پکار ، مګر داچه دده په تلو باندې منکرات ختم شی، نوبيا شريکيدلې شی ليکن که هغه عام سړې وی نودده دپاره دشرکت ګنجائش شته دې.
امامابوحنيفه رحمه الله فرمائی چه يوځل ماته ابتلاء پيښه شوه نوما صبرنه کار واخستلو صاحب هدايه فرمائی چه دا دامام صاحب منصب او اقتداء ته رسيدو نه مخکښې واقعه ده. (۴)

۱) فتح الباري: ۹/۳۱۰).
۲) فتح الباري: ۹/۳۱۰).
۳) مذکوره تفصيل دپاره اوګورئ فتح الباري: ۹/۳۱۱).
٤) اوګورئ الهدايه کتاب الکراهيه : ٤/٤٥٥، وفيض الباري: ٤/۳۰۱).

پخپله دحضرت ابن عمر رضی الله عنه واقعه هم امام احمد رحمه الله په کتاب الزهد کښې نقل کړې ده چه حضرت ابن عمر رضی الله عنه یوځل یوصحابی رضی الله عنه کور ته داخل شو نوپه هغه ځائې کښې هغوی څه پردې اولیدلې نو دوی اوفرمائیل چه ستا په کور کښې دا کعبه د کله نه راغلې ده. (۱)

امام مسلم رحمه الله دحضرت عائشه رضی الله عنها روایت نقل کوی چه حضرت نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه((ان الله لم یامرنا ان نکسوا الحجارة والطین)) (۲)

اوس سوال دا پیدا کیږی چه په کورونوکښې د پردو لګولو څه حکم دې.دشوافع دوه قولونه دی اودامام مالك رحمه الله هم دوه روایتونه دی. ① یو دا چه پردې زړوندول حرام دی.

او ② دویم دا چه دا مکروه تنزیهی دی ، دده راجح قول هم دا دې. (۳) حضرات حنفیه فرمائی که ضرور وی نو هیڅ باك نشته دې،اوبغیرضرورت نه دا مکروه دی.(۴)

[۴۸۸۶] حَدَّثَنَا اسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ نَافِعٍ عَنْ الْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انَّهَا اخْبَرَتْهُ انَّهَا اشْتَرَتْ نُمْرُقَةً فِيهَا تَصَاوِيرُ فَلَمَّا رَاهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَامَ عَلَى الْبَابِ فَلَمْ يَدْخُلْ فَعَرَفْتُ فِي وَجْهِهِ الْكَرَاهِيَةَ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ اتُوبُ الَى اللَّهِ وَالَى رَسُولِهِ مَاذَا اذْنَبْتُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا بَالُ هَذِهِ النُّمْرُقَةِ قَالَتْ فَقُلْتُ اشْتَرَيْتُهَا لَكَ لِتَقْعُدَ عَلَيْهَا وَتَوَسَّدَهَا فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انَّ اصْحَابَ هَذِهِ الصُّوَرِ يُعَذَّبُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَيُقَالُ لَهُمْ احْيُوا مَا خَلَقْتُمْ وَقَالَ انَّ الْبَيْتَ الَّذِي فِيهِ الصُّوَرُ لَا تَدْخُلُهُ الْمَلَائِكَةُ [۱۹۹۹]

په دې روایت باندې تفصیلی کلام به انشاء الله مخکښې کتاب اللباس کښې راشی.

((نمرقة))دنون او د راء په ضمه او دمیم په سکون سره) وړه تکیه ،وسادة صغیرة.

۷۷=بَاب قِيَامِ الْمَرْأَةِ عَلَى الرِّجَالِ فِي الْعُرْسِ وَخِدْمَتِهِمْ بِالنَّفْسِ

[۴۸۸۷] حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ ابِي مَرْيَمَ حَدَّثَنَا ابُو غَسَّانَ قَالَ حَدَّثَنِي ابُو حَازِمٍ عَنْ سَهْلٍ قَالَ لَمَّا عَرَّسَ ابُو اسَيْدٍ السَّاعِدِيُّ دَعَا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاصْحَابَهُ فَمَا صَنَعَ لَهُمْ طَعَامًا وَلَا قَرَّبَهُ الَيْهِمْ الَّا امْرَاتُهُ امُّ اسَيْدٍ بَلَّتْ تَمَرَاتٍ فِي تَوْرٍ مِنْ حِجَارَةٍ مِنْ اللَّيْلِ فَلَمَّا فَرَغَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ الطَّعَامِ امَاثَتْهُ لَهُ فَسَقَتْهُ تُتْحِفُهُ بِذَلِكَ [ر:۴۸۸۱].

دامام بخاری رحمه الله مقصد دادې که د واده په موقعه باندې ناوې د میلمنودخدمت دپاره اودریږی نو په دې کښې هیڅ داعتراض ضرورت نشته دې ، په سنت کښې ددې اصل موجود دې.

---

۱) فتح الباری: ۳۱۰/۹).

۲) فتح الباری: ۳۱۱/۹ وصحیح مسلم :۴۸۲/۱).

۳) دشوافع مسلک دپاره اوګورئ فتح الباری : ۳۱۱/۹).

٤) حنفیه مذهب دپاره اوګورئ: ردالمختار علی در المختار کتاب الحظر والاباحة فصل فی اللبس : ۲۵۰/۵).

قوله: حدثنا سعيد: په دې کښې دابواسيد ساعدى واقعه بيان شوې ده چه تيره شوه، دده نوم مالك بن ربيعه دې . او دده د ښځې د ام اسيدنوم سلامه بنت وهيب دې. (۱)

قوله: بلت التمرات في تورمن حجارة من الليل: يعنى ام سيد دشپې کهجورې دکانړې په يو پياله کښې خوشتې کړې وې . «تور» لوښې ، پياله.

قوله: اماثته فسقته تتحفه بذالك: يعنى ام اسيد ددې پيالې دکهجورو نه دحضرت نبى کريم ﷺ دپاره شربت جوړکړواو بيا په طور دتحفې پيش کړو په هغه پياله کښې .

«اماثت»باب افعال نه دواحد مونث صيغه ده. «اماث...اماثة» ديو څيز اوبو کښې خوشتول ، حل کول ، «أى اماثت تودا من الحجارة للنبى ﷺ» يعنى ام اسيد د کانړى داپياله دحضرت نبى اکرم ﷺ دپاره حل کړه. مطلب دادې چه په دې پياله کښې ئې کهجورې يوځائې کړې اوددې نه ئې شربت کړو.

«تتحفه تتحف»دا باب افعال اتحاف نه دواحد مونث صيغه ده. او ضمير منصوب حضرت نبى کريم ﷺ طرف ته راجع دې. «أتحف، اتحافا»تحفه ورکول ، تحفه پيش کول.

دنسفى رحمه الله په روايت کښې داشان دى او دمستملى او سرخسى په روايت کښې«تحفة بذالك»الفاظ دى «تحفة أى هدية» (۲)

۷۸= بَابُ النَّقِيعِ وَالشَّرَابِ الَّذِي لَا يُسْكِرُ فِي الْعُرْسِ

[۴۸۸۸] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْقَارِيُّ عَنْ أَبِي حَازِمٍ قَالَ سَمِعْتُ سَهْلَ بْنَ سَعْدٍ أَنَّ أَبَا أُسَيْدٍ السَّاعِدِيَّ دَعَا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِعُرْسِهِ فَكَانَتِ امْرَأَتُهُ خَادِمَهُمْ يَوْمَئِذٍ وَهِيَ الْعَرُوسُ فَقَالَتْ أَوْقَالَ أَتَدْرُونَ مَا أَنْقَعَتْ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْقَعَتْ لَهُ تَمَرَاتٍ مِنَ اللَّيْلِ فِي تَوْرٍ[ر:۴۸۸۷].

دواده په موقعه باندې دشربت وغيره رواج دې ، امام بخارى رحمه الله فرمائى چه په دې کښې هيڅ حرج نشته دې ، که دکهجور شربت وى يا څه دبل څه شربت وى ،ليکن مسکر نه دې پکار ، نقيع هغه شربت ته وئيلې شى چه د اوچو انګورو يا اوچوکهجورو اوبووغيره کښې خوشتې کړې شى او جوړ کړې شى. (۳)

---

۱) ارشاد السارى: ۴۵۷/۱۱).
۲) فتح البارى: ۳۱۳/۹).
۳) (عمده القارى: ۱۶۵/۲۰).

۷۹=بَابُ الْمُدَارَاةِ مَعَ النِّسَاءِ وَقَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّمَا الْمَرْأَةُ كَالضِّلَعِ

[۴۸۸۹] حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ أَبِي الزِّنَادِ عَنِ الْأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْمَرْأَةُ كَالضِّلَعِ إِنْ أَقَمْتَهَا كَسَرْتَهَا وَإِنِ اسْتَمْتَعْتَ بِهَا اسْتَمْتَعْتَ بِهَا وَفِيهَا عِوَجٌ [ر: ۳۱۵۳].

مطلب دادې چه ښځو سره د لطف او مهربانۍ معامله کول پکار دی. حضرت نبی کریم ﷺ فرمائی چه ښځه د پښتۍ په شان (کږه) ده ، تاسو دوی سره په نرمئی انتفاع حاصلولې شئ ، لیکن که تاسو دا نیغول غواړئ نو تاسو به دا ماته کړئ. او ددې نه فائده هم حاصلولې نشئ . ددې وجې د ښځې لږ ډیر کوږ والئ برداشت کول پکار دی.

لیکن دا حکم امور معاشرت او امور دنیاویه په سلسله کښې دې ، د امور دین په سلسله کښې داسې حکم نه دې چه هغه د دین احکام پامال کړی او په دې باندې دې هېڅ قدغن نه وی ، د دینی امورو په سلسله کښې دې ددې نگرانی اوکړې شی او دې ته زورنه ورکول پکار دی لیکن په دې کښې هم عموما نرمی او شفقت فائده مند دې.

۸۰=بَابُ الْوَصَاةِ بِالنِّسَاءِ

[۴۸۹۰] حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ نَصْرٍ حَدَّثَنَا حُسَيْنٌ الْجُعْفِيُّ عَنْ زَائِدَةَ عَنْ مَيْسَرَةَ عَنْ أَبِي حَازِمٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلَا يُؤْذِي جَارَهُ وَاسْتَوْصُوا بِالنِّسَاءِ خَيْرًا فَإِنَّهُنَّ خُلِقْنَ مِنْ ضِلَعٍ وَإِنَّ أَعْوَجَ شَيْءٍ فِي الضِّلَعِ أَعْلَاهُ فَإِنْ ذَهَبْتَ تُقِيمُهُ كَسَرْتَهُ وَإِنْ تَرَكْتَهُ لَمْ يَزَلْ أَعْوَجَ فَاسْتَوْصُوا بِالنِّسَاءِ خَيْرًا [ر: ۳۱۵۳].

مطلب دادې چه الله ﷻ او د ده رسول ﷺ باندې ایمان راوړلو والا دې خپل گوانډی ته تکلیف نه ورکوی. او ښځه چونکه د ټول عمر رفیق او گوانډی وی ددې وجې ده ته تکلیف نه ورکول د ایمان تقاضو کښې داخل دی.

مخکښې فرمائی چه ((استوصوا بالنساء خیرا)) د ښځو په سلسله کښې حسن سلوک او د ښیگړې وصیت تاسو قبول کړئ. دا د پښتۍ نه پیدا شوې ده.

داودی رحمه الله فرمائی چه حضرت حوا علیها السلام د حضرت آدم علیه السلام د پښتۍ نه پیدا کړې شوې وه. چونکه ښځې د حضرت حوا علیها السلام په صنف کښې داخلې دی. ددې وجې د دوی متعلق فرمائیلې شوی دی چه هغه د پښتۍ نه پیدا شوې ده. (۱)

قوله: ان اعوج شئ فی الضلع اعلاه: یعنی د ټولو نه زیاته کږه پښتۍ پورتنۍ پښتۍ ده. که تاسو دا نیغول غواړئ نو تاسو به دا ماته کړئ ، او که همداسې ئې پرېږدئی نو به همداشان کږه وی.

---

۱) عمده القاری: ۱۶۵/۲).

كه يو ښځه زبان درازي اوكړي ياستا دهدايت نه خلاف ځي نو تاسو دتحمل نه كار اخلئ، داشان غالب امكان دې چه تاسو به ددې په اصلاح كښې كامياب شئ. ليكن كه تاسو غوارئ چه هغه په زوريږئ ورځ بالكل نيغه شي نوهغه دابه ماته شي او ددې نه به انتفاع حاصله نشي.

[۴۸۹۱] حَدَّثَنَا اَبُو نُعَيمٍ حَدَّثَنَا سُفيَانُ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بنِ دِينَارٍ عَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنهُمَا قَالَ كُنَّا نَتَّقِي الْكَلَامَ وَالِانْبِسَاطَ الَى نِسَائِنَا عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَيْبَةَ اَنْ يَنْزِلَ فِينَا شَيْءٌ فَلَمَّا تُوُفِّيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَكَلَّمْنَا وَانْبَسَطْنَا(۱)

حضرت ابن عمر رضي الله عنه فرمائي چه دحضرت نبي كريم ﷺ په زمانه كښې مونږ به بې تكلفئ او محبت كولو نه ويريدو چه هسې نه زمونږ په باره كښې څه آيت نازل نه شي. ليكن كله چه حضرت نبي كريم ﷺ وفات شو نو بيا مونږ ښځوسره بې تكلفئ سره خبروكښې شروع شو (ځكه چه شرعي لحاظ سره ددې هيڅ ممانعت نشته).

د روايت باب ترجمة الباب سره تعلق: په دې روايت كښې بظاهر ترجمة الباب سره تعلق په نظر نه رازي. ليكن كه لږغور اوكړو نو ترجمة الباب سره دروايت لږشان تعلق شته دې. ځكه چه حضرت ابن عمر رضي الله عنه فرمائي چه مونږ ښځو سره د بې تكلفئ او انبساط نه ويريدو، ددې دا مفهوم په خپله باندې رازوي چه مونږ ښځو دظلم زياتي نه ويريدو. چونكه په بل صورت كښې په طريق اولي دقران پاك د آيت دنازليدوامكان وو. (۲)

اصل كښې دا كيږي چه ښځې سره كله انسان زيات بې تكلفه شي نو هغه جرى كيږي او په سرخيږي. او اكثرووختونو كښې گستاخئ پورې نوبت راشي چه دا دخاوند دپاره ناقابل برداشت وي. اوداشان دوهلو نوبت راشي. حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه فرمائي چه مونږ ددې ويرې نه چه دانبساط په نتيجه كښې دوهلو نوبت راشي اوبيا دقران پاك هيڅ يو آيت څمونږ په باره كښې نازل شي، مونږ د حضرت نبي كريم په زمانه كښې دښځو سره محتاط رويه اختياروله. او چونكه حضرت نبي كريم ﷺ نه پس دنزول وحي سلسله پاتې نشوه، ددې وجې مونږ ښځو سره بې تكلفئ او انبساط اختيار كړو، اودويرې دوجې مونږ به ډيرمحتاط اوسيدو دا احتياط ختم كړو.

او علامه عيني رحمه الله ترجمة الباب سره دحديث مناسب متعلق ليكي چه: «يمكن ان توخذ المطابقة من قوله وانبسطنا لا الانبساط اليهن من جملة الوصايا بهن».

۱) واخرجه ابن ماجه في كتاب الجنائز. باب ذكر و فاته ودفنه ﷺ رقم الحديث: ۱۶۳۲).

۲) اوگورئ الابواب والترجم: ۷۳/۲ ، حضرت گنگوهي رحمه الله فرمائي چه: قوله: كنا نتقي الكلام والانبساط وفلك لاستلزامه شيئا من الضرب والتاديب ، فان الرجل اذا نبسط الى اهله ادى ذالك دل وقلة مبالاة بامر الزوج فيقع العصيان ويوذي ذالك الى ضرب وتاديب .قدكانوا عن ذالك وبذالك يطابق الحديث بالترجمة (وانظر لامع الداري: ۴۱۴/۹).

۸۱=بَاب قُوا أَنْفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا (التحریم:٦)

[۴۸۹۲] حَدَّثَنَا ابُو النُّعْمَانِ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ ايُّوبَ عَنْ نَافِعٍ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُمْ مَسْئُولٌ فَالْامَامُ رَاعٍ وَهُوَ مَسْئُولٌ وَالرَّجُلُ رَاعٍ عَلَى اهْلِهِ وَهُوَ مَسْئُولٌ وَالْمَرْاةُ رَاعِيَةٌ عَلَى بَيْتِ زَوْجِهَا وَهِيَ مَسْئُولَةٌ وَالْعَبْدُ رَاعٍ عَلَى مَالِ سَيِّدِهِ وَهُوَ مَسْئُولٌ الَا فَكُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُمْ مَسْئُولٌ [ر:۸۵۳]

دامام بخاری رحمه الله مقصد دادې چه دخپلو کور والو خبر اخلې او ددوی داصلاح کول د سړی ذمه داری ده.

ددې نه مخکښې باب کښې حدیث نقل فرمائیلې شوې دې چه ښخه پښتۍ نه پیدا شوې ده چه هغه کږه وی. په دې کښې کوږوالې وی. ددې وجې دنیاوی معاملات کښې دوی سره دنرمۍ او چشم پوشۍ رویه اختیارول پکار دی. ددې باب نه پس مذکوره باب قائم کړو او امام بخاری رحمه الله دا باب قائم کړواودې طرفته ئې اشاره اوکړه چه د نرمی اوچشم پوشی په دنیاوی کارونو اوپه کورنو معاملات کښې اختیارول پکار دی. لیکن ددین په معامله کښې داشان اجازت نشته دې. بلکه په هغه ځائې کښې ((قوا انفسکم واهلیکم نارا))حکم دې. د اوور نه دبچ کیدو دپاره خپل ځان لره هم په دین باندې مضبوطول اوقائمول پکار دی. او کور والو ته حکم په مضبوطیا سره قائمیدل پکار دی. موجب نار حرکتونو نه بچ کولوکښې داغماض او چشم پوشۍ هیڅ ګنجائش نشته دې. (۱)

لیکن ددې مطلب دانه دې چه داصلاح دپاره دې دسختۍ طریقه اختیار کړې شی. چونکه هغه عام طور مفید کیدو په ځائې دښځو دضد عادت په وجه مضر کیږی او ددې وجې اغماض او چشم پوشی خو ورته نه ده لیکن د پوهولو دپاره حکمت او نرمۍ نه کار اخستل پکار دی.

۸۲=بَاب حُسْنِ الْمُعَاشَرَةِ مَعَ الْأَهْلِ

[۴۸۹۳] حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ وَعَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ قَالَا اخْبَرَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ جَلَسَ احْدَى عَشْرَةَ امْرَاةً فَتَعَاهَدْنَ وَتَعَاقَدْنَ انْ لَا يَكْتُمْنَ مِنْ اخْبَارِ ازْوَاجِهِنَّ شَيْئًا قَالَتْ الْاولَى زَوْجِي لَحْمُ جَمَلٍ غَثٍّ عَلَى رَاسِ جَبَلٍ لَا سَهْلٍ فَيُرْتَقَى وَلَا سَمِينٍ فَيُنْتَقَلُ قَالَتْ الثَّانِيَةُ زَوْجِي لَا ابُثُّ خَبَرَهُ انِّي اخَافُ انْ لَا اذَرَهُ انْ اذْكُرْهُ اذْكُرْ عُجَرَهُ وَبُجَرَهُ قَالَتْ الثَّالِثَةُ زَوْجِي الْعَشَنَّقُ انْ انْطِقْ اطَلَّقْ وَانْ اسْكُتْ اعَلَّقْ قَالَتْ الرَّابِعَةُ زَوْجِي كَلَيْلِ تِهَامَةَ لَا حَرٌّ وَلَا قُرٌّ وَلَا مَخَافَةَ وَلَا سَامَةَ قَالَتْ الْخَامِسَةُ زَوْجِي انْ دَخَلَ فَهِدَ وَانْ خَرَجَ اسِدَ وَلَا يَسْالُ عَمَّا عَهِدَ قَالَتْ السَّادِسَةُ زَوْجِي انْ اكَلَ لَفَّ وَانْ شَرِبَ اشْتَفَّ وَانْ اضْطَجَعَ الْتَفَّ وَلَا يُولِجُ الْكَفَّ

۱) الابواب والتراجم : ۲/۷۳.

لِيَعْلَمَ الْبَثَّ قَالَتِ السَّابِعَةُ زَوْجِي غَيَايَاءُ اَوْعَيَايَاءُ طَبَاقَاءُ كُلُّ دَاءٍ لَهُ دَاءٌ شَجَّكِ اَوْفَلَّكِ اَوْجَمَعَ كُلًّا لَكِ قَالَتِ الثَّامِنَةُ زَوْجِي الْمَسُّ مَسُّ اَرْنَبٍ وَالرِّيحُ رِيحُ زَرْنَبٍ قَالَتِ التَّاسِعَةُ زَوْجِي رَفِيعُ الْعِمَادِ طَوِيلُ النِّجَادِ عَظِيمُ الرَّمَادِ قَرِيبُ الْبَيْتِ مِنَ النَّادِ قَالَتِ الْعَاشِرَةُ زَوْجِي مَالِكٌ وَمَا مَالِكٌ مَالِكٌ خَيْرٌ مِنْ ذَلِكِ لَهُ اِبِلٌ كَثِيرَاتُ الْمَبَارِكِ قَلِيلَاتُ الْمَسَارِحِ وَاِذَا سَمِعْنَ صَوْتَ الْمِزْهَرِ اَيْقَنَّ اَنَّهُنَّ هَوَالِكُ قَالَتِ الْحَادِيَةَ عَشْرَةَ زَوْجِي اَبُوزَرْعٍ وَمَا اَبُوزَرْعٍ اَنَاسَ مِنْ حُلِيٍّ اُذُنَيَّ وَمَلَا مِنْ شَحْمٍ عَضُدَيَّ وَبَجَّحَنِي فَبَجِحَتْ اِلَيَّ نَفْسِي وَجَدَنِي فِي اَهْلِ غُنَيْمَةٍ بِشِقٍّ فَجَعَلَنِي فِي اَهْلِ صَهِيلٍ وَاَطِيطٍ وَدَائِسٍ وَمُنَقٍّ فَعِنْدَهُ اَقُولُ فَلَا اُقَبَّحُ وَاَرْقُدُ فَاَتَصَبَّحُ وَاَشْرَبُ فَاَتَقَنَّحُ اُمُّ اَبِي زَرْعٍ فَمَا اُمُّ اَبِي زَرْعٍ عُكُومُهَا رَدَاحٌ وَبَيْتُهَا فَسَاحٌ اِبْنُ اَبِي زَرْعٍ فَمَا اِبْنُ اَبِي زَرْعٍ مَضْجَعُهُ كَمَسَلِّ شَطْبَةٍ وَيُشْبِعُهُ ذِرَاعُ الْجَفْرَةِ بِنْتُ اَبِي زَرْعٍ فَمَا بِنْتُ اَبِي زَرْعٍ طَوْعُ اَبِيهَا وَطَوْعُ اُمِّهَا وَمِلْءُ كِسَائِهَا وَغَيْظُ جَارَتِهَا جَارِيَةُ اَبِي زَرْعٍ فَمَا جَارِيَةُ اَبِي زَرْعٍ لَا تَبُثُّ حَدِيثَنَا تَبْثِيثًا وَلَا تُنَقِّثُ مِيرَتَنَا تَنْقِيثًا وَلَا تَمْلَاُ بَيْتَنَا تَعْشِيشًا قَالَتْ خَرَجَ اَبُو زَرْعٍ وَالْاَوْطَابُ تُمْخَضُ فَلَقِيَ امْرَاَةً مَعَهَا وَلَدَانِ لَهَا كَالْفَهْدَيْنِ يَلْعَبَانِ مِنْ تَحْتِ خَصْرِهَا بِرُمَّانَتَيْنِ فَطَلَّقَنِي وَنَكَحَهَا فَنَكَحْتُ بَعْدَهُ رَجُلًا سَرِيًّا رَكِبَ شَرِيًّا وَاَخَذَ خَطِّيًّا وَاَرَاحَ عَلَيَّ نَعَمًا ثَرِيًّا وَاَعْطَانِي مِنْ كُلِّ رَائِحَةٍ زَوْجًا وَقَالَ كُلِي اُمَّ زَرْعٍ وَمِيرِي اَهْلَكِ قَالَتْ فَلَوْ جَمَعْتُ كُلَّ شَيْءٍ اَعْطَانِيهِ مَا بَلَغَ اَصْغَرَ اٰنِيَةِ اَبِي زَرْعٍ قَالَتْ عَائِشَةُ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُنْتُ لَكِ كَاَبِي زَرْعٍ لِاُمِّ زَرْعٍ(١)

امام بخارى رحمة الله عليه دحسن معاشرت په باب كښې دا حديث دام زرع بيان فرمائيلې دې. ابن منير مالكى فرمائى چه امام بخارى رحمة الله عليه په دې حديث باندې دا ترجمة الباب منعقد اوفرمائيلو او تنبيه ئې اوفرمائيله چه حضرت نبى كريم ﷺ دا قصه صرف دقصې په طور ذكر كړې نه وه بلكه فائده شرعيه باندې دمشتمل كيدو په وجې سره دا قصه حضرت نبى اكرم ﷺ ذكر اوفرمائيله او هغه فائده شرعيه هم داده چه سړى لره پكار دى چه خپل كور والو سره حسن معاشرت او بهتره طريقه اختيار كړى. (٢)

حافظ ابن حجر رحمة الله عليه دابن منير په قول باندې اعتراض كړې دې چه امام بخارى رحمة الله عليه په دې حديث كښې چه كوم سياق وسباق اختيار فرمائيلې دې ، په هغې كښې تصريح نشته دې چه دا قصه حضرت نبى كريم ﷺ بيان كړه بلكه بخارى كښې دا حديث حضرت عائشه ﷺ باندې موقوف دې. البته آخر جمله «كنت لك كأبي زرع لأم زرع» بالاتفاق مرفوع او دحضرت نبى كريم ﷺ قول دې ، بيا دا حديث ابن منير مالكى رحمة

١) واخرجه مسلم فى كتاب فضائل الصحابة ، باب ذكر حديث ام زرع رقم الحديث: ٢٤٤٨ ، واخرجه النسائى فى كتاب عشرة النساء باب شكر المراة لزوجها رقم الحديث: ٩١٣٨ ، واخرجه الترمذى فى الشمائل ص/ ١٧ باب حديث ام زرع).

٢) اوگورئ المتوارى على تراجم ابواب البخارى : ٢٩٠).

الله علیه بیان کړېه يو خاص فائده باندې ئې هغه په څو فائدو باندې مشتمل کړې دې. (۱)
دحدیث ام زرع تخریج امام بخاری رحمة الله علیه نه علاوه امام مسلم امام ترمذی رحمة الله علیه او امام نسائی رحمة الله علیه نه هم نقل شوې دې، (۲)
دصحیحین او شمائل ترمذی دسیاق و سباق نه دا معلومیږی چه دا ټوله واقعه دحضرت عائشه ﷺ بیان کړې شوې دې ، او آخر جمله «کنت لك کأبی زرع لأم زرع» دحضرت نبی کریم ﷺ ارشاد دې . (۳)
لیکن امام نسائی ، زهیر بن بکار او طبرانی پوره حدیث مرفوعا هم ذکر کړې دې. (۴)
حافظ ابن حجر رحمة الله علیه فرمائی چه صحیحین وغیره کښې هم اګر چه دا حدیث موقوفًا مروی دې او لفظًا بیشکه داقصه ټوله موقوف ده لیکن حکماً که دې ته مرفوع اووئیلې شی څکه ظاهر هم دی چه حضرت عائشه ﷺ دا حدیث دحضرت نبی کریم ﷺ نه آوریدلې وی او حضرت نبی کریم ﷺ دآوریدو نه پس هغې ﷺ نقل کړې وی ، او که دحضرت نبی کریم ﷺ نه ئې نه وی آوریدلې بلکه حضرت نبی کریم ﷺ حضرت عائشه ﷺ نه آوریدلې وی . نوبیاد حضرت نبی کریم ﷺ نه آوریدل او آوریدلو نه پس ددې تقریر فرمائیل دا حدیث دمرفوع کیدو درجه ورکوی. او دې حیثیت سره دې مرفوع وئیلې شی.(۵)
حدیث دام زرع کښې لغات چونکه ډیرزیات دی ددې وجې ډیر علماء کرامو ددې حدیث مستقل شرح لیکلې ده. چنانچه دامام بخاری رحمة الله علیه استاد اسماعیل بن ابی اویس رحمة الله علیه، ابوسعید نیشاپوری رحمة الله علیه، ابن قتیبه رحمة الله علیه، زهیر بن بکار رحمة الله علیه ، قاضی عیاض رحمه الله قاضی ابوبکر بن عربی رحمة الله علیه ، ابن فرحون رحمة الله علیه او مولانا فیض الحسن سهارنپوری رحمة الله علیه ددې حدیث مستقل شرح لیکلې ده. (۶)
حدیث دام زرع شان ورود دابیان شوې دې چه حضرت عائشه ﷺ دخپل پلار په هغه مال باندې فخر اوکړو چه کوم د جاهلیت په زمانه کښې هغه سره وو ، نوحضرت نبی کریم دې ته اوفرمائیل چه «اسکتی یاعائشة فانی کنت لك کأبی زرع لام زرع» حضرت عائشه ﷺ تپوس اوکړو چه یارسول الله ﷺ حدیث دام زرع او ابوزرع څه دی ؟نو حضرت نبی کریم ﷺ دا قصه بیان کړه. (۷)

---

۱) فتح الباری: (۳۱۸/۹).
۲) الحدیث اخرجه مسلم فی کتاب فضائل الصحابة باب ذکر حدیث ام زرع رقم الحدیث : ۲۴۴۸ ، واخرجه الترمذی فی الشمائل ، باب ماجاء فی کلام رسول الله ﷺ فی السمر: ۱۷ ، وابن الاثیر فی جامع الاصول: ۵۰۷/۶ ، رقم الحدیث : ۴۷۲۲).
۳) فتح الباری: (۳۱۹/۹).
٤) فتح الباری:(۳۱۹/۹).
۵) فتح الباری: (۳۱۹/۹).
۶) الابواب والتراجم: (۷۳/۲، ۷٤).
۷) ارشادالساری: (٤۶۳/۱۱ ، ٤۶٤).

قوله: جَلَسَ إِحْدَى عَشْرَةَ امْرَأَةً فَتَعَاهَدْنَ وَتَعَاقَدْنَ أَنْ لَا يَكْتُمْنَ مِنْ أَخْبَارِ أَزْوَاجِهِنَّ شَيْئًا: يولس ښځې کښېناستې او هغوی خپلو کښې دا وعده اوکړه چه دخپلو خاوندانو دخبرونه بههېڅ نه پټوو.

دزهير بن بكار روايت كښې دى چه دا يولس ښځې ديمن په يو كلى كښې وې او يمنى قبائلو سره ئې تعلق ساتلو ليكن دهيثم روايت كښې دي چه دوى مكه مكرمه كښې وو. (۱)

قوله: قَالَتِ الْأُولَى زَوْجِي لَحْمُ جَمَلٍ غَثٍّ عَلَى رَأْسِ جَبَلٍ لَا سَهْلٍ فَيُرْتَقَى وَلَا سَمِينٍ فَيُنْتَقَلُ: رومبۍ ښځې اووئيل چه خما خاوند دكمزورى اوښ غوښه ده چه د غر په څوکه باندې ايښودې شوې وى. اوبه دې څوکه باندې نه لار وى او نه په دې باندې ختلې شى اونه هغه غوښه داسې ښه ده چه (چه ددې د خاطره پس اوختلې شى) دا منتقل كړې شى.

د«غث» معنى كمزورې او لاغر ده . دا د «جمل» صفت هم جوړيدې شى . په دې كښې صورت كښې به دا مجرور به وى يعنى د كمزورى اوښ غوښه . او د«لحم» صفت هم جوړيدې شى يعنى د اوښ كمزورې غوښه .په دې صورت كښې به دا مرفوع وى.(۲)

يو خود اوښ غوښه څه خوښ څيز نه دې . بيا چه دا كمزورې او لاغر وى نو دكړيلو اودنيه ختلې په مصداق او ناخوښ كښې وى . دې ښځې دخپل خاوند مذمت (غندنه) كړې ده چه ډير ناكاره او ناخوښه كس دې چه دده نه چاته مالى او جانى فائده نه رسى . اودې سره سره متكبر او بداخلاقه هم دومره دې چه ده ته رسيدل هم مشكل دى.

دې ښځې دخپل خاوند د دوه بداخلاقو تشبيه دوه څيزونو سره وركړې ده.

① دده د بخل او لاغر توب تشبيه ئې داوښ كمزورې غوښې سره وركړې ده. ② اودده بداخلاقى او سخت مزاجى ئې مشكل غر سره تشبيه كړې ده. بيا مخكښې نور وضاحت هم كوى او وائى چه لاره هم آسانه نه ده . په دې باندې دختلو مشقت به هم برداشت كړى خوكه هغه خوښه د څه كار وى. (۳)

بعضو روايتونو كښې«لا سمين فينتقى»دى.دانتقى معنى ده قيمه ويستل .يعنى هغه غوښه څه داسې تازه هم نه ده چه ددې نه قيمه ويستلې شى. (۴)

ددې ښځې نوم معلوم نشو (۵)

قوله: قَالَتِ الثَّانِيَةُ زَوْجِي لَا أَبُثُّ خَبَرَهُ إِنِّي أَخَافُ أَنْ لَا أَذَرَهُ إِنْ أَذْكُرْهُ أَذْكُرْ عُجَرَهُ وَبُجَرَهُ: دويمې ښځې اووئيل چه څه دخپل خاوند خبر نه خوروم، ويريږم چه څسې نه دې رانه

---

۱) فتح البارى: ۳۱۹/۹ . وارشادالسارى: ۴۶۴/۱۱).

۲) ارشاد السارى: ۴۶۴/۱۱).

۳) ارشاد السارى: ۴۶۴/۱۱).

٤) فتح البارى: ۳۲۳/۹).

۵) ارشاد السارى: ۴۶۴/۱۱).

جدا نشي ، كه دده ذكر كوم نو دده ټول باطني او ظاهري عيوب به ذكركوم.
① دا ښځه هم دخپل خاوند مذمت كوي ، وائي چه څه به دخپل خاوند خبر نه خوروم ځكه چه ماته ددې خبرې انديښنه ده كه ما دده خرابئي بيانول شروع كړل نو ځما طبيعت به دده نه تور شي. اوبياماته انديښنه ده چه هسې نه دې پرې نږدم ، په دې صورت كښې ((لاأذره)) كښې ((لا)) به زائدوي. (۱)
②دويم مطلب داهم كيديشي چه هسې نه هغه ته پته اولږي چه په ماباندې داشان تبصرې كيږي ،او ځما معائب بيانولې شي ، نو بيا هسې نه چه هغه ماته طلاق رانكړي. اوددې په نتيجه كښې هسې نه دې ځما نه جدا نشي ، په دې صورت كښې به((لا))زائد وي. (۲)
مذكوره دواړو صورتونو كښې ((لاأذره))كښې ضمر مفعول((زوج)) طرفته راجع دې.
③ دريم مطلب دادې چه دده خرابئ دومره دی كه څه دابيانول شروع كړم نو ماته ويره ده چه دابه پوره نشي ، اوبه مينځ كښې به پاتې شي ، ځكه دده خوهډو څه يو خرابی ده نه دا خو زر قصې دی ، په دې كښې به((لاأذره))كښې((لا))زائد نه وي ، او ضمير((لاأذره)) كښې خبر طرفته ته راجع ده. اوهم دا مطلب راجح او دسياق و سباق مناسب دې، (۳)
((عجر))د ((عجرة)) جمع ده ، عجرة هغه غوټې ته وئيلې شي چه رګ په رګ راواوړي (يعنی رګ غوټه شي)او((بجر)) د ((بجرة)) جمع ده ، هغه غوټې ته وئيلې شي چه په خيټه يا دنامه نه لاندې پيداشي. دعجر نه ظاهري عيوب او دبجرنه باطني عيوب مراد دی. (۴)
ددې دويمې ښځې نوم عمره بنت عمرو تميمی ليكلې ده. (۵) بعض حضراتو اعتراض كړې دې چه دې ښځې د معاهدې خلاف ورزی اوكړه او دخپل خاوند دخبرې كولو نه ئې انكار اوكړو. ليكن صحيح خبره داده چه ددې مختصر
الفاظو كښې ټول هر څه اووئيل چه هغه مجسمه عيوب دې. (۶)

قوله: قَالَتِ الثَّالِثَةُ زَوْجِي الْعَشَنَّقُ إِنْ أَنْطِقْ أُطَلَّقْ وَإِنْ أَسْكُتْ أُعَلَّقْ:

دريمې ښځې اووئيل چه ځما خاوند لوړ ډنګ دې ، كه اووايم نوطلاق به راكړي اوكه خاموش پاتې شم نو هم داسې به معلق شم.

((عشنق)) داسې سړی ته وائي چه ډير زيات اوږد وی ، داسې قسمه سړی عام طور بيوقوف وی ، ځكه چه دده ددماغو او زړه په مينځ كښې يو اوږد څټ وی اوددې په وجه فاصله ئې په

۱) ارشادالساري: ۳۶۶/۱۱ ، وعمده القاري: ۱۷۰/۲۰).
۲) فتح الباري: ۳۲۳/۹).
۳) عمده القاري: ۱۷۰/۲۰).
٤) ارشادالساري: ٤۶۶/۱۱ ، وعمده القاري: ۱٤۱/۲۰).
۵) عمده القاري: ۷۰/۲۰).
۶) اوګورئ خصائل نبوی شرح شمائل ترمذي: ۱٤۱).

مينځ كښې زياته وى. داشان اوړد سرې بدشكله هم وى. (۱) مطلب دادې چه ځما خاوند بيوقوف هم دې او بدنما هم . اوبداخلاقه هم . اودومره چه څه خبره دخلې نه اوباسم نو دطلاق ملاويدو ويره ده . اوكه چپ پاتې شم اوهېڅ خبره نه كوم نوهغه‌ته دڅه‌خبرې پرواه نه وى . بس هم داشان په مينځ كښې شكې يم . نه‌په خاوندانو والو كښې شمار يم چه د هغوى په شان څه خبره نه ده اونه‌بغير د خاوند نه‌يم چه بل ځائې كښې واده اوكړم بهر حال ظاهره په دې سره ترلې شوې ده.

ددې دريمې ښځې نوم حبى بنت كعب يمانى ليكلې شوې دې . (۲) دې هم‌دخپل خاوند بدبيانى اوكړه.

قوله: قَالَتِ الرَّابِعَةُ زَوْجِي كَلَيْلِ تِهَامَةَ لَا حَرٌّ وَلَا قُرٌّ وَلَا مَخَافَةَ وَلَا سَآمَةَ: څلورمې اوونيل چه ځما خاوند دتهامه دشپې په شان ((معتدل)) دې نه زيات ګرم او نه زيات‌يخ ،نه په كښې څه ويره شته اونه سترې والىٔ.

تهامه دحجاز علاقه ده . چه په هغه‌ځائې كښې شپه ډير ګرمئى كښې هم معتدله وى ، دې دخپل خاوند تعريف اوكړو چه هغه معتدل دې ، دده نه سرې ويرېږى اونه‌ده سردتنګيږى.

ددې ښځې نوم‌مهدوبنت ابى هرومه ليكلې دې . (۳)

قوله: قَالَتِ الْخَامِسَةُ زَوْجِي إِنْ دَخَلَ فَهِدَ وَإِنْ خَرَجَ أَسِدَ وَلَا يَسْأَلُ عَمَّا عَهِدَ:

پنځمې ښځې اوونيل چه ځما خاوند كله كور ته راشى نو هغه لكه پړانګ په شان وى، او چه بهر اوزى نو شيرمخ ترې جوړ شى اوهغه څيز باره كښې تپوس نه كوى چه كوم ګورى ا و پوهيږى.

دې پنځمې ښځې دبعضو حضراتو په نيزدخپل خاوند ښه اخلاق ښان كړل او هم دا راجح دى وئيل دا غواړى چه ځما خاوند ډير اخلاقى دې ، كور ته چه راشى نو دده نه پړانګ جوړيږى .پړانګ په اوده كيدوكښې ډيره مشهوره ده ، مطلب دادې چه زر ځملى، ځمونږ عيوبوكښې ګوتې نه وهى . ځمونږ په خبروكښې داخل اندازى نه كوى،ليكن كله چه بهر لاړشى نو دشير په شان بهادر وى . بهر خلق دده نه ويرېږى ، اوكه كور كښې مونږ كښې دچا نه غلطى اوشي‌اوده ته معلوم هم شى نواعراض كوى.

ليكن دبعضې‌حضراتو په نيزدې ښځې دخپل خاوند خرابى بيان كړې ده . چه كله دې كو ر ته راشى نو دكور والو نه سره څه غرض نه لرى ، بس د چيتا په شان ځملى ، بهر خى‌نو خلق ځناورو سره كوى او ځمونږ دكومو ضرورتو چه هغه ته علم اوشى نودهغې په باره كښې هېڅ سوال نه كوى او توجه‌نه وركوى . (۴)

---

۱) فتح البارى: ۳۲٤/۹).
۲) ارشادالسارى: ۳۶۶/۱۱).
۳) ارشادالسارى: ٤۶۷/۱۱).
٤) اوګورئ فتح البارى:۳۲۵/۹، ۳۲۶).

ددې ښځې نوم کبشه خودلې شوې دې. (۱)

قوله: قَالَتِ السَّادِسَةُ زَوْجِي إِنْ أَكَلَ لَفَّ وَإِنْ شَرِبَ اشْتَفَّ وَإِنِ اضْطَجَعَ الْتَفَّ وَلَا يُولِجُ الْكَفَّ لِيَعْلَمَ الْبَثَّ: شپږمې ښځې اووئيل چه خما خاوندکله خوراك کوى نوهر څه راانغاړى. کله چه څه څکى نو ټول هر څه راکاږى ، اوکله‌چه څملى نوپه څادر «کښې خانله» څملى . او هغه تلى له نه داخلوى چه پريشانى او پريشانى اوپيژنى.

«لف» دباب نصر نه دماضى صيغه ده ، په معنى د انغښتل ، «اشتف» باب افتعال نه دماضى صيغه ده . د اشتفاف په معنى کښې ده‌چه په لوښى کښې څه وى هغه ټول هر څه اوڅکى، «التف» باب افتعال نه دې التفاف په معنى کښې دې ،انغښتل «بث» غم او پريشانۍ ته وائى.

ددې شپږمې ښځې عبارت لره هم مدح او ذم دواړو باندې محمول کړې شوې دې ، ليکن د ذم احتمال راجح دې.

دمدح په صورت کښې به مطلب داوى چه‌که خوراك کوى نو هر څه رانغاړى ،نخرې نه کوى . چه څه هم وى نوهغه خورى ، اوکله چه څه څکى نو هر قسمه څيزڅکى ، دده په دسترخوان باندې دخوراك څکاك مختلف قسمه څيزونه موجود وى‌اودې بخل نه کوى او ددې طبيعت کښې نخرې هم نشته دې ، اوکله چه هغه څملى نو څادر څان باندې اچوى‌او څملى ، مونږ پريشانه او تنګوى نه ، داشان‌دعيوبو پيژندو دپاره‌دنورو په کارونوکښې هيڅ کار نه لرى. خمونږ غلطوپسې نه ګرزى. (۲)

او ذم په صورت کښې به مطلب داوى چه‌کله خوراك کوى نو پخپله کوى ، دښځې او بچو خيال نه ساتى ، او کله چه څه څکى نو نو هم دده داانداز وى .په خوراك څکاك کښې دهيچا پرواه نه کوى. اوکله چه‌څملى نو خانله په څادر کښې څملى او دې محبت او التفات طرفته هيڅ توجه نه کوى ، کثير الطعام والشراب کيدل او قليل الجماع کيدل په عربو کښې عيب وو.

علامه قسطلانى ليکى: «وهذا غاية الذم عند العرب فانها تذم بكثرة الطعام والشراب وتتمدح بقلتها وكثرة الجماع لدلالة ذالك على صحة الذكورية والفحولية» ددې ښځې نوم هند وو ، (۳)

قوله: قَالَتِ السَّابِعَةُ زَوْجِي غَيَايَاءُ أَوْ عَيَايَاءُ طَبَاقَاءُ كُلُّ دَاءٍ لَهُ دَاءٌ شَجَّكِ أَوْ فَلَّكِ أَوْ جَمَعَ كُلًّا لَكِ: اوومې ښځې اووئيل چه‌خما خاوند ګمراه دې‌يا عاجز دې ، ښځې لره سينې سره لګولو والادې، هر عيب دده عيب دې ، ستا سر اووهى يا زخمى کړى يا دواړه اوکړى،

---

۱) ارشاد السارى: ۱۱/۴۶۷).

۲) فتح البارى: ۹/۳۲۷ ، وخصائل نبوى : ۱۴۳).

۳) ارشاد السارى: ۱۱/۴۶۸).

«غياياء»دا د غی نه ماخوذ ده .او ددې معنی شر کښې انهماك. محرومی او ګمراهی ده .
په دې ځائې کښې راوی عیسی بن یونس ته شك دې چه«غياياء»ده اوونيل اوكه «عياياء»، عی نه ماخوذ ده ، چه ددې معنی عجز ده ، یعنی هغه عاجزه دې د جماع نه يا عقل نه .(۱)
«طباقاء»ددې معنی احمق هم ده او هغه سړی ته هم دا وئیلې شی چه دجماع په وخت کښې خپله سینه یا خیټه دښځې سینې یا خیټې سره منطبق کولو والا وی او دا انداز ښځو ته خوښ نه وی .چونکه داشان کولو سره د سړی روستو حصه پاس اوچته شی او دجماع په وخت کښې قوت او زور کښې کمې واقع کیږی ز ښځه دا نه خوښوی .«لانه لا يصل الى ماتريده» علامه جاحظ ددې لفظ په تشریح کښې لیکی.
«الثقيل الصدر عند الجماع ، ينطبق صدره على صدر المرأة فيرتفع سفله عنها وقد ذمت امرأة امرئ القيس فقالت له ثقيل الصدر خفيف العجز سريع الاراقة له داء الافاقة»(۲)
«كل داء له داء»هره بیماری دده دپاره ده ، یعنی خلقو کښې چه څومره خرابئ وی هغه ټولې په ده کښې موجودې دی.
«شجك أو فلك»«شج»په معنی د سرماتولو کښې ده ، په سرکښې زخم راتلل او«فل»په معنی د کند کول . په دې ځائې کښې بدن لره زخمی کول مراد دی ، یعنی هغه سر درباندې مات کړی یا زخمی کړی یا دواړه اوکړی.
ددې اوومې ښځې نوم حبی بنت علقمه دی، (۳)

قوله: قَالَتْ الثَّامِنَةُ زَوْجِي الْمَسُّ مَسُّ أَرْنَبٍ وَالرِّيحُ رِيحُ زَرْنَبٍ: اتمې ښځې اوونيل چه خما خاوندلره ګوتې وراوړل داسې دی لکه سوې لره ګوتې وراوړل ، او دده بوئی داسې دې لکه دزرنب دوبنو خوشبو.
زرنب یو خوشبوداره وابنو ته وئیلې شی ،بعضو ددې ترجمه زعفران کړې ده ، (۴)مطلب دادې چه خما خاوند د سوې په شان نرم دې .
ددې ښځې نوم یاسر بنت اوس بن عبد لیکلې شوې دې ،(۵)او دې هم د خپل خاوند تعریف کړې دې.

قوله: قَالَتْ التَّاسِعَةُ زَوْجِي رَفِيعُ الْعِمَادِ طَوِيلُ النِّجَادِ عَظِيمُ الرَّمَادِ قَرِيبُ الْبَيْتِ مِنْ النَّادِ: نهمې ښځې اوونيل چه خما خاوند اوچتو ستونو والا دې ، په اوچتو باندې

---
۱) فتح البارى: ۹/۳۲۸) .
۲) فتح البارى: ۹/۳۲۸) .
۳) ارشاد السارى: ۱۱/٤۲۹).
٤) ارشاد السارى: ۱۱/۳٦۹ . وفتح البارى: ۹/۳۲۹).
٥) فتح البارى: ۹/۳۲۹).

اوچت او ډیر مالدار ، دده کور مجلس ته نزدې دې.
اوچتو ستنووالادې "یعنی دده کوراوچتو اوچتو ستونو نه جوړ کړې شویدې ، مالدار خلق بنګلې جوړوی‌نودهغې چتونه‌اوچت وی ، ددې جملې نه دې طرفته اشاره ده .

«طویل النجاد»نه دده دقد اوږدوالی طرفته اشاره ده.«عظیم الرماد»نه دده سخاوت طرفته ا شاره ده،د میلمنو د پاره خوراك زیات پخوی . نوهله خوایره زیاته پاتې کیږی ، دده کور مجلس ته نزدې دې ، ځکه چه دې یو هوښیار او صاحب الرائې سړې دې ، چه په کوم ځائې کښې دخلقو مجلس کیږی‌نودده کور هغې ته نزدې جوړ شوې دې ، چه خلقوته آسانی وی اودده نه فائده اخلی ، اوداهم وئیلې شی چه‌دې ډیر سخی دې نوددې وجې‌ده خپل کور - دارالندوه ته نزدې جوړ کړې دې ، چه راغلو خلقوته میلمستیا اوکړی. (۱)
ددې نهمې ښځې نوم معلوم نه شو. (۲)

قوله: قَالَتِ الْعَاشِرَةُ زَوْجِي مَالِكٌ وَمَا مَالِكٌ مَالِكٌ خَيْرٌ مِنْ ذَلِكِ: لسمې ښځې اووئیل چه‌ځما خاوند مالك دې او د مالك به څه تعریف اوکړم ،مالك ددې نه بهتر دې،

د«ذالك» مشار الیه یاخو دسابقه‌ښځو ذکر طرفته دې چه هغوی تعریفونه کړی ووچه‌هغه ښځو د خپلو خاوندانوکوم تعریفونه اوکړل دهغې نه مالك ډیر بهتر دې ، اویا ددې مشار الیه ذهن کښې راتلو والا ذکر تعریف ځومره دې چه دمدائح سړی په ذهن کښې راتلې شی . دهغې نه مالك بالا تر دې. (۳)

قوله: لَهُ إِبِلٌ كَثِيرَاتُ الْمَبَارِكِ قَلِيلَاتُ الْمَسَارِحِ: دده سره اوښان دی چه اکثر اوقات غوجل کښې دننه دی او په صحرا کښې کم وی «مبارك»د«مبرك»جمع ده،د اوښ کینولو ځائې او«مسارح»د«مسرح» جمع ده‌صحرا. مطلب دادې چه‌هغه اوښان اکثر په غوجل کښې ولاړ وی دمیلمنو د خاطر مدارت دپاره‌کله هم ددې اوښانو ضرورت پیښیدیشی‌چه ذبح ئې کړی. صحراګانو طرفته دا کم لیږلې شی‌چه هسې نه دذبح کولوضرورت ئې پیښ شی اوهغه موجود نه وی . (۴)

قوله: وَإِذَا سَمِعْنَ صَوْتَ الْمِزْهَرِ أَيْقَنَّ أَنَّهُنَّ هَوَالِكُ: هرکله چه هغه اوښان د ساز او باجې آوازاوری نویقین کوی چه اوس به دوی ذبح کولې شی .

«المزهر» سازغږیدو والا آله ،باجه .مطلب دادې چه‌دمیلمنود راتلو په موقع باندې دعربو په هغه وخت کښې‌دا رواج وو چه‌دموسیقۍ اهتمام به کولې شو،هرکله چه‌به اوښ د باجې آواز واوریدونوپوهه به شو چه‌اوس به دې‌دمیلمنو دپاره ذبح‌کولې شی.

۱) فتح الباری: ۳۳۰/۹).
۲) ارشادالساری : ۴۲۰/۱۱).
۳) فتح الباری: ۳۳۱/۹).
۴) ارشاد الساری: ۴۷۱/۱۱).

ددې لسمې ښځې نوم کبشه بنت ارقم خودلې شوې ده. (۱)

قوله: قَالَتِ الْحَادِيَةَ عَشْرَةَ زَوْجِي أَبُو زَرْعٍ وَمَا أَبُو زَرْعٍ أَنَاسَ مِنْ حُلِيٍّ أُذُنَيَّ وَمَلَأَ مِنْ شَحْمٍ عَضُدَيَّ: يولسمې ښځې اوونيل چه خما خاوند ابوزرع دې ، اودابوزرع بد څه وائې ، هغه کالی (زيورات) نه خما غوږونه ډك کړی او خما لاسونه ئې څاربه کړل.

((أناس_اناسة)) معنیٰ ده : حرکت ورکول ، متحرك کول . (۲) يعنی ده په کالو سره خما غوږونه متحرك کړی دی چه ددې کالو په حرکت سره خوزی ، داشان بهترينه غذا خوړولو سره خما لاسونه څاربه شوی دی.

قوله: وَبَجَّحَنِي فَبَجِحَتْ إِلَيَّ نَفْسِي وَجَدَنِي فِي أَهْلِ غُنَيْمَةٍ بِشِقٍّ فَجَعَلَنِي فِي أَهْلِ صَهِيلٍ وَأَطِيطٍ وَدَائِسٍ وَمُنَقٍّ: ده خما دومره تعظيم ا وکړو چه ماته خپل نفس عظيم ښکاره شو. اوده څه داسې کورنۍ کښې اوموندم چه هغوی سره په مشکله څه چيلۍ وې ، بيائې څه داسې خوشحالې کورنۍ ته راوستلم چه هغه د آسونو هنړاری ، دکجاوۍ آوازونو ، اوغويانواوزميندارہ وہ ((بجح)) باب تفعيل نه دې ددې معنی خوشحالولو او تعظيم کولورازی ، يعنی ده څه دومره خوشحاله کړم ماته په ځان دخوښيدو احساس اوشو.دخپل ځان متعلق دده د تعريفونو په آوريدوآوريدوسره څه په خپلو نظرونو کښې اوچته شوم. (۳)

((شق)) دشين په کسرې سره په معنی دمشقت،يعنی څه ديو غريبې کورنۍ جينۍ اووم ،ژوند ډير په مشقت سره تيريدو ، صرف څو چيلو باندې مو وخت تيريدو.

بعضو وئيلی دی چه ((شق)) د شين په فتحې سره ديو ځائې نوم دې ، يا ددې نه د ((شق الجبل)) غر لمن مراد ده يعنی خما کور والا دمقام شق يا دامن کوه نه وو ،دهغه ځائې نه ده څه منتقل کړم. (۴)

((صهيل)) د آسونو آواز اوهنړاری ته وئيلې شی ،((اطيط)) دکجاوې آواز ته وائی ،مطلب دادې چه دابو زرع په کور کښې آسونه او اوښان وو.

((دائس)) هغه غونی ته وئيلې شی چه هغه د غنمونو او اوربشو په اوچو ونو باندې بوتلې شی ، چه بوس ترې بيل شی ، اودانې ترې بيلې شی ، چه دې ته په اردو کښې ډائس چلولو والا غوئې وئيلې شی. علامه قسطلانی رحمه الله ليکی چه : ((دائس : يدوس الزرع في بيدره ليخرج الحب من السنبل)) (۵)

۱) ارشاد الساری: ۱۱/۴۷۱).
۲) فتح الباری: ۹/۳۳۲).
۳) فتح الباری: ۹/۳۳۳).
٤) فتح الباری: ۹/۳۳۳).
۵) ارشاداالساری: ۱۱/۴۷۲).

«منق»دا دباب تفعيل تنقية د صيغه اسم فاعل دې . مراد ترې غله بادولو والا زميندار دې ، په غنمو باندې د غويانو ګرزولو نه پس زميندار د هوا په لورې اودربږي اوچج كښې دا دانې او بوس الوزوى ، دانې لاندې پريوزي او بوس په هوا كښې لرې مخكښې پريوزي. دې عمل ته«تنقية» وئيلې شي.

مطلب دادې چه دابوزرع په كور كښې غوايان هم وو اود كركروندې دپاره زميندار ان هم وو ،

قوله: فَعِنْدَهُ أَقُولُ فَلَا أُقَبَّحُ وَأَرْقُدُ فَأَتَصَبَّحُ وَأَشْرَبُ فَأَتَقَنَّحُ: ده سره چه كله خبرې كوم نوځما عيبونه نه لټوى ، چه څملم نو تر سحره پورې او كله خوراك څكاك كوم نو ښه په اطميمنان سره كوم.

مطلب دادې چه دې ما په هيڅ خبره نه رانيسي ، كله چه څملم نو تر نمر ختلو پورې ملاسته يم ، هيڅوك مې نه پاسوى ، اوكله چه څه اوڅكم نو ښه په مړه ئې څكم .

«اتقنح»باب تفعيل نه دواحد متكلم صيغه ده اونون سره ده چه ددې معنى ده ښه په مړه خيټه خوراك كول.

بعضې حضرات دې ميم سره «اتقمح» نقل كوى، ددې معنى ښه په مړه خيټه څكل ، چنانچه امام بخاري رحمه الله ددې روايت په آخر كښې فرمائى چه «قال بعضهم فأتقمح بالميم وهذا أصح»

قوله: أُمُّ أَبِي زَرْعٍ فَمَا أُمُّ أَبِي زَرْعٍ عُكُومُهَا رَدَاحٌ وَبَيْتُهَا فَسَاحٌ: دابو زرع مور څما د «خوابنې» بهڅه وائې چه دهغې پخې يا كچه كوټې ډكې وى،دزميندارو سره د مختلف پخې يا كچه ورې يا لوئې كوټې وى چه په هغې كښې په څه كښې دالونه،په څه كښې وريژې،او غلې وى،اوچرته د مقصد دپاره د ورو مشكونو برابر كوټې وى ، په دې ځائې كښې كوټئې يا كچه كوټې مراد دى ، او ددې كور فراخه دې.

«عكوم» د «عكم» جمع دې ، كوټه يا كچا كوټه چه په هغې كښې غله وغيره اينبودې شي . (١)مطلب دادې چه ددې كور دسامانونو نه ډك وو او ددې كور هم ښه فراخه كور وو، هغه يوصاحب حيثيت ښځه وه.

قوله: ابْنُ أَبِي زَرْعٍ فَمَا ابْنُ أَبِي زَرْعٍ مَضْجَعُهُ كَمَسَلِّ شَطْبَةٍ وَيُشْبِعُهُ ذِرَاعُ الْجَفْرَةِ: د ابوزرع ځوئې اود ابوزرع د ځوئې به څه وائې ،دهغه دخوب ځائې دكهجورو دښاخ په شان (باريك) دې ، د چيلئ يو پتون دې مړوى.

«مضجع»صيغه ظرف ده.دملاستى ځائې ، دخوب ځائې ، بعضو وئيلى دى چه دبدن هغه حصه مراد ده چه ملاستى په وخت كښې فرش سره لګيدلې وى لكه پښتئ ، (٢)

«مسل: سل(ن)سلا» نه مصدر ميمى دې ، چه ددې معنى دتوره دنيام نه بهر راويستلو رازى .

---

١ . فتح البارى ٣٣٥/٩).

٢) اوګورئ خصائل نبوى للشيخ زكريا: ١٤٥).

«شطبة» د کهجورې ښاخ ته وئیلې شی. (۱) «مسل شطبة» کښې صفت اضافت موصوف طرفته دې یعنی د خنډلې شوې کهجورې په شان یعنی د کهجورې داسې ښاخ چه دهغې نه زیاتې پانړې بالکل کټ شوې وی . دکهجورې ښاخ یو خو هسې نرې پرې وی ، د پانړود خنډلو نه پس نور هم نرې پرې شی. مطلب دادې چه هغه دومره نرې دې چه دده دخوب ځائې د کهجورې دښاخ په شان باریك معلومیږی .

«یشبعه» باب افعال نه دې ، «جفرة» دچیلۍ د څلورو میاشتو بچې ته وائی ، یعنی دچیلۍ د بچې یو لاس دده د خوراك دپاره کافی وی ، مطلب دادې چه هغه خوراك کم کوی ، کم خوراك کول په عربوکښې د ځوانانودپاره یو ښه خصلت شمیرلې شی.

قوله: بِنْتُ أَبِي زَرْعٍ فَمَا بِنْتُ أَبِي زَرْعٍ طَوْعُ أَبِيهَا وَطَوْعُ أُمِّهَا وَمِلْءُ كِسَائِهَا وَغَيْظُ جَارَتِهَا: دابو زرع لور ، دابوزرع دلور به څه وائې، دا دخپل مور پلار ډیره زیاته فرمانبرداره ده،خپل ځادر اغوندی ، او دخپل ګاونډی دپاره باعث دغیظ وغضب

«طوع» مصدر دې ،ددې حمل دمبالغې په طوروئیلې شوې دې ، د «مل ء کساءها» معنی دچه هغه ښه صحتمنده ده ،خپل ځادر اغوندی‌نو په دې کښې هیڅ خلا نه وی ،ځادر ترې ډك شی ،ددې ګاوندیان ددې په شان وشوکت سوزی ،د «جاره» نه بن هم مراد ده.

عربو کښې به ځوان نرې پرې او تیز بدن والا خوخولې شو ،خوجینۍ به‌بڅه‌غټه پټه خوخولې شوه.(۲)

قوله: جَارِيَةُ أَبِي زَرْعٍ فَمَا جَارِيَةُ أَبِي زَرْعٍ لَا تَبُثُّ حَدِيثَنَا تَبْثِيثًا: دابوزرع وینځه ، ددې به لا څه وائې ،څمونږ خبرو لره خوروی نه .

قوله: وَلَا تُنَقِّثُ مِيرَتَنَا تَنْقِيثًا وَلَا تَمْلَأُ بَيْتَنَا تَعْشِيشًا: هغه نه څمونږ دکور په څیزونوکښې کمې کوی او نه‌څمونږ کور د ګند نه ډکوی.

«نقث» باب تفعیل نه ده، په معنی د منډې وهلو. ابوسعید فرمائی چه د «تنقیث» معنی ده دخپل کور څیزونه غیرو ته خودل. (۳) «میرة» زاد ، ذخیره دطعام ، مطلب دادې چه هغه څمونږ په زاد وطعام کښې هیڅ قسمه تصرف اوخیانت نه کوی، «تعشیش» خشاك ته وئیلې شی یعنی هغه په کور کښې ګند نه اچوی ،بلکه‌کور صفا ساتی لکه آئینه .

قوله: قَالَتْ خَرَجَ أَبُو زَرْعٍ وَالْأَوْطَابُ تُمْخَضُ: ام زرع وائی چه‌څما خاوند ابوزرع (یو ورځ سحر وختی) په هغه وخت کښې اووتلوچه په کوم وخت کښې د پئیو لوښی راغوښتلې شو.

---

۱) حاشیه خصائل نبوی للشیخ زکریا: ۱٤٥).

۲) فتح الباری: ۹/۳۳۶).

۳) فتح الباری: ۹/۳۳۷).

((الاوطاب)) د ((وطب)) جمع ده ، د پئيو هغه لوښی ته وئيلې شی چه په هغې کښې ماسته ((چکه)) جوړولې شی . او بيا ددې نه کوچ ويستلې شی. دې ته چاټی وئيلې شی. (١) ((تمخض)) صيغه دمجهودل‌ده ،مطلب دادې چه‌ابوزرع سحر وختی دکور نه اوزی.

قوله: فَلَقِيَ امْرَأَةً مَعَهَا وَلَدَانِ لَهَا كَالْفَهْدَيْنِ يَلْعَبَانِ مِنْ تَحْتِ خَصْرِهَا بِرُمَّانَتَيْنِ فَطَلَّقَنِي وَنَكَحَهَا: دده ملاقات داسې ښځې سره اوشوچه هغې سره‌د پړانګ پشان دوه بچی ئې وو چه‌ددې دملا نه لاندې د دوو دانو دانارو سره ئې لوبې کولې ، نو ده ماته طلاق راکړو اوهغې سره ئې نکاح اوکړه.

پړانګ په‌تيزوالی او هلو کښې ډيره مشهوره ده او ددې د تيزوالی سره تشبيه‌وروکولې شی يعنی‌ددې ښځې د پړانګ دبچی په شان دوه بچی ووچه د چيتا د بچو پشان ئې تيزوالی وهل، او په لوبو کښې مشغول وو.(٢)

اوهغوی دواړو ددې دملا لاندې د انار دوؤ دانو سره ئې لوبې کولې ، انار د دانو نه مراد يا خو په حقيقت کښې دانار دانې مراد دی ، دانار دانې ددې دملا لاندې‌داشان راغلې وې چه چونکه ددې سرين غټ غټ او درانه وو ، نوددې په زمکه باندې دملاستې په صورت کښې ددې دملا اودزمکې په مينځ کښې فاصله راغلې وه ،هم په دې خلا کښې دوه انار وو او بچو دې سره لوبې کولې ، غټ سرين والا انسان چه کله په زمکه باندې‌څملی نو د ده ملا په زمکه باندې نه لګی ، دده دملا او زمکې ترمينځه خلارازی.

اوَ يا دانارنه سينې مراد دی‌چه هغه بچو هغې سره لوبې کولې ، اوددې په اړخ کښې وو.(٣) ددې ښځې نوم معلوم نشو.(۴)

قوله: فَنَكَحْتُ بَعْدَهُ رَجُلًا سَرِيًّا رَكِبَ شَرِيًّا وَأَخَذَ خَطِّيًّا: دې نه پس ما يوشريف سره نکاح اوکړه (چه‌دهغه نوم معلوم نشو) چه دې به تيزتلونکی اس باندې سوريدو. او په‌لاس کښې به ئې نيزه نيولې وه يعنی بهادر وو.

د ((سری)) معنی سردار اوشريف ده ، ((شری)) سرکش او تيزرفتار آس ((خطی)) دمقام خط جوړه شوې نيزه ، خط دبحرين ديو علاقې نوم دی.(۵)

قوله: وَأَرَاحَ عَلَيَّ نَعَمًا ثَرِيًّا وَأَعْطَانِي مِنْ كُلِّ رَائِحَةٍ زَوْجًا: او دشپې په وخت کښې ئې ماله ډول څناور راوستل او دهر قسمه څناورو نه يويو قسم جوړه ماته راکړه ،د((أراح

---

١) الاوطاب : جمع وطب . وهو سقاء اللبن ومخضها استخراج الزبد من اللبن بتحريكها (وانظر جامع الاصول: ۵۱۶/۶).

٢) ارشادالساری: ۴۶۷/۱۱).

٣) فتح الباری: ۳۴۰/۹).

٤) ارشادالساری: ۱۷۵/۱۱).

٥) فتح الباری: ۳۴۱/۹).

..اراحة» معنى ده دشپې په وخت كښې څناور راوستل.«نعماء» د«انعام» مفرد دې . څناورو اواوښن وغيره ته وئيلې شي .«ثريا» ډير. كثير ، بعضو نسخوكښې«نعما» په كسره دنون ده ، د «نعمة» جمع ده . يعنى ماته ئې ډير نعمتونه راكړى دى (١) د «رائحة» نه دشپې په وخت كښې ر اتلونكى څناور مراد دى.

قوله: وَقَالَ كُلِي أُمَّ زَرْعٍ وَمِيرِي أَهْلَكِ: وې وئيل ، ام زرع ته هم اوخوره او خپلې سخركنۍ ته ئې هم واستوه.

«ميرى» دامر حاضر مونث صيغه ده.«مار (ض) ميرا» داهل وعيال نان نفقه راوړل.
مطلب دادې چه عموماً خاوند دا نه خوښوى چه دده ښځه دې دده دكور سامان خپل دمور پلار كور ته يوسى. ليكن بل خاوند ئې دومره فراخدل ووچه پخپله هم خوره او خپل مور پلار كره هم اوليږه.

قوله: قَالَتْ فَلَوْ جَمَعْتُ كُلَّ شَيْءٍ أَعْطَانِيهِ مَا بَلَغَ أَصْغَرَ آنِيَةِ أَبِي زَرْعٍ: ام زرع اووئيل چه دې دويم خاوند ماته څه راكړل كه هغه ټول څه راجمع كړم نودا دابو زرع دېو وړوكى لوښى ته هم نه رسى. (دابو زرع خو خبره څه بله وه).
(دا قصه د آورولونه پس) حضرت نبى كريم ﷺ حضرت عائشه رضي الله عنها ته اوفرمائيل چه څه ستا دپاره داسې يم لكه څنګه چه ام زرع دپاره ابو زرع وو. او په دې كښې څه شك دې بلكه حضرت نبى ﷺ خو د حضرت عائشه دپاره ددې هم زيات ثابت شوې دې.

دزبيربن بكار او طبرانى روايت كښې دومره اضافه دا هم ده چه «الا انه طلقها ولا اطلقك» ابو زرع خو ام زرع ته طلاق وركړې وو ليكن څه به طلاق ورنكړم. (٢)

قوله: قَالَ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ قَالَ سَعِيدُ بْنُ سَلَمَةَ عَنْ هِشَامٍ وَلَا تُعَشِّشُ بَيْتَنَا تَعْشِيشًا قَالَ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ وَقَالَ بَعْضُهُمْ فَأَتَقَمَّحُ بِالْمِيمِ وَهَذَا أَصَحُّ: ابوعبدالله دامام بخارى رحمه الله كنيت دې ، هغوى دسعيد بن سلمه بن حسام مدنى دتعليق ذكر كړې دې. د سعيد بن سلمه د صحيح بخارى په روايت كښې صرف هم دا يو تعليق دې (٣) هغوى مذكوره سند سره دهشام نه دجاريه ابى زرع وصف كښې د «ولا تملا» په ځائې د «تعيشش» الفاظ نقل كړې شوى دى.

«تعيش» باب تفعيل نه د مونث صيغه ده. د«عشش الطائر» معنى د مرغو ژاله جوړول ، د «ولا تعشش بيتنا تعشيشا» معنى ده هغه خمونږه كور كښې ژاله نه جوړوى ، ددې دوه مطلبونه كيدېشى ، يو دا چه هغه خمونږ په كور كښې داسې خسړى نه كوى چه دخمونږ كور

---

١) فتح البارى: ٩/٤٤٢)
٢) فتح البارى: ٩/٣٤٣ ، وارشادالسارى: ١١/٤٧٧).
٣) فتح البارى: ٩/٣٤٣).

د مرغۍ د ژالې په شان معلوم شي ،بلکه کور لره صفا ساتي ، او دويم مطلب داکيدیشی چه‌هغه خمونږ په کور کښې دخان دپاره ژاله نه جوړوی‌چه په دې کښې زنا اوکړې اوبچې ترې پيدا شي ، لکه څنګه چه په ژاله کښې بچې وی بلکه هغه يو ضعيفه وينځه ده او بدکاره او زناکاره نه ده.

حافظ ابن حجر رحمه الله «ولا تغشش» دغين معجمه سره نقل کړې دې ،چه د «غش» نه ماخوذ دې ، اوددې معنى ده کوټه‌اود خالص ضد دې ، اوپه دې صورت کښې مطلب واضح شو چه هغه خمونږ په کور کښې د کوټې او خيانت نه کار نه اخلي.(۱)

[۴۸۹۴] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا هِشَامٌ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ الْحَبَشُ يَلْعَبُونَ بِحِرَابِهِمْ فَسَتَرَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا أَنْظُرُ فَمَا زِلْتُ أَنْظُرُ حَتَّى كُنْتُ أَنَا أَنْصَرِفُ فَاقْدُرُوا قَدْرَ الْجَارِيَةِ الْحَدِيثَةِ السِّنِّ تَسْمَعُ اللَّهْوَ[ر: ۴۴۳].

حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائی چه‌حبشيانو خپلو نيزو سره لوبې کولې ، حضرت نبی کريم ﷺ خه پټه کړم او ما کتل ، ما برابرکتل تر دې پورې چه‌خه پخپله واپس شوم،او اندازه اولګوئی ددې جينۍ کم عمرى ،او دلوبو چه ډيره‌دلوبو شوقى ده.

«حراب: د: حربة» جمع ده ،نيزې ته وائی ، د احديث ماقبل‌ډير څل تير شوې دې ، په دې خائې دا د «حسن المعاشرت مع الاهل» لاندې راوړې شو ، يوکم عمره جينۍ دلوبو څومره شوقې وی ، ظاهردی چه هغې کافی وخته پورې لوبې کتلې ، دحضرت عائشه رضي الله عنهاعمر تقريبا په دې وخت کښې پنځلس کاله وو ، او حضرت نبی کريم ﷺ په حفاظت کښې ئې لوبې کتلې او ترکومې چه‌پخپله اخوا نه شوه نو حضرت نبی کريم ﷺ هغه اخوا نه کړه.
ښځه اجنبي سړی ته دشهوت نه بغير کتلې شي، (۲)

۷۳=بَاب مَوْعِظَةِ الرَّجُلِ ابْنَتَهُ لِحَالِ زَوْجِهَا

[۴۸۹۵] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي ثَوْرٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ لَمْ أَزَلْ حَرِيصًا عَلَى أَنْ أَسْأَلَ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ عَنِ الْمَرْأَتَيْنِ مِنْ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللَّتَيْنِ قَالَ اللَّهُ تَعَالَى إِنْ تَتُوبَا إِلَى اللَّهِ فَقَدْ صَغَتْ قُلُوبُكُمَا حَتَّى حَجَّ وَحَجَجْتُ مَعَهُ وَعَدَلَ وَعَدَلْتُ مَعَهُ بِإِدَاوَةٍ فَتَبَرَّزَ ثُمَّ جَاءَ فَسَكَبْتُ عَلَى يَدَيْهِ مِنْهَا فَتَوَضَّأَ فَقُلْتُ لَهُ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ مَنِ الْمَرْأَتَانِ مِنْ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللَّتَانِ قَالَ اللَّهُ تَعَالَى إِنْ تَتُوبَا إِلَى اللَّهِ فَقَدْ صَغَتْ قُلُوبُكُمَا قَالَ وَاعَجَبًا لَكَ يَا ابْنَ عَبَّاسٍ هُمَا عَائِشَةُ وَحَفْصَةُ ثُمَّ اسْتَقْبَلَ عُمَرُ الْحَدِيثَ يَسُوقُهُ قَالَ كُنْتُ أَنَا وَجَارٌ لِي مِنَ الْأَنْصَارِ فِي بَنِي أُمَيَّةَ بْنِ زَيْدٍ وَهُمْ مِنْ عَوَالِي الْمَدِينَةِ وَكُنَّا نَتَنَاوَبُ

۱) فتح البارى: ۹/۳۳۹).
۲) اوګورئ الهدايه . کتاب الکراهه : ۴/۴۶۰).

النُّزُولَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَنْزِلُ يَوْمًا وَأَنْزِلُ يَوْمًا فَإِذَا نَزَلْتُ جِئْتُهُ بِمَا حَدَثَ مِنْ خَبَرِ ذَلِكَ الْيَوْمِ مِنَ الْوَحْيِ أَوْ غَيْرِهِ وَإِذَا نَزَلَ فَعَلَ مِثْلَ ذَلِكَ وَكُنَّا مَعْشَرَ قُرَيْشٍ نَغْلِبُ النِّسَاءَ فَلَمَّا قَدِمْنَا عَلَى الْأَنْصَارِ إِذَا قَوْمٌ تَغْلِبُهُمْ نِسَاؤُهُمْ فَطَفِقَ نِسَاؤُنَا يَأْخُذْنَ مِنْ أَدَبِ نِسَاءِ الْأَنْصَارِ فَصَخِبْتُ عَلَى امْرَأَتِي فَرَاجَعَتْنِي فَأَنْكَرْتُ أَنْ تُرَاجِعَنِي قَالَتْ وَلِمَ تُنْكِرُ أَنْ أُرَاجِعَكَ فَوَاللّٰهِ إِنَّ أَزْوَاجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيُرَاجِعْنَهُ وَإِنَّ إِحْدَاهُنَّ لَتَهْجُرُهُ الْيَوْمَ حَتَّى اللَّيْلِ فَأَفْزَعَنِي ذَلِكَ وَقُلْتُ لَهَا قَدْ خَابَ مَنْ فَعَلَ ذَلِكِ مِنْهُنَّ ثُمَّ جَمَعْتُ عَلَيَّ ثِيَابِي فَنَزَلْتُ فَدَخَلْتُ عَلَى حَفْصَةَ فَقُلْتُ لَهَا أَيْ حَفْصَةُ أَتُغَاضِبُ إِحْدَاكُنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْيَوْمَ حَتَّى اللَّيْلِ قَالَتْ نَعَمْ فَقُلْتُ قَدْ خِبْتِ وَخَسِرْتِ أَفَتَأْمَنِينَ أَنْ يَغْضَبَ اللّٰهُ لِغَضَبِ رَسُولِهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَهْلِكِي لَا تَسْتَكْثِرِي النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا تُرَاجِعِيهِ فِي شَيْءٍ وَلَا تَهْجُرِيهِ وَسَلِينِي مَا بَدَا لَكِ وَلَا يَغُرَّنَّكِ أَنْ كَانَتْ جَارَتُكِ أَوْضَأَ مِنْكِ وَأَحَبَّ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُرِيدُ عَائِشَةَ قَالَ عُمَرُ وَكُنَّا قَدْ تَحَدَّثْنَا أَنَّ غَسَّانَ تُنْعِلُ الْخَيْلَ لِغَزْوِنَا فَنَزَلَ صَاحِبِي الْأَنْصَارِيُّ يَوْمَ نَوْبَتِهِ فَرَجَعَ إِلَيْنَا عِشَاءً فَضَرَبَ بَابِي ضَرْبًا شَدِيدًا وَقَالَ أَثَمَّ هُوَ فَفَزِعْتُ فَخَرَجْتُ إِلَيْهِ فَقَالَ قَدْ حَدَثَ الْيَوْمَ أَمْرٌ عَظِيمٌ قُلْتُ مَا هُوَ أَجَاءَ غَسَّانُ قَالَ لَا بَلْ أَعْظَمُ مِنْ ذَلِكَ وَأَهْوَلُ طَلَّقَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نِسَاءَهُ وَقَالَ عُبَيْدُ بْنُ حُنَيْنٍ سَمِعَ ابْنَ عَبَّاسٍ عَنْ عُمَرَ فَقَالَ اعْتَزَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَزْوَاجَهُ فَقُلْتُ خَابَتْ حَفْصَةُ وَخَسِرَتْ قَدْ كُنْتُ أَظُنُّ هَذَا يُوشِكُ أَنْ يَكُونَ فَجَمَعْتُ عَلَيَّ ثِيَابِي فَصَلَّيْتُ صَلَاةَ الْفَجْرِ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَشْرُبَةً لَهُ فَاعْتَزَلَ فِيهَا وَدَخَلْتُ عَلَى حَفْصَةَ فَإِذَا هِيَ تَبْكِي فَقُلْتُ مَا يُبْكِيكِ أَلَمْ أَكُنْ حَذَّرْتُكِ هَذَا أَطَلَّقَكُنَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ لَا أَدْرِي هَا هُوَ ذَا مُعْتَزِلٌ فِي الْمَشْرُبَةِ فَخَرَجْتُ فَجِئْتُ إِلَى الْمِنْبَرِ فَإِذَا حَوْلَهُ رَهْطٌ يَبْكِي بَعْضُهُمْ فَجَلَسْتُ مَعَهُمْ قَلِيلًا ثُمَّ غَلَبَنِي مَا أَجِدُ فَجِئْتُ الْمَشْرُبَةَ الَّتِي فِيهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ لِغُلَامٍ لَهُ أَسْوَدَ اسْتَأْذِنْ لِعُمَرَ فَدَخَلَ الْغُلَامُ فَكَلَّمَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ رَجَعَ فَقَالَ كَلَّمْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَذَكَرْتُكَ لَهُ فَصَمَتَ فَانْصَرَفْتُ حَتَّى جَلَسْتُ مَعَ الرَّهْطِ الَّذِينَ عِنْدَ الْمِنْبَرِ ثُمَّ غَلَبَنِي مَا أَجِدُ فَجِئْتُ فَقُلْتُ لِلْغُلَامِ اسْتَأْذِنْ لِعُمَرَ فَدَخَلَ ثُمَّ رَجَعَ فَقَالَ قَدْ ذَكَرْتُكَ لَهُ فَصَمَتَ فَرَجَعْتُ فَجَلَسْتُ مَعَ الرَّهْطِ الَّذِينَ عِنْدَ الْمِنْبَرِ ثُمَّ غَلَبَنِي مَا أَجِدُ فَجِئْتُ الْغُلَامَ فَقُلْتُ اسْتَأْذِنْ لِعُمَرَ فَدَخَلَ ثُمَّ رَجَعَ إِلَيَّ فَقَالَ قَدْ ذَكَرْتُكَ لَهُ فَصَمَتَ فَلَمَّا وَلَّيْتُ مُنْصَرِفًا قَالَ إِذَا الْغُلَامُ يَدْعُونِي فَقَالَ قَدْ أَذِنَ لَكَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَخَلْتُ عَلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا هُوَ مُضْطَجِعٌ عَلَى رِمَالِ حَصِيرٍ لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُ فِرَاشٌ قَدْ أَثَّرَ الرِّمَالُ بِجَنْبِهِ مُتَّكِئًا عَلَى وِسَادَةٍ مِنْ أَدَمٍ حَشْوُهَا لِيفٌ فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ ثُمَّ قُلْتُ وَأَنَا قَائِمٌ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَطَلَّقْتَ نِسَاءَكَ فَرَفَعَ إِلَيَّ بَصَرَهُ فَقَالَ لَا فَقُلْتُ اللّٰهُ أَكْبَرُ ثُمَّ قُلْتُ وَأَنَا قَائِمٌ أَسْتَأْنِسُ

يَا رَسُولَ اللّٰهِ لَوْ رَأَيْتَنِي وَكُنَّا مَعْشَرَ قُرَيْشٍ نَغْلِبُ النِّسَاءَ فَلَمَّا قَدِمْنَا الْمَدِينَةَ اِذَا قَوْمٌ تَغْلِبُهُمْ نِسَاؤُهُمْ فَتَبَسَّمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ لَوْ رَأَيْتَنِي وَدَخَلْتُ عَلَى حَفْصَةَ فَقُلْتُ لَهَا لَا يَغُرَّنَّكِ اِنْ كَانَتْ جَارَتُكِ اَوْضَأَ مِنْكِ وَاَحَبَّ اِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُرِيدُ عَائِشَةَ فَتَبَسَّمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَبَسُّمَةً اُخْرَى فَجَلَسْتُ حِينَ رَاَيْتُهُ تَبَسَّمَ فَرَفَعْتُ بَصَرِي فِي بَيْتِهِ فَوَاللّٰهِ مَا رَاَيْتُ فِي بَيْتِهِ شَيْئًا يَرُدُّ الْبَصَرَ غَيْرَ اَهَبَةٍ ثَلَاثَةٍ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ ادْعُ اللّٰهَ فَلْيُوَسِّعْ عَلَى اُمَّتِكَ فَاِنَّ فَارِسَ وَالرُّومَ قَدْ وُسِّعَ عَلَيْهِمْ وَاُعْطُوا الدُّنْيَا وَهُمْ لَا يَعْبُدُونَ اللّٰهَ فَجَلَسَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ مُتَّكِئًا فَقَالَ اَوَفِي هٰذَا اَنْتَ يَا ابْنَ الْخَطَّابِ اِنَّ اُولٰئِكَ قَوْمٌ عُجِّلُوا طَيِّبَاتِهِمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ اسْتَغْفِرْ لِي فَاعْتَزَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نِسَاءَهُ مِنْ اَجْلِ ذٰلِكَ الْحَدِيثِ حِينَ اَفْشَتْهُ حَفْصَةُ اِلَى عَائِشَةَ تِسْعًا وَعِشْرِينَ لَيْلَةً وَكَانَ قَالَ مَا اَنَا بِدَاخِلٍ عَلَيْهِنَّ شَهْرًا مِنْ شِدَّةِ مَوْجِدَتِهِ عَلَيْهِنَّ حِينَ عَاتَبَهُ اللّٰهُ فَلَمَّا مَضَتْ تِسْعٌ وَعِشْرُونَ لَيْلَةً دَخَلَ عَلَى عَائِشَةَ فَبَدَاَ بِهَا فَقَالَتْ لَهُ عَائِشَةُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ اِنَّكَ كُنْتَ قَدْ اَقْسَمْتَ اَنْ لَا تَدْخُلَ عَلَيْنَا شَهْرًا وَاِنَّمَا اَصْبَحْتَ مِنْ تِسْعٍ وَعِشْرِينَ لَيْلَةً اَعُدُّهَا عَدًّا فَقَالَ الشَّهْرُ تِسْعٌ وَعِشْرُونَ لَيْلَةً فَكَانَ ذٰلِكَ الشَّهْرُ تِسْعًا وَعِشْرِينَ لَيْلَةً قَالَتْ عَائِشَةُ ثُمَّ اَنْزَلَ اللّٰهُ تَعَالَى اٰيَةَ التَّخَيُّرِ فَبَدَاَ بِي اَوَّلَ امْرَاَةٍ مِنْ نِسَائِهِ فَاخْتَرْتُهُ ثُمَّ خَيَّرَ نِسَاءَهُ كُلَّهُنَّ فَقُلْنَ مِثْلَ مَا قَالَتْ عَائِشَةُ

دا حديث په کتاب العلم کښې مختصر تير شوې دې ، کتاب المظالم کښې تفصيلاً تير شوې دې او په کتاب التفسير کښې هم تير شوې دې.

حضرت ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی چه ما ته مسلسل دا خواهش کيدو چه د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه نه د حضرت نبی کريم ﷺ د هغه دوو ازواجو متعلق تپوس اوکړم چه د هغوی متعلق الله تعالی په قران کريم کښې ﴿اِنْ تَتُوْبَآ اِلَى اللّٰهِ فَقَدْ صَغَتْ قُلُوْبُكُمَا﴾ ارشاد فرمائيلې دې. تر دې پورې چه حضرت عمر فاروق حج اوکړو او ما هم هغوی سره حج ادا کړو ، واپسئ کښې هغوی په لار کښې د قضائې حاجت د پاره يو طرفته شو. خه هم يو طرفته شوم ، هغوی چه کله د قضائې حاجت نه فارغ شو او راغلل نو ما د لوټې نه هغوی ته په لاسونو اوبه واچولې ، او هغوی اودس اوکړو. (په دې موقع) باندې ما هغوی ته اووئيل چه ائې امير المومنين په ازواج مطهرات کښې هغه کومې ښځې وې چه د هغوی متعلق الله ﷻ ارشاد فرمائيلې دې چه ﴿اِنْ تَتُوْبَآ اِلَى اللّٰهِ فَقَدْ صَغَتْ قُلُوْبُكُمَا﴾ . حضرت عمر فاروق رضی الله عنه اوفرمائيل چه ائې ابن عباس رضی الله عنهما تا لره تعجب دې ، (چه تا ته دا خبر نه ده معلوم) هغه دواړه حضرت عائشه رضی الله عنها او حضرت حفصه رضی الله عنها وې.

بيا حضرت عمر فاروق رضی الله عنه دا حديث بيان کړو او متوجې شو او وې فرمائيل چه خه او څما يو انصاري ګاونډی د بنو اميه بن زيد (محله) کښې اوسيدو . بنو اميه د مدينې منورې يو طرفته اوسيدل ، مونږ به حضرت نبی کريم ﷺ لره نمبر په نمبر راتلو ، يو ورځ به هغه راتلو او يو ورځ به خه . کله چه به خه راتلم نو هغه لره به مې د وحی وغيره خبر راوړو. اوکله چه به

هغه راتلو نو داشان به ئې كول. مونږ (په مكه مكرمه كښې) په ښځو باندې غالب وو ، بيا چه كله مونږ مدينې منورې ته راغلو نو اومو كتل چه ښځې په سړو باندې غالبې دى ، (دهغوى په كتلو سره) د انصارو ښځو عادت خمونږ ښځو هم خپلول‌شروع كړو. يوورځ زه خپلې ښځې ته په غصه شوم نو هغې هم ماته جواب راكړو ، ماته ددې راګرزيدل او جواب راكول ښه اونه لګيدل ، هغې اووئيل چه په تا باندې دا خبره ولې بدې لګى حالانكه دحضرت نبى كريم ﷺ بيبيانې هم‌هغوى ته جواب وركوى. په دوى كښې يو (حضرت حفصه رضى ﷺ) ده، دحضرت نبى كريم ﷺ سره ټوله ورځ تر شپې پورې خبرې نه كوى. دې‌خبرې څه ډير پريشانه كړم او ما هغې ته اووئيل چه‌په دوى كښې چا هم دا سې اوكړل نو هغه محرومه شوه. بيا ما خپلې جامې راوخستې او مدينې منورې ته راغلم او حضرت حفصه ﷺ لره ورغلم. دهغې نه مې تپوس اوكړو چه ائې حفصه ﷺآيا په تاسو كښې څوك ټوله ورځ حضرت نبى كريم ﷺ لره‌خفه ساتى. وې وئيل چه آو. نو ما اووئيل چه‌بيا خوتاسو نا كامه او نامراده شوئى.آيا ته ددې خبرې نه محفوظ ئې چه‌دحضرت نبى كريم ﷺ د خفګان په وجه‌الله ﷻ خفه شى‌او ته هلاكه شې؟ګوره دحضرت نبى كريم ﷺ نه ډيره غوښتنه مه كوه اومه هغه ته راګرزه جواب وركړه اومه‌حضرت نبى كريم ﷺ لره پريږده .ستا چه څه ضرورت وى نو هغه خما نه غواړه. او دا خبره‌دې تا په دهوكه كښې وانچوى‌چه ستا بن (دجاره نه مراد بن ده)چه ستا نه زياتې حسينې دى او حضرت‌نبى كريم ﷺ ته ستا نه زياتې خوښې دى ، (رسول الله ﷺ هغوى ته دمحبت په وجه څه نه وائى نو ته هم په غلط فهمۍ كښې مه اوسه) ددوى مراد حضرت عائشه ﷺ وه.

حضرت عمر فاروق ﷺ فرمائى چه‌مونږ خبرې كولې چه غسان نومې بادشاه‌مونږ سره د جنګ كولو دپاره‌دپخپلو آسونونعلونه وهى (اوهغوى لره تياروى)خما انصارى ملګرىد خپل نمبر په ورځ‌مدينې منورې ته راغلو‌او دماسختن په وخت كښې مونږ لره راغلو‌او په زوره زوره ئې دروازه اووهله ،وې وئيل دلته په كور كښې هغه شته دې ؟څه راوتلم‌نو وې وئيل چه نن خو يو لويه حادثه اوشوه ،ما اووئيل چه څه اشنو ، آيا غسان راغلو څه ؟وې وئيل چه نه بلكه‌ددې نه هم‌زياته حادثه اوشوه . حضرت نبى كريم ﷺ خپلو ټولو بيبيانو ته طلاق وركړې دې ، ما اووئيل حفصه ناكام او نامراده شوه. خيال راتلو چه‌دا واقعه به نزدې كيږى. نوما خپلې جامې راواخستې او (مدينې منورې ته راغلم) اوحضرت نبى كريم ﷺ پسې مې دسحر مونځ اوكړو بيا (د مونځ نه پس) حضرت نبى كريم ﷺخپلې بالاخانې ته داخل شواو ګوشه نشين شو.څه حضرت حفصه ﷺ لره راغلم‌او چه اومې كتل نوهغې ژړل ، ما ا ووئيل چه ته ولې ژاړې آيا ما ته نه وې ويرولې ، آيا حضرت نبى كريم ﷺ ازواج مطهرات ته طلاق وركړې دې ، هغې اووئيل چه‌پته نشته دې ، حضرت نبى اكرم دلته په كمره كښې ګوشه نشين دې .څه دهغه خائې نه راووتلم او (مسجدنبوى ﷺ) كښې منبرته راغلم نوددې نه ګير چاپيره‌يو ډله ناسته وه او ددې بعضو كسانو ژړل.څه دوى سره لږساعت‌كښيناستم، بيا په ماباندې خما احساس غالب شو نو څه هغه كمرې طرفته لاړم چه په هغې كښې حضرت نبى كريم ﷺ وو او دحضرت نبى كريم ﷺتور غلام ته مې اووئيل چه‌د حضرت عمر فاروق ﷺ دپاره اجازت اوغواړه . غلام دننه لاړو او حضرت نبى كريم ﷺ سره خبره اوكړه ،

بیاواپس راغلو او وې ونیل چه ما حضرت نبی کریم ﷺ سره خبره ا وکړه اوستاسو ذکر مې اوکړوخوحضرت نبی کریم ﷺ خاموش پاتې شو. نو څه واپس منبرته راغلم او هغه جماعت سره دوباره کېښناستم لیکن ځما احساس بیا په ماباندې غالب شو اوځه راغلم او غلا م ته مې اونیل د حضرت عمر رضي الله عنه دپاره اجازت اوغواړه. هغه دننه لاړو اوواپس راغلو او وې ونیل چه ما حضرت نبی کریم ﷺ ته ستاسو ذکر اوکړو خو حضرت نبی کریم ﷺ خاموش پاتې شو. بیا واپس راغلم او منبر والوسره کېښناستم لیکن ځما احساس بیا په ما غالب شو. نو څه بیا غلام لره ورغلم اوورته مې اونیل چه دحضرت عمر فاروق رضي الله عنه دپاره اجازت اوغواړه ، هغه دننه لاړو اوواپس راغلو او وې ونیل چه ماحضرت نبی کریم ﷺ ته اوفرمائیل خو هغوی خاموش پاتې شو. هرکله چه څه واپس شوم نو حضرت عمر رضي الله عنه فرمائي چه غلام څه راوبللم اووې ونیل چه حضرت نبی کریم ﷺ تاسو تهاجازت درکړو ،نو څه حضرت نبی کریم ﷺ لره ورغلم نو څه ګورم چه حضرت نبی کریم ﷺ (دکهجورو د پوستکو) جوړ شوی پوزکی باندې ملاست دی ،او ددې پوزکې په مینځ کښې څه بستره نه وه ، د پوزکې پوستکو دحضرت نبی کریم ﷺ په ملامبارکه کښې نښې جوړې کړې وې. دچمړې په تکیه باندې حضرت نبی کریم ﷺ تکیه لګولې وه چه دهغه د کهجورو پوستکو نه ډکه وه.

نوما حضرت نبی کریم ﷺ ته سلام اوکړواو بیا مې ورته په ولاړه ولاړه اوونیل چه یارسول الله ﷺ آیا تاسو خپلو بیبیانوته طلاق ورکړې دې ؟حضرت نبی کریم ﷺ نظر پورته کړو او وې فرمائیل چه نه. ما اونیل الله اکبر. بیا ما مانوسه کولو دپاره په ولاړه ولاړه اوونیل چه یارسول الله کاش چه تاسو ځما خبرې طرفته التفا ت اوفرمائې. مونږ قریشی خلق به په ښځویاندې غالب وو، کله چه مونږ مدینې منورې ته راغلو نو مونږ اوکتل چه ددې په قوم باندې ددې خائې ښځې غالب دی. ځما په دومره خبره آوریدوسره حضرت نبی کریم ﷺ مسکی شو. بیا ما اوونیل چه څه حضرت حفصه رضي الله عنها لره ورغلم او ما ورته اوونیل چه ته دخپلې بنې (دجاره نه مراد بن ده) حالت باندې دهوکه مه خوره. چونکه هغه ستانه زیاته حسینه او حضرت نبی کریم ﷺ ته زیاته خوښه ده. دحضرت عمر فاروق رضي الله عنه مراد حضرت عائشه رضي الله عنها وه. نوحضرت نبی کریم ﷺ په دې آوریدو بیا مسکی شو. ما چه کله حضرت نبی کریم ﷺ په خندا اولیدل نو کېښناستم . ماددوی په کمره باندې نظر واچولونو د درې چمړو نه علاوه په کمره کښې څه داسې څیز نه ووچه نظر پرې واپس شوې وې نوما اوونیل چه یارسو الله ﷺ دالله تعالی نه دعا اوکړئ چه ستاسو په امت باندې فراخی راولی. ځکه چه فارس او روم باندې فراخی شویده. او هغوی ته ددنیا دولت ورکړې شوې دې. حالانکه د الله ﷻ عبادت نه کوی. ،حضرت نبی کریم ﷺ تکیه لګولې وه او ځما دخبرې په آوریدو کېښناستل او وې فرمائیل چه:

«أَوَفِي هَذَا أَنْتَ يَا ابْنَ الْخَطَّابِ إِنَّ أُولَئِكَ قَوْمٌ عُجِّلُوا طَيِّبَاتِهِمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا»

اې عمر بن الخطاب آیا ته په دې خیال کښې ئې چه بیشکه داسې خلق کښې چه دوی ته په دنیا کښې ددوی خوښ څیزونه اوښه څیزونه ورکړې شوی دی .

نوما اوونیل چه یارسول الله ﷺ خما دپاره مغفرت اوغواړئی ، (چه ما داشان نامناسبه درخواست اوکړو) نو حضرت نبی کریم ﷺ دخپلو بیبیانو نه ددې خبرې په وجه چه کوم حضرت حفصه رضي الله عنها دحضرت عائشه رضي الله عنها مخکښې ظاهره کړې وه یو کم دیرش (۲۹) ورځې بیل وو. حضرت نبی کریم ﷺ د خپلو بیبیانوسره د خفګان په وجه فرمائیلی وو " چه څه به یو میاشت پورې دوی لره نه ورځم ".

بیا چه کله یوکم دیرش ورځې تیرې شوې نو حضرت نبی کریم ﷺ حضرت عائشه رضي الله عنها لره راغلو اودوی نه ئې شروع اوکړه نوحضرت عائشه رضي الله عنها اوفرمائیل چه یارسول الله ﷺ تاسو خو قسم خوړلې وو چه تاسوبه یو میاشت پورې مونږ لره نه راځئ ، اوس خولا یوکم دیرشمه ورځ ده څه ئې شمیرم. حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه میاشت د یوکم دیرشو ورځو هم وی. هغه میاشت دیوکم دیرشووه.

حضرت عائشه رضي الله عنها اوفرمائیل چه بیا الله ﷻ د تخییر آیت نازل اوفرمائیلو او په خپلو بیبیانوکښې ئې دټولو نه مخکښې څما نه شروع اوکړه. نو ما حضرت نبی کریم ﷺ غوره کړو ، نو بیا حضرت نبی کریم ﷺ خپلو ټولو بیبیانو ته اختیار کړو اوټولو هغه اوونیل چه څه حضرت عائشه رضي الله عنها اونیلی وو.

قوله: وَعَدَلَ وَعَدَلْتُ مَعَهُ بِإِدَاوَةٍ فَتَبَرَّزَ: عدل یعنی دوی رضي الله عنه د لارې نه یو طرفته شو. ما هم لوټه واخستله او یو طرفته شوم،دوی د براز دپاره لاړل ((تبرز أی خرج وذهب للبراز .اداوة)) لوټه.د اوبو لوښې (۱)

په ((واعجبا)) کښې دوه اقواله دی، یودا چه واعجبا تنوین سره اسم فعل په معنی د ((أتعجب)) ده لکه ((واها)) اسم فعل دې په معنی څومره ښکلې دې . دویم قول دادې چه بغیر د تنوین نه ،واعجبا)) دې اصل کښې دا((واعجبی)) دې یاء ئې تخفیفًا الف سره بدله کړې ده لکه ((الهفا)) یا ((أسفا)) او یا د((حسرتا)) الفاظ. (۲)

علامه زمخشری فرمائی چه داسې معلومیږی چه حضرت عمر فاروق رضي الله عنه دا الفاظ د ناخوښئ په طور وئیلې دی.دحضرت ابن عباس رضي الله عنه سوال دوی ته خوښ نه وو، د ابن شهاب زهری هم دا خیال دې ، په صحیح مسلم کښې دی((قال الزهری: والله ما سأله عنه ولم یکتمه))(۳) علامه قرطبی رحمه الله ددې الفاظو نه دناخوښئ دا مفهوم لرې ګڼړی.(۴) او حقیقت هم دادې چه حضرت عمر فاروق رضي الله عنه دالفاظ د ناخوښئ داظهار دپاره نه وو وئیلی بلکه د تعجب په طور

---

۱) واصل تبرزمن البراز وهو موضح ا لخالی البارز غن البیوت ثم اطلق علی نفس الفعل (فتح الباری:۳٤۸/۹)

۲) ارشادالساری: ٤۸۰/۱۱).

۳) صحیح مسلم : ۱/ وفتح الباری: ۳٤۹/۹).

٤) فتح الباری: ۳٤۹/۹).

نې ونيلى دى چه ته دومره لونې عالمې او دا واقعه تاته معلومه نه ده . نو د كتاب التفسير په روايت كښې د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما قول منقول دې چه هغوى حضرت عمر فاروق رضي الله عنه ته اوونيل ((والله ان كنت لأريد أن أسالك عن هذا منذ سنة فما أستطيع هيبة لك)) نو حضرت عمر فاروق رضي الله عنه اوفرمائيل چه ((فلا تفعل ما ظننت أن عندى من علم فاسالنى فان كان لى علم خبرته خبرك به)) (۱) ددې نه معلوميږى چه د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما سوال په حضرت عمرفاروق رضي الله عنه باندې خراب نه وولګيدلې.

قوله: كُنْتُ أَنَا وَجَارٌ لِي مِنَ الْأَنْصَارِ: د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د هغه ګاوندى نوم بعضو حضراتو عتبان بن مالك خودلې دې . ليكن حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه د دې نوم اسود بن خولى بن عبدالله دې . (۲)

قوله: مِنْ عَوَالِي الْمَدِينَةِ: ((عوال)) ((عالية)) جمع ده ددې نه مدينې ته نزدې مشرق طرفته كلى مراد دى. (۳)

قوله: نَتَنَاوَبُ النُّزُولَ: ((تناوب)) يو څيز نمبر په نمبر كول . نوبت په نوبت كول.

قوله: فَصَخِبْتُ عَلَى امْرَأَتِي: ((صخب (س) صخبا)) چغې وهل . په بعضو نسخو كښې ((سخبت)) سين سره دې . د دواړو يو معنى ده.(۴)

قوله: لا تستكثر النبي صلى الله عليه وسلم اى لا تطلبى منه الكثير:(۵) : ((غسان)) قبيله غسان مراد دې . چه ددې د سردار او بادشاه نو حارث بن ابى ثمر وو. (۶)

((تنعل الخيل)) ((تنعل)) باب افعال نه دې . آسونو ته نعلونه لګول.

((أثم هو)) همزه استفهاميه دې . ((ثم)) ظرف مكان دې . يعنى آيا په كور كښې حضرت عمر فاروق رضي الله عنه شته دې.

((يوشك)) افعال مقاربه كښې دې . ((جَمَعْتُ عَلَيَّ ثِيَابِي)) ما خپلې جامې انغښتې ، جمع مې كړې . په كوركښې سړى سره مختصر لباس وى . څادر وغيره ايږدى. مطلب دادې چه څادر وغيره ما واغوستلو او روان شوم.

((مَشْرُبَةٌ)) كمره . بالا خانه ((لِغُلَامٍ لَهُ أَسْوَدَ)) ددې غلام نوم رباح ليكلې شويدې . (۷)

---

۱) اوګورئ صحيح بخارى . كتاب التفسير . سوره التحريم : ۱۸۶۶/۴ . رقم الحديث: ۴۶۲۹).
۲) فتح البارى: ۳۵۰/۹).
۳) فتح البارى: ۳۵۰/۳).
۴) فتح البارى: ۳۵۱/۹).
۵) ارشادالسارى: ۴۸۱/۱۱).
۶) ارشاد السارى: ۴۸۱/۱۱).
۷) فتح البارى: ۳۵۸/۹).

قوله: فَإِذَا هُوَ مُضْطَجِعٌ عَلَى رِمَالِ حَصِيرٍ: يعني په جوړ شوى پوزكى باندې ملاست وو ، هيڅ بستره پرې نه وه ، ددې وجې پوزكى د حضرت نبى كريم ﷺ په ملا مباركه كښې نښې جوړې كړې وې.

په دې حديث كښې د «رمال» الفاظ تشريح كوى او علامه ابن اثير ليكى چه:

«الرمال ما رمل اى نسج يقال رمل الحصير وأرمله فهو مرمول ومرمل ، قال الزمخشرى : ونظيره الحطام والركام لما حطم وركم وقال غيره: الرمال جمع رمل بمعنى مرمول كخلق الله بمعنى مخلوقه والمراد انه كان السرير قد نسج وجهه بالسعف ولم يكن على السرير وطاء سوى الحصير» (١)

او حافظ ابن حجر ليكى ، «رمال: بكسر الراء وقد تضم .. تقول رملت الحصير وأرملته اذا نسجته وحصير مرمول أى منسوج والمراد هنا ان سريره كان مرمولا بما يرمل به الحصير» (٢)

قوله: وِسَادَةٍ مِنْ أَدَمٍ حَشْوُهَا لِيفٌ: د چمړې تكيه چه په هغې كښې دننه دكهجورو پوستكى وى . «ليف» د كهجورې پوستكى «حشو» نه دتكيه كپړه كښې چه كوم اضافى څيز مالوچ وغيره ډكوى هغه ترې مراد دې.

قوله: فَقُلْتُ اللّٰهُ أَكْبَرُ: دا وئيل يا خوتعجب په طور وو ، دامام بخارى رحمه الله هم دا رائې ده او هغوى ابواب الادب ص٩١٨ باندې يو ترجمه قائم كړې ده ، دهغې نه ددې وضاحت كيږى.(٣)

دبعضو شراح خيال دې چه حضرت عمر فاروق رضي الله عنه دا الفاظ په طور دشكريه ادا كړل چه حضرت محمد ﷺ طلاق نه دې وركړې. دا دالله تعالى لوئې كرم دې .كه تاسو طلاق وركړې وې نو دحضرت عمر فاروق رضي الله عنه لور ته به هم طلاق شوې وې. (٤)

قوله: وقال عبيد بن حنين سمع ابن عباس عن عمر فقال اعتزل النبى ﷺ ازواجه: دا ئې په مينځ كښې د عبيد بن حنين تعليق ذكر كړو ، په دې تعليق كښې د «طلق» په ځائې د « اعتزل» كلمه ده . كتاب التفسير كښې دې تعليق لره امام موصوف موصولاً نقل كړې دې. (٥)

مخكښې حديث «فقلت خابت حفصه وخسرت ....» دا سند باب سره متعلق دې او موصول دې. د مخكښې حديث تسلسل دې. په مينځ كښې دعبيد بن حنين جمله معترضه په طور ذكر شوې ده. ددې تعليق ذكركولو سره دامام بخارى رحمه الله مقصد دادې چه د «طلق»

---

١) اوګورئ النهايه لابن الاثير: ٢/٢٦٥).
٢) فتح البارى: ٩/٣٥٨).
٣) اوګورئ صحيح بخارى . كتاب الادب باب التكبير والتسبيح عندالتعجب).
٤) ٩/٣٥٩).
٥) اوګورئ صحيح بخارى كتاب التفسير سوره التحريم: ١٨۶۶/٤ ، رقم الحديث: ٤۶٢٩).

په لفظ باندې ټول روايات متفق نه دی ، په بعضو کښې «طلق» اوبعضو کښې «اعتزل» لفظ دې. که د«طلق» لفظ لره درست تسليم کړې شي نوپه دې صورت کښې به ددې انصاری باره کښې وئيلې شی چه دې د منافقانو د پروپيګنډې نه متاثر شوې وو. حضرت نبی کريم ﷺ ګوشه نشين شوې وو ،اهل نفاق دا بې سره بې پښو خبره مشهوره کړه چه حضرت نبی کريم ﷺ طلاق ورکړې دهاو خلقودا نقل کړه، (۱)

قوله: ثُمَّ قُلْتُ وَأَنَا قَائِمٌ أَسْتَأْنِسُ: يعنی بيا ماأووئيل چه ، په دې حال کښې چه څه ولاړ اوم مانوس کيدم ،«أَسْتَأْنِسُ»دا ماقبل نه حال دې ، علامه قرطبی رحمه الله فرمائی چه دامحل استفهام دې ، اصل کښې«أَأَسْتَأْنِسُ» دې يوهمزه تخفيفًا حذف کړې شوې دې . يعنی آيا څه مانوس کيدې شم اوخبره کولې شم ،ليکن رومبئ معنی ظاهر د ه. (۲)

قوله: غَيْرَ أَهَبَةٍ ثَلَاثَةٍ: «أهبة» دهمزه اوباء فتحه سره» دا «اهاب»نه خلاف قياس جمع دې،(۳) څمړې ته وئيلې شی.

قوله: من شدة موجدته عليهن: موجدة: غضب ، غصه. ددې حديث به آخر کښې دی چه حضرت نبی کريم ﷺ دهغه خبرې په وجه خفه شو او دبيبيانو نه بيل شوې وو چه کومه خبره حضرت حفصه رضی الله عنها حضرت عائشه رضی الله عنها په مخکښې ظاهر کړې وه ، هغه څه خبره وه؟ ددې متعلق تفصيل د سورة تحريم په تفسير کښې تير شوې دې. (۴) هغه ځائې کښې دې اوکتلې شی.

دحديث مناسبت ترجمة الباب سره واضح دې چه دې کښې حضرت عمرفاروق رضی الله عنه خپلې لور حضرت حفصه رضی الله عنها ته نصيحت کړې وو.

۸۴=بَابُ صَوْمِ الْمَرْأَةِ بِإِذْنِ زَوْجِهَا تَطَوُّعًا

[۴۸۹۶] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُقَاتِلٍ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَصُومُ الْمَرْأَةُ وَبَعْلُهَا شَاهِدٌ إِلَّا بِإِذْنِهِ [ر: ۴۸۹۹]

ښځه د خاوند داجازت نه بغير نفلی روژه نيولې شی ،امام بخاری رحمه الله په ترجمة الباب کښې هيڅ حکم نه دې لګولې ،البته ددې لاندې چه کوم حديث ذکر کړې دې ،دهغې نه عدم جواز معلوميږی .

دتطوع قيد ئې په دې وجه اولګولوچه په فرض روژه کښې د خاوند اجازت ضروری نه وی ، نفلی روژه کښې البته ښځه ددې مکلف ده چه هغه د خاوند نه اجازت واخلی او روژه اونيسی(۵)

۱) فتح الباری: ۳۵۵/۹).
۲) فتح الباری: ۳۵۹/۹).
۳) فتح الباری: ۳۶۰/۹).
۴) اوګورئ کشف الباری: کتاب التفسير صفحه: ۶۸۴).
۵) الابواب والتراجم: ۷۴/۲).

دخاوند داجازت نه بغیر که ښځه نفلي روژه اونیسي نو اکثرو دي ته حرام اوبعضو ورته مکروه وئیلي ده. امام نووی رحمه الله دحرمت قول ته او مهلب مکروه تنزیهی قول ته ترجیح ورکړې ده. البته دروژه نیولو نه پس روژه معتبره اوصحیح وی. لیکن ښځه به ګنهګاره وی او ددې د قبولیت معامله الله ﷻ سره ده. (۱)

په سند کښې عبدالله نه عبدالله بن مبارك مراد دې ، حدیث کښې دی که دښځې خاوند حاضر وی نو هغه به روژه نه نیسي خو دده نه به اجازت اخلی.

البته که خاوند په سفر باندې دې یا داشان بیمار دې چه هغه دښځې نه استمتاع نشی حاصلولې نو په داسې صورت کښې هغه روژه نیولې شی، که هغه دسفرنه راشی اوښځه روژه داره وه نوهغه دده دپاره روژه فاسدولې شی.اوپه دې کښې هیڅ قسمه کراهت نشته دې.(۲)

۸۵=بَاب إِذَا بَاتَتِ الْمَرْأَةُ مُهَاجِرَةً فِرَاشَ زَوْجِهَا

[۴۸۹۷] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ عَنْ شُعْبَةَ عَنْ سُلَيْمَانَ عَنْ أَبِي حَازِمٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا دَعَا الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ إِلَى فِرَاشِهِ فَأَبَتْ أَنْ تَجِيءَ لَعَنَتْهَا الْمَلَائِكَةُ حَتَّى تُصْبِحَ

[۴۸۹۸] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَرْعَرَةَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ زُرَارَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا بَاتَتِ الْمَرْأَةُ مُهَاجِرَةً فِرَاشَ زَوْجِهَا لَعَنَتْهَا الْمَلَائِكَةُ حَتَّى تَرْجِعَ[ر:۳۰٦۵].

مطلب دادې چه خاوند کله ښځه د جماع دپاره رابلی او هغه بغیر د څه عذر نه نه راځی نوملائك په دې باندې ترصبا پورې لعنت وائی ،او خاوند چه د خفګان په حالت کښې شپه تیره کړی.

په دویم روایت کښې دی چه فرښتې په دې باندې لعنت وائی تر دې پورې چه هغه ښځه (خاوند لره دپرېښودلونه) رجوع اوکړی.

۸٦=بَاب لَا تَأْذَنِ الْمَرْأَةُ فِي بَيْتِ زَوْجِهَا لِأَحَدٍ إِلَّا بِإِذْنِهِ

امام بخاری رحمه الله دا وئیل غواړی چه ښځې لره دا جائز نه دی چه دخاوند د اجازت نه بغیر دخپل خاوند کور ته څوك راولی ،که هغه ددې رشته داروليې نه وی.

دحضرات مالکیه په نیز دښځې پلار او رور ددې کور ته داخلیدیشی بغیر داجازت نه. ددوی دپاره اجازت ضروری نه دې. هغه په دلیل کښې د صلة الرحم روایات پیش کوی. وائی چه ددوی په منع کولو سره به قطع رحمی لازم رازی او حالانکه صله رحمی واجب او ضروری ده. (۳)

---

۱) فتح الباری: ۹/۳٦۹).
۲) فتح الباری: ۹/۳٦۹).
۳) الابواب والتراجم: ۲/۷٤).

دحضرات حنفیه په دې مسئله کښې درې اقواله دی.

① یوقول د مطلقًا ممانعت دې یعنی هیڅوك هم دخاوند د اجازت نه بغیر کور ته راوستل صحیح نه دی.

②دویم قول دادې چه درشته دارانو دخول بغیر د اجازت نه ممنوع نه دی ، البته ډیر ساعت ناستې او اوږدې خبرې اترې کول ممنوع دی.

③اودریم قول دادې چه د ښځې مور پلار د دې دخاوند داجازت نه بغیر په هفته کښې یوورځ راتلې شی،خاوند ته حق نشته چه دوی منع کړی. داشان که مور پلار کره ښځه په هفته کښې یو ځل تلل غواړی نوددې دپاره هم اجازت دې ، البته نورو رشته دارو کره په کال کښې یو ځل اجازت دې دخاوند د اجازت نه بغیر . (۱)

[۴۸۹۹] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ حَدَّثَنَا أَبُو الزِّنَادِ عَنِ الْأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَحِلُّ لِلْمَرْأَةِ أَنْ تَصُومَ وَزَوْجُهَا شَاهِدٌ إِلَّا بِإِذْنِهِ وَلَا تَأْذَنَ فِي بَيْتِهِ إِلَّا بِإِذْنِهِ وَمَا أَنْفَقَتْ مِنْ نَفَقَةٍ عَنْ غَيْرِ أَمْرِهِ فَإِنَّهُ يُؤَدَّى إِلَيْهِ شَطْرُهُ وَرَوَاهُ أَبُو الزِّنَادِ أَيْضًا عَنْ مُوسَى عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ فِي الصَّوْمِ

قوله: وَمَا أَنْفَقَتْ مِنْ نَفَقَةٍ عَنْ غَيْرِ أَمْرِهِ فَإِنَّهُ يُؤَدَّى إِلَيْهِ شَطْرُهُ: ښځې که د خاوند د اجازت نه بغیر دده دمال او ګټه څه خرچ کړل نو دده نیمه حصه به خاوندته ملاویږی. یعنی د نیمې ثواب به خاوند ته ملاویږی.

مطلب دادې چه خاوند مالك دې ، ، دملك په وجه ده ته به نیمه حصه ثواب ملاویږی ، او که ښځې په انفاق باندې خرچ کړو نو دانفاق په وجه به نیمه حصه ثواب ښځې ته ملاویږی.

لیکن دا په دې صورت کښې دی چه خاوند ورته ددومره مقدار اجازت نه وو کړې صراحتًا لیکن عرفًا دومره مقدار دخرچ کولو ښځه مجاز وی. یا دادی چه دخرچ کولو په وخت کښې نې صراحتًا اجازت نه وی ورکړې ، لیکن سابق نه ئې دې ته اجازت ورکړې وی . نوداسې صورت کښې که ښځه دمال دومره حصه دخیر په لار کښې خرچ کړی نو ددې ثواب به نیم خاوند ته ملاویږی. ځکه چه هغه دده ګټه وه، اوچونکه انفاق ښځې کړې دې نو ددې وجې نیم ثواب به ښځې ته ملاویږی حدیث کښې دی چه«عن غیرامره» نه «عن غیر امره الصریح» مراد دی یعنی صریح اجازت دانفاق په وخت کښې نه وی ، او «امر صریح» مخکښې اجازت یا عرفی اجازت منافی نه وی.

لیکن که ښځه دخاوند په مال کښې دده داجازت نه بغیر دومره مقدار خرچ کړی چه دې ته دهغې عرفًا اجازت نه وو او نه ورته خاوند د سابق نه اجازت ورکړې وو نو داجائز نه دی ، داسې صورت کښې به ښځې ته ثواب نه ملاویږی بلکه ګنهګاره به وی. (۲)

---

۱) مذکوره درې واړه اقوال اوګورئ: الهدایة ،کتاب الطلاق ،باب النفقه : ۴۱۸/۲ ، صاحب هدایه آخری قول لره مفتی به ګنړلې دې).

۲) اوګورئ فتح الباری:۳۷۰/۹).

قوله: وَرَوَاهُ أَبُو الزِّنَادِ أَيْضًا عَنْ مُوسَى عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ فِي الصَّوْمِ

مقصد دادې چه روايت باب چه د «شعيب عن ابى الزناد عن الاعرج» د طريق نه دې،په دريو احكامو باندې مشتمل دې. ① اذن زوج نه بغير دصوم حكم ② اذن زوج نه بغير د دخول بيت حكم ③ او امر صريح نه بغير دانفاق حكم . امام بخارى رحمه الله مذكوره تعليق لره ذكركړو او اشاره ئې اوكړو چه ابو الزناد يو بل سند «عن موسى عن ابيه» طريق سره هم يو روايت نقل كړې او په دې كښې درې احكامونه صرف دصوم والا حكم مذكور دې چه ښځه دخاوند داجازت نه بغير روژه نشى نيولې .

په تعليق كښې موسى نه موسى بن ابى عثمان مراد دې . دده دپلار نوم تبان يا عمران دې . او دده كنيت عثمان دې ، بخارى كښې دده صرف يو تعليق دې ، په بل ځائې كښې دده ذكر نشته دې. (۱)

دا تعليق امام احمد اونسائى وغيره موصولاً نقل كړې دې. (۲)

باب

[۴۹۰۰] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا اسْمَاعِيلُ اخْبَرَنَا التَّيْمِيُّ عَنْ ابِي عُثْمَانَ عَنْ اسَامَةَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قُمْتُ عَلَى بَابِ الْجَنَّةِ فَكَانَ عَامَّةَ مَنْ دَخَلَهَا الْمَسَاكِينُ وَاصْحَابُ الْجَدِّ مَحْبُوسُونَ غَيْرَانَّ اصْحَابَ النَّارِ قَدْ امِرَ بِهِمْ الَى النَّارِ وَقُمْتُ عَلَى بَابِ النَّارِ فَاذَا عَامَّةُ مَنْ دَخَلَهَا النِّسَاءُ [ر:۶۱۸۱].

حضرت نبى كريم ﷺ فرمائى چه څه به دجنت په دروازه باندې ولاړ يم اوعام طوربه جنت كښې داخليدو والا مساكين وى ، اواغنياء او مالدار په حساب كتاب كښې ګير وى . ليكن داصحاب ا لنار دپاره به نار ته د بوتلو حكم شوې وى .اوځه به ددوزخ په دروازه ولاړ يم او په دوزخ كښې به عام طور سره ښځې داخليږى.

دترمذى په يو روايت كښې رازى چه فقراء به نصف يوم مخكښې د اغنياء نه جنت ته داخليږى. او دآخرت ورځ زرو كالو ده ، لهذا هغوى به پنځه سوه كاله مخكښې جنت ته داخليږى. (۳)

سفيان بن عينيه نه نقل شوى دى چه په اصل كښې اغنياء به خپلې دروازې پريږدى او غلطئ سره به د فقراء دروازې ته راشى .دوى به بيا خپلې دروازې ته بوتلې شى . دا فاصله به پنځه سوه كاله وى ،ددې وجې به جنت ته داخليدو كښې به دوى ته پنځه سوه كاله اولږى. (۴)

---

۱) عمده القارى: ۱۸۶/۲۰).

۲) عمدة القارى: ۱۸۶/۲۰).

۳) اوګورئ سنن ترمذى . وفيض البارى: ۴/ ۴۰/).

۴) البدرالسارى: ۳۰۳/۴ . وقوت المغتذى : ۶۱/۲).

ليكن درروايت ظاهري الفاظ سره ددې توجيه تائيد نه کيږي«واصحاب الجد محبوسون» نه خومتبادر دادي چه‌دوی ته به په حساب وكتاب كښې ناوخته شی.

جهنم كښې عام طور د ښځو داخليدو باندې اشكال کيږی چه دجنتيانو په باره کښې رازی چه «لكل واحد منهم زوجتان» جنت کښې به هر سړی ته دوه ښځې ملاويږی. بيا هر كله چه عام طور سره ښځې جهنم ته داخليږی نو جنتيانو ته به څنګه دوه دوه ښځې ملاويږی؟.

ددې جواب دادې چه په صفحه يوشپيتم (۶۱) باندې يو روايت تيرشوې دې ، په هغې کښې دی چه «لكل امرئ منهم زوجتان من الحور العين» (۱)

او يو جواب داهم کړې شوې دې چه‌په شروع كښې به ښځې په جهنم كښې زياتې وی اوبيا به دهغه‌ځائې سزا مکمل كيدونه پس چه كله دوی جنت ته داخلې شی نو هر يو جنتی ته به دوه دوه ښځې ملاويږی. (۲)

داباب بلاترجمه دې او كالفصل من الباب السابق دې ، بعضو نسخوكښې دباب لفظ مذکور نه دې ، په دې صورت کښې دا ماقبل باب«لا تاذن المراة»لاندې راوړې شوې دې.

دباب او حديث په مينځ کښې مناسبت داشان به وی چه‌په دې حديث کښې اشاره اوکړې شوه چه‌ښځې دمذكوره نهی په وجه‌عموماً مرتكب وی ، دې وجې نه‌اكثر به جهنم کښې وی ، حافظ ابن حجر ليکی چه :

«وسقط للنفسى لفظ "باب" فصار الحديث الذى فيه من جملة الباب الذى قبله ومناسبته له من جهة الاشارة الى ان النساء غالبا يرتكبن النهى المذكور ومن ثم كن اكثر من دخل النار» (۳)

۸۷=بَابُ كُفْرَانِ الْعَشِيرِ وَهُوَ الزَّوْجُ وَهُوَ الْخَلِيطُ مِنَ الْمُعَاشَرَةِ فِيهِ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

[۴۹۰۱] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ اَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ زَيْدِ بْنِ اَسْلَمَ عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ اَنَّهُ قَالَ خَسَفَتِ الشَّمْسُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالنَّاسُ مَعَهُ فَقَامَ قِيَامًا طَوِيلًا نَحْوًا مِنْ سُورَةِ الْبَقَرَةِ ثُمَّ رَكَعَ رُكُوعًا طَوِيلًا ثُمَّ رَفَعَ فَقَامَ قِيَامًا طَوِيلًا وَهُوَ دُونَ الْقِيَامِ الْاَوَّلِ ثُمَّ رَكَعَ رُكُوعًا طَوِيلًا وَهُوَ دُونَ الرُّكُوعِ الْاَوَّلِ ثُمَّ سَجَدَ ثُمَّ قَامَ فَقَامَ قِيَامًا طَوِيلًا وَهُوَ دُونَ الْقِيَامِ الْاَوَّلِ ثُمَّ رَكَعَ رُكُوعًا طَوِيلًا وَهُوَ دُونَ الرُّكُوعِ الْاَوَّلِ ثُمَّ رَفَعَ فَقَامَ قِيَامًا طَوِيلًا وَهُوَ دُونَ الْقِيَامِ الْاَوَّلِ ثُمَّ رَكَعَ رُكُوعًا طَوِيلًا وَهُوَ دُونَ الرُّكُوعِ الْاَوَّلِ ثُمَّ رَفَعَ ثُمَّ سَجَدَ ثُمَّ انْصَرَفَ وَقَدْ تَجَلَّتِ الشَّمْسُ

---

۱) اوګورئ صحيح البخاري: كتاب بدء الخلق .باب ماجاء فى صفه الجنه وانهار مخلوقه: ۴۶۱/۱).

۲) مرقاه المفاتيح: ۳:۳۲۰).

۳) فتح الباري: ۳۷۲/۹).

فَقَالَ اِنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ اٰيَتَانِ مِنْ اٰيَاتِ اللّٰهِ لَا يَخْسِفَانِ لِمَوْتِ اَحَدٍ وَلَا لِحَيَاتِهِ فَاِذَا رَاَيْتُمْ ذٰلِكَ فَاذْكُرُوا اللّٰهَ قَالُوا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ رَاَيْنَاكَ تَنَاوَلْتَ شَيْئًا فِي مَقَامِكَ هٰذَا ثُمَّ رَاَيْنَاكَ تَكَعْكَعْتَ فَقَالَ اِنِّي رَاَيْتُ الْجَنَّةَ اَوْ اُرِيْتُ الْجَنَّةَ فَتَنَاوَلْتُ مِنْهَا عُنْقُوْدًا وَلَوْ اَخَذْتُهُ لَاَكَلْتُمْ مِنْهُ مَا بَقِيَتِ الدُّنْيَا وَرَاَيْتُ النَّارَ فَلَمْ اَرَ كَالْيَوْمِ مَنْظَرًا قَطُّ وَرَاَيْتُ اَكْثَرَ اَهْلِهَا النِّسَاءَ قَالُوا لِمَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ بِكُفْرِهِنَّ قِيْلَ يَكْفُرْنَ بِاللّٰهِ قَالَ يَكْفُرْنَ الْعَشِيْرَ وَيَكْفُرْنَ الْاِحْسَانَ لَوْ اَحْسَنْتَ اِلٰى اِحْدَاهُنَّ الدَّهْرَ ثُمَّ رَاَتْ مِنْكَ شَيْئًا قَالَتْ مَا رَاَيْتُ مِنْكَ خَيْرًا قَطُّ [ر:٢٩].

[٤٩٠٢] حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ الْهَيْثَمِ حَدَّثَنَا عَوْفٌ عَنْ اَبِي رَجَاءٍ عَنْ عِمْرَانَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اطَّلَعْتُ فِي الْجَنَّةِ فَرَاَيْتُ اَكْثَرَ اَهْلِهَا الْفُقَرَاءَ وَاطَّلَعْتُ فِي النَّارِ فَرَاَيْتُ اَكْثَرَ اَهْلِهَا النِّسَاءَ تَابَعَهُ اَيُّوْبُ وَسَلْمُ بْنُ زَرِيْرٍ [ر:٣٠٦٩].

د «عشير» دوه معنې دی يو دزوج او بله دملگری ، نو ابوعبيده دقران پاك دآيت «دلبئس المولی ولبئس العشير» كښې د «عشير» معنی خليط بيان كړې ده. (١)

دامام بخاری رحمه الله مقصد دادې چه دخاوند نافرمانی كول ممنوع دی.

نوامام بخاری رحمه الله چه كوم حديث بيان فرمائيلې دې ، ددې په آخركښې دی چه ما جهنم اوكتلو چه په دې كښې ښځې ډيرې وې. حضرات صحابه كرام رضي الله عنهم ددې وجه اوپوښتله. نو حضرت نبی كريم صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل چه «بكفرهن» ددوی دكفر په وجه. صحابه كرام تپوس كوی «يكفرن بالله» آيا دوی به د الله جل جلاله نه انكار كوی. نو حضرت نبی كريم صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل «يكفرن العشير . ويكفرن الاحسان» دخاوند نافرمانی كوی ، داحسان ناشكری كوی ، كه تاسو دوی سره ټول عمر ښيگړه كوئی اوبيا تاسو څه خبره ددې د طبيعت خلاف اوكړه نو وانی چه ما هېڅله ستاسو دلاسه څه ښيگړه اونه ليده. اوظاهر دی چه دا ناشكری ده د خاوند او د ښيگړې او احسان هم او ددوی دناشكری بهٔ دوی لره جهنم ته دتلو سبب وی.

مولانا انورشاه كشميری رحمه الله فرمائی چه په جهنم كښې د ښځو دكثرت دامشاهده كليه نه ده بلكه دا يو جزئی مشاهده ده. يعنی چه كوم وخت كښې چه دوی مشاهده اوكړه نو په هغه وخت كښې دښځو كثرت وو ، ددې نه دا لازم نه دی چه په جهنم كښې هميشه به دښځو كثرت وی. نو فيض الباری كښې دی چه :

«وقد مر من ان مشاهدته تلك ليست كلية بل مشاهد جزئية تقتصر على هذه الحال فقط ويؤيده ما عند البخاری فی الصفحة الاتية : ٣٨٣، طبع الهند، اطلعت فی الجنة فرأيت أكثر اهلها الفقراء واطلعت فی النار فرأيت أكثر اهلها النساء ففيه اشعار بانها مشاهدة اذ ذاك ، لو أراد الضابطة الكلية لقال: الرجال بدل الفقراء ليستقيم تقابله بالنساء ولكنه ذكر الفقر من جانب وذكر النساء من جانب فظهر انه لم يرد بيان الضابطة» (٢)

---

١) فتح الباری: ٣٧٣/٩).

٢) فيض الباری: ٣٠٤/٤).

دباب ړومبې حدیث ابواب الکسوف کښې تیرشوې دې .او په‌هغه ځائې کښې په دې باندې بحث شوې دې. (۱)
د دویم حدیث په آخر کښې دی چه :

قوله: تابعه ایوب وسلم بن زریر: یعنی ایوب او سلم بن زریر دعوف چه دابورجاء نه نقل کوی متابعت کوی.
د ایوب متابعت لره امام نسائی او سلم بن زریر روایت لره امام بخاری رحمه الله صفة الجنة کښې موصولاً نقل کړې دې.(۲)

۸۸=بَاب لِزَوْجِكَ عَلَيْكَ حَقٌّ قَالَهُ أَبُو جُحَيْفَةَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ[ر:۱۸۶۷].

دابوجحفه رضی الله عنه تعلیق لره امام بخاری رحمه الله په کتاب الصوم کښې موصولاً نقل کړې دې. (۳)
ړومبی باب کښې امام بخاری رحمه الله داارشاد فرمائیلې وو چه په ښځه باندې دخاوندحق دې او ددې حق نه ادا کولو په وجه اکثرې ښځې به‌جهنم کښې وی. په دې باب کښې امام بخاری دا خودل غواړی چه په خاوندباندې د ښځې حق دې.

[۴۹۰۳] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُقَاتِلٍ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا الْأَوْزَاعِيُّ قَالَ حَدَّثَنِي يَحْيَى بْنُ أَبِي كَثِيرٍ قَالَ حَدَّثَنِي أَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ قَالَ حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا عَبْدَ اللَّهِ أَلَمْ أُخْبَرْ أَنَّكَ تَصُومُ النَّهَارَ وَتَقُومُ اللَّيْلَ قُلْتُ بَلَى يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ فَلَا تَفْعَلْ صُمْ وَأَفْطِرْ وَقُمْ وَنَمْ فَإِنَّ لِجَسَدِكَ عَلَيْكَ حَقًّا وَإِنَّ لِعَيْنِكَ عَلَيْكَ حَقًّا وَإِنَّ لِزَوْجِكَ عَلَيْكَ حَقًّا[ر:۱۰۷۹].

په روایت کښې دی چه«ان لزوجك علیك حقا»ددوی منشا دا وه چه داشان که تاسو مسلسل روژې نیسئ او قیام مو ا ختیار کړو نو کمزوری به شئ ،او تاسو به دخپلو بیبانو حق ادا نه کړئی شئ. صرف نان نفقه دهغې حق نه دې.

د ښځې سره دصحبت نه کولووالا حکم: اوس سوال دا پیدا ګیږی که یو سړې خپلې بی بی سره‌صحبت نه کوی نو ددې څه حکم دې ؟.
امام مالك رحمه الله فرمائی که یو سړې بلا عذر نه داسې کوی‌نو ده ته دې تنبیه ورکړې شی ،که هغه بیا هم صحبت نه کوی نو ددواړوپه مینځ کښې دې تفریق اوکړې شی. (۴)
دامام احمد بن حنبل رحمه الله همدا قول نقل کړې شوې دې. (۵)

---

۱) راجع صحیح البخاری: کتاب الکسوف باب الصلوٰة فی کسوف الشمس رقم الحدیث: ۱۰٤۰ . ص: ۲۰۵).
۲) عمده القاری: ۱۸۸/۲۰).
۳) عمدة القاری: ۱۸۸/۲۰).
٤) فتح الباری: ۳۷۳/۹).
۵) فتح الباری: ۳۷۳/۹).

دامام شافعي رحمه الله مشهور قول دادې چه‌په خاوند باندې صحبت واجب نه دې ، او یو قول دادې چه‌دنکاح نه پس یو ځل صحبت کول واجب دی (١)
بعضو اسلافو نه‌منقول دی چه‌په څلورو شپو کښې یو ځل واجب دی.بعضې وائی چه‌په یو طهر کښې یو ځل واجب دی. (٢) دحضرات حنفیه مسلك دا دې چه‌دنکاح نه پس یو وار خو واجب دی او دې نه پس وجوب دیانة دې ، قضاء نه ده ،محقق بن همام فرمائی چه دمدت ایلاء یعنی څلور میاشتو کښې یو وار وطی کول ضروری دی. ددې نه زیات تاخیر درست نه دی.(٣)
اوکه ښځه پخپله په وطی دترك وطی او ترك جماع باندې راضی وی نوپه دې صورت کښې به هیڅ باقی نه وی.

٨٩=بَابُ الْمَرْأَةُ رَاعِيَةٌ فِي بَيْتِ زَوْجِهَا

[٤٩٠٤] حَدَّثَنَا عَبْدَانُ اخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ اخْبَرَنَا مُوسَى بْنُ عُقْبَةَ عَنْ نَافِعٍ عَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُمْ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ وَالْاَمِيرُ رَاعٍ وَالرَّجُلُ رَاعٍ عَلَى اهْلِ بَيْتِهِ وَالْمَرْاَةُ رَاعِيَةٌ عَلَى بَيْتِ زَوْجِهَا وَوَلَدِهِ فَكُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُمْ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ[ر:٨٥٣].
ښځه په کور کښې نګرانه وی ، داولاد تربیت او دخاوند دکور حفاظت ددې په ذمه لازم دی.

٩٠=بَاب قَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاءِ بِمَا

فَضَّلَ اللَّهُ بَعْضَهُمْ عَلَى بَعْضٍ...اِلَى قَوْلِهِ...اِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيًّا كَبِيرًا(النساء:٣٤)
[٤٩٠٥] حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ مَخْلَدٍ حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ قَالَ حَدَّثَنِي حُمَيْدٌ عَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ اٰلَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ نِسَائِهِ شَهْرًا وَقَعَدَ فِي مَشْرُبَةٍ لَهُ فَنَزَلَ لِتِسْعٍ وَعِشْرِينَ فَقِيلَ يَا رَسُولَ اللَّهِ اِنَّكَ اٰلَيْتَ عَلَى شَهْرٍ قَالَ اِنَّ الشَّهْرَ تِسْعٌ وَعِشْرُونَ[ر:٣٧١].
امام بخاری رحمه الله په دې باب کښې دایلاء والا روایت نقل کړې دې ، امام اسماعیسی رحمه الله په دې باندې اشکال کړې دې چه دا روایت دآیت مترجم بها «الرجا قوامون»سره مرتبط نه دې. د دواړو په مینځ کښې مناسبت نشته دې. (٤)
حافظ ابن حجر رحمه الله جواب کړې دې چه امام بخاری رحمه الله دآیت کریمه‌ابتدائی حصه صرف دترجمې جزء نه دې جوړکړې بلکه هغوی فرمائیلی دی چه «الی قوله،ان الله کان علیما

---

١) فتح ا لباری: ٣٧٣/٩).
٢) فتح ا لباری: ٣٧٣/٩).
٣) د حنفیه مسلک اودابن همام قول دپاره اوګورئ: فتح التقدیر ، کتاب النکاح ، باب القسم : ٣٠٢/٣).
٤) فتح الباری: ٣٧٤/٩ ، وفی اللامع: ٣٢٧/٩ ، دلاله الروایه علیه من حیث ان الزوج کان له الایلاء والامتاع عن قربانها ، ولا یمکن ذالک للمراه ان قصدت).

حكيما))پوره آيت دامام بخاری رحمه الله پيش نظردي،اوپوره آيت كښې((فعظوهن واهجروهن في المضاجع))الفاظ هم‌موجود دی. او ايلاء كښې ازواج مطهرات نه‌هجر موندې شوې دې. حضرت نبی كريم ﷺ ددې نه بيلتون اختيار كړې وو، ددې وجې‌روايت او آيت په مينځ كښې مطابقت اومناسبت موندې شی. (۱)

۹۱=بَابُ هِجْرَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نِسَاءَهُ فِي غَيْرِ بُيُوتِهِنَّ وَيُذْكَرُ عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ حَيْدَةَ رَفْعُهُ غَيْرَ أَنْ لَا تُهْجَرَ إِلَّا فِي الْبَيْتِ وَالْأَوَّلُ أَصَحُّ

ا مام بخاری رحمه الله فرمائی چه‌رسول الله ﷺ دخپلو بيبيانو نه بيل وو،ددوی كورونو كښې ئې اعتزال اونكړو ، بلكه‌بالا خانې ته لاړل او په هغه خانې كښې ئې قيام اوكړو.

مهلب وائی چه‌امام بخاری رحمه الله ددې ترجمې‌نه دې خبرې طرفته اشاره كول‌غواړی چه‌يو هجر فی البيوت وی او يو هجر فی غير البيوت وی ، نو هجر فی البيوت ډير سخت وی ، د ښځې دپاره داخبره ناقابل برداشت وی چه خاوند ددې په ‌كور كښې موجود وی اوبيا هغه ددې نه‌اعراض كوی ،ددې وجې حضرت نبی كريم ﷺدا سخته طريقه داختيارپه‌خائې په بالاخانه كښې قيام‌اوكړو.د امام بخاری رحمه الله مقصد دادې چه‌ښځې سره‌كه د هجر صورت پيښ‌شی نوپه دې كښې دې نرمی كول پكار دی او هغه صورت‌اختيارول پكار دی چه‌نسبتًا سخت نه وی . (۲)

ابن منير مالكی رحمه الله فرمائ چه مهلب د امام بخاری رحمه الله كوم مقصد بيان كړې دې دا بعيد دې بلكه امام بخاری رحمه الله د هجر ددواړه صورتونو دجواز بيانول غواړی‌چه هجر فی البيوت هم جائز دې او هجر فی غير البيوت هم جائز دې. (۳)

قوله: ويذكر عن معاويةبن حيدة رفعه ،،غيران لا تهجر الا فی البيت،، والاول اصح: ددې نه دحضرت معاويه بن حيده قشيری رضی الله عنه‌روايت طرفته اشاره ده.چه هغه امام احمد رحمه الله او امام ابوداود رحمه الله نقل كړی‌دی‌چه حضرت نبی كريم ﷺفرمائيلی دی چه‌ازواج نه دې په كور كښې هجرت اوكړې شی. (۴)

امام بخاری رحمه الله ((والا ول اصح)) اووئيل د حضرت معاويه بن حيده روايت دضعف اومرجوح كيدو طرفته اشاره كوی چه هجرت صرف په كور كښې منحصر نه دې ، هجرفی البيت‌اوفی‌غير البيت دواړه‌درست دې لكه څنګه چه‌دحضرت انس رضی الله عنه‌په روايت كښې دی چه ددې نه مخكښې باب كښې تيرشو . امام دې روايت ته اصح وئيلی دی.

((رفعه)) يعنی‌معاويه بن حيده نه دا حديث مرفوعًا منقول دې.

---

۱) فتح الباری: ۹/ ۳۷٤).
۲) الابواب والترجم : ۲/ ۷٤).
۳) فتح الباری: ۹/ ۳۷۶) .
٤) فتح الباری: ۹/ ۳۷۵ وارشاد الساری: ۱۱/ ٤۹۲).

[٤٩٠٦] حَدَّثَنَا اَبُوعَاصِمٍ عَنْ ابْنِ جُرَيْجٍ ح وحَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ مُقَاتِلٍ اَخْبَرَنَا عَبْدُاللّٰهِ اَخْبَرَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ قَالَ اَخْبَرَنِي يَحْيَى بْنُ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ صَيْفِيٍّ اَنَّ عِكْرِمَةَ بْنَ عَبْدِالرَّحْمٰنِ بْنِ الْحَارِثِ اَخْبَرَهُ اَنَّ اُمَّ سَلَمَةَ اَخْبَرَتْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَلَفَ لَا يَدْخُلُ عَلَى بَعْضِ اَهْلِهِ شَهْرًا فَلَمَّا مَضَى تِسْعَةٌ وَعِشْرُونَ يَوْمًا غَدَا عَلَيْهِنَّ اَوْرَاحَ فَقِيلَ لَهُ يَا نَبِيَّ اللّٰهِ حَلَفْتَ اَنْ لَا تَدْخُلَ عَلَيْهِنَّ شَهْرًا قَالَ اِنَّ الشَّهْرَ يَكُونُ تِسْعَةً وَعِشْرِينَ يَوْمًا [ر:١٨١١]

[٤٩٠٧] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِاللّٰهِ حَدَّثَنَا مَرْوَانُ بْنُ مُعَاوِيَةَ حَدَّثَنَا اَبُويَعْفُورٍ قَالَ تَذَاكَرْنَا عِنْدَ اَبِي الضُّحَى فَقَالَ حَدَّثَنَا ابْنُ عَبَّاسٍ قَالَ اَصْبَحْنَا يَوْمًا وَنِسَاءُ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَبْكِينَ عِنْدَ كُلِّ امْرَاَةٍ مِنْهُنَّ اَهْلُهَا فَخَرَجْتُ اِلَى الْمَسْجِدِ فَاِذَا هُوَ مَلْآنُ مِنَ النَّاسِ فَجَاءَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ فَصَعِدَ اِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ فِي غُرْفَةٍ لَهُ فَسَلَّمَ فَلَمْ يُجِبْهُ اَحَدٌ ثُمَّ سَلَّمَ فَلَمْ يُجِبْهُ اَحَدٌ ثُمَّ سَلَّمَ فَلَمْ يُجِبْهُ اَحَدٌ فَنَادَاهُ فَدَخَلَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اَطَلَّقْتَ نِسَاءَكَ فَقَالَ لَا وَلٰكِنْ اٰلَيْتُ مِنْهُنَّ شَهْرًا فَمَكَثَ تِسْعًا وَعِشْرِينَ ثُمَّ دَخَلَ عَلَى نِسَائِهِ

دابو يعفور نوم عبدالرحمان بن عبيد دي. دي دكوفې اوسيدونكې دې . ثقه دې . صحيح بخارى كښې دده صرف دا يو حديث دې. (١)

حضرت ابن عباس ﷠ فرمائی چه يو ورځ مونږ دسحر په وخت کښې اوکتل چه دحضرت نبی کريم ﷺ ازواج تول ژاړې او په دوی کښې هر يو سره خپل خپل يو يو رشته دار موجود وو .څه مسجد نبوی ﷺ ته لاړم او اومې کتل نو مسجد نبوی ﷺ دخلقونه ډك دې. حضرت عمر فاروق ﷠ راغلو اوحضرت نبی کريم ﷺ له ورغلو.حضرت نبی کريم ﷺ بالا خانه کښې ناست وو.حضرت عمر فاروق ﷠ هغه ځائې ته لاړو او سلام ئې اوکړو چا جواب ورنکړو . بيا ئې سلام اوکړو .چا جواب ورنکړو ، بيا ئې سلام اوکړو ،چاجواب ورنکړو ، بيا حضرت بلال ﷠ حضرت عمر فاروق ﷠ رابللو ، دوی ﷠ د حضرت نبی کريم ﷺ نه تپوس اوکړو چه تاسو خپلو بيبيانو ته طلاق ورکړې دې ؟ حضرت نبی کريم ﷺ اوفرمائيل چه نه ليکن ما يو مياشت پورې ددوی نه ايلاء اختيار کړې ده.

قوله: فنَاداه: په دې کښې دفاعل ذکر نشته دې . دابو نعيم اونسائی په روايت کښې د حضرت بلال نوم دې . دابونعيم په روايت کښې دی چه ((فناداه بلال فدخل)) (٢)

دا روايت ددې نه مخکښې تفصيلی تير شوې دې. په هغې کښې وو چه غلام اسود رباح حضرت عمرفاروق ﷠ راوبللو او د ابونعيم اونسائی په روايت کښې دحضرت بلال نوم دې.(٣).

---

١) عمده القارى : ١٩١/٢٠).
٢) فتح ألبارى: ٣٧٧/٩).
٣) فتح البارى: ٣٧٧/٩).

لیکن په دواړو کښې تطبیق کیدیشی چه حضرت بلال رضی الله عنه دحضرت نبی کریم ﷺ سره دننه په کمره کښې وو او رباح بهر دروازې سره وو. حضرت بلال رضی الله عنه اجازت په ملاویدوسره آوازوکړو اورباح حضرت عمر فاروق رضی الله عنه له واپس راوبللو
ځکه چه هغه بهر دروازې سره وو .داشان دواړو کښې هیڅ تعارض نشته دې. (۱)
په دې روایت کښې دی چه حضرت عمر فاروق رضی الله عنه سلام اوکړو او هیڅوا ورته جواب ورنکړو یعنی خاموش وو اوددې نه مخکښې تفصیل تیر شوې دې چه حضرت عمر فاروق رضی الله عنه غلام ته داجازت دپاره اخستلو دپاره ونیلی وواو غلام هر ځل اوئیل چه ما ستا ذکر اوکړولیکن حضرت نبی کریم ﷺ هیڅ جواب رانکړو.
ددې تعارض حل دادې چه په دې ځائې کښې روایت باب کښې اختصار دې. اواصل صورت حال هغه وو چه کوم مخکښې تفصیلی بیان کړې شو. په دې ځائې کښې داختصار غرض سره دحضرت عمر فاروق رضی الله عنه اجازت اخستل «سلم علیه فلم یجبه احد» سره تعبیر کړې شو.
په دې روایت کښې دا خبره هم معلومه شوه چه دایلاء دا واقعه دفتح مکه نه پس ده ځکه چه حضرت ابن عباس رضی الله عنه په دې وخت کښې حاضر وو. لکه څنګه چه روایت باب کښې دی او حضرت ابن عباس رضی الله عنه فتح مکه نه پس هجرت اوکړواو مدینې منورې ته ئې تشریف راوړو. (۲)
داشان دایلاء دا واقعه دحجاب نزول نه پس ده. ځکه چه دنزول حجاب حکم دحضرت زینب رضی الله عنها د نکاح په وخت کښې راغلې دې . اودحضرت زینب رضی الله عنها نکاح دخلیفه ابن خیاط او ابوعبیده په نیز په دریمه هجرئی کښې او دحافظ شرف الدین دمیاطی په نیز په څلورمه هجرئی کښې او دواقدی او طبری اوحافظ ابن حجر په نیز پنځه هجرئی کښې شوې ده ، په دې کښې چه دکوم کال هم د واقعه وی تاهم دایلاء دا واقعه ددې نه پس ده. (۳)
دمسلم په بعضو روایاتو کښې دی چه قصه د تخییر نزول حجاب نه مخکښې راپیښه شوې وه. دا دیوراوی وهم دې . ځکه چه د تخییر دا واقعه دایلاء سره راپیښه شوې وه او واقعه دایلاء نزول حجاب نه پس په نهه هجرئی کښې ده. (۴)

۹۲= بَاب مَا يُكْرَهُ مِنْ ضَرْبِ النِّسَاءِ

وَقَوْلِ اللّٰهِ وَاضْرِبُوهُنَّ (النساء: ۳۴) اى ضَرْبًا غَيْرَ مُبَرِّحٍ

[۴۹۰۸] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ هِشَامٍ عَنْ اَبِيهِ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ زَمْعَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَجْلِدُ اَحَدُكُمُ امْرَاَتَهُ جَلْدَ الْعَبْدِ ثُمَّ يُجَامِعُهَا فِي اٰخِرِ الْيَوْمِ [ر: ۳۱۹۷].

---

۱) فتح الباری: ۳۷۷/۹).
۲) فتح الباری: ۳۵۶/۹).
۳) احکام القران للمفتی محمد شفیع : ۳۰۷/۳).
۴) مذکوره تفصیل دپاره اوګورئ فتح الباری: ۳۵۶/۹ ، ۳۵۷).

امام بخاري ﷫ ددې ترجمة الباب په ذريعه تطبيق وركول غواړى ، دقران پاك آيت ﴿فَعِظُوْهُنَّ وَاهْجُرُوْهُنَّ فِي الْمَضَاجِعِ وَاضْرِبُوْهُنَّ﴾، ددې آيت كريمه نه دښځو دوهلو اجازت معلوميږى او روايت باب كښې دى چه څنګه چه غلام وهې داشان ښځې مه وهئ ،بيا دې نه پس تاسوته دې سره به د صحبت كولو ضرورت پېښيږى نوانبساط اوانشراح به څنګه وى.ددې روايت نه دضرب ممانعت معلوميږى.

امام بخارى ﷫ اوفرمائيل چه يو دې ضرب شديد او بل دې ضرب خفيف،آيت كريمه كښې دضرب خفيف اجازت دې او روايت كښې د ضرب شديد ممانعت دې ، نودقران پاك آيت كښې «واضربوهن» نه پس امام اضافه اوفرمائيله چه «أى ضربا غير مبرح» يعنى داسې ئې وهئ چه تكليف نه وركوى. (۱) «جلد(ض)جلدا» : وهل ، په كوړا وهل.

۹۳=بَابٌ لَا تُطِيعُ الْمَرْأَةُ زَوْجَهَا فِي مَعْصِيَةٍ

[۴۹۰۹] حَدَّثَنَا خَلَّادُ بْنُ يَحْيَى حَدَّثَنَا اِبْرَاهِيْمُ بْنُ نَافِعٍ عَنِ الْحَسَنِ هُوَ ابْنُ مُسْلِمٍ عَنْ صَفِيَّةَ عَنْ عَائِشَةَ اَنَّ امْرَاَةً مِنَ الْاَنْصَارِ زَوَّجَتْ ابْنَتَهَا فَتَمَعَّطَ شَعْرُ رَاْسِهَا فَجَاءَتْ اِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَتْ ذٰلِكَ لَهُ فَقَالَتْ اِنَّ زَوْجَهَا اَمَرَنِي اَنْ اَصِلَ فِي شَعَرِهَا فَقَالَ لَا اِنَّهُ قَدْ لُعِنَ الْمُوصِلَاتُ [ر:۵۵۹۰].(۲)

ښځې ته د خاوند د اطاعت او فرمانبردارئى حكم دې ، ليكن كه خاوند دمعصيت او دالله ﷻ دنافرمانئ حكم وركوى نو بيا دده اطاعت جائزنه دې ، «لا طاعة لمخلوق فى معصية الخالق».

حديث باب كښې دى چه دحضرت نبى كريم ﷺ په خدمت كښې يوانصارى ښځه حاضره شوه چه دې دخپلې لور واده كړې وو. ددې د سر ويښته د چيچك دبيمارئى په وجه ختلى وو ، دې حضرت نبى كريم ﷺ ته ددې ذكر اوكړو اودې نه پس ئې اووئيل چه خه ددې په سر كښې نور ويښته اولږوم ،حضرت نبى كريم ﷺ اوفرمائيل چه نه ، په ويښته لګولو باندې لعنت دې.

ويښته لګولو كښې دنورو ويښتو ملاويدو حكم: دامام ابو حنيفه ﷫ ،او دامام شافعى ﷫ اودامام احمد ﷫ په نيزوصل بشعر الادمى خو نا جائز دى ليكن د انسان دوېښتو نه علاوه دتور رنګ تاروغيره سره كه وصل اوكړې شى نو جائز دى. (۳)

امام مالك ﷫ مطلقا دعدم جواز قائل دې ، نه وصل بشعر الادمى دده په نيز جائز دې او نه وصل بشئ ، آخر دده په نيز جائز دى . (۴)

---

۱) الابواب والتراجم: ۲/ ۷٤).

۲) واخرجه البخارى ايضا فى كتاب اللباس ، باب الوصل فى الشعر رقم الحديث: ۵۹۳٤ ، واخرجه مسلم فى كتاب اللباس والزينة باب تحريم فعل الواصلة والمسوصلة رقم الحديث : ۲۱۲۳ ، واخرجه النسائى فى كتاب الزينة ،باب الموتصلة رقم الحديث: ۹۳۷٦).

۳) تعليقات لامع الدارى: ۹/ ۳۳۰).

٤) تعليقات لامع الدارى: ۹/ ۳۳۰).

علامه نووی رحمه الله همدا قول اختیار کړې دې. قاضی عیاض دا قول اکثر علماء ته منسوب کړې دې. (۱) امام بخاری رحمه الله په کتاب اللباس کښې مخکښې په دې باندې مستقل باب قائم کړې دې، (۲)

«تمعط الشعر» دبیمارئ په وجه ویښته غورزیدل.

۹۳=باب وَإِنِ امْرَأَةٌ خَافَتْ مِنْ بَعْلِهَا نُشُوزًا أَوْ إِعْرَاضًا (النساء ۱۲۸)

[۴۹۰۰] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَامٍ أَخْبَرَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ عَنْ هِشَامٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا وَإِنِ امْرَأَةٌ خَافَتْ مِنْ بَعْلِهَا نُشُوزًا أَوْ إِعْرَاضًا قَالَتْ هِيَ الْمَرْأَةُ تَكُونُ عِنْدَ الرَّجُلِ لَا يَسْتَكْثِرُ مِنْهَا فَيُرِيدُ طَلَاقَهَا وَيَتَزَوَّجُ غَيْرَهَا تَقُولُ لَهُ أَمْسِكْنِي وَلَا تُطَلِّقْنِي ثُمَّ تَزَوَّجْ غَيْرِي فَأَنْتَ فِي حِلٍّ مِنَ النَّفَقَةِ عَلَيَّ وَالْقِسْمَةِ لِي فَذَلِكَ قَوْلُهُ تَعَالَى فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا أَنْ يَصَّالَحَا بَيْنَهُمَا صُلْحًا وَالصُّلْحُ خَيْرٌ [ر: ۲۳۱۸].

حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی چه آیت کریمه ﴿وَإِنِ امْرَأَةٌ خَافَتْ مِنْ بَعْلِهَا نُشُوزًا﴾ نه هغه ښځ مراد ده چه یو سړی سره وی او هغه سړې دا خپل ځان سره اوسول نه غواړی. بلکه دې ته طلاق ورکول غواړی او بلې ښځې سره دنکاح اراده لری. نودا ښځه دې خپل خاوندته اووائی چه ته لږ صبر اوکړه او ماته طلاق مه راکوه، اګر که ته غیرسره نکاح کوې، ځما نان نفقه او نمبر دواړوندته خلاص ئې، د قرآن پاك آیت ﴿فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا أَنْ يُصْلِحَا بَيْنَهُمَا صُلْحًا وَالصُّلْحُ خَيْرٌ﴾ نه هم دا مراد دی. (یعنی مذکوره صورت کښې که ښځه خاوند د جدائی او فراق په ځائې صلح اوکړی او یو ځائې اوسیدل غواړی نو ددوی دپاره بهتر دی).

دا باب اوحدیث کتاب التفسیر کښې هم تیر شوې دې.

قوله: لایستکثرمنها: «استکثرمن الشئ» ډیر کول، دډیرو رغبت کول. یعنی هغه سړې دې ښځې سره صحبت رغبت نه کوی، یا ددې ښه خیال نه ساتی.

داسې ښځه چه خپل نمبر معاف کړی ا بیا رجوع کول غواړی نو د ائمه ثلاثه په نیزهغه رجوع کولې شی. (۳)

دامام مالك رحمه الله یو قول دې چه دائمه ثلاثه مطابق دې او دویم قول ئې دادې چه دې ته درجوع حق نه دې حاصل. حضرت حسن بصری اوابراهیم نخعی نه هم دعدم رجوع قول منقول دې.

---

۱) تعلیقات لامع الداری: ۳۳۰/۹).

۲) اوګورئ صحیح بخاری، کتاب اللباس، باب الموصله: ۸۷۹/۲).

۳) اوګورئ فتح الباری: ۳۸۰/۹، وفتح التقدیر: ۴۱۶/۳، وعمده القاری: ۱۹۴/۲۰).

٩٥=باب العزل

[٤٩١١] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ عَنْ ابْنِ جُرَيْجٍ عَنْ عَطَاءٍ عَنْ جَابِرٍ قَالَ كُنَّا نَعْزِلُ عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ عَمْرٌو اَخْبَرَنِي عَطَاءٌ سَمِعَ جَابِرًا رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كُنَّا نَعْزِلُ وَالْقُرْاٰنُ يَنْزِلُ

وَعَنْ عَمْرٍو عَنْ عَطَاءٍ عَنْ جَابِرٍ قَالَ كُنَّا نَعْزِلُ عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْقُرْاٰنُ يَنْزِلُ

[٤٩١٢] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ اَسْمَاءَ حَدَّثَنَا جُوَيْرِيَةُ عَنْ مَالِكِ بْنِ اَنَسٍ عَنْ الزُّهْرِيِّ عَنْ ابْنِ مُحَيْرِيزٍ عَنْ اَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ اَصَبْنَا سَبْيًا فَكُنَّا نَعْزِلُ فَسَاَلْنَا رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اَوَاِنَّكُمْ لَتَفْعَلُونَ قَالَهَا ثَلَاثًا مَا مِنْ نَسَمَةٍ كَائِنَةٍ اِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ اِلَّا هِيَ كَائِنَةٌ [ر:٢١١٦].

دعزل مطلب دادي چه دجماع په وخت كښې سړې انزال فرج نه بهر اوكړي. دعزل په حكم كښې اختلاف دې . علامه ابن حزم رحمه الله فرمائي چه عزل حرام دې . (١) هغه د حضرت جذامه بنت وهب اسدی روايت نه استدلال كوی چه كوم امام مسلم نقل كړې دې چه حضرت نبی كريم ﷺ دعزل متعلق فرمائي چه :

«ذالك الواد الخفي» (٢) د واد معنی ژوندې ښخول دی.

ليكن جمهور علماء داحاديث باب په بناء باندې عزل لره جائز ګرزولې دې. او دحضرت جذامه په روايت كښې دی چه بعض حضرات ورته منسوخ وئيلې دې.اوبعضو دې ته كراهت تنزيهی باندې محمول كړې دې چه عزل جائز دې ليكن مكروه تنزيهی دې (٣)

دعزل په سلسله كښې لږ تفصيل دادې چه حره يعنی د آزدې ښځې داجازت نه بغيرعزل جائزنه دې.د ائمه ثلاثه هم دا مذهب دې. اود امام شافعی رحمه الله يو قول ددې مطابق دې او دويم قول دادې چه داجازت نه بغيرهم عزل جائز دې.

د وينځې داجازت نه بغير آقا عزل كولې شي . اوكه وينځه دچا په نكاح كښې وی نو په دې صورت كښې دجمهور علماء په نيز اجازت ضروری دې. امام ابوحنيفه رحمه الله،امام احمد رحمه الله او دمالكيه په نيزدآقا نه اجازت دې واخستې شی.اودده اجازت به كافی وی. صاحبين فرمائي چه دوينځې نه به اجازت اخلی.

---

١) فتح ا لباری: ٣٨٥/٩).

٢) اوګورئ صحيح مسلم : ٤٦٦/١ ، كتاب النكاح).

٣) فتح الباری: ٣٨٥/٩ ، ٣٨٦ ، وشرح الطيبي ، كتاب النكاح باب المباشره : ٢٨٢/٦).

د امام شافعي رحمه الله مذهب دادې چه د واده شوې ښځې دپاره عزل دپاره اجازت ضروري نه دې د امام احمد رحمه الله يو روايت ددې مطابق دې. (۱)

۱) دمذكوره مذاهب او تفصيل دپاره اوګورئ ، فتح الباري: ۳۸۴/۹_۳۸۵ ، دحنفيه مذهب دپاره اوګورئ فتح التقدير: ۳۷۹/۳.

ښځې سره دمقاربت په وخت کښې آخرى لمحاتوکښې سړې چه خپله منى بهر خارج کړی نو دې ته عزل وئيلې شى.

موجوده دور کښې دعزل مختلف صورتونه رائج دى او احکام هم ددې مختلف دى په دې خانې ددې صورتونو او ددې احکامو يو مختصر شان تعارف به دفائدې نه خالى نه وى. دعزل مقصد دادې چه دسړى منى دښځې رحم ته اونه رسى او حمل اونشى . ددې مقصد دحصول دپاره چه کومه طريقه اختيارولې شى هغه به په عزل کښې شميرلې شى. دعزل يا موانع حمل اسباب په دوه رنګه دى. ① مستقل او دائمى مانع حمل ② عارضى اووختى مانع حمل.

دمستقل او دائمي مانع حمل مطلب دادې چه څه داسې تدبير اختيارول چه دې سره دتوالد وتناسل سلسله هميشه دپاره منقطع کړی شى،عصرحاضر کښې عموما ددې لاندينئ دوه طريقې مروجې دى.

(الف) نس بندى: بچى راوړو والا نسونه د دواړو طرفونو نه پريکول او تړل.

(ب)ګروه بندى: په دې طريقه کښې نسونه دپريکولو نه بغير داشان تړلې شى . چه دماده منويه اخراج ممکن نه وى . ګروه بندى اګرچه يو عارضى مانع حمل تدبير ګڼړلې شى ليکن عملاً دا مستقل اودائمې وى.

(ج) تقطيع و تخريج : ددې طر يقه داده چه دښځې بيضه دانئى يعنى رحم پريکړى او خيتې نه بهر کړې شى چا ددې نه حمل اونشى ، دا دړې واړه طريقې عمل جراحى سره رو بعمل راوړلې شى.

دسړى دپاره څه داسې تدبير چه هغې سره مستقل طور قوت توالد وتناسل او ددې صلاحيت او استعداد بالکل د بيخ نه ختم کړې شى په يو حال کښې هم دا جائز نه دى . ددې وجې مذكوره درې واړه طريقې شرعى لحاظ سره جائز نه دى.

دښځې دپاره هم عام حالات کښې داشان تدبير اختيارول جائز نه دى چه هغې سره دبچى پيداکيدو صلاحيت ختم شى. البته سخت وخت کښې ددې ګنجائش شته دې. چه ددې صورت دادې چه ديوښځې متعلق ماهر ډاکټر دتحقيق نه پس قطعى او يقينى طور سره دا اووائى که سلسله توالد وتناسل ختم نه کړې شوه او حمل اوشو نو ددې دولادت هيڅ صورت نشته دې . اودښځې دپاره دمرګ نه سوا هيڅ خلاصې نشته دې ، داسې حالات کښې مستقل مانع حمل تدبير اختيارولې شى خکه چه دادشريعت مسلمه اصول دى چه ((الضرورات تبيح المحظورات)) .

عارض مانع حمل تدبيرونه:يعنې هغه تدبيرونه چه د هغې په استعمال سره د يوې مودې پورې حمل نه قرارېږى خود توالد او تناسل استعداد او صلاحيت برقرار وى ددې مروجه صورتونه لاندې دى

(الف) عزل : دا هغه زړه اوساده طريقه ده چه ابتدائې اسلام نه نه پورې رائج ده ، هغه دا چه دانزال په وخت کښې سړې خپله منى بهر خارج کړى.

(ب) دښځې درحم خله بندولې شى چه دسړې منى رحم ته اونه رسى. موجوده دور کښې ددې يو صورت لوپ کارېږى دې . دا د انګريزئى د T شکل کښې د تانبې يو تار وى. چه دا ډاکټر د ښځې په رحم کښې دننه داشان فټ کړى چه سړى منى د ښځې رحم ته دننه نه پريږدى. دې طريقه کښې عام طور دښځې په ماهوارئى کښې بې قاعدګى پيداشى.

(ج) دغلاف آله استعمال (يعنى کنډوم) دايو پسته اونرمه باريکه غباره وى ، د هوا نه بغير دا غباره مباشرت نه مخکښې سړى نې خپل عضوتناسل ته واغوندوى لکه څنګه چه پښې ته موزه اچولې شى او لاس ته دستانه اچولې شى ، په دې صورت کښې عضو تناسل مکمل طور بندشى (په

قوله: كنا نعزل على عهد النبي والقران ينزل: ددې مطلب دادې كه عزل حرام وی نو قران پاك كښې به ددې حرمت نازل شوې وو. ليكن حرمت نه دې نازل شوې نو

دې پرده غوندې راشي) او مباشرت په وخت كښې دسړی منی د اندام مخصوصه په خائې دې كنيم ته راشي ، دی وجې د حمل د ختميد ننانوې فی صد انديښنه ختمه شی.

(د) مانع حمل ګولئ يا د مانع حمل انجكشن استعمال ، ددې استعمال سره حمل نه كيږی ليكن دا طريقه دصحت دپاره مضره ده ، دجديد تحقيق مطابق ددې وجې سره په وينه كښې خطرناكه حده پورې دچربي كمې راولی.

(س) داوبو پچكاري سره رحم وينځل ، دجماع نه پس داوبو پچكارئی سره رحم وينځلې شی ، چه ماده منويه كه رحم ته رسيدلې وی نو چه هغه راوزی.

عارضي موانع حمل دجواز صورتونه :

دې لاندو صورتونوكښې بلاكراهت مانع حمل تدابير اختيارولې شی.

① دوو بچو په مينځ كښې مناسبه وقفې دپاره ، چه هر بچی ته دمور طرفنه توجه او پرورش ملاؤ شی لكه رومبي بچې په ايام رضاعت كښې دې اواستقرار حمل اوشو،نودمور پئ به مضرصحت شی،چه دې سره ددې بدن كښې ضعف او كمزوری پيدا كيديشی ، ددې نه علاوه دبچو په مينځ كښې مناسبه وقفه نه ساتلوسره به د مور پرورش به تقسيم شی چه دې سره دبچی صحت متاثره كيديشی.

② دبچی باره كښې دا خطره دظن غالب په درجه كښې وی چه هغه په خطرناك موروثی بيمارئی كښې مبتلا كيديشی. (جديد فقهی مباحث : ۳۱۸/۱).

③ كه ښځه دومره كمزورې وی دحمل زوربه برداشت نكړې شی نو دحمل دتكليف يا اولاد درد وغيره به برداشت نه كړې شي يا دولادت نه پس دا ډيره كمزورې كيديشی اوددې انديښنه وی نو په دې صورت كښې هم دمنع حمل اجازت دې . (ضبط ولادت:۱۹).

④ بعضو فقهائې كرام تصريح كړې ده كه ښځه بداخلاقه ، سخت مزاجه او خاوند ورته دطلاق وركولو اراده لرئ او انديښنه وی چه داولاد پيداكيدو نه پس بداخلاقئ كښې به اضافه وی. نوداسې صورت كښې هم منع حمل يعنی عزل درست دې ، شاميه كښې دی چه ((اوكانت الزوجة سيئة الخلق ويريد فراقها يخاف ان تحبل ، شاميه :۴۱۲/۲).

⑤ د فقهې په كتابونوكښې دا خبره په وضات سره موجود ده چه د فسادزمان په وجه او بداخلاقئ په وجه داولادپيدا كيدو ويره وی نو داسې صورت كښې هم عزل جائز دې.

((وفی الفتاوی ان خاف من ا لولد السوء فی الحرة يسعه العزل لغير رضاها لفساد الزمان..... وبه جزم القهستانی حيث قال هذا اذالم يخف علی الولد السوء لفساد الزمان والافتجور بلااذنها (شاميه : ۴۱۲/۲).

دعارضی مانع حمل عدم جواز صورتونه :① دمعاشي تنګئ په وجه عزل كول ، چه بچي كم اوشی او ددوی مستقبل بهتر وی،دا عذر شرعی نه دې ځكه چه دمعاش اعتبار سره دمستقبل بهتری دالله تعالی په ذمه ده،ددې وجې دا دعزل په اعذار كښې نه شی شميرلې (ضبط ولادت : ۲۰).

② دموجوده دور فيشن وروكي خاندان دپاره هم دا تدبير جائز نه دې ، د وړوكی خاندان تصور داسلام دمزاج اوماحول هم آهنګ نه دې.

③ دعارضی منع حمل هغه تدبيرونه جائز نه دی چه هميشه دپاره دمايوسئ سبب جوړ شی.

④ محض اولاد سره اعراض مقصود وی يعنی صرف همدا نيت وی چه اولاد دې اونه شی.

⑤ ددې محرك داسې غرض وی چه داسلامی اصولو خلاف وی لكه د جينئ پيدا كيدو دويرې عزل كول (ضبط ولادت : ۲۰).

معلومه شوه چه عزل جائز دې ليكن څنګه چه ونيلې شوى دى چه دضرورت لاندې جائزدې.

۹۲- بَابُ الْقُرْعَةِ بَيْنَ النِّسَاءِ إِذَا أَرَادَ سَفَرًا

امام بخارى رحمه الله دا ونيل غوارى چه كله سرې سفر باندې ځى نو هغه كيف ماتفق خپله هره يو بى بى خان سره بوتلې شى يا ددې قرعه اندازى كول پكاردى.

علامه موفق رحمه الله فرمائى چه قرعه اندازئى نه بغير سفر كول داكثر اهل علم په نيز ناجائز دې. دشوافع په نيز هم دنزاع په صورت كښې قرعه نه بغير سفر كول جائز نه دى. (۱)

امام مالك رحمه الله فرمائى چه هغه ته اختيار دې چه څوك بوځى ، ددې وجې په سفر كښې خاص طور باندې مناسبت بې حد ضرورى وى نو ددې وجې دسفر دحالاتو پيش نظر چه كومه يوه ښځه زياده مناسبه وى نو هغه دې بوځى. په دې كښې دقرعه اندازئى ضرورت نشته دې. (۲)

دحضرات حنفيه په نيز قرعه اندازى حجت ملزمه نه ده ، صرف تطييب قلب دپاره دا اختيارولې شى او ددوى په نيز قرعه اندازى صرف دمستحب په درجه كښې ده. (۳)

[۴۹۱۳] حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ بْنُ أَيْمَنَ قَالَ حَدَّثَنِي ابْنُ أَبِي مُلَيْكَةَ عَنْ الْقَاسِمِ عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا خَرَجَ أَقْرَعَ بَيْنَ نِسَائِهِ فَطَارَتْ الْقُرْعَةُ لِعَائِشَةَ وَحَفْصَةَ وَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ بِاللَّيْلِ سَارَ مَعَ عَائِشَةَ يَتَحَدَّثُ فَقَالَتْ حَفْصَةُ أَلَا تَرْكَبِينَ اللَّيْلَةَ بَعِيرِي وَأَرْكَبُ بَعِيرَكِ تَنْظُرِينَ وَأَنْظُرُ فَقَالَتْ بَلَى فَرَكِبَتْ فَجَاءَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى جَمَلِ عَائِشَةَ وَعَلَيْهِ حَفْصَةُ فَسَلَّمَ عَلَيْهَا ثُمَّ سَارَ حَتَّى نَزَلُوا وَافْتَقَدَتْهُ عَائِشَةُ فَلَمَّا نَزَلُوا جَعَلَتْ رِجْلَيْهَا بَيْنَ الْإِذْخِرِ وَتَقُولُ يَا رَبِّ سَلِّطْ عَلَيَّ عَقْرَبًا أَوْ حَيَّةً تَلْدَغُنِي وَلَا أَسْتَطِيعُ أَنْ أَقُولَ لَهُ شَيْئًا

روايت كښې دى چه حضرت حفصه رضي الله عنها حضرت عائشه رضي الله عنها ته اوونيل چه نن شپه ته ځما په اوښ سوره شه او زه به ستا په اوښ سوره شم. اوبيا اوګوره چه (ځما اوښ څنګه تيز ځى)او زه ګورم چه (ستا اوښ څنګه ځى يا ته هغه طر فته اوګورې چه كوم طرفته زه ګورم او زه هغه طرفته اوګورم چه كوم طرفته ته ګورې).

حضرت حفصه رضي الله عنها دبوخ عمر ښځه وه اوحضرت عائشه رضي الله عنها كم عمره وه. حضرت حفصه رضي الله عنها حضرت عائشه رضي الله عنها داشان اوغلوله.ددې منشاء داوه چه دحضرت نبى كريم ﷺ عادت دادې چه دشپې حضرت عائشه رضي الله عنها سره سفر كوى. داسعادت دې ماته ولې حاصل نه وى، حضرت نبى كريم ﷺ به دحضرت عائشه رضي الله عنها اوښ اوګورى اورابه شى اوپه دې كښې به زه موجوده يم نوماسره به خبرې اترې اوكړى.

---

۱) اوګورئ المغنى لابن قدامه : ۲۳۸/۷ ،كتاب النكاح مساله : ۵۷۳۱ ، وارشاد السارى: ۵۰۱/۱۱).

۲) اوګورئ الابواب والتراجم: ۷۵/۲).

۳) فتح التقدير: ۴۱۵/۳).

نوحضرت عائشه ﷺ دحفصه ﷺ په دهوکه کښې ر اغله او اوښ ئې بدل کړو ، حضرت نبی کریم ﷺ حضرت عائشه ﷺ لره ورغلو نو وې کتل چه په هغه خاني کښې دحضرت دعائشه ﷺ په ځانې حضرت حفصه ﷺ وه. حضرت نبی کریم ﷺ هغې ته سلام اوکړو اوتیرشو ،بل طرفته چه حضرت عائشه ﷺ نبی کریم ﷺ خپل خان سره اونه موندو نو هغې ته ډیر افسوس اوشو.

هرکله چه لښکر پړاو اوکړو نو حضرت عائشه ﷺ دا ذخر په وخوکښې پښې دننه کړې اوکیښناسته او وې وئیل چه ائې الله ﷻ ماباندې څه مار لړم مقرر کړه چه ما اوچیچي.څه حضرت نبی کریم ﷺ ته وئیلې هم نشم. (ځکه چه غلطی خما خپله ده ، غرض دا چه حضرت عائشه ﷺ شرمنده هم وه او پریشانه هم).((طارت القرعة لعائشة أی حصلت))

۹۷=بَاب الْمَرْأَةِ تَهَبُ يَوْمَهَا مِنْ زَوْجِهَا لِضَرَّتِهَا وَكَيْفَ يَقْسِمُ ذٰلِكَ

[۴۹۱۴] حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ اسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ عَنْ هِشَامٍ عَنْ اَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ اَنَّ سَوْدَةَ بِنْتَ زَمْعَةَ وَهَبَتْ يَوْمَهَا لِعَائِشَةَ وَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْسِمُ لِعَائِشَةَ بِيَوْمِهَا وَيَوْمِ سَوْدَةَ

دا خبره ماقبل تیره شوې ده چه یو ښځه خپل نمبر خپلې یو بنې ته هبه کولې شی((وکیف یقسم ذالك))سړې به دا څنګه تقسیموی. یعنې که یو ښځه خپل نمبرخپلې یو بنې ته ورکړی نو سړې به دا څنګه تقسیموی. امام بخاری ﷫ دې قسمت لره بیان نه کړو بلکه دائې علی سبیل الاستفهام ذکر کړې دې.

ددې تقسیم طریقه کار دادې چه مو هوبه په دې نمبر کښې به په منزله د واهبه وی. دواهبه دپاره چه کومه ورځ وی هغه به د موهوبه په حصه کښې راځی. لکه دموهوبه خپله ورځ په دونمه ورځ ده اودا ابه نمبر په څلورم ورځ دې نو موهوبه ته به اوس دوه ورځې ملاویږی. یو دونمه چه ددې خپله ده او یو څلورمه ورځ چه دا ورځ ده. په دې کښې خاوند دپاره داشان کول صحیح نه دی چه موهو به ته دوه ورځې پرله پسې ورکړی یعنی دونمه او دریمه څکه چه په دې صورت کښې به نورو بنوته حرج وی. اوکه موهوبه دنمبر ورځ د واهبه د ورځې سره متصل دهنوبیا موهوبه ته به دوه ورځې متصل ملاویږی. (۱)

دنمبر قسم مسنون طریقه په دې سلسله کښې دحضرت نبی اکرم ﷺ طریقه دا وه چه حضرت نبی کریم ﷺ به دهرې یو دپاره یو ورځ اویو شپه مقرر کوله.

ددې وجې بعض داهل علم دا خیال دې چه د نمبر په سلسله کښې یو شپه او ورځې نه زیاته موده یو ته نسه دی ورکول پکار. امام مالك ﷫ ، ابوثور ﷫ او شوافع کښې ابواسحاق مروزی هم دا رائې ده . (۲)

---

۱) عمده القاری: ۱۹۸/۲۰).

۲) عمدة القاری: ۱۹۸/۲۰، ۱۹۹).

دامام شافعي رحمه الله په نيز يوم وليلة حساب مستحب اوبهتر دي ، بياهم د دوه دوه او دريو دريو شپو حساب لګولو سره هم دنمبر ايښودو ګنجائش دجواز موجود دي. ددې نه زيات مکروه دي. (۱)

علامه جويني رحمه الله فرمائي چه د نمبر دا موده دمدت ايلاء يعني څلورومياشتونه زيات ته دې پکار. ددې نه کم جائزدي. لکه ديويو مياشت مياشتې حساب هم لګولې شي، (۲)

حضرات حنفيه فرمائي چه په دې کښې تحديد او تعيين نه دې بلکه دزوج او ازواج په خپلو کښې رضامندئ باندې موقوف دی. (۳)

۹۸=بَاب الْعَدْلِ بَيْنَ النِّسَاءِ

وَلَنْ تَسْتَطِيعُوا أَنْ تَعْدِلُوا بَيْنَ النِّسَاءِ إِلَى قَوْلِهِ وَاسِعًا حَكِيمًا (النساء:۱۲۹،۱۳۰).

دامام بخاري رحمه الله مقصد دادې چه دښځو په مينځ کښې عدل او مساوات په دې څيزونو کښې واجب دې چه کوم اختياري دی لکه نان نفقه ، سکنی وغيره غيراختياری څيزونو کښې دمساوات سړې مکلف نه دې ،که يو ښځې سره دسړې فطری طور محبت زيات دې اودوئمې سر کم دې نو داقابل مواخذه نه دې.

حضرت نبی کريم صلى الله عليه وسلم به عدل بين الازواج فرمائيل حالانکه په حضرت نبی کريم صلى الله عليه وسلم باندې عدل واجب نه وو. ليکن ددې باوجود به حضرت نبی کريم صلى الله عليه وسلم فرمائيل چه «اللهم هذا قسمي فيما أملك فلا تلمني فيما تملك ولا أملك»، امام ترمذی رحمه الله ددې تقسيرمحبت او مودت کړې دې.(۴)

۹۹=بَاب: اذا تزوج البكر على الثيب

[۴۹۱۵] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا بِشْرٌ حَدَّثَنَا خَالِدٌ عَنْ أَبِي قِلَابَةَ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وَلَوْ شِئْتُ أَنْ أَقُولَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَكِنْ قَالَ السُّنَّةُ إِذَا تَزَوَّجَ الْبِكْرَ أَقَامَ عِنْدَهَا سَبْعًا وَإِذَا تَزَوَّجَ الثَّيِّبَ أَقَامَ عِنْدَهَا ثَلَاثًا [ر:۴۹۱۶]

ثيبه ښځه مخکښې نه سړی سره موجوده وی اوسړې يوپيغلې ښځې سره واده اوکړی نو دده سره د اوسيدو ترتيب څه وی. امام بخاری رحمة الله عليه ددې ترجمې لاندې دحضرت انس رضي الله عنه حديث نقل کوی اوهغه ترتيب بيانوی چه کوم کښې مسنون دادی چه دې باکره سره به سړې اووه ورځې وی. او ددې اووه ورځو نه پس به نمبر بيا شروع کيږی ، دا اووه ورځې به په نمبر کښې نه شميرلې کيږی.

---

۱) عمده القاری: ۱۹۹/۲۰).

۲) عمدة القاری: ۱۹۹/۲۰).

۳) اوګورئ الهدايه ، کتاب النکاح باب القسم : ۳۱۹/۲).

۴) اخراجه ابوداود رقم الحديث : ۲۱۳۴ ، والترمذی ، رقم الحديث ، ۱۱۴۰ ، والدارمی : رقم الحديث : ۲۱۲۷ ، وابن ماجه : ۱۹۷۱ ، رقم الحديث: ۴۲۰۵ ، والحاکم : ۱۸۷/۲ ، اوګورئ عمده القاری: ۱۹۹/۲۰).

امام بخاري رحمة الله عليه ددې باب لاندې چه کوم حديث ذکر فرمائيلې دې په هغې کښې د «على الثيب» الفاظ نه دى بلکه صرف دادى چه باکره سره د واده کولو نه پس دې سره اووه ورځې پاتې کيدل سنت دى. ليکن هم په دې حديث کښې په بل طريق کښې چونکه د «على الثيب» الفاظ دى ددې وجې ترجمه کښې هم د «على الثيب» الفاظ امام بخارى رحمه الله استعمال کړل. نو په دې راتلونکى حديث کښې د حضرت انس رضي الله عنه دا الفاظ دى.

امام بخارى رحمه الله په ترجمة الباب کښې «اذا تزوج البكر» شرط ذکر فرمائيلې دې ، مخکښې حديث باندې اکتفا کولو سره جزاء نه ذکر کوى.

۱۰۰= بَاب إِذَا تَزَوَّجَ الثَّيِّبَ عَلَى الْبِكْرِ

[۴۹۱۶] حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ رَاشِدٍ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ عَنْ سُفْيَانَ حَدَّثَنَا أَيُّوبُ وَخَالِدٌ عَنْ أَبِي قِلَابَةَ عَنْ أَنَسٍ قَالَ مِنْ السُّنَّةِ إِذَا تَزَوَّجَ الرَّجُلُ الْبِكْرَ عَلَى الثَّيِّبِ أَقَامَ عِنْدَهَا سَبْعًا وَقَسَمَ وَإِذَا تَزَوَّجَ الثَّيِّبَ عَلَى الْبِكْرِ أَقَامَ عِنْدَهَا ثَلَاثًا ثُمَّ قَسَمَ

قَالَ أَبُو قِلَابَةَ وَلَوْ شِئْتُ لَقُلْتُ إِنَّ أَنَسًا رَفَعَهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ عَبْدُ الرَّزَّاقِ أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ عَنْ أَيُّوبَ وَخَالِدٍ قَالَ خَالِدٌ وَلَوْ شِئْتُ قُلْتُ رَفَعَهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ر: ۴۹۱۵]

ددې باب لاندې هم د حضرت انس رضي الله عنه حديث ذکر فرمائيلې شوې دې چه د باکره موجودګئ کښې ثيبه سره واده اوکړې شى نو درې ورځو پورې دې سره اوسيدې شى او بيا به نمبر شروع کيږى.

په دې مسئله کښې حضرات حنيفه او د ائمه ثلاثه اختلاف دې ، د ائمه ثلاثه په نيز د مذکوره حديث مطابق د نکاح جديد نه پس د باکره دپاره اووه ورځې او ثيبه دپاره د درې ورځو زائد وى او بيا به نمبر شروع شى. (۱) او ثيبه ، باکره ، قديمه او جديده هيڅ فرق نشته دې.(۲)

حضرات حنفيه ددې نصوص نه استدلال کوى چه په دې کښې د مساوات مطلق ذکر راغلې دې. لکه د قرآن پاک آيت دې چه ﴿فَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تَعْدِلُوا فَوَاحِدَةً﴾ په د ېکښې د قديم ، جديد وغيره هيڅ قيد نشته دې. (۳)

دا شان طحاوى وغيره د حضرت ام سلمه روايت نقل کړې دې چه حضرت نبى کريم صلى الله عليه وسلم کله دې سره نکاح اوکړه او حضرت نبى کريم صلى الله عليه وسلم دې سره درې ورځې قيام اوکړو ، بيا کله چه حضرت نبى کريم نورو ازواج مطهرات لره ورغلو نو حضرت ام سلمه رضي الله عنها د حضرت نبى کريم

۱) عمده القارى: ۲۰/۲۰۱).
۲) عمدة القارى: ۲۰/۲۰۱ ، والهدايه مع الفتح القدير: ۳/۴۱۰ ، باب القسم).
۳) فتح القدير: ۳/۴۱۰).

ﷺ كرته مباركه اونيوله نو حضرت نبى كريم ﷺ اوفرمائيل چه «ليس لك على اهلك هوان ان شئت سبعت عندك وسبعت عندهن وان شئت ثلثت ثم درت قالت ثلث» (۱)

امام محمد رحمة الله عليه ددې حديث مطلب دا بيان كړې دې ام سلمه رضي الله عنها دا اوګنړله كه حضرت نبى كريم ﷺ اووه ورځې ماسره وى اواو بيا اووه اووه ورځې نوروسره وى نو ځما نمبر خو به ډيرې ورځې پس راځى. ددې وجې هغې وته اوونيل چه تاسو درې ورځې پاتې شئ. ددې نه معلوم شوه كه دې اووه ورځې وركړې شوې نو ټولو ازواج مطهرات ته به اووه اووه ورځې وركولې شى ، اوكه دې ته درې ورځې وركړې شوې نو بيا به ټولو ته درې درې ورځې وركولې شى. معلومه شوه خصوصيت هيڅ نشته دې. (۲)

جمهور علماء كرام فرمائى چه ددې مطلب دا نه دې بلكه ددې مطلب دادې كه ستا سره اووه ورځې تيرې كړم نو بيا به نورو ازواج مطهرات سره اووه اووه ورځې تيرې كړم . او كه ستا سره درې ورځې تيرې كړم نو چونكه ته نوى ئې نو بيا نورو بيبيانو سره درې درې ورځې نه تيروم .يو يو ورځ به پاتې كيږم او بيا به تاله راشم. په دويم ځل به ستا دومره حق وى لكه څومره چه دنورو وى. اوحضرت ام سلمه رضي الله عنها چه كوم روايت په مسلم كښې نقل شوې دې ، ددې نه دجمهور علماء كرام دخيال تائيد كيږى.(۳)

ثيبه سره د نكاح جديد كولو نه پس د ائمه ثلاثه په نيز د نمبر نه علاوه دې ته به درې ورځې ملاويږى. ليكن كه د دريو ورځ نه زيات شو او اووه ورځې شو نو دا اووه ورځې به په نمبر كښې محسوب وى. (۴)

حاصل دادې چه دا نصوص مطلقه دحنفيه تائيد كوى،او نور دنصوص آئمه ثلاثه تائيد كوى.

قوله: وقال عبدالرزاق،اخبرنا يوسف عن ايوب وخالد قال خالد:لو شئت لقلت رفعه الى النبى ﷺ: راوئ حديث خالد فرمائى كه څه غواړم نو دا ونيلې شم چه حضرت انس رضي الله عنه دې حديث ته مرفوعاً ونيلې دې ، «لو شئت لقلت .....» ددې قول قائل په اختلاف كښې دى.امام بخارى رحمه الله د اتعليق ذكر كوى او دې اختلاف طرفته اشاره كوى ، د پورته باب حديث موصول كښې ددې قول قائل ابوقلابه دې ،په هغه ځائې كښې دى چه «قال ابوقلابة لوشئت ....» اودعبدالرزاق په روايت كښې دى چه ددې قول قائل دابو قلابه شر شاګرد دې .

---

۱) شرح معانى الاثار للطحاوى، كتاب النكاح، باب مقدار ما يقيم الرجل، عند الثيب اوالبكر اذا تزوجها: ۱۹/۲).
۲) راجع الموطا للامام محمد: كتاب النكاح باب الرجل تكون عنده نسوه كيف يقسم بينهن ص: ۲۴۲) .
۳) اوګورئ ،صحيح مسلم ، كتاب النكاح ، باب قدر ما تستحقه البكر والثيب: ۴۷۲/۱ . وشرح مسلم للنووى : ۴۷۲/۲ . وشرح معانى الاثار للطحاوى : ۱۹/۲ ، وشرح الرزقانى على موطا امام مالك كتاب النكاح : ۱۳۵/۳).
۴) شرح مسلم للنووى : ۴۷۲/۲ . وشرح معانى الاثار: ۱۹/۲).

۱۰۱=باب من طاف على نسائه في غسل واحد

[۴۹۱۷] حدثنا عبد الاعلى بن حماد حدثنا يزيد بن زريع حدثنا سعيد عن قتادة ان انس بن مالك حدثهم ان نبي الله صلى الله عليه وسلم كان يطوف على نسائه في الليلة الواحدة وله يومئذ تسع نسوة

امام بخاری رحمة الله عليه ددې ترجمې مقصد دادې چه هر جماع دپاره مستقل غسل كول واجب نه دی بلكه غسل نه بغير خپلو مختلفو بيبيانو سره جماع كولې شى.

داحديث په كتاب الغسل كښې «باب اذا جامع ثم دعا» لاندې تير شوې دې او په هغه ځائې كښې په دې باندې تفصيل بحث تير شوې دې.

۱۰۲=باب دخول الرجل على نسائه في اليوم

[۴۹۱۸] حدثنا فروة حدثنا علي بن مسهر عن هشام عن ابيه عن عائشة رضي الله عنها كان رسول الله صلى الله عليه وسلم اذا انصرف من العصر دخل على نسائه فيدنو من احداهن فدخل على حفصة فاحتبس اكثر مما كان يحتبس

[۴۹۶۷ ، ۵۱۱۵ ، ۵۲۷۷ ، ۵۲۹۱ ، ۵۳۵۸ ، ۶۵۷۱ ، وانظر: ۴۶۲۸].

دامام بخاری ﷫ مقصد دادې چه «عدل بين الازواج» كښې اصل اعتبار دشپې دې چه په دشپې به دچا نمبر وى ، په دې كښې به بلې ښځې سره پاتې كيدل جائز نه دى. ليكن كه ورځې يو بى بى ته دكار يا دځه ضرورت دپاره ورشى نو دا دعدل منافى نه دى.

په حديث باب كښې دى چه حضرت نبى كريم ﷺ به د عصر دمونځ نه پس خپلو بيبيانو لره ورتلو او هريو سره به ځه وخت تيرولو ، يو ورځ حضرت حفصه ﵂ لره ورغلل او په هغه ځائې كښې لږ شان دمعمول نه وزيات پاتې شو . معلوم شوه چه د ورځې مختلفو بيبيانو لره تللې شى.

ددې حديث نه بعضو حضراتو استدلال كړې دې چه دشرب عسل واقعه حضرت حفصه ﵂ سره شوې وه . بعضو دحضرت سوده ﵂ نوم خودلې دې ليكن ما قبل تير شوى دى چه صحيح قول دادې چه هغه واقعه دحضرت زينب ﵂ سره پيښه شوې وه. (۱)

۱۰۳=باب إذا استأذن الرجل نساءه في أن يمرض في بيت بعضهن فأذن له

«يمرض : صيغة المجهول من التمريض وهو القيام على المريض وتعاهد حاله _ فأذن له بتشديد النون لانه جمع مونث غائب من الماضى» (۲)

---

۱) اوګورئ كشف البارى، كتاب التفسير تفسير سوره التحريم: ۶۸۵).

۲) عمده القارى: ۲۰۲/۲۰).

مطلب دادې چه سړی بیمار وي او هغه دخپلو بیبیانونه اجازت واخلي چه هغه به خپل وخت په خپلې مرضۍ سره یو سره تیروی او ددوی د طرفنه اجازت ملاؤ شی نو دې سره منتقل کیدیشی . دنمبر او عدل دا منافی نه دی.
نو حضرت نبی کریم د مرض وفات په ورځو کښې حضرت عائشه رضی الله عنها سره وو او باقی ازواج مطهرات حضرت نبی کریم ﷺ ته اجازت ورکړې وو.

[۴۹۱۹] حَدَّثَنَا اسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي سُلَيْمَانُ بْنُ بِلَالٍ قَالَ هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ اخْبَرَنِي ابِي عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا انَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَسْأَلُ فِي مَرَضِهِ الَّذِي مَاتَ فِيهِ ايْنَ انَا غَدًا ايْنَ انَا غَدًا يُرِيدُ يَوْمَ عَائِشَةَ فَاذِنَ لَهُ ازْوَاجُهُ يَكُونُ حَيْثُ شَاءَ فَكَانَ فِي بَيْتِ عَائِشَةَ حَتَّى مَاتَ عِنْدَهَا قَالَتْ عَائِشَةُ فَمَاتَ فِي الْيَوْمِ الَّذِي كَانَ يَدُورُ عَلَيَّ فِيهِ فِي بَيْتِي فَقَبَضَهُ اللَّهُ وَانَّ رَاسَهُ لَبَيْنَ نَحْرِي وَسَحْرِي وَخَالَطَ رِيقُهُ رِيقِي [ر:۸۵۰].

حضور نبی اکرم ﷺ باندې عدل بین الازواج واجب وو که نه ؟
په حضرت نبی کریم ﷺ باندې عدل بین الازواج واجب ووکنه نه؟حضرات حنفیه دعدم وجوب قائل دی، هم داد مالکیه راجح قول دې ، لکه څنګه چه علامه زرقانی لیکلی دی چه امام غزالی رحمه الله همدا قول صحیح ګڼړلې دې ،س اوعلامه بلقینی رحمه الله او علامه سیوطی رحمه الله فرمانی چه ((وهوالمختار للادلة الصریحة)) (۱)
لیکن د اکثرو شوافع او حنابله په نیزعدل بین الازواج واجب وو .(۲)هغه دحدیث باب نه استدلال کوی ، حنفیه دا په استحباب باندې محمول کوی چه په حضرت نبی کریم ﷺ باندې واجب نه وو.لیکن دخپل طرفنه به ئې دعدل اهتمام کولو.

۱۰۴=بَاب حُبِّ الرَّجُلِ بَعْضَ نِسَائِهِ أَفْضَلَ مِنْ بَعْضٍ

[۴۹۲۰] حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ عَنْ يَحْيَى عَنْ عُبَيْدِ بْنِ حُنَيْنٍ سَمِعَ ابْنَ عَبَّاسٍ عَنْ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ دَخَلَ عَلَى حَفْصَةَ فَقَالَ يَا بُنَيَّةِ لَا يَغُرَّنَّكِ هَذِهِ الَّتِي اعْجَبَهَا حُسْنُهَا حُبُّ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِيَّاهَا يُرِيدُ عَائِشَةَ فَقَصَصْتُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَبَسَّمَ [ر:۸۹]

ددې باب نه دامام بخاری رحمه الله مقصد دا وئیل دی چه دعدل تعلق محبت اوتعلق قلبی سره نه دې ځکه چه هغه یوغیر اختیاری څیز دې،حضرت نبی کریم ﷺ حضرت عائشه رضی الله عنها سره ډیر محبت وو . حضرت عمر فاروق رضی الله عنه پخپله ددې اقرار کوی.

---

۱) دحنفیه مذهب دپاره اوګورئ حاشیه ترمذی للشیخ احمد علی السهارنفوی : ۲۱۷/۱ . باب ماجاء فی التسویه بین الضرائر. دمالکیه مذهب دپاره اوګورئ شرح الزرقانی علی موطا الامام مالک کتاب النکاح : ۱۳۵/۳)
۲) عمده القاری: ۲۰۳/۲۰).

۱۰۵=بَاب الْمُتَشَبِّعِ بِمَا لَمْ يَنَلْ وَمَا يُنْهَى مِنْ افْتِخَارِ الضَّرَّةِ

«متشبع» باب تفعل نه د اسم فاعل صيغه ده د«تشبع» معنی ده ډير کول، ډير ظاهرول «التشبع بما لم ينل» معنی ده چه کوم نسان‌ته حاصله نه وی دا د خپل ځان دپاره حاصل شوې ظاهرول چه نورو ته معلوم شی چه دا څيزده ته حاصل دې ،حديث کښې مخکښې دداسې سړی حکم رازی.

قوله: وما ينهى من افتخار الضرة: يو ښځې ته دبلې ښځې په مقابله کښې داسې د دروغو افتخارممنوع دې چه‌دښځې د سوزولو دپاره‌هره ورځ بيانوی چه خاوند نن ځما دپاره‌داسې جامې راوړی دی.داسې کالې ئې راوړې دې ، ليکن په حقيقت کښې هيڅ نه وی ، خو که‌يو ښځې سره دخاوند واقعی محبت وی زيات او هغه ددې محبت ذکر اوکړی نو په دې کښې هيڅ باك نشته دې،بعضونسخوکښې دی چه«اضجار الضرة» دې«اضجار الضرة أی ا لحاق الغم والقلق اياها»(۱) مطلب دادې چه‌ښځې لره په غم او قلق کښې اخته کول منع دی.

[۴۹۲۱] حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ هِشَامٍ عَنْ فَاطِمَةَ عَنْ أَسْمَاءَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ح حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ هِشَامٍ حَدَّثَتْنِي فَاطِمَةُ عَنْ أَسْمَاءَ أَنَّ امْرَأَةً قَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ لِي ضَرَّةً فَهَلْ عَلَيَّ جُنَاحٌ إِنْ تَشَبَّعْتُ مِنْ زَوْجِي غَيْرَ الَّذِي يُعْطِينِي فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُتَشَبِّعُ بِمَا لَمْ يُعْطَ كَلَابِسِ ثَوْبَيْ زُورٍ

يوښځې دحضرت نبی کريم ﷺ نه تپوس اوکړو چه‌يارسول الله ﷺځما يو بن ده که څه «دهغې د سوزلو دپاره دهغې په مخکښې»دخپل خاوند د طرفنه‌چه څومره‌هغه سوزل کوی ماسره ددې نه زيات دهغې سره‌اوکړم نو آيا څه به ګناهنګاره يم ؟حضرت نبی کريم ﷺ اوفرمائيل چه نه ورکړې شوې څيزظاهرولو دالا داسې دې لکه څنګه چه څوك د دروغو دوه جامې واغوندی.

علامه خطابی رحمه الله فرمائی چه‌د «ثوب» لفظ په دې کښې په طور د محاورې اوپه طور دمثال استعمال شوې دې.او مطلب دادې چه‌داسې سړې صاحب زوراوصاحب کذب يعنی دروغژن وی. لکه څنګه چه‌دچا په صفائی بيانولو کښې ونيلې شی «وهو ظاهر الثوب»مراد ددې نه ثوب نه دې بلکه نفس رجل وی. (۲)

ابو سعيدضرير اوفرمائيل چه‌د دروغو ګواهئ ورکولو والا دوه‌ښکلې جامې واغوندی او ګواهی ورکوی جه‌ددې ظاهری حالت اوکتلې شی او په دوی باندې د دروغو ګمان نه وی.

۱) عمده القاری: ۲۰/۲۰۳، ۲۰٤).
۲) فتح الباری: ۹/۳۹۷).

علامه خطابی رحمه الله دنعیم بن حماد نه په دې سلسله کښې يو حکایت هم نقل کړې دې چه يو قبيله کښې دظاهری هيئت په اعتبار سره يو باوقاره سړې اوسيدو ، هرکله چه به د دروغو ګواهی ورکول شروع شو نو دوی به دوه جامې اغوستلې او ګواهی به ورکوله ، اودده د ظاهری کیفیت او لباس به وجه به دده ګواهی قبلولې شوه. خلقو به وئيل «امضاها بثوبيه» یعنی دده دجامو په ذریعه دده ګواهی قبوله کړې شوه. نوداشان دې دوؤ کپړو طرفته دزور نسبت شروع شو ، وئيلې کيږی چه «کلابس ثوبی زور» حاصل دادې چه دا په مذکوره پس منظر کښې يو محاوره جوړه شوې ده.(۱)

په حديث کښې «ثوبی زور» په تنبيه راوړلو کښې دا حکمت هم دې چه په ده کښې په خپل نفس باندې دروغ دی چه کوم څيز ملاؤ نشو دهغې اظهار دې. او په نورو باندې هم دروغ دی چه کوم څيز ده ته ورکړې شوې نه دې هغې نسبت ته طرفته کولې شی . داشان د دروغو ګواهی ورکونکې په خپل خان باندې ظلم کوی ، او مشهود عليه باندې هم ظلم کوی. (۲)
په حديث کښې حضرت نبی کريم صلی الله علیه وسلم نه سوال کولو والا د کومې ښځې ذکر دې، حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه ددې او ددې د خاوند متعلق ماته معلوم نشو چه دده نوم څه وو او دوی څوك وو. (۳)

۱۰۶=بَاب الْغَيْرَةِ

د غيرت او تغير ماده يوه دهه . غيرت په تغير باندې دلالت کوی ، اصطلاح کښې غيرت هغه طبعی خفګان ته وئيلې شی چه د څه داسې څيز په وجه انسان ته نه لاحق شی چه په هغې کښې انسان شرکت کول نه خوښوی. (۴)

وَقَالَ وَرَّادٌ عَنْ الْمُغِيرَةِ قَالَ سَعْدُ بْنُ عُبَادَةَ لَوْ رَأَيْتُ رَجُلًا مَعَ امْرَأَتِي لَضَرَبْتُهُ بِالسَّيْفِ غَيْرَ مُصْفَحٍ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَعْجَبُونَ مِنْ غَيْرَةِ سَعْدٍ لَأَنَا أَغْيَرُ مِنْهُ وَاللَّهُ أَغْيَرُ مِنِّي [ر:۳۷۴]
حضرت سعد بن عباده رضی الله عنه فرمائی که ما څوك خپلې ښځې سره اوليدو نو څه دهغه په توره اوژنم.

«مصفح» دا د «صفح» نه دې، دتورې پلن والی ته وئيلې شی . دباب افعال نه صيغه د اسم فاعل هم کيديشی او اسم مفعول هم. داسم فاعل په صورت کښې د «ضربت» ضمير دفاعل نه حال به وی يعنی څه به ده لره وهم . په دې حال کښې چه د تلوار په لنډوالی سره به نه وی

۱) فتح الباری:۹/۳۹۷).
۲) فتح الباری: ۹/۳۶۷ . وعمده القاری: ۲۰/۲۰٤).
۳) فتح الباری: ۹/۳۹۷).
٤) قال صاحب المشارق: مغنى الغيره تغير ا لقلب وهيجان الغضب بسبب المشاركه فی الاختصار من ا حد الزوجين بالاخر وتحريمه وذبه عنه (عمده القاری: ۲۰/۲۰۵).

(بلکه د توري په مخ سره به دې ختم کړم) او داسم مفعول په صورت کښې دا ((السیف)) نه به حال وی یعنی په دې حال سره چه دې به پلن والی او چوړائی سر نشی وهلې ، بلکه په تیره مخ به وهلې شی .(۱)

حضرت نبی کریم ﷺ دده دخبرې په آوریدو سره اوفرمائیل چه تاسو به دسعد رضی الله عنه په خبره تعجب کښې شوی یئ ، خه دده نه زیات غیرت مند یم او الله ﷻ خما نه زیات غیرت مند دې. دا تعلیق امام بخاری رحمه الله مخکښې په کتاب الحدود کښې موصولاً نقل کړې دې. (۲) په دې خائې کښې حدیث مکمل نه دې ، په مسند احمد کښې مکمل سیاق و سباق سره دې چه دهغې الفاظ دی:

((لمانزلت هذه الاية : والذين يرمون المحصنات ، الاية قال سعد بن عبادة ، اهكذا انزلت . فلو وجدلكاع متفخذها رجل لم يكن لى ان احركه ولا اهيجه حتى آتى باربعة شهداء فوالله لا آتى باربعة شهداء حتى يقضى حاجته فقال رسول الله ﷺ يامعشر الانصار الا تسمعون مايقول سيدكم ؟ قالوا يا رسول الله ﷺ لاتلمه فانه رجل غيور والله ماتزوج امرأة قط الا عذراء ولا طلق امرأة فاجترأ رجل منها رجل منها ان يتزوجها من شدة غيرته فقال سعد ، والله انى لاعلم يا رسول الله انها الحق وانها من عند الله ولكنى عجبت)) (۳)

[۴۹۲۲] حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصٍ حَدَّثَنَا أَبِي حَدَّثَنَا الأَعْمَشُ عَنْ شَقِيقٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا مِنْ أَحَدٍ أَغْيَرُ مِنْ اللَّهِ مِنْ أَجْلِ ذَلِكَ حَرَّمَ الْفَوَاحِشَ وَمَا أَحَدٌ أَحَبَّ إِلَيْهِ الْمَدْحُ مِنْ اللَّهِ [ر:۴۳۵۸].

حضرت نبی علیه السلام فرمائیلی دی چه دالله تعالی نه زیات خوك غیرت مند نشته دې ، هم په دې وجه الله ﷻ دبې حیائی کارونه حرام کړل ، اوالله ﷻ نه هیڅوا ته هم خپله مدحه زیاته خوښه نه ده.

دغیرت په نسبت په دې حدیث کښې الله ﷻ طرفته کړې شوې دې د متقدمین په مسلك کښې داشان الفاظو کښې تفویض وتسلیم هم بهتر دې ، متاخرین فرمائی چه دداشان الفاظو نسبت الله ﷻ ته دغایت او نتیجې اعتبار سره دې ، دمبداء اعتبار سره نه دې ، دغیرت نتیجه او غایت دادې چه دې خیز لره باقی نشی پریښودې چه په کوم باندې غیرت رازی ، الله ﷻ ته په فواحشو باندې غیرت رازی ، ددې وجې الله ﷻ دې لره حرام ګرزولی دی. (۴)

---

۱) فتح الباری: ۴۰۱/۹).

۲) اوګورئ صحیح بخاری ، کتاب الحدود: ۲/ ، قوله : اتعجبون من غيرة سعد " الهمزة فيه للاستفهام يجوز ان يكون على سبيل الاستحضار ويجوز ان يكون على سبيل الانكار يعنى لاتعجبوا من غير سعد وانا اغيرمنه من سعد (عمدة القاری: ۲۰۵/۲۰)

۳) فتح الباری: ۴۰۱/۹، ۴۰۲).

٤) را جع عمده القاری: ۲۰۵/۲۰).

[۴۹۲۳] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مَسْلَمَةَ عَنْ مَالِكٍ عَنْ هِشَامٍ عَنْ اَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا اَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَا اُمَّةَ مُحَمَّدٍ مَا اَحَدٌ اَغْيَرَ مِنَ اللّٰهِ اَنْ يَرَى عَبْدَهُ اَوْ اَمَتَهُ تَزْنِي يَا اُمَّةَ مُحَمَّدٍ لَوْ تَعْلَمُونَ مَا اَعْلَمُ لَضَحِكْتُمْ قَلِيلًا وَلَبَكَيْتُمْ كَثِيرًا [ر: ۱۰۴۴].

په دې حديث کښې دهغه خطبې يو حصه نقل کړې شوې ده چه کومه حضرت نبی کریم ﷺ ارشاد فرمائيلې وه او په کتاب الکسوف کښې تيره شوې ده .په هغه ځائې کښې په دې باندې بحث تيرشوې دې. (۱)

[۴۹۲۴] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ اِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا هَمَّامٌ عَنْ يَحْيَى عَنْ اَبِي سَلَمَةَ اَنَّ عُرْوَةَ بْنَ الزُّبَيْرِ حَدَّثَهُ عَنْ اُمِّهِ اَسْمَاءَ اَنَّهَا سَمِعَتْ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا شَيْءَ اَغْيَرُ مِنَ اللّٰهِ وَعَنْ يَحْيَى اَنَّ اَبَا سَلَمَةَ حَدَّثَهُ اَنَّ اَبَا هُرَيْرَةَ حَدَّثَهُ اَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (۲)

[۴۹۲۵] حَدَّثَنَا اَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا شَيْبَانُ عَنْ يَحْيَى عَنْ اَبِي سَلَمَةَ اَنَّهُ سَمِعَ اَبَا هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهُ قَالَ اِنَّ اللّٰهَ يَغَارُ وَغَيْرَةُ اللّٰهِ اَنْ يَاْتِيَ الْمُؤْمِنُ مَا حَرَّمَ اللّٰهُ (۳) «عن يحيی ان ابا سلمة» دا ماقبل سند باندې معطوف دې او موصول دې .

امام بخاری رحمه الله دوه سندونه بیان کړی دی. ① موسی بن اسماعیل عن همام عن یحیی عن ابی سلمة عن ابی هریرة عن النبی ﷺ. ② ابونعیم عن شیبان عن یحیی عن ابی سلمة عن ابی هریرة عن النبی ﷺ .

یحیی باندې دواړه سندونه یوځائې کیږی . په دې ځائې کښې چه کوم الفاظ دحدیث منقول دی «ان الله یغار وغیرة الله ان یاتی المومن ماحرم الله» حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه په ظاهر د دواړو سندونو الفاظ یو دی اودا الفاظ د دواړو سندونو دی.(۴)

[۴۹۲۶] حَدَّثَنَا مَحْمُودٌ حَدَّثَنَا اَبُو اُسَامَةَ حَدَّثَنَا هِشَامٌ قَالَ اَخْبَرَنِي اَبِي عَنْ اَسْمَاءَ بِنْتِ اَبِي بَكْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَتْ تَزَوَّجَنِي الزُّبَيْرُ وَمَا لَهُ فِي الْاَرْضِ مِنْ مَالٍ وَلَا مَمْلُوكٍ وَلَا شَيْءٍ غَيْرَ نَاضِحٍ وَغَيْرَ فَرَسِهِ فَكُنْتُ اَعْلِفُ فَرَسَهُ وَاَسْتَقِي الْمَاءَ وَاَخْرِزُ غَرْبَهُ وَاَعْجِنُ وَلَمْ اَكُنْ اُحْسِنُ اَخْبِزُ وَكَانَ يَخْبِزُ جَارَاتٌ لِي مِنَ الْاَنْصَارِ وَكُنَّ نِسْوَةَ صِدْقٍ وَكُنْتُ اَنْقُلُ النَّوَى مِنْ اَرْضِ الزُّبَيْرِ الَّتِي اَقْطَعَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى رَاْسِي وَهِيَ مِنِّي عَلَى ثُلُثَيْ فَرْسَخٍ

---

۱) اوګورئ صحیح البخاری: کتاب الکسوف ، باب الصدقه فی الکسوف رقم الحدیث: ۱۰۴۴).

۲) اخرجه مسلم فی التوبه ،باب غیره الله تعالی وتحریم الفواحش رقم : ۲۷۶۱ ، ۲۷۶۲ ، (ان یاتی المومن) ای نهیة ان یاتی المومن المحرمات).

۳) (۴۹۲۵) الحدیث اخرجه النسائی غیران ذکر (ب لا یاتی) مکان (ان یاتی) باب غیرة النساء ووجدهن اخرجه البخاری ایضا فی کتاب الادب باب مایجوز من الهجران لمن عصی ، رقم الحدیث : ۶۰۷۸ ، واخرجه مسلم فی فضائل الصحابة باب فی فضل عائشة رضی الله عنها رقم الحدیث: ۲۴۳۹).

۴) فتح الباری: ۹/۴۰۲).

فَجِئْتُ يَوْمًا وَالنَّوَى عَلَى رَأْسِي فَلَقِيتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَعَهُ نَفَرٌ مِنَ الْأَنْصَارِ فَدَعَانِي ثُمَّ قَالَ اخْ اخْ لِيَحْمِلَنِي خَلْفَهُ فَاسْتَحْيَيْتُ أَنْ أَسِيرَ مَعَ الرِّجَالِ وَذَكَرْتُ الزُّبَيْرَ وَغَيْرَتَهُ وَكَانَ أَغْيَرَ النَّاسِ فَعَرَفَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنِّي قَدِ اسْتَحْيَيْتُ فَمَضَى فَجِئْتُ الزُّبَيْرَ فَقُلْتُ لَقِيَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَلَى رَأْسِي النَّوَى وَمَعَهُ نَفَرٌ مِنْ أَصْحَابِهِ فَأَنَاخَ لِأَرْكَبَ فَاسْتَحْيَيْتُ مِنْهُ وَعَرَفْتُ غَيْرَتَكَ فَقَالَ وَاللَّهِ لَحَمْلُكِ النَّوَى كَانَ أَشَدَّ عَلَيَّ مِنْ رُكُوبِكِ مَعَهُ قَالَتْ حَتَّى أَرْسَلَ إِلَيَّ أَبُو بَكْرٍ بَعْدَ ذَلِكَ بِخَادِمٍ تَكْفِينِي سِيَاسَةَ الْفَرَسِ فَكَأَنَّمَا أَعْتَقَنِي [ر: ۲۹۸۲].

حضرت اسماء بنت ابی بکر صدیق ﷺ فرمائي چه کله ماسره زبير واده اوکړو نو نه هغه سره مال ووا و نه زمکه او نه وینځه غلام وو. سوا د اوبو راښکلو اوښان او آس نه هېڅ نه وو. دده آس نه به ما څرول ، اوبه به مې راوړې ، ددې ډول به مې صحيح کولو او وړه به مې اغړل ، البته ماته په ښه طريقه روټۍ پخول نه راتلل. خما روټۍ به انصارو ګواندیانو پخولې ، هغوی ډيرې پاکې ښځې وې ، حضرت نبی کريم ﷺ چه کومه زمکه زبير ته ورکړې وه نو ما به دهغې نه د کهجورو ګیتی راوړل .هغه ځائې دوه ميله لرې وو. يو ورځ ما په سرباندې ګتې اېښودې وو او واپس راتلم چه ماته حضرت نبی کريم ﷺ ملاؤ شو. حضرت نبی کريم ﷺ سره څو اهم صحابه کرام هم وو. حضرت نبی کريم ﷺ ماته آواز اوکړو. بيا ئې خه په اوښ باندې خپل شاته کښناستلو دپاره اوښ ته اخ ا خ اوونيل .خو ماته سړوسره په تګ کښې شرم را تلو. ماته دزبير غيرت هم ياد شو او هغه ډير غيرت مند وو. حضرت نبی کريم ﷺ پوهه شو او خه شرميږم نو حضرت نبی کريم ﷺ روان شول ، ما زبير ته اوونيل چه ماته په لار کښې حضرت نبی کريم ﷺ ملاؤشوې وو ، خما په سر باندې ګيډې وو او هغوی سره څو صحابه کرام هم وو. حضرت نبی کريم ﷺ ماته په اوښ د کيښناستو دپاره اوفرمائيل خو ماته شرم راغلو او ماته ستا غيرت هم معلوم دې. زبير اوئيل چه حضرت نبی کريم ﷺ سره دسوريدو نه ماته ستا ګيډې اوچتول دتولو نه زيات سخت دی. (څکه چه حضرت نبی کريم ﷺ سره کيښناستل څه دشرم باعث نه وو ، ليکن داشان ګيډی اوچتول دزمکې نه راوړل ما لره دعار او طعنې نه زيات دی).

دې نه پس حضرت ابوبکر صديق ﷺ يو خادم اوليږلو ماته چه هغه د آسونو پرورش کولو ، اوهغه مالره کافی شو چه ګنی هغه خه ددې بوج نه آزاده کړم.

((ناضح)) هغه اوښ چه کوم باندې اوبه راوړلې شی ((اعلف)) ازضرب ، څرول ، څريدل ((استقی)) داد افنفعال نه دمتکلم صيغه ده ((استقی من ا لنهر)) نهر وغيره نه اوبه راوړل ((اخرز غربه)) ما به دده ډول صحيح کولو ((خرز (ض) خرزا)) ګنډل ((غرب)) ډول ((اعجن (ض ن) عجنا)) اوړه اغړل . ((نسوة صدق)) رينښتونې ښځې ((صدق)) طرفته اسم اضافت کولې شی ، په قرآن پاك کښې دی چه ((ان لهم قدم صدق عند ربهم (النوی)) زړې ((اقطعه اقطاعا)) زمکه ورکول . ((علی راس النوی)) نه

حال دي «اى كنت انقل النوى حال كونها على راسي من ارض الزبير» «اغ اغ» دهمزه كسره او دخاء سكون سره) دا كلمه داوښ كينولو دپاره ونيلې شي. «سياسة الفرس» دآس نګرانى.
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه ظاهر هم دادى چه دا واقعه نزول حجاب نه مخکښې ده، تر دې وخته پورې دپردې حکم نه وو نازل شوې. (۱)

[۴۹۲۷] حَدَّثَنَا عَلِيٌّ حَدَّثَنَا ابْنُ عُلَيَّةَ عَنْ حُمَيْدٍ عَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَ بَعْضِ نِسَائِهِ فَأَرْسَلَتْ إِحْدَى أُمَّهَاتِ الْمُؤْمِنِينَ بِصَحْفَةٍ فِيهَا طَعَامٌ فَضَرَبَتْ الَّتِي النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَيْتِهَا يَدَ الْخَادِمِ فَسَقَطَتْ الصَّحْفَةُ فَانْفَلَقَتْ فَجَمَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِلَقَ الصَّحْفَةِ ثُمَّ جَعَلَ يَجْمَعُ فِيهَا الطَّعَامَ الَّذِي كَانَ فِي الصَّحْفَةِ وَيَقُولُ غَارَتْ أُمُّكُمْ ثُمَّ حَبَسَ الْخَادِمَ حَتَّى أُتِيَ بِصَحْفَةٍ مِنْ عِنْدِ الَّتِي هُوَ فِي بَيْتِهَا فَدَفَعَ الصَّحْفَةَ الصَّحِيحَةَ إِلَى الَّتِي كُسِرَتْ صَحْفَتُهَا وَأَمْسَكَ الْمَكْسُورَةَ فِي بَيْتِ الَّتِي كَسَرَتْ [ر: ۲۳۴۹]

داحديث په كتاب المظالم كښې تير شوې دې. حضرت نبى كريم ﷺ خپلې يو بى بى سره وو. دونمې بى بى دهغې كورته پليټ اوليږلو د خوراك. حضرت نبى كريم ﷺ چه كومې سره وو. هغې ته دغيرت په وجه غصه راغله، او دخادم دلاسه ئې پليټ مات كړو. حضرت نبى كريم ﷺ دپليټ ماتې ټكړې جمع كړې او وې فرمائيل چه ستا مور په غصه شوه. بيا چه چا پليټ مات كړې وو دهغې دكور نه روغ پليټ وركړو او واپس ئې كړو خادم، او مات شوې پليټ ئې دهغې په كور كښې كيخودو.
حافظ ابن حجر رحمه الله ليكلى دى چه حضرت نبى كريم ﷺ كومې ښځې په كور كښې وو، هغه حضرت عائشه رضي الله عنها وه. او روتې ليږونكې حضرت زينب بنت جحش رضي الله عنها وه. (۲)

«غارت امكم» كښې خطاب غلامو چه كوم حاضر وو هغوى ته وو، او «امكم» نه هغه زوجه مراد ده چه كومې پليټ مات كړې وو. (۳)

[۴۹۲۸] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ أَبِي بَكْرٍ الْمُقَدَّمِيُّ حَدَّثَنَا مُعْتَمِرٌ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ دَخَلْتُ الْجَنَّةَ أَوْ أَتَيْتُ الْجَنَّةَ فَأَبْصَرْتُ قَصْرًا فَقُلْتُ لِمَنْ هَذَا قَالُوا لِعُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ فَأَرَدْتُ أَنْ أَدْخُلَهُ فَلَمْ يَمْنَعْنِي إِلَّا عِلْمِي بِغَيْرَتِكَ قَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ يَا رَسُولَ اللَّهِ بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي يَا نَبِيَّ اللَّهِ أَوَعَلَيْكَ أَغَارُ [ر: ۳۴۸۶].

[۴۹۲۹] حَدَّثَنَا عَبْدَانُ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ عَنْ يُونُسَ عَنْ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي ابْنُ الْمُسَيَّبِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ بَيْنَمَا نَحْنُ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جُلُوسٌ فَقَالَ رَسُولُ

---

۱) فتح البارى: ۹/۴۰۵.
۲) فتح البارى: ۹/۴۰۵.
۳) فتح البارى: ۹/۴۰۶.

اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَا اَنَا نَائِمٌ رَاَيْتُنِي فِي الْجَنَّةِ فَاِذَا امْرَاَةٌ تَتَوَضَّأُ اِلٰى جَانِبِ قَصْرٍ فَقُلْتُ لِمَنْ هٰذَا قَالُوا هٰذَا لِعُمَرَ فَذَكَرْتُ غَيْرَتَكَ فَوَلَّيْتُ مُدْبِرًا فَبَكٰى عُمَرُ وَهُوَ فِي الْمَجْلِسِ ثُمَّ قَالَ اَوَعَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَغَارُ [ر:۳۰۷۰].

دا حديث په كتاب المناقب كښې دحضرت عمر فاروق رضی الله عنه په مناقبوكښې تير شويدې.

«فاذا امراة تتوضا» باندې بعضو حضراتو وئيلى دى چه دجنت ښځې به پاكې وى ، هغوى ته به داودس كولو ضرورت نه وى ، ددې وجې دا تصحيف دې اصل كښې «وضاء» يا «شوهاء» لفظ دې ، چه ددې معنى ښكلې ده يعنى هغه ځائې كښې په ښكلې ښځې وى. ليكن حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه د «تتوضاء» لفظ تصحيف نه دې بلكه صحيح دې ، باقى جنت كښې ددې ښځو اودس كول د نظافت دپاره نه دى وو بلكه په طور دعادت وو. (۱)

داودى ددې حديث نه استدلال كړې دې چه جنت كښې به حورې مونځ ادا كوى ، او اودس به كوى ، (۲)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائيلى دى چه جنت كښې دعبادت مكلف نه كيدونه دالازميږى نه چه هغه ځائې كښې بهاختيار او شوق سره عبادت نه كيږى. (۳)

۱۰۷=بَاب غَيْرَةِ النِّسَاءِ وَوَجْدِهِنَّ

«وجد» غصې ته وئيلې شى ، علامه انور شاه كشميرى رحمة الله عليه فرمائى چه :

«وجدهن: وله اربعة مصادر، وجدانا، ووجدا، وموجدا، ووجودا وباعتبار مصادر الاربعة تختلف معان والمناسب لترجمة المصنف وموجدتهن بدل وجدهن فان الوجد ترجمة» زړه را ډكيدل ، «وليس بمناسب ههنا» . (۴)

امام بخارى رحمه الله دا وئيل غواړى چه په ښځو كښې د غيرت ماده زياته وى او هغوى زر غصه كيږى ، لهذا ددوى دا قسم څه كيفيت مخكښې راشى نو دې هغوى لره معذوره اوګڼړلې شى.

امام بخارى رحمه الله ترجمه كښې څه تفصيل پيش نه كړو ځكه چه په دې سلسله كښې څه قاعده كليه نشته دې. احوال او اشخاص اعتبار سره په دې كښې اختلاف وى.

ښځې ته كه په سړى باندې غيرت او غصه رازى او ددې څه تهوس وجه او ثبوت وى لكه هغه ددې په زنا او ددې په حقوق زوجيت كښې كوتاهى كوى نو دا شان غيرت شرعى طور جائز دې، ليكن كه څه دليل او ثبوت نه وى نو صرف دظن او وهم په بنياد باندې ښځه دغيرت

---

۱) فتح البارى: ۹/۴۰۶).
۲) فتح البارى: ۹/۴۰۶) .
۳) فتح البارى: ۹/۴۰۶).
٤) فيض البارى: ٤/۳۰۷).

اظهار كوى نو شرعى طور دا ښه نه دى ،البته كه ښځې طرفته په دې كښې دحدنه تجاوز نه وى نو سړى ته پكار دى چه دا معذوره اوګڼړى. او صبر و تحمل نه كار اخلى.(۱)

[۴۹۳۰] حَدَّثَنَا عُبَيْدُ بْنُ اسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا ابُو اسَامَةَ عَنْ هِشَامٍ عَنْ ابِيهِ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ قَالَ لِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنِّي لَاعْلَمُ اذَا كُنْتِ عَنِّي رَاضِيَةً وَاذَا كُنْتِ عَلَيَّ غَضْبَى قَالَتْ فَقُلْتُ مِنْ اَيْنَ تَعْرِفُ ذٰلِكَ فَقَالَ اَمَّا اذَا كُنْتِ عَنِّي رَاضِيَةً فَانَّكِ تَقُولِينَ لَا وَرَبِّ مُحَمَّدٍ وَاذَا كُنْتِ عَلَيَّ غَضْبَى قُلْتِ لَا وَرَبِّ ابْرَاهِيمَ قَالَتْ قُلْتُ اَجَلْ وَاللّٰهِ يَا رَسُولَ اللّٰهِ مَا اَهْجُرُ الَّا اسْمَكَ [ر:۵۲۲۸].

حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائى چه حضرت نبى كريم ﷺ ماته اوفرمائيل چه كله ته څما نه خوشحاله يې يا خفه ئې نو ماته پته لږى. حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائى چه ما تپوس اوكړو چه هغه څنګه؟ نو حضرت نبى كريم ﷺ اوفرمائيل چه كله ته څما نه خوشحاله ئې نو ته په هغه وخت كښې دقسم په وخت «لا ورب محمد» وائې او كله ته خفه ئې نو «لاورب ابراهيم» وائې. حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائى چه ما اوئيل چه دا صحيح دى، ليكن په الله تعالى قسم يارسو الله ﷺ چه څه صرف ستاسو نوم پرېږدم (ليكن ستاسو ذات سره چه كوم څما دزړه تعلق دې هغه بهر حال برقرار وى).

داحديث په دې ځائې كښې امام بخارى رحمه الله په ړومبى ځل ذكر كړې دې ، او دحديث مناسبت ترجمة الباب نه ظاهر دې.

حضرت عائشه رضي الله عنها دخفګان په وخت كښې په ټولو نبيانو كښې دحضرت ابراهيم عليه السلام نوم اخلى او «لا ورب ابراهيم» وئيل څكه چه دحضرت ابراهيم عليه السلام په ټولو نبيانو كښې حضرت نبى كريم ﷺ سره زيات نزدې تعلق وو. داد حضرت عائشه رضي الله عنها پوهه او ذهانت نتيجه وه چه دخفګان په وخت كښې چه كله حضرت نبى كريم ﷺ دنوم نه عدول اختياروى نو دداسې نبى عليه السلام نوم به ئې ا خستلو چه حضرت نبى كريم ﷺ ته زيات نزدې وو. (۲)

ددې حديث متعلق نور بحثونه به انشاء الله تعالى په كتاب التوحيد كښې رازى. «اعان الله تعالى على الوصول الى ذالك بحوله وقوته».

[۴۹۳۱] حَدَّثَنِي اَحْمَدُ ابْنُ ابِي رَجَاءٍ حَدَّثَنَا النَّضْرُ عَنْ هِشَامٍ قَالَ اَخْبَرَنِي ابِي عَنْ عَائِشَةَ انَّهَا قَالَتْ مَا غِرْتُ عَلَى امْرَاَةٍ لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَمَا غِرْتُ عَلَى خَدِيجَةَ لِكَثْرَةِ ذِكْرِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ايَّاهَا وَثَنَائِهِ عَلَيْهَا وَقَدْ اُوحِيَ الَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنْ يُبَشِّرَهَا بِبَيْتٍ لَهَا فِي الْجَنَّةِ مِنْ قَصَبٍ [ر:۳۶۰۵].

حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائى چه ماته به څومره غيرت د حضرت خديجه رضي الله عنها په سلسله كښې

۱) فتح البارى: ۲۰۷/۹).
۲) فتح البارى: ۴۰۹/۹).

راتلو دومره به درسول الله ﷺ په بله بی بی باندې نه راتلو ، ځکه چه حضرت نبی کریم ﷺ به دهغې اکثر ذکر کولو ، اودهغې به ئې ډير تعريف کولو ، حضرت نبی کریم ﷺ طرفته وحی شوې وه چه حضرت نبی کریم ﷺ دې هغې ته په جنت کښې دموتی دمحل زيرې ورکړی.
«قصب» بانړس ته هم وائی اومرواريد تازه هم ، «زبرجد» تازه ته هم وائی ، چه قیمتی جواهر ورته وئيلې شی . مطلب دادې چه دقيمتی جواهراتو موتیانو نه ددوی دپاره جنت کښې يومحل تيار شوې دې ، (۱) داحديث ابواب المناقب کښې «باب تزوج النبی خديجه ﷺ» کښې تير شوې دې ، او هم په هغه ځائې کښې په دې باندې بحث شوې دې.

۱۰۸= بَابُ ذَبِّ الرَّجُلِ عَنْ ابْنَتِهِ فِي الْغَيْرَةِ وَالْإِنْصَافِ

ددې ترجمې مقصد دادې چه که دچا لور دبل چا په نکاح کښې ده او دده لور سره څه داسې واقعه راپيښه شی چه دده دغيرت سبب جوړ شی نو پلار دخپلې لور دطرفنه دفاع کولې شی ، داشان دفاع په عصبيت جاهليت کښې داخله نه ده.

[۴۹۳۲] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ عَنْ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ إِنَّ بَنِي هِشَامِ بْنِ الْمُغِيرَةِ اسْتَأْذَنُوا فِي أَنْ يُنْكِحُوا ابْنَتَهُمْ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ فَلَا آذَنُ ثُمَّ لَا آذَنُ ثُمَّ لَا آذَنُ إِلَّا أَنْ يُرِيدَ ابْنُ أَبِي طَالِبٍ أَنْ يُطَلِّقَ ابْنَتِي وَيَنْكِحَ ابْنَتَهُمْ فَإِنَّمَا هِيَ بَضْعَةٌ مِنِّي يُرِيبُنِي مَا أَرَابَهَا وَيُؤْذِينِي مَا آذَاهَا هَكَذَا قَالَ [ر: ۸۸۴].

علامه ذهبی رحمه الله فرمائی چه داهغه حديث دې چه ددې تخريج آئمه خمسه ،بخاری ، مسلم، ابوداود ، ترمذی اونسائی هم ديو استاد قتيبه نه کړې دې. دا حديث په ابواب المناقب کښې تير شوې دې. (۲)

.په روايت کښې دی چه حضرت نبی کریم ﷺ په منبر باندې خطبه کښې اوفرمائيل چه بنو هاشم بن مغيره(چه دابوجهل دخاندان خلق وو) ځما نه اجازت غوښتلې دې چه هغه دخپلې لور(دعکرمه خور) نکاح علی بن ابی طالب سره اوکړی ليکن څه به هغوی ته هيڅ کله هم اجازت ورنکړم، که علی بن ابی طالب ځما لور ته طلاق ورکړی اوهغې سره نکاح کول غواړی نو اودې کړی.

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه دا د حضرت نبی کریم ﷺ په خصائص کښې شمارلې شی چه دحضرت نبی کریم ﷺ لور سره بل څوك په نکاح کښې جمع کول جائز نه دی.

اوداهم کيديشی چه دا دحضرت نبی کریم ﷺ په خصائص کښې شمير نه کړې شی ، بلکه اووئيلې شی چه دا دحضرت نبی عليه السلام د حضرت فاطمه رضی الله عنها د خاطره او زړه دپاره وئيلی وو.

اودا دحضرت فاطمه رضی الله عنها په خصوصيت باندې هم محمول کولې شو چه هغې بله ښځه په

---

۱) عمدة القاری: ۲۰/۲۱۱).
۲) صحیح البخاری: ابواب المناقب ، باب ذکر اصهار النبی ﷺ رقم الحديث: ۳۷۲۹).

نکاح کښې جمع کول جائز نه وو. (۱) والله اعلم.

قوله: یریبنی ماارابها: دا باب افعال نه دې ، ((ارابنی))هغه وخت کښې وائی چه کله یو سړی نه ته بدی او تکلیف محسوس کړې ، علامه ابن اثیر النهایة فرمائی چه:

((یریبنی ما یریبها ای یسؤنی ما یسؤ ها ویزعجنی مایزعجها یقال رابنی هذا الامر وارابنی اذا رایت منه ماتکرهه))(۲)

۱۰۹=بَاب یَقِلُّ الرِّجَالُ وَیَکْثُرُ النِّسَاءُ

وَقَالَ اَبُو مُوسَی عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَتَرَی الرَّجُلَ الْوَاحِدَ یَتْبَعُهُ اَرْبَعُونَ امْرَاَةً یَلُذْنَ بِهِ مِنْ قِلَّةِ الرِّجَالِ وَکَثْرَةِ النِّسَاءِ[ر:۱۳۴۸]

[۴۹۳۳] حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ الْحَوْضِیُّ حَدَّثَنَا هِشَامٌ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ اَنَسٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ لَاُحَدِّثَنَّکُمْ حَدِیثًا سَمِعْتُهُ مِنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لَا یُحَدِّثُکُمْ بِهِ اَحَدٌ غَیْرِی سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَقُولُ اِنَّ مِنْ اَشْرَاطِ السَّاعَةِ اَنْ یُرْفَعَ الْعِلْمُ وَیَکْثُرَ الْجَهْلُ وَیَکْثُرَ الزِّنَا وَیَکْثُرَ شُرْبُ الْخَمْرِ وَیَقِلَّ الرِّجَالُ وَیَکْثُرَ النِّسَاءُ حَتَّی یَکُونَ لِخَمْسِینَ امْرَاَةً الْقَیِّمُ الْوَاحِدُ[ر:۸۰]

مطلب دادې چه دقیامت په علاماتوکښې یوداهم دې چه دسړو قلت به شی او د ښځو کثرت . حضرت ابو موسی اشعری رضی الله عنه دحضرت نبی علیه السلام نه نقل کوی چه تاسو به یو سړی پسې څلویښت ښځې اوګورئی چه دده په پناه کښې به وی.

دحضرت ابوموسی اشعری رضی الله عنه داتعلیق امام بخاری رحمه الله په کتاب الزکاة کښې موصولاً نقل کړې دې. (۳)

مخکښې دحضرت انس رضی الله عنه په روایت کښې دپنځوسو ښځو ذکر دې ، لیکن په دواړو کښې هیڅ تضاد نشته دې ځکه چه عدد اقل د اکثر نفی نه کوی ، همداشان هم کیدیشی چه عدد خاص مراد نه وی بلکه کثرت مراد وی. (۴)

د حضرت انس رضی الله عنه دا روایت په کتاب العلم کښې تیر شوې دې او په هغه ځائې کښې په دې باندې بحث شوې دې . (۵)

---

۱) مذکوره تفصیل دپاره اوګورئ فتح الباری: ۴۱۱/۹).
۲) النهایه لابن الاثیر : ۲۸۷/۲ ، باب الراء مع الیاء).
۳) اوګورئ صحیح بخاری ،کتاب الزکاة باب الصدقات قبل الرد رقم الحدیث : ۱۴۱۴ ، ص : ۲۸۰).
٤) فتح الباری: ۴۱۳/۹).
۵) اوګورئ صحیح البخاری: ،کتاب العلم ، باب رفع العلم وظهور الجهل : ۱۸/۱).

۱۱- باب لَا يَخْلُوَنَّ رَجُلٌ بِامْرَأَةٍ إِلَّا ذُو مَحْرَمٍ وَالدُّخُولُ عَلَى الْمُغِيبَةِ

دحضرت امام بخاری رحمه الله مقصددادې چه ښځې سره دمحرم نه علاوه بل چاسره خلوت اختیارولو اجازت نشته دې ، داشانکه څوك ښځه مغیبه ده یعنیددې خاونددې نه غائب دې چرته بهر تلې دې نو دې سره هم سوا دمحرم نهدبل چا د راتللو اجازت نشته دې.

«دخول»لره مجرور هم لوستلې شی.په دې صورت کښې ددې عطف«امراة» باندې به وی یعنی«لا يخلون رجل بالدخول على المغيبة»او دې لره مرفوع هم وئیلې شی ، په دې صورت کښې دا مبتداء مخذوف دپاره به خبر جوړ شی. «ای وكذا الدخول على الغيبة» (۱)

«مغيبة»باب افعال نه صیغه داسم فاعل مونث صیغه ده. هغه ښځې ته وئیلې شی چه دهغې خاوند هغې سره نه وی ، چرته به تلې وی.

[۴۹۳۴] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا لَيْثٌ عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ عَنْ أَبِي الْخَيْرِ عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِيَّاكُمْ وَالدُّخُولَ عَلَى النِّسَاءِ فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَفَرَأَيْتَ الْحَمْوَ قَالَ الْحَمْوُ الْمَوْتُ

حضرت رسول کریم ﷺفرمائیلی دی چهښځو لره دراتلو نه پرهیز کوئی ،یو انصاری سړی تپوس اوکړو یارسول الله ﷺد لیور متعلق څه حکم دې؟ حضرت نبی کریم ﷺاوفرمائیل چهلیور خومرګ دې.

حافظ ابن حجر رحمه الله لیکلی دی چهددې تپوس کوونکی انصاری نوم معلوم نشو (۲)

«الحمو»دخاوند دطرفنه په رشته دارو باندې ددې لفظ اطلاق کیږی لکه لیور، دلیور خونې ،دلیور تره وغیره، علامهقسطلانی لیکی چه :

«الحمو الموت: ای لقاؤه مثل لقاء الموت اذا لخلوة به تودی الی هلاك الدين ان وقعت المعصية اوالنفس ان وجب الرجم اوهلاك المراة بفراق زوجها اذا حملته الغيرة على المراة على طلاقها»(۳)

او ا مام نووی رحمه الله په شرح مسلم کښې لیکی چه :

«الحموالمراد به هنا اقارب الزوج غير ابائه وابنائه لانهم محارم للزوجة ، ويجوز لهم الخلوة به ولا يوصفون بالموت وانما المراد الاخ وابن الاخ ونحوهما ممن يحل لها تزويجه لولم تكن متزوجة وقدجرت العادة بالتساهل فيه فيخلوا الاخ بامراة اخيه فشبهة بالموت وهو اولى بالمنع من الاجنبى لشربه اكثر من الاجنبى والفتنة به امكن من الوصول الى المراة والخلوبها من غيرنكيرعليه بخلاف الاجنبى» (۴)

---

۱) عمده القاری: ۲۰/۲۱۳).
۲) فتح الباری: ۹/٤١٤).
۳) ارشاد السازی: ۱۱/۵۱۹).
٤) شرح مسلم لنوی ، کتاب السلام ،باب الخلوه بالاجنبه : ۲/۲۱۶).

[۴۹۳۵] حَدَّثَنَا عَلِیُّ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنَا سُفْیَانُ حَدَّثَنَا عَمْرٌو عَنْ اَبِی مَعْبَدٍ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا یَخْلُوَنَّ رَجُلٌ بِامْرَاَةٍ اِلَّا مَعَ ذِی مَحْرَمٍ فَقَامَ رَجُلٌ فَقَالَ یَارَسُوْلَ اللّٰهِ امْرَاَتِی خَرَجَتْ حَاجَّةً وَاکْتُتِبْتُ فِی غَزْوَةِ کَذَا وَکَذَا قَالَ ارْجِعْ فَحُجَّ مَعَ امْرَاَتِكَ [ر: ۱۷۶۳]

داحدیث په کتاب الحج کښې تیر شوې دې او په هغه ځائې کښې په دې باندې بحث شوې دې .(۱)

۱۱۱=بَاب مَا یَجُوْزُ أَنْ یَخْلُوَ الرَّجُلُ بِالْمَرْأَةِ عِنْدَ النَّاسِ

[۴۹۳۶] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ هِشَامٍ قَالَ سَمِعْتُ اَنَسَ بْنَ مَالِكٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ جَاءَتِ امْرَاَةٌ مِنَ الْاَنْصَارِ اِلَی النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَخَلَا بِهَا فَقَالَ وَاللّٰهِ اِنَّکُنَّ لَاَحَبُّ النَّاسِ اِلَیَّ [ر: ۳۵۷۵].

د امام بخاری رحمه الله مقصد دادې چه دخلقو په موجودګۍ کښې که یو ښځې سره په خلوت کښې څه خبره اوکړې شي نوپه دې کښې څه باك نشته دې ، لکه هغه څه د مسئلې تپوس کوی ، او دعامو خلقوپه مخکښې نه شي وئیلې شرمیږی نویو طرفته دې شي اودې سره دې خبره اوکړی. روایت باب فضائل انصار کښې تیر شوې دې ، (۲) .

۱۱۲=بَاب مَا یُنْهَی مِنْ دُخُوْلِ الْمُتَشَبِّهِیْنَ بِالنِّسَاءِ عَلَی الْمَرْأَةِ

[۴۹۳۷] حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ اَبِی شَیْبَةَ حَدَّثَنَا عَبْدَةُ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ اَبِیهِ عَنْ زَیْنَبَ بِنْتِ اُمِّ سَلَمَةَ عَنْ اُمِّ سَلَمَةَ اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ کَانَ عِنْدَهَا وَفِی الْبَیْتِ مُخَنَّثٌ فَقَالَ الْمُخَنَّثُ لِاَخِی اُمِّ سَلَمَةَ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ اَبِی اُمَیَّةَ اِنْ فَتَحَ اللّٰهُ لَکُمُ الطَّائِفَ غَدًا اَدُلُّكَ عَلَی بِنْتِ غَیْلَانَ فَاِنَّهَا تُقْبِلُ بِاَرْبَعٍ وَتُدْبِرُ بِثَمَانٍ فَقَالَ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لَا یَدْخُلَنَّ هٰذَا عَلَیْکُنَّ [ر: ۴۰۶۹]

داسې سړې چه د هغه حرکات او چال دښځو پشان وی نو یو اجنبی ښځې ته دده تګ جائز نه دې ، ممنوع دې .

«مخنث» (دنون په فتحه او کسره سره» هغه سړی ته وائی چه په کلام او حرکات او سکنات کښې دښځو سره مشابهت لری .که دچا خلقت داسې دې چه نوبیا قابل ملامت نه دې ، لیکن که په تکلف سره داسې مشابهت اختیار کړی نو درست نه دې ، قابل مذمت دې ،(۳)

دحدیث باب تشریح په کتاب المغازی کښې تیره شوې ده .(۴)

---

۱) اوګورئ صحیح البخاری، کتاب الحج ، باب حج نساء).
۲) صحیح البخاری ، ابواب المناقب ، باب قول النبی ﷺ للانصار انتم احب الناس الی رقم ا لحدیث : ۳۷۸۶ ص ، ۷۷۵).
۳) فتح الباری: ۴۱۸/۹).
٤) اوګورئ کشف الباری کتاب المغازی ، باب غزوه الطائف : ۵۴۶).

۱۱۳= باب نظر المرأة إلى الحبش ونحوهم من غير ريبة

[۴۹۳۸] حَدَّثَنَا اسْحَاقُ بْنُ ابْرَاهِيمَ الْحَنْظَلِيُّ عَنْ عِيسَى عَنْ الْأَوْزَاعِيِّ عَنْ الزُّهْرِيِّ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتُرُنِي بِرِدَائِهِ وَأَنَا أَنْظُرُ إِلَى الْحَبَشَةِ يَلْعَبُونَ فِي الْمَسْجِدِ حَتَّى أَكُونَ أَنَا الَّتِي أَسْأَمُ فَاقْدُرُوا قَدْرَ الْجَارِيَةِ الْحَدِيثَةِ السِّنِّ الْحَرِيصَةِ عَلَى اللَّهْوِ [ر: ۴۴۳]

د امام بخاری رحمة الله علیه مقصد دادې چه بغیر دشهوت نه که ښځه سړو ته ګوری نو داجائز دی. چه په کوم خائې کښې دفتنې اندیښنه نه وی. هم دا آئمه ثلاثه مذهب دې اود امام شافعی رحمه الله یو قول ددې مطابق هم دې ، ددوی دوئم قول د عدم جواز دې. امام نووی رحمه الله دې دوئم قول ته ترجیح ورکوی. (۱)

ددوی استدلال دحضرت ام سلمه رضی الله عنها روایت نه دې چه هغه فرمائی چه:

((کنت انا و میمونة جالستین عند رسو الله صلی الله علیه وسلم فاستاذن علیه ابن ام مکتوم رضی الله عنه فقال احتجبا منه فقلنا یا رسول الله صلی الله علیه وسلم الیس اعمی لایبصرنا ولایعرفنا فقال افعمیاوان انتما الستما تبصرانه)) (۲)

جمهور علماء روایت باب نه استدلال کوی ، امام نووی رحمه الله روایت باب متعلق فرمائی چه دا د نزول حجاب نه مخکښې واقعه ده. یا دهغه وخت چه کله حضرت عائشه رضی الله عنها نابالغ وه.

لیکن داامام نووی رحمه الله پورتنۍ دواړه خبرې صحیح نه دی. ځکه دروایت باب بعض طرق کښې دی چه مذکوره واقعه ، وفد حبشه دراتلونه پس ده. او دوفدحبشه آمد په اوومه(۷) هجرئی کښې شوې وه. په هغه وخت کښې دحضرت عائشه رضی الله عنها عمر مبارک ۱۶ کاله وو. نوداشان د حجاب حکم هم نازل شوې وو(۳)

دحضرت ام سلمه رضی الله عنها د ذکر شوی روایت جواب جمهور دا ورکوی چه مذکوره حکم په تقوی باندې محمول دې .د فتوی بیان نه دې ، یا دا حکم دحضرت عبدالله ابن مکتوم سره خاص دې . ځکه چه هغه نابیناوو ،او دنابینا دبدن نه بعضې داسې حصې د ښکاره کیدو امکان وی چه دښځې هغې ته کتل په هرحال کښې ناجائز وی. نوحافظ ابن حجر رحمه الله لیکی:

((والجمع بین الحدیثین ان یکون فی قصة الحدیث الذی ذکرہ نبهان شئ یمنع النساء من رؤیته لکون ابن ام مکتوم کان اعمی فلعله کان منه شئ ینکشف ولا یشعربه ویقوی الجواز استمرار العمل علی جواز خروج النساء الی المساجد والاسواق والاسفار متنقبات لئلا یراهن الرجال ولم یومر الرجال قط بالانتقاب لئلا یراهم النساء فدل علی تغایر الحکم بین الطائفتین)) (۴)

---

۱) اوګورئ الابواب والتراجم : ۷۶/۲ ، وفتح الباری: ۴۲۱/۹ ، وارشاد الساری: ۵۲۳/۱۱).

۲) الابواب والتراجم: ۷۶/۲).

۳) فتح الباری: ۴۲۱/۹).

٤) فتح الباری: ۴۲۱/۹).

بهر حال حضرت امام بخاری رحمه الله دا باب قائم کړې او ددې لاندې ئې دحضرت عائشه رضي الله عنها حدیث نقل کړو او دا ونیل غواړی چه ښځه اجنبی سړی ته کتلې شی .نو شیخ الحدیث حضرت مولانا زکریا رحمة الله علیه لیکی چه :

«والجملة ان الغرض من الترجمة بیان جواز نظر المراة الی الرجل الاجنبی وهو کذالك عند الائمة الثلاثة کما یظهر من النقول المتقدمة ویخالف مذهب الشافعیة علی قول»(۱)

البته دا جواز په هغه وخت کښې دې چه کله دفتنې اندیښنه نه وی.نو ترجمة الباب کښې د «من غیر ریبة» نه دې طرفته اشاره ده.

۱۱۴=بَابُ خُرُوجِ النِّسَاءِ لِحَوَائِجِهِنَّ

[۴۹۳۹] حَدَّثَنَا فَرْوَةُ بْنُ اَبِی الْمَغْرَاءِ حَدَّثَنَا عَلِیُّ بْنُ مُسْهِرٍ عَنْ هِشَامٍ عَنْ اَبِیهِ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ خَرَجَتْ سَوْدَةُ بِنْتُ زَمْعَةَ لَیْلًا فَرَآهَا عُمَرُ فَعَرَفَهَا فَقَالَ اِنَّكِ وَاللّٰهِ یَا سَوْدَةُ مَا تَخْفَیْنَ عَلَیْنَا فَرَجَعَتْ اِلَی النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَذَکَرَتْ ذٰلِكَ لَهُ وَهُوَ فِی حُجْرَتِی یَتَعَشّٰی وَاِنَّ فِی یَدِهٖ لَعَرْقًا فَاَنْزَلَ اللّٰهُ عَلَیْهِ فَرُفِعَ عَنْهُ وَهُوَ یَقُوْلُ قَدْ اَذِنَ اللّٰهُ لَکُنَّ اَنْ تَخْرُجْنَ لِحَوَائِجِکُنَّ

دامام بخاری رحمه الله مقصد دادې چه دنزول حجاب نه پس هم ښځې به په پرده کښې دکور نه بهر دخپلو ضرورتونو دپاره تلې.

روایت کښې دی چه حضرت سوده بنت زمعه (دپردې دحکم نه پس) دشپې په وخت کښې بهر اووتله نو حضرت عمر فاروق رضي الله عنه هغه اوپیژندله (په کتاب التفسیر کښې روایت دې چه «وکانت امراة جسیمة لا تخفی علی من یعرفها» او کتاب الوضوء په روایت کښې دی چه «وکانت امراة طویلة» الفاظ دی. اوهغې ته ئې اووئیل چه ائې سوده ته زمونږ نه نشې پټیدلې ، نو هغه حضرت نبی اکرم صلی الله علیه وسلم لره راغله او ددې خبرې ذکر ئې اوکړو . حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائی چه حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په هغه وخت کښې ځما په حجره کښې وو او د شپې روټئ ئې خوړله.او ددوی په لاس کښې هډوکئ وو . حضرت نبی کریم صلی الله علیه وسلم باندې وحی راغله. هرکله چه دنزول وحی کیفیت ددوی نه ختم شو نو حضرت رسول کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه «قد اذن الله لکن ان تخرجن لحوائجکن» دخپلو ضرورتو دپاره دوتلو الله جل جلاله تاسو ته اجازت درکړې دې.

«عرق» (دعین په فتحه اودراء په سکون سره) غوښې والا هډوکې . «فرفع عنه ،، ماکان فیه من الشدة بسبب نزول الوحی»(۲)

داحدیث په کتاب التفسیر کښې تیر شوې دې او په کتاب الوضوء کښې هم تیر شوې دې.(۳)

---

۱) الابواب والترجم:۲/۷۶).

۲) ارشاد الساری: ۱۱/۵۲۴).

۳) صحیح البخاری . کتاب الوضوء باب خروج النساء الی البراز رقم الحدیث : ۱۴۶ . وکتاب التفسیر. باب قوله (لا تدخلوا بیوت النبی .... رقم الحدیث: ۴۷۹۵).

۱۱۵=بَاب اسْتِئْذَانِ الْمَرْأَةِ زَوْجَهَا فِي الْخُرُوجِ إِلَى الْمَسْجِدِ وَغَيْرِهِ

[۴۹۴۰] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا الزُّهْرِيُّ عَنْ سَالِمٍ عَنْ أَبِيهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اسْتَأْذَنَتْ امْرَأَةُ أَحَدِكُمْ إِلَى الْمَسْجِدِ فَلَا يَمْنَعْهَا [ر:۸۲۴]

امام بخاری رحمه الله مسئله خو دا خودل غواړی که بنځه دکور نه بهر تلل غواړی نو هغه د خاوند اجازت اخستلو نه پس تللی شی .لیکن ددی مسئلې دپاره دوی سره څه روایت نشته دی. نو ددې وجې هغوی د خروج الی المسجد والا حدیث نه استدلال اوکړو. کنی د خروج الی المسجد مسئله پخپله په ابواب الصلوة کښې تیره شوې ده.(۱) اوس هغه په دې ځائې کښې ذکر کوی اوغیر مسجد دپاره دزوج اجازت سره دخروج جواز خودل غواړی چه کله خروج الی المسجد دپاره ښځې نه دخاوند داجازت دضرورت وی نو غیر مسجد طرفته خروج دپاره په طریقه اولی به دا اجازت اخلی.

۱۱۶=بَاب مَا يَحِلُّ مِنْ الدُّخُولِ وَالنَّظَرِ إِلَى النِّسَاءِ فِي الرَّضَاعِ

[۴۹۴۱] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّهَا قَالَتْ جَاءَ عَمِّي مِنْ الرَّضَاعَةِ فَاسْتَأْذَنَ عَلَيَّ فَأَبَيْتُ أَنْ آذَنَ لَهُ حَتَّى أَسْأَلَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَاءَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلْتُهُ عَنْ ذَلِكَ فَقَالَ إِنَّهُ عَمُّكِ فَأْذَنِي لَهُ قَالَتْ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّمَا أَرْضَعَتْنِي الْمَرْأَةُ وَلَمْ يُرْضِعْنِي الرَّجُلُ قَالَتْ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّهُ عَمُّكِ فَلْيَلِجْ عَلَيْكِ قَالَتْ عَائِشَةُ وَذَلِكَ بَعْدَ أَنْ ضُرِبَ عَلَيْنَا الْحِجَابُ قَالَتْ عَائِشَةُ يَحْرُمُ مِنْ الرَّضَاعَةِ مَا يَحْرُمُ مِنْ الْوِلَادَةِ [ر:۲۵۰۱].

ددې باب نه دامام بخاری رحمه الله مقصد دادې چه درضاعت رشته قائمیدو نه پس دسرې دپاره دپردې حکم باقی پاتې نشی اوچه کومو ښځو سره درضاعت رشته قائم ده هغوې له سرې تلې شی.

۱۱۷=بَاب لَا تُبَاشِرُ الْمَرْأَةُ الْمَرْأَةَ فَتَنْعَتَهَا لِزَوْجِهَا

[۴۹۴۲] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ أَبِي وَائِلٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُبَاشِرُ الْمَرْأَةُ الْمَرْأَةَ فَتَنْعَتَهَا لِزَوْجِهَا كَأَنَّهُ يَنْظُرُ إِلَيْهَا

[۴۹۴۳] حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصِ بْنِ غِيَاثٍ حَدَّثَنَا أَبِي حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ قَالَ حَدَّثَنِي شَقِيقٌ قَالَ سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُبَاشِرُ الْمَرْأَةُ الْمَرْأَةَ فَتَنْعَتَهَا لِزَوْجِهَا كَأَنَّهُ يَنْظُرُ إِلَيْهَا

---

۱) اوګورئ صحیح البخاری کتاب الصلاة خروج النساء الی المساجد باللیل والغلس رقم الحدیث : ۸۲۴)

مطلب دادې چه د یو ښځې دپاره دا جائز نه دی چه هغه یو ښځې سره په یو خادر کښې څملی او بیا دهغې دبدن کوائف دخپل خاوندپه مخکښې بیان کړی . ظاهر دی چه په دې کښې دافتنې اندیښنه ده. ممکن دی چه دخاوند طبیعت دخپلې ښځې په ځائې هغه ښځې طرفته مائل کوی ، چه دهغې په وجه هغه خپلې ښځې ته طلاق ورکړی یا هغه ښځې سره په ګناه کښې اخته شی نوددې وجې دا جائز نه دی چه هغه دبلې ښځې اوصاف خپل خاوند ته بیان کړی.

۱۱۸=بَاب قَوْلِ الرَّجُلِ لَأَطُوفَنَّ اللَّيْلَةَ عَلَى نِسَائِي

په دې ترجمه کښې دامام بخاری رحمه الله مقصد دادې که یو سړې چاته دا اووائی چه نن شپه به څه خپلې ښځې لره ورځم نوداجائزدی ، او په مخکښې باب کښې چه دکوم نعت اووصف ممانعت دې دا په هغې کښې داخل نه دی ، حضرت شیخ الحدیث مولانازکریا رحمه الله لیکی:

((والظاهر عندی فی غرض الترجمة ان المصنف اشار بذالك الی ان القول المذكور واظهار ذالك الامر لايدخل فی النعت المنهی عند المذكور فیما سبق فتامل))(۱)

[۴۹۴۴] حَدَّثَنِي مَحْمُودٌ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنْ ابْنِ طَاوُسٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ عَلَيْهِمَا السَّلَام لَأَطُوفَنَّ اللَّيْلَةَ بِمِائَةِ امْرَأَةٍ تَلِدُ كُلُّ امْرَأَةٍ غُلَامًا يُقَاتِلُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَقَالَ لَهُ الْمَلَكُ قُلْ إِنْ شَاءَ اللَّهُ فَلَمْ يَقُلْ وَنَسِيَ فَأَطَافَ بِهِنَّ وَلَمْ تَلِدْ مِنْهُنَّ إِلَّا امْرَأَةٌ نِصْفَ إِنْسَانٍ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ قَالَ إِنْ شَاءَ اللَّهُ لَمْ يَحْنَثْ وَكَانَ أَرْجَى لِحَاجَتِهِ[ر:۳۲۴۲]،

دا روایت په کتاب الانبیاء کښې تیر شوې دې. ددې په آخر کښې دی چه((لوقال ان شاء الله لم يحنث وكان ارجى لحاجته)) یعنی که حضرت سلیمان علیه السلام ان شاء الله وئیلې وې نو دده قسم به نه ماتیدو او دحاجت پوره کیدوامیدبه زیات وو.

۱۱۹=بَاب لَا يَطْرُقْ أَهْلَهُ لَيْلًا إِذَا أَطَالَ الْغَيْبَةَ مَخَافَةَ أَنْ يُخَوِّنَهُمْ أَوْ يَلْتَمِسَ عَثَرَاتِهِمْ

[۴۹۴۵] حَدَّثَنَا آدَمُ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ حَدَّثَنَا مُحَارِبُ بْنُ دِثَارٍ قَالَ سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَكْرَهُ أَنْ يَأْتِيَ الرَّجُلُ أَهْلَهُ طُرُوقًا

[۴۹۴۶] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُقَاتِلٍ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا عَاصِمُ بْنُ سُلَيْمَانَ عَنْ الشَّعْبِيِّ أَنَّهُ سَمِعَ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَطَالَ أَحَدُكُمْ الْغَيْبَةَ فَلَا يَطْرُقْ أَهْلَهُ لَيْلًا[ر:۱۷۰۷]

---

۱) الابواب والتراجم:۲/۷۶).

د امام بخاری رحمة الله علیه مقصد دادې چه که طویل سفر وی او د کور نه سړې کافی لرې وی نو ده له پکار دی چه اچانك کور ته نه راځي. داسې نه چه یوناګوار شکل اووینی او بیا د ټول عمر دپاره ئې ژوند تریخ وی.

د «اطال الغیبة» قید په دې وجه دې که ورځ دووځ دپاره تلې وی نو په داسې صورت کښې اچانك کور ته راتللو کښې هیڅ حرج نشته دې ، ځکه چه په داسې صورت کښې کور والو ته معلوم وی چه سفر د دووځ ورځودې.

امام بخاری رحمه الله مخکښې په ترجمة الباب کښې قید لګولې دې «مخافة ان یخونهم اویلتمس عثراتهم» د باب په روایت کښې دا قید نشته دې ، بیا ترجمه څنګه ثابت شوه؟ .

ددې جواب دادې چه دا ترجمه د ترجمه شارحه نه ده یعنی وئیل دادی چه په حدیث کښې ممانعت په دې وجه دې چه کوم امام بخاری رحمه الله په ترجمه الباب کښې ظاهر کړې دې. یعنی په حدیث کښې دوارد حکم علت امام په ترجمه کښې بیان فرمائیلې دې . دا ترجمه په علت الحکم فی الحدیث په بیان کښې او تشریح باندې مشتمل ده.

هم داشان د بخاری په روایت کښې اګرچه قید نشته لیکن د صحیح مسلم په روایت کښې دا اضافه ده چه «نهی رسول الله ﷺ ان یطرق الرجل اهله لیلا یتخونهم اویطلب عثراتهم» (۱) په دې روایت کښې د مذکوره اضافې وجې سره امام په ترجمة الباب کښې «مخافة ان یخونهم اویلتمس عثراتهم» الفاظ زیات کړی دی. «یخونهم» باب تفعیل نه دې . «خون ، ، تخوینا» څوك خیانت طرفته منسوب کول ،په دې کښې ضمیر فاعل ، رجل او ضمیر مفعول اهل طرفته راجع دې . مطلب دادې چه سړې دې دشپې په وخت کښې خپل کور والو ته نه راځی ددې اندیښنې په وجه چه هسې نه هغه دا خیانت طرفته منسوب کړی یا ددې غلطۍ تلاش نه کړی ، یعنی ممکن دی چه کور والا په ښه حالت کښې نه وی او دشپې اچانك راتلونکې او ګوری او دې له خائن اوګنړی. په دې وجه دشپې په وخت کښې کور ته اچانك راتلل نه دی پکار ، علامه قسطلانی رحمه الله لیکی :

«والعلة فی ذالك انه ربما یجدا اهله علی غیر اهبة من التنظیف والتزین المطلوب من المراة فیکون ذالك سببا للنفرة بینهما اویجدها علی غیر حالة مرضیة والستر مطلوب بالشرع» (۲)

ابن التین فرمائی چه «یخونهن» او «عشراتهن» نون سره پکار دی ځکه چه مرجع جمع مونث دې . لیکن روایت کښې «یخونهم» میم سره دې ، ددې تاویل دا کیدیشی چه اهل نه صرف ښځه مراد نه ده بلکه اولادهم په دې کښې شامل دې ، ددې وجې تغلیبًا د جمع مذکر ضمیر استعمال کړې شو. (۳)

---

۱) اوګورئ صحیح مسلم کتاب الاماره باب کراهه الطروق وهو الدخول لیلا: رقم الحدیث: ۱۹۲۸).
۲) ارشاد الساری: ۵۲۹/۱۱).
۳) فتح الباری: ۴۲۵/۹ ، وارشادالساری: ۵۲۹/۱۱).

۱۲۰ = بَاب طَلَبِ الْوَلَدِ

[۴۹۴۷] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ عَنْ هُشَيْمٍ عَنْ سَيَّارٍ عَنْ الشَّعْبِيِّ عَنْ جَابِرٍ قَالَ كُنْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةٍ فَلَمَّا قَفَلْنَا تَعَجَّلْتُ عَلَى بَعِيرٍ قَطُوفٍ فَلَحِقَنِي رَاكِبٌ مِنْ خَلْفِي فَالْتَفَتُّ فَإِذَا أَنَا بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا يُعْجِلُكَ قُلْتُ إِنِّي حَدِيثُ عَهْدٍ بِعُرْسٍ قَالَ فَبِكْرًا تَزَوَّجْتَ أَمْ ثَيِّبًا قُلْتُ بَلْ ثَيِّبًا قَالَ فَهَلَّا جَارِيَةً تُلَاعِبُهَا وَتُلَاعِبُكَ قَالَ فَلَمَّا قَدِمْنَا ذَهَبْنَا لِنَدْخُلَ فَقَالَ أَمْهِلُوا حَتَّى تَدْخُلُوا لَيْلًا أَيْ عِشَاءً لِكَيْ تَمْتَشِطَ الشَّعِثَةُ وَتَسْتَحِدَّ الْمُغِيبَةُ قَالَ وَحَدَّثَنِي الثِّقَةُ أَنَّهُ قَالَ فِي هَذَا الْحَدِيثِ الْكَيْسَ الْكَيْسَ يَا جَابِرُ يَعْنِي الْوَلَدَ

[۴۹۴۸] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ سَيَّارٍ عَنْ الشَّعْبِيِّ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا دَخَلْتَ لَيْلًا فَلَا تَدْخُلْ عَلَى أَهْلِكَ حَتَّى تَسْتَحِدَّ الْمُغِيبَةُ وَتَمْتَشِطَ الشَّعِثَةُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَعَلَيْكَ بِالْكَيْسِ الْكَيْسِ تَابَعَهُ عُبَيْدُ اللَّهِ عَنْ وَهْبٍ عَنْ جَابِرٍ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْكَيْسِ [ر: ۴۴۳]

ددې ترجمې نه د امام بخاري رحمة الله علیه مقصد دادې چه نکاح کولو سره دسړی مقصد محض لذت حاصلول او خواهش پوره کول نه وی ، بلکه طلب ولد ددې پیش نظر دې.

په حدیث کښې دی چه حضرت نبی کریم ﷺ حضرت جابر رضی الله عنه ته «الکیس الکیس» اوفرمائیل ، امام بخاری رحمه الله ددې تفسیر په ولدسره اوکړو. اواشاره ئې دې طرفته اوکړه چه دوطی مقصد طلب ولدوی، ابن حبان د «الکیس» تفسیر په جماع سره کړې دې. (۱)

د «الکیس» اصل معنی عقل او دانشمندی ده ، ددې وجې بعضو حضراتو په حدیث کښې واقع ددې لفظ تشریح داسې کړې ده چه کوره ته دسفر نه کور ته روان ئې ، هسې نه چه غلبه شهوت کښې تاته څه خیال نه وی او ستا ښځه دحیض په حالت کښې وی او بیاهم ته جماع اوکړې ، داسې نه دی کول پکار ،عقل او دانشمندی اختیارول پکاردی. (۲)

قوله: قَالَ وَحَدَّثَنِي الثِّقَةُ أَنَّهُ قَالَ فِي هَذَا الْحَدِيثِ الْكَيْسَ الْكَيْسَ: قائل هشیم دې چه د امام بخاری رحمه الله داستاذ مسدد شیخ دې ، هغوی اووئیل چه یو ثقه راوی په دې حدیث کښې د «الکیس الکیس یاجابر» الفاظو اضافه کړې ده. حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائیلی دی چه دا ثقه راوی دې غالبًا دا شعبه دې ، ځکه چه امام بخاری رحمه الله ددې نه پس

---

۱) فتح الباري: ۹/۴۲۸).
۲) مجمع بحار الانوار: ۴/۴۵۳).

د شعبه روایت نقل کړي دي .او په هغې کښې دا الفاظ دی. (۱)

قوله: تابعه عبیدالله عن وهب عن جابر عن النبی ﷺ فی الکیس: یعنی عبیدالله بن عمرو د شعبي متابعت لفظ الکیس کښې کړې دې ، هغوی هم عن وهب عن جابر په طریق مذکوره حدیث کښې دا الفاظ نقل کړی دی.

عبیدالله بن عمرو مذکوره تعلیق په کتاب البیوع کښې امام بخاری رحمه الله موصولاً نقل کړې دې. (۲)

۱۲۱=بَاب تَسْتَحِدُّ الْمُغِيبَةُ وَتَمْتَشِطُ الشَّعِثَةُ

[۴۹۴۹] حَدَّثَنِي يَعْقُوبُ بْنُ ابْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ اخْبَرَنَا سَيَّارٌ عَنْ الشَّعْبِيِّ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةٍ فَلَمَّا قَفَلْنَا كُنَّا قَرِيبًا مِنْ الْمَدِينَةِ تَعَجَّلْتُ عَلَى بَعِيرٍ لِي قَطُوفٍ فَلَحِقَنِي رَاكِبٌ مِنْ خَلْفِي فَنَخَسَ بَعِيرِي بِعَنَزَةٍ كَانَتْ مَعَهُ فَسَارَ بَعِيرِي كَأَحْسَنِ مَا انْتَ رَاءٍ مِنْ الْابِلِ فَالْتَفَتُّ فَاذَا انَا بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ انِّي حَدِيثُ عَهْدٍ بِعُرْسٍ قَالَ اتَزَوَّجْتَ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ ابِكْرًا امْ ثَيِّبًا قَالَ قُلْتُ بَلْ ثَيِّبًا قَالَ فَهَلَّا بِكْرًا تُلَاعِبُهَا وَتُلَاعِبُكَ قَالَ فَلَمَّا قَدِمْنَا ذَهَبْنَا لِنَدْخُلَ فَقَالَ امْهِلُوا حَتَّى تَدْخُلُوا لَيْلًا اي عِشَاءً لِكَيْ تَمْتَشِطَ الشَّعِثَةُ وَتَسْتَحِدَّ الْمُغِيبَةُ

د امام بخاری رحمه الله مقصد د دې ترجمة الباب نه دا دې چه د کومې ښځې خاوند په سفر تلې وی او د کور نه غائب وی ، هر کله چه د هغه د راتلو وخت نزدې شی نو ښځې ته پکار دی چه خپل بدن پاك کړی او ږمنځ وغیره او کړی ،زیرناف وینسته واخلی.

په دې خائې کښې داستحداد لفظ استعمال کړې شوې دې،چه د دې معنی استره استعمالول دد .لیکن نن سبا ډیر نور څیزونه رائج دی، ښځې هغه هم استعمالولې شی.

۱۲۲=بَاب وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ إِلَى قَوْلِهِ لَمْ يَظْهَرُوا عَلَى عَوْرَاتِ النِّسَاءِ (النور:۳۱)،

[۴۹۵۰] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ ابِي حَازِمٍ قَالَ اخْتَلَفَ النَّاسُ بِايِّ شَيْءٍ دُووِيَ جُرْحُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ احُدٍ فَسَالُوا سَهْلَ بْنَ سَعْدٍ السَّاعِدِيَّ وَكَانَ مِنْ اخِرِ مَنْ بَقِيَ مِنْ اصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْمَدِينَةِ فَقَالَ وَمَا بَقِيَ مِنْ النَّاسِ احَدٌ اعْلَمُ بِهِ مِنِّي كَانَتْ فَاطِمَةُ عَلَيْهَا السَّلَام تَغْسِلُ الدَّمَ عَنْ وَجْهِهِ وَعَلِيٌّ يَاتِي بِالْمَاءِ عَلَى تُرْسِهِ فَاخِذَ حَصِيرٌ فَحُرِّقَ فَحُشِيَ بِهِ جُرْحُهُ [ر:۲۴۰].

---

۱) فتح الباری: ۴۲۷/۹).

۲) صحیح البخاری کتاب البیوع باب شراء الدواب والحمیر رقم الحدیث ۲۰۹۷ . ص . ۴۱۴).

دامام بخاری رحمه الله مقصد دادي چه ښځه خپل مواقع زینت خپل خاوند ، خپل پلار او خپل خوني وغیره په مخکښي ظاهرولي شي.
دروایت نه ظاهر دی چه حضرت فاطمه رضي الله عنها خپل لاسونه او مخ دحضرت نبي عليه السلام په مخکښي ظاهر کړل چه ددي نه معلوم شو چه مواضع زینت ښځه دخپل پلار په مخکښي ظاهرولي شي.

قوله: وکان من اخر من بقي من اصحاب النبي ﷺ بالمدینة: مدینه منوره کښي حضرت سهل بن سعد ساعدي رضي الله عنه دټولونه اخري صحابي وو. لیکن داحدیث دراوی کیدو په اعتبار سره آخری صحابی دي. ګنی حضرت سهل دژوند د آخری ایام کښي محمود بن الربیع رضي الله عنه او محمود بن لبید رضي الله عنه مدینه منوره کښي وو. اودا دواړه صحابیان ووز لیکن دحضرت نبی کریم ﷺ نه ددوی سماع ثابته نه ده.(۱)

«ترس» ډهال ته ونیلي شي یعني حضرت علي رضي الله عنه په ډهال کښي اوبه راوړي اواچولي ئې ، دیو پوزکی ټکړه ئې واخستله اووي سیزله ، او دحضرت نبی کریم ﷺ زخم ددي نه ډك شو.

«حشی» بروزن «دعی» دا باب نصر نه دماضی مجهول صیغه ده.«حشا(ن)حشوا ... الوسادة بالقطن»

تکیه ډکول مالوچ «فحشی به جرحه» یعني ددي پوزکی په ذریعه دحضرت نبی کریم ﷺ زخم ډك شو.

فائده : امام بخاری رحمه الله په ترجمة الباب کښي چه کوم آیت کریمه ذکر فرمائیلي دي ، علامه شبیر احمد عثماني دهغې په تفسیر کښي لیکي:
" سنګار په عرف کښي خارجي او کسب کښي آرائش ته ونیلي شي . لکه لباس یا کالي وغیره سره چه حاصل شي ، داحقر په نیزد " زینت " ترجمه د " سنګار " په ځائې" زیبائش " کړي شوې وي نو زیات جامع او مناسب به وي . دزیبائش لفظ هر قسم خلقي او کسبي زینت ته شامل دي . که هغه دجسم پیدائشي ساخت سره متعلق وي یا پوشاك وغیره خارجي تپس تپاس سره ، خلاصه او مطلب دادي چه دښځي دپاره د هیڅ قسمه خلقي یا کسبي زیبائش اظهار بجزد محرم چه دهغې ذکر مخکښي رازي د هیچا په مخکښي جائز نه ده ، خو چه د څومره زیبائش ظهور ضروري دي او ددي ظهور بسبب عدم قدرت یا ضرورت نه شي منع کیدي . ددي دمجبورئي په وجه یا بضرورت دهغې پرده نه کولو کښي هیڅ باك نشته دي(بشرطیکه دفتني ویره نه وي)دحدیث او آثار نه ثابتیږي مخ اوتلی په«الا ما ظهر منها» کښي داخل دي. ځکه چه ډیر دیني او دنیاوي ضرورتونه ددي په کهلاؤ ساتلو کښي مجبور وي. که ددي دپټولو مطلقاً حکم اوکړي شي نو دښځو دپاره به په کاروبار کښي سخته پریشاني او مشکل پیداشي . مخکښي فقهاء کرامو«قدمین»هم په دي اندامونو باندي قیاس کړي دي.اوکله چه اعضا مستثنی شو نو ددي متعلقات لکه ګوتمه ، چهلا ، یا نکریزي یا کاجل وغیره هم په دي استثنا کښي داخلیدل به منلي کیږي.

---

۱) فتح الباری: ۹/۴۲۹).

لیکن دادي واضح وي چه په«الا ما ظهر منها» کښې صرف ښځو لره په ضرورت کښې ددې اندامونو د کهلاؤ ساتلو اجازت دې ،نامحرم سړي ته اجازت نشته دې چه هغوی دې سترګې جنګوی اوددوی داندامونو نظاره دې کوی ، شاند ددې وجې ددې اجازت نه مخکښې دغض بصر حکم موموناتو ته اوونیلو. معلوم شو چه یو طرف دچا د اندامونو دښکاره کولو اجازت دې لره مستلزم نه دې چه بل ته دې کتل هم جائز وي. آخر سړي چه دکومو دپاره د پردې حکم نشته دې، په دې پورتنی آیت کښې دې ښځو ته دکتلو نه منع کړې شوی دی ، او داشان داکتل پکار دی چه په دې آیتونو کښې محض د ستر مسئله بیان شوې ده ، یعنی ددې نه قطع نظر کولو سره چه په خپل کور کښې دننه وي یا بهر . ښځه دچا په مخکښې دبدن کومه حصه دچا په مخکښې ښکاره کول جائزدی،باقی مسئله دحجاب یعنی شریعت دې لره په کومو حالاتو کښې دکور نه بهر وتل او دسیروسیاحت اجازت ورکړې دې په دې ځائې کښې مذکور نه دی. اوموږ چه دفتنې نه کیدو کوم شرط زیات کړې دې نوهغه دنورو دلائلو او قواعدشرعیه نه ماخوذدی چه په ادنی مراجعت نصوص اوتپوس کولو سره معلومیدیشی،(۱)

۱۲۳=بَاب وَالَّذِينَ لَمْ يَبْلُغُوا الْحُلُمَ مِنْكُمْ

[۴۹۵۱] حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَابِسٍ سَمِعْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا سَأَلَهُ رَجُلٌ شَهِدْتَ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعِيدَ أَضْحًى أَوْ فِطْرًا قَالَ نَعَمْ وَلَوْلَا مَكَانِي مِنْهُ مَا شَهِدْتُهُ يَعْنِي مِنْ صِغَرِهِ قَالَ خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَلَّى ثُمَّ خَطَبَ وَلَمْ يَذْكُرْ أَذَانًا وَلَا إِقَامَةً ثُمَّ أَتَى النِّسَاءَ فَوَعَظَهُنَّ وَذَكَّرَهُنَّ وَأَمَرَهُنَّ بِالصَّدَقَةِ فَرَأَيْتُهُنَّ يَهْوِينَ إِلَى آذَانِهِنَّ وَحُلُوقِهِنَّ يَدْفَعْنَ إِلَى بِلَالٍ ثُمَّ ارْتَفَعَ هُوَ وَبِلَالٌ إِلَى بَيْتِهِ [ر:۹۸].

دامام بخاری رحمه الله مقصد ددې ترجمة الباب نه دادې چه نابالغه بچې چه تراوسه پورې جنسی مسائلو نه ناواقف وی، هغوی ښځو لره راتلې شی ، حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه هم داسې بچې وو . ددې وجې هغه به هم راتلو.

۱۲۴=بَاب طَعْنِ قول الرجل لصاحبه هل اعرستم الليلة الرَّجُلِ ابْنَتَهُ فِي الْخَاصِرَةِ عِنْدَ الْعِتَابِ

[۴۹۵۲] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْقَاسِمِ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ عَاتَبَنِي أَبُو بَكْرٍ وَجَعَلَ يَطْعُنُنِي بِيَدِهِ فِي خَاصِرَتِي فَلَا يَمْنَعُنِي مِنْ التَّحَرُّكِ إِلَّا مَكَانُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَأْسُهُ عَلَى فَخِذِي [ر:۳۲۷].

امام بخاری رحمه الله دوه مسئلې بیان کړې دی ، یو دا چه آیا سړې بل سړی ته داوئیلې شی چه تا دشپې خپلې بی بی سره هم بستری کړې ده . او دوئمه مسئله داده چه دعتاب په موقع

---

۱) تفسیر عثمانی ، تفسیرسوره النور: ۲۷۱ ، ۲۷۲).

باندې پلار خپله لوره اوهلې شى ، ترکومې چه د دوئمې مسئلې تعلق دې هغه خو د حضرت عائشه رضی الله عنها او حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه دقصې نه صفا صفا معلوميږى ليکن رومبۍ مسئله دحديث باب نه ثابته نه ده.

① علامه کرمانی رحمه الله فرمائى چه په ترجمة الباب کښې مذکوره رومبۍ مسئله دصحيح بخارى په اکثرو نسخو کښې نشته دې ، (۱) نو د فتح البارى په نسخه کښې صرف «باب طعن الرجل ابنته فى الخاصرة عند العتاب» الفاظ دى. حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه په ترجمة الباب کښې درومبۍ مسئلې اضافه ابن بطال په خپله شرح کښې کړې ده. (۲) که مذکوره مسئله واقعى ترجمة الباب کښې وى بيا داشکال هيڅ خبره نشته دې ،البته که دت مسئله وىنو بيا ترجمة الباب او حديث په مينځ کښې ربط سلسله کښې مختلف توجيهات بيان کړې شوى دى.

② نوابن منير مالکى رحمه الله فرمائى چه د پلار دپاره داممنوع دى چه هغه دخپلې لور په خاصره باندې لاس کيږدى. ليکن په حالت دعتاب کښې ددې اجازت دې. لکه څنګه چه حديث باب کښې دحضرت صديق اکبر رضی الله عنه حالت عتاب کښې داسې اوکړل ، که د محبت خبرې کيږى نو په داسې مخصوص حالت کښې تپوس کولې شى نو هغه ليکى :

«والجامع بينهما ان کلا الامرين مستثنى فى بعض الحالات فامساك الرجل بخاصرة لمثل وابنته ممنوع الا مثل هذه الحاجة وسؤال الرجل صاحبه عما فعله فى كسر بيته ممنوع وقدور دالنهى الافى هذه الحالة المقتضية للبسط»(۳)

③ مولانا رشيداحمد ګنګوهى رحمه الله فرمائى چه ترجمة الباب کښې مذکوره مسئله امام بخارى رحمه الله دحديث نه قياس په ذريعه ثابت کړى . په حديث کښې دى چه حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه حضرت نبى کريم صلی الله علیه وسلم لره راغلو نو حضرت نبى کريم صلی الله علیه وسلم په دې حالت کښې هغه دراتلونه منع کړو نو ددې نه داعراس متعلق دسوال جواز بطريق اولى معلوميږى څکه چه دسوال درجه خو بهر حال دې حالت کښې کم دې نو حضرت فرمائى چه :

«اراد اثبات ذالك قياسا على ماذكر فى الحديث ان ابابكر دخل عليهما والنبى صلی الله علیه وسلم واضع راسه على فخذها فلما لم يمنعه ذالك علم جواز سواله عن الاعراس بالطريق الاولى لانه ادون من ذالك وايسر» (۴)

---

۱) اوګورئ شرح البخارى للکرمانى: ۱۷۶/۱۹).
۲) فتح البارى: ۴۳۱/۹).
۳) المتوارى على تراجم ابواب البخارى لابن منير : ۲۹۱ ، ومغنى الکسر الجانب والناحية).
٤) لامع الدارى : ۳۳۸/۹، ۳۳۹ ، وفى تقرير المکى وراسه على فخذى فيه الترجمه لانه لما جاز ان يرى احد هذه الحاله بين المراوزوجته جاز ان يقول له هل اعرستم الليله (وانظر تعليقات لامع الدارى: ۳۳۸/۹).

④حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه امام بخاری رحمه الله په ترجمة الباب کښې مذکوره مسئله ذکر کوی او مخکښې بیاض پریږدی چه په هغه ځائې کښې ددې مسئلې داثبات متعلق څه حدیث لکه ابوطلحه اوام سلیم قصه مشهوره ده چه دده دبچی انتقال شوې وو . ام سلیم حضرت ابوطلحه رضی الله عنه ته اونه وئیل ، دواړو شپه تیره کړه،بیا سحر ئې هغه ته اووئیل. حضرت ابوطلحه رضی الله عنه حضرت نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ته دامسئله بیان کړه نو حضرت نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه((هل اعرستم الليلة)) نوهغوی اووئیل چه نعم.

دا قصه امام مخکښې په کتاب العقیقه کښې ذکر کړې ده . نو امام بخاری رحمه الله دمذکوره مسئله دثبوت دپاره داشان څه حدیث ذکر غوښتل لیکن هغه بیاض باقی شو او هغه ته دحدیث ذکر کولو موقع ملاؤ نشو ، نو حضرت حافظ ابن حجر رحمه الله لیکی:

((والذی یظهرلی ان المصنف اخلی بیاضها لیکتب فیه الحدیث الذی اشار الیه وهوهل اعرستم اوشیئا مایدل علیه وقد وقع ذالك فی قصه ابی طلحة وام سلیم عند موت ولدیهما وکتمتها ذالك عنه حتی تعشی وبات معها فاخبر بذالك ابوطحلة النبی صلی الله علیه وسلم فقال اعرستم اللیلة قال نعم ، وسیاتی بهذا اللفظ فی اوائل کتاب العقیقة))(١)

⑤حضرت شیخ الحدیث مولانا زکریا رحمه الله فرمائی چه امام بخاری رحمه الله دتشحیذ اذهان دپاره حدیث نه دې ذکر کړې چه قاری پخپله غور او تدبر اوکړی ددې وجې ئې مناسب حدیث راوښکلو. نو هغه لیکی چه :

((والاوجه عند هذا العبد النصف وهو الراجح عندی فی امثال هذه المواضع ان الامام البخاری رحمه الله کثیرا مایخلی الابواب عن الروایات تشحیذ لاذهان اشارة الی انه یثبت بحدیث وارد فی صحیحه فینبغی ان یجهد فی التتبع والتدبر یسهر اللیالی)) (٢)

---

١) فتح الباری: ٤٣١/٩).

٢) الابواب والترجم:٧٧/٢).

کتاب الطلاق

کتاب الطلاق :الأحادیث (۴۹۵۳-۵۰۳۵)

د صحیح بخاری کتاب الطلاق په دری پنخوس بابونو باندې مشتمل دی مونږ چه کومه نسخه د متن په طوراختیار کړې ده په دې کښې (۵۱) بابونه دی په اصل کښې په بعضې نسخو کښې چرته لفظ د ،،باب،، شته اوپه بعضې کښې نشته مثلاً دا مونږ چه کومه نسخه اختیار کړې ده په دې کښې اولنې باب د«اذا طلقت الحائض»نه شروع کیږی اودحافظ اوعینی په نسخو کښې اولنې باب د قرآن کریم په آیت«یا ایها النبی اذا طلقتم..»باندې قائم شوې دې حال دا چه زمونږ په نسخې کښې په دې باندې باب نشته په کتاب الطلاق کښې امام بخاری یو سل اتلس احادیث ذکر کړی دی په دې کښې (۲۶) احادیث تعلیقاً یا متابعتاً مذکور دی دوه نوی احادیث مکرر دی او شپږ ویشت (۲۶) احادیث په کتاپ الطلاق کښې په اول ځل راغلی دی په دې کښې یوولس دأحادیثو نه سوا د باقی احادیثو تخریج امام مسلم هم کړې دې په کتاب الطلاق کښې د صحابوﷺ او سلفو نه نوی (۹۰) آثار امام بخاری ذکر کړی دی

په کتاب الطلاق کښې امام بخاری د لعان، ظهاراوعدت مسائل هم بیان کړی دی دعدت مسائل امام د ۳۵ بابونونه پس ذکر کړی دی په بعضې نسخو کښې هلته د مستقل ،،کتاب العدة،، عنوان هم شته ـ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

۶۸ = كتاب الطلاق

بَاب قَوْلُ اللّٰهِ تَعَالٰى: يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ فَطَلِّقُوهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ وَأَحْصُوا الْعِدَّةَ [الطلاق: ۱] أَحْصَيْنَاهُ [يٰس: ۱۲]

حَفِظْنَاهُ وَعَدَدْنَاهُ وَطَلَاقُ السُّنَّةِ أَنْ يُطَلِّقَهَا طَاهِرًا مِنْ غَيْرِ جِمَاعٍ وَيُشْهِدَ شَاهِدَيْنِ

د طلاق معنى لغةً رفع القيد ده او اصطلاح شرع كښې دنكاح دقيد رفع اليد ته طلاق وئيلې شى. (۱)

مخكښې امام بخارى رحمه الله آيت ذكر كړې دې ﴿يَآأَيُّهَا النَّبِيُّ إِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ﴾ ((طَلَّقْتُمْ)) دجمعې صيغه يا خو تعظيما استعمال كړې شوې ده يا امت هم په دې كښې شامل دې، تقدير عبارت دې.((ياايها النبى وامته اذ طلقتم.....))اودا هم احتمال دې چه((قل)) محذوف اومنلې شى تقدير به عبارت به وى،((ياايها النبى قل لامتك اذا طلقتم))(۲)

((لعدتهن))كښې لام وخت دپاره دې اودعدت نه عدت الرجال مراد دې،دعدت دوه قسمونه دى . ① يو عدت الرجال او ② دويم عدت النساء . عدت الرجال ته عدت الطلاق هم وئيلې شى . مراد ددې نه هغه زمانه ده چه په هغې كښې سړى ته دطلاق وركولو دپاره مامور كړې شوې وى.او هغه د طهر زمانه ده. دعدت النساء نه هغه زمانه مراد ده چه په هغې كښې ښځه عدت تيروى.هغه موقت الحيض دې،(۳)

د((واحصوا العدة)) مفهوم متعين كولو دپاره((احصيناه))چه قران پاك كښې په بل ځائې كښې راغلى دى تفسير دې،دا تفسير دابو عبيده دې. (۴)

دې نه پس مصنف د طلاق دسنت تعريف كړې دې چه سړې په داسې طهر كښې دې طلاق وركړى چه په هغې كښې هغه جماع نه وى كړې اوبيا ددې عدت تيركړى.دحضرات ائمه ثلاثه مسلك هم دادې. (۵)

او حضرات حنفيه په دې ځائې كښې د طلاق سنت دوه صورتونه دى . يو صورت خو دا دې چه داسې طهر كښې دې طلاق وركړې شى چه په هغې كښې ئې جماع نه وى كړې،اودې نه پس دعدت تيرولو نه پس ښځه دې پريښودې شى او هيڅ طلاق دې ورنكړې شى.

او دويم صورت دادې چه سړې دې په يو طهر كښې يو طلاق وركړى، بيا په دويم طهر كښې

---

۱) فتح ا لبارى: ۴۳۳/۹، عمده القارى: ۲۲۵/۲۰).

۲) فتح البارى: ۴۳۴/۹،عمده القارى: ۲۲۵/۲۰).

۳) فيض البارى: ۳۰۹/۴).

۴) فتح البار: ۴۳۴/۹).

۵) المغنى لابن قدامه كتاب الطلاق : ۲۷۸/۷).

دونم طلاق ورکړې شي. او په دریم طهر کښې دې دریم طلاق ورکړې شي.
رو مبی صورت ته احناف طلاق احسن وائی او دویم صورت ته طلاق حسن وائي او ددوی په نیز طلاق احسن او طلاق حسن دواړه طلاق سنتوکښې شامل دی. سفیان ثوری رحمه الله نه هم دا نقل دی. (۱)
مګر دجهمورو په نیز طلاق سنت صرف رومبې صورت دې،امام بخاری رحمه الله د جمهورو تائید کړې دې.

[۴۹۵۳] حَدَّثَنَا اسْمَاعِيلُ بْنُ عَبْدِاللّٰهِ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ نَافِعٍ عَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا انَّهُ طَلَّقَ امْرَاتَهُ وَهِيَ حَائِضٌ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذَلِكَ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرْهُ فَلْيُرَاجِعْهَا ثُمَّ لِيُمْسِكْهَا حَتَّى تَطْهُرَ ثُمَّ تَحِيضَ ثُمَّ تَطْهُرَ ثُمَّ انْ شَاءَ امْسَكَ بَعْدُ وَانْ شَاءَ طَلَّقَ قَبْلَ انْ يَمَسَّ فَتِلْكَ الْعِدَّةُ الَّتِي امَرَ اللّٰهُ انْ تُطَلَّقَ لَهَا النِّسَاءُ[ر:۴۶۲۵].

حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما فرمائی چه هغوی خپلې ښځې ته دحضرت نبی کریم ﷺ په زمانه کښې د حیض په حالت کښې طلاق ورکړو. حضرت عمرفاروق رضی الله عنه ددې متعلق د حضرت نبی اکرم ﷺ نه تپوس اوکړونو حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه ده ته درجوع کولو حکم . بیا دې دا روخان سره اوساتی، تر دې پورې چه پاکه شی،بیا ورته حیض راشی، بیا پاکه شی ،بیا که هغه غواړی نو دې نه پس دې خپل ځان سره اوساتی او که غواړی نو دصحبت کولونه مخکښې دې طلاق ورکړی. هم دا هغه عدت دې چه دهغې دپاره ښځوته طلاق ورکولو حکم الله ﷻ ورکړې دې.

قوله: طلق امراته وهی حائض: ددې ښځې نوم علامه نووی رحمه الله په تهذیب کښې آمنه بنت غفار لیکلې دې،بعضو امنه بنت عمار اود مسند احمدپه روایت کښې نوار راغلې دې.حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه په دې روایتونوکښې تطبیق کیدیشی چه آمنه ئې نوم اونوار ئې لقب وی.(۲)

قوله: مره فلیراجعها: که چا دحیض په حالت کښې خپلې بی بی ته طلاق ورکړو نو د طلاق نه درجوع متعلق دائمه اختلاف دې . د امام مالك رحمه الله او امام داود ظاهری رحمه الله په نیز رجوع کول واجب دی. امام احمد رحمه الله نه هم دا روایت دې او دحنفیه په نیز هم‌دا مختار دی.(۳) ځکه چه حدیث باب کښې«فلیراجعها»دامر صیغه ده. چه په وجوب باندې دلالت کوی. لهذا رجوع کول واجب دی.((عملا بحقیقة الامرورفعا للمعصیة بقدر الممکن))

---

۱) اوګورئ مختصر اختلاف العلماء للطحاوی : ۳۷۵/۲ . طلاق السنه رقم المسئله: ۸۷۹والهدایه کتاب الطلاق : ۳۵٤/۲).
۲) فتح الباری: ٤۳۵/۹.وتلخیص ا لحبیر: ۲۰۶/۲).
۳) اوګورئ المغنی لابن قدامه : ۱۰۰/۷.البحر الرائق: ۲٤۲/۳ . ورد المختار: ۲۲۳/۳).

دامام شافعي رحمه الله په نيزرجوع كول مستحب دى اودحنابله مختار مسلك هم دادي. (۱)

قوله: ثُمَّ لِيُمْسِكْهَا حَتَّى تَطْهُرَ ثُمَّ تَحِيضَ ثُمَّ تَطْهُرَ: مطلب دادې چه په كوم حيض ئې طلاق وركړې وو.دې سره دې متصل طهر كښې طلاق نه وركوى بلكه دې نه پس حيض چه كله راشى او بيابل طهر راشى نو هم په دې دويم طهر كښې طلاق وركولې شى.

چه په كوم حيض ئې طلاق وركړې دې دې سره متصل طهر كښې طلاق دشافعيه او حنفيه د دواړو داصح قول مطابق جائز نه دې بلكه دراتلونكى طهر انتظار دې اوشى او دا انتظار واجب دې.

دامام احمد رحمه الله او امام مالك په نيز دا جائز دى. البته كه طهر ثانى پورې طلاق موخر كړې شى نو مستحب دى،دامام ابوحنيفه رحمه الله يوروايت هم ددې مطابق دې.

حافظ ابن تيميه رحمه الله ((المحرر))كښې قول اول اختيار كړې دې،طهر اول كښې طلاق وركولو ته هغه بدعت وئيلى دى. (۲)

امام بخارى رحمة الله عليه په دې مسئله كښې څه تفصيل نه دې بيان فرمائيلې .

حديث باب دحنفيه او شوافع مستدل دې.

ا=بَاب إِذَا طُلِّقَتِ الْحَائِضُ يُعْتَدُّ بِذَلِكَ الطَّلَاقِ

يعنى كه ښځې ته په حيض كښې طلاق وركړې شو نو ددې طلاق اعتبار به كولې شى ،امام بخارى رحمه الله واضحه فيصله كړې ده چه دجمهور او ائمه اربعه مسلك دادې چه په حيض كښې طلاق وركول حرام دى،ليكن طلاق به واقع كيږى. (۳)

حافظ ابن تيميه رحمه الله، علامه ابن قيم رحمه الله، علامه ابن حزم رحمه الله،ابراهيم بن اسماعيل بن عليه رحمه الله اودبعضو روافضو مذهب دادې چه په حيض كښې دطلاق اعتبار نشته دې،طلاق به واقع كيږى نه . (۴)

داحضرات دابو داود رحمه الله ددې روايت نه استدلال كوى چه كوم هغوى د((ابوالزبيرعن ابن عمر))په طريق نقل كړې دې .((طلق عبدالله بن عمر امراته وهى حائض على عهد رسول الله ﷺ فسأل عمر رسول الله ﷺ فقال ان عبدالله بن عمر طلق امراته وهى حائض قال عبدالله فردها على ولم يرها شيئا))(۵)

ددې حديث په آخر كښې دى چه((ولم يرها شيئا))د دې نه استدلال كوى او داحضرات فرمائى چه په حيض كښې طلاق معتبر نه دې.

---

۱) المغنى لابن قدامه: ۱۰۰/۷. وتكمله فتح الملهم : ۱۳۵/۱).

۲) اوګورئ فتح البارى: ۴۳۸/۹،والبحر الرائق : ۲۴۲/۳ . والمغنى: ۱۰۱/۷).

۳) اوګورئ بدائع الصنائع،فصل واما حكم طلاق البدعه : ۹۶/۳،المجموعه شرح المهذب العلاق فى الحيض يحتسب: ۷۸/۱۶).

٤) فيض البارى: ٤/،والمحلى لابن حزم لا يحل ان يطلق امراته فى حيتها : ۶۱/۱۰،وزاد المعاد،حكم رسول الله ﷺ فى تحريم طلاق الحائض : ۲۲۱/۵).

۵) سنن ابى داود تفريع ابواب الطلاق باب فى طلاق السنه :۲۵۲/۲، رقم: ۵۸۱۲).

جمهور ددې استدلال مختلف جوابونه ورکوی.

① رومبې جواب دادې چه د((ولم یرها شیئا))اضافه د ابوالزبیر تفرد دې،امام ابوداود رحمه الله فرمائی که د ابوالزبیر نه علاوه دا الفاظ بل چا نه روایت شوی نه دی. (۱)
ابن عبدالبر دا الفاظ منکر گنړلی دی. (۲)

② اوکه دا الفاظ درست او صحیح اومنلې شی نو حافظ ابن‌عبدالبر فرمائی چه ددې مطلب به دا وی چه((لم یرها شیئا مستقیما لکونها لم تقع علی السنة))یعنی دحیض په ورخو کښې حضرت نبی کریم ﷺ د طلاق ورکولو اقدام لره صحیح اونه گنړلو. علامه خطابی رحمه الله او امام شافعی رحمه الله هم ددې الفاظو دمنلو په صورت کښې داشان مطلب بیان کړې دې. (۳)

③ حضرت مولانا خلیل احمد سهارنپوری رحمه الله فرمائی چه د((لم یرها))ضمیر د((رجعة))طرفته هم واپس کیدیشی((ای لم یرالرجعة شیئا ممنوعا))یعنی طلاق نه رجوع کول حضرت نبی کریم ﷺ ممنوع اونه گنړل.(۴)

دجمهورو استدلال په دې ځائې کښې دآخری روایت نه دې،په هغې کښې حضرت عبدالله بن حضرت عمر فاروق رضي الله عنه فرمائی چه((حسبت علی بتطلیة))په دې کښې تصریح ده چه هغوی دحیض په زمانه کښې چه کوم‌طلاق ورکړې وو هغه معتبر اوگنړلې شو.

[۴۹۵۴] حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَنَسِ بْنِ سِيرِينَ قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ عُمَرَ قَالَ طَلَّقَ ابْنُ عُمَرَ امْرَأَتَهُ وَهِيَ حَائِضٌ فَذَكَرَ عُمَرُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لِيُرَاجِعْهَا قُلْتُ تُحْتَسَبُ قَالَ فَمَهْ
وَعَنْ قَتَادَةَ عَنْ يُونُسَ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ مُرْهُ فَلْيُرَاجِعْهَا قُلْتُ تُحْتَسَبُ قَالَ أَرَأَيْتَ إِنْ عَجَزَ وَاسْتَحْمَقَ حَدَّثَنَا أَبُو مَعْمَرٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ حَدَّثَنَا أَيُّوبُ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ حُسِبَتْ عَلَيَّ بِتَطْلِيقَةٍ [ر:۴۶۲۵].

د((فمه))باره کښې دوه احتماله دی.

① یو دا چه ما استفهامیه دې او((ه))وقف دپاره ده،((ای فما یکون ان لم تحتسب))یعنی هغه به طلاق ولې شمار نه وی؟ .(۵)

② اودویم احتمال دادې چه((ههٔ))اصلیه وی او((مه))لره کلمه زجر اومنلې شی،((ای کف عن

---

۱) سنن ابو داود تفریع ابواب الطلاق : ۶۵۲/۲،رقم : ۵۸۱۲).
۲) فتح الباری: ۴۴۳/۹).
۳) فتح الباری: ۴۴۳/۹).
۴) بذل المجهود: ۶۱/۳).
۵) فتح الباری: ۴۴۱/۹،وقال ابن عبدالبر : قول ابن عمر : فمه،معناه فای شئ یکون اذالم یعتدبها انکار القول السائل ایعتدبها فکانه قال وهل من ذالک بد).

هذا الكلام فانه لابد من وقوع الطلاق بذالك» (١)

قوله: وَعَنْ قَتَادَةَ عَنْ يُونُسَ بْنِ جُبَيْرٍ: ددې عطف سند اول كښې «عن انس بن سيرين» باندې دې او دا موصول دې (٢)

قوله: أَرَأَيْتَ إِنْ عَجَزَ وَاسْتَحْمَقَ: په دې جمله كښې درې مطلبونه بيان شوى دى.

① يو دا كه هغه (ابن عمر رضي الله عنهما په صحيح طريقه باندې د طلاق وركولو نه) عاجز شو او هغه (دحيض په حالت كښې طلاق وركړو) دحماقت ارتكاب ئې اوكړو نو آيا طلاق به واقع نه وى او آيا ددې اعتبار به كولې نه شى؟ ظاهر دې چه كولې به شى.

② او دويم مطلب دادې كه هغه ښځې طرفته د رجوع كولو نه عاجزه شوې وې او حضرت نبى كريم ﷺ د حكم تعميل ئې نه وې كړې نو دحماقت ارتكاب به ئې كړې وې نو آيا طلاق به وى نه واقع شوې، طلاق خو به واقع شوې وې. (٣)

مذكوره دواړو صورتونو كښې «إِنْ عَجَزَ وَاسْتَحْمَقَ» شرط دې او جزاء محذوف ده، «الايقع الطلاق»

③ علامه كرمانى رحمه الله فرمائى چه دا هم احتمال دې كه «ان» له نافيه اومنلې شى، «اى لم يعجز ابن عمر ولا استحمق لانه ليس بطفل ولا مجنون» يعنى ابن عمر رضي الله عنهما نه يو عاجزه سړې دې او نه هغه په حماقت كښې داسې اوكړل څكه چه هغه څه بچې يا مجنون خو نه دې. (۴)

٢= بَابُ مَنْ طَلَّقَ وَهَلْ يُوَاجِهُ الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ بِالطَّلَاقِ

مذكوره ترجمة الباب په دوه جزونو باندې مشتمل دې، ړومبې جز «من طلق» دا جز ابن بطال حذف كړې دې څكه چه دهغه په نيز ددې هيڅ معنى نشته دې. (۵)

امام ابن حجر رحمه الله فرمائى چه ددې نه دامام بخارى رحمه الله مقصد د طلاق شرعى جواز خودل دى. امام ابوداود رحمه الله يو بل حديث روايت كړې دې «أبغض الحلال الى الله الطلاق» ليكن دا روايت هغه صورت باندې محمول دې چه كله طلاق بغير د څه سبب نه وركړې شى. (۶)

علامه عينى رحمه الله فرمائى چه «من طلق» كلام غير مفيد دې. خو كه تقديرى عبارت ويستې شى نو په دې صورت كښې به دا كلام مفيد كيدې شى. او تقديرى عبارت داشان ويستې شى چه «هذا باب فى بيان حكم من طلق امراته هل يباح له ذالك» يعنى آيا طلاق وركول

١) فتح البارى: ٩/٤٤١).
٢) فتح البارى: ٩/٤٤٠).
٣) مذكوره دواړو مطلبونو دپاره اوګورئ فتح البارى: ٩/٤٤١).
٤) شرح الكرمانى: ١٩/١٧٩).
٥) فتح البارى: ٩/٤٤٦، وعمده القارى: ٢٠/٢٢٩).
۶) فتح البارى: ٩/٤٤۶).

مباح دي ؟امام بخاري رحمه الله جواب نه دې ذكركړې،جواب محذوف دې،«نعم»يعنى آو جى طلاق وركول جائز دى.(۱)

د ترجمة الباب دونم جز دې«هل يواجه الرجل امراته باطلاق»يعنى آيا ښځې ته باالمشافه طلاق وركولې شى؟ په دې خائې كښې هم جواب ذكر نه دې فرمائيلې«اعتمادا على ما يفهم من حديث الباب»او په دې خائې كښې هم هغه جواب دې يعنى«نعم».

امام بخاري رحمه الله دې جزسره لفظ د«هل»راوړى او دې طرفته اشاره كوى چه بالمشافه طلاق وركول خلاف اولي دى، خوكه ضرورتوى نو بله خبره ده.(۲)

[۴۹۵۵] حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ حَدَّثَنَا الْاَوْزَاعِيُّ قَالَ سَأَلْتُ الزُّهْرِيَّ اَيُّ اَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَعَاذَتْ مِنْهُ قَالَ اَخْبَرَنِي عُرْوَةُ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا اَنَّ ابْنَةَ الْجَوْنِ لَمَّا اُدْخِلَتْ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَدَنَا مِنْهَا قَالَتْ اَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْكَ فَقَالَ لَهَا لَقَدْ عُذْتِ بِعَظِيمٍ الْحَقِي بِاَهْلِكِ قَالَ اَبُو عَبْدِ اللَّهِ رَوَاهُ حَجَّاجُ بْنُ اَبِي مَنِيعٍ عَنْ جَدِّهِ عَنْ الزُّهْرِيِّ اَنَّ عُرْوَةَ اَخْبَرَهُ اَنَّ عَائِشَةَ قَالَتْ

په دې حديث كښې چه كومه واقعه بيان شوې ده دهغې تفصيل راتلونكو دووحديثونوكښې رازى. دحديث په‌آخر كښې دى چه«لَقَدْ عُذْتِ بِعَظِيمٍ الْحَقِي بِاَهْلِكِ»«الحقي باهلك»طلاق به كنايه ده، حضرت نبى عليه السلام دا جمله باالمشافه هغه ته اوونيله،معلوم شو چه سړې ښځې ته باالمشافه‌طلاق وركولې شى.

قوله: <u>قَالَ اَبُو عَبْدِ اللَّهِ رَوَاهُ حَجَّاجُ بْنُ اَبِي مَنِيعٍ عَنْ جَدِّهِ عَنْ الزُّهْرِيِّ</u>: دابو منيع نوم عبيدالله بن ابى زياد دې،اودې دحجاج نيكه دې،دحجاج دوالد نوم يوسف دې، حجاج‌او دده د نيكه‌ابومنيع امام بخاري رحمه الله صحيح كښې صرف تعليقًا روايت ذكر كړې دې،موصولاً دده نه هيڅ روايت نه دې اخستې. (۳)

دا تعليق ذهيلى په زهريات كښې موصولاً نقل كړې دې،(۴)

[۴۹۵۶] حَدَّثَنَا اَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ غَسِيلٍ عَنْ حَمْزَةَ بْنِ اَبِي اُسَيْدٍ عَنْ اَبِي اُسَيْدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى انْطَلَقْنَا اِلَى حَائِطٍ يُقَالُ لَهُ الشَّوْطُ حَتَّى انْتَهَيْنَا اِلَى حَائِطَيْنِ فَجَلَسْنَا بَيْنَهُمَا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اجْلِسُوا هَا هُنَا وَدَخَلَ وَقَدْ اُتِيَ بِالْجَوْنِيَّةِ فَاُنْزِلَتْ فِي بَيْتٍ فِي نَخْلٍ فِي بَيْتِ اُمَيْمَةَ بِنْتِ

---

۱) عمده القاري: ۲۲۹/۲).
۲) فتح ألباري: ۴۴۶/۹).
۳) فتح الباري: ۴۴۷/۹، وعمده ا لقاري: ۲۳۰/۲۰).
۴) فتح الباري: ۴۴۷/۹).

النُّعْمَانِ بْنِ شَرَاحِيلَ وَمَعَهَا دَايَتُهَا حَاضِنَةٌ لَهَا فَلَمَّا دَخَلَ عَلَيْهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ هَبِي نَفْسَكِ لِي قَالَتْ وَهَلْ تَهَبُ الْمَلِكَةُ نَفْسَهَا لِلسُّوقَةِ قَالَ فَأَهْوَى بِيَدِهِ يَضَعُ يَدَهُ عَلَيْهَا لِتَسْكُنَ فَقَالَتْ أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْكَ فَقَالَ قَدْ عُذْتِ بِمَعَاذٍ ثُمَّ خَرَجَ عَلَيْنَا فَقَالَ يَا أَبَا أُسَيْدٍ اكْسُهَا رَازِقِيَّتَيْنِ وَأَلْحِقْهَا بِأَهْلِهَا

[۴۹۵۷] وَقَالَ الْحُسَيْنُ بْنُ الْوَلِيدِ النَّيْسَابُورِيُّ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ عَبَّاسِ بْنِ سَهْلٍ عَنْ أَبِيهِ وَأَبِي أُسَيْدٍ قَالَا تَزَوَّجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُمَيْمَةَ بِنْتَ شَرَاحِيلَ فَلَمَّا أُدْخِلَتْ عَلَيْهِ بَسَطَ يَدَهُ إِلَيْهَا فَكَأَنَّهَا كَرِهَتْ ذَلِكَ فَأَمَرَ أَبَا أُسَيْدٍ أَنْ يُجَهِّزَهَا وَيَكْسُوَهَا ثَوْبَيْنِ رَازِقِيَّيْنِ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ أَبِي الْوَزِيرِ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ عَنْ حَمْزَةَ عَنْ أَبِيهِ وَعَنْ عَبَّاسِ بْنِ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ عَنْ أَبِيهِ بِهَذَا [ر: ۵۳۴۳].

مذکوره دواړو احاديثو کښې امام بخاری رحمه الله دابنة الجون واقعه ليکلې ده، په صحيح بخاری کښې داشان دوه واقعات دی.

دابنته الجون واقعه: ① يو واقعه خو په دې خائې کښې حديث باب کښې ده .حضرت ابواسيد رضی الله عنه فرمائی چه مونږ حضرت نبی کريم صلی الله علیه وسلم سره يو نخلستان طرفته اووتلو، چه هغې ته شوط وائی.هرکله چه مونږ ددې دواړو ديوالونو طرفته ورغلو نوحضرت نبی کريم صلی الله علیه وسلم اوفرمائيل چه په دې خائې کښې کينئ .حضرت نبی کريم صلی الله علیه وسلم دننه تشريف يوړو. هغه خائې ته جونيه (چه دهغې نوم اميمه وو) راوستې شوې وه،اميمه په نخلستان کښې يو کور کښې راکوزه کړې شوې وه.حضرت نبی کريم صلی الله علیه وسلم دې ته نزدې شو نو وې فرمائيل چه«هبی نفسك» خپل خان هبه کړه. هغې اوونيل «هل تهب الملكة نفسها للسوقة» آيا شهزادګئ خپل خان رعايا (عام سړی) ته خپل نفس هبه کولې شی؟حضرت نبی کريم صلی الله علیه وسلم اوفرمائيل چه خپل لاس په دې باندې دايښودو دپاره وړاندې کړو چه هغې ته تسکين ورکړی. هغې اوونيل چه«اعوذ بالله منك» (خه ستا نه دالله ﷻ پناه غواړم). حضرت نبی کريم علیه السلام اوفرمائيل چه«قد عذت بمعاذ» (تا دداسې ذات پناه اوغوښتله چه دهغه پناه غوښتلې شی)بيا حضرت نبی کريم علیه السلام مونږ لره تشريف راوړو،او وې فرمائيل چه ائې آبو اسيده دې ته دوه رازقی جامې ورکړه،دا دده کور والو ته اورسوه.

دابن سعد رضی الله عنه په روايت کښې په دې کښې دومره قدرې اضافه ده چه په دې کښې ابو اسيد رضی الله عنه فرمائی چه نعمان بن الجون کندی حضرت نبی کريم علیه السلام لره داسلام قبلولو دپاره راغلو. او حضرت نبی کريم علیه السلام ته ئې اوونيل چه آيا خه دې (خپلې لور سره)سره ستا واده اونکړم چه دعربو ډيره ښکلې ښځه ده؟ . حضرت نبی کريم علیه السلام اومنل او واده ئې اوکړو. دښخې راوستلو دپاره حضرت ابواسيد رضی الله عنه اوليږلې شو،ابواسيد هغه راوستله اودبنوساعده په مذکوره باغ کښې ئې پريښوده. اوراغلو حضرت نبی کريم علیه السلام ته ئې اطلاع ورکړه نو حضرت نبی کريم صلی الله علیه وسلم هغه خائې ته لاړو اودا واقعه پيښه شوه. (۱)

---

۱) فتح الباری: ۴۴۸/۹ ،وطبقات ابن سعد،ذکر من تزوج رسول الله صلی الله علیه وسلم من النساء فلم يجمعهن: ۱۴۳/۸، ۱۴۴)

د صحيح بخاري احاديث باب نه څو خبرې راوزې
① يو داچه‌دمذكوره ښځې نوم‌اميمه بنت نعمان بن شراحيل وو
②دونم دا چه حضرت نبى كريم ﷺ دې سره واده اونكاح كړې وه
③ دريم داچه‌مذكوره ښځه په دې نكاح باندې راضى نه وه.
④ حضرت نبى كريم ﷺ ته ددې دخفګان علم نه وو.
⑤ پنځم دا چه كله حضرت نبى كريم ﷺ هغې لره ورغلو نو هغې دخفګان اظهار اوكړو او حضرت نبى كريم ﷺ ته ددې خفګان علم اوشو نو دوه رازقى جامې ئې وركړې دمتعه په طور اوهغې ته ئې طلاق وركړو او رخصت ئې كړه.
اوس داخبره‌پاتې كيږى چه هغه ولې راضى نه وه.په روايت باب كښې ددې ذكر نشته دې. دومره خبره خو متعين ده چه هغې ته دحضرت نبى كريم ﷺ د رتبې او مقام او عظمت علم نه وو.((وهل تهب الملكة نفسها للسوق))الفاظ نه ظاهر دى چه‌دحضرت نبى كريم ﷺ د مقام نبوت او شان عظمت نه ناواقفه وه. اوس داشان يو بله واقعه اوګورئى.
②دويمه واقعه امام بخارى رحمة ا لله عليه مخكښې په كتاب الاشربة كښې باب الشرب في الاقداح كښې ذكركړې ده. حضرت سهل بن سعد رضي الله عنه فرمائى چه د حضرت‌رسول كريم ﷺ‌په مخكښې دعربو ديوښځې ذكر اوشونو حضرت‌رسول كريم ﷺ ابواسيد رضي الله عنه ته حكم اوفرمائيل چه دې لره پيغام اوليږى. ابواسيد دې لره پيغام اوليږلو،نوهغه راغله اودبنو ساعده په كوركښې ايساره شوه.حضرت‌رسول كريم ﷺ راوتلو او هغې لره ئې تشريف يوړو نو وې‌كتل چه هغه ښځې‌خپل سر ټيټ كړې وو،هركله‌چه هغې سره حضرت‌رسول كريم ﷺ خبرې اوكړې نوهغې اووئيل چه((اعوذ باالله منك))نو حضرت‌رسول كريم ﷺ اوفرمائيل چه ماتاته پناه دركړه (اودائې رخصت كړه).
دې نه نه بعد ددې ښځې نه تپوس اوكړو چه تاته پته ده دا څوك‌وو؟هغې اووئيل چه نه . خلقو ورته اووئيل چه دا خوحضرت نبى‌كريم ﷺ وو چه تا لره ئې دنكاح پيغام درليږلې وو،نوبيا هغه ښځې اووئيل چه څه بدبخته يم.
دابن سعد رضي الله عنه په روايت كښې دى چه دجونيه نوم اسماء بنت النعما بن ابى الجون وو. هركله چه راوستلې شوه نو ددې د ډول سنګار دپاره‌حضرت عائشه رضي الله عنها او حضرت حفصه رضي الله عنها لاړې. دا ډيره حسينه وه‌نو ددې‌وجې دوى ډيرې ويريدې كه حضرت رسول كريم ﷺ دې سره واده اوكړو نودې طرفته به ئې پوره توجوشى. نوددې وجې دا ئې اولمسوله چه كله حضرت رسول كريم ﷺ تالره راشى نو ته اووايه چه((اعوذباالله منك))ځكه چه حضرت رسول كريم ﷺ ته دا جمله ډيره خوښه ده. نوكله چه حضرت رسول كريم ﷺ تشريف راوړو دې لره‌نو دې مذكوره جمله اووئيله‌چه ددې په وجه حضرت رسول كريم ﷺ دې ته طلاق وركړو.
حضرت رسول كريم ﷺ ته چه كله ددې نه پس معلوم شو حقيقت حال چه بعض ازواج مطهرات دا په دې جمله وئيلو باندې آماده كړې وه نوحضرت رسول كريم ﷺ اوفرمائيل چه

((انهن صواحب یوسف و کیدهن عظیم))(١)
دا دربیع الاول نهمې (۹) هجرئ واقعه ده.(٢)
آیامذکوره دواړه واقعات یو دی یا بیلې بیلې؟: مذکوره دواړو واقعاتو ته بعضې حضرات یو واقعه وائی،لیکن څو څیزونه په دې کښې مشترك کیدو نه باوجود څه خبرې په دې کښې مختلفې دی.
لکه دا چه په رومبئ واقعه کښې چه حضرت رسول کریم ﷺ امیمه سره واده کړې وه نوددې وجې امام بخاری رحمه الله ددې واقعې لاندې ذکر کوی،ظاهر دی چه طلاق په هغه وخت کښې ورکولې شی چه کله رومبئ نکاح اوشوه،((الحقی باهلك))لره په طلاق باندې په هغه وخت کښې محمول کولې شی چه کله مخکښې دنکاح ثبوت اومنلې شی، که نکاح نه وې شوې نوبیاد((الحقی باهلك))الفاظ طلاق کښې نشی شمیرلې،اوترجمة الباب((وهل یواجه الرجل باالطلاق))نه نه ثابتیږی. علامه ابن عبدالبردې ښځې سره د حضرت رسول کریم ﷺ په نکاح باندې اجماع نقل کړې ده.(٣)
خو په دوئمه واقعه کښې د واده ذکر نشته دې،بلکه تصریح ده چه حضرت رسول کریم ﷺ صرف پیغام ورکړې وو،داشان رومبئ واقعې نه معلومیږی چه هغه ښځه راضی نه وه. خو دبلې واقعې نه معلومیږی چه هغه راضی وه.لیکن هغې د((اعوذبك منك))جمله په دهوکه کښې وئیلې وه.اوحقیقت حال معلومیدو نه پس دې ته افسوس اوشو.

---

١) فتح الباری: ۹/۴۴۹،وطبقات ابن سعد: ۸/۱۴۴، ۱۴۵). په دې ځائې کښې چاته دا شبه کیدیشی چه هغه په دې جمله وئیلو باندې ولې آماده شوه،اوبه داشان لمسولو کښې هغه ولې راغله،حالانکه هغې ته ددې جملې معنی معلوم وه چه دجمله مخاطب به نه دپناه غوښتلو دپاره ده،اومخاطب ددې نه د خوشحالیدو په ځائې خفه شی، ددې جواب دا ورکولې شی چه په حقیقت کښې عهدجاهلیت کښې دعربو قبائل کښې داخبره مشهوره وه چه کومه ښځه د صحبت دپاره تیاره نه وی اودې سره په زبردستئ سره جماع اوکړې شی نودده بچې به شریف او قوی وی. صحبت دپاره دښځې پخپله راضی کیدو دپاره اوددې دخواهش په نتیجه کښې دښځې دسړی دپاره زر منل ښه خبره نه ګنړلې کیده،په دې سلسله کښې دښځې بې رغبتی ښه خیال کولې شو. په ((اعوذبالله منک))کښې اظهار د بې رغبتئ دې،ممکن دی چه داجمله دې دنورو ښځو په وینا هم ددې تاثر لاندې وئیلې وی،مشهور حماسی شاعر ابوکبیر هذلی د تابط شرا تعریف هم په دې حواله کړې دې وائی:

ممن حملن به وهن عواقد — حبک النطاق فشب غیر مهبل
حملت به فی لیلة مزؤدة — کرها و عقد نطاقها لم یحلل

① یعنی هغه چه ددې خلقو نه ده چه هغې سره ښځې په دې حال کښې حامله کیږی چه هغوی دتهه بند رسو لره لګوی (یعنی دصحبت دپاره تیارې نه وی) نو هغه ډیر په موج کښې خوان شو.
② دده مور ده سره حامله شوه دیو ویرې او پریشانئ او زبردستئ او مجبورئ په شپه کښې،په دې حال کښې چه ددې کمر بند غوټه نه وه پرانیستې شوې).
٢) طبقات ابن سعد: ۸/۱۴۵).
٣) اوګورئ الاستیعاث لابن عبدالبر (علی هامش الاصابه) : ۴/۲۲۸).

ددې وجې په ظاهره دواړه بيل بيل واقعات دی.

په دې خانې کښې حديث باب کښې ددې ښځې نوم اميمه راغلې دې، بعضو روايتونو کښې اسماء دې، بعض حضرات فرمائی چه اميمه لقب او اسماء نوم دې. (١)

ليکن قوی خبره دامعلوميږی چه په دويمه واقعه کښې چه دکومې ښځې ذکر دې ددې نوم اسماء دې، ږومبئ واقعه دحضرت ابو اسيد ﷺ نه مروی ده او دويمه واقعه دحضرت سهل ﷺ نه نو حافظ ابن حجر ﷫ ليکی چه :

«القصة التی فی حديث ابی اسيد فيها اشياء مغايرة لهذه القصة فيقوی التعدد، ويقوی ان التی فی حديث ابی اسيد اسمها اميمة والتی فی حديث سهل اسمها اسماء والله اعلم، واميمة كان قد عقد عليها ثم فارقها وهذه لم يعقد عليها بل جاء ليخطبها فقط» (٢)

آيا داشان ډير واقعات راغلی دی يا دا يو واقعه ده؟: اوس دا خبره پاتې کيږی چه د حضرت رسول کريم ﷺ دنکاح په سلسه کښې داشان متعدد واقعات راپيښ شو يا هم دا يو واقعه راغلې ده؟

حقيقت دادی چه ددې متعلق رواياتو کښې ډې زيات اختلاف موندې شی، ددې اندازه تاسو ددې نه اولګوئی چه د رواياتو سلسله کښې دښځو نومونه تقريباً لس (١٠) ملاويږی.

① اميمه بنت النعمان بن شراحيل ② اسماء بنت النعمان بن الحارث بن شراحيل ③ فاطمه بنت الضحاك بن سفيان ④ عمره بنت يزيد بن عبيد ⑤ عمره بنت الجون ⑥ عمره بنت معاويه کنديه ⑦ سنا بنت سفيان بن عوف کلابيه ⑧ عاليه بنت ظبيان بن عمرو ⑨ امامة (١٠) مليكة (٣)

بيا دفراق اوجدا کيدو متعلق هم دمختلف اسباب ذکر ملاويږی.

① دبخاری په روايت کښې دی چه دې «اعوذ بالله منك» وئيلی وو.

② بعض رواياتو کښې دی چه کله حضرت رسول کريم ﷺ داخل شو اودا ئې راوبلله نودې اوئيل «تعال انت» نو ددې وجه حضرت رسول کريم ﷺ دې ته طلاق ورکړو.

③ بعضو روايتونو کښې دی چه په هغې برص مرض وو، ددې وجې دوی ورته طلاق ورکړو، (۴)

علامه ابن اثير اسد الغابة کښې ليکی چه :

«واما اللواتی تزوجهن ولم يدخل بهن او خطبهن ولم يتم له العقد او استعاذت منه ففارقها فقد اختلف فيهن وفی اسباب فراقهن اختلافا كثيرا» (۵)

---

١) فتح الباری: ٩/٤٤٨).

٢) فتح الباری: ٩/٤٤٩).

٣) اوګورئ طبقات ابن سعد، ذکر من تزوج رسول الله ﷺ من النساء فلم يجمعن : ١٤١/٨، وفتح الباری: ٩/٤٤٩، واسد الغابه فی معرفه الصحابه ذکر زوجاته ﷺ: ١٤٣/١).

٤) فتح الباری: ٩/٤٤٧).

۵) اسدالغابه فی معرفه الصحابه : ١٤٣/١، ذکر زوجاته ﷺ).

او علامه ابن عبدالبر رحمه الله فرمائی چه :

((الاختلاف فيها (اي في الكندية) وفي صواحباتها اللواتي يجتمع بهن عظيم)).د(۱)

د مذکوره ښځې انجام: بيا چه کومې ښځې حضرت نبی کريم ﷺ سره پناه اخستې وه، ددې دانجام متعلق هم روايتونوکښې اختلاف دې.

① بعضو روايتونوکښې دی چه هغه ښځه دې نه پس پښيمانه وه. تر دې پور ې چه هغه ددې غم دلاسه مړه شوه.(۲)

② بعضو روايتونوکښې دی چه حضرت نبی کريم ﷺ نه پناه غوښتلو والا اسماء بنت النعمان نومې ښځې دابواسيد نه تپوس اوکړو چه اوس څه څه اوکړم ؟ابو اسيد اووئيل چه په خپل کور کښې په پرده کښې اوسه او هيڅوك دې تاسره د نکاح کولو اميد نه ساتی. نو هغه همد اشان وه، تر دې پورې چه د حضرت عثمان رضي الله عنه په زمانه کښې انتقال شوه.(۳)

③ او يو روايت کښې دی چه اسماء بنت النعمان ددې نه پس مهاجر اميه مخزومی سره واده اوکړو. حضرت عمر رضي الله عنه ته چه کله ددې علم اوشو نودې ته ئې دسزا ورکولو حکم اوکړو ليکن دې اووئيل چه ((والله ماضرب علی حجاب ولا سميت بام المومنين)) (يعنی په خدائې زه دحضرت نبی کريم ﷺ په حرم کښې نه يم راغلې اونه ماته دام المومنين لقب ملاؤ شوې دې) نو حضرت عمر فاورق رضي الله عنه اراده ترك کړه.

مهاجر ابن اميه نه پس قيس بن مکشوح دې سره واده اوکړو.(۴)

حضرت نبی اکرم عليه السلام نه جدائی اختيارولو والا يو ښځې باره کښې دی چه هغې به دې نه پس څپياکې ټولولې ليکن دابن سعد په روايت کښې دی چه هغه ښځه وه چه هغې د تخيير دآيت نازليدو نه پس حضرت نبی اکرم عليه السلام داختيارولو په ځائې جدائی اختيار کړې وه. دې نه پس هغه په خپله فيصله باندې شرمنده وه. اوددې حالت داشو چه څپياکې به ئې ټولولې او خرڅولې به ئې او خپل ځان ته به ئې بدبخته وئيل.(۵) اوس د روايت الفاظ اوګورئی.

قوله: حدثنا ابو نعيم وقد اتي بالجونية: دا واقعه دربيع الاول نهمې (۹) هجرئی ده لکه څنګه چه تير شو.((حائط)) د کهجورو باغ ته وئيلې شی.(۶)

قوله: فأنزلت في بيت نخل اميمة بنت النعمان: اميمه مرفوع ده، دا خو يا ((الجونية)) نه بدل دې اويا عطف بيان دې، دويم ((في بيت)) تنوين سره دې، ((اميمة)) طرفته مضاف

---

۱) اسدالغابة فی معرفة الصحابة : ۱۵/۷ . (واسماء بنت النعما،رقم الحديث ۶۷۱۶).

۲) فتح الباری: ۴۵۰/۹).

۳) اوګورئ الاصابه فی تميز الصحابه (القسم الاول اسماء بنت النعمان) : ۲۳۴/۴).

۴) الاصابه فی تميز الصحابه: ۴۴۱/۴. و طبقات ابن سعد: ۱۴۷/۸).

۵) طبقات ابن سعد،ذکر تخيير نساء : ۱۹۱/۸،وانظر ايضا: ۱۹۲/۸).

۶) الحائط هوالبستان من النخيل اذا كان عليه جدار (عمده القاری: ۲۳۱/۲۰).

نه دي،((فی بيت)) لره مكرر ذكر كړې شو. مقصد دا بيانول دی چه هغه كور په نخلستان كښې وو، ددې وجې د((فی بيت))نه پس((فی نخل))اضافه اوكړې شوه. ليكن د((فی نخل))اضافې سره دا وهم كيديشو چه دا بدل الغلط دې اومراد ترې په نخلستان كښې كوزول دی،چه په هغه خائې كښې كور نه وو،ددې وهم لرې كولو دپاره دوباره((فی بيت))ئې ذكر كړوچه په نخلستان كښې كور وو. په دې كور كښې كوزه شوې وه . نو حضرت گنگوهی رحمه الله ليكی چه:

((قوله : فی بيت فی لفظ نخل فی بيت لما كان المقصود ذكر نزولها فی بيت واقع فی نخل ولم يكن لفظ فی بيت كافيا لذالك زاد لفظ فی نخل، فتوهم ان يكون بدلا غلطا عنه او يكون المعنی انزلها فی نخل الا ان ذكر البيت تشبيها اومجازا اعاد لفظ البيت ثانيا لدفع هذه الاحتمالات))(۱)

قوله: ومعها دايتها حاصنة لها: يعنی دې سره ددې پرورش كولووالا دائی هم وه. حافظ ابن حجر رحمه الله ليكلی دی چه ددې دائی نوم ماته معلوم نشو.(۲)

قوله: وهل تهب الملكة نفسها للسوقة: ((سوقة))بازاری ته نشی ونيلې بلكه((سوقة))هغه سړی ته وائی چه كوم عامی وی او د بادشاه دخاندان سره ددې تعلق نه وی،مفرد جمع دواړو دپاره راتلې شی. بازاری سړی ته عربئ كښې((سوقی))ونيلې كيږی.(۳)

يو اشكال او دهغې جواب: بعضې خلقو په دې باندې اشكال كړې دې چه ددې مكالمې نه معلوميږی چه نكاح ئې نه وه شوې،بيا حضرت نبی اكرم ﷺ دې لره ورغلل او دې طرفته ئې لاس اوږد كړو،دنكاح نه مخكښې خو دا صحيح نه معلوميږی.

ددې جواب دادې چه حضرت نبی اكرم ﷺ ته دا اختيار حاصل دې چه هغه ښځې سره د هغې داجازت نه بغيرنكاح اوكړی.يو ښځې ته د حضرت نبی اكرم ﷺ دنكاح پيغام ليږل،دا راوستل او په دې كښې رغبت اختيارول دنكاح دپاره كافی دی. د((هبی لی نفسك))الفاظ خو صرف تطييب دخاطر دپاره وئيلی وو .حافظ ابن حجر رحمه الله ليكلی:

((والجواب انه ﷺ كان له ان يزوج من نفسه بغير اذن المراة وبغير اذن وليها فكان مجرد ارساله اليها واحضارها ورغبتها فيها كافيا فی ذالك ويكون قوله : هبی لی نفسك تطييبا لخاطرها واستمالة لقلبها))(۴)

حضرت شيخ الحديث مولانا محمد زكريا رحمه الله فرمائی چه ځما په نيز دا راجح جواب دې چه نكاح ددې واقعې نه مخكښې شوې وه،روايت كښې د((تزوج))لفظ صراحتًا موجود دې، په هغه وخت كښې د((هبی لی نفسك)) جمله دوی دتقريب او تاليف دپاره فرمائيلې وه،

---

۱) لامع الداری: ۴۳۱/۹ . كتاب الطلاق).
۲) فتح الباری: ۴۴۸/۹).
۳) عمده القاری: ۲۳۱/۲۰،وفتح الباری: ۴۴۸/۹).
۴) فتح الباری: ۴۵۰/۹).

کنی نفس نکاح خو ددې نه مخکښې شوې وه.(۱)
قوله: قد عذت بمعاذ: ((معاذ))دمیم په فتحې سره ظرف مکان دې،((اسم مکان العوذ))
علامه عینی رحمه الله فرمائی چه مصدر میمی هم کیدیشی. دظرف مکان په صورت کښې مصدر په معنی داسم فاعل وی،ترجمه به دارنګ وی چهد پناه ورکونکی ذات پناه.(۲)
((اکسیها رازقیین)): ((رازقیین))صفت دې((ای ثوبین رازقیین))دا تثنیه ده .((رازقی))د سین کتان اوږده کپړه وه .(۳)
قوله: الحقها باهلها:په دې روایت کښې خطاب حضرت ابواسید ته دې،او په ړومبی روایت کښې خطاب نیغ په نیغهدې ښځې ته وو،ممکن دی چهړومبئ ښځې ته((الحقی باهلك)) اووئیل دې نه پس ئې دحضرت ابو اسید ته داجمله اووئیله .
((الحقی باهلك))کنایات طلاق نه دې،که څوك دا لفظ خپلې ښځې ته اووائی او دطلاق نیت ئې وی نو طلاق به واقع شی،ددې تفصیل به مخکښې راشی.
قوله: وقال الحسین بن الولید النیسابوری....: داتعلیق دې،ابونعیم دې لره مستخرج کښې موصولا نقل کړې دې.(۴) ددې نه مخکښې دا روایت امام بخاری رحمه الله دابونعیم رحمه الله نهنقل کړې دې.حسین او ابونعیم دواړه د عبدالرحمان بن الغیسل نه روایت نقل کوی، لیکن د عبدالرحمان شیخ ددواړو روایتونو کښې مختلف دې ،د ابو نعیم په روایت کښې دی چه دعبدالرحمان شیخ حمزه دې او د حسین روایت کښې دی چه دده شیخ عباس بن سهل دې.
دې نه پس امام بخاری رحمه الله دریم طریق عبدالله بن محمد نه نقل کړې دې،په دې کښې دعبدالرحمان دشیوخو ذکر دې،دحمزه هم او د عباس بن سهل هم،معلوم شو عبدالرحمان سره داحدیث دحمزه او عباس دواړو واسطو سره راغلو.
قوله: ابراهیم بن ابی الوزیر: ابراهیم بن ابی الوزیر حجازی دې،د ابو الوزیر نوم عمر بن مطرف دې .دابراهیمزمانه کښې ا مام بخاری رحمه الله وو، لیکن دهغه سره دامام ملاقات اونشو. ددې وجې دهغه نه ئې بالواسطه روایت نقل نه کړو. په کال ۲۱۰ هجرئې ته نزدې دده وفات اوشو. بخاری کښې دده صرف دا یوحدیث روایت شوې دې.(۵)
[۴۹۵۸] حَدَّثَنَا حَجَّاجُ بْنُ مِنْهَالٍ حَدَّثَنَا هَمَّامُ بْنُ يَحْيَى عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَبِي غَلَّابٍ يُونُسَ بْنِ جُبَيْرٍ قَالَ قُلْتُ لِابْنِ عُمَرَ رَجُلٌ طَلَّقَ امْرَأَتَهُ وَهِيَ حَائِضٌ فَقَالَ تَعْرِفُ ابْنَ

۱) اوګورئ تعلیقات لامع الداری: ۳۴۳/۹).
۲) عمده القاری: ۲۳۲/۲۰).
۳) عمدة القاری: ۲۳۲/۲۰).
٤) فتح الباری: ٤۵۱/۹).
۵) مذکوره تفصیل دپاره اوګورئ فتح الباری: ٤۵۱/۹).

عُمَرَ اَنَّ ابْنَ عُمَرَ طَلَّقَ امْرَاَتَهُ وَهِيَ حَائِضٌ فَأَتَى عُمَرُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ ذٰلِكَ لَهُ فَأَمَرَهُ اَنْ يُرَاجِعَهَا فَاِذَا طَهُرَتْ فَاَرَادَ اَنْ يُطَلِّقَهَا فَلْيُطَلِّقْهَا قُلْتُ فَهَلْ عَدَّ ذٰلِكَ طَلَاقًا قَالَ اَرَاَيْتَ اِنْ عَجَزَ وَاسْتَحْمَقَ [ر:۳۶۲۵].

ددې حديث مناسبت دترجمة الباب دړومبي جز «من طلق» نه خو بالكل ظاهرده او دويم جز «وه يواجه الرجل» سر ه هم ددې مناسبت ابن منير بيان کړې دې، اوهغه دا چه حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه خپلې ښځې ته دنافرمانۍ په وجه طلاق ورکړې وو. اودسې صورت کښې سرې عام طور بالمشابه او ښځې ته براه راست طلاق ورکوی. ددې وجې د حديث مناسبت دترجمة الباب دواړو جزءونوسره دې.(۱)

حافظ ابن حجر رحمة ا لله عليه فرمائی چه دا وئيل حضرت ابن عمر رضي الله عنه دنافرمانۍ په وجه خپلې ښځې ته طلاق ورکړې ووغير مستند دې بلکه دمسند امام احمد په يوروايت کښې دی چه : «كان تحتي امراة احبها وكان عمر يكرهها فقال طلقها فاتيت النبي ﷺ فقال اطع اباك»(۲)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه په دې روايت کښې چه دکومې ښځې ذکر دې شائد هم دې ښځې ته حضرت ابن عمر رضي الله عنه طلاق ورکړې وی په حالت دحيض کښې، او ظاهر دی چه دا طلاق دنافرمانۍ په وجه نه وو ورکړې شوې بلکه دخپل پلار دحکم داطاعت کښې ورکړې وو، کنی بذات خود خوهغه دا خوښوله.(۳)

۳=بَاب مَنْ أَجَازَ طَلَاقَ الثَّلَاثِ لِقَوْلِ اللّٰهِ تَعَالَى الطَّلَاقُ مَرَّتَانِ فَإِمْسَاكٌ بِمَعْرُوفٍ أَوْتَسْرِيحٌ بِإِحْسَانٍ [البقرة:۲۲۹]

وَقَالَ ابْنُ الزُّبَيْرِ فِي مَرِيضٍ طَلَّقَ لَا اَرَى اَنْ تَرِثَ مَبْتُوتَتُهُ
وَقَالَ الشَّعْبِيُّ تَرِثُهُ وَقَالَ ابْنُ شُبْرُمَةَ تَزَوَّجُ اِذَا انْقَضَتِ الْعِدَّةُ قَالَ نَعَمْ قَالَ اَرَاَيْتَ اِنْ مَاتَ الزَّوْجُ الْاٰخَرُ فَرَجَعَ عَنْ ذٰلِكَ

په دې ځائې کښې دوه مسئلې دی او ترجمة الباب نه دې دواړو طرفته اشاره کيديشی.

درې طلاقه يو ځائې ورکول جائزدی که نه؟ : ړومبۍ مسئله ده چه درې طلاقه يو ځائې ورکول جائز دی که نه ؟ د امام ابوحنيفه رحمه الله او ا مام مالك رحمه الله په نيز جائز نه دی. اوامام احمد رحمه الله نه هم يو روايت ددې مطابق دې.(۴)

د امام شافعی رحمه الله په نيز درې طلاقه يوځائې ورکول حرام نه دی، جائزدی ، د امام احمد رحمه الله دويم روايت همدادې .(۵)

---

۱) فتح الباری: ۴۵۱/۹).
۲) فتح الباری: ۴۵۲/۹).
۳) فتح الباری: ۲۵۲/۹).
۴) المغنی لابن قدامه: ۱۰۲/۷، وتکمله فتح الملهم: ۱۵۲/۱، کتاب الطلاق).
۵) وتکمله فتح الملهم: ۱۵۲/۱).

دامام شافعي رحمه الله استدلال دحضرت عويمر عجلاني رضي الله عنه د قصې نه دې چه لعان نه فارغيدو نه پس هغوی خپلې ښځې ته درې طلاقه ورکړل اوحضرت نبی کريم ﷺ په باندې نکير اونه فرمائيلو چه ددې نه جوازمعلوميږي(١)

دحنفيه د طرفنه ددې استدلال جواب ورکړې شوې دې چه دامام شافعي رحمه الله په نيز لعان کښې دښځې دلعان نه مخکښې دخاوند دلعان سره د دواړو په مينځ کښې فرقت واقع کيږي،دلعان نه پس که خاوند طلاق ورکړی نو طلاق به نه واقع کيږي،ځکه چه هغه د مخکښې نه بائنه شوې وه،ددې وجې دده دمذهب مطابق مذکوره واقعه کښې دحضرت عويمر طلاق واقع نشو، بيا به ددې نه استدلال کول څنګه صحيح وي.(٢)

داخو دامام شافعي رحمه الله دهغوی دمذهب مطابق د استدلال الزامي جواب دې .

دحنفيه دمذهب مطابق ددې جواب دادې چه ممکن دی چه دا واقعه د دريو طلاقو په يو وخت دورکولو دممانعت نه مخکښې وی ددې وجې حضرت رسول کريم عليه السلام نکير اونه فرمائيلو.(٣)

اودا هم وجه کيديشي چه دطلاق نه بغير چونکه فرقت د لعان په جهت واقع کيدو،ددې وجې حضرت نبی کريم عليه السلام نکير اونه فرمائيلو.

حضرات حنفيه اومالکيه په خپل مذهب باندې دمحمود بن لبيد روايت نه استدلال کوی چه امام نسائی رحمة الله عليه نقل کړې دې چه يو سړی خپلې ښځې ته درې طلاقه ورکړل په يو ځائې،حضرت نبی کريم عليه السلام ته چه کله معلوم شونو حضرت نبی کريم عليه السلام دغصې نه اودريدل او وې فرمائيل چه((ايلعب بکتاب الله وانا بين اظهرکم))(۴)

حافظ ابن حجر رحمه الله ددې روايت رجال لره ثقات او ابن کثير دې لره جيد ګڼړلې دې .(۵)

آيا درې طلاقه به يوشميرلې شی يا درې؟: دونمه مسئله داده چه که يوسړې خپلې ښځې ته درې طلاقه ورکړی په يو مجلس کښې يا په يو کلمه کښې په يو ساه ورکړی نو دا به يو شميرلې کيږي يا درې،په دې کښې اختلاف دې.

① دجمهور، سلف،آئمه اربعه اود اکثر علماء کرام قول دادې چه درې به شميرلې شی، او درې طلاقه به واقع شی، چه ددې په وجه به حرمت مغلظه واقع شی،تر کومې پورې چه دا ښځه بل چاسره نکاح اونکړی اوهغه سره هم بستری اونکړی، تر هغه وخته پورې دړومبی خاوند دپاره حلاله نه ده.(۶)

② دويم مسلك د ادې چه يوبه هم واقع نه وی،دشيعه جعفری هم دامسلك دې.(۷)

---

١) (تکمله فتح الملهم: ١٥٢/١).
٢) احکام القران للجصاص:٤٥٤/١).
٣) احکام القران للجصاص: ٤٥٤/١).
٤) سنن النسائی. کتاب الطلاق،باب الثلاث ا لمجموعه وما فيها من التغليظ: ٩٩/٢).
٥) فتح الباری: ٤٥٣/٩،وتکمله فتح الملهم: ١٥٢/١).
۶) المغنی لابن قدامه: ١٠٤/٧).
٧) شرح الاسلام للحلّی الشيعی : ٥٧/٢ (کذا فی فی التکمله : ١٥٣/١).

امام نووي رحمه الله دحجاج بن ارطاة،محمد بن اسحاق او د ابن مقاتل هم دا مسلك نقل كړې دې .(۱)

دريم مسلك دبعضو ظاهريه او علامه ابن تيميه او علامه ابن قيم دې،دا حضرات فرمائي چه په دې صورت كښې به يو طلاق رجعي واقع كيږي.(۲) نن سبا غير مقلدين هم دا قول اختياروي.

دظاهريه رومبې استدلال: دا حضرات صحيح مسلم كښې دحضرت ابن عباس روايت نه استدلال كوي،په هغې كښې دي چه :

«كان الطلاق على عهد رسول الله ﷺ وأبي بكر رضي الله عنه وسنتين من خلافة عمر، طلاق ثلاث واحدة فقال عمر بن الخطاب ان الناس قد استعجلوا في أمر قد كانت لهم فيه أناة فلو امضيناه عليهم فامضاه عليهم»(۳)

ددې حديث نه دا خبره صراحتاً ظاهريږي چه درې طلاقه د حضرت نبي كريم ﷺ اوحضرت ابوبكرصديق رضي الله عنه اوحضرت عمر فاروق رضي الله عنه د خلافت په رومبئ زمانه كښې يوشميرلې كيدو،بيا حضرت عمر فاروق رضي الله عنه دې لره درې اوګرزول.

د جمهورو دطرفنه ددې خبرې جوابات: د جمهور عالمانو طرفنه ددې روايت متعددو طريقو سره جوابونه وركړې شو.

① يو جواب دا وركړې شوې دې چه دثلث واحد ګرزول د غير مدخول بها دپاره وو.اسحاق بن راهويه اوزكريا ساجي شافعي دا جواب وركړې دې.(۴)

خوداجواب په هغه وخت كښې صحيح كيديشي چه كله څوك«انت طالق،انت طالق،انت طالق»درې ځل اووائي او طلاق وركړي،په دې صورت كښې به رومبى ځل(انت طالق»سره بائنه شي او باقي چونكه محل پاتې نشو نو ددې وجې يو طلاق به واقع شي. ليكن كه چا «انت طالق ثلاثا»اووئيل او طلاق ئې وركړو نو په دې صورت كښې د«ثلاثا»عدد دماقبل نه نشي جدا كولې اودرې طلاقه به واقع شي،نو په رومبى صورت كښې دغيرمدخول بها په حق كښې ثلث لره واحد ګرزولې شي ليكن په دويم صورت كښې به درې واقع كيږي.(۵)

② دويم جواب دا وركړې شو چه اصل مسئله داده چه كه څوك درې ځل د طلاق الفاظ اووائي اودده مقصد دتاكيد وي،تاسيس نه وي،نو ديانته داسې صورت كښې به درې طلاقه واقع نه وو،بلكه صرف يو به وي.

دحضرت نبي كريم ﷺ په دوركښې،عهدصديقي،اودابتدائي عهد فاروقي كښې به خلقو «انت طالق» درې ځل وئيل. ليكن ددې منشاء اومقصود به جديد نه وي بلكه هغوى به

---

۱) شرح مسلم للنوي. ۴۷۸/۱،باب طلاق الثلاث).
۲) زاد المعاد: ۲۴۸/۵ . وتكمله فتح الملهم : ۱۵۳/۱).
۳) صحيح مسلم ،كتاب الطلاق،باب طلاق الثلاث: ۴۷۷/۱).
۴) فتح الباري: ۴۵۵/۹).
۵) فتح الباري: ۴۵۵/۹).

صرف دتاکید په غرض سره دوباره او دریم باره «انت طالق» د هر اول، اودخلقو په دیانت باندې چونکه په هغه وخت کښې اعتمادوونوددې وجې د تاکید او تاسیس په سلسله کښې دهغوی دقول اعتبار به کولې شو. که یو سړی به درې ځل د طلاق الفاظ ونیلو نه پس بیانول چه ځما نیت دتاکید وو، دتاسیس نه وو، نودا قول به قضاءً قبلولې شو.

لیکن بعد کښې چه کله دخلقو کثرت شواود دیانت معیار دمخکښې خلقو پشان پاتې نشو نو حضرت عمر فاروق ﷺ اعلان اوفرمائیلو که چا درې طلاقه ورکړل نو دتاکید قول به معتبرنه وی بلکه ظاهری الفاظو باندې به فیصله کولې شي او دا به درې طلاقه منلې کیږي.

داجواب دابن سریج نه نقل کړې شوې دې، ابو العباس قرطبی ﷺ او علامه نووی ﷺ دې جواب لره اصح الاجوبة ګرزولې دې. (۱)

۳: دریم جواب د «واحدة» تاویل باندې مشتمل دې چه «کان الثلاث واحدة» معنی داده چه په هغه وخت کښې به دحضرت نبی کریم ﷺ په زمانه درې یو وو. لیکن کله چه دحضرت عمر فاروق ﷺ زمانه کښې راغله نوخلقو درې طلاقونه ورکول، نو حضرت عمرفاروق ﷺ د دریو طلاقونو واقع کیدو اعلان اوکړو.

ددې جواب مطابق عهد نبوی ﷺ اوعهد فاروقی ﷺ کښې طلقات ثلاث حکم کښې څه تبدیلی رانغله. صرف دخلقو په عادتونو کښې دتبدیلۍ بیان روایت دې، نو ابوزرعه فرمائی چه:

«معنی هذا الحدیث عندی ان ما تطلقون انتم ثلاثا کانوا یطلقون واحدة قال النووی، وعلی هذا فیکون الخبر وقع عن اختلاف عادة الناس خاصة لا عن تغیر الحکم فی الواحدة» (۲)

دې جواب لره ابن العربی راجح ګرزولې دې. (۳)

دظاهریه دویم قول: دعلامه بن تیمیه اوعلامه ابن قیم دویم استدلال حدیث رکانه نه دې چه کوم حضرت ابن عباس ﷺ نه مروی دې. په دې کښې دی چه:

«طلق رکانة بن عبد یزید امرأته ثلاثا فی مجلس واحد، فحزن علیها حزنا شدیدا فسأله رسول الله ﷺ کیف طلقتها؟ قال طلقتها ثلاثا قال: فقال فی مجلس واحد؟ قال نعم، قال: فانما تلك واحدة فارجعها ان شئت قال: فراجعها».

امام احمد او ابویعلی دا حدیث نقل کړې دې اودمحمد بن اسحاق په طریق سره دا ئې صحیح ګرزولې دې. (۴)

د رکانه دحدیث جواب: ددې جواب دادې چه د حضرت رکانه د طلاق واقعه کښې په روایاتو

---

۱) مذکوره تفصیل دپاره اوګورئ فتح الباری: ۴۵۶/۹، اوګورئ شرح مسلم لنوی: ۴۷۸/۱، وتفسیر قرطبی: ۱۳۰/۳، تفسیر سورة البقرة، المسالة الخامسة).

۲) فتح الباری: ۴۵۶/۹).

۳) فتح ا لباری: ۴۵۶/۹).

۴) فتح الباری: ۴۵۴/۹، ۳۵۳).

کښې اختلاف دې.مذکوره روایت کښې خو د«طلقها ثلاثا»الفاظ دی،لیکن سنن ابی داود کښې «طلقها البتة»الفاظ دی.(۱)امام ابوداود د«البتة»والا حدیث راجح ګرزولې دې، ددې وجې چه دا روایت دحضرت رکانه دکور والو نه مروی دې،او دکور په معامله کښې کور والو ته زیات علم وی.(۲) ددې وجې دا خبره صحیح معلومیږی چه حضرت رکانه خپلې بی بی ته درې طلاقه نه وو ورکړی بلکه«انت طالق البتة» سره ئې طلاق ورکړې وو.او چونکه «البتة»اطلاق درېو باندې هم کیږی،که څوك ددې لفظ نه د درېو نیت اوکړی او ددې وجې بعضوراویانو روایت بالمعنی کړې دې او دائې«طلقهاثلاث»سره تعبیر کړې دې.

خلاصه داشوه چه حضرت رکانه«انت طالق البتة»سره طلاق ورکړې وو او هغه ددې نه دیوطلاق نیت کړې وو، حضرت رسول کریم ﷺدده تصدیق اوفرمائیل او دوباره ئې دده دنکاح حکم اوکړو.په حدیث کښې دی چه درجوع نه دوباره نکاح کول مراد دی.نو مسئله هم داده که یوسړی«انت طالق البتة»الفاظوسره طلاق ورکړو نو یو طلاق بائن به واقع کیږی او درجوع په صورت کښې به دوباه نکاح کوی.(۳)

او فرض کړه که تسلیم کړې شی چه حضرت رکانه درې طلاقه ورکړی وو نو هم دې واقعې سره دجمهورو خلاف استدلال درست نه دې بلکه دابوداود،ترمذی ،ابن ماجه،اودارمی په روایتونوکښې تصریح ده چه حضرت رکانه دحضرت رسول کریم ﷺپه مخکښې قسم اوکړو او وې وئیل چه«والله ماأردت الا واحدة»(۴) چه څما نیت دیووو اودا خبره مخکښې تیره شوې ده چه حضرت رسول کریم ﷺپه زمانه کښې د درېو طلاقو ورکولو په صورت کښې که یو سړی به ددې نه دیو مراد اخستلو دعوی کوله نو دهغه دا خبره بهقضاءً قبلولې شوه.

که درې طلاقه یوشمیرلې کیدې نو حضرت رسول کریم ﷺ به دحضرت رکانه نه حلف نه اخستلو،دعلامه ابن تیمیه مذهب هم دا دې چه درې طلاقه مطلقًا یو شمیرلې کیږی،اګرکه طلاق ورکونکې ددې نه ددریوطلاقونونیت اوکړی (۵)

حاصل دکلام دادې چه د حضرت رکانه د واقعې نه زیات نه زیات داخبره معلومیږی چه حضرت رسول کریم ﷺ دنیت په تاکید کښې د هغه تصدیق کړې وو،نو ددې واقعې نهپه دې خبر باندې استدلال کول درست نه دی چه طلقات ثلاث یو شمیرلې کیږی اګر چه بنیت تاسیس وی.

بیا دعلامهابن تیمیه وغیره مستدل مذکورهدوارو روایتونو یومشترك جواب داهم دې چه

---

۱) سنن ابی داود،کتاب الطلاق ،باب فی البتة: ۲۶۳/۲،رقم الحدیث : ۲۲۰۶).
۲) سنن ابوداود : ۲۶۳/۲، ۲۶۴).
۳) تکملة فتح الملهم : ۱۵۹/۱).
٤) اوګورئ سنن ابی داود،کتاب الطلاق،باب فی البتة: ۲۶۳/۲،اوګورئ تکملة: ۱۶۰/۱).
۵) تکملة الملهم: ۱۶۰/۱).

دا دواړه روایات دحضرت ابن عباس رضی الله عنه نه منقول دی او حضرت ابن عباس رضی الله عنه خپله فتوی د طلقات ثلاث دوقوع ده. هرکله چه دهغه فتوی او بیان شوی روایت کښې تعارض راغلو نو ترجیح به فتوې ته ورکولې شی ځکه چه هغه دجمهورو مطابق ده، نو ابن المنذر رحمه الله لیکی چه:

«لایظن بابن عباس رضی الله عنه انه یحفظ عن النبی صلی الله علیه وسلم شیئا ویفتی بخلافه فیتعین المصیر الی الترجیح، والاخذ بقول الاکثر اولی من الاخذ بقول الواحد اذا خالفهم»(۱)

دحضرت ابن عباس رضی الله عنه دا فتوی دمجاهد په طریق امام ابوداود رحمه الله په صحیح سند سره نقل کړې ده، مجاهد فرمائی چه:

«کنت عند ابن عباس، فجاءه رجل فقال انه طلق امراته ثلاثا، فسکت حتی ظننت ان سیردها الیه فقال ینطلق احدکم فیرکب الحموقة ثم یقول یا ابن عباس یا ابن عباس ان الله قال ومن یتق الله یجعل له مخرجا، وانکم لم تتق الله فلا اجدلك مخرجا عصیت ربك وبانت منك امراتك»(۲)

د جمهورو دلائل: ① امام بخاری رحمه الله په باب کښې چه کوم درې احادیث ذکر فرمائیلی دی دا درې واړه دجمهورو دلیل دی، نو په ړومبې روایت کښې دی چه «فطلقها ثلاثا قبل ان یامره رسول الله صلی الله علیه وسلم» دوئم روایت کښې دی چه امراة رفاعه وائی «ان رفاعة طلقنی فبت طلاقی» او دکتاب الادب روایت کښې دی چه «طلقنی اخر ثلاث تطلیقات» او دریم حدیث کښې هم د دریو طلاقو ذکر دې.

② حضرت حسن بن علی رضی الله عنه خپلې بی بی ته طلاق ورکړو، بیا دوی ته افسوس اوشو او وې فرمائیل چه:

«لولا انی سمعت جدی اوحدثنی ابی انه سمع جدی یقول ایما رجل طلق امراته ثلاثا عند الاقراء او ثلاثا مبهمة لم تحل له حتی تنکح زوجا غیره، لراجعتها»(۳)

③ په سنن دارقطنی کښې دحضرت عباده بن صامت رضی الله عنه نه روایت دې چه یوسړی خپلې بی بی ته زر طلاقونه ورکړل، دده ځونې دحضرت نبی کریم صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې حاضر شو اووې وئیل چه خمونږ پلار خمونږ مور ته زر طلاقونه ورکړل، نو په دې باندې حضرت نبی کریم صلی الله علیه وسلم او فرمائیل چه:

«ان اباکم لم یتق الله تعالی فیجعل له من امره مخرجا بانت بثلاث علی غیر السنة وتسعمائة وسبعة وتسعون اثم فی عنقه»(۴)

بیا که دا تسلیم کړې شی چه په عهد نبوی صلی الله علیه وسلم او عهد صدیقی رضی الله عنه کښې درې طلاقه بنیت تاکید یو شمیرلې شو او قضاءً به په دې کښې د طلاق ورکولو والا دقول اعتبار کولې شو،

---

۱) فتح الباری: ۹/۴۵۵).

۲) فتح الباری: ۹/ ۴۵۳).

۳) السنن الکبری للبیهقی، کتاب الخلع والطلاق باب /ماجاء فی مضاء الطلاق والثلاث: ۷/۳۳۶).

۴) اوګورئ سنن دارقطنی، کتاب الطلاق: ۴/ ۲۰، وقال الدار قطنی: رواته مجهولون وضعفا الاشیخینا ابن عبدالباقی)

خو دحضرت فاروق اعظم رضي الله عنه په زمانه كښې مطلقًا د درې طلاقو په وقوع باندې ا جماع مقررشوه،هغوىدا فيصله اوكړه چه درې طلاقه به واقع كيږى اګر كه په نيت دتاكيد سره وى. او ټولو صحابه كرامو رضي الله عنهم دا تسليم كړه. هيچا مخالفت اونكړو.نو امام طحاوى رحمه الله، حافظ ابن عبدالبر رحمه الله،ابن العربى رحمه الله،حافظ ابن حجر رحمه الله اوعلامه ابن الهمام رحمه الله د طلاق ثلاث باندې اجماع نقل كړې ده.(۱)

هم دا وجه ده دعربو سلفى علماء كرامو چه عمومًا علامه ابن تيميه او علامه ابن القيم اقوالو ته ترجيح وركوى،په دې مسئله كښې دوى سره اختلاف كړې دې،اوددوى دقول د اختيارولو په ځائې هغوى اتفاق سره دجمهور امت مطابق درې طلاقه په وقوع باندې فتوى وركړې ده .(۲)

«الطلاق مرتان فامساك بمعروف او تسريح باحسان»

امام بخارى رحمه الله دترجمة الباب دثبوت دپاره مذكوره آيت پيش كړې دې،په دې آيت كريمه كښې ترجمة الباب باندې دوه طريقو سره استدلال كيديشى.

① د «الطلاق مرتان» دوه معنې دى،«مرة بعد مرة» نو كله چه دوه طلاقه جمع كول جائز دى نو درې طلاقه هم جمع كول جائز كيدل پكار دى.(۳)
② ليكن په دې باندې اشكال كوى او علامه كرمانى رحمه الله فرمائى چه دا قياس مع الفارق دې،ځكه چه دوه طلاقونه جمع كولو سره حرمت مغلظه نه ثابتيږى،او د دريو طلاقو جمع كولو سره حرمت مغلظه واقع كيږى . ددې وجې په يوبل باندې قياس نه شى كولې.(۴)

دترجمة الباب دثبوت دپاره دويم استدلال داسې كيديشى چه «او تسريح باحسان» كښې د «تسريح» معنى دپريښودو.ده.دا عام ده،درې طلاقه وركولو سره هم شامل دى. چه دې سره د طلقات ثلاث دوقوع جواز معلوميږى.ددې د تائيد ابن ابى حاتم روايت نه كيږى چه حضرت نبى كريم صلى الله عليه وسلم په خدمت كښې يو سړې حاضر شو اوتپوس ئې اوكړو چه په «الطلاق مرتان» كښې الله ﷻ د دوؤ طلاق ذكر كړې دې د دريم طلاق ذكر چرته دې ؟حضرت نبى كريم صلى الله عليه وسلم فرمائې چه «او تسريح باحسان» دا دريم طلاق دې.(۵) ددې تفسير مطابق ترجمة الباب ثبوت باندې آيت كريمه نه استدلال بالكل واضح دې.

خود «اوتسريح باحسان» يوتفسيرد سدى رحمه الله نه منقول دې.دهغې مطابق تسريح يعنى د

---

۱) اوګورئ شرح معانى الاثار،باب الرجل،يطلق امراته اثلاثا معا : ۲۹/۲،وشرح موطاللزرقانى : ۱۶۷/۳، وفتح البارى: ۴۵۷/۹،وعمدة الاثاث: ۳۷).
۲) اوګورئ احسن الفتاوى: ۱۲۵/۴).
۳) عمدة القارى: ۲۳۴/۲۰).
۴) فتح البارى: ۴۵۷/۹).
۵) عمدة القارى: ۲۳۴/۲۰،وفتح البارى: ۴۵۷،۴۵۸/۹).

پرېښودو مطلب دادې چه ښځې ته دوه طلاقه ورکولو نه پس د عدت دتيريدو دپاره پرېښودې شي اورجوع دې اونکړې شي،دعدت دتيريدو نه پس ښځه به آزاده وی. د آيت کريمه معنی ده چه طلاق دوه ځله دې. دوه ځله طلاق ورکولو نه پس دوه صورتونه دی چه ياخودې رجوع اوکړی او دخپلې ښځې نکاح دې ايساره کړی. يا دې بيا رجوع نه کوی،عدت دې پوره کيدو ته پرېږدی. دعدت دپوره کيدو نه پس ښځه به آزاده وی. بيا دې نه پس په آيت کريمه کښې دخلع بيان دې،دې نه پس((فان طلقها))سره د دريم طلاق ذکر دې.(١)

ددې تفسير مطابق آيت کريمه نه په ترجمة الباب باندې استدلال درست نه دې.

قوله: وقال ابن الزبير في مريض طلق : لااري ان ترث مبتوتة: امام بخاری رحمه الله دحضرت عبدالله بن زبير دا اثر نقل کړې دی،چه ددې تعلق د امراة الفار سره دې .که چا خپلې ښځې ته په مرض الموت کښې طلاق ورکړو نو په دې صورت کښې به هغې ته فار ونيلې شي. دده ښځې ته به وراثت ملاويږی يا نه،په د ې کښې اختلاف دې.

د((امراة الفار حکم)): حضرات حنفيه فرمائی چه خاوند د ښځې په زمانه دعدت کښې مړ شوې دې نو بياخو به وراثت ملاويږی ليکن که دعدت تيريدونه پس مړشوې دې نو بيا به وراثت نه ملاويږی.

امام شافعی رحمه الله فرمائی چه د امراة الفار به وراثت نه وی . دخاوند انتقال که عدت کښې دننه شوې وی يا دعدت تيريدو نه پس وی.

امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائی چه ترکومې پورې د بل سړی سره نکاح نه وی کړې تر هغه وخته پورې به وارثه وی اوکه نکاح ئې اوکړه نو بيا به وارثه نه وی. ددوی په نيز دوراثت ملاويدو اونه ملاويدو مدار په بله نکاح سره دې،عدت باندې نه دې.

امام مالك رحمه الله فرمائی چه امراة الفار به مطلقاً وارثه وی،که هغه لس نکاحونه هم اوکړی او دادې پرله پسې ولې نه وی.(٢)

حضرت عبدالله بن زبير رضي الله عنه فرمائی چه وارثه به نه وی،دهغوی د تعليق امام عبدالرزاق موصولاً نقل کړې دې.(٣)

قوله: وقال الشعبي : ترثه: امام شعبی رحمه الله فرمائی چه امراة الفار به وارثه وی،ددوی دا تعليق سعيد بن منصور موصولاً نقل کړې دې.(۴)

قوله: وقال ابن شبرمة : تزوج اذاانقضت العدة قال نعم: ((تزوج))دا فعل مضارع دې، په اصل کښې تتزويج دې، يو تاء ئې تخفيفاً حذف کړې شوې ده .. حرف داستفهام په دې ځائې کښې محذوف دې.(۵) قاضی ابن شبرمه حضرت شعبی رحمه الله ته اووئيل چه آيا دا

---

١) فتح الباري: ٩/٤٥٨).

٢) مذاهب مذکوره تفصيل دپاره اوګورئ: الابواب والتراجم: ١)

٣) فتح الباري: ٩/٤٥٨).

٤) فتح الباري: ٩/٤٥٨).

٥) عمدة القاري: ٢/٢٣٤).

ښځه د عدت تيريدو نه پس واده كولې شى ؟شعبى رحمه الله اوفرمائيل چه((نعم))په دې باندې قاضى ابن شبرمه په شعبى رحمه الله باندې اعتراض اوكړو او وې وئيل چه((ان مات الزوج الاخر)) يعنى دا اووايه كه بل خاوند ئې فوت شى نو په دې ځائې كښې دا تعليق مختصر دې . په بل روايت كښې دى چه((فان مات هذا اومات الاول اترث زوجين))(١) يعنى كه دا دويم خاوند ئې هم مړ شو او ړومبې خاوند ئې هم مړ شونو آيا دا ښځه په دې صورتونو كښې د دواړو خاوندانو وارثه به وى؟ تاسو وائې چه هغه به دعدت نه پس هم وارثه وى نو اوس خو هغه د دويم خاوند هم وارثه شوه او اول هم . نو يو ښځه به د دوؤ خاوندانو وارثه وى.په دې باندې شعبى دخپل قول نه رجوع اوكړه اووې وئيل چه دعدت تيريدو نه پس به هغه وارثه نه وى.او هم دا دحنفيه مسلك دې چه دعدت تيريدو نه پس كه زوج اول مړشو نو د وراثت استحقاق به نه وى او كه دعدت تيريدو نه مخكښې مړشو نو چونكه دعقد تعلق شته دې اوس هم لهذا دې لره به وارثه ګنړلې شى.

[٤٩٥٩] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ اَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ اَنَّ سَهْلَ بْنَ سَعْدٍ السَّاعِدِيَّ اَخْبَرَهُ اَنَّ عُوَيْمِرًا الْعَجْلَانِيَّ جَاءَ اِلَى عَاصِمِ بْنِ عَدِيٍّ الْاَنْصَارِيِّ فَقَالَ لَهُ يَا عَاصِمُ اَرَاَيْتَ رَجُلًا وَجَدَ مَعَ امْرَاَتِهِ رَجُلًا اَيَقْتُلُهُ فَتَقْتُلُونَهُ اَمْ كَيْفَ يَفْعَلُ سَلْ لِي يَا عَاصِمُ عَنْ ذٰلِكَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَاَلَ عَاصِمٌ عَنْ ذٰلِكَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَرِهَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَسَائِلَ وَعَابَهَا حَتَّى كَبُرَ عَلَى عَاصِمٍ مَا سَمِعَ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا رَجَعَ عَاصِمٌ اِلَى اَهْلِهِ جَاءَ عُوَيْمِرٌ فَقَالَ يَا عَاصِمُ مَاذَا قَالَ لَكَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ عَاصِمٌ لَمْ تَاْتِنِي بِخَيْرٍ قَدْ كَرِهَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَسْاَلَةَ الَّتِي سَاَلْتُهُ عَنْهَا قَالَ عُوَيْمِرٌ وَاللَّهِ لَا اَنْتَهِي حَتَّى اَسْاَلَهُ عَنْهَا فَاَقْبَلَ عُوَيْمِرٌ حَتَّى اَتَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَسْطَ النَّاسِ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ اَرَاَيْتَ رَجُلًا وَجَدَ مَعَ امْرَاَتِهِ رَجُلًا اَيَقْتُلُهُ فَتَقْتُلُونَهُ اَمْ كَيْفَ يَفْعَلُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ اَنْزَلَ اللَّهُ فِيكَ وَفِي صَاحِبَتِكَ فَاذْهَبْ فَاْتِ بِهَا قَالَ سَهْلٌ فَتَلَاعَنَا وَاَنَا مَعَ النَّاسِ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا فَرَغَا قَالَ عُوَيْمِرٌ كَذَبْتُ عَلَيْهَا يَا رَسُولَ اللَّهِ اِنْ اَمْسَكْتُهَا فَطَلَّقَهَا ثَلَاثًا قَبْلَ اَنْ يَاْمُرَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
قَالَ ابْنُ شِهَابٍ فَكَانَتْ تِلْكَ سُنَّةَ الْمُتَلَاعِنَيْنِ [ر: ٤١٣].

دا د لعان متعلق دحضرت عويمر عجلانى رضى الله عنه روايت دې،په دې باندې مخكښې باب اللعان كښې بحث رازى.

امام بخارى رحمه الله په دې ځائې كښې دا په دې وجه ذكر كړې دې چه دحضرت عويمر رضى الله عنه

---

١) فتح البارى: ٤٥٨/٩).

خپلې بی بی ته دریو طلاقو ورکولو ذکر دې،دروایت په آخر کښې دی چه((فطلقها ثلاثا قبل ان یامره رسول الله ﷺ))د دې جملې نه امام بخاری رحمه الله په((جمع بین الطلقات الثلاث))باندې استدلال کړې دې.

یو اشکال او دهغې جواب: په دې ځائې کښې دا اشکال کیدیشی چه د امام شافعی رحمه الله په مسلك باندې لعان نه فرقت واقع کیږی‌اود طلاق مقصود حاصلیږی ،نو بیا ددوی دمذهب مطابق‌حضرت عویمر رضی الله عنه‌طلاق خو بې محل دې.

ددې جواب دادې چه امام بخاری د امام شافعی رحمه الله په مسلك باندې دخپل استدلال بنیاد اینبودی نه دی. دامام مقصد دادې چه‌حضرت عویمر رضی الله عنه دحضرت نبی کریم ﷺ په مخکښې درې طلاقه ورکړل،او حضرت نبی کریم ﷺ هیڅ نکیر اونه فرمانیلو نو معلوم شو چه‌په یو وخت کښې درې طلاقه ورکول جائز دی.(۱)

[۴۹۶۰] حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عُفَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنِي اللَّيْثُ قَالَ حَدَّثَنِي عُقَيْلٌ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ أَخْبَرَنِي عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ أَنَّ عَائِشَةَ أَخْبَرَتْهُ أَنَّ امْرَأَةَ رِفَاعَةَ الْقُرَظِيِّ جَاءَتْ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ رِفَاعَةَ طَلَّقَنِي فَبَتَّ طَلَاقِي وَإِنِّي نَكَحْتُ بَعْدَهُ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ الزَّبِيرِ الْقُرَظِيَّ وَإِنَّمَا مَعَهُ مِثْلُ الْهُدْبَةِ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَعَلَّكِ تُرِيدِينَ أَنْ تَرْجِعِي إِلَى رِفَاعَةَ لَا حَتَّى يَذُوقَ عُسَيْلَتَكِ وَتَذُوقِي عُسَيْلَتَهُ

امام بخاری رحمه الله دا حدیث په دې ځائې کښې‌ذکرکړې دې ځکه چه‌په دې کښې دی چه((ان رفاعة طلقنی فبت طلاقی))کښې یو احتمال خودادې چه‌هغه((انت طالق البتة))الفاظ سره طلاق ورکړې وو.

دویم احتمال دادې چه‌ده درې طلاق په یو ځائې ورکړې وو ځکه چه‌دریو طلاقو سره عصمت نکاح قطع کیږی.

ددې دویم احتمال صورت کښې ترجمة الباب ثابتیږی.

دریم‌احتمال دادې چه‌ده درې طلاقه‌بیل بیل متفرق طور سره ورکړل. ددې دریم احتمال تائید یوبلې طریقې سره کیږی چه کوم ا مام مخکښې په کتاب الأدب کښې ذکر کړې دې،په دې کښې دی چه((طلقنی اخر ثلاث تطلیقات))(۲) نو په دې صورت به دا ونیلې شی چه دامام‌بخاری مقصد ترجمة الباب نه دوه ځیزونه‌ثابتول دی.

یو خودا وئیل غواړی که درې طلاقه یو ځائې ورکړې شی نو ددې اعتبار به کولې شی،د رومبی حدیث نه دا ثابت شو اودویم نه دا ثابتول غواړی چه‌درې طلاقه ورکول کښې څه کراهت نشته دې لکه ځنګه چه امراة رفاعه قصه کښې دی.

---

۱) فتح الباری: ۴۵۹/۹).
۲) فتح الباری: ۴۵۹/۹).

[۴۹۶۱] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ قَالَ حَدَّثَنِي الْقَاسِمُ بْنُ مُحَمَّدٍ عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَجُلًا طَلَّقَ امْرَأَتَهُ ثَلَاثًا فَتَزَوَّجَتْ فَطَلَّقَ فَسُئِلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَحِلُّ لِلْأَوَّلِ قَالَ لَا حَتَّى يَذُوقَ عُسَيْلَتَهَا كَمَا ذَاقَ الْأَوَّلُ

ددې حديث مناسبت دترجمة الباب سره بالكل واضح دى.

۴=بَاب مَنْ خَيَّرَ نِسَاءَهُ

وَقَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى قُلْ لِأَزْوَاجِكَ إِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا وَزِينَتَهَا فَتَعَالَيْنَ أُمَتِّعْكُنَّ وَأُسَرِّحْكُنَّ سَرَاحًا جَمِيلًا [ر: الاحزاب۲۸].

[۴۹۶۲] حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصٍ حَدَّثَنَا أَبِي حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ حَدَّثَنَا مُسْلِمٌ عَنْ مَسْرُوقٍ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ خَيَّرَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاخْتَرْنَا اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَلَمْ يَعُدَّ ذَلِكَ عَلَيْنَا شَيْئًا

[۴۹۶۳] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا عَامِرٌ عَنْ مَسْرُوقٍ قَالَ سَأَلْتُ عَائِشَةَ عَنِ الْخِيَرَةِ فَقَالَتْ خَيَّرَنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفَكَانَ طَلَاقًا قَالَ مَسْرُوقٌ لَا أُبَالِي أَخَيَّرْتُهَا وَاحِدَةً أَوْ مِائَةً بَعْدَ أَنْ تَخْتَارَنِي

كه يو سړى خپلې ښځې ته اختيار ورکړواو وې وئيل چه«اختارى نفسك»نو په دې صورت كښې به دود احتماله وى يا خو به هغه ښځه خپل خاوند اختياروى او يا به خپل نفس اختياروى.

كه هغه خپل خاوند اختياروى نو آئمه اربعه او جمهور علماء كرام فرمائى چه په دې صورت كښې به طلاق نه وى واقع .(۱)

البته حضرت على ﷺ نه منقول دى چه په دې صورت كښې به يو طلاق رجعى واقع شى اود حضرت زيد بن ثابت په نيز به په دې صورت كښې يو طلاق بائن واقع وى.(۲)

امام بخارى ﷺ دا ترجمه قائم كړه او ددې نقطه نظر ترديدئې اوكړو اودا وئيل غواړى چه ښځه خاوند لره اختيار وركړى نو طلاق به واقع نه وى ځكه چه حضرت نبى كريم ﷺ خپل ازواج اختيار كړى وو،او ددې اختيار نه پس كله چه ازواج حضرت نبى كريم ﷺ لره اختيار كړو نو طلاق واقع نه شو.نو دباب په ړومبى حديث كښې حضرت عائشه ﷺ فرمائى چه حضرت رسول الله ﷺ چه كله مونږ ته اختيار راكړو او مونږ الله او دهغه رسول ﷺ اختيار كړو نو دا په طلاق اونه شميرلې شو.

اود باب په دوئم حديث كښې فرمائى چه مونږ حضرت نبى كريم ﷺ لره اختيار كړې وو نو آيا زمونږ حضرت نبى كريم ﷺ لره اختيارول طلاق وو ؟ استفهام انكارى دې، يعنى جوړ

۱) فتح البارى: ۹/۴۶۰).

۲) فتح البارى :۹/۴۶۰ وعمدة القارى: ۲۰/۲۳۸).

نشو، معلوم شو چه تخيي زوج لره طلاق گڼل درست نه دی.
دويم احتمال دادې چه هغه خپل ځان اختيارکړی،خاوند لره اختيار نه کړی په دې صورت کښې د امام مالك رحمه الله په نيز درې طلاقه واقع کيږی . (١)

دحنفيه په نزد يو طلاق به واقع کيږی. (٢)
دامام شافعی او امام احمد په نيز به يو طلاق رجعی واقع وی.(٣)
قوله: قال مسروق لاابالی اخيرتها واحدة ومائة بعد ان تختارنی: دباب د دويم روايت راوی مسروق فرمائی چه ښځه ما اختيار کړی نو دې نه پس ځما هيڅ پرواه نشته دې ما يو ځل اختيارورکړې وو يا سل ځل .
دا تعليق نه دې بلکه ماقبل سند سره موصول دی.(۴)

٥=بَاب إِذَاقَالَ فَارَقْتُكِ أَوْسَرَّحْتُكِ أَوْالْخَلِيَّةُ أَوْالْبَرِيَّةُ أَوْمَاعُنِيَ بِهِ الطَّلَاقُ فَهُوَعَلَى نِيَّتِهِ

وَقَوْلُ اللَّهِ عَزَّوَجَلَّ وَسَرِّحُوهُنَّ سَرَاحًا جَمِيلًا[الاحزاب: ٤٩] وَقَالَ وَاسَرِّحْكُنَّ سَرَاحًا جَمِيلًا[الاحزاب: ٢٨] وَقَالَ فَامْسَاكٌ بِمَعْرُوفٍ اوْتَسْرِيحٌ بِإِحْسَانٍ[البقرة: ٢٢٩] وَقَالَ اوْفَارِقُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ[الطلاق: ٢] وَقَالَتْ عَائِشَةُ قَدْ عَلِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انَّ ابَوَيَّ لَمْ يَكُونَا يَأْمُرَانِي بِفِرَاقِهِ[ر٥٠٧٤].
امام بخاری رحمه الله د طلاق صريح مسئلې بيانولو نه پس اوس د طلاق کنائی بيان کوی.
د طلاق صريح الفاظ: د طلاق صريح متعلق د حضرات آئمه اختلاف دې چه شريعت کښې ددې دپاره کوم الفاظ مخصوص دی.
دحضرات دليل حنفيه نقطه نظريه ده چه‌هم يو لفظ د طلاق صريح د پاره مخصوص دې او هغه دې لفظ د«طلاق»(٥)هم دا دامام شافعی رحمه الله قول قديم دې(٦) قاضی عبدالوهاب مالکی هم دا لفظ‌اختيارکړې دې(٧) اوعلامه احمد مالکی رحمه الله په خپل مختصرکښې هم دا د مالکيه مسلك نقل کړې دې(٨) حنابله کښې ابوعبدالله ابن حامدهم دااختيارکړې دې(٩)

---

١) تکملة الملهم:١/١٧٣) .
٢) تکملة فتح المهلهم : ١/١٧٣).
٣) المغنی لابن قدامة : ٧/١٤٢، وتکملة فتح الملهم: ١/١٧٣).
٤) عمدة القاری: ٢٠/٢٣٨).
٥) عمدة القاری: ٢٠/٢٣٨).
٦) فتح الباری: ٩/٤٦٢،عمدة القاری: ٢٠/٢٣٨).
٧) فتح الباری : ٩/٤٦٢،عمدة القاری: ٢٠/٢٣٨).
٨) هذا الکتاب ليس موجود لدينا).
٩) المغنی لابن قدامة،کتاب الطلاق : ١٠/١٤ . المغنی لابن قدامة کتاب الطلاق،باب تصريح الطلاق وغيره: ٧/٢٩٤).

اوعلامه موفق حنبلى رحمة الله عليه دې لره راجح گرځلى دى .(١)
د امام شافعى رحمه الله قول جديد دادې چه طلاق صريح دپاره درې الفاظ خاص دى .
① طلاق ② فراق ③ سراح (٢)
ليكن امام بخارى رحمه الله د فراق او سراح الفاظ په طلاق كښې نه شميرى اووديې وجه داده چه دا دواړه الفاظ چه څنګه دطلاق معنى كښې استعماليږى داشان غيرطلاق دپاره هم استعماليږى.

ترجمة الباب كښې امام بخارى رحمه الله فرمائى كه يوسړې خپلې ښځې ته «فارقتك» يا «سرحتك» اووائى يا «انت الخلية» يا «انت البرية» اووائى يا څه بل لفظ اووائى چه هغې نه مراد طلاق اخستې شى نو په دې كښې به د هغه دنيت اعتبار وى، كه نيت ئې واقع دطلاق وى نو طلاق به واقع شى او كه د طلاق واقع كيدو نيت ئې نه وو نو طلاق به نه واقع كيږى.
دكنايات طلاق په سلسله كښې هم دا مسلك دحضرات حنفيه، شافعيه، او حنابله دې، نو حافظ ابن حجر رحمه الله په دې سلسله كښې ضابطه ليكلې ده چه :

«وضابط ذالك ان كل كلام افهم الفرقة ولو مع دقته يقع به الطلاق مع القصد فاما اذا لم يفهم الفرقة من اللفظ فلا يقع الطلاق ولو قصد اليه كما لو قال : كلى، او اشربى او نحو ذالك» (٣)
دحضرات مالكيه په نيز د كنايه دوه قسمونه دى. ① كنايات ظاهره ② كنايات خفيه .
كنايات ظاهره دهغوى په نيز بغير دنيت نه طلاق واقع كيږى .لكه «انت بتة، حبلك على غاربك»
البته كنايات خفيه كښې بغير دنيت نه طلاق نه واقع كيږى لكه «انت حرة، اذهبى، اعرلى» (٤)
په دې خائې كښې ددې خبرې لحاظ ساتل پكار دى چه دالفاظ دكنايات نه دطلاق وقوع دپاره د نيت ضرورت وى . ليكن دلالت الحال هم كه ددې خبرې دپاره قرينه جوړيږى چه په دې خائې كښې د طلاق واقع كيدل مقصود وو نو په دې وخت كښې به هم طلاق واقع شى .
لكه څنګه چه د غضب او غصې په خالت كښې يا مذاكره طلاق يا ښځې د طلاق مطالبه اوكړه نوداسې صورت كښې كه دكنايه لفظ استعمال كړې شى نودې سره به طلاق واقع شى.(٥)
كنايه سره به كوم يو طلاق واقع كيږى؟ : بيا په دې الفاظو سره به كوم يو طلاق واقع كيږى، طلاق بائن يا طلاق رجعى؟ صاحب هدايه ليكى چه دكنايه دوه قسمونه دى، درې الفاظ خو داسې دى چه دې سره به صرف يو طلاق رجعى واقع كيږى او هغه دادى چه «اعتدى، استبرى رحمك، انت واحدة» دويم قسم ددې نه علاوه باقى الفاظ دكنايات دى، دې سره به يو طلاق بائن

---

١) المغنى لابن قدامة كتاب الطلاق: ٧/ ٢٩٤).
٢) فتح البارى: ٩/ ٤٦٢.اوجز المسالک : ١٠/ ١٤.كتاب الطلاق، باب ماجاء فى الخلية).
٣) فتح البارى: ٩/ ٤٦٤).
٤) اوجز المسالک كتاب الطلاق باب ماجاء فى الخلية والبرية: ١٠/ ١٦،١٥).
٥) اوجزالمسالک كتاب الطلاق : ٧/ ٢٩٨،والهداية (مع فتح التقدير) كتاب الطلاق: ٣/ ٣٩٧).

واقع کيږي، که چا دې سره ددريو نيت اوکړو نو درې به واقع شي او که د دوو نيت ئې اوکړو نو يو به واقع شي:(۱)

قوله: وقالت عائشه: قد علم النبي ﷺ ان ابوي لم يكونا يامراني بفراقه: داحديث دتخيير حصه ده، چه په كتاب النكاح كښې باب موعظة الرجل لاندې تيره شوې ده. په دې كښې فراق نه طلاق مراد دې، ددې وجې امام بخاري رحمه الله په دې ځائې كښې ذكركړې دې (۲)فراق كنايات كښې دې.

۶= باب من قال لامرأته أنت علي حرام

وَقَالَ الْحَسَنُ نِيَّتُهُ وَقَالَ اهْلُ الْعِلْمِ اذَا طَلَّقَ ثَلَاثًا فَقَدْ حَرُمَتْ عَلَيْهِ فَسَمَّوْهُ حَرَامًا بِالطَّلَاقِ وَالْفِرَاقِ وَلَيْسَ هٰذَا كَالَّذِي يُحَرِّمُ الطَّعَامَ لِانَّهُ لَا يُقَالُ لِطَعَامِ الْحِلِّ حَرَامٌ وَيُقَالُ لِلْمُطَلَّقَةِ حَرَامٌ وَقَالَ فِي الطَّلَاقِ ثَلَاثًا لَا تَحِلُّ لَهُ حَتّٰى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ

وَقَالَ اللَّيْثُ حَدَّثَنِي نَافِعٌ قَالَ كَانَ ابْنُ عُمَرَ اذَا سُئِلَ عَمَّنْ طَلَّقَ ثَلَاثًا قَالَ لَوْ طَلَّقْتَ مَرَّةً اوْ مَرَّتَيْنِ فَانَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ امَرَنِي بِهٰذَا فَانْ طَلَّقْتَهَا ثَلَاثًا حَرُمَتْ حَتّٰى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَكَ

که يوسړې خپلې ښځې ته اووائى چه((انت على حرام))نو ددې څه حکم دې ؟ددې حکم متعلق سلفو کښې اختلاف دې ډير لوئې،او علامه قرطبي رحمه الله فرمائى چه په دې کښې اتلس قولونه دى.(۳)

دحضرات حنفيه په نيز مسئله داده که هغه ددې جملې نه دايلاء اظهار کړې وى،يو طلاق بائن يا د درې طلاقونو نيت ئې اوکړو نو دده نيت به معتبر وى،او چه دکوم څيز ده نيت کړې دې هغه به واقع کيږى البته که ده د دوؤ طلاق د وقوع نيت اوکړو نودوه طلاقه به واقع نه وى،يو طلاق به واقع کيږى او که ده د څه څيز هم نيت اونکړو نوداسې صورت کښې دمتقدمينو حنفيه په نيز ايلاء به وى او دمتاخيرينو په نيز به يوطلاق بائن واقع وى،فتوى دمتاخرينو په قول باندې ده.(۴)

دامام شافعي رحمه الله په نيز که ويونکى ددې نه د طلاق نيت وى نو طلاق به واقع کيږى،ګنى بيا يمين دې اوکفاره ديمين به دې ورکوى.(۵)

امام مالك رحمه الله که هغه غير مدخول بهادې نو بيا خاوند چه کوم نيت کوى نو ددې مطابق فيصله به کيږى.(۶)

---

۱) والهداية (مع فتح التقدير) كتاب الطلاق: ۳۹۸/۳).
۲) فتح الباري: ۴۶۴/۹).
۳) فتح الباري: ۴۶۵/۹).
۴) رد المختار،باب الايلاء : ۴۳۴/۳،وتكملة فتح الملهم : ۱۶۲/۱).
۵) شرح مسلم للنووي: ۴۷۸/۲،وفتح الباري: ۴۶۵/۹).
۶) اوجزالمسالک ،كتاب الطلاق،باب ماجاء فى الخلية: ۲۲/۱۰،وشرح الزرقاني: ۱۶۹/۳).

امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائی که ویونکی څه نیت اونکړو نو ظهار به وی اوکه دطلاق نیت ئې اوکړو نو دده مشهور قول دادې چه په دې صورت کښې به هم ظهار وی او یو قول دادې چه طلاق به واقع نه وی.(۱)
دربیعه، شعبی، اصبغ مالکی په نیز داسې صورت کښې به هیڅ واقع نه وی. (۲)

قوله: وقال الحسن : نیته: امام بخاري رحمه الله دخپل طرفنه فیصله نه ده کړې بلکه د حضرت حسن بصری رحمه الله اثر ئې نقل کړې دې چه «انت علی حرام» د ویونکی دنیت اعتبار به وی، امام بخاری رحمه الله ددوی اثر نقل کوی او غالبًا دې طرفته ئې اشاره کړې ده چه ددوی په نیزهم دامختاردی اوهم دا دحنفیه او شافعیه مسلك دې لکه څنګه چه مخکښې تیر شو.
عبدالرزاق دا تعلیق موصولاً نقل کړې دې.(۳)

قوله: وقال اهل علم : اذا طلق ثلاثاً فقد حرمت علیه فسموه حراماً بالطلاق والفراق: امام بخاری رحمه الله دا دبعض اهل علم قول نقل کړې دې چه "په حقیقت کښې د دې حضراتودلیل ذکر فرمائی چه هغوی وائی چه «انت علی حرام» نه درې طلاقه واقع کیږی لکه امام مالك رحمه الله هغه فرمائی چه کله سړې درې طلاقه ورکړی نو ښځه پرې حرامه شی. او خلق دې ته حرام بالطلاق او حرام بالفراق وائی، اوس که یو سړی درې طلاقه ورنکړل لیکن د دریو طلاقو چه کوم اثراونتیجه وی دا په خپله ژبه ادا کړی «انت علی حرام» اووائی نو ددې تقاضا داده چه درې طلاق واقع کیږی.

قوله: ولیس هذا کالذی یحرم الطعام لانه لایقال للطعام الحل : حرام ویقال للمطلقة : حرام: یعنی تحریم مراة او تحریم طعام کښې فرق دې، تحریم مراة نو موثر دې او تحریم طعام موثر نه دې، ددې وجې درې طلاقه واقع کیدو نه پس مطلقه خاوند دپاره حرام ګنړلې شوی دی خو طعام لره حرام نه دی ګڼولې شوی. که یو سړې اووائی چه «هذا الطعام علی حرام» نو ددې هیڅ اعتبار نشته دې اوهغه طعام ده دپاره نه حرامیږی.

داد امام شافعی رحمه الله او امام مالك رحمه الله مسلك دې چه «هذا الطعام علی حرام» اعتبار به نه وی اودا کلام به لغو ګنړلې شی.(۴) ددې مطابق امام بخاری رحمه الله فرمائی چه تحریم طعام موثر نه دې، امام ابو حنیفه رحمه الله او امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائی چه داسې صورت کښې دا الفاظ به دیمین ګنړلې شی اوکفاره یمین په ده باندې واجب ده.(۵)

---

۱) اوجز المسالک: ۲۳/۱۰).
۲) فتح الباری: ۴۶۵/۹).
۳) عمدة القاری: ۲۳۹/۲۰).
۴) الابواب والتراجم : ۷۸/۲).
۵) الابواب والتراجم : ۷۸/۲).

قوله: وقال في الطلاق ثلاثا لا تحل له حتى تنكح زوجا غيره: درې طلاقو متعلق الله ﷻ فرمائي چه((لا تحل له حتى تنكح زوجا غيره))،د عدم حل مطلب دادې چه حرام كيدل خو معلوم شو درې طلاقو سره حرمت غليظه واقع كيږي. لهذا كه چا((انت على حرام)) اووئيل چه كوم ددې درېو طلاقو اثر او نتيجه ده نو درې طلاقه واقع كيدل پكار دی او هم دامسلك دامام مالك رحمه الله دې،هركله چه ښځه مدخول بهاوی لكه څنګه چه تيرشو.

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه امام بخاری رحمه الله دتحريم طعام اوتحريم مراة كښې فرق بيان كړې دې،په حقيقت كښې ئې ددې حضراتو ترديد كړې دې چه((انت على حرام))ته لغوه ګنړی او وائی چه ددې نه طلاق نه واقع كيږي لكه څنګه چه اصبغ مالكي وائی.

قوله: وقال الليث عن نافع: حضرت ابن عمر فاروق رضي الله عنهما نه كله د دريو طلاقو متعلق تپوس اوشو نوهغه فرمائي چه دوي يو يا دوه طلاقونه وركړل نو حضرت نبی كريم ﷺ ماته ددې نه درجوع حكم وركړې وو. ليكن كه درې طلاقونه ئې وركړل نو ښځه به حرامه وی تر دې پورې چه دده نه سوا بل چاسره نكاح اوكړي.

قوله: لو طلقت مرة او مرتين فان النبی ﷺ امرنی بهذا: په دې كښې((امرنی بهذا))نه طلاق وركول مراد نه دی بلكه دطلاق نه رجوع وركولو حكم مراد دی.(١) نودا حديث په كتاب الطلاق په شروع كښې تفصيل سره تيرشوې دې چه حضرت نبی كريم ﷺ حضرت ابن عمر رضي الله عنهما ته درجوع كولو حكم وركړې وو.

دا تعليق امام بخاری رحمه الله ذكر فرمائيلې دې څكه چه په دې كښې دطلاق نه پس دحرمت ذكر دې ،معلوم شو چه كه څوك((انت على حرام))وائی نو درې طلاقه واقع كيږي څكه چه حرمت هم ددې اثر او نتيجه ده.

[٤٩٦٤] حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ حَدَّثَنَا اَبُومُعَاوِيَةَ حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ عَنْ اَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ طَلَّقَ رَجُلٌ امْرَاَتَهُ فَتَزَوَّجَتْ زَوْجًا غَيْرَهُ فَطَلَّقَهَا وَكَانَتْ مَعَهُ مِثْلُ الْهُدْبَةِ فَلَمْ تَصِلْ مِنْهُ اِلَى شَيْءٍ تُرِيدُهُ فَلَمْ يَلْبَثْ اَنْ طَلَّقَهَا فَاَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ اِنَّ زَوْجِي طَلَّقَنِي وَاِنِّي تَزَوَّجْتُ زَوْجًا غَيْرَهُ فَدَخَلَ بِي وَلَمْ يَكُنْ مَعَهُ اِلَّا مِثْلُ الْهُدْبَةِ فَلَمْ يَقْرَبْنِي اِلَّا هَنَةً وَاحِدَةً لَمْ يَصِلْ مِنِّي اِلَى شَيْءٍ فَاَحِلُّ لِزَوْجِي الْاَوَّلِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَحِلِّينَ لِزَوْجِكِ الْاَوَّلِ حَتَّى يَذُوقَ الْآخَرُ عُسَيْلَتَكِ وَتَذُوقِي عُسَيْلَتَهُ [ر:٢٤٩٦].

په دې روايت كښې امراة درفاعه قصه بيان شوې ده،ددې پوره تفصيل مخكښې باب((اذا طلقها ثلاثا بعد العدة))كښې رازی((هنة واحدة يعنى((مرة واحدة))

((امراة رفاعه))ته درې طلاق وركړې شوی وو،او دې اول خاوند طرفته دورتګ دپاره دې

---

١) فتح الباري: ٤٦٧/٩)

حضرت نبى كريم ﷺ نه تپوس اوكړو ((افاحل لزوجى الاول)) نو حضر نبى كريم ﷺ اوفرمائيل چه ((لا تحلين لزوجك الاول حتى يذيق الاخر عسيلتك)) نو حلاله شرعيه نه بغير دوى ورته درې طلاقو باندې عدم اطلاق اوفرمائيل، عدم حل حرمت لره مستلزم دې، درې طلاقه وركولو سره حرمت ثابتيږى.

نو كه چا ((انت على حرام)) اووئيل نو ددې نه درې طلاقه واقع كيدل پكار دى ځكه چه حرمت د درېو طلاقو نتيجه او اثر دې، اوده ددې اثر دپاره وضع شوى لفظ لره استعمال كړل او طلاق ئې وركړو. نو ابن بطال رحمه الله فرمائى چه :

((والى هذه الحجة اشار البخارى بايراد حديث رفاعة لانه طلق امراته ثلاثا فلم تحل له مراجعتها الا بعد زوج فكذالك من حرم على نفسه امراته فهو كم طلقها)) (١)

دامام بخارى رحمه الله رائې : شارح بخارى ابن بطال رحمه الله فرمائى چه د امام بخارى رحمه الله رائې داده چه تحريم په منزله د طلقات ثلاث دې. او د مدخول بها متعلق امام مالك هم دا مسلك دې او ماقبل كښې تشريح هم ددې مطابق كړې شوې ده.

ليكن حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه دامام بخارى رحمه الله رائ داده چه داسې صورت كښې د قائل دنيت به اعتبار وى، هغه ((انت على حرام)) نه چه دكوم څيز نيت كوى هغه به واقع كيږى، او هم دا مسلك دحنفيه مسلك دې ځكه چه امام دټولو نه مخكښې دحضرت حسن بصرى رحمه الله اثر ((نيته)) نقل كړې دې او د امام بخارى رحمه الله عادت دادې چه اختلافى مسائلو كښې دهغه صحابى يا تابعى اثر دټولو نه مخكښې نقل كړى اودغه دامام مذهب مختار دې، نو حافظ ليكى چه :

((والذى يظهر من مذهب البخارى ان الحرام ينصرف الى نية القائل ولذالك صدر الباب بقول الحسن بصرى، هذه عادته فى موضع الاختلاف مهما صدر به من النقل عن صحابى اوتابعى فهو اختياره)) (٢)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه تحريم طلقات ثلاث نه علاوه هم موندې شى، لكه غير مدخول بها كښې يو طلاق سره حرمت ثابتيږى . طلاق بائن كښې هم عقد جديد بغير حرمت ثابتيږى، طلاق رجعى كښې هم عدت تيريدو نه پس حرمت ثابتيږى ، معلوم شو چه تحريم طلقات ثلاث كښې منحصر نه دې، داشان تحريم عام دې، او طلقات ثلاث خاص، نو عام نه دخاص وجود باندې څنګه استدلال كولې شى، ځكه چه عام خاص لره مستلزم نه دې، (٣)

ليكن د امام بخارى رحمه الله چه كومه رائې حافظ ابن حجر رحمه الله بيان كړې دې په دې باندې اشكال داكيږى چه په دې صورت كښې امام حديث رفاعه ددې ترجمة الباب لاندې د ذكر كولو څه ضرروت راپيښ شو او د دواړو په مينځ كښې مناسبت دې، ابن بطال دامام

---

(١) فتح البارى: ٤٦٧/٩).
(٢) فتح البارى: ٤٧٧/٩).
(٣) فتح البارى: ٤٦٨/٩).

بخاري رحمه الله مسلك بيان کړې دې،ددې مطابق د دوارو په مينځ کښې څه مناسبت او حديث نه داستدلال تفصيل ماقبل کښې بيان کړې شوې دې . ليکن دحافظ بيان شوې رائې په صورت کښې مناسبت ظاهر نه دې،نوحضرت شيخ الحديث مولانا زکريا ليکي:

((وكان رايي اولا فى ذالك ماذهب اليه الحافظ من ان ميل البخارى الى قول الحسن كما هو الظاهر من صنيعه لكن النظر الدقيق يشعر الى انه مال الى قول مالك للروايات المرفوعة الواردة فى الباب ولم يقتصر البخارى على قول الحسن فقط بل ذكر فى الترجمة اقوالا اخر ايضا))(١)

٧=بَابٌ لِمَ تُحَرِّمُ مَا أَحَلَّ اللَّهُ لَكَ [ر: التحريم١].

[٤٩٦٥] حَدَّثَنِي الْحَسَنُ بْنُ صَبَّاحٍ سَمِعَ الرَّبِيعَ بْنَ نَافِعٍ حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ عَنْ يَعْلَى بْنِ حَكِيمٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ أَنَّهُ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ سَمِعَ ابْنَ عَبَّاسٍ يَقُولُ إِذَا حَرَّمَ امْرَأَتَهُ لَيْسَ بِشَيْءٍ وَقَالَ لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ [ر: ٤٦٢٧].

قوله: ربيع بن نافع: د ربيع بن نافع كنيت ابو توبه دې،دې په خپل كنيت سره مشهور دې،د حلب اوسيدونكې دې،امام بخاري رحمه الله دهغوى په زمانه كښې وو، ليكن دملاقات متعلق ابن حجر رحمه الله فرمائي چه ماته معلوم نشو چه ملاقات ئې شوې دې كه نه ؟ . امام بخارى رحمه الله باب حديث حسن بن صباح په واسطه سره ددوى نه نقل كوى اومزارعت كښې د هغوى دا تعليق ذكر كړې دې،صحيح بخارى كښې دهغوى صرف دا دوه روايتونه دى يو تعليقًا او يوموصولاً.(٢)

امام ابوداود دده بكثرت روايتونه اخستى دى،امام ترمذى نه علاوه باقى ا صحاب الصحاح دهغوى نه روايتونه نقل كړى دى. ددوى باره كښې وئيلې شو چه دوى دابدالونه وو. په كال ٢٤١ هجرئى كښې دوى وفات شو.(٣)

قوله: ابن عباس يقول:اذا حرم امراته ليس بشئ: حضرت ابن عباس رضي الله عنهما به فرمائيل كه يو سړې خپلې بى بى ته اوائى چه((انت على حرام)) نو هيڅ به نه وى او فرمائى چه ((لقد كان لكم فى رسول الله اسوة حسنة))ددې نه ماريه قبطيه طرفته ته اشاره دې،چه داامام نسائى دحضرت انس رضي الله عنه نه په صحيح سندسره نقل كړې دې چه حضرت نبى كريم ﷺ حضرت ماريه قبطيه لره په خپل ځان باندې حرامه كړې وه نو په دې باندې دا آيت نازل شو چه((ياايها النبى لم تحرم ما احل الله......))(٤) ددې نه استدلال كوى او حضرت ابن عباس رضي الله عنهما به

١) تعليقات لامع الدارى: ٣٥١/٩).
٢) فتح البارى: ٤٦٩/٩).
٣) اوګورئ تهذيب المكال: ١٠٦/٩،اوسيراعلام النبلاء: ٦٥٣/١٠وتذكرة الحفاظ : ٤٧٢/٢).
٤) ارشادالسارى: ٢٥/١٢).

فرمائیل چه‌تحریم مراة به موثر نه وی چه څنګه‌حضرت نبی کریم ﷺ تحریم ماریه لره قران پاك‌غیر موثر ګنړلې دې .

د((لیس بشیئ))معنی داده چه‌کیدیشی چه‌څه هم واقع نشی . نه طلاق نه یمین بلکه دا کلام لغو دې،او داهم احتمال دې چه ددې نه مراد طلاق دې یعنی تحریم امراه نه طلاق نه کیږی،دا دویم احتمال ته حضرت حافظ اقرب وئیلی دی،ځکه چه‌په کتاب التفسیر کښې د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما دا تعلیق تیرشوې دې،په دې کښې دی چه((فی الحرام یکفر))دا شان اسماعیلی ددوی نه نقل کړی دی چه((اذا حرم الرجل امراته فانما هی یمین یکفرها))نو((لیس بشیئ))کښې د طلاق نفی دې،د یمین نه ده.(۱)

حضرت کشمیری رحمه الله فرمائی چه‌دا حضرت ابن عباس رضی الله عنهما تفرد دې .(۲)

[۴۹۶۶] حَدَّثَنِي الْحَسَنُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ صَبَّاحٍ حَدَّثَنَا حَجَّاجٌ عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ قَالَ زَعَمَ عَطَاءٌ أَنَّهُ سَمِعَ عُبَيْدَ بْنَ عُمَيْرٍ يَقُولُ سَمِعْتُ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَمْكُثُ عِنْدَ زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ وَيَشْرَبُ عِنْدَهَا عَسَلًا فَتَوَاصَيْتُ أَنَا وَحَفْصَةُ أَنَّ أَيَّتَنَا دَخَلَ عَلَيْهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلْتَقُلْ إِنِّي أَجِدُ مِنْكَ رِيحَ مَغَافِيرَ أَكَلْتَ مَغَافِيرَ فَدَخَلَ عَلَى إِحْدَاهُمَا فَقَالَتْ لَهُ ذَلِكَ فَقَالَ لَا بَلْ شَرِبْتُ عَسَلًا عِنْدَ زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ وَلَنْ أَعُودَ لَهُ فَنَزَلَتْ يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَا أَحَلَّ اللَّهُ لَكَ إِلَى إِنْ تَتُوبَا إِلَى اللَّهِ لِعَائِشَةَ وَحَفْصَةَ وَإِذْ أَسَرَّ النَّبِيُّ إِلَى بَعْضِ أَزْوَاجِهِ لِقَوْلِهِ بَلْ شَرِبْتُ عَسَلًا [ر:۴۶۲۸].

قوله: فتواصیت انا وحفصة: حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی چه ما او حضرت حفصه رضی الله عنها یو بل ته وصیت اوکړو چه‌حضرت نبی کریم‌مونږ کښې چالره هم‌تشریف راوړی نو حضرت نبی کریم ﷺ ته دې اووئیلې شی چه((انی لاجد منك ریح مغافیر اكلت مغافیر؟))

نو حضرت نبی کریم ﷺ په دوی کښې یو کره تشریف یوړو(په روایت کښې تصریح نشته دې لیکن غالب دادی چه‌مراد ترې حضرت حفصه رضی الله عنها ده) .(۳)نو هغوی هغه جمله اووئیله نو حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه((لابل شربت عسلا عند زینب بنت جحش ولن اعودله))او د سورة تحریم‌په تشریح کښې‌دومره اضافه ده چه((وقد حلفت لاتخبری بذالك احدا))یعنی ما قسم خوړلې دې،اوس به څه دوباره شهد نه‌استعمالوم. نو په دې باندې (یاایها النبی لم تحرم مانه تر ان تتوبا الی الله........)پورې‌آیت نازل شو.

---

۱) فتح الباری: ۹/ ۴۷۰).
۲) فیض الباری: ٤/ ۳۱٤).
۳) فتح الباری: ۹/ ۴۷۲)

((ان تتوبا الى الله))((لعائشة وحفصة))يعني دتوبه دا قول دحضرت عائشه ﷺ او حضرت حفصه ﷺ دپاره وو،خکه مذکوره دې دواړو جوړه کړې وه.

قوله: واذا اسر النبي الى بعض ازواجه حديثا لقوله شربت عسلا: يعني د سورة تحريم دا مذکوره آيت هم دحضرت نبي کريم ﷺ دقول((شربت عسلا ...ولن اعود له ...))په وجه نازل شو،په آيت کښې چه دکومې سرګوشئ ذکر دې دهغې نه دحضرت نبي کريم ﷺ دا قول مراد دې.

[۴۹۶۷] حَدَّثَنَا فَرْوَةُ بْنُ اَبِي الْمَغْرَاءِ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ مُسْهِرٍ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ اَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحِبُّ الْعَسَلَ وَالْحَلْوَاءَ وَكَانَ اِذَا انْصَرَفَ مِنَ الْعَصْرِ دَخَلَ عَلَى نِسَائِهِ فَيَدْنُو مِنْ اِحْدَاهُنَّ فَدَخَلَ عَلَى حَفْصَةَ بِنْتِ عُمَرَ فَاحْتَبَسَ اَكْثَرَ مَا كَانَ يَحْتَبِسُ فَغِرْتُ فَسَاَلْتُ عَنْ ذَلِكَ فَقِيلَ لِي اَهْدَتْ لَهَا امْرَاَةٌ مِنْ قَوْمِهَا عُكَّةً مِنْ عَسَلٍ فَسَقَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْهُ شَرْبَةً فَقُلْتُ اَمَا وَاللَّهِ لَنَحْتَالَنَّ لَهُ فَقُلْتُ لِسَوْدَةَ بِنْتِ زَمْعَةَ اِنَّهُ سَيَدْنُو مِنْكِ فَاِذَا دَنَا مِنْكِ فَقُولِي اَكَلْتَ مَغَافِيرَ فَاِنَّهُ سَيَقُولُ لَكِ لَا فَقُولِي لَهُ مَا هَذِهِ الرِّيحُ الَّتِي اَجِدُ مِنْكَ فَاِنَّهُ سَيَقُولُ لَكِ سَقَتْنِي حَفْصَةُ شَرْبَةَ عَسَلٍ فَقُولِي لَهُ جَرَسَتْ نَحْلُهُ الْعُرْفُطَ وَسَاَقُولُ ذَلِكِ وَقُولِي اَنْتِ يَا صَفِيَّةُ ذَاكِ قَالَتْ تَقُولُ سَوْدَةُ فَوَاللَّهِ مَا هُوَ اِلَّا اَنْ قَامَ عَلَى الْبَابِ فَاَرَدْتُ اَنْ اُبَادِيَهُ بِمَا اَمَرْتِنِي بِهِ فَرَقًا مِنْكِ فَلَمَّا دَنَا مِنْهَا قَالَتْ لَهُ سَوْدَةُ يَا رَسُولَ اللَّهِ اَكَلْتَ مَغَافِيرَ قَالَ لَا قَالَتْ فَمَا هَذِهِ الرِّيحُ الَّتِي اَجِدُ مِنْكَ قَالَ سَقَتْنِي حَفْصَةُ شَرْبَةَ عَسَلٍ فَقَالَتْ جَرَسَتْ نَحْلُهُ الْعُرْفُطَ فَلَمَّا دَارَ اِلَيَّ قُلْتُ لَهُ نَحْوَ ذَلِكَ فَلَمَّا دَارَ اِلَى صَفِيَّةَ قَالَتْ لَهُ مِثْلَ ذَلِكَ فَلَمَّا دَارَ اِلَى حَفْصَةَ قَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ اَلَا اَسْقِيكَ مِنْهُ قَالَ لَا حَاجَةَ لِي فِيهِ قَالَتْ تَقُولُ سَوْدَةُ وَاللَّهِ لَقَدْ حَرَمْنَاهُ قُلْتُ لَهَا اسْكُتِي [ر:۴۹۱۸].

قوله: عُكَّةً مِنْ عَسَلٍ: ((عُكَّة))د خرمني جوړ شوې يو ګول لوښې به وو چه په هغې کښې به صرف شهد او غوړي ايښودلې شو .

((مَغَافِير)):دا د((مغفور))((بضم ا لميم))جمع ده.دا ګوند وی چه په دې کښې خوږوالئ وی،چه دا د((رمث))((بکسر الراء وسکون الميم))نومې ونې کښې وی . دې ونې لره اوښان خوروي،ځوائی چه((اغفر الرمث))کله چه په دې کښې دا ماده ظاهره شی((مغفور))کښې ميم امام دفراء په نيز زائد او دجمهورو په نيز اصل دې .(۱)

قوله: جَرَسَتْ نَحْلُهُ الْعُرْفُطَ: يعنی دې دشهدو مچئ به د عرفط رس چوپلې وی((جرست النحل العسل اذا الحسته))د شهدو د مچئ شهد ختل،چوپل،((عرفط))د هغه ونې نوم دې چه دې

---

۱) مذکوره تفصيل دپاره اوګورئ فتح الباري: ۴۷۲/۹).

گوند ته مغافیر وائی.(۱)

ابن قتیبه فرمائی چه دا یو نبات دې چه ددې ذائقه ترخه او بوئی نې خراب وی.ددې پاڼې نزدې نزدې وی.په دې کښې ازغی وی.اوددې میوه سپینه وی. (۲)

قوله: تَقُولُ سَوْدَةُ فَوَاللَّهِ مَا هُوَ إِلَّا أَنْ قَامَ عَلَى الْبَابِ فَأَرَدْتُ أَنْ أُبَادِيَهُ بِمَا أَمَرْتِنِي بِهِ فَرَقًا مِنْكِ: حضرت سوده رضی الله عنها حضرت عائشه رضی الله عنها ته اووئیل چه په خدائې حضرت نبی کریم صلی الله علیه وسلم دروازې ته تشریف راوړې وو چه ماستا دویرې په وجه حضرت نبی کریم صلی الله علیه وسلم سره دخبرو ابتدا کول غوښتل چه دکومې تاماته حکم راکړې وو.

((أباده))دا باب مفاعله مباداة نه دې((فرقا منك خوفا منك.فرق))ویرې ته وئیلې شی .

قوله: تَقُولُ سَوْدَةُ وَاللَّهِ لَقَدْ حَرَمْنَاهُ: حضرت سود رضی الله عنها اوفرمائیل چه مونږ حضرت نبی کریم صلی الله علیه وسلم دشهدو خوړلو نه منع کړو.حضرت عائشه رضی الله عنهااوفرمائیل چه خاموش شه .

((هسې نه چه راز ښکاره شی)).((حرمناه ای منعناه)).

تعارض روایات او ددې حل: په دې باب کښې دړومبی روایت نه معلومیږی چه حضرت نبی کریم صلی الله علیه وسلم به حضرت زینب رضی الله عنها سره شهد استعمالول. او په آخری روایت کښې دی چه حضرت نبی کریم صلی الله علیه وسلم حضرت حفصه رضی الله عنها سره استعمال کړی وو.

بعض حضرات تعدد واقعات باندې محمول کړې دې لیکن محققین علماء ړومبی روایت ته ترجیح ورکوی چه حضرت نبی کریم صلی الله علیه وسلم حضرت زینب رضی الله عنها سره شهد استعمال کړی وو،ددې تفصیل دکشف الباری په کتاب التفسیر کښې دسورت تحریم په تفسیر کښې تیرشوې دې.(۳)

د ترجمة الباب مقصد: حضرت شیخ الحدیث مولانا زکریا رحمه الله فرمائی چه ځما په نیزدترجمة الباب مقصد د آیتونو تفسیر دې چه ددې آیتونودپاه په احادیث باب کښې ذکر شوې قصو کښې شوې دې،ددې ورود امام بخاری رحمه الله ددې باب لاندې دواړه واقعات ذکرکړل،دتحریم مراه مسئله دبیانولو مقصد نه دی ځکه چه هغه مخکښې باب کښې بیان شوې ده .(۴)

ترجمة الباب په ظاهره د اصبغ مالکی مذهب تائید کوی،ددوی په نیز تحریم مطلقًا لغو دې که تحریم مراه وی یا تحریم طعام وشراب وی،نو باب کښې ذکر شوی دحضرت ابن عباس رضی الله عنهما روایت دتحریم مراة لغو کیدو اوباقی دوه روایتونو نه تحریم شراب(عسل)په لغو کیدو باندې دلالت کوی.

---

۱) فتح الباری: ۴۷۵/۹).

۲) فتح الباری : ۴۷۵/۹)

۳) اوګورئ کشف الباری: کتاب التفسیر: ۶۸۵).

٤) الابواب والتراجم: ۷۸/۲).

٨=باب لا طلاق قبل النكاح

وَقَوْلُ اللهِ تَعَالَى ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نَكَحْتُمُ الْمُؤْمِنَاتِ ثُمَّ طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِنْ قَبْلِ أَنْ تَمَسُّوهُنَّ فَمَا لَكُمْ عَلَيْهِنَّ مِنْ عِدَّةٍ تَعْتَدُّونَهَا فَمَتِّعُوهُنَّ وَسَرِّحُوهُنَّ سَرَاحًا جَمِيلًا﴾ [ر: الاحزاب: ٤٩] وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ جَعَلَ اللهُ الطَّلَاقَ بَعْدَ النِّكَاحِ وَيُرْوَى فِي ذَلِكَ عَنْ عَلِيٍّ وَسَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ وَعُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ وَأَبِي بَكْرِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ وَعُبَيْدِ اللهِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُتْبَةَ وَأَبَانَ بْنِ عُثْمَانَ وَعَلِيِّ بْنِ حُسَيْنٍ وَشُرَيْحٍ وَسَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ وَالْقَاسِمِ وَسَالِمٍ وَطَاوُسٍ وَالْحَسَنِ وَعِكْرِمَةَ وَعَطَاءٍ وَعَامِرِ بْنِ سَعْدٍ وَجَابِرِ بْنِ زَيْدٍ وَنَافِعِ بْنِ جُبَيْرٍ وَمُحَمَّدِ بْنِ كَعْبٍ وَسُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ وَمُجَاهِدٍ وَالْقَاسِمِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ وَعَمْرِو بْنِ هَرِمٍ وَالشَّعْبِيِّ أَنَّهَا لَا تَطْلُقُ

علامه کرمانی رحمه الله فرمائی چه د امام بخاری رحمه الله مقصد دحضرات حنفیه دمذهب تردید کول دی خکه چه ددوی مذهب قبل النکاح صحت طلاق دې.(۱)

علامه عینی رحمه الله فرمائی چه قبل النکاح وقوع طلاق دحضرات حنفیه مسلك نه دې بلکه دا خو دچا مسلك هم نه دې،کرمانی او ددوی هم خیالو باندې تعجب دې چه هغه دخپل طرفنه یومذهب جوړوی اوحنفیه طرفته دامنسوب کوی او په دې باندې رد کول شروع کوی.(۲)

په دې باندې دټولو اتفاق دې که څوك سړی اجنبیه ته اووائی «انت طالق» نو طلاق به واقع نه وی یعنی لا طلاق قبل النکاح باندې دټولو اتفاق دې(۳)

قبل النکاح دتعلیق مسئله : اختلاف په دې کښې دې که طلاق لره ملك یا سبب ملك سره معلق کړې شی نو دا تعلیق به صحیح وی یا نه . لکه یو سړې اووائی چه «اذا زوجت فلانة فهی طالق» نو نکاح کولو نه پس به طلاق واقع وی یا نه،په دې کښې اختلاف دې.

دحضرات حنفیه په نیزداتعلیق صحیح دې او دنکاح نه پس به طلاق واقع شی.

دحضرات شافعیه په نیزداتعلیق لغوه دې او ازواج نه پس به طلاق واقع نه وی.

امام احمد بن حنبل رحمه الله نه ددې مسئلې باره کښې دوه روایتونه دی یودا چه دحنفیه مطابق، دویم دشافعیه مطابق.

امام مالك رحمه الله نه درې روایتونه دی.یو کښې توقف دې،دویم روایت دشوافع مطابق دې.لیکن هغه مرجوح دې اودریم روایت دادې که داسې صورت کښې بنځه تعیین اوکړی اوده تعلیق کړې وی لکه دا اووائی چه «ان تزوجت هذه المراة فهی طالق» نو طلاق به واقع شی لیکن که تعیین اونه کړزو،مطلقًا اوعام الفاظ ئې اووئیل لکه وې وئیل چه «کل امراة اتزوجها

---

۱) شرح الکرمانی: ۱۹/۱۹۱،۱۹۲).
۲) عمدة القاری: ۲۰/۲۴۵).
۳) عمدة القاری: ۲۰/۲۴۵).

فهي طالق» نوداسې صورت كښې به طلا ق واقع نه وی،او هم دا دمالكيه راجح روايت او مذهب او مختار دی(۱)دعموم په صورت كښې تعليق درست نه دې خكه چه دا د حلال څيز (نكاح) مطلقًا دحرام كولو مترادف دې اودې اختيار هيڅ نشته دې(۲)
حضرات شافعيه دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما د اثر نه استدلال كوی،چه كوم په دې خائې كښې امام بخاری رحمه الله نقل كړې دې،دوی فرمائی چه«جعل الله الطلاق بعد النكاح».
ليكن دحنفيه خلاف ددې اثر نه استدلال كول درست نه دی خكه چه ددې حنفيه هم قائل نه دی،ددې وجې چه اختلاف،تعليق طلاق قبل النكاح كښې دې،طلاق قبل النكاح كښې نه دې،نو علامه عينى رحمه الله ليكى چه :

«هذا لا خلاف فيه ان الله جعل الطلاق بعد النكاح،والحنيفة قائلون به،فلا يجوز للشافعية ان يحتجوا به عليهم فى مسالة التعليق،فان تعليق الطلاق غير الطلاق لانه ليس بطلاق فى الحال فلا لصحته قيام المحل»(۳)

نو عبدالرزاق په خپل تصنيف كښې دحضرت زهر رحمه الله اثر نقل كړې دې كه چا«كل امراة اتزوجها فهى طالق»اووئيل نو دده بُ دا وينا معتبره وی،په دې باندې معمر دوی ته اووئيل چه«اوليس قد جاء لا طلاق قبل النكاح ولا عتق قبل الملك»نوحضرت زهری رحمه الله فرمائی چه«انما ذالك ان يقول الرجل امراة فلان طالق»(۴) يعنى لا طلاق قبل النكاح نه مراد تجيز دې تعليق نه دې .
وجه ددې داده چه دتعليق په صورت كښې كه طلاق واقع شى نو نكاح كښې دراتلونه پس به واقع وی،نوهغه د لا طلاق قبل النكاح مصداق نه دې.

قوله: قول الله تعالى : يأيها الذين امنوا اذا نكحتم المومنات ثم طلقتموهن :

امام بخاری رحمه الله ددې ايت كريمه نه لاطلاق قبل النكاح باندې استدلال كړې دې،خكه چه په دې كښې دی چه«اذا نكحتم المومنات ثم طلقتموهن»په ړومبې د نكاح اوبيا د طلاق ذكر دې،معلوم شو چه د نكاح نه مخكښې طلاق نه واقع كيږی.
ابن التين اوابن منير فرمائيلی چه د امام دطلاق عدم وقوع قبل النكاح باندې مذكوره آيت نه استدلال كول درست نه دی خكه چه په آيت كښې بغير د څه حصرنه دطلاق بعدالنكاح دقوع يو صورت ذكر كړې شويدې،دنكاح نه مخكښې دطلاق وقوع او د عدم وقوع نه په دې كښې ذكر دې اونه دسياق كلام نه په دې باندې دلالت كيږی.(۵)
دې نه پس امام بخاری رحمه الله د څلريشتو (۲۴)حضراتو نومونه ذكر كوی او فرمائی چه د

---

۱) دمذاهب اربعه تفصيل دپاره اوگورئ الابواب والترجم: ۷۸/۲،او اوگورئ فتح البارى: ۴۸۲،۴۸۳/۹).
۲) فتح البارى: ۴۸٤/۹).
۳) عمدة القارى: ۲۴۶/۲۰).
٤) اوگورئ مصنف عبدالرزاق ۴۲۱/۶ . رقم : ۱۱٤۷۵،وعمدة القارى: ۲۴۶/۲).
۵) عمدة القارى: ۲۴۶/۲۰ . وفتح البارى: ٤۷۷/۹).

نكاح نه قبل ا لطلاق دعدم وقوع قول ددوى نه مروى دى،په دوى كښې حضرت على رضي الله عنه او عمروبن هرم نه سواتول تابعين دي،عمروبن هرم تبع تابعينو كښې دې.(۱)

۹-بَاب إِذَا قَالَ لِامْرَأَتِهِ وَهُوَ مُكْرَهٌ هَذِهِ أُخْتِي فَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ

قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِبْرَاهِيمُ لِسَارَةَ هَذِهِ أُخْتِي وَذَلِكَ فِي ذَاتِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ [ر:۲۱۰۴].

كه چا خپلې ښځې ته((يااختى))(اې خورې) اووئيل نو دجمهورو په نيز په دې تحريم،طلاق يا ظهار نه واقع كيږى،شيخ ابن الهمام اوعلامه ابن عابدين شامى دحضرات حنفيه دامسلك نقل كړې دې،البته داشان وئيل چه عام حالات كښې مكروه ضرور دې،(۲)
علامه عينى رحمه الله علامه خطابى په حوالې سره دامام ابويوسف رحمه الله مسلك ذانقل كړې دې كه چا په دې جملې سره څه نيت اونكړو نوتحريم به واقع وى او دې به كفاره وركوى . د امام محمد رحمه الله په نيزبه دا ظهار وى.(۳)
دامام بخارى رحمه الله مقصد په دې حضراتوباندې رد كيديشى چه كوم دا مكروه ګڼړلى يا ددې نه دتحريم او دظهاردوقوع قائل دى،نو هغوى فرمائى چه((فلاشئ عليه)).
ددې په كراهت باندې دابوداود درو ايت نه استدلال كوى چه كوم هغوى د ابوتميه هجيمى نه نقل كړې دې چه يو سړى خپلې ښځې ته اووئيل چه((يااخية))
نو حضرت نبى كريم صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل چه((اختك هى))هغه ستا خور ده چه كومې ته ته اخية وائى.او دا اطلاق ئې خوښه نه كړه((فكره ذالك ونهى عنه))(۴)
امام ابوداود رحمه الله په دې حديث باندې ترجمه قائمه كړې ده .((باب فى الرجل يقول لامراته يااختى))ددې ترجې تحت هغوى مذكوره روايت نه علاوه حضرت ابراهيم عليه السلام او دحضرت سارد واقعه هم ذكر كړې ده. امام ابوداود رحمه الله مذكوره دواړه روايتونه ددې باب تحت ذكر كړې دى او دې طرفته ئې اشاره كړې ده چه كه سړې مجبور وى او مكره و ى نو ښځې ته په اخت وئيلو كښې هيڅ باك نشته دې.ليكن بغير دضرورت نه وئيل دابو تميمه روايت سره مكرود دې.
امام بخارى رحمه الله هم غالبًا دې تفصيل طرفته اشاره كوى اودا وئيل غواړى چه ښځې ته خور وئيل په هر حال مكروه دى،په هغه صورت كښې مكروه دى چه كله بلاضرورت نه اووئيلې شى،ددې وجې حضرت امام بخارى رحمه الله په ترجمه كښې د((وهومكره)) قيدزيات كړې دې،

---

۱) عمدة القارى: ۲۰/۲٤۷).
۲) فتح القدير، كتاب الطلاق،باب الظهار: ٤/۹۱).
۳) عمدة القارى: ۲۰/۲٤۷).
٤) اوګورئ سنن ابى داود،كتاب الطلاق،باب ماجا فى الرجل يقول لامراته))يا اختى : ۲/۲٦٤ . رقم : ۲۲۱).

دحضرت ابراهيم عليه السلام او دحضرت ساره بى بى واقعه تيره شوې ده،هغوى هم دمجبورنى په وجه خپلې بى بى ته خور ونيلى وو.(۱)

۱۰= بَاب الطَّلَاقِ فِي الْإِغْلَاقِ وَالْكُرْهِ وَالسَّكْرَانِ وَالْمَجْنُونِ وَأَمْرِهِمَا وَالْغَلَطِ وَالنِّسْيَانِ فِي الطَّلَاقِ وَالشِّرْكِ وَغَيْرِهِ

لِقَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّةِ وَلِكُلِّ امْرِءٍ مَا نَوَى [ر:۱]
وَتَلَا الشَّعْبِيُّ لَا تُؤَاخِذْنَا إِنْ نَسِينَا أَوْ أَخْطَأْنَا [ر:۲۸۶]
وَمَا لَا يَجُوزُ مِنْ إِقْرَارِ الْمُوَسْوِسِ
وَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلَّذِي أَقَرَّ عَلَى نَفْسِهِ أَبِكَ جُنُونٌ [ر:۴۹۶۹]
وَقَالَ عَلِيٌّ بَقَرَ حَمْزَةُ خَوَاصِرَ شَارِفَيَّ فَطَفِقَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَلُومُ حَمْزَةَ فَإِذَا حَمْزَةُ قَدْ ثَمِلَ مُحْمَرَّةٌ عَيْنَاهُ ثُمَّ قَالَ حَمْزَةُ هَلْ أَنْتُمْ إِلَّا عَبِيدٌ لِأَبِي فَعَرَفَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَدْ ثَمِلَ فَخَرَجَ وَخَرَجْنَا مَعَهُ [ر:۳۷۸]
وَقَالَ عُثْمَانُ: لَيْسَ لِمَجْنُونٍ وَلَا لِسَكْرَانَ طَلَاقٌ
وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: طَلَاقُ السَّكْرَانِ وَالْمُسْتَكْرَهِ لَيْسَ بِجَائِزٍ
وَقَالَ عُقْبَةُ بْنُ عَامِرٍ: لَا يَجُوزُ طَلَاقُ الْمُوَسْوِسِ
وَقَالَ عَطَاءٌ: إِذَا بَدَا بِالطَّلَاقِ فَلَهُ شَرْطُهُ
وَقَالَ نَافِعٌ: طَلَّقَ رَجُلٌ امْرَأَتَهُ الْبَتَّةَ إِنْ خَرَجَتْ فَقَالَ ابْنُ عُمَرَ إِنْ خَرَجَتْ فَقَدْ بُتَّتْ مِنْهُ وَإِنْ لَمْ تَخْرُجْ فَلَيْسَ بِشَيْءٍ
وَقَالَ الزُّهْرِيُّ فِيمَنْ قَالَ إِنْ لَمْ أَفْعَلْ كَذَا وَكَذَا فَامْرَأَتِي طَالِقٌ ثَلَاثًا يُسْأَلُ عَمَّا قَالَ وَعَقَدَ عَلَيْهِ قَلْبُهُ حِينَ حَلَفَ بِتِلْكَ الْيَمِينِ فَإِنْ سَمَّى أَجَلًا أَرَادَهُ وَعَقَدَ عَلَيْهِ قَلْبُهُ حِينَ حَلَفَ جُعِلَ ذَلِكَ فِي دِينِهِ وَأَمَانَتِهِ
وَقَالَ إِبْرَاهِيمُ: إِنْ قَالَ لَا حَاجَةَ لِي فِيكِ نِيَّتُهُ وَطَلَاقُ كُلِّ قَوْمٍ بِلِسَانِهِمْ
وَقَالَ قَتَادَةُ: إِذَا قَالَ إِذَا حَمَلْتِ فَأَنْتِ طَالِقٌ ثَلَاثًا يَغْشَاهَا عِنْدَ كُلِّ طُهْرٍ مَرَّةً فَإِنِ اسْتَبَانَ حَمْلُهَا فَقَدْ بَانَتْ مِنْهُ وَقَالَ الْحَسَنُ: إِذَا قَالَ الْحَقِي بِأَهْلِكِ نِيَّتُهُ
وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: الطَّلَاقُ عَنْ وَطَرٍ وَالْعَتَاقُ مَا أُرِيدَ بِهِ وَجْهُ اللَّهِ
وَقَالَ الزُّهْرِيُّ: إِنْ قَالَ مَا أَنْتِ بِامْرَأَتِي نِيَّتُهُ وَإِنْ نَوَى طَلَاقًا فَهُوَ مَا نَوَى
وَقَالَ عَلِيٌّ: أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ الْقَلَمَ رُفِعَ عَنْ ثَلَاثَةٍ عَنِ الْمَجْنُونِ حَتَّى يُفِيقَ وَعَنِ الصَّبِيِّ حَتَّى يُدْرِكَ وَعَنِ النَّائِمِ حَتَّى يَسْتَيْقِظَ:

---

۱) كشف البارى: كتاب التفسير،تفسير سورة بنى اسرائيل : ۳۷۳).

وَقَالَ عَلِيٌّ: وَكُلُّ الطَّلَاقِ جَائِزٌ إِلَّا طَلَاقَ الْمَعْتُوهِ

داغلاق معنى : امام ابن ماجه رحمه الله او امام ابو داود رحمة ا لله عليه دحضرت ابوهريره رضى الله عنه روايت نقل كوى چه«لا طلاق فى الاغلاق»دا د امام ابن ماجه رحمه الله درروايت الفاظ دى،د امام ابو داود رحمة ا لله عليه درروايت الفاظ دى چه«لاطلاق فى الغلاق»(١) دغلاق نه اغلاق مراد دې،داغلاق تفسير كښې مختلف اقوال دى .

① بعضو وئيلى دى چه ددې نه جنون مراد دې.(٢)

② ابو عبيده هروى نقل كړى دى چه ددې نه يو ځائې درې طلاقه وركول مراد دي،ځكه چه درې طلاقه وركړى نو دې په خپل ځان باندې طلاق بند كړى،او نور دطلاق گنجائش ده سره پاتې نشى.(٣)

③ابوعبيد داغلاق تفسير په اكراه سره كړې دې،او هم دا ددې مشهور تفسير دې،(۴)

امام ابن ماجه رحمه الله په دې باندې«طلاق ا لمكره»عنوان سره ترجمه قائمه كړې ده چه ددې نه معلوميږى چه د دوى په نيز هم ددې معنىٰ اكراه ده.

④امام احمد رحمه الله او امام ابوداود رحمة الله عليه ددې تفسير غصې او غضب سره كړې ده.(۵)

عبدالمغافر فارسى په«مجمع الغرائب»كښې ددې تفسير باندې اشكال كړى دى چه ددې د تفسير په صورت كښې به مطلب داوى چه په حالت دغضب كښې به طلاق واقع نه وى،حالانكه طلاق حالت غضب كښې وركولې شى.(۶)

اقسام دغضب : ليكن ددې جواب دادې چه داغلاق نه مطلقًا غضب مراد نه دې بلكه دغضب هغه قسم مراد دې چه په هغې كښې دانسان عقل لاړشى. اوهغه ته د خپلې خبرې بالكل شعور نه وى. نو علامه ابن قيم رحمه الله په زادالمعاد كښې دغصې درې قسمونه بيان كړى دى .

① رومبې قسم داسې غصې دې چه دسړى عقل بالكل زائله كړى او دده بالكل دخپلې خبرې اؤرو شعور نه وى،داسې صورت كښې بالاتفاق طلاق نه واقع كيږى.

②دويم قسم دغصې ابتدائى صورت دې چه په دې كښې سړې بالكل په شعور كښې وى او چه څه هغه وائى په هغې پوهيږى. په داسې صورت كښې بالاتفاق طلاق واقع كيږى.

③ دريم قسم دادې چه په غصه كښې استحكام اوشدت راشى ليكن عقل بالكل زائل نه وى

---

١) الحديث اخرجه ابن ماجه فى كتاب الطلاق باب طلاق المكروه والناسى رقم : ٢٠٤۶،وابوداود،كتاب الطلاق باب فى الطلاق على غيظ: ر قم : ٢١٩٣،واحمد : ٢٧۶/۶،والحاكم : ١٩٨/٢، والبيهقى : ٣٥٧/٧).

٢) فتح البارى: ٤٨٧/٩).

٣) زاد المعاد فى هدى خيرالعباد ذكر احكام رسول الله ﷺ فى الطلاق: ٢١٥/۶).

٤) فتح البارى: ٤٨۶/٩).

٥) زاد المعاد: ٢١٤/۶، ٢١٥).

۶) اوگورئ: زاد المعاد: ٢١٥).

نوياهم دغصې په وجه هغه دخپل نيت مطابق كار نشي كولې،او په دې دوران كښې زياتې كه اوشي اوهغه دنيت مطابق نه وي نو ددې وجې په دې باندې دې نه پس ددې پښيماني وي او افسوس كوي،دا دريم قسم محل نظر دې ،دعلامه ابن قيم په نيز په دې صورت كښې به طلاق واقع نه كيدل راجح دي،(۱)

اوعلامه شامي رحمه الله فرمائي چه په دې صورت كښې طلاق به واقع وي.(۲)

شيخ الاسلام علامه ابن تيميه رحمه الله فرمائي چه صحيح دادى چه لفظ اغلاق مفهوم كښې اكراه،غضب،جنون اوهر هغه امر شامل دې چه هغې په وجه سرې هوش وحواس او عقل سلامت پاتې نشي.(۳)

طلاق مجنون ومكروه: دمجنون طلاق خو بالاتفاق نه واقع كيږي البته دمكره طلاق باره كښې اختلاف دې،حضرات حنفيه،امام شعبي،قتاده،ابراهيم نخعي اوسعيد بن جبير فرمائي چه دمكروه طلاق واقع كيږي (۴) ددې وجې دا كراه په وجه صرف رضا فوت كيږي، اختيار نه فوت كيږي نو كله چه اختيار باقي وي نو طلاق واقع كيږي . (۵)

دا حضرات دفرج بن فضاله عن عمرو بن شرحبيل معافري ديو أثر نه هم استدلال كوي چه يو ښځې خپل خاوند په طلاق مجبور كړو او دده نه ئې طلاق حاصل كړو،دامقدمه حضرت عمر فاروق رضي الله عنه ته پيش شوه نو حضرت عمر فاروق رضي الله عنه هغه طلاق ته صحيح اونيل .(۶)

حضرت ابن عمر رضي الله عنهما او حضرت عمر بن عبدالعزيز نه هم داشان آثار منقول دي.(۷)

آئمه ثلاثه فرمائي چه مكره طلاق به واقع نه وي ځكه چه دا كراه په وجه اختيار نه پاتې كيږي او دشرعي تصرفاتو داورمدار په اختيار باندې دې،(۸)

دارنګ داحضرات فرمائي چه په حالت دا كراه كښې دكلمه كفر وئيلو هم اجازت وركړې شوې دې.«الا من اكره وقلبه مطمئن بالايمان» داكراه په حالت كښې كلمه دكفر ويونكې باندې احكام دكفر نه جاري كيږي نو طلاق خو كلمه كفرنه ډير كمې درجې څيز دې،په دې باندې هم طلاق نه دى جاري كيدل پكار(۹)

ترجمة الباب كښې«الاغلاق» نه پس د«والكره» لفظ دې«كره» دكاف په ضمه او دراء په سكون سره» په معنى د الاكراه ده.«اغلاق»نه كه غضب مراد واخستلې شي نو په دې

---

۱) اوګورئ زاد المعاد:۶/۲۱۵).

۲) رد ا لمختار على رد المختار، كتاب الطلاق،مطلب فى طلاق المدهوش: ۲/۴۹۳).

۳) زاد المعاد:۶/۲۱۵).

۴) عمدة القاري: ۲۰/۲۵۰).

۵) اوګورئ هدية،كتاب الطلاق : ۲/۳۵۸) .

۶) زاد المعاد: ۶/۲۰۸).

۷) عمدة القاري: ۲۰/۲۵۰).

۸) اوګورئ الهداية،كتاب الطلاق:۲/۳۵۸،ليكن په دې كښې ئې د امام شافعي رحمه الله مذهب نقل كړېدې .

۹) فتح الباري: ۹/۴۸۷).

صورت كښې عطف مغايرت دپاره به وي او معنى به وي((باب الغضب والاكراه)) ليكن كه د((الاغلاق)) تفسير اكراه سره اوكړې شي نو په دې صورت كښې به دا عطف تفسيري وي .

اودا هم احتمال دې چه دا لفظ((مكره))وي . په دې صورت كښې به تقدير وي((باب حكم الطلاق في الاغلاق وحكم المكروه والسكران))(١)

طلاق سكران: دطلاق سكران باره كښې دعلماء كرامو دوه اقوال دي:

① د امام ابو حنيفه رحمه الله او امام مالك رحمة الله عليه په نيز د سكران طلاق به واقع وي او د امام شافعي رحمه الله هم اصح قول دادې،دامام احمد رحمه الله روايت هم ددې مطابق دې .(٢)

② دامام احمد مشهور قول او امام شافعي رحمه الله يو روايت داهم دې چه د سكران طلاق به واقع نه وي،(٣)په حنفيانو كښې امام كرخي رحمه الله اوامام طحاوي رحمه الله دا اختيار كړې دې(٤) په شوافع كښې امام بغوي رحمه الله هم دا رائې ده،(٥)

د حضرت امام بخاري رحمه الله رجحان هم دې طرفته دې .

وجه ددې داده چه هغه دمستئ او مدهوشئ په حالت كښې وي،هغه ته پته نه لږي چه دهغه دخلې نه څه راوزي،او ددې به څه اثرات وي،د قصد اوارادې اعتبار عقل سره دې او دده عقل زائل شوې دې،(٦)

امام طحاوي رحمه الله فرمائي چه دمعتوه طلاق بالاتفاق نه واقع كيږي،سكران هم دسكر او نشې په وجه سره معتوه وي،ددې وجې ددې طلاق به واقع نه وي . (٧)

قائلين وقوع طلاق فرمائي چه دده د عقل زائله كيدو چه كوم سبب دې هغه معصيت دې،ددې وجې حكما دده عقل به باقي ګڼلې شي چه ددې تنبيه وي،د زجر او تنبيه تقاضاه داده چه دده طلاق واقع وي،(٨)

((والغلط والنسيان في الطلاق والشرك وغيره))

ددې عطف((الطلاق في الاغلاق))باندې دې،او لفظ،باب دپاره مضاف اليه كيدو په وجه سره مجرور دې يعني((باب الطلاق في الاغلاق......وباب الغلط والنسيان)).

په غلطئ كښې يا په هيره د طلاق وركولو حكم: په غلطئ يا هيره كښې دطلاق وركولو حكم

---

١) فتح الباري: ٤٨٨/٩،وعمدة القاري: ٢٥١/٢٠،٢٥٠).
٢) مذكوره تفصيل دپاره اوګورئ فتح الباري: ٤٨٩/٩).
٣) فتح الباري: ٤٨٩/٩).
٤) الهداية: ٣٥٨/٢،كتاب الطلاق،باب طلاق السنة).
٥) راجع لمزيد التفصيل المغنى لابن قدامة كتاب الطلاق،مسألة،طلاق سكران: ٢٨٩/٧).
٦) الهداية: كتاب الطلاق: ٣٥٨/٢).
٧) فتح الباري: ١٨٩/٩).
٨) الهداية : ٣٥٩/٢).

کښې هم اختلاف دې.
دجمهورو عالمانو په نیزبه طلاق واقع نه وی، دحنفیه په نیز به واقع وی، (۱)
دحنفیه دلیل دا لاندې مشهورحدیث دې چه کوم امام ابوداود رحمة الله علیه نقل کړې دې،
((ثلاث جدهن جد وهزلهن جد: النکاح والطلاق والرجعة)) (۲) نو کله چه دهزل اعتبار اوکړې شی نود خطاء، غلط او نسیان به هم اعتبار کولې شی.
جمهور حضرات د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما د حدیث نه استدلال کوی، چه په هغې کښې دی چه ((ان الله تجاوز عن امتی الخطاء والنسیان وما استکرهوا علیه)) (۳)
((الشرك وغیره)) ددې عطف ((الطلاق)) باندې دې، یعنی ((الغلط والنسیان فی الشرك)) مطلب دا دې چه چاپه غلطئ یاپه هیره سره دشرك کلمه اووئیله نوبالاتفاق به ددې اعتبارنه وی خکه چه حضرت نبی کریم ﷺ فرمائی چه ((الاعمال بالنیة)) اوغلطئ او هیره کښې د ویونکی نیت به نه وی.
حضرت امام بخاری رحمه الله ددې مسئلې نه غالبًا طلاق باندې استدلال کړې دې چه کله غلطئ او هیره کښې د شرکیه کلمې اعتبار بالاتفاق نه کیږی نو دطلاق به هم اعتبار نه دی کول پکار، لیکن دحنفیه د طلاق اعتبار د ابوداود دحدیث ((جدهن جد وهزلهن جد)) په وجه کړې دې.
ابن بطال رحمه الله فرمائی چه د ((الشرك)) لفظ په دې ځائې کښې صحیح نه دې بلکه صحیح لفظ ((الشك)) دې، په دې صورت کښې به ددې عطف ((النسیان)) باندې وی یعنی ((باب الغلط والنسیان والشك)) (۴)
((وغیره)): حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه ((غیره)) ضمیر دمجرور ((الشرك)) طرفته راجع دې ((ای غیر الشرك مما هو دونه)) (۵)
علامه عینی رحمه الله فرمائی چه ضمیر ((المذکور)) طرفته راجع دې ((ای وغیر المذکور منه الاشیاء المذکور نحو الخطاء وسبق اللسان والهزل)) (۶)
قوله: لقول النبی ﷺ الاعمال بالنیة: دې کښې دلیل طرفته اشاره ده چه مذکوره

---
۱) عمدة القاری: ۲۰/۲۵۱).
۲) اخرجه امام ابو داود رحمة الله علیه فی الطلاق،باب فی الطلاق علی الهزل رقم: ۲۱۹۴، والترمذی فی الطلاق ،باب ماجاء فی الجدوالهزل رقم: ۱۱۸٤، وصححه الحاکم : ۲/۱۹۷،۱۹۸،واقرة الذهبی وله شواهد یتقوی بها فی تلخیص الحبیر: ۳/۲۰۹).
۳) فتح الباری: ۹/٤۸۸).
٤) فتح الباری: ۹/٤۸۸،وعمدة القاری: ۲۰/۲۵۱).
۵) فتح الباری: ۹/٤۸۸).
۶) عمدة القاری: ۲۰/۲۵۱).

مسائلو کښې دنیت اعتبار وی ،ځکه چه حکم دراصل عاقل مختار اوعامد ذاکر طرفته متوجه کیږی اومکره مختار نه دې،دسکران په حالت کښې په سکر کښې عقل پاتې نشی،د غلط اوناسی هم قصد اواراده نه وی.

قوله: وتلا الشعبی :ربنا لا تواخذنا ان نسینا اواخطانا: حضرت عامر بن شراحیل شعبی نه چه کله دناسی او مخطی دطلاق په باره کښې تپوس اوکړې شو نوهغوی دقران پاك دامذکوره آیت مبارك تلاوت اوفرمائیلو او ددې نه ئې استدلال اوکړو چه دناسی او مخطی مواخذه نه دی کیدل پکار.

قوله: وَمَا لَا یَجُوزُ طَلَاقُ الْمُوَسْوِسِ: موسوس هغه سړی ته وئیلې کیږی چه هغه ته په کثرت سره وسوسه رازی. که چاته دطلاق وسوسه راغله نو دجمهورو په نیزپه وسوسه طلاق سره طلاق نه واقع کیږی ځکه دطلاق دپاره تلفظ یا کتابت ضروری دې اووسوسه کښې نه تلفظ وی او نه کتابت.

د حضرت امام بخاری رحمه الله مقصد ددې په پیش کولو سره دادې چه دموسوس طلاق ددې وجې نه واقع کیږی چه دده نیت نه وی لهذا دسکران ،مکره ناسی هم طلاق واقع کیدل نه دی پکار. ځکه ددوی هم نیت نه وی،حالانکه هلته الفاظ د طلاق موندې شوی دی او دلته الفاظ نشته دې.

ابن سیرین اوابن شهاب زهری فرمائی چه موسوس که دطلاق عزم اوکړو نو په دې صورت کښې به طلاق واقع شی،امام مالك رحمه الله نه هم یو روایت ددې مطابق منقول دې،قاضی ابوبکر بن عربی دې لره قوی ګڼړلې دې،(۱) لیکن دجمهورو مسلك دا نه دې.

قوله: وَقَالَ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لِلَّذِی أَقَرَّ عَلَی نَفْسِهِ أَبِكَ جُنُونٌ: دادمځکښې حدیث دباب حصه ده چه حضرت نبی کریم ﷺ په مسجد کښې وو،یو سړې راغلو او وې وئیل چه ما زنا کړې ده،حضرت نبی کریم ﷺ ورته څه التفات اونکړو،تر دې پورې چه څلور ځل حضرت نبی کریم ﷺ دهغوی قول رد کړو،دې نه پس حضرت نبی کریم ﷺ هغه راوبللو او وې فرمائیل چه«ابك جنون»آیا ته پاګل ئې،هغه اووئیل چه نه،حضرت نبی کریم ﷺ دا سوال دهغه سړی نه ددې وجې اوکړو چه دهغه مجنون کیدل ثابت شوې وې نو دهغه نه به حد ساقط شوې وې. ددې نه معلوم شو چه دمجنون اقرارا و ا عتراف معتبر نه دې،ددې وجې دده طلاق به هم واقع نه وی،(۲)

قوله: وَقَالَ عَلِیٌّ بَقَرَ حَمْزَةُ خَوَاصِرَ شَارِفَیَّ......: دا دهغه طویل حدیث حصه ده چه کوم په کتاب المغازی کښې تیر شوې دې،(۳) حضرت حمزه رضی الله عنه چه څه اوکړل او څه ئې اووئیل نوچونکه هغه په نشه کښې وو، ددې وجې حضرت نبی کریم ﷺ مواخذه اونه

۱) فتح الباری: ۹/۴۹۲).
۲) فتح ا لباری: ۹/۴۶۳).
۳) اوګورئ کشف الباری، کتاب ا لمغازی، باب شهودالملائکة بدر: ۱۵۶. ۱۵۷).

فرمائیل،چه ددې نه معلوم شو په حالت دسکر کښې مواخذه معاف ده،لهذا دسکران طلاق نه دی واقع کیدل پکار.

قوله: وَقَالَ عُثْمَانُ : لَيْسَ لِمَجْنُونٍ وَلَا لِسَكْرَانَ طَلَاقٌ: حضرت عثمان رضی الله عنه فرمائی چه دمجنون او سکران طلاق به نه واقع کیږی،
داتعلیق ابن ابی شیبه په صحیح سند سره موصولاً نقل کړې دې،(۱)

قوله: وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ : طَلَاقُ السَّكْرَانِ وَالْمُسْتَكْرَهِ لَيْسَ بِجَائِزٍ: یعنی سکران او مستکره (مغلوب مقهور اومجبور) طلاق به واقع نه وی،دې تعلیق لره هم په صحیح سند سره ابن ابی شیبه موصولاً نقل کړې دې،(۲)

قوله: وَقَالَ عُقْبَةُ بْنُ عَامِرٍ: لَا يَجُوزُ طَلَاقُ الْمُوَسْوِسِ: دا تعلیق چا موصولاً نقل کړې دې دا معلوم نشو .

قوله: وَقَالَ عَطَاءٌ: إِذَا بَدَا بِالطَّلَاقِ فَلَهُ شَرْطُهُ: که یوسړی مشروط طلاق ورکړو او په دې کښې ئې طلاق مخکښې ذکرکړو اوشرط ئې بعدکښې ذکرکړو لکه داسې ئې اووئیل چه «انت طالق ان دخلت الدار» عطاء فرمائی چه په دې صورت کښې به شرط معتبر وی اودا طلاق به مشروط وی په شرط واقع کیدو به طلاق واقع شی.

دجمهورو عالمانو هم دامسلك دې چه شرط که مخکښې ذکرکړې شی او که روستوذکرکړې شی نو دشرط به بهر حال اعتبار وی،اوطلاق به نه وی واقع،دشرط موندې کیدونه پس به طلاق واقع وی،(۳)

قاضی شریح فرمائی چه دتقدیم شرط په صورت کښې خو به طلاق مشروط وی لیکن د تاخیر شرط په صورت کښې به طلاق واقع شی ،مشروط به نه وی،(۴)

ابراهیم نخعی رحمه الله ته چه کله دقاضی شریح دا خبره معلومه شوه نو هغوی ددې تردید اوکړو او وې فرمائیل چه د شرط په تقدیم او تاخیر دواړو صورتونو کښې به طلاق مشروط وی،امام طحاوی رحمه الله د ابراهیم نخعی دا رائې نقل کړې ده.

حافظ ابن حجر رحمه الله ته په دې خائې کښې وهم شوې دې،هغوی دقاضی شریح مسلك لره ابراهیم نخعی طرفته منسوب کړې دې .

حضرت امام بخاری رحمه الله چه د حضرت عطاء کوم اثر نقل کړې دې هغه دې خبرې طرفته اشاره کولو دپاره دې چه په لفظ کښې اصل اعتبار دنیت دې،سړې یو مشروطه خبره کوی دده مقصد اودده نیت دا وی چه شرط سره به دا کلام موثر وی او بغیردشرط نه به دا موثر نه وی، نو شریعت ددې اعتبار اوکړو او د تحقق شرط نه بغیر دده کلام معتبر به نه وی،«انت

---

۱) عمدة القاری: ۲۵۲/۲۰).
۲) عمدة القاری: ۲۵۲/۲۰).
۳) عمدة القاری : ۲۵۳/۲۰،فتح الباری: ۴۶۰/۹).
٤) فتح الباری: ۳۲۵/۵).

طالق ان دخلت الدار»که چا داسې اووئیل نو طلاق به په هغه وخت کښې واقع شي چه کله دخول دار اوشی خکه چه دویونکی نیت هم دادې نومعلوم شو چه نیت معتبر دې، لهذا دسکران اومکره وغیره طلاق نه دی واقع کیدل پکار، خکه چه دده نیت نه وی، (۱)
ترجمة الباب سره ددې اثر دامناسبت حضرت گنګوهی رحمه الله بیان کړې دې، (۲)
دحضرت عطاء داتعلیق لره عبدالرزاق موصولاً نقل کړې دې(۳)

قوله: وَقَالَ نَافِعٌ : طَلَّقَ رَجُلٌ امْرَأَتَهُ الْبَتَّةَ إِنْ خَرَجَتْ فَقَالَ ابْنُ عُمَرَ إِنْ خَرَجَتْ فَقَدْ بُتَّتْ مِنْهُ وَإِنْ لَمْ تَخْرُجْ فَلَيْسَ بِشَيْءٍ: «بتتت»د باء په ضمه اودتاء په تشدید سره د مجهول صیغه ده.
د حضرت ابن عمر رضی الله عنه غلام اوشاګرد حضرت نافع رضی الله عنه سوال اوکړو کهچا خپلې ښځې ته طلاق بائن ورکړو خروج دار سره نوددې څه حکم دې، حضرت ابن عمر رضی الله عنه اوفرمائیل که هغه اووتله نو بائنه به شی، ددې وجې دخاوند نیت دادې چه طلاق به تحقق شرط نه پس متحقق وی،معلوم شو چه دنیت اعتبار به وی، (۴)لهذا ماقبل کښې بیان شوی اغلاق،مکروه، سکران،مجنون،غالط اوناسی کیدو په وجه طلاق واقع کیدل نه دی پکار.
دا تعلیق چا موصولاً نقل کړې،دامعلوم نشو، (۵)

قوله: وَقَالَ الزُّهْرِيُّ فِيمَنْ قَالَ إِنْ لَمْ أَفْعَلْ كَذَا وَكَذَا فَامْرَأَتِي طَالِقٌ ثَلَاثًا يُسْأَلُ عَمَّا قَالَ وَعَقَدَ عَلَيْهِ قَلْبُهُ حِينَ حَلَفَ بِتِلْكَ الْيَمِينِ فَإِنْ سَمَّى أَجَلًا أَرَادَهُ وَعَقَدَ عَلَيْهِ قَلْبُهُ حِينَ حَلَفَ جُعِلَ ذَلِكَ فِي دِينِهِ وَأَمَانَتِهِ: حضرت زهری رحمه الله فرمائی که یو سړی اووئیل که ما داسې اونکړل نوځما ښځې ته درې طلاقه .یعنی دڅه کاراو دمودې صراحت ئې اونکړونودده نه به ددې قول او دده دنیت باره کښې تپوس کولې شی،کهدده څه موده مقرر کړه(چه ځما مراد دومره موده وه که په دومره موده کښې مې دا کار اونکړونو ځما ښځې ته طلاق)نو دده دا قول به دیانته معتبر ګڼړلې شي.
دا تعلیق هم ذکر کولو سره دحضرت امام بخاری رحمه الله مقصد دادې چه دنیت اعتبار به وی، (۶)
لهذا ماقبل کښې چه داغلاق اواکراه کوم مسائل ذکر شوی دی چونکه په هغې کښې به نیت نه وو ددې وجې طلاق نه دی واقع کیدل پکار.
دا تعلیق عبدالرزاق موصولاً نقل کړې دې، (۷)

---

۱) لامع لدراری : ۹/۳۵۶).
۲) تعلیقات لا مع الدراری: ۹/۳۵۶).
۳(تغلیق التعلیق علی صحیح البخاری: ۴/۴۵۵).
۴) لامع الدراری: ۹/۳۵۶):
۵) نو حافظ ابن حجر رحمه الله په تغلیق التعلیق (۴/۴۵۶) کښې دامام دقول نه پس خالی ځائې پرېښودې دې.
۶) لامع الدراری: ۹/۳۵۷،۳۵۸).
۷) تغلیق التعلیق: ۴ /۴۵۶).

قوله: وَقَالَ إِبْرَاهِيمُ: إِنْ قَالَ لَاحَاجَةَ لِي فِيكِ نِيَّتُهُ: كه يو سړي خپلې ښځې ته اووائی چه " ماته ستا ضرورت نشته "نو دده دنيت مطابق به فيصله كيږی كه نيت ئې دطلاق دې نوطلاق به واقع شي گني نه،معلوم شو چه اعتبار نيت لره دې.
داتعليق ابن ابی شيبه موصولاً نقل كړې دې،(۱)

قوله: وَطَلَاقُ كُلِّ قَوْمٍ بِلِسَانِهِمْ: دهرقوم طلاق به دهغوی دژبې اعتبار سره فيصله كولې شی،دا يو اجماعی فيصله ده. چه ددې په ژبه كښې چه كوم لفظ طلاق دپاره استعماليږی، هغې سره به طلاق واقع شی،ددې نه هم دنيت اعتبار معلوميږی ځكه چه دهر زبان خلق دخپلې محاورې مطابق دطلاق دپاره چه كوم لفظ استعمالوی ظاهره ده چه ددوی نيت به دطلاق واقع كيدو وی.
ابن ابی شيبه داتعليق موصولاً نقل كړې دې،(۲)

قوله: وَقَالَ قَتَادَةُ: إِذَا قَالَ إِذَا حَمَلْتِ فَأَنْتِ طَالِقٌ ثَلَاثًا يَغْشَاهَا عِنْدَ كُلِّ طُهْرٍ مَرَّةً فَإِنِ اسْتَبَانَ حَمْلُهَا فَقَدْ بَانَتْ مِنْهُ: حضرت قتاده رحمه الله فرمائی چه كله چا خپلې ښځې ته اووئيل كه ته حامله شوې نو تاته درې طلاقه،نو په هر طهر كښې يو ځل دې سره وطی كولې شی(ځكه چه طهر دحيض نه پس راځی،دحيض نه معلوم شو چه حامله نه ده ليكن يو ځل دوطی كولو نه پس چونكه دحامله كيدو امكان دې نو ددې وجې په دې طهر كښې دوباره وطی به نه كوی)كه حمل ظاهر شو نو ښځه به بائنه شی ځكه چه قائل هم دا نيت كړې وو.
دا تعليق ابن ابی شيبه موصولاً نقل كړې دې .(۳)

قوله: وَقَالَ الْحَسَنُ: إِذَا قَالَ الْحَقِي بِأَهْلِكِ نِيَّتُهُ: حضرت بصری رحمه الله فرمائی كه چا خپلې ښځې ته اووئيل چه«الحقی باهلك» نو دده دنيت اعتبار به كولې شی كه ده دطلاق نيت كړې وو نو طلاق به واقع شی،هم دا دجمهور علماء كرامو اوآئمه اربعه مسلك دې، ظاهريه وائی چه ددې سره به هيڅ نه وی كه دطلاق نيت وی كه نه وی ،.
داتعليق عبدالرزاق موصولاً نقل كړې دې .(۴)

قوله: وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: الطَّلَاقُ عَنْ وَطَرٍ وَالْعَتَاقُ مَا أُرِيدَ بِهِ وَجْهُ اللَّهِ:
حضرت ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی چه طلاق د ضرورت تحت وی اوعتاق نه داالله ﷻ رضا مقصود وی.دا هم ددې خبرې دليل دې چه دسكران،مكره،خاطی،اودناسی طلاق واقع كيدل نه دی پكار،ځكه چه په دې كښې دضرورت څه اړخ نشته دې،ددې وجې بغير نيت نه

---

۱) تغليق التعليق : ۴۵۶/۴).
۲) تغليق التعليق : ۴۵۶/۴).
۳) تغليق التعليق: ۴۵۶/۴).
۴ر تغليق التعليق: ۴۵۷/۴).

که دده طلاق واقع شي نو لازم به وي چه بغير د ضرورت او حاجت نه واقع شو حالانکه طلاق د ضرورت تحت واقع کيږي .(۱)

داتعليق موصولاً نقل کولووالا معلوم نشو.(۲)

قوله: وَقَالَ الزُّهْرِيُّ: إِنْ قَالَ مَا أَنْتِ بِامْرَأَتِي نِيَّتُهُ وَإِنْ نَوَى طَلَاقًا فَهُوَ مَا نَوَى: حضرت زهري رحمه الله فرمائي که چا خپلې ښځې ته اووئيل چه" ته څما ښځه نه يې "نو دده د نيت اعتبار به کولې شي،که ده دطلاق نيت اوکړو نو طلاق به واقع شي اوکه نيت د طلاق نه وو نو نه به وي،بلکه مطلب دادې چه تا بی بی جوړيدو نه پس څما فرمانبرداری اونکړه،ددې جملې نه په فرمانبردارئی باندې ښځه آماده کول مقصود دی نو طلاق به واقع نه وي.

دا تعليق ابن ابی شيبه موصولاً نقل کړي دي،(۳)

قوله: وَقَالَ عَلِيٌّ: أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ الْقَلَمَ رُفِعَ عَنْ ثَلَاثَةٍ: حضرت علی رضي الله عنه فرمائي چه تاته پته نشته چه دريو نه قلم اوچت شوي دي،

مجنون نه دده دصحيح کيدو پورې،دبچی نه دده دبالغ کيدو پورې،اونائم نه دده د ويښيدو پورې،دې تعليق سره دمجنون طلاق نه واقع کيدوباندې استدلال مقصود دې .

دا تعليق موقوفاً او مرفوعاً په دوه رنګه منقول دې،ليکن موقوفاً راجح دې،بغوی دا موصولاً نقل کړي دي،(۴)

د بچی د طلاق حکم: هم دادجمهور علماء کرامو مسلك دې چه دمجنون اونائم طلاق به واقع نه وي البته دصبی دطلاق باره کښې اختلاف دې،دشافعيه په نيز دصبی طلاق به واقع کيږي.

ليکن د حضرت امام مالك رحمه الله يو روايت دادې کههغه قريب البلوغ او مراهق وي نو دده طلاق به واقع وي.

حضرت امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائي که هغه دروژې نيولوطاقت لري نو داسې صبی طلاق به واقع شي . (۵)

دحنفيه په نيز بهدبچی طلاق واقع نه وي،(۶)

قوله: وَقَالَ عَلِيٌّ: وَكُلُّ الطَّلَاقِ جَائِزٌ إِلَّا طَلَاقَ الْمَعْتُوهِ: حضرت علی رضي الله عنه فرمائي چه هر طلاق واقع کيږي،ليکن دمعتوه طلاق نه واقع کيږي،دمعتوه نه داسې سړې

---

۱) لامع الدراري: ۴۵۸/۹).
۲) تغليق التعليق : ۲۵۷/٤).
۳) تغليق التعليق: ٤۵۷/٤).
٤) فتح الباري: ۴۹۱/۹).
۵) مذکوره تفصيل دپاره اوګورئ فتح الباري: ۴۹۱/۹).
۶) هدايه ج/۲،ص/۳۳).

مراد دي چه‌دهغه په عقل کښې خلل او فتور وی چه‌کوم ناقص العقل وی ،مجنون هم په دې کښې داخل دې او صبي هم،(١)
داتعليق بغوی موصولاً نقل کړې دې (٢)

[٤٩٦٨] حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ ابْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا هِشَامٌ حَدَّثَنَا قَتَادَةُ عَنْ زُرَارَةَ بْنِ اوْفَى عَنْ ابِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ انَّ اللّٰهَ تَجَاوَزَ عَنْ امَّتِي مَا حَدَّثَتْ بِهِ انْفُسَهَا مَا لَمْ تَعْمَلْ اوْ تَتَكَلَّمْ
قَالَ قَتَادَةُ: اذَا طَلَّقَ فِي نَفْسِهِ فَلَيْسَ بِشَيْءٍ [ر: ٢٣٩١].

[٤٩٦٩] حَدَّثَنَا اصْبَغُ اخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ عَنْ يُونُسَ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ اخْبَرَنِي ابُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ عَنْ جَابِرٍ انَّ رَجُلًا مِنْ اسْلَمَ اتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ فِي الْمَسْجِدِ فَقَالَ انَّهُ قَدْ زَنَى فَاعْرَضَ عَنْهُ فَتَنَحَّى لِشِقِّهِ الَّذِي اعْرَضَ فَشَهِدَ عَلَى نَفْسِهِ ارْبَعَ شَهَادَاتٍ فَدَعَاهُ فَقَالَ هَلْ بِكَ جُنُونٌ هَلْ احْصَنْتَ قَالَ نَعَمْ فَامَرَ بِهِ انْ يُرْجَمَ بِالْمُصَلَّى فَلَمَّا اذْلَقَتْهُ الْحِجَارَةُ جَمَزَ حَتَّى ادْرِكَ بِالْحَرَّةِ فَقُتِلَ [ر: ٦٤٣٣، ٦٤٣٩، وانظر: ٤٩٧٠].

[٤٩٧٠] حَدَّثَنَا ابُو الْيَمَانِ اخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ اخْبَرَنِي ابُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ وَسَعِيدُ بْنُ الْمُسَيَّبِ انَّ ابَا هُرَيْرَةَ قَالَ اتَى رَجُلٌ مِنْ اسْلَمَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ فِي الْمَسْجِدِ فَنَادَاهُ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ انَّ الْاخِرَ قَدْ زَنَى يَعْنِي نَفْسَهُ فَاعْرَضَ عَنْهُ فَتَنَحَّى لِشِقِّ وَجْهِهِ الَّذِي اعْرَضَ قِبَلَهُ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ انَّ الْاخِرَ قَدْ زَنَى فَاعْرَضَ عَنْهُ فَتَنَحَّى لِشِقِّ وَجْهِهِ الَّذِي اعْرَضَ قِبَلَهُ فَقَالَ لَهُ ذٰلِكَ فَاعْرَضَ عَنْهُ فَتَنَحَّى لَهُ الرَّابِعَةَ فَلَمَّا شَهِدَ عَلَى نَفْسِهِ ارْبَعَ شَهَادَاتٍ دَعَاهُ فَقَالَ هَلْ بِكَ جُنُونٌ قَالَ لَا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اذْهَبُوا بِهِ فَارْجُمُوهُ وَكَانَ قَدْ احْصِنَ وَعَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ اخْبَرَنِي مَنْ سَمِعَ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللّٰهِ الْانْصَارِيَّ قَالَ كُنْتُ فِيمَنْ رَجَمَهُ فَرَجَمْنَاهُ بِالْمُصَلَّى بِالْمَدِينَةِ فَلَمَّا اذْلَقَتْهُ الْحِجَارَةُ جَمَزَ حَتَّى ادْرَكْنَاهُ بِالْحَرَّةِ فَرَجَمْنَاهُ حَتَّى مَاتَ [ر: ٤٩٦٧، ٦٤٣٩، ٦٤٣٠، وانظر: ٤٩٦٩].

دباب دړومبی حدیث نه دطلاق موسوس عدم وقوع باندې حضرت امام بخاری رحمه الله استدلال کړې دې خکه چه‌په دې کښې دی چه«ان الله تجاوز عن امتی ماحدثت به انفسها»وسوسه باندې مواخذه نشته دې لهذا که د طلاق وسوسه کوم یو سړی ته رازی نو طلاق نه واقع کیږی. (٣)
دې نه روستو حدیث کښې هم دا واقعه بیان شوې ده چه کومه پورته د عقبه بن عامر رضی الله عنه په

١) .فتح الباری: ٤٩٢/٩).
٢) تغليق ا لتعليق: ٤٥٧/٤).
٣) عمدة القاری: ٢٥٥/٢٠).

تعليق كښې تيره شوه چه يوسړي دحضرت نبى كريم ﷺ په خدمت كښې حاضر شو اودزنا اقرار ئې اوكړو،نو حضرت نبى كريم ﷺ ورته اوفرمائيل چه((ابك مجنون))آيا ته مجنون ئې څه ؟.نو هغه اووئيل چه نه،كه دهغه مجنون كيدل ثابت شوې وې نوپه هغه به حد نه جارى كيدو(١)معلوم شو چه دمجنون اعتراف معتبر نه دې لهذا دده طلاق هم واقع نه دې .

١١=بَابُ الْخُلْعِ وَكَيْفَ الطَّلَاقُ فِيهِ

وَقَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى: وَلَا يَحِلُّ لَكُمْ أَنْ تَأْخُذُوا مِمَّا آتَيْتُمُوهُنَّ شَيْئًا إِلَّا أَنْ يَخَافَا أَلَّا يُقِيمَا حُدُودَ اللَّهِ إِلَى قَوْلِهِ الظَّالِمُونَ [البقرة:٢٢٩].
وَأَجَازَ عُمَرُ الْخُلْعَ دُونَ السُّلْطَانِ وَأَجَازَ عُثْمَانُ الْخُلْعَ دُونَ عِقَاصِ رَأْسِهَا
وَقَالَ طَاوُسٌ إِلَّا أَنْ يَخَافَا أَلَّا يُقِيمَا حُدُودَ اللَّهِ فِيمَا افْتَرَضَ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا عَلَى صَاحِبِهِ فِي الْعِشْرَةِ وَالصُّحْبَةِ وَلَمْ يَقُلْ قَوْلَ السُّفَهَاءِ لَا يَحِلُّ حَتَّى تَقُولَ لَا أَغْتَسِلُ لَكَ مِنْ جَنَابَةٍ

دا د خلع باب دې،((خُلْع))د((خَلْعٌ))نه ماخوذ دې چه ددې معنى نزع او كوزول دى،ښځه خاوند چونكه ديوبل لباس وى لكه څنګه چه په قران پاك كښې دى چه((هن لباسكم وانتم لباس لهن))او د خلع په ذريعه دا لباس لره كوزولې شى،ددې وجې دې ته خلع وائى،(٢)

علامه عينى رحمه الله دخپل شيخ په حوالې سره دخلع اصطلاحى تعريف كړې دې((هو فراق الرجل امراته على عوض يحصل له))بعضو دا تعريف كړې دې چه((هو مفارقة الرجل امراته على مال))بعضو فرمائيلى دى چه((هو ازالة الزوجية يعطيه من المال))(٣)

مطلب دادې چه خاوند لره دكوم څيز په عوض كښې پريږدى او دخپل زوجيت نه هغه خارج كړى.دې اصطلاح ته په شرع كښې خلع وئيلې شى.

دټولونه مخكښې خلع چا كړې وه ؟: ابو بكر بن دريد ليكلى دى چه په دنيا كښې دټولو نه مخكښې خلع عامر بن طرب دخپلې لوركړې وه،ده دخپلې لورنكاح خپل وراره سره اوكړه ليكن د نكاح نه پس په دواړو كښې جوړښت رانغلو،جينۍ د هلك نه نفرت كولو،چه د دې شكايت خاوند دجينۍ پلار ته اوكړو،پلار ئې اووئيل چه زه به په تاباندې دوه خبرې جمع كوم،ستامال دې هم لاړشى اوستا ښځه دې هم لاړه شى،نوتا چه دې لره څه وركړل دهغې په بدله كښې به زه تالره ددې نه خلع اوكړم.(۴) په اسلام كښې دټولونه مخكښې حضرت ثابت بن قيس بن شماس رضي الله عنه د هغه دښځې جميله خلع راغلې ده،راتلونكى روايت باب كښې ددې تفصيل رازى.

١) فتح البارى: ٤٩٣/٤).
٢) ارشادالسارى: ٤٠/١٢).
٣) عمدة القارى: ٢٦٠/٢٠).
٤) فتح البارى: ٤٩٤/٩).

قوله: کیف الطلاق فیه: خلع کښې دننه طلاق څنګه واقع کیږی،په دې کښې اختلاف دې د آئمه کرامو.

① حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله،حضرت امام مالك رحمه الله او دجمورو علماء کرامو په نیز خلع سره یو طلاق واقع کیږی او دوباره دنوې نکاح په صورت کښې هغه به دده دپاره حلاله شی،د حضرت امام شافعی رحمه الله اصح قول او د حضرت امام احمد بن حنبل رحمه الله یو روایت هم ددې مطابق دې،(۱)

② دظاهریه په نیز خلع د طلاق رجعی په حکم کښې ده،دنوې نکاح نه بغیر خاوند ښځې سره رجوع کولې شی،(۲)

③ دحضرت امام احمد بن حنبل رحمه الله اود امام اسحاق او ابوثور په نیز خلع فسخ نکاح ده.(۳)

④ حضرت امام شافعی رحمه الله نه یو روایت دا هم نقل شوې دې چه خاوند په خلع سره د طلاق اراده اونکړه نو فرقت اوجدائی به نه واقع کیږی. په کتاب الام کښې حضرت امام شافعی رحمه الله ددې تصریح کړې ده،علامه تقی الدین سبکی رحمه الله دې لره قوی ګڼړلی دی او محمد بن نصر مروزی فرمائی چه همدا د حضرت امام شافعی رحمه الله آخری قول دې،(۴)

حضرت امام بخاری رحمه الله په ترجمة الباب کښې «وکیف الطلاق فیه» وائی او غالبًا همدې اختلاف طرفته اشاره ده.(۵)

قوله: وَقَوْلِ اللّٰهِ تَعَالٰى : وَلَا يَحِلُّ لَكُمْ أَنْ تَأْخُذُوا مِمَّا آتَيْتُمُوهُنَّ شَيْئًا: ددې عطف «الخلع» باندې دې او «باب» دپاره مضاف الیه دې،دا دسورة بقره د آیت هغه حصه ده چه په کومې کښې د خلع بیان دې،ارشاد دې چه " اوستاسو دپاره حلال نه دی چه (دښځې دپرېښودو په وخت کښې هغوی نه) څه هم واخلئ،(که هغه اخستې شوې وی)هم دهغه نه دې ولې نه وی،چه کوم تاسو (په مهر کښې) دوی ته ورکړې وو مګر (یو صورت البته حلال دې هغه)دا (چه (څوك) ښځه خاوند داسې وی چه دواړو ته خطره وی چه هغوی به (دزوجیت متعلق)دالله ﷻ مقرر شوی ضابطو لره قائم نه کړې شی.

نو داسې صورت کښې مخکښې فرمائی چه «فلا جناح علیهما فیما افتدت به» یعنی په دواړو باندې هیڅ ګناه به نه وی،دهغه مال په اخستو کښې چه کوم ښځه ورکړی او خپل ځان خلاص کړی.

ددې آیت کریمه په بناء باندې دخلع مشروعیت اوجواز باندې اتفاق دی البته مشهور تابعی بکر بن عبدالله دې لره جائز ګڼړی نه چه د ښځې دجدائی په عوض کښې خاوند څه مال

---

۱) فتح الباری: ۴۹۵/۹، مختصر اختلاف ا لعلماء للطحاوی : ۴۶۵/۲).
۲) اوګورئ المحلی لابن حزم الظاهری،احکام الخلع ،ر قم المسئلة: ۲۴۹/۱۹۷۸،۱۰).
۳) المغنی لابن قدامة کتاب الخلع،رقم المسالة : ۲۴۹/۵۷۵۵،۷).
۴) فتح الباری: ۴۹۵/۹).
۵) فیض الباری: ۴ /۳۱۸).

حاصل کړي،هغه دقران پاك دسورة نساء آیت مبارك«فلا تاخذو منه شيئا»نه استدلال کوي،اوفرمائي چه سورة بقره آیت منسوخ شوې دې لیکن ددوی داقول شاذ دې،دسورة نساء یوبل آیت مبارك کښې دی چه«فان طبن لکم عن شيئا منه نفسا فکلوه هنيئا مريئا»چه ددې نه معلوم شو که ښځه په رضامندئی سره څه ورکول غواړی نو ددې اخستل جائز دی او په خلع کښې ښځه په رضامندئی سره ورکوی،(۱)

قوله: وَأَجَازَ عُمَرُ الْخُلْعَ دُونَ السُّلْطَانِ: حضرت عمرفاروق ﷺ خلع دسلطان نه بغیر جائز اوګنړله،دجمهورو هم دا مسلك دې چه په خلع کښې د بادشاه اوقاضی شرط نشته دې،ددوی نه بغیرخلع صحیح کیدیشی.

حضرت حسن بصری ﷺ و ابن سیرین ﷺ او ابوعبیده ﷺ فرمائي چه دبادشاه او سلطان نه بغیر خلع جائز نه ده .(۲)دا تعلیق ابن ابی شیبه ﷺ موصولاً نقل کړې دې،(۳)

قوله: وَأَجَازَ عُثْمَانُ الْخُلْعَ دُونَ عِقَاصِ رَأْسِهَا: «عقاص»د«عقيصة»جمع ده،د ویښتو کمسئ یا هغه تار ته وئیلې شي چه په هغې سره دویښتو کمسئ تړلې شي،(۴) حضرت عثمان ﷺ دویښتو د کمسئ نه علاوه په خلع کښې نور ټول سامان اخستل جائز ګڼړی.

په دې کښې اختلاف دې چه خاوند ورت څومره مال ورکړې دې دهغې نه زیات دښځې نه په خلع کښې اخستې شي یانه ؟.

دحضرت امام مالك ﷺ او حضرت امام شافعي ﷺ په نیزخاوند دخپل ورکړې شوی مال نه زیات طلب کولې شي .(۵)

حضرت امام احمد بن حنبل ﷺ او امام اسحاق ﷺ فرمائي چه دزیات اخستلو اجازت نشته دې،(۶)

دحنفیانودوه قوله دی،یو د جواز اوبل د کراهت په دواړو کښې تطبیق څه داسې کیدیشی که نشوز اونافرمانه ښځې دطرفنه وی نو زیات مال اخستلې شي اوکه اضرار اوایذاء د سړی د طرفنه وی اوددې په بناء باندې دخلع نوبت راغلو نو په دې صورت کښې زیات مال مکروه دی،(۷)

حافظ ابن حجر ﷺ فرمائي چه حضرت عثمان ﷺ دې تعلیق لره مونږ په امالی ابن قاسم کښې موصولاً نقل کړې دې،(۸)

---

۱) (۴۹۵/۹).
۲) فتح الباري: ۴۹۷/۹، اوګورئ مختصر اختلاف العلماء للطحاوي: ۴۶۵/۲، ۴۶۶).
۳) عمدة القاري: ۲۶۱/۲۰).
۴) عمدة القاري: ۲۶۱/۲۰).
۵) عمدة القاري: ۲۶۲/۲۰ . اوجز المسالک : ۱۰۴/۱۰،ماجاء فی الخلع).
۶) عمدة القاري: ۲۶۲/۲۰).
۷) اوګورئ فتح التقدير: ۱۹۴/۴،باب الخلع واوجز المسالک : ۱۰۵/۱۰).
۸) فتح الباري: ۴۹۶/۹).

قوله: وَقَالَ طَاوُسٌ إِلَّا أَنْ يَخَافَا أَلَّا يُقِيمَا حُدُودَ اللَّهِ فِيمَا افْتَرَضَ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا عَلَى صَاحِبِهِ فِي الْعِشْرَةِ: حضرت طاوس رحمه الله فرمائي چه د قران پاك آيت كښې ((حدودالله)) نه هغه حدود مراد دي چه كوم دښځې خاوند ترمينځه‌وي، په معاشرت او مصاحبت كښې الله تعالى دوى كښې هر يو دپاره په بل باندې مقرر كړي دي.

قوله: وَلَمْ يَقُلْ قَوْلَ السُّفَهَاءِ لَا يَحِلُّ حَتَّى تَقُولَ لَا أَغْتَسِلُ لَكَ مِنْ جَنَابَةٍ: دا دعبدالله بن طاوس مقوله ده، هغه فرمائي چه طاوس داحمقو داقول نه دې اختيار كړې چه خلع تر هغه وخته پوره حلال نه ده تركومې پورې چه دا اونه وائي چه خه به تاسره وطى نه كوم، په دې خائې كښې په بخارى كښې اختصار دې، عبدالرزاق دا تعليق موصولاً نقل كړې دې، (١) ددې نه واضح كيږى چه د ابن طاوس مقوله ده.

په دې كښې په حضرت حسن بصرى رحمه الله او امام شعبى رحمه الله باندې تعريض كړې دې، ددوى دواړو مذهب دادې چه تركومې پورې ښځه دنافرمانئى او جماع نه انكار اونكړى تر هغه وخته پورې خلع كول درست نه دى، ((لايحل حتى يقول....)) يعنى خلع حلال نه ده تر دې پورې چه ښځه اووائي چه ((لااغتسل لك من جنابة)) دا دجماع نه كنايه ده يعنى ښځه اووائي چه خه ستا د صحبت كولو دپاره تياره نه يم، نوبيا خلع حلاليږى (٢) ابن طاوس دا ردكړې دې او فرمائي چه داد طاوس مذهب نه دې، دجماع دانكار كولو نه باجودكه د دواړو په مينځ كښې معاشرت او استوګنې حوالې سره‌ديو بل حقوق ادا كول او مزاجونوكښې مناسبت بالكل پاتې نشوه نو داسې صورت كښې هم خلع كولې شى

[٤٩٧١] حَدَّثَنَا أَزْهَرُ بْنُ جَمِيلٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ الثَّقَفِيُّ حَدَّثَنَا خَالِدٌ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ امْرَأَةَ ثَابِتِ بْنِ قَيْسٍ أَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ ثَابِتُ بْنُ قَيْسٍ مَا أَعْتِبُ عَلَيْهِ فِي خُلُقٍ وَلَا دِينٍ وَلَكِنِّي أَكْرَهُ الْكُفْرَ فِي الْإِسْلَامِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَرُدِّينَ عَلَيْهِ حَدِيقَتَهُ قَالَتْ نَعَمْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اقْبَلِ الْحَدِيقَةَ وَطَلِّقْهَا تَطْلِيقَةً قَالَ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ لَا يُتَابَعُ فِيهِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ

حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمائي چه دثابت بن قيس بى بى دحضرت نبى عليه السلام په خدمت كښې حاضره شوه اوعرض ئې اوكړو چه يارسول الله صلى الله عليه وسلم چه خه د ثابت بن قيس د خه‌خراب عادت يا ديندارئ او ديانتدارئى دكمئ په وجه خفه نه يم ليكن خه په حالت داسلام كښې ناشكرئى نه كول غواړم، حضرت نبى عليه السلام اوفرمائيل چه آيا ته هغه باغ واپس كولو دپاره تياره ئې ؟ هغې اووئيل چه آو، حضرت نبى عليه السلام ثابت بن قيس ته‌اوفرمائيل چه‌ددې نه باغ واخله او دې ته طلاق وركړه.

---

١) فتح البارى: ٩/٤٩٧).

٢) فتح البارى: ٩/٤٩٧).

قوله: امراۃ ثابت بن قیس: حضرت ثابت بن قیس بن شماس رضی اللہ عنہ خطیب الانصار اومشهور صحابی دې، الله ﷺ هغه ته اوچت اوستر مقام ورکړې وو، ددوی بی بی دوی سره خلع کړې وه ځکه چه حضرت ثابت شکل وصورت لحاظ سره بالکل حسین نه وو. ددې ښځې نوم دباب آخری روایت کښې «جمیله» راغلې دې، دا جمیله بنت عبدالله بن ابی بن سلول یعنی د راس المنافقین لور ده.

د دار قطنی په روایت کښې ددې نوم زینب راغلې دې، کیدیشی چه دیو ښځې دوه نومونه وی یا یونوم او بل لقب وی، (۱)

په دې ځائې کښې د حضرت امام بخاری رحمه الله په بل روایت کښې دی چه «ان اخت عبدالله بن ابی» په دې کښې دعبدالله نه راس المنافقین مراد نه دې بلکه دده ځوئې عبدالله مراد دې چه کوم مخلص صحابی وو، په دې ځائې کښې ئې نسبت نیکه طرفته اوشو، اصل عبارت دادې چه «ان اخت عبدالله بن عبدالله بن ابی» حاصل دادې چه جمیله د راس المنافقین عبدالله بن ابی خور نه ده بلکه دده لور او دعبدالله بن عبدالله بن ابی خور ده، او د بخاری په روایت کښې دعبدالله بن ابی نه راس المنافقین مراد نه دې بلکه دده ځوئې مراد دې چه کوم مخلص صحابی وو، لیکن په دې ځائې کښې ددوی نسبت ددوی نیکه طرفته اوشو، (۲)

ابن الاثیر رحمه الله او امام نووی رحمه الله فرمائی چه دا دراس المنافقین خوروه، لور نه وه، لکه څنګه چه د بخاری په روایت کښې دی (۳) لیکن د حافظ ابن حجر رحمه الله رجحان دې طرفته دې چه کوم پورته ذکر کړو.

بعضو دې لره په تعدد واقعاتو باندې محمول کړې دې او وائی چه د راس المنافقین خور او لور دواړه د ثابت بن قیس په عقد کښې وې، خو په دې باندې څه کلك دلیل نشته دې، اصل عدم تعدد دې. (۴)

بعضو روایتونو کښې ددې ښځې نوم حبیبه بنت بنت سهل راغلې دې، حافظ ابن حجر رحمه الله فرمانیلی دی چه ظاهر دادی چه جمیله بنت عبدالله او حبیبه بنت سهل د دواړو بیل بیل واقعات دی. او دواړو سره دخلع واقعه راپیښه شوې وه، باقی د جمیله په نوم او نسب کښې چه کوم اختلاف دې هغه په تعدد واقعات باندې محمول کول خلاف سیاق دی نو هغه لیکی چه:

«قلت والذی یظهر انهما قصتان وقعتا لامراتین لشهرة الخبر وصحة الطرفین واختلاف السیاقین بخلاف ماوقع من الاختلاف فی تسمیة جمیلة ونسبها فان سیاق قصتها متقارب فامکن رد الاختلاف فیه الی الوفاق» (۵)

---

۱) فتح الباری: ۴۹۸/۹).
۲) فتح الباری: ۴۹۸/۹).
۳) فتح الباری: ۴۹۸/۹).
۴) فتح الباری: ۴۹۸/۹).
۵) فتح الباری: ۴۹۹/۹).

قوله: ولكن اكره الكفر في الاسلام: ددې جملې نه څلور مطلبونه حاصليدې شي.

① دكفر نه مراد ناشكري اوكفران عشير دې اومطلب دادې چه دا خو خما سره ښه اخلاق اوحسن سلوك سره ژوند كوي او خه دوی طرفته مائل نه يم،اعراض او نفرت كوم،نو دا ناشكري دمسلمانيدو نه پس ماته خوښه نه ده،لهذا خه ده سره اوسيدل نه غواړم چه ددې ناشكرئ ارتكاب اونشي.

② دويم مطلب داكيدېشي كه دې ما پرې نږدی نو دنفرت دشدت په وجه به نكاح فسخ كولو دپاره ماته په كفر او ارتداد كښې داخته كيدو خطره ده او داسلام راوړو نه پس كفر اختيارول ماته خوښ نه دی ددې وجې دې دې ما پريږدی.

③ علامه طيبی رحمه الله فرمائی چه دكفر نه مراد نافرمانی او دنفرت اظهار دې چه داسلامی احكامو خلاف دې،داسلام د تقاضو خلاف رويه باندې دكفر اطلاق اوكړو او مطلب دادې چه داسلام راوړو نه پس دده تعليمات خلاف عمل كول ماته خوښ نه دی او چونكه خما دده سره مناسبت او محبت نشته دې ددې وجې د اسلامی حكم برخلاف نافرمانی اودنفرت كولو ارتكاب ماته انديښنه ده،لهذا ما دده نه بيله كړه.

④ اودا هم احتمال دې چه په دې ځائې كښې مضاف محذوف اومنلې شي «اى اكره لوازم الكفر» يعنی اسلام كښې دكفر لوازم «نافرمانئ ،نفرت اوجنګ» ماته خوښ نه دی،ددې وجې مادده نه جدا كړئی.(١)

قوله: اقبل الحديقة وطلقها تطليقة: حضرت امام احمد بن حنبل رحمه الله ددې جملې نه استدلال كوی اوفرمائی چه خلع طلاق نه دې بلكه فسخ دنكاح ده،ددې وجې،كه خلع طلاق وې نو حضرت نبی كريم ﷺ به «طلقها تطليقة» نه فرمائيل.

ليكن ددې جملې نه دخلع فسخ نكاح باندې استدلال كول درست نه دی ځكه چه ددې نه زيات داثابت دی چه دا طلاق علی المال دې،او مطلب دادې چه ته باغ قبول كړه او طلاق وركړه نودا دطلاق علی المال صورت جوړ شو.

محل اختلاف دادې كه چا خلع اوكړه اود طلاق لفظ ئې استعمال نكړونو طلاق به واقع شی كه نه اومذكوره جملې نه ددې متعلق څه استدلال نشی كولې.(٢)

قوله: قال ابوعبدالله لا يتابع فيه عن ابن عباس: حضرت امام بخاری رحمه الله فرمائی چه په دې حديث كښې ددوی دشيخ ازهر بن جميل دحضرت ابن عباس رضی الله عنهما باره كښې متابعت نه دې كړې شوې،يعنی نورو حضراتو په سند كښې دحضرت ابن عباس رضی الله عنهما ذكر نه دې كړې،بلكه عكرمه نه ئې دا مرسلاً نقل كړې دې نو دباب په دويم روايت كښې چه په هغې كښې د حضرت امام بخاری رحمه الله شيخ اسحاق واسطی دې عكرمه نه مرسلاً منقول

---

١) مذكوره تفصيل دپاره اوګورئ فتح الباری: ٥٠٠/٩،وعمدة القاری: ٢٦٣/٢٠).

٢) فتح الباری: ٥٠١/٩،و اوجز المسالک،كتاب الطلاق،باب الخلع : ١٠/١٠٠).

دې،حاصل دادې چه په دې حدیث کښې دخالد حذا چه کوم طریق دې هغه صرف ازهر بن جمیل نه موصولاً منقول دې باقی حضراتو ددوی طریق سره داحدیث مرسلاً نقل کوی البته دویم طریق د«ایوب عن عکرمة»دې هغه امام په دې ځائې کښې په څلورم نمبر باندې موصولاً نقل کړې دې.

[۴۹۷۲] حَدَّثَنَا اِسْحَاقُ الْوَاسِطِيُّ حَدَّثَنَا خَالِدٌ عَنْ خَالِدٍ الْحَذَّاءِ عَنْ عِكْرِمَةَ اَنَّ اُخْتَ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ اُبَيٍّ بِهٰذَا وَقَالَ تَرُدِّينَ حَدِيقَتَهُ قَالَتْ نَعَمْ فَرَدَّتْهَا وَاَمَرَهُ يُطَلِّقْهَا وَقَالَ اِبْرَاهِيمُ بْنُ طَهْمَانَ عَنْ خَالِدٍ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَطَلِّقْهَا وَعَنْ اَيُّوبَ بْنِ اَبِي تَمِيمَةَ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ اَنَّهُ قَالَ جَاءَتْ امْرَاَةُ ثَابِتِ بْنِ قَيْسٍ اِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللّٰهِ اِنِّي لَا اَعْتِبُ عَلَى ثَابِتٍ فِي دِينٍ وَلَا خُلُقٍ وَلٰكِنِّي لَا اُطِيقُهُ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَرُدِّينَ عَلَيْهِ حَدِيقَتَهُ قَالَتْ نَعَمْ

[۴۹۷۳] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ الْمُبَارَكِ الْمُخَرِّمِيُّ حَدَّثَنَا قُرَادٌ اَبُو نُوحٍ حَدَّثَنَا جَرِيرُ بْنُ حَازِمٍ عَنْ اَيُّوبَ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ جَاءَتْ امْرَاَةُ ثَابِتِ بْنِ قَيْسِ بْنِ شَمَّاسٍ اِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللّٰهِ مَا اَنْقِمُ عَلَى ثَابِتٍ فِي دِينٍ وَلَا خُلُقٍ اِلَّا اَنِّي اَخَافُ الْكُفْرَ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَرُدِّينَ عَلَيْهِ حَدِيقَتَهُ فَقَالَتْ نَعَمْ فَرَدَّتْ عَلَيْهِ وَاَمَرَهُ فَفَارَقَهَا

حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ حَدَّثَنَا حَمَّادٌ عَنْ اَيُّوبَ عَنْ عِكْرِمَةَ اَنَّ جَمِيلَةَ فَذَكَرَ الْحَدِيثَ

قوله: وقال ابراهیم بن طهمان عن خالد عن عکرمة عن النبی ﷺ: دابراهیم بن طهمان دوه شیوخ دی،یو خالد حذا او دویم ایوب بن ابی تمیمه،خالد حذا نه خودا حدیث مرسلاً نقل کوی.البته ایوب نه هغه دا موصولاً نقل کوی،حضرت امام بخاری رحمه الله په دې ځائې کښې دواړه ذکرکړل.

قوله: حدثنا قراد: قراد د حضرت امام بخاری رحمه الله شیخ الشیخ دې،دا ددوی لقب دې.ددوی نوم عبدالرحمان بن غزوان دې اوابونوح ئې کنیت دې،داثقه دې اوجلیل القدر محدثینوکښې دې ،البته لیث بن سعد نه هغوی یو روایت نقل کوی،په دې روایت باندې محدثینو کلام کړې دې.صحیح بخاری کښې ددوی صرف دایوروایت دې،د حضرت امام بخاری رحمه الله نه علاوه دامام ابو داود رحمه الله امام ترمذی رحمه الله او امام نسائی رحمه الله هم ددوی نه روایتونه کړی دی.ددوی وفات په کال ۲۰۷ هجرئی کښې اوشو، (۱)

---

۱) فتح الباری: ۵۰۱/۹،وعمدة القاری: ۲٦٤/۲۰،وتهذیب الکمال: ۳۳۸/۱۷،رقم الحدیث: ۳۹۲۷).

١٢=بَاب الشِّقَاقِ وَهَلْ يُشِيرُ بِالْخُلْعِ عِنْدَ الضَّرُورَةِ

وَقَوْلِهِ تَعَالَى: ﴿وَإِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَيْنِهِمَا فَابْعَثُوا حَكَمًا مِنْ أَهْلِهِ وَحَكَمًا مِنْ أَهْلِهَا إِلَى قَوْلِهِ خَبِيرًا﴾ (النساء:٣٥).

[٤٩٧٣] حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ عَنِ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ الزُّهْرِيِّ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ بَنِي الْمُغِيرَةِ اسْتَأْذَنُوا فِي أَنْ يَنْكِحَ عَلِيٌّ ابْنَتَهُمْ فَلَا آذَنُ [ر:٨٨٣].

داباب شقاق يعنى اختلاف بين الزوجين په بيان كښې دې ،مخكښې فرمائى چه((وهل يشير بالخلع عند الضرورة)) او آيا دضرورت په وخت كښې حاكم او ولى دخلع مشوره وركولې شى، بعضې نسخوكښې((....عند الضرر))دې يعنى په خپل مينځ كښې معاشرت كښې د زوجينو په مينځ كښې ضرر لاحق كيږى نو داسې صورت كښې د خلع مشوره وركولې شى.

د ((يشير)) فاعل حاكم يا ولى محذوف دې،مخكښې په ترجمة الباب كښې دسورت نساء آيت نقل كوى الله ﷻ حكامو ته خطاب كوى او فرمائى كه " ستاسودزوجينو په مينځ كښې (داسې)اختلافات انديښنه وى(چه تاسو به هغه په خپل مينځ كښې صحيح نه كړئى شئ) نو يو حكم(منصف) سړى د خاندان نه او يو حكم د ښځې دخاندان اوليږئى كه هغوى دواړه اصلاح غواړى نو الله ﷻ به د زوجينو په مينځ كښې اتفاق اوفرمائى.

دزوجينوپه رشته دارو كښې حكم اومصنف جوړولو فائده دا ده چه اقاربو ته به ددوى حالات هم معلوم وى،او ددوى نه به دخيرخواهئى اميد هم وى،كه داقاربو نه څوك نه ملاويږى نو بيا دې په څه بل مناسب او ددې كار دپاره لائق سړې اوټاكى،كه هغه دواړو حكم او منصف اصلاح بين الزوجين كښې اصلاح اوغواړى نو الله ﷻ به ددوى دحسن نيت اوحسن سعى په وجه دزوجينوپه مينځ كښې موافقت راولى.

دا دواړه منصفان كه په څه خبره باندې متفق شونو هغه خبره به نافذ العمل وى،ليكن كه دواړو دښځې خاوند په جدائى باندې اتفاق اوكړونو د حضرت امام مالك رحمه الله په نيزجدائى به واقع شى،ائمه ثلاثه فرمائى چه جدائى به واقع نشى،ځكه چه دطلاق اختيار خاوند لره دې،دده د رضامندئى او اجازت نه بغيرجدائى به نه وى،(١)

دترجمة الباب سره دحديث مناسبت: د باب لاندې حضرت امام بخارى رحمه الله چه كوم حديث نقل كړې دې،هغه په كتاب النكاح كښې چه حضرت نبى كريم ﷺ خطبه اوفرمائيله او وې فرمائيل چه بنى مغيره دخپلې لور د حضرت على رضي الله عنه سره د نكاح كولو څما نه اجازت اخستې وو ،ليكن ما هغوئ ته ورنكړو.

علامه كرمانى رحمه الله فرمائى چه داحديث په دې باب كښې د ذكر كولو وجه داده چه حضرت فاطمه رضي الله عنها د حضرت على رضي الله عنه په دې نكاح باندې راضى نه وه،كه حضرت على رضي الله عنه نكاح

---

١) فتح البارى: ٩/ ٥٠٤، ٥٠٥).

کوي وي نو د دواړو په مینځ کښې بهٔ دشقاق او اختلاف اندیښنه وه، حضرت نبی کریم ﷺ حضرت علی رضی الله عنه د نکاح کولو نه منع کړو اود دواړو په مینځ کښې ئې متوقع اختلاف ختم کړو، نو علامه کرمانی رحمه الله لیکی چه:

((توجد مطابقة الترجمة من كون فاطمة ما كانت ترضى بذالك فكان الشقاق بينهما وبين على متوقعا فاراد ﷺ دفع وقوعه بمنع على من ذالك بطريق الايماء والاشارة))(١)

حافظ ابن حجر رحمه الله دحدیث او ترجمة الباب مناسبت تعریف اوکړو او وې فرمائیل چه ((وهى مناسبة جيدة))(٢)

١٣- بَابٌ لَايَكُونُ بَيْعُ الْأَمَةِ طَلَاقًا

[۴۹۷۵] حَدَّثَنَا اِسْمَاعِيلُ بْنُ عَبْدِ اللهِ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ رَبِيعَةَ بْنِ اَبِي عَبْدِ الرَّحْمٰنِ عَنْ الْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ كَانَ فِي بَرِيرَةَ ثَلَاثُ سُنَنٍ اِحْدَى السُّنَنِ اَنَّهَا اُعْتِقَتْ فَخُيِّرَتْ فِي زَوْجِهَا وَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْوَلَاءُ لِمَنْ اَعْتَقَ وَدَخَلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْبُرْمَةُ تَفُورُ بِلَحْمٍ فَقُرِّبَ اِلَيْهِ خُبْزٌ وَاُدْمٌ مِنْ اُدْمِ الْبَيْتِ فَقَالَ اَلَمْ اَرَ الْبُرْمَةَ فِيهَا لَحْمٌ قَالُوا بَلٰى وَلٰكِنْ ذٰلِكَ لَحْمٌ تُصُدِّقَ بِهِ عَلٰى بَرِيرَةَ وَاَنْتَ لَا تَاْكُلُ الصَّدَقَةَ قَالَ عَلَيْهَا صَدَقَةٌ وَلَنَا هَدِيَّةٌ [ر:۳۸۰۹].

واده شوې وینځه که مالك خرڅه کړی نو دده دا بیع به طلاق شمیرلی کیږی که نه، په دې کښې اختلاف دې، دجمهور علماء مسلك دادې چه خرڅولو سره به طلاق واقع نه وی، حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه او حضرت ابی بن کعب رضی الله عنه نه روایت دې چه بیع سره به طلاق واقع وی. حضرت امام بخاری رحمه الله د جمهورو تائید کړې دې، روایت باب دجمهورو دلیل دې، په دې کښې د حضرت بریره رضی الله عنها واقعه ده. کوم چه حضرت عائشه رضی الله عنها اخستې وه اوآزاده کړې وو، اوهغې ته ئې د حضرت مغیث په زوجیت کښې د اوسیدو او نه اوسیدو اختیار ورکړې وو، دا دخیار حاصلول ددې خبرې دلیل دې چه بیع سره طلاق نه واقع کیږی، که نفس بیع سره طلاق واقع کیدی نو بیا په زوجیت کښې د اوسیدو او نه اوسیدو اختیار چرته حاصلیږی.(۳)

((برمة)) کټوې ته وائی.

---

١) شرح الكرمانى: ١٩/٢٠٠).

٢) فتح البارى: ٥٠٥/٩).

٣) مذکوره تفصیل دپاره اوګورئ عمدة القارى: ٢٦٦/٢٠، وفتح البارى: ٥٠٥/٩. دلته دپاکستان په عدالت کښې عائلی قوانینو کښې دخلع متعلق دقران وسنت خلاف یو فیصله باندې تنبیه مناسب معلومیږی. په کال ۱۹۶۷ء کښې دپاکستان سپریم کورټ په رومبی خل دا فیصله ورکړه که ښځه په عدالت کښې دخلع درخواست ورکړی او عدالت دا محسوس کړی چه د فریقینو په مینځ کښې خوشګوار تعلقات قائمیدل مشکل دی نو هغه د خاوند درضامندئی نه بغیر هم خلع کولې شی او نکاح فسخ کولې شی.
دسپریم کورټ دا فیصله داسلامی شریعت بالکل خلاف وه ځکه چه دقران وسنت واضح حکم دادې چه خلع د ښځې اوخاوند یو دوه اړخیزه معاهده ده چه دا د فریقینو ..... (بقیه حاشیه په بل مخ......

....دتیرمخ باقي حاشیه] په رضامندنی سره انجام ته رسي، او زوجینو نه هیڅ یو فریق په دې باندې نه مجبوره کوی بل فریق، نو دخوارلسوسوو کالو راسې دفقهاء امت په دې باندې اجماع ده چه دخلع دپاره دواړو فریقو رضامندی ضروری ده، او هیڅ یو فریق یو طرفیزه خلع نشی کولې، د ۱۹۶۷ء نه مخکښې د پاکستان په ټولو عدالتونو هم ددې فیصلې مطابق فیصلې کیدې.
د سپریم کورټ د ۱۹۶۷ء دفیصلې شاته چه کومه ذهنیت کارفرما دې، هغه په حقیقت کښې دادې چه د مغربی ملکونو په تقلید کښې دلته هم ښځې ته دطلاق اختیار ورکړې شي، البته عدالت دمسلمانانو سره دشرم حضوری په خاطر ددې طلاق نوم نې صرف خلع اینودې دې، ګنې عملی طور ددې مطلب هم دادې چه ښځه کله غواړی نو خپل خاوند ته به طلاق ورکړی اوجدا به شی.
چه کوم سړی په مسلمانه کورنۍ کښې سترګې غړولې وی او ددې حقیقت نه واقف وی چه الله ﷻ دطلاق اختیار حق صرف سړی ته ورکړې دې ښځې ته نه، البته که ښځه دڅه خاص مجبورنی له کبله خاوند سره اوسیدل نه غواړی نو (لکه سړې پاګل وی، یا مفقود الخبر وی، یادنان نفقې ورکولو نه منکر وی، یا نامرد وی) نو ددې دپاره دعدالت په ذریعه دنکاح فسخ کولو یو خاص طریقه اسلام مقرر کړې ده، لیکن ترکومې چه دخلع تعلق دې نودا شرعی اعتبار سره په هغه صورت کښې کولې شي چه کله ښځه خاوند دواړه راضي وی، یو طرفیزه ښځې ته داحق حاصل نه دې چه کله هغه اوغواړی دعدالت نه دې پروانه واخلی اودخاوند نه دې جدا شی، د طلاق ورکول او د نکاح ختمولو اختیار قران پاک صرف سړی ته ورکړې دې، قران پاک دخاوند په باره کښې په سورة بقره کښې په آیت ۲۳ کښې فرمائیلی دی چه: بیده عقدة النکاح هم دده په لاس کښې د نکاح غوټه ده.
ددې نه علاوه په پوره قران پاک کښې د طلاق ورکولو تذکره باربار رازی، اوهر خائې ددې نسبت هم سړی طرفته شوې دې، دښځې د طلاق ورکولو چرته هم ذکر نشته دې، او هم داشان دحضرت نبی کریم ﷺ واضح ارشاد دې چه: «الطلاق بالرجال والعدة بالنساء»
(دطلاق اختیار سړی ته دې او دعدت په شمیر کښې دښځو قول معتبر دې)
هم داشان چه په کوم آیت کښې قران پاک د خلع ذکر کړې دې په هغه ځائې کښې ددې خبرې صراحت موجود دې چه خلع دزوجین په خپلو کښې درضامندنی سره منعقد کولې شی. هیڅ یو فریق په دې باندې مجبورولې نشی، د خلع په آیت مبارک کښې ارشاد دې چه:
ولاتاخذوامما اتیتموهن شیئا الا ان یخافا ان لا یقیما حدود الله: (اوتاسو چه ښځو ته کوم مهر ورکړې دې په هغې کښې هیڅ حصه مه اخلئ، مګر دا چه ښځې خاوند دواړه ته دا خطره وی چه هغوی به د الله ﷻ حدودو قائم اونه ساتلې شی).
دلته دا واضح کړې شوی دی چه خلع صرف په هغه صورت کښې کیدیشي چه کله ښځه خاوند په دې باندې متفق وی چه هغوی به نکاح باقی اوساتی اودالله ﷻ حدود به قائم اونه ساتلې شی، نو ددې نه فوراً پس ارشاد دې چه:
فان خفتم ان لا یقیما حدود الله فلا جناح علیهما فیما افتدت به: (نو که تاسو ته اندیښنه وی چه زوجین به دالله ﷻ حدود قائم نه کړی شی نو په دواړو باندې په دې مال کښې څه حرج نشته دې چه کوم ښځه د فدیې په طور ورکړی او رهائی حاصله کړی)
دلته دا پوهیدل پکار دی چه په خلع کښې دطرفینو رضامندئ دضروری نه کیدل ددې آیت مبارک نه ثابتولو کوشش کیږی او وئیلې کیږی چه په دې آیت کښې حکامو ته خطاب کړې شوې دې. لهذا د خلع دانعقاد انحصار دحاکم په فیصله باندې دې نه دطرفینو په رضامندنی باندې، حالانکه په آیت کښې موجود دی «فلا جناح علیهما» (په دې دواړو باندې څه حرج نشته) الفاظ او داشان دآیت په شروع کښې الفاظ «الا ان یخافا ان لا یقیما حدود الله» صراحتًا وائی چه د خلع دمنعقد کیدو دپاره د دواړو فریقو رضامندی ضروری ده. مګر دا چه ښځې خاوند دواړو ته دا اندیښنه وی چه هغوی به دالله ﷻ حدود لره قائم نه کړې شی.
.....[بقیه حاشیه په بل مخ......

۱۴=باب خِيَارِ الْأَمَةِ تَحْتَ الْعَبْدِ

[۴۹۷۶] حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ وَهَمَّامٌ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ رَأَيْتُهُ عَبْدًا يَعْنِي زَوْجَ بَرِيرَةَ

[۴۹۷۷] حَدَّثَنَا عَبْدُ الْأَعْلَى بْنُ حَمَّادٍ حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ حَدَّثَنَا أَيُّوبُ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ ذَاكَ مُغِيثٌ عَبْدُ بَنِي فُلَانٍ يَعْنِي زَوْجَ بَرِيرَةَ كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَيْهِ يَتْبَعُهَا فِي سِكَكِ الْمَدِينَةِ يَبْكِي عَلَيْهَا

[۴۹۷۸] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ كَانَ زَوْجُ بَرِيرَةَ عَبْدًا أَسْوَدَ يُقَالُ لَهُ مُغِيثٌ عَبْدًا لِبَنِي فُلَانٍ كَأَنِّي

...دتیرمخ باقی حاشیه] په دې سلسله کښې د صحيح بخارى د ترجمة الباب ددې روايت استدلال کولې شي،حالانکه د يومعمولي پوهې والا سړې ددې روايت په دې پوهيدلې شي چه حضرت نبی کريم ﷺ په دې موقع باندې پخپله نکاح فسخ نه کړه بلکه حضرت ثابت بن قيس ته ئې د طلاق ورکولو مشورد ورکړه،نو هغوى هم دا مشوره قبوله کړه . دنسائی په روايت کښې دی چه حضرت ثابت بن قيس رضی الله عنه ته ئې اوفرمائيل چه :خذالذى لها عليك وخل سبيلها قال نعم:(چه کوم په تا باندې دهغې واجب وو هغه واخله اوهغه پرېږده،حضرت ثابت بن قيس رضی الله عنه اوفرمائيل چه ښه).(۳)

داالفاظ پوره صراحت سره وائى چه دا معامله د حضرت ثابت بن قيس رضی الله عنه رضامندئى سره شوې وه. که صرف د ښځې په درخواست باندې دخاوند درضامندئى نه بغير خلع کيدېشوې نو حضرت نبى کريم ﷺ به پخپله نکاح فسخ کړې وې،نو امام ابوبکر جصاص رازى رحمه الله په دې واقعه باندې تبصره کوى او ليکى چه:

"که دخلع سلطان ته حاصل وې،که زوجينو غوښتلې يا ئې نه غوښتلې نو حضرت نبى کريم به ددې دواړو نه به ئې سوال نه کولو او خاوند ته به ئې دا نه فرمائيل چه ته دې سره خلع اوکړه بلکه پخپله به ئې خلع کړې وې او هغه ښځه به ئې جدا کړې وې،او خاوند ته به ئې دهغه باغ واپس کړې وې،که دواړو انکار کولې يا په هغوى کښې يو انکار کولې،لکه څنګه چه په لعان کښې د فسخ نکاح اختيار حاکم ته وى نو هغه ملاعن (خاوند) ته دا نه وائى چه خپله ښځه پرېږده بلکه پخپله تفريق راولى".(۳)

لهذاددې روايت باب نه مدعا نه صرف دا چه تعلق نشته بلکه دا روايت صراحتًا ددې ترديد کوى.

حقيقت دادې چه مغرب په نن وخت دښځو دآزادئى حوالې سره کومه منصوبه روانه کړې ده،لا ير ملکونه ددې دهوکې نعرې په وجه په دام کښې راګير شوى دى او دقانون سازئ په وخت کښې د اسلام بنيادى اوفطرى تعليمات لره هم نظر انداز کړې شوى دى،اوس اوس دمصر حکومت ښځو ته د طلاق داختيار ورکولو قانون جوړ کړې دې چه دسړو په شان ښځو ته هم دا اختيار دې چه کله هغوى غوارى نوسړو ته دې طلاق ورکړى او جدائى دې حاصله کړى.داسلام فطرى تعليمات اوهميشګير صداقتونو برخلاف داشان قوانينو کښې که انسانى معاشرې دپاره د ښه والى اواصلاح اړخ موجود وې نو نن به دمغربى ژوند خاندانى معاشره نه تباه کيدلې،دمغرب فيملى نظام چه څنګه تباه وبرباد دې،مغربى اقوامو دپاره دا دتولونه لويه الميه ده،او دهغه ځائې دانشورانو اوس اسلامى تعليماتو طرفته ددې دحل دپاره سترګې غړولې دى .ليکن دمغربى تهذيب د پرق پړوق له کبله او ددې نه متاثره مسلمان ملکونو حکمران او قانوندان حضرات په نظر کښې تراوسه پورې دا حقيقت پټ دې (فالى الله المشتكى اللهم ارنا الحق حقا وارزقنا اتباعه وارنا الباطل باطلا وارزقنا اجتنابه).

انْظُرُ إِلَيْهِ يَطُوفُ وَرَاءَهَا فِي سِكَكِ الْمَدِينَةِ [ر: ٤٩٧٩].

مسئله خيار عتق: واده شوې وينځه كه آزاده كړې شى اوددې خاوندغلام وى نو بالاتفاق داسې ونيځې ته به خيار عتق حاصل وى،يعنى هغې ته به خپل خاوند سره داوسيدو اونه اوسيدو اختيار حاصل وى . ليكن كه ددې خاوند آزاد دې نو دې ته به خيار عتق حاصل وي كه نه،په دې كښې اختلاف دې.

دائمه ثلاثه په نيز دې ته به خيار عتق حاصل نه وى،د حضرت امام بخارى رحمه الله هم د مسلك دې،نوهغوى د " خيار الامة تحت العبد " ترجمه كوى اودې خبرې طرفته اشاره كوى چه اختيار به په هغه وخت كښې حاصل وى چه كله ددې خاوند غلام وى.مفهوم مخالف دادې كه خاون آزادوى نو اختيار به نه وى (١)

دحضرات حنفيه په نيز دې ته به خيار عتق حاصل وى،د دواړو فريقو استدلال دحضرت بريره رضى الله عنها واقعه نه دې حضرت بريره رضى الله عنها ته آزادئى نه پس بالاتفاق خيارعتق ملاؤ شوې وو، اوهغوى دخپل سابقه خاوند سره دنه اوسيدو فيصله كړې وه .دحضرت بريره رضى الله عنها د آزادئى په وخت كښې ددې خاوند حضرت مغيث باره كښې دوه قسمه روايتونه دى.بعضو روايتونو كښې دى چه هغه وخت كښې هغه آزاد وواوهم دا روايت دحنفيه مستدل دې اوبعضو كښې دى چه هغه غلام وو،آئمه ثلاثه دې دويم روايت ته ترجيح وركړې ده،ليكن دا روايت دهغوى دپاره دليل نه شى جوړيدې ځكه كه دا روايت تسليم كړې شى او اووئيلې شى چه په هغه وخت كښې هغه غلام وو نو دې نه د خيار الامة تحت العبد مسئله ثابت شوه چه متفق عليه ده.د خيار الامته تحت الحر په نفى باندې ددې روايتونو نه استدلال نشى كولې،(٢)په هغه وخت كښې د حضرت مغيث د غلام يا آزادئ متعلق اهم روايتونه دحضرت ابن عباس رضى الله عنهما او حضرت عائشه رضى الله عنها نه منقول دى.

دحضرت ابن عباس رضى الله عنهما په روايت كښې هيڅ اختلاف نشته دې،(٣) په دې كښې د حضرت مغيث دزوج بريره دغلام كيدوتصريح ده.ائمه ثلاثه هم دې روايتونوته ترجيح وركوى،حضرت امام بخارى رحمه الله هم په دې باب كښې صرف دحضرت ابن عباس رضى الله عنهما روايت نقل كړې دې .

دحضرت عائشه رضى الله عنها په روايت كښې اختلاف دې،دهغوى نه درې حضرات روايتونه نقل كوى . ①عروه②قاسم بن محمد③اسود. په دې دريو واړو كښې عروه او قاسم د دواړو په روايتونو كښې تعارض دې، بعضو كښې د زوج بريره د آزادئى او بعضو كښې د غلامئ تصريح ده،(٤)

---

١) فتح البارى: ٥٠٩/٩).

٢) عمدة القارى: ٢٦٧/٢٠).

٣) فتح البارى: ٥١٣/٩،باب بلاترجمة واوجزالمسالک ماجاء فى الخيار:٨٤/١٠).

٤) دعروه ددې روايت دپاره اوګورئ چه په هغې كښې د ((كان زوجا بريرحرا)) الفاظ دى . فتح البارى: ٥١٣/٩،(باب بلا ترجمه) ،دعروه په دويم روايت كښې د ((وكان عبدا)) الفاظ دى. امام مسلم نقل كړى دى،اوګورئ صحيح مسلم كتاب العتق،باب بيان الولاء [..... باقى حاشيه په بل مخ .....

البته اسود عن عائشه ﷺ په روايت کښې هيڅ اختلاف نشته دې،په دې کښې دزوج بريره دآزادئ تصريح ده. (۱)
ائمه ثلاثه دحضرت ابن عباس روايتونه او دحضرت عائشه ﷺ هغه روايتونو ته ترجيح ورکړې ده چه په هغې کښې((وكان عبدا))صراحت دې . (۲)
حضرات حنفيه دحضرت عائشه ﷺ د اسود والا روايت ته ترجيح ورکړې ده،چه په هغې کښې دی چه((وكان حرا))،حنفيه فرمائی چه عروه عن عائشه ﷺ او قاسم عن عائشه ﷺ د روايتونو دتعارض په وجه ساقط شوی دی،لهذا اسود عن عائشه ﷺ دروايت اعتبار.به وی ځکه چه هغه غير مختلف فيها دې،(۳)
او دحضرت عائشه ﷺ والا روايت دحضرت ابن عباس ﷺ روايت باندې ترجيح ورکولې شی،ځکه چه حضرت عائشه ﷺ حضرت بريره لره آزادولو او صاحب قصه ده.او حضرت ابن عباس ﷺ په هغه وخت کښې کم عمر وو.اودا قصه نيغ په نيغه دهغوی متعلق نه ده،ددې وجې په دې باب کښې دحضرت عائشه ﷺ روايت مدار او قابل اعتبار پکار دې .
همداشان د اسود عن عائشه والا روايت تسليم کولو په صورت کښې د دواړو قسمه روايتونو کښې جمع او تطبيق ممکن دی چه په هغه روايتونو کښې هغه ته((عبد))وئيلې شوی دی هغه دماضی اعتبار سره اووئيلې شو ځکه چه حضرت مغيث رومبې غلام وو.بيا آزاد کړې شو ځکه چه حريت او عبديت دوه داسې صفتونه دی چه په يو وخت کښې دواړه نشی جمع کيدې،دواړه به بيل بيل حالتونو کښې منلې شی چه((انه كان عبدا فى حالة،حرا فى حالة اخرى))وظاهر دی چه په دې صورت کښې به يو حالت مقدم وی او دويم حالت کښې به موخر او دا خبره په خپل ځائې کښې متعين ده چه درقيت نه پس حريت راتلې شی،ليکن حريت نه پس رقيت نه شی راتلې.لهذا رقيت به مقدم وی او حريت موخر . ددې وجې چه په کومو روايتونو کښې((وكان عبدا))تصريح ده هغه دماضی اعتبار سره ده او چه په کومو کښې((كان حرا))ی دهغې مطلب دادی چه دحضرت بريره د آزادئ په وخت کښې هغه حر وو،داشان دواړه قسمه روايتوکښې تعارض به نه وی،(۴)

...دتيرمخ باقی حاشيه] لمن اعتق : ۴۹۴/۱،قاسم دده خوئې عبدالرحمان نه په يوروايت کښې دی چه ((وكان حرا)) الفاظ نقل کړې شوی دی،اوګورئ فتح البارى: ۵۱۳/۹. او دقاسم په بل روايت کښې زوج بريره دغلام تصريح ده اوګورئ سنن ابی داود،كتاب الطلاق باب المملوكة تعتق وهی تحت حراوعبد: ۲۷۰/۲،رقم الحديث: ۲۲۳۴).
۱) سنن ابی داود،كتاب النكاح،باب من قال كان حرا :۲۷۰/۲،رقم الحديث : ۲۲۳۵،وسنن الترمذی كتاب الرضاع،باب ماجاء فى الامة تعتق ولها زوج :۴۶۱/۳، رقم الحديث: ۱۱۵۵).
۲) فتح البارى: ۵۱۴/۹).
۳) عمدة القارى: ۲۶۷/۲۰،واوجز المسالک :۸۴/۱۰).
۴) اوګورئ عمدة القارى: ۲۶۷/۲۰).

او باالفرض كه داهم تسليم كړې شي چه ټولو روايتونو كښې زوج بريره دغلام كيدو ذكردې، بيا هم آئمه ثلاثه دپاره هغه مستدل نشي جوړيدې، ځكه چه ددې نه زيات نه زيات خيار الامة تحت العبد يو متفق عليه مسئله دا ثابت به وى، خيار الامة تحت الحر په نفى باندې ددې روايتونو نه استدلال بهر حال به نشي كولې. (۱)

البته دسنن ابى داود اوترمذى شريف په درو ايت نه استدلال كوى چه كوم هشام بن عروه عن ابيه عن عائشه رضي الله عنها طريق سره مروى دې، په دې كښې دى چه ((قالت كان زوج بريرة عبدا فخيرها رسول الله صلى الله عليه وسلم فاختارت نفسها ولو كان حرا لم يخيرها)) (۲) په دې كښې د ((ولو كان حرا لم يخيرها)) حضرت عائشه رضي الله عنها قول دې . امام نووى رحمه الله فرمائى چه ((ومثل هذا لايكاد احد يقوله الا توقيفا)) يعنى حضرت عائشه رضي الله عنها دا جمله دخپل طرفنه اونه وئيله بلكه ضرور به ئې د حضرت نبى كريم صلى الله عليه وسلم نه ددې متعلق تپوس كړې وى ځكه چه دا شان جمله دخپل طرفنه نشى وئيلې. (۳)

ددې جواب دادې چه دا دحضرت عائشه رضي الله عنها قول نه دې بلكه دحضرت عروه قول دې، نو دنسائى په روايت كښې ددې تصريح ده، (۴) ددې وجې دا دهغوى خپل اجتهاد دې چه په بل مجتهد باندې حجت نه دې .

دا خو درو ايت اعتبار سره كلام وو، دعلت او درايت اعتبار سره ائمه ثلاثه فرمائى چه دخيار عتق علت عدم مساوات اوعدم كفاءت دې، ښځه آزاده شوه، خاوند غلام وى، د دواړو په مينځ كښې برابرى پاتې نشوه لهذا ښځې ته به خيار عتق حاصل وى، ليكن كه خاوند آزاد وى نو دعدم كفاءت دا علت به په هغه ځائې كښې نشى موندې، لهذا په دې صورت كښې ښځې ته خيارعتق به حاصل نه وى. (۵)

په حنفيانو كښې دصاحب هدايه په نيز خيار عتق دوينځې د آزاديدو نه پس دخپل نفس مالك كيدل دى، چه ددې په وجه ددې دخاوند دپاره په ښځه باندې د دريو طلاقو اختيار حاصل شو، حالانكه ددې نه مخكښې ده ته د دوؤ طلاق اختيار وو، لهذا دا اختيار كړې شو كه غواړى نو دخپل سابقه خاوند په زوجيت دې پاتې كيږى او په خپل طلاق كښې اضافه قبوله كړى اوكه غواړى نو دا اضافه قبوله نه كړى چه دې يو قسم خاوند ملكيت زيات شو

---

۱) عمدة القارى: ۲۶۷/۲۰ ،وفى الاوجز: ۸٤/۱۰ . اماالروايات التى و ردفيها انه كان عبدا فلا تخالف احدا من الائمة الابعة لان خيارالمراة اذكان زوجها عبدااجتماعى واماالروايات التى ورد فيها انه كان حرا فتخالف الائمة الثلاثة ولاتخالف الحنفية لان الخيار عندهم على كل حال).

۲) اوګورئ سنن الترمذى، كتاب الرضاع ،باب ماجاء فى المراة تعتق ولها زوج : ٤۶۱/۳ . رقم الحديث: ۱۱۵٤ .وسنن دواد كتاب الطلاق، باب فى المملوكة تعتق وهى تحت حر وعبدا: ۲۷۰/۲ .رقم الحديث: ۲۲۳۳)

۳) فتح البارى: ۵۱۳/۹).

٤) اوګورئ سنن نسائى، كتاب الطلاق ،باب خيار الامة تعتق وزوجها مملوک : ۱۰۶/۲).

۵) اوجزالمسالک: ۸۱/۱۰).

او بیله شی.(۱)
امام طحاوی رحمه الله فرمائی چه دخیار عتق اصل علت د آزادئ نه پس د وینځې مختار کیدل دی،د آزادئی نه مخکښې ددې ټول اختیار مالك سره وو،مالك ته مکمل اختیار وو چه ددې واده غلام سره اوکړی یا آزاد سره.لهذا اوس د آزادیدو نه پس دې ته مکمل اختیارملاویدل پکاردې چه ددې خاوند دې غلام وی یا آزاد،دهغه په قبلولو کښې به دې ته پوره پوره اختیار وی،(۲)
دا خبرې اترې دعقل او قیاس اعتبار سره دی ،ګنی اصل مدار خو دحضرت بریره واقعه ده،چه دهغې اصل تفصیل بیان شو.

۱۵=باب شفاعة النبي صلى الله عليه وسلم في زوج بريرة

[۴۹۷۹] حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ أَخْبَرَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ حَدَّثَنَا خَالِدٌ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ زَوْجَ بَرِيرَةَ كَانَ عَبْدًا يُقَالُ لَهُ مُغِيثٌ كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَيْهِ يَطُوفُ خَلْفَهَا يَبْكِي وَدُمُوعُهُ تَسِيلُ عَلَى لِحْيَتِهِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِعبَّاسٍ يَا عَبَّاسُ أَلَا تَعْجَبُ مِنْ حُبِّ مُغِيثٍ بَرِيرَةَ وَمِنْ بُغْضِ بَرِيرَةَ مُغِيثًا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ رَاجَعْتِهِ قَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ تَأْمُرُنِي قَالَ إِنَّمَا أَنَا أَشْفَعُ قَالَتْ لَا حَاجَةَ لِي فِيهِ[ر:۴۹۷۶].

د حضرت امام بخاری رحمه الله مقصد ددې باب نه دادې چه خیارعتق حاصلیدو نه پس وینځې سره دسابقه خاوند داوسیدو دپاره سفارش کولې شی،حضرت نبی کریم ﷺ حضرت بریره ته سفارش کړې وو چه هغه دې خپل سابقه خاوند سره پاتې شی لیکن هغې دا سفارش قبول نه کړو،(۳)
ددې نه داخبره معلومیږی که دیوسړی سفارش قبول نه کړې شونو ده ته پکار دی چه خفه نه شی،که سفارش کولو والا خومره لوئې ولې نه وی،دحضرت نبی کریم ﷺ سفارش حضرت بریره قبول نکړو،حضرت نبی کریم ﷺ په دې باندې خفه نه شو .

باب

[۴۹۸۰] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ رَجَاءٍ أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ عَنِ الْحَكَمِ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنِ الْأَسْوَدِ أَنَّ عَائِشَةَ أَرَادَتْ أَنْ تَشْتَرِيَ بَرِيرَةَ فَأَبَى مَوَالِيهَا إِلَّا أَنْ يَشْتَرِطُوا الْوَلَاءَ فَذَكَرَتْ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اشْتَرِيهَا وَأَعْتِقِيهَا فَإِنَّمَا الْوَلَاءُ لِمَنْ أَعْتَقَ وَأُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِلَحْمٍ فَقِيلَ إِنَّ هَذَا مَا تُصُدِّقَ بِهِ عَلَى بَرِيرَةَ فَقَالَ هُوَ لَهَا صَدَقَةٌ وَلَنَا هَدِيَّةٌ حَدَّثَنَا آدَمُ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ وَزَادَ فَخُيِّرَتْ مِنْ زَوْجِهَا[ر:۴۴۴].

---

۱) هدایة،کتاب النکاح باب نکاح الرقیق: ۳٤۲/۲).
۲) اوګورئ شرح معانی الاثار للطحاوی،کتاب الطلاق،باب الامة تعتق وزوجها حر : ٥٤/۲).
۳) الابواب والترجم: ۸۰/۲).

داباب بلاترجمه دې او ما قبل باب سره ددې تعلق دې ، دا ((کالفصل من الباب السابق)) دې.(۱)

۱۲= بَاب قَوْلِ اللّٰهِ تَعَالٰی: وَلَا تَنْكِحُوا الْمُشْرِكَاتِ حَتّٰى يُؤْمِنَّ وَلَأَمَةٌ مُؤْمِنَةٌ خَيْرٌ مِنْ مُشْرِكَةٍ وَلَوْ أَعْجَبَتْكُمْ [البقرة_۲۲۱]

[۴۹۸۱] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا لَيْثٌ عَنْ نَافِعٍ اَنَّ ابْنَ عُمَرَ كَانَ اِذَا سُئِلَ عَنْ نِكَاحِ النَّصْرَانِيَّةِ وَالْيَهُودِيَّةِ قَالَ اِنَّ اللّٰهَ حَرَّمَ الْمُشْرِكَاتِ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ وَلَا اَعْلَمُ مِنَ الْاِشْرَاكِ شَيْئًا اَكْبَرَ مِنْ اَنْ تَقُولَ الْمَرْاَةُ رَبُّهَا عِيسٰى وَهُوَ عَبْدٌ مِنْ عِبَادِ اللّٰهِ .

ترجمة الباب کښې ذکر شوی آیت نه چه کومه مسئله په پوهه کښې رازی، هغه اجماعی ده، مشرکاتو سره د اهل ایمان نکاح جائز نه ده، (۲) ایمانداری ښځې دې وینځې ولې نه وی هغه دشرك والا ښځو نه بهترې دی، که هغه مشرکه څومره ښکلې ولې نه وی .

کتابیه سره د نکاح کولو حکم: البته په دې کښې اختلاف دې چه دمسلمان کتابیه سره نکاح جائزده که نه ؟

① د جمهور علماء او آئمه اربعه په نیز کتابیه سره نکاح کول دیو مسلمان دپاره جائزدی. دجمهورو استدلال دقران پاك دسورة مائده آیت ((والمحصنات من الذین اوتوالکتاب)) نه دې، په ترجمة الباب کښې حضرت امام بخاری رحمه الله دسورة بقره چه کوم آیت ((وَلَا تَنْكِحُوا الْمُشْرِكٰتِ)) ذکر کړې دې، جمهور فرمائی چه دا آیت عام وو. مجوسیه، کتابیه ټولو لره شامل وو، دسورة مائده آیت په دې کښې تخصیص اوکړو.

② حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما فرمائی چه کتابیه سره نکاح کول ممنوع دی، ځکه چه قران پاك ((وَلَا تَنْكِحُوا الْمُشْرِكٰتِ)) فرمائیلی دی او دې نه به زیات شرك څه وی چه یو ښځه حضرت عیسی علیه السلام لره خپل رب تسلیموی، ګویا دحضرت ابن عمر رضی الله عنهما په نیز دسورة مائده آیت دسورة بقره ترجمة الباب آیت سره منسوخ کړې دې، نو ابراهیم حربی تصریح کړې ده چه آیت دمائده د آیت بقره سره منسوخ دې

لیکن جمهور فرمائی چه دا دعوی نسخ بلادلائل ده، اوحقیقت دادې چه دسورة نساء آیت دسورة بقره آیت کښې تخصیص کړې دې، دحضرت ابن عمر رضی الله عنهما قول ته بعضو شاذ وئیلې دې اوبعضو دا په تقوی اوتورع باندې محمول کړې دې .(۳)

حضرت شیخ الحدیث مولانا زکریا رحمه الله فرمائی چه د حضرت امام بخاری رحمه الله رجحان په دې مسئله کښې دحضرت ابن عمر رضی الله عنهما قول طرفته دې .(۴)

---

۱) عمدة القاری: ۵۸۳،۵۸۴/۹).
۲) الابواب والتراجم: ۸۰/۲).
۳) مذکوره تفصیل دپاره اوګورئ فتح الباری: ۵۲۰،۵۲۱/۹، والابواب والتراجم: ۴ /۸۰).
۴) الابواب والتراجم: ۸۰/۲).

١٧- بَاب نِكَاحِ مَنْ أَسْلَمَ مِنْ الْمُشْرِكَاتِ وَعِدَّتِهِنَّ

[٤٩٨٢] حَدَّثَنَا ابْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى اخْبَرَنَا هِشَامٌ عَنْ ابْنِ جُرَيْجٍ وَقَالَ عَطَاءٌ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ كَانَ الْمُشْرِكُونَ عَلَى مَنْزِلَتَيْنِ مِنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْمُؤْمِنِينَ كَانُوا مُشْرِكِي اهْلِ حَرْبٍ يُقَاتِلُهُمْ وَيُقَاتِلُونَهُ وَمُشْرِكِي اهْلِ عَهْدٍ لَا يُقَاتِلُهُمْ وَلَا يُقَاتِلُونَهُ وَكَانَ اذَا هَاجَرَتْ امْرَاةٌ مِنْ اهْلِ الْحَرْبِ لَمْ تُخْطَبْ حَتَّى تَحِيضَ وَتَطْهُرَ فَاذَا طَهُرَتْ حَلَّ لَهَا النِّكَاحُ فَانْ هَاجَرَ زَوْجُهَا قَبْلَ انْ تَنْكِحَ رُدَّتْ الَيْهِ وَانْ هَاجَرَ عَبْدٌ مِنْهُمْ اوْ امَةٌ فَهُمَا حُرَّانِ وَلَهُمَا مَا لِلْمُهَاجِرِينَ ثُمَّ ذَكَرَ مِنْ اهْلِ الْعَهْدِ مِثْلَ حَدِيثِ مُجَاهِدٍ وَانْ هَاجَرَ عَبْدٌ اوْ امَةٌ لِلْمُشْرِكِينَ اهْلِ الْعَهْدِ لَمْ يُرَدُّوا وَرُدَّتْ اثْمَانُهُمْ

وَقَالَ عَطَاءٌ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ: كَانَتْ قَرِيبَةُ بِنْتُ ابِي امَيَّةَ عِنْدَ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ فَطَلَّقَهَا فَتَزَوَّجَهَا مُعَاوِيَةُ بْنُ ابِي سُفْيَانَ وَكَانَتْ امُّ الْحَكَمِ بِنْتُ ابِي سُفْيَانَ تَحْتَ عِيَاضِ بْنِ غَنْمٍ الْفِهْرِيِّ فَطَلَّقَهَا فَتَزَوَّجَهَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُثْمَانَ الثَّقَفِيُّ

حضرت امام بخاری رحمه الله فرمائی کهٔ څوك مشركه ښځه مسلمانه شي نو دعدت تيريدو نه پس دمسلمان دې سره نكاح كول جائزدی البتهددې په عدت كښې اختلاف دې،دجمهورو په نيز ددې عدت دآزادې ښځې دعدت پشان درې طهره دی. د حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز استبراء بحيضه يعني يوحيض كافی دې . (١)

حضرت امام بخاری رحمه الله چه په باب كښې كوم روايت نقل كړې دې دهغې نه معلوميږی چه هغه د حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله تائيد كوی،څكه چه په دې كښې ديو حيض ذكر دې،«لم تخطب حتى تحيض وتطهر».

قوله: وَقَالَ عَطَاءٌ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ: واوحرف عطف دې،معلوميږی داسې چه كوم مضمون ددې معطوف دې هغه امام حذف كړې دې،ابن جريج په حديث كښې راتلونكې مضمون هم دعطاء نه نقل كړې دې او ددې نه علاوه دويم مضمون هم دواو نه مخكښې ووهغه حذف كړې شو.(٢)

ددې عطاء نه كوم يو عطاء مراد دې ؟حضرت امام بخاری رحمه الله خو دا ګڼړلی دی چه ددې نه عطاء بن ابی رباح مراد دې،ليكن محدثين فرمائی چه ددې نه عطاء خراسانی مراد دې،او ابن جريج د عطاء خراسانی نه نيغ په نيغ سماع نه ده كړې،ددې وجې دا سند ضعيف او د حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله په هغه سندونو كښې دې چه په هغې باندې تنقيد كړې شوې دې، كتاب التفسير كښې دسورة نوح لاندې دتنبيه عنوان سره په دې باندې بحث تيرشوې دې(٣)

---

١) فتح الباری: ٥٢١/٩).

٢) فتح الباری: ٥٢٢/٩).

٣) اوګورئ كشف الباری:،كتاب التفسير سورة نوح : ٦٩٩).

عطاء دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت کوی ،هغوی فرمائي چه حضرت نبی کريم ﷺ او مومنانوسره دمشرکانو دوه ډلې وې،اوله حربی مشرکان چه‌حضرت نبی کريم ﷺ به هغوی سره جنګ کولواوهغوی به حضرت نبی کريم سره جنګ کولو.دويم معاهد مشرکان چه نه خو هغوی‌حضرت نبی سره او نه به‌حضرت نبی کريم ﷺ هغوی سره جنګ کولو،دحربي ځوك ښځې به هجرت اوکړو اورابه غله نوهغې ته به ئې دنکاح پيغام نه ليږلوچه ترکومې پورې به هغې ته حيض رانغلواوددې نه به پاکه نشوه. هرکله چه به هغه پاکه شوه‌نودهغې دپاره به نکاح کول جائز شو. اوکه خاوند ددې دنکاح کولونه مخکښې به هجرت کړې وو نو هغه به خپل خاوند ته واپس کولې شوه،اوکه په دوی به ځوك غلام يا وينځې هجرت کړې وو او هغه دواړه به آزاد شو نو اوهغوی ته به هم هغه حق وو چه‌کوم مهاجرين ته وو.

قوله: ثُمَّ ذَكَرَ مِنْ أَهْلِ الْعَهْدِ مِثْلَ حَدِيثِ مُجَاهِدٍ وَإِنْ هَاجَرَ عَبْدٌ اللہ او امة: بيا عطاء د معاهد ذکر د مجاهد دحديث په شان اوکړو که د معاهد وينځه‌يا غلام به هجرت کړې راغلی وې نو بيا واپس کولې نشو بلکه‌ددوی قيمتونه به ورکولې شو.

((مثل حديث مجاهد))نه يا خو هم دا خبره مراد ده چه کومه دلته((وان هاجر عبد ......))سره بيان کړې شوه،او يا ددې نه پوراتلونکې حديث طرف ته اشاره ده چه په هغې کښې د معاهدينو دآزادوښځو حکم بيان شوی دی،ځکه چه‌په حديث باب کښې دمعاهدينو دآزادو ښځو ذکر نشته دې(۱)چونکه هغه مخکښې رازی‌نوددې وجې‌امام په دې ځائې کښې ذکر نه کړل.

دمجاهد حديث عبد بن حميد موصولاً ذکر کړی دی.(۲)

قوله: وَقَالَ عَطَاءٌ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ كَانَتْ قَرِيبَةُ بِنْتُ أَبِي أُمَيَّةَ: داسابقه سند سره موصول دی،په دې کښې دی چه‌قريبه بنت ابی اميه(ام المومنين دحضرت سلمه رضي الله عنها خور) دحضرت عمر رضي الله عنه په نکاح کښې وه،دوی هغې ته طلاق ورکړو نو حضرت معاويه دې سره واده اوکړو او ام حکم بنت ابی سفيان عياض بن غنم رضي الله عنه په نکاح کښې وه ،هغه ورته طلاق ورکړو نو عبدالله بن عثمان ثقفی دې سره واده اوکړو.

دحديث مناسبت‌سره‌دباب نه واضح دی چه‌مذکوره دواړه ښځې‌قريبه او ام حکم مخکښې مشرکې وې،بيا هغوی اسلام قبول کړو اوبالترتيب حضرت معاويه او عياض سره ددوی نکاحونه اوشو. ددې نه دترجمة الباب((نکاح من اسلم من المشرکات))ثابتيږی.

۱۸=بَابٌ إِذَا أَسْلَمَتِ الْمُشْرِكَةُ أَوِ النَّصْرَانِيَّةُ تَحْتَ الذِّمِّيِّ أَوِ الْحَرْبِيِّ

وَقَالَ عَبْدُ الْوَارِثِ عَنْ خَالِدٍ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ إِذَا أَسْلَمَتِ النَّصْرَانِيَّةُ قَبْلَ زَوْجِهَا بِسَاعَةٍ حَرُمَتْ عَلَيْهِ وَقَالَ دَاوُدُ عَنْ إِبْرَاهِيمَ الصَّائِغِ سُئِلَ عَطَاءٌ عَنِ امْرَأَةٍ مِنْ أَهْلِ

---

۱) فتح الباری: ۹/۵۲۲).

۲) فتح الباری: ۹/۵۲۲).

الْعَهْدِ اسْلَمَتْ ثُمَّ اسْلَمَ زَوْجُهَا فِي الْعِدَّةِ اهِيَ امْرَاتُهُ قَالَ لَا الَّا انْ تَشَاءَ هِيَ بِنِكَاحٍ جَدِيدٍ وَصَدَاقٍ وَقَالَ مُجَاهِدٌ اذَا اسْلَمَ فِي الْعِدَّةِ يَتَزَوَّجُهَا

وَقَالَ اللّٰهُ تَعَالَى: لَا هُنَّ حِلٌّ لَهُمْ وَلَا هُمْ يَحِلُّونَ لَهُنَّ [ر: الممتحنه: ١٠]

وَقَالَ الْحَسَنُ وَقَتَادَةُ: فِي مَجُوسِيَّيْنِ اسْلَمَا هُمَا عَلَى نِكَاحِهِمَا وَاذَا سَبَقَ احَدُهُمَا صَاحِبَهُ وَابَى الْاخَرُ بَانَتْ لَا سَبِيلَ لَهُ عَلَيْهَا

وَقَالَ ابْنُ جُرَيْجٍ: قُلْتُ لِعَطَاءٍ امْرَاةٌ مِنَ الْمُشْرِكِينَ جَاءَتْ الَى الْمُسْلِمِينَ ايُعَاوَضُ زَوْجُهَا مِنْهَا لِقَوْلِهِ تَعَالَى وَاٰتُوهُمْ مَا انْفَقُوا [الممتحنه: ١٠] قَالَ لَا انَّمَا كَانَ ذَاكَ بَيْنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَبَيْنَ اهْلِ الْعَهْدِ

وَقَالَ مُجَاهِدٌ: هٰذَا كُلُّهُ فِي صُلْحٍ بَيْنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَبَيْنَ قُرَيْشٍ

داحدالزوجين داسلام قبلولو نه پس دنكاح حكم: دحضرت امام بخاری رحمه الله مقصد ددې ترجمې نه دادې كه زوجين كافر وی او ښځه خاوند نه مخكښې مسلمانه شی نوددې څه حكم دې، په دې كښې اختلاف دې .

① حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنهما اوعطاء بن ابى رباح فرمائی چه دښځې په اسلام راوړو به د دواړو په مينځ كښې نكاح فسخ شی. «لعموم قوله تعالى : لا هن حل لهم ولا هم يحلون لهن».

② ائمه ثلاثه فرمائی چه نكاح به ترهغه وخت پورې باقی وی تر كومې پورې چه عدت نه وی ختم شوې، عدت چه كله ختم شی نو بيا به نكاح ختمه شی.

③ حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائی چه كله ښځه مسلمانه شی نو ددې خاوند ته به داسلام دعوت وركړې شی، كه هغه اسلام قبول كړو نو نكاح به برقرار وی او كه انكار ئې اوكړو نو د دواړو په مينځ كښې به فرقت واقع شی.

ليكن دا به په هغه وخت كښې وی چه كله هغوی دواړه په دارالاسلام كښې وی، كه دواړه په دالحرب كښې وی نو دوه صورتونه دی .

① يو صورت دادې چه ښځه دارالاسلام طرفته هجرت اوكړی. په دې صورت كښې به دتباين دارين په وجه د دواړو په مينځ كښې فرقت واقع شی .

② دويم صورت دادې چه ښځه په دارالحرب كښې پاتې شی، په دې صورت كښې به د انقضاء عدت پورې د خاوند په عقد كښې وی او دعدت نه پس به نكاح ختمه شی.(١)

حضرت امام بخاری رحمه الله په دې مسئله كښې اول قول طرفته مائل ښكاری ځكه چه هغوی كوم آثار نقل كړی دی دهغې نه داول قول تائيد كيږی.

قوله: وَقَالَ عَبْدُ الْوَارِثِ......: حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمائی كه نصرانيه دخپل خاوند نه مخكښې اسلام قبول كړو نو دخپل خاوند دپاره حرامه شوه . حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه عبدالوارث نه دا تعليق موصولاً ماته نه دې ملاؤ شوې، البته عباد بن العوام په طريق سره

---

١) مذ كوره د درې واړو مذاهبو تفصيل دپاره اوګورئ عمدة القاری: ٢٠/٢٧٢).

دا ابن ابی شیبه موصولا نقل کړې دې،(۱)

قوله: وَقَالَ دَاوُدُ عَنْ إِبْرَاهِيمَ الصَّائِغِ سُئِلَ عَطَاءٌ......: داود بن ابی الفرات د ابراهیم بن میمون صائغ نه نقل کړی دی چه عطاء بن ابی رباح نه تپوس اوکړې شو که د معاهد ښځه اسلام قبول کړی او عدت کښې دننه دننه ددې خاوند هم مسلمان شی نو آیا هغه ښځه به ددهوی؟ هغوی اوفرمائیل چه نه، خو که ښځه غواړی نو نوې نکاح او مهر سره دوباره ده سره عقد کولې شی، د دواد دا تعلیق یو بل طریق سره ابن ابی شیبه موصولاً نقل کړې دې،(۲)

قوله: وَقَالَ مُجَاهِدٌ إِذَا أَسْلَمَ فِي الْعِدَّةِ يَتَزَوَّجُهَا: حضرت مجاهد رحمه الله فرمائی که خاوند په عدت کښې دننه دننه اسلام قبول کړو نو هغه ښځه به دده وی، هم داد ائمه ثلاثه مذهب دې، لکه څنګه چه تیر شو چه عدت ختمیدو پورې به نکاح باقی وی . د مجاهد رحمه الله په دې قول کښې «یتزوجها» نه نوې نکاح مراد نه ده بلکه مطلب دادې چه د تجدید عقد نه بغیر به هغه دده ښځه وی،(۳) طبری دا تعلیق موصولاً نقل کړې دې،(۴)

حضرت امام بخاری رحمه الله مخکښې د قران پاك آیت «لاهن حل لهم ولاهم یحلون لهن» نقل کړې دې او د مجاهد تردید ئې کړې دې او د عطاء تائید ئې کړې دې چه ددې آیت کریمه عموم وجې سره نکاح ختمه شوه، که عدت ختم وی که نه وی .

قوله: وَقَالَ الْحَسَنُ وَقَتَادَةُ فِي مَجُوسِيَّيْنِ أَسْلَمَا هُمَا عَلَى نِكَاحِهِمَا: دوه مجوسیان چه ښځه خاوند دی که دوی اسلام قبول کړونو د دواړو نکاح به برقرار وی، که یو اسلا م قبول کړو او بل انکار اوکړو نو دزوجینو په مینځ کښې به فرقت واقع شی، حضرت حسن بصری رحمه الله او حضرت قتاده دې تعلیق لره ذابن ابی شیبه نه موصولاً نقل کړې دې،(۵)

قوله: وَقَالَ ابْنُ جُرَيْجٍ قُلْتُ لِعَطَاءٍ امْرَأَةٌ مِنَ الْمُشْرِكِينَ جَاءَتْ إِلَى الْمُسْلِمِينَ: حضرت ابن جریج فرمائی چه ما عطاء بن ابی رباح نه تپوس اوکړو که مشرکانو نه څوك ښځه مسلمانانو ته راشی نو ددې خاوند ته به ددې ښځې معاوضه ورکولې شی که نه؟ هرکله چه الله تعالی «واتوهم ما انفقوا» فرمائیلی دی .عطاء جواب ورکړو چه نه څکه چه دا خو صرف د حضرت نبی کریم صلی الله علیه وسلم او معاهدینو ترمینځه وو (یعنی داد حضرت نبی کریم صلی الله علیه وسلم او د مشرکانو ترمینځه یو معاهده شوې وه چه دې باندې د هغوی په مینځ کښې صلح شوې وه لیکن نن صبا په دې باندې عمل نشته دې)عبدالرزاق دا تعلیق موصولاً نقل کړېدې(۶)

---

۱) فتح الباری: ۵۲۵/۹).
۲) عمدة القاری: ۲۷۳/۲،وفتح الباری: ۵۲۵/۹).
۳) تعلیقات لامع الدراری: ۳۷۶/۹).
٤) فتح الباری: ۵۲۵/۹).
۵) عمدة القاری: ۲۷۳/۲۰).
۶) عمدة القاری: ۲۷۳/۲۰).

قوله: وَقَالَ مُجَاهِدٌ هَذَا كُلُّهُ فِي صُلْحٍ بَيْنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَبَيْنَ قُرَيْشٍ: مجاهد رحمه الله فرمائی چه دا ټولې خبرې په دې صلح کښې وې چه کومې دحضرت نبی کریم ﷺ او د قریشو په مینځ کښې شوې وې، دا تعلیق ابن ابی حاتم موصولاً نقل کړې دې، (۱) دمجاهد رحمه الله دې تعلیق نه حضرت امام بخاری رحمه الله دعطاء قول تائید فرمائی. (۲)

[۴۹۸۳] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ وَقَالَ إِبْرَاهِيمُ بْنُ الْمُنْذِرِ حَدَّثَنِي ابْنُ وَهْبٍ حَدَّثَنِي يُونُسُ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ أَخْبَرَنِي عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ أَنَّ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ كَانَتِ الْمُؤْمِنَاتُ إِذَا هَاجَرْنَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمْتَحِنُهُنَّ بِقَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا جَاءَكُمُ الْمُؤْمِنَاتُ مُهَاجِرَاتٍ فَامْتَحِنُوهُنَّ إِلَى آخِرِ الْآيَةِ قَالَتْ عَائِشَةُ فَمَنْ أَقَرَّ بِهَذَا الشَّرْطِ مِنَ الْمُؤْمِنَاتِ فَقَدْ أَقَرَّ بِالْمِحْنَةِ فَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَقْرَرْنَ بِذَلِكَ مِنْ قَوْلِهِنَّ قَالَ لَهُنَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انْطَلِقْنَ فَقَدْ بَايَعْتُكُنَّ لَا وَاللَّهِ مَا مَسَّتْ يَدُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَ امْرَأَةٍ قَطُّ غَيْرَ أَنَّهُ بَايَعَهُنَّ بِالْكَلَامِ وَاللَّهِ مَا أَخَذَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى النِّسَاءِ إِلَّا بِمَا أَمَرَهُ اللَّهُ يَقُولُ لَهُنَّ إِذَا أَخَذَ عَلَيْهِنَّ قَدْ بَايَعْتُكُنَّ كَلَامًا [ر:۲۵۶۰].

حضرت امام بخاری رحمه الله دحدیث باب دوه سندونه ذکر فرمائی.

① ړومبې سند دیحیی عن اللیث عن عقیل عن ابن شهاب دې.

② دویم سند دابراهیم عن ابن وهب عن یونس عن ابن شهاب دې. دلته چه کوم الفاظ دحدیث دی هغه دبل سند دی. داول سند الفاظ امام په «کتاب الشروط» کښې ذکر فرمائیلی دی. دویم سند کښې امام په دې ځائې کښې «قال ابراهیم» اووئیل اودائې تعلیقاً ذکر کړل، امام ذهلی په زهریات کښې دابراهیم بن المنذر نه داموصولاً نقل کړی دی، (۳)

په حدیث کښې دی چه مومنانې ښځې به کله دحضرت نبی کریم ﷺ په خدمت کښې حاضرې شوې نو حضرت نبی کریم ﷺ به دالله ﷻ دقول «یا ایها الذین امنوا اذا جاء المومنات مهاجرات فامتحنوهن» بناء باندې به ئې امتحان اخستو. حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی چه په مومنانو ښځو کښې به چا ددې اقرار کولو په دې آزمښت کښې پوره ختلې، هرکله چه به هغه ښځو دځپل قول اقرار کولو نو حضرت نبی کریم ﷺ به هغوی ته وئیل ځئی ستاسونه مې بیعت واخستلو، دحدیث مناسبت ترجمة الباب «باب اذا اسلمت المشرکة» نه واضح دی.

---

۱) فتح الباری: ۵۲۷/۹، وعمدة القاری: ۲۷۳/۲۰).
۲) فتح الباری: ۵۲۷/۹).
۳) فتح الباری: ۵۳۰/۹، وارشادالساری: ۵۸/۱۲).

۱۹=باب قول الله تعالى لِلَّذِينَ يُؤْلُونَ مِنْ نِسَائِهِمْ تَرَبُّصُ أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ

فَإِنْ فَاءُوا فَإِنَّ اللّٰهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ وَإِنْ عَزَمُوا الطَّلَاقَ فَإِنَّ اللّٰهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ [ر: ۲۲۶،۲۲۷].
فَإِنْ فَاءُوا رَجَعُوا

[۴۹۸۴] حَدَّثَنَا اسْمَاعِيلُ بْنُ ابِي اوَيْسٍ عَنْ اخِيهِ عَنْ سُلَيْمَانَ عَنْ حُمَيْدٍ الطَّوِيلِ انَّهُ سَمِعَ انَسَ بْنَ مَالِكٍ يَقُولُ الَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ نِسَائِهِ وَكَانَتْ انْفَكَّتْ رِجْلُهُ فَاقَامَ فِي مَشْرُبَةٍ لَهُ تِسْعًا وَعِشْرِينَ ثُمَّ نَزَلَ فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ الَيْتَ شَهْرًا فَقَالَ الشَّهْرُ تِسْعٌ وَعِشْرُونَ [ر: ۳۷۱].

[۴۹۸۵] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ نَافِعٍ انَّ ابْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا كَانَ يَقُولُ فِي الْايلَاءِ الَّذِي سَمَّى اللّٰهُ لَا يَحِلُّ لِاحَدٍ بَعْدَ الْاجَلِ الَّا انْ يُمْسِكَ بِالْمَعْرُوفِ اوْ يَعْزِمَ بِالطَّلَاقِ كَمَا امَرَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ وَقَالَ لِي اسْمَاعِيلُ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ نَافِعٍ عَنْ ابْنِ عُمَرَ اذَا مَضَتْ ارْبَعَةُ اشْهُرٍ يُوقَفُ حَتَّى يُطَلِّقَ وَلَا يَقَعُ عَلَيْهِ الطَّلَاقُ حَتَّى يُطَلِّقَ وَيُذْكَرُ ذٰلِكَ عَنْ عُثْمَانَ وَعَلِيٍّ وَابِي الدَّرْدَاءِ وَعَائِشَةَ وَاثْنَيْ عَشَرَ رَجُلًا مِنْ اصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

دايلاء تعريف: په لغت کښې دايلاء معنى د قسم خوړلو اوحلف اوچتولو ده(۱)او په اصطلاح شرع کښې دايلاء په تفسير کښې دعلماء کرام درې قولونه دى.

① دحضرات حنفيه په نيز دايلاء تعريف دې((منع النفس عن قربان المنكوحة اربعة اشهر فصاعدا منعا موكدا باليمين))، (۲) يعنى خلور مياشتې يا ددې نه زياتې مودې پورې ښځو لره دورتلونه قسم خوړل او اودريدلو ته ايلاء ونيلې شى.

② ائمه ثلاثه اواسحاق بن راهويه فرمائى چه دايلاء دپاره خلورمياشتې کافى نه دى بلکه خلور مياشتو نه زياته موده ايلاء دپاره ضرورى ده.(۳)

لهذا که چا قسم اوخوړو چه هغه به خلور مياشتې ښځې لره نه ورځى نو ائمه ثلاثه په نيزدا ايلاء نه ده،دحنفيه په نيزدا ايلاء ده.

③سعيد بن مسيب وغيره بعض علماء فرمائى چه د خلورو مياشتو نه کمه موده کښې هم ايلاء منعقد کيږى . لکه چا دخلورو مياشتو قسم خوړلې دې نو ددوى په نيز دا ايلاء ده.(۴)

دايلاء حکم: دايلاء کولو نه پس که مُولى (ايلاء کولو والا)خلورو مياشتو کښې دننه دننه

۱) عمدة القارى: ۲۷٤/۲۰).
۲) عناية فتح التقدير : ٤۰/٤ (رباب الايلاء).
۳) مختصر اختلاف العلماء كتاب الطلاق،رقم المسالة : ٤۷۳/۹۹۸،۲،وعمدة القارى: ۲۷۵/۲).
٤) فتح البارى: ۵۳۲/۹) .

رجوع اوکړی نو دې به کفاره یمین ادا کوی او که رجوع ئې اونه کړه نود حضرات حنفیه په نیز دځلورو میاشتو مودې تیریدونه پس به خوبخود یوطلاق بائن واقع شی، اوامام اوزاعی په نیز به طلاق رجعی اوشی، د آئمه ثلاثه په نیز د مودې تیریدو نه پس به طلاق واقع نه وی بلکه د ه لره قاضی ته پیش کولې شی، قاضی به دوی ته د رجوع یا طلاق حکم کوی. که قاضی نشته دې نو بیا هم ددوی په نیز توقف دې چه یا رجوع اوکړی یا طلاق ورکړی.(۱)

حضرت امام بخاری رحمه الله په دې مسئله کښې دائمه ثلاثه مسلك اختیار کړې دې چه موده تیریدو سره یخپله طلاق نه واقع کیږی بلکه دوی به قاضی ته پیش کیږی چه یا رجوع اوکړی یا طلاق ورکړی.

نو حضرت امام بخاری رحمه الله د حضرت ابن عمر رضی الله عنه نه دا مذهب نقل کړې دې، اوفرمائی چه حضرت عثمان رضی الله عنه، حضرت علی رضی الله عنه، حضرت ابوالدرداء او حضرت عائشه رضی الله عنها، تول دولس صحابه کرام رضی الله عنهم نه دا خبره منقول ده ،اود حضرت عثمان رضی الله عنه او حضرت علی رضی الله عنه او ابوذر رضی الله عنه نه او ابن ابی شیبه او حضرت عائشه رضی الله عنها نه سعید بن منصور دا مذهب موصولاً نقل کړې دې.(۲)

لیکن حضرت عثمان رضی الله عنه، حضرت علی رضی الله عنه او حضرت ابن عمر رضی الله عنه نه د حنفیه مسلك مطابق هم آثار منقول دی. د دوی نه علاوه حضرت عمر رضی الله عنه، حضرت ابن عباس، حضرت عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه، حضرت زید بن ثابت رضی الله عنه نه هم د حنفیه مسلك مطابق آثار منقول دی.(۳)

د باب تحت حضرت امام بخاری رحمه الله د حضرت نبی کریم صلی الله علیه وسلم د ازواج مطهرات د یو میاشتې د پاره جدا کیدو واقعه ذکر کړې ده. د جمهورو په نیز دا شرعی او اصطلاحی ایلاء نه وه، چونکه بل څه مرفوع حدیث دې باره کښې نه وو، د دې وجې حضرت امام بخاری رحمه الله دا واقعه نقل کړه، او یو مناسبت د دواړو په مینځ کښې ظاهر دې ،البته د سعید بن المسیب په نیز دا یو شرعی ایلاء ده څکه چه د دوی په نیز شرعی ایلاء د پاره د ځلورو میاشتو قید نشته.

۲۰- بَاب حُكْمِ الْمَفْقُودِ فِي أَهْلِهِ وَمَالِهِ

وَقَالَ ابْنُ الْمُسَيَّبِ إِذَا فُقِدَ فِي الصَّفِّ عِنْدَ الْقِتَالِ تَرَبَّصُ امْرَأَتُهُ سَنَةً وَاشْتَرَى ابْنُ مَسْعُودٍ جَارِيَةً وَالْتَمَسَ صَاحِبَهَا سَنَةً فَلَمْ يَجِدْهُ وَفُقِدَ فَأَخَذَ يُعْطِي الدِّرْهَمَ وَالدِّرْهَمَيْنِ وَقَالَ اللَّهُمَّ عَنْ فُلَانٍ فَإِنْ أَتَى فُلَانٌ فَلِي وَعَلَيَّ وَقَالَ هَكَذَا فَافْعَلُوا بِاللُّقَطَةِ وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ نَحْوَهُ وَقَالَ الزُّهْرِيُّ فِي الْأَسِيرِ يُعْلَمُ مَكَانُهُ لَا تَتَزَوَّجُ امْرَأَتُهُ وَلَا يُقْسَمُ مَالُهُ فَإِذَا انْقَطَعَ خَبَرُهُ فَسُنَّتُهُ سُنَّةُ الْمَفْقُودِ

---

۱) اوګورئ مختصر اختلاف العلماء :۴۷۳/۲،والمغنی لابن قدامة : ۳۱۸، ۳۱۹).

۲) عمدة القاری: ۲۷۷/۲۰).

۳) مختصر اختلاف ا لعلماء للطحاوی :۴۷۴،۴۷۵/۲ . ومصنف عبدالرزاق: ۴۵۳،۴۵۷/۶، رقم : ۱۱۶۳۷، ۱۱۶۴۴، ۱۱۶۴۵،د حضرت عمر رضی الله عنه اثر د پاره اوګورئ موطاامام محمد،باب ایلاء: ۲۶۳).

[۴۹۸۶] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ عَنْ يَزِيدَ مَوْلَى الْمُنْبَعِثِ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ عَنْ ضَالَّةِ الْغَنَمِ فَقَالَ خُذْهَا فَاِنَّمَا هِيَ لَكَ اَوْ لِاَخِيكَ اَوْ لِلذِّئْبِ وَسُئِلَ عَنْ ضَالَّةِ الْاِبِلِ فَغَضِبَ وَاحْمَرَّتْ وَجْنَتَاهُ وَقَالَ مَا لَكَ وَلَهَا مَعَهَا الْحِذَاءُ وَالسِّقَاءُ تَشْرَبُ الْمَاءَ وَتَأْكُلُ الشَّجَرَ حَتَّى يَلْقَاهَا رَبُّهَا وَسُئِلَ عَنِ اللُّقَطَةِ فَقَالَ اعْرِفْ وِكَاءَهَا وَعِفَاصَهَا وَعَرِّفْهَا سَنَةً فَاِنْ جَاءَ مَنْ يَعْرِفُهَا وَاِلَّا فَاخْلِطْهَا بِمَالِكَ
قَالَ سُفْيَانُ فَلَقِيتُ رَبِيعَةَ بْنَ اَبِي عَبْدِ الرَّحْمٰنِ قَالَ سُفْيَانُ وَلَمْ اَحْفَظْ عَنْهُ شَيْئًا غَيْرَ هٰذَا فَقُلْتُ اَرَاَيْتَ حَدِيثَ يَزِيدَ مَوْلَى الْمُنْبَعِثِ فِي اَمْرِ الضَّالَّةِ هُوَ عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ قَالَ نَعَمْ قَالَ يَحْيَى وَيَقُولُ رَبِيعَةُ عَنْ يَزِيدَ مَوْلَى الْمُنْبَعِثِ عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ قَالَ سُفْيَانُ فَلَقِيتُ رَبِيعَةَ فَقُلْتُ لَهُ [ر:۹۱].

د مفقود الخبر داهل او مال حكم: مفقودهغه سړی ته وائی چه ورك شی‌او دده باره كښې چاته علم نه وی،دده داهل‌اومال په حكم كښې ائمه ثلاثه اختلاف دي.

① دحضرت امام‌ابوحنيفه رحمه الله او د حضرت امام شافعی رحمه الله په‌نيزدده اهل اومال دواړو كښې ترهغه وخته پورې تصرف به موقوف وی تر كومې چه دده دوفات علم او نه كړې شی يا دده‌هم عمر او اقران مړه شی،دې نه پس‌د تصرف ا جازت به وركولې شی،تركومې پورې چه دده هم عمر خلق ژوندی وی تر هغه وخته‌پورې‌دده ښځه‌به بل چاسره واده نشی كولې انتظار به كوی.(۱)

② د حضرت امام مالك رحمه الله په نيزې، اهل‌اومال كښې تفصيل دي،هغه فرمائی چه كوم سړې مفقودشی نودده‌معامله به‌حاكم ته پيش كولې شی . حاكم به دده تلاش كوی او دنه ملاويدو په صورت كښې به دده ښځه تر څلورو كالوپورې انتظاركوی،څلوركاله نه دښځې دپاره متوفی عنها زوجها كيدو فيصله به كوی.نوښځه‌د څلورو كالو تيريدو نه پس‌عدت وفات يعنی څلور مياشتې لس ورځې تيرې كړی اوبل سره واده كولې شی.البته دا څلور كاله مخ پس به په عدالت كښې دمقدمه پيش كيدونه پس شميرلې شی اودمال په صورت كښې مالكيه فرمائی چه په دې كښې به وراثت جاری نه وی تر دې پورې چه‌دومره موده تيره شی چه په هغې كښې دمفقود دمړكيدو يقين اوشی دا موده څومره پكار ده ؟په دې كښې اويا كالو،اتيا‌كالو،نوی كالو،اوسل كالو مختلف اقوال دی. (۲)

دحضرت امام احمد بن حنبل رحمه الله په نيز ميدان جنګ او سمندری سفر كښې ورك شوی دپاره‌مدت به مقرر كولې شی(لكه‌دمالكيه په شان څلور كاله)ليكن دې نه علاوه‌مفقود دپاره‌مدت‌مقررولې به نشی او دده اهل ومال كښې‌تر هغه وخت كښې تصرف نه شی كولې،تركومې پورې چه‌دده‌دوفات يقين اونشی. (۳)

---

۱) مختصر اختلاف العلماء للطحاوی:۲/۳۳۰،۳۲۹).
۲) دمالكيه دمذهب دتشريح دپاره اوګورئ بداية المجتهد: ۲/۴۵، ۴۶).
۳) الابواب والترجم: ۲/۸۱).

دشوافع او حنفيه مسلك چونكه په دې سلسله كښې ډير سخت دې،ددې وجې فقهائې احناف د مالكيه مسلك باندې فتوى وركوى اوحضرت تهانوى رحمه الله په دې سلسله كښې يومستقل رساله د((الحيلة الناجزة))په نوم سره تصنيف كړې ده،په دې كښې د علماء مالكيه فتاوى او ددې مسئلې متعلق ددوى مذهب كښې شرائط او تفصيلات جمع كړى دى.

دباب تحت حضرت امام بخارى رحمه الله د حضرت سعيد بن مسيب رضي الله عنه، حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه،حضرت ابن عباس رضي الله عنه او دامام زهرى رحمه الله مختلف آثار نقل كړى دى.

حضرت سعيد بن مسيب رضي الله عنه فرمائى كه يو سړې په صف قتال كښې دجهاد په موقع كښې ورك شى نو دده بى بى به يو كال پورې انتظار كوى.((تربص امراته سنة))په اصل كښې((تتربص))دې يو تاء تحفيفًا حذف كړې شوې ده دا تعليق عبدالرزاق موصولاً نقل كړې دې. اوهغه زيات مكمل او تام دې.((اذا فقد فى الصف تربصت امراته سنة واذا فقد فى غير الصف فاربع سنين))(١)

دويم تعليق دحضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه دې،هغوى يو وينځه واخسته. او ددې قيمت ئې لا ادا كړې نه وو چه وينځې مالك غيب شو. يو كال پورې حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه دهغه لټون اوكړو ليكن هغه ملاؤ نشو،نودوى د وينځې ثمن يويو،دوه دوه درهمه صدق كول شروع كړل .دصدقې وركولو په وخت كښې به ئې فرمائيل چه((اللهم عن فلان فان اتى فلان فلى وعلى))يعنى اې الله ﷻ ! دا دفلانى سړى دطرفنه صدقه ده،كه هغه سړې راغلونو دا صدقه به خما دطرفنه وى،خما دپاره به ددې ثواب وى،او ددې ثمن به خما په ذمه وى.((فلى وعلى)اى فلى الثواب .... وعلى الغرامة))دې نه پس حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه اوفرمائيل چه د لقطه((ورك شوى څيز باره))كښې هم داسې كوئى .(چه يو كال پورې ددې تعارف او تشهير كوئى اودكال نه پس دا صدقه كوئى. دصدقې نه پس كه مالك راغلو نو ددې تاوان وركړئى، دصدقې ثواب به تاسوته ملاويږى).

سعيد بن منصور دا تعليق موصولاً نقل كړې دې. (٢)

حضرت ابن عباس رضي الله عنه نه هم داشان اثر منقول دې،ددوى اثر هم سعيد بن منصور موصولاً نقل كړې دې.(٣)

څلورم تعليق د حضرت زهرى رحمه الله دې،هغوى ددې قيد باره كښې چه دكوم ځائې معلوم وى فرمائى چه دده ښځه واده نشى كولې،اونه دده مال تقسيمولې شى. خو چه كله دده خبر منقطع شى اودده متعلق څه پته اونه لګى نوبيا دې قيدى سره دمفقود والا معامله دې اختيار كړېشى. (دمفقود باره كښې دامام زهرى رحمه الله مذهب دلته بيان نكړې شو ،دهغوى

---

١) فتح البارى: ٥٣٧/٩).

٢) فتح البارى: ٥٣٧/٩).

٣) فتح البارى: ٥٣٧/٩).

مذهب دادې چه دده ښځه به ترځلوروکالو پورې انتظارکوی،اوبیا به دې ته دواده اجازت وی.(۱)

ابن ابی شیبه رحمه الله داتعلیق موصولاً نقل کړې دې.(۲)

د حضرت امام بخاری رحمه الله علیه رائې: حضرت امام بخاری رحمه الله په باب کښې چه کوم رومبی درې آثار دحضرت مسیب رضی الله عنه، حضرت ابن مسعود رضی الله عنه او حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نقل کړل دهغې نه په ظاهره دامعلومېږی چه د حضرت امام بخاری رحمه الله په نیز هم دمفقود دپاره یو کال موده ده . لیکن باب کښې چه کوم حدیث نقل کړې شوې دې دهغې نه یو احتمال راوزی چه حضرت امام بخاری رحمه الله د مفقود داهل او مال باره کښې فرق کول غواړی.ځکه چه په حدیث کښې حضرت نبی کریم ﷺ د غنم (چیلئ وغیره)او اوښ دواړو د ورکیدو په صورت کښې حکم بیل بیل بیان فرمائیلې دې . د غنم (چیلئ) باره کښې خو فرمائی چه(هی لك اولاخیك اوللذئب) یعنی دا ته اخستې شې ځکه چه هغه خو یا ستا ده یا ستا درور ده یا بیا د شرمخ په حصه کښې به راشی.د ورور نه خودې ورکه شوې ده،ددې وجې دشرمخ حواله کولو نه بهتر دې چه ته ئې پخپله واخلې،خو ورك شوی اوښ متعلق چه کله دهغه نه تپوس اوشو نودغصې په وجه دحضرت نبی کریم ﷺ دواړه رخصار مبارك سره شواووې فرمائیل چه ورك شوی اوښ سره ستا کار،دې سره دده دانه اوبه موجودې دی .هغه به اوبه څکی او دونې نه به خوری،تر دې پورې چه ددې مالك به ملاؤ شی.

حضرت امام بخاری رحمه الله ددې باب تحت دا حدیث ذکر کړې دې او دې خبرې طرفته ئې اشاره کړې ده چه دمفقود دمال حکم غنم والا وی او داهل حکم به ابل والا وی.ددې وجې چه کومې طریقې سره غنم وغیره مستقل دی .د دې د ضیاع اندیښنه ده .داشان دمال دضیاع هم اندیښنه وی.لهذا یوکال نه پس دابه تقسیمولې شی،اولکه څنګه چه ابل مستقل دې او ددې دضیاع څه اندیښنه نشته دې،هغه به د خپلو اوبو او خوراك پخپله بندوبست کوی . هم په دې طریقه داهل باره کښې هم دضیاع اندیښنه نشته دې نو دا به ابل سره لاحق کولې شی او هلته به یو کال پس دنکاح اجازت نه وی ،نو ابن منیر رحمه الله فرمائی :

((لما تعارضت الآثار فی هذه المسالة وجب الرجوع الی الحدیث المرفوع فکان فیه ان ضالة الغنم یجوز التصرف فیها قبل تحقق وفاة صاحبها فکان الحاق المال المفقود بها متجها وفیه ان ضالة الابل لایتعرض لها لاستقلالها بامر نفسها فاقتضی ان الزوجة کذالك لا یتعرض حتی لها یتحقق خبر وفاته فالضابط ان کل شئ یخشی ضیاعه یجوز التصرف فیه صونا له عن الضیاع، وما لا فلا))(۳)

---

۱) فتح الباری: ۵۳۸/۹).
۲) فتح الباری: ۵۳۸/۹).
۳) فتح الباری: ۵۳۹/۹).

قوله: قال سفیان : فلقیت ربیعه بن ابی عبدالرحمان،قال سفیان ولم احفظ عنه شیئا غیر هذا فقلت ارایت حدیث یزید مولی المنبعث فی امر الضالة هو عن زید بن خالد،قال نعم: سفیان بن عینیه فرمانی چه زه ربیعه بن ابی عبدالرحمان سره ملاو شوم او ما هغه ته اوونیل چه دورك شوی څیز متعلق دیزید مولی منبعث حدیث باب زیدبن خالد نه مروی دې که نه ؟. نو هغوی اوفرمائیل چه آو. په مینځ کښې جمله د معترضه په طور سفیان اوونیل چه د ربیعه بن عبدالرحمان نه د دې خبرې تحقیق کولو نه علاوه ما نور څه نه دی نقل کړی.

قوله: قَالَ يَحْيَى وَيَقُولُ رَبِيعَةُ عَنْ يَزِيدَ مَوْلَى الْمُنْبَعِثِ عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ قَالَ سُفْيَانُ فَلَقِيتُ رَبِيعَةَ فَقُلْتُ لَهُ: دسفیان بن عینیه استاد یحیی بن سعید اوونیل چه ربیعه دا حدیث د یزید مولی منبعث عن زید بن خالد نه نقل کړې دې،سفیان اوونیل چه د یحیی خبرو آوریدو نه پس څه ربیعه سره ملاو شوم اوما هغه نه هغه سوال اوکړو چه کوم مخکښې تیرشو.

خلاصه داده چه یحیی بن سعید انصاری دا حدیث دیزیدنه نقل کړې دې . لیکن مرسلاً ئې نقل کړې دې . موصولاً ئې نه دې نقل کړې . یزید تابعی دې. دده په طریق کښې دیزید نه پس د زیدبن خالد صحابی واسطه نشته دې.یحیی بن سعیدخپل شاګرد سفیان ته اوونیل چه ربیعه دا حدیث موصولاً نقل کوی.((یزید عن زید بن خالد عن رسول الله ﷺ))نوسفیان لاړو او د ربیعه نه ئې تپوس اوکړو چه آیا تا دا حدیث بواسطه یزید .زیدبن خالد نه نقل کړې دې .نوهغه اوونیل چه آو.

په حدیث باب کښې څه الفاظ راغلی دی((لقطة))دقاف فتحه اوسکون سره) ورك شوې څیز.په ضاله او لقطه کښې فرق دې،دضاله لفظ دحیوان دپاره خاص دې((وکاء))دواو کسرې سره)تاراورسی((عفاص))(دعین په کسرې سر ه اودې نه پس فاء ده)لوښې، ظرف، تیلۍ ((الحذاء))پیزار ته وئیلې شی، مراد ترې پښې دی.((سقاء))مشکیزې ته وئیلې شی،په دې ځائې کښې ترې خیټه مراد ده.(۱)

۲۱=بَابُ الظِّهَارِ

وَقَوْلِ اللّٰهِ تَعَالَى قَدْ سَمِعَ اللّٰهُ قَوْلَ الَّتِي تُجَادِلُكَ فِي زَوْجِهَا اِلَى قَوْلِهِ فَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَاِطْعَامُ سِتِّينَ مِسْكِينًا [المجادله:۱_۴]

وَقَالَ لِي اِسْمَاعِيلُ حَدَّثَنِي مَالِكٌ اَنَّهُ سَاَلَ ابْنَ شِهَابٍ عَنْ ظِهَارِ الْعَبْدِ فَقَالَ نَحْوَ ظِهَارِ الْحُرِّ قَالَ مَالِكٌ وَصِيَامُ الْعَبْدِ شَهْرَانِ

---

۱) عمدة القاری: ۲۰/۲۸۰.وارشادالساری: ۱۱/۶۴).

وَقَالَ الحَسَنُ بْنُ الحُرِّ ظِهَارُ الحُرِّ وَالعَبْدِ مِنَ الحُرَّةِ وَالاَمَةِ سَوَاءٌ
وَقَالَ عِكْرِمَةُ اِنْ ظَاهَرَ مِنْ اَمَتِهِ فَلَيْسَ بِشَيْءٍ اِنَّمَا الظِّهَارُ مِنَ النِّسَاءِ
وَفِي العَرَبِيَّةِ لِمَا قَالُوا اَىْ فِيمَا قَالُوا وَفِي بَعْضِ مَا قَالُوا وَهٰذَا اَوْلٰى لِاَنَّ اللّٰهَ لَمْ يَدُلَّ عَلَى المُنْكَرِ وَقَوْلِ الزُّوْرِ (۱)

دا عنوان په بعضو نسخوكښې دې،په هندوستانى نسخه كښې دا عنوان نشته دې بلكه«باب قد سمع الله قول التي»دى. ظهار دباب مفاعله مصدر دې د ظهر نه،دظهر معنى ده پشت (شا).څوك سړې خپلې ښځې ته په خپل محرمات ابديه كښې څه داسې اندام سره تشبيه وركړى چه هغې ته كتل دده دپاره ممنوع وى لكه اووائى چه«انت على كظهر امى»نو دې ته ظهار وائى . ليكن كه داسې اندام سره تشبيه وركړى چه هغې طرفته كتل جائز دى لكه سر او لاس نو په دې صورت كښې ظهار به نه وى .(۲) حافظ الدين نسفى رحمه الله دظهار تعريف كړې دې، «ظهار تشبيه المنكوحة بامراة محرمة عليه على التابيد مثل الام والبنت والاخت»(۳)

دظهار حكم دادې چه كله پورې هغه كفاره ادا نه كړى نو تر هغه وخت پورې ښځې سره جماع كول او دواعى دجماع دواړه حرام دى.(۴)

دحنفيه په نيزدمور يا دهريوداسې ښځې په ذكر كولوسره ظهار واقع شى چه هغې سره دانسان حرمت ابدى وى لكه لور،خور.د حضرت امام شافعى رحمه الله ديو قول مطابق دى. دهغوى دويم قول دادې چه ظهار صرف دمور په ذكر كولوسره متحقق كيږى. لهذا كه چا خپلې بى بى ته«انت على كظهر اختى»اووئيل نو دې سره به ظهار نه واقع كيږى.(۵)

دمالكيه په نيز ظهار محرم او اجنبيه دواړه ذكر كولو سره به وى ،لكه چا اووئيل چه«انت على كظهر زينب»او زينب دده دپاره يو اجنبى ښځه ده نو دمالكيه په نيزپه دې صورت كښې به

---

۱) (نجادلک) تختصم اليک وتحاورک وهى امراة انصارية قيل اسمها : خولة بنت ثعلبة.وقيل غير ذالک . زوجها اوس بن الصامت رضى الله عنهما . (فى زوجها) فى شان زوجها الذى ظاهر منها اى قال لها.انت على كظهرامى.وكان هذا القول قبل الاسلام طلاقا وهذا اول ظهار يقع فى الاسلام فنزلت الايات تبطل ماكان وتقرر انه ليس بطلاق وان فيه الكفارة كما سياتى (الى قوله) وتتمتها:

﴿قَدْ سَمِعَ اللّٰهُ قَوْلَ الَّتِي تُجَادِلُكَ فِي زَوْجِهَا وَتَشْتَكِي اِلَى اللّٰهِ ۖ وَاللّٰهُ يَسْمَعُ تَحَاوُرَكُمَا ۚ اِنَّ اللّٰهَ سَمِيعٌ بَصِيرٌ ۝ الَّذِينَ يُظَاهِرُونَ مِنْكُمْ مِنْ نِسَائِهِمْ مَا هُنَّ اُمَّهَاتِهِمْ ۖ اِنْ اُمَّهَاتُهُمْ اِلَّا اللَّائِي وَلَدْنَهُمْ ۚ وَاِنَّهُمْ لَيَقُولُونَ مُنْكَرًا مِنَ الْقَوْلِ وَزُورًا ۚ وَاِنَّ اللّٰهَ لَعَفُوٌّ غَفُورٌ ۝ وَالَّذِينَ يُظَاهِرُونَ مِنْ نِسَائِهِمْ ثُمَّ يَعُودُونَ لِمَا قَالُوا فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مِنْ قَبْلِ اَنْ يَتَمَاسَّا ۚ ذٰلِكُمْ تُوعَظُونَ بِهِ ۚ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ۝ فَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ مِنْ قَبْلِ اَنْ يَتَمَاسَّا ۖ فَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَاِطْعَامُ سِتِّينَ مِسْكِينًا ۚ ذٰلِكَ لِتُؤْمِنُوا بِاللّٰهِ وَرَسُولِهِ ۚ وَتِلْكَ حُدُودُ اللّٰهِ ۗ وَلِلْكَافِرِينَ عَذَابٌ اَلِيمٌ ۝﴾

۲) مختصر اختلاف علماء للطحاو: ۲/ ۴۸۵،۴۸۷).

۳) عمدة القارى: ۲۰/۲۸۰).

۴) الهداية ،كتاب الطلاق،باب ظهار:۲/۴۰۹).

۵) مختصر اختلاف العلماء :۲/۴۸۵،۴۸۷).

ظهار متحقق وی، خمونږ په نیز نه.(۱)

دآیات شان نزول: حضرت امام بخاری رحمه الله په ترجمة الباب کښې چه کومو آیتونو طرفته اشاره کړې ده هغه دسورة مجادله ابتدائی آیتونه دی چه هغه دحضرت اوس بن الصامت رضی الله عنه دښځې حضرت خوله رضی الله عنها په واقعه کښې نازل شوی وو. واقعه څه داسې وه چه حضرت اوس یو ځل خپلې بی بی خوله ته اوونیل «انت علی کظهر امی» (ته ماله داسې ئې لکه خما د مور شا یعنی حرامه ئې) په زمانه دجاهلیت کښې دا الفاظ دائمی حرمت دپاره به وئیلې شو، او ددې نه ابدی فرقت به واقع کیدو، نو اوس بن الصامت خپلې ښځې ته اوونیل چه ته په ماباندې حرامه شوې، خوله رضی الله عنها دحضرت نبی کریم ﷺ په خدمت کښې حاضره شوه اووې وئیل چه :

«یارسول الله ان زوجی اوس بن الصامت تزوجنی وانا شابة غنیة ذات مال و اهل، حتی اکل مالی، وافنی شبابی وتفرق اهلی وکبر سنی ظاهر منی وقدندم فهل من شئ یجمعنی وایاه».

یعنی کله چه اوس ماسره واده کړې وو، په هغه وخت کښې څه ځوانه اووم، اوس خما مال او ځوانی ختمه شوه او څه بوډئی یم، نو اوس هغه ماسره ظهار اوکړو او اوس هغه شرمنده هم دې. نو څه صورت مونږ لره دواړو ته د دوباره جمع کیدو کیدیشی. حضرت نبی کریم ﷺ دقول مشهور موافق اوفرمائیل چه خما په خیال ته دخپل خاوند دپاره حرامه شوې. په دې باندې هغه ښځې بحث شروع کړو چه اوس څه چرته لاړه شم ؟ دبچو ځنګه ګزاره به ځنګه کیږي؟ اوس خود طلاق لفظ نه دې استعمال کړې. نو بیا جدائی راغله؟ دقران پاك آیت «تجادلك فی زوجها» کښې دې طرفته اشاره ده. هغې ددې خپلې معاملې دالله ﷻ په دربار کښې هم شکایت اوکړو. نوپه دې باندې دمجادله آیت نازل شو او په کښې دکفاره ظهار تفصیل بیان شو. حضرت نبی کریم ﷺ هغوی ته اوونیل چه خپل خاوند راوبله، هغه راغلو نو حضرت نبی کریم ﷺ دهغه په وړاندې دا آیت مبارك تلاوت کړو اوتپوس ئې ترې اوکړو چه ته غلام آزادولې شې. هغوی اوونیل چه غلام خو ګراندې. په دې کښې خوبه خما ټول مال ختم شي. حضرت نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل چه دوه میاشتې پرله پسې روژې نیوې شې. هغه اوونیل یارسول الله ﷺ په الله قسم، په ورځ کښې که څه درې ځل خوراك اونه کړم نو ډیر تکلیف وی راته. اوخما دنظرونو په وړاندې تیاره شي. حضرت نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل چه آیا شپیتو مسکینانو ته خوراك ورکولې شې. هغه اوونیل چه والله نه . خو که تاسو ماسره تعاون اوفرمائې. حضرت نبی کریم ﷺ هغه سره د پنځلسو صاع تعاون اوکړو. او داشان هغه دوباره دښځې خاوند په حیثیت سره اوسیدل. (۲)

قوله: وَقَالَ لِي إِسْمَاعِيلُ حَدَّثَنِي مَالِكٌ أَنَّهُ سَأَلَ ابْنَ شِهَابٍ عَنْ ظِهَارِ الْعَبْدِ فَقَالَ نَحْوَ ظِهَارِ الْحُرِّ: حضرت امام بخاری رحمه الله فرمائی چه اسماعیل بن ابی اویس

---

۱) مختصر اختلاف العلماء: ۴۸۷/۲).

۲) دشان نزول مذکوره تفصیل دپاره اوګورئ عمدة القاری: ۲۸۱/۲۰).

ماته اووئيل چه حضرت امام مالك رحمه الله دحضرت ابن شهاب زهرى نه دغلام د ظهار باره كښې تپوس اوكړو نوهغوى اووئيل چه دغلام ظهار دآزاد دظهار په شان دې يعنى د دواړو په ظهار كښې هيڅ فرق نشته دې.

ابن قدامه دبعضو حضراتونه نقل كړى دى چه دغلام ظهار صحيح نه دې (۱) حضرت امام بخارى رحمه الله دابن شهاب زهرى دا اثر نقل كړې دې او په اصل كښې ئې ددې مذهب ترديد كړې دې .غلام كه ظهار اوكړو نو ددې كفاره دحضرات حنفيه اود حضرت امام شافعى رحمه الله په نيز صرف د روژې په ذريعه به ادا وى. د حضرت امام مالك رحمه الله په نيز دخپل مولى په اجازت سره كه هغه مسكينانو ته خوراك وركړو نوبياهم كفاره اداشوه.(۲)

قوله: قَالَ مَالِكٌ وَصِيَامُ الْعَبْدِ شَهْرَانِ: داداسماعيل بن ابى اويس ماقبل والا سندسره موصول دې. فرمائى چه غلام به كفاره ادا كولو كښې دوه مياشتې روژې نيسى. لكه څنګه چه آزاد سړې دوه مياشتې روژې نيسى.

قوله: وَقَالَ الْحَسَنُ بْنُ الْحُرِّ ظِهَارُ الْحُرِّ وَالْعَبْدِ مِنْ الْحُرَّةِ وَالْأَمَةِ سَوَاءٌ: حسن بن حر دكوفې اوسيدونكې دې او محدثين كښې ثقه دې. په كال ۱۳۳ هجرئى كښې دوى وفات شوى وو. په صحيح بخارى كښې ددوى صرف دايو تعليق دې،بل چرته دده ذكر نشته دې.(۳) دابو ذرعن مستملى روايت كښې«حسن بن الحى» دې حسن بن الحى فقيه دې، دحضرت سفيان ثورى د طبقې محدثينو كښې دې . په كال ۱۶۹ هجرئى كښې دوى وفات شو. امام طحاوى مذكوره اثر حسن بن حى نه نقل كړې دې (۴)

مطلب دادې چه دحر اوعبد په ظهار كښې هيڅ فرق نشته دې . داشان ښځه كه حره وى او كه وينځه،په دې كښې هيڅ فرق نشته دې.

قوله: وَقَالَ عِكْرِمَةُ إِنْ ظَاهَرَ مِنْ أَمَتِهِ فَلَيْسَ بِشَيْءٍ إِنَّمَا الظِّهَارُ مِنْ النِّسَاءِ:

حضرت عكرمه رحمه الله فرمائى كه مولى خپلې وينځې نه ظهاراوكړو نو هيڅ هم نشته دې،ظهار ښځې سره وى . حضرت امام مالك رحمه الله فرمائى چه لكه څنګه چه زوج، زوجه سره ظهار كولې شى داشان مولى خپلې وينځې سره هم ظهاركولې شى.ائمه ثلاثه او جمهور فرمائى چه په قران كريم كښې دى چه«يظاهرون من نسائهم»او وينځې په ((نسائهم))كښې داخلې نه دى.(۵)

قاضى اسماعيل رحمه الله دا تعليق موصولاً نقل كړې دې. (۶)

---

۱) فتح البارى: ۵٤۲/۹).

۲) فتح البارى: ۵٤۱/۹).

۳) فتح البارى: ۵٤۲/۹،وعمدة القارى: ۲۸۳/۲۰).

٤) فتح البارى: ۵٤۲/۹،وعمدة القارى: ۲۸۳/۲۰).

۵) فتح البارى: ۵٤۲/۹).

۶) فتح البارى: ۵٤۲/۹).

قوله: وَفِي الْعَرَبِيَّةِ لِمَا قَالُوا أَيْ فِيمَا قَالُوا وَفِي بَعْضِ مَا قَالُوا وَهَذَا أَوْلَى لِأَنَّ اللَّهَ لَمْ يَدُلَّ عَلَى الْمُنْكَرِ وَقَوْلِ الزُّورِ: په آيت كريمه كښې دى چه ﴿وَالَّذِيْنَ يُظٰهِرُوْنَ مِنْ نِّسَآئِهِمْ ثُمَّ يَعُوْدُوْنَ لِمَا قَالُوْا فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ....الخ﴾ د ((يَعُوْدُوْنَ لِمَا قَالُوْا)) مختلف تفسيرونه دى.

① يو تفسير دداود ظاهرى نه منقول دې. هغه وائى چه ((يَعُوْدُوْنَ لِمَا قَالُوْا)) مطلب دادې چه يو ځل د ظهار كول نه پس دوباره كه دظهار الفاظ اووئيلې شى نوكفاره به ادا كوى، لكه څنګه چه دظاهر الفاظ نه په پوهه كښې رازى.(١)

② حضرت امام بخارى رحمه الله د داود ظاهرى دا تفسير رد كړې دې اوفرمائى چه په عربئ ژبه كښې ((عادله)) د ((عادفيه)) په معنى كښې استعماليږى. دلته هم ((يَعُوْدُوْنَ لِمَا قَالُوْا)) د ((يعودون لما قالوا)) په معنى كښې دې او مضاف دلته مخذوف دې، تقدير عبارت دې د ((يعودون لى نقض ما قالوا)) مطلب دادې چه دظهار كولو نه پس دې لره ختمول غواړى يعنى ((انت على كظهرامى)) چه كوم الفاظ ادا كړى وو (چه ددې نه حرمت ثابتيږى) كه دا الفاظ باطلول غواړى او حرمت ختمول غواړى نوكفاره به ادا كوى.

حضرت امام بخارى رحمه الله فرمائى چه دا تفسير اختيارول بهتردى. ځكه چه د داود ظاهرى په شان كه دظاهرى الفاظو مطابق د ((عودلما قالوا)) د الفاظو سره د ظهار داعاده رهنمائى فرمائى او تكرارترې مراد واخستې شى نو ددې مطلب به داوى چه الله ﷻ الفاظ ظهار داعاده د رهنمائى دپاره فرمائى. حالانكه دې الفاظو ته قران پاك ((منكر)) او ((قول زور)) وئيلى دى، نو ((قول زور)) طرفته الله ﷻ څنګه رهنمائى كولې شى.

③ بعضو وئيلى دى چه ((يَعُوْدُوْنَ لِمَا قَالُوْا)) كښې لام ((عن)) په معنى كښې دې، يعنى بيا كه هغه دخپل قول نه رجوع كول غواړى (٢) نوكفاره به ادا كوى، دخپل قول نه رجوع كولو مطلب دادې چه هغه د جماع عزم او اراده اوكړى.

تنبيه: دالفاظ ظهار دوه قسمونه دى ،يو صريح لكه ((انت على كظهرامى)) دويم كنايه لكه ((انت على كامى)) په دې دويم قسم كښې به دنيت اعتبار وى. دظهار نيت خو به ظهار وى ګنى نه.(٣)

٢٢= بَابُ الْإِشَارَةِ فِي الطَّلَاقِ وَالْأُمُورِ

وَقَالَ ابْنُ عُمَرَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُعَذِّبُ اللَّهُ بِدَمْعِ الْعَيْنِ وَلَكِنْ يُعَذِّبُ بِهَذَا فَأَشَارَ إِلَى لِسَانِهِ [ر:١٢٤٢].

---

١) عمدة القارى: ٢٠/٢٨٤).

٢) فتح البارى: ٩/٥٤٣).

٣) عمدة القارى: ٢٠/٢٨١).

وَقَالَ كَعْبُ بْنُ مَالِكٍ اَشَارَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِلَيَّ اَىْ خُذِ النِّصْفَ [ر:٢٢٨٦].
وَقَالَتْ اَسْمَاءُ صَلَّى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْكُسُوفِ فَقُلْتُ لِعَائِشَةَ مَا شَأْنُ النَّاسِ وَهِيَ تُصَلِّي فَاَوْمَاَتْ بِرَاْسِهَا اِلَى الشَّمْسِ فَقُلْتُ آيَةٌ فَاَوْمَاَتْ بِرَاْسِهَا اَنْ نَعَمْ [ر:٨٦].
وَقَالَ اَنَسٌ اَوْمَاَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهِ اِلَى اَبِي بَكْرٍ اَنْ يَتَقَدَّمَ [ر:٦٤٩].
وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ اَوْمَاَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهِ لَا حَرَجَ [ر:٨٤]
وَقَالَ اَبُو قَتَادَةَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الصَّيْدِ لِلْمُحْرِمِ اَحَدٌ مِنْكُمْ اَمَرَهُ اَنْ يَحْمِلَ عَلَيْهَا اَوْ اَشَارَ اِلَيْهَا قَالُوا لَا قَالَ فَكُلُوا [ر:١٧٢٨].

د ترجمة الباب مقصد: دطلاق او نورو معاملاتو كښې داشارې حكم حضرت امام بخارى رحمه الله په دې باب كښې فرمائيلې دې،هغوى چه كوم آثاراواحاديث په دې باب كښې ذكر فرمائيلى دى چه دهغې نه معلوميږى چه اشاره طلاق او نورومعاملاتو كښې معتبر ده. په دې شرط چه هغه مفهمه وى يعنى په خپل مفهوم باندې واضحه دلالت كوى.

ابن بطال فرمائى چه اشاره مفهمه دجمهورعلماء په نيز دنطق اوتلفظ قائمقام ده.البته دحنفيه په نيز بعضو صورتونوكښې اشاره معتبره نه ده اگر چه هغه مفهمه ولې نه وى،نو غالبًا ددې باب سره حضرت امام بخارى رحمه الله د حنفيه مذهب ترديد كړې دې.(١)

علامه عينى دابن بطال قول رد كړې دې او فرمائى چه اشاره مفهمه دحنفيه په نيز هم طلاق وغيره كښې معتبره ده لهذا دا وئيل چه حضرت امام بخارى رحمه الله د حنفيه ترديد كول غواړى صحيح نه دى.(٢)

ابن منير فرمائى چه د حضرت امام بخارى رحمه الله مقصد ددې ترجمة الباب نه دادې چه اشاره كه داسې وى چه دهغې نه اصل او عدد دواړو مفهوم راوزى نو هغه به په طلاق اونورو معاملاتوكښې معتبره وى. هغه دگونگى اشاره وى يا د قادر على الكلام وى،(٣)لكه يو سړى اشارې سره طلاق وركړو نو هغه به طلاق معتبر وى او كه اشارې سره ده دطلاق عدد هم بيان كړې نو ددې عدد به هم اعتبار وى.

داشارې حكم: دحضرات حنفيه مذهب دادې چه دگونگى اشاره مفهمه معتبر او په منزله دكلام ده،هغه په طلاق،بيع،هبه اونورومعاملاتوكښې معتبره وى.البته په حدودو كښې ددې اعتبار نشته دې. ځكه چه((الحدود تندرئ بالشبهات))

كه يوسړې مستقل گونگې نه دې ليكن دده ژبه بنده شوې ده،كه دابنديدل مرگ پورې جارى وى نو په ده باندې به دگونگى احكام جارى وى.

كه يو سړې قادرعلى الكلام دې،نه گونگې دې اونه دده ژبه بنده شوې ده ،نوصرف په څلورو امورو كښې به دده اشاره معتبره وى.① كفر② اسلام③ نسب④ افتاء.لكه چا ترې

---

١) فتح البارى: ٤٥٧/٩).
٢) عمدة القارى: ٢٨٥/٢٠).
٣) فتح البارى: ٥٤٧/٩).

تپوس اوکړو چه ته مسلمان نې ؟او په جواب کښې په اثبات کښې سر اوخوزولو یا ترې چا تپوس اوکړو چه دا جائز دی نو جواب کښې ده به دده اثباتًا او نفیًا اشاره کافی وی،ددې څلورو واړو نه علاوه باقی امورواومعاملاتوکښې دیو داسې سړی اشاره به معتبره نه وی چه د وینا قدرت لری.(۱)

حضرت امام بخاری رحمه الله په دې باب کښې شپږ تعلیقات اواووه موصول احادیث نقل کړی دی.

قوله: وَقَالَ ابْنُ عُمَرَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُعَذِّبُ اللَّهُ بِدَمْعِ الْعَيْنِ وَلَكِنْ يُعَذِّبُ بِهَذَا: حضرت نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی چه کله په سړی باندې څه مصیبت راشی نو الله ﷻ دسترګې نه په اوښکه وتلوباندې عذاب نه جاری کوی،ژبې طرفته ته اشاره کولوسره حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه ددې په وجه عذاب ورکولې شی. (چه سړې په ژبې سره شکوه شکایت اوناشکری کوی).

یوشرعی مسئله بیانولو دپاره حضرت نبی کریم ﷺ داشارې نه کام واخستلو حضرت امام بخاری رحمه الله دا تعلیق په کتاب الجنائز کښې موصولاً نقل کړی دې. (۲)

قوله: وَقَالَ كَعْبُ بْنُ مَالِكٍ أَشَارَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَيَّ أَيْ خُذِ النِّصْفَ: حضرت کعب بن مالک رضی الله عنه په عبدالله بن ابی حدرد باندې څه قرض وو.دملاقات په دوران کښې ددې دواړو په مینځ کښې تلخی راغله. حضرت نبی کریم ﷺ په هغه ځائې باندې تیر شو نو وې فرمائیل«یا کعب»او دلاس په اشارې سره نې اووئیل چه نیم واخله،په کتاب الملازمه کښې دا تعلیق موصولاً تیر شوې دې.(۳)

قوله: وَقَالَتْ أَسْمَاءُ صَلَّى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْكُسُوفِ فَقُلْتُ لِعَائِشَةَ مَا شَأْنُ النَّاسِ وَهِيَ تُصَلِّي فَأَوْمَأَتْ بِرَأْسِهَا إِلَى الشَّمْسِ فَقُلْتُ آيَةٌ فَأَوْمَأَتْ بِرَأْسِهَا أَنْ نَعَمْ: حضرت اسماء بنت ابی بکر رضی الله عنها فرمائیلی دی چه حضرت نبی کریم ﷺ کسوف مونځ کولو،ما د حضرت عائشه رضی الله عنها نه تپوس اوکړو اوهغې مونځ کولو،چه څه اوشو چه مونځ کوې. نو حضرت عائشه رضی الله عنها په سر نمر طرفته اشاره اوکړه،ما اووئیل چه آیا دا څه نښه ده. نو هغې دسر په اشارې سره جواب راکړو چه آو.داتعلیق حضرت امام بخاری رحمه الله په«کتاب الکسوف،باب صلاة النساء مع الرجال فی الکسوف»کښې موصولاً نقل کړی دې.(۴)

قوله: وَقَالَ أَنَسٌ أَوْمَأَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهِ إِلَى أَبِي بَكْرٍ أَنْ يَتَقَدَّمَ: حضرت انس رضی الله عنه فرمائی چه حضرت نبی کریم ﷺ په مرض الوفات کښې دلاس

---

۱) دحنفیه مذهب دتفصیل دپاره اوګورئ الاشباه والنظائر ،احکام الاشارة : ۳/۴۵۵،۴۵۴).

۲) فتح الباری: ۹/۵۴۵).

۳) عمدة القاری: ۲۰/۲۸۵).

۴) عمدة القاری: ۲۰/۲۸۵).

په اشارې سره حضرت ابوبکر صديق ﷺ ته دمخکښې کیدو حکم اوکړو.
دا حدیث په کتاب الصلاة کښې د«باب اهل العلم والفضل احق بالامامة» تحت موصولاً تیر شوې دې.(۱)

قوله: وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ أَوْمَأَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهِ لَا حَرَجَ: حضرت ابن عباس ﷺنه روایت دې چه دحج په موقع باندې حضرت نبی کریم ﷺنه یوسړی تپوس اوکړوچه ما درمی نه مخکښې څاروی ذبح کړو نو حضرت نبی کریم ﷺ ورته لاس په اشارې سره اوفرمائیل چه هیڅ باك نشته . په کتاب العلم کښې د«باب الفتيا باشارة اليد والراس» تحت دا تعليق موصولاً تیرشوې دی.(۲)

قوله: وَقَالَ أَبُو قَتَادَةَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الصَّيْدِ لِلْمُحْرِمِ آحَدٌ مِنْكُمْ أَمَرَهُ أَنْ يَحْمِلَ عَلَيْهَا أَوْ أَشَارَ إِلَيْهَا قَالُوا لَا قَالَ فَكُلُوا: حضرت ابوقتاده ﷺ فرمائی چه حضرت نبی کریم ﷺ دمحرم دبنکار متعلق تپوس اوکړو چه آیا په تاسوکښې چا په دې ښکار باندې څوك راپکاره کړی وو یا دې طرف ته مواشاره کړې وه نوخلقو اووئیل چه نه،نوحضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه خورئی.

دا تعليق په کتاب الحج کښې «باب لايشير المحرم الى الصيد» لاندې تیرشوې دې.(۳)
حضرت امام بخاری ﷫ مذکوره شپږ تعليقات ذکر اوفرمائیل،
په دې کښې مختلفو احکاموطرفته اشارې خودلې شوی دی.چه دهغې نه معلومیږی چه اشاره که مفهمه وی نومعتبر ده.

[۴۹۸۷] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا أَبُو عَامِرٍ عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ عَمْرٍو حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ عَنْ خَالِدٍ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ طَافَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى بَعِيرِهِ وَكَانَ كُلَّمَا أَتَى عَلَى الرُّكْنِ أَشَارَ إِلَيْهِ وَكَبَّرَ وَقَالَتْ زَيْنَبُ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فُتِحَ مِنْ رَدْمِ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ مِثْلُ هَذِهِ وَعَقَدَ تِسْعِينَ [ر:۱۵۳۰].

په دې کښې دی چه کله په حضرت نبی ﷺ به طواف کولو او رکن ته اورسیدل نو اشاره به کوله اوتکبیر به ئې وئیلو «اشار اليه» مناسبت سره دا حدیث په دې ځائې کښې ذکرشو،دا حدیث په کتاب الحج کښې د«باب من اشار الى الركن» تحت تیر شوې دې .(۴)

قوله: وَقَالَتْ زَيْنَبُ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فُتِحَ مِنْ رَدْمِ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ مِثْلُ هَذِهِ وَعَقَدَ تِسْعِينَ: حضرت زینبت بنت جحش ﷺ فرمائی چه حضرت

---

۱) عمدة القاری: ۲۰/۲۸۵).
۲) عمدة القاری: ۲۰/۲۸۵).
۳) فتح الباری: ۹/۵٤٥).
٤) فتح الباری: ۹/۵٤٥).

نبی کریم ﷺ ارشاد اوفرمائیلو چه‌دیاجوج اوماجوج په بندش کښې دومره حصه پرانیستې شوه اوحضرت نبی کریم ﷺ په گوتوسره د نوی (۹۰) نشان جوړکړو.

((ردم)) بندش او رکاوټ ته وئیلې شی،دې ځائې کښې ددې نه سد ذی القرنین مراد دې.

د((عقد تسعین))متعلق علامه ابن الاثیر لیکی چه :

((وعقد التسعین من مواضعات الحساب وهوان تجعل راس الاصبع السابة فی اصل الابهام وتضمها حتی لا یبین بینهما الا خلل یسیر))(۱)

داهل حساب په نیزداعداد دپاره دگوتو مختلف شکلونه معین شوی دی .

دنوی (۹۰) دپاره‌چه کوم شکل متعین دې هغه دادې چه‌دشهادت دگوتې سر د غټې گوتې جرړې سره ملاؤ کړې شی،ددې نه‌یو وړوکې شان حلقه اودائره جوړه شی چه ددې په مینځ کښې‌وړه شان خلا پیدا شی نو د کتاب الفتن په روایت کښې دی چه((وحلق باصبعه الابهام والتی تلیها وهی صورة عقد التسعین))(۲)

دحضرت نبی کریم ﷺ مطلب داوو چه په سد سکندری کښې دومره شان وړوکې سورې شوې دې.

دا تعلیق په کتاب الانبیاء کښې موصولاً تیر شوې دې،(۳)

ددې تعلیق مناسبت دترجمة الباب نه داشان دې چه د دوؤ گوتو نه مذکوره انداز کښې حلقه جوړول یوقسم اشاره ده. (۴)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه‌عدد معین دپاره ددې مخصوصې طریقې نه عقد انامل په منزله داشارې دی. هرکله چه قادر علی الکلام دپاره دا عقد کافی دې نو غیرر قادر علی الکلام دپاره اشاره په دې طریق اولی کافی ده،نو هغه فرمائی چه :

((ووجه ادخاله فی الترجمة ان العقد علی صفة مخصوصة لارادة عدد معلوم ینزل منزلة الاشارة المفهمة فاذا اکتفی بها عن النطق مع القدرة علیه دل علی اعتبار الاشارة ممن لا یقدر علی النطق بطریق الاولی))(۵)

[۴۹۸۸] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا بِشْرُبْنُ الْمُفَضَّلِ حَدَّثَنَا سَلَمَةُ بْنُ عَلْقَمَةَ عَنْ مُحَمَّدِبْنِ سِيرِينَ عَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ اَبُو الْقَاسِمِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْجُمُعَةِ سَاعَةٌ لَا يُوَافِقُهَا عَبْدٌ مُسْلِمٌ قَائِمٌ يُصَلِّي فَسَاَلَ اللّٰهَ خَيْرًا اِلَّا اَعْطَاهُ وَقَالَ بِيَدِهِ وَوَضَعَ اَنْمُلَتَهُ عَلَى بَطْنِ الْوُسْطَى وَالْخِنْصِرِ قُلْنَا يُزَهِّدُهَا [ر: ۸۹۳].

---

۱) النهایة فی غریب الحدیث والاثر: ۲/۲۱۶).
۲) فتح الباری: ۹/۵۴۶).
۳) وفتح الباری : ۹/۵۴۶).
۴) عمدة القاری: ۲۰/۲۸۶).
۵) فتح الباری: ۹/۵۴۶).

حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې چه ابوالقاسم حضرت نبی کریم ﷺ فرمانی چه دجمعې په ورځ یوساعت داسې وی چه کوم مسلمان په دې کښې ولاړ وی مونځ کوی اودنیکئ دعا غواړی نو الله ﷻ ده ته هغه ورکوی، دې خبرې وئیلو سره حضرت نبی کریم ﷺ دلاس په اشارې سره اوفرمائیل چه داشان ئې خپله غتې ګوتې مبارکې اوونیله په مینځنئ ګوته او وړه ګوته باندې کیخوده. مونږدې اشارې نه دااوګنړل چه حضرت نبی کریم ﷺ ددې وخت قلت ښائي.

«قال بیده» یعنی «اشاره بیده»، یزهدها : یقللها ،تزهید» معنی تقلیل ده. یعنی داشارې نه حضرت نبی کریم ﷺ د هغه ساعت او ګهړئ قلیل کیدل اوفرمائیل، ددې قلت ئې اوخودلو چه ددې دورانیه ډیره کمه اومختصر وی.

بعضو دلاس داشارې دا مطلب بیان کړې دې چه اوورئې په مینځنئ ګوته باندې کیخوده او دې طرفته ئې اشاره اوکړه چه دا ساعت دجمعې دورځې په مینځنئ حصه کښې دهاووړوکې ګوتې سره دې طرفته اشاره کول وو چه دا ساعت د ورځې په آخری حصه کښې وی،(۱)

دحدیث مناسبت دترجمة الباب نه واضحه دې. په کتاب الجمعه کښې په دې حدیث باندې بحث تیر شوی دې.

[۴۹۸۹] وَقَالَ الْاُوَیْسِیُّ حَدَّثَنَا اِبْرَاهِیْمُ بْنُ سَعْدٍ عَنْ شُعْبَةَ بْنِ الْحَجَّاجِ عَنْ هِشَامِ بْنِ زَیْدٍ عَنْ اَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ عَدَا یَهُوْدِیٌّ فِیْ عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ عَلٰی جَارِیَةٍ فَاَخَذَ اَوْضَاحًا کَانَتْ عَلَیْهَا وَرَضَخَ رَاْسَهَا فَاَتٰی بِهَا اَهْلُهَا رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَهِیَ فِیْ اٰخِرِ رَمَقٍ وَقَدْ اُصْمِتَتْ فَقَالَ لَهَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَتَلَكِ فُلَانٌ لِغَیْرِ الَّذِیْ قَتَلَهَا فَاَشَارَتْ بِرَاْسِهَا اَنْ لَا قَالَ فَقَالَ لِرَجُلٍ اٰخَرَ غَیْرِ الَّذِیْ قَتَلَهَا فَاَشَارَتْ اَنْ لَا فَقَالَ فَفُلَانٌ لِقَاتِلِهَا فَاَشَارَتْ اَنْ نَعَمْ فَاَمَرَ بِهٖ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَرُضِخَ رَاْسُهٗ بَیْنَ حَجَرَیْنِ [ر: ۲۲۸۲].

داویسی نوم عبدالعزیز بن عبدالله دې، دوی د حضرت امام بخاری رحمه الله شیخ دی. په روایت کښې دی چه دحضرت نبی کریم ﷺ په زمانه کښې یوجینئ باندې یو یهودی ظلم اوکړو، ددې کالی ئې واخستل اوددې سر ئې چخنړا کړو. دده کور والو دا حضرت نبی کریم ﷺ لره راوستله اوددې جینئ حال دا وو چه دې دژوند آخری ساګانې اخستې او بې هوشه وه. حضرت نبی کریم ﷺ دې نه تپوس اوکړو چه ته چا قتل کړې ئې؟ حضرت نبی کریم ﷺ دقاتل نه علاوه دبل چا نوم واخستلو اوتپوس ئې ترې اوکړو . نوهغې دخپل سر په اشارې سره جواب ورکړو چه نه .بیا ئې ورته دبل چا نوم واخستلو او تپوس ئې ترې اوکړو هغې اووئیل چه نه . بیا ئې ورته دقاتل نوم واخستلواو تپوس ئې ترې اوکړو چه ته هغه قتل کړې ئې؟نو دې دسر په اشارې سره اووئیل چه آو .حضرت نبی کریم ﷺ حکم ورکړو او دقاتل سر د دووډ کانړو په مینځ کښې کیخودلې شو او چنخړاکړې شو.

---

۱) عمدة القاری: ۲۰/۲۸۶).

((اوضاح))دا دوضح جمع ده،سپين ته وائی،په دې ځائې کښې ددې نه مراد دچاندئ کالی دی، ((كانت عليها)) دا جمله د((اوضاح)) صفت ده. د((رضيخ)) معنی ماتول او چخنړی کول دی.

((اصمتت))دمجهول صيغه ده يعنی دهغې ژبه بنده شوې وه.

دحضرات حنفيه يوقول دادې چه په قصاص کښې داشارې اعتبار نشته دې (۱)دحديث باب متعلق هغوئ وائی چه حضرت نبی کريم ﷺ صرف ددې جينئ په اشارې سره دهغه يهودی سر او نه چنخړولو بلکه هغه اعتراف هم کړې وو،نو په خصومات کښې دده داعتراف روايت تير شوې دې،په هغې کښې دی چه((فاخذ اليهودی فاعترف فامربه النبی ﷺ فرض راسه بين حجرين))(۲)

دحنفيه په نيز په قصاص کښې مماثلت نشته چه قاتل که کانړی سره قتل کړې دې نو قصاص کښې دې هم په کانړی سره قتل کړې شی ځکه چه په حديث کښې دی چه((لاقود الابالسيف)) دحديث باب واقعه داسلام دشروع ده.(۳)

[۴۹۹۰] حَدَّثَنَا قَبِيصَةُ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ عَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ الْفِتْنَةُ مِنْ هَا هُنَا وَاشَارَ الَى الْمَشْرِقِ [ر: ۲۹۳۷]

[۴۹۹۱] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا جَرِيرُ بْنُ عَبْدِ الْحَمِيدِ عَنْ ابِي اسْحَاقَ الشَّيْبَانِيِّ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ ابِي اوْفَى قَالَ كُنَّا فِي سَفَرٍ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا غَرَبَتْ الشَّمْسُ قَالَ لِرَجُلٍ انْزِلْ فَاجْدَحْ لِي قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ لَوْ امْسَيْتَ ثُمَّ قَالَ انْزِلْ فَاجْدَحْ قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ لَوْ امْسَيْتَ انَّ عَلَيْكَ نَهَارًا ثُمَّ قَالَ انْزِلْ فَاجْدَحْ فَنَزَلَ فَجَدَحَ لَهُ فِي الثَّالِثَةِ فَشَرِبَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ اوْمَا بِيَدِهِ الَى الْمَشْرِقِ فَقَالَ اذَا رَايْتُمْ اللَّيْلَ قَدْ اقْبَلَ مِنْ هَا هُنَا فَقَدْ افْطَرَ الصَّائِمُ [ر:۱۸۳۹].

حضرت عبدالله بن ابی اوفی‌نه روايت دې چه‌مونږ په‌سفر کښې حضرت نبی کريم ﷺ سره وو، کله چه نمر ډوب شو نوحضرت نبی کريم ﷺ يو سړی ته اوفرمائيل چه کوز شه او خمونږدپاره ستوان واغږه. هغه اوونيل چه تاسو ترمابنام پورې صبر کړې وې،حضرت نبی کريم ﷺ ورته اوفرمائيل چه‌کوز شه او ستوان واغږه . هغه اوونيل چه کاش تاسو مابنام پورې صبر کړې وې،ځکه چه لاخو ورځ باقی ده. حضرت نبی کريم ﷺ بيااوفرمائيل چه کوزشه او ستوان واغږه .نو دريم ځل حکم کولو نه پس هغه کوز شو هغه دحضرت نبی کريم ﷺ دپاره ئې ستوان واغږل،اوحضرت نبی کريم ﷺ اوڅکل .بيا حضرت نبی کريم ﷺ

۱) اوګورئ الاشباه والنظائر ،احکام الاشارة : ۴۵۴/۳).
۲) صحيح البخاری :الخصومات ،باب مايذکر فی الاشخاص والخصومة بين المسلم واليهودی : ۳۲۵/۱).
۳) عمدة القاری: ۲۸۷،۲۸۸/۲۰).

مشرق طرفته خپل لاس مبارك سره اشاره اوکړه او وې فرمائیل چه کله تاسو شپه ددې طرفنه راتلل وینئ نو روژه افطار کوئی.

په اصل کښې غروب شوې وو، مغرب طرفته تیاره لګیدلې وه. خوهغه سړی دا ګنړل چه اوس هم لا ورځ ده. دلته هم حضرت نبی کریم ﷺ مشرق طرفته اشاره فرمائیلې ده او دشپې راتلل ئې اوفرمائیل.

د«جدح» معنی ستوان په اوبو کښې خوشتول، دا حدیث په کتاب الصوم کښې د«باب متی یحل فطر الصائم» تحت تیر شوې دې.(۱)

[۴۹۹۲] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ عَنْ سُلَيْمَانَ التَّيْمِيِّ عَنْ أَبِي عُثْمَانَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَمْنَعَنَّ أَحَدًا مِنْكُمْ نِدَاءُ بِلَالٍ أَوْ قَالَ أَذَانُهُ مِنْ سَحُورِهِ فَإِنَّمَا يُنَادِي أَوْ قَالَ يُؤَذِّنُ لِيَرْجِعَ قَائِمَكُمْ وَلَيْسَ أَنْ يَقُولَ كَأَنَّهُ يَعْنِي الصُّبْحَ أَوِ الْفَجْرَ وَأَظْهَرَ يَزِيدُ يَدَيْهِ ثُمَّ مَدَّ أَحَدَاهُمَا مِنَ الْأُخْرَى

حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت دې چه حضرت نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی چه دبلال اذان دې تاسو کښې څوك د پشنمی دخوراك نه منع نه کړی. ځکه چه هغه ددې په وجه اذان کوی چه په تاسو کښې تهجدو کولووالا آرام اوکړی، دهغه مقصد دانه وی چه ګنی سبا شو. یزید بن زریع خپل دواړه لاسونه مخکښې اوړده کړل او وې وئیل چه دصبا صادق رڼړا داشان خوریږی.

«نِدَاءُ بِلَالٍ أَوْ قَالَ أَذَانُهُ» راوی ته شك دې چه حضرت نبی کریم ﷺ «لَا يَمْنَعَنَّ أَحَدًا مِنْكُمْ نِدَاءُ بِلَالٍ» فرمائیلی دی. یا «لَا يَمْنَعَنَّ أَحَدًا مِنْكُمْ اذان بِلَالٍ» فرمائیلی وو. داشان په مخکښې جمله کښې هم راوی ته شك دې چه حضرت نبی کریم ﷺ «فَإِنَّمَا يُنَادِي لِيَرْجِعَ قَائِمَكُمْ» فرمائیلی وو یا «فَإِنَّمَا يُؤَذِّنُ لِيَرْجِعَ قَائِمَكُمْ» فرمائیلی وو، «ينادی» او «يوذن» کښې شك دې «لِيَرْجِعَ قَائِمَكُمْ» دقائم نه مرادتهجد کولو والا دې، رجع لازم او متعدی دواړه مستعمل دی. «رجع رجوعا» واپس کیدل، «رجع، رجعا» واپس کول، په دې ځائې کښې لازمی او متعدی دواړه احتمال دی. دلازم په صورت کښې «قائم» فاعل کیدو په وجه مرفوع به وی یعنی تهجد کولو والا واپس شی، مطلب دادې چه د سحر دمونځ نه مخکښې څه ساعت آرام اوکړی، دمتعدی په صورت کښې «قائم» مفعول به واقع کیدو په وجه به منصوب وی، یعنی هغه اذان تهجد کوونکی آرام طرفته واپس کړی.(۲)

قوله: وَلَيْسَ أَنْ يَقُولَ كَأَنَّهُ يَعْنِي الصُّبْحَ أَوِ الْفَجْرَ: «كَأَنَّهُ يَعْنِي» د راوی طرف نه په مینځ

---

۱) فتح الباری: ۵۴۶/۹).

۲) ارشاد الساری: ۷۳/۱۲، وعمدة القاری: ۲۸۹/۲۰).

كښې جمله معترضه ده. اصل حديث عبارت دې. ((وَلَيْسَ أَنْ يَقُولَ الصبح)) ((يقول)) فعل مضارع، ((ا ن)) مصدريه داخل كيدو په وجې سره ((قول)) مصدر معنى كښې دې. عبارت به شي ((وليس قول الصبح)) او ((قول)) نه دلته كلام مراد نه دې بلكه مقصد او اراده مراد ده نو معنى به شي ((وليس مقصد الصبح)) يعنى دحضرت بلال اذان وركولو سره مقصد دسبا اعلان كول نه دى بلكه مقصد داوى چه تهجد كولو والاځه وخت آرام اوكړى. حضرت بلال رضي الله عنه دا اذان به دسبا نه مخكښې وركولو. راوى په طور د تفسير ((يقول)) نه پس ((كانه يعنى)) اضافه اوكړه. دې خبرې طرفته اشاره كولو دپاره چه ((يقول يعنى)) معنى كښې وئيل دادى چه د قول نه دلته كلام مراد نه دې بلكه فعل مراد دې . دا د ((اطلاق القول على الفعل)) د قبيل نه دې. (۱) دا روايت په كتاب الصلوة كښې تير شوې دې، هلته ((كانه يعنى)) دا جمله معترضه نه ده، نو هلته عبارت دې ((وليس ان يقول الفجراو الصبح)) (۲)

((الفجر)) او ((الصبح)) كښې راوى ته شك دې چه حضرت نبى كريم ﷺ ((الفجر)) فرمائيلى وو يا ((الصبح)).

((سحور)) (دسين په فتحه سره) هغه څيز ته وئيلې شى چه دسحر په وخت كښې خوړلې شى. اودسين په ضمه سره مصدر دې، پيشمني خوړل، اكثر حضرات دسين د فتحه سره روايت كوى. (۳)

قوله: وَأَظْهَرَ يَزِيدُ يَدَيْهِ ثُمَّ مَدَّ إِحْدَاهُمَا مِنَ الْأُخْرَى: د ((اظهر)) ترجمه علامه عينى رحمه الله كړې ده ((جعل احدى يديه على ظهر الاخرى)) يعنى يو لاس دبل لاس په شا باندې ايښودل. او علامه قسطلانى رحمه الله فرمائى چه ((اظهر من الظهور بمعنى العلوا اى اعلى يديه و رفعهما طويلا اشارة الى صورة الفجر الكاذب ثم مد احد احداهما من الاخرى اشارة الى الفجر الصادق)) (۴) يعنى خپل لاسونه ئې پورته طرفته ته اوچت كړل او اوږده ئې كړل. اشاره ئې صبح كاذب طرفته وه چه ددې رڼړا اوږده او مستطيل وى. بيا يو لاس دبل لاس نه بيل اوږدول اودا شاره وه د صبح صادق طرفته چه ددې رڼړا خوره وى .

په دې حديث كښې چونكه اشاره كړې شوې ده، ددې وجې ددې باب تحت ئې دا ذكر كړل.

---

۱) عمدة القارى: ۲۸۹/۲۰).
۲) صحيح البخارى (مع فتح البارى) كتاب الاذان، باب الاذان قبل الفجر : ۱۰۳/۲).
۳) ارشاد السارى: ۷۲/۱۲).
٤) ارشاد السارى: ۷۳/۱۲) .

[۴۹۹۳] وَقَالَ اللَّيْثُ حَدَّثَنِي جَعْفَرُ بْنُ رَبِيعَةَ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ هُرْمُزَ سَمِعْتُ اَبَا هُرَيْرَةَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَثَلُ الْبَخِيلِ وَالْمُنْفِقِ كَمَثَلِ رَجُلَيْنِ عَلَيْهِمَا جُبَّتَانِ مِنْ حَدِيدٍ مِنْ لَدُنْ ثُدَيَّيْهِمَا اِلَى تَرَاقِيهِمَا فَاَمَّا الْمُنْفِقُ فَلَا يُنْفِقُ شَيْئًا اِلَّا مَادَّتْ عَلَى جِلْدِهِ حَتَّى تُجِنَّ بَنَانَهُ وَتَعْفُوَ اَثَرَهُ وَاَمَّا الْبَخِيلُ فَلَا يُرِيدُ يُنْفِقُ اِلَّا لَزِمَتْ كُلُّ حَلْقَةٍ مَوْضِعَهَا فَهُوَ يُوسِعُهَا فَلَا تَتَّسِعُ وَيُشِيرُ بِاِصْبَعِهِ اِلَى حَلْقِهِ [ر: ۱۳۷۵].

حضرت ابو هريره رضي الله عنه فرمائي چه حضرت نبى كريم ﷺ فرمائى چه د بخيل او خرچ كولو والا (سخى) مثال د دوو سړو په شان دې چه د اوسپنې زره داشان واغوندى چه هغه د سينې نه تر نامه پورې وى او سخى سړې چه كله خرچ كوى نو دده زره فراخه او دده په بدن كښې تر دې حده پورې اوږده وى چه هغه زره دده (د پښو د ګوتو) بندونو پورې وى، او د دې نقش پا ختموى ليكن بخيل چه كله هم د خرچ كولو اراده كوى نو دده د زرې هره حلقه په خپل ځائې باندې انخلى، هغه داسې فراخه كول غواړى ليكن هغه نه فراخه كيږى. دوى په خپله ګوته د خپلې حلقې طرفته ته اشاره اوكړه.

«جبتان من حديد» د اوسپنې دوه جبې يعنى زرې. «ثديهما» دا د «ثدى» تثنيه ده. سينې ته ونيلې شى. بعضو نسخو كښې «ثديهما» جمع ده. «ثدى» د ثاء په ضمه، او د دال په كسره او دياء په تشديد سره) د «ثدى» جمع ده. «تراقيهما» «تراقى» د «ترقوة» جمع ده. «وهى العظيم الكبير الذى بين ثغرة النحر والعاتق» هنسلى «مادت» دا د مد نه د باب مفاعله صيغه ده. اصل كښې «ماددت» د دال په دال كښې ادغام شوې دې يعنى په معنى د اوږدول، لويول. «تجن» د باب افعال نه دې، په معنى پټولو «بنان» بندونه، د ګوتو سرونه. (۱)

حضرت نبى كريم ﷺ په دې حديث مبارك كښې د سخى مثال د هغه سړى سره وركړې دې چه هغه زره اغوستې وى. كله چه هغه خرچ كوى نو دده په جسم باندې هغه زره دومره اوږده او فراخه وى چه دده د پښو ګوتې هم پټې شى. كله چه دې روان شى نو دده د قدمونو نښې هغه زره ختموى، داشان سخې سړې چه كله د خرچ كولو اراده اوكړى نو دده زره فراخه وى. او د سخاوت د غلطئ اوكوتاهئ ختموى. حالانكه بخيل سړې چه كله د خرچ كولو اراده اوكړى نو دده زره تنګ او لاسونه ئې اودريږى. (۲)

دا حديث په كتاب الزكاة كښې موصولاً تير شوې دې. (۳) د حديث آخرى جمله «ويشير باصبعه الى حلقه» په وجه دا روايت ئې دلته ذكر كړې.

---

۱) د مذكوره الفاظو د تحقيق د پاره اوګورئ عمدة القارى: ۲۸۹/۲۰ . وارشادالسارى: ۷۳/۱۲).
۲) فتح البارى: كتاب الزكاة باب مثل المتصدق البخيل: ۳۰۶/۳).
۳) صحيح البخارى: (مع فتح البارى) كتاب الزكاة، باب مثل المتصدق والبخيل : (۳۰۶/۳).

٢٣=باب اللعان

وَقَوْلِ اللّٰهِ تَعَالٰى وَالَّذِينَ يَرْمُونَ اَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ يَكُنْ لَهُمْ شُهَدَاءُ اِلَّا اَنْفُسُهُمْ اِلٰى قَوْلِهٖ اِنْ كَانَ مِنَ الصَّادِقِينَ [ر:النور:٦_٩] .

فَاِذَا قَذَفَ الْاَخْرَسُ امْرَاَتَهُ بِكِتَابَةٍ اَوْ اِشَارَةٍ اَوْ بِاِيمَاءٍ مَعْرُوفٍ فَهُوَ كَالْمُتَكَلِّمِ لِاَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ اَجَازَ الْاِشَارَةَ فِي الْفَرَائِضِ وَهُوَ قَوْلُ بَعْضِ اَهْلِ الْحِجَازِ وَاَهْلِ الْعِلْمِ وَقَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى فَاَشَارَتْ اِلَيْهِ قَالُوا كَيْفَ نُكَلِّمُ مَنْ كَانَ فِي الْمَهْدِ صَبِيًّا [ر:٢٩] وَقَالَ الضَّحَّاكُ اِلَّا رَمْزًا [ر:٣١]. اِلَّا اِشَارَةً.

((لعان)) د باب مفاعله مصدر دې .چه ددې معنى لرې كول دى. په اصطلاح كښې دلعان تعريف دحضرات حنفيه په نيز دادې چه((شهادات موكدات بالايمان مقرونة باللعن، قائمة مقام حد القذف فى حقه ومقام حد الزنا فى حقها))او د ائمه ثلاثه په نيز دلعان تعريف دادې چه((هى ايمان موكدات بلفظ الشهادة))(١)

دحضرات حنفيه په نيز دلعان دپاره دشهادت اهليت شرط دې.((فلا يجرى الابين المسلمين الحرين العاقلين البالغين غير المحدودين فى قذف))د ائمه ثلاثه په نيز ديمين اهليت لعان دپاره شرط دې،ددې وجې ددوى په نيز مسلمان سړې او كافره ښځه كافر سړې او كافره ښځه غلام او دده ښځې په مينځ كښې هم لعان كيديشى.(٢)

د حضرت امام بخارى رحمه الله مقصد ددې باب نه دادې چه لعان كښې دننه اشاره معتبر ده. چه څنگه په طلاق كښې دننه اشاره معتبر ده. په ړومبى باب كښې ئې اشاره باالطلاق ذكر كړه. او په دې باب كښې اشاره فى اللعان فرمائى .دمخكښې باب په شان په دې باب كښې هم حضرت امام بخارى رحمه الله داسې آثار او احاديث ذكر فرمائيلى دى چه په هغې كښې داشارې اعتبار او ددې ذكر دې. د حضرت امام شافعى رحمه الله او حضرت امام مالك رحمه الله په نيز لعان كښې دننه داشارې اعتبار به كولې شى.

دحضرت امام ابوحنيفه رحمه الله امام وزاعى او اسحاق بن راهويه په نيز لعان كښې دننه داشارې به هيڅ اعتبار نه وى.(٣)

په ترجمة الباب كښې حضرت امام بخارى رحمه الله دقران پاك آيت((والذين يرمون ازواجهم))ذكر فرمائى،ا مام د((يرمون))لفظ نه استدلال كړې دې. چه دا عام ده خواه لفظ سره وى اوكه اشارې سره.(٤)

---

١) اوګورئ هداية باب اللعان : ٢/ ٤١٦، ٤١٧).
٢) الابواب والتراجم: ٨١/٢).
٣) فتح البارى: ٥٤٩/٩، ٥٥٠).
٤) فتح البارى: ٥٤٩/٩).

مخکښې حضرت امام بخاري رحمه الله فرمائی که اخرس خپلې ښځې باندې دکتابت په ذریعه یا د اشارې په ذریعه تهمت اولګولو نو دا به په منزله د کلام وی. اوددې اعتبار به کولې شی. ددې وجې حضرت نبی کریم په قرائنو (مونځ وغیره کښې) کښې داشارې اعتبار کړې دې. بعضو اهل حجاز ((مالك وغیره)) هم دا مسلك دې، بعضې نور اهل علم د (سفیان ثوری) وغیره هم دا مسلك دې. (۱)

په قران پاك کښې د حضرت مریم په واقعه کښې دی چه ((فاشارت الیه قالوا کیف نکلم من کان فی المهد صبیا)) حضرت مریم باندې کله چه خلقو الزام اولګولو نوهغوی حضرت عیسی علیه السلام طرفته اشاره اوکړه خلقو اووئیل چه مونږ هغه ماشوم سره څنګه خبرې اوکړو چه په ځانګو کښې پروت دې. دراصل حضرت مریم علیها السلام منت منلې وو چه خبرې به نه کوی. ((انی نذرت للرحمان صوما)) په دې کښې د ((صوم)) نه مراد خاموشی ده نو په دې حالت کښې هغه داخرس په حکم کښې وه، هغې اشاره اوکړه نو خلقو ددې اشاره کافی اوګڼله او ددې نه ئې هغه سوال دوباره اونه کړو. (۲) اګرچه کوم طرفته اشاره کړې شوې وه، په هغې باندې هغې نکیر اوکړو، بهر حال دې آیت کریمه سره حضرت امام بخاری رحمه الله داشارې په معتبر کیدو استدلال کړې دې.

قوله: قَالَ الضحاك الارمزا اشارة: دقران پاك سورة آل عمران په آیت کریمه کښې دی چه ((ایتك ان لا تكلم الناس ثلاثة ایام الا رمزا)) په دې کښې د((رمز)) معنی اشاره ده، دا به درې ورځې په اشارې سره خبرې کوی، په ژبه به خبرې نشی کولې. دا دحضر زکریا علیه السلام واقعه ده چه الله ﷻ هغه ته د زوئې زیرې ورکړو، نو هغوی دالله ﷻ نه خواست اوکړو چه څه نښه مقرر او فرمائې چه کله ښځا خونې کیږی. ((رب اجعل لی ایة)) نو الله ﷻ جواب کښې ((ایتك ان لا تكلم الناس ثلاثة ایام الا رمزا)) اوفرمائیل. په دې کښې اشارې ته دکلام حکم ورکړې شو، معلوم شو چه اشاره معتبر وی، دا تعلیق عبدبن حمید موصولاً نقل کړیدې. (۳)

وَقَالَ بَعْضُ النَّاسِ لَا حَدَّ وَلَا لِعَانَ ثُمَّ زَعَمَ اَنَّ الطَّلَاقَ بِكِتَابٍ اَوْ اِشَارَةٍ اَوْ اِيمَاءٍ جَائِزٌ وَلَيْسَ بَيْنَ الطَّلَاقِ وَالْقَذْفِ فَرْقٌ فَاِنْ قَالَ الْقَذْفُ لَا يَكُونُ اِلَّا بِكَلَامٍ قِيلَ لَهُ كَذٰلِكَ الطَّلَاقُ لَا يَجُوزُ اِلَّا بِكَلَامٍ وَاِلَّا بَطَلَ الطَّلَاقُ وَالْقَذْفُ وَكَذٰلِكَ الْعِتْقُ وَكَذٰلِكَ الْاَصَمُّ يُلَاعِنُ
وَقَالَ الشَّعْبِيُّ وَقَتَادَةُ اِذَا قَالَ اَنْتِ طَالِقٌ فَاَشَارَ بِاَصَابِعِهِ تَبِينُ مِنْهُ بِاِشَارَتِهِ
وَقَالَ اِبْرَاهِيمُ الْاَخْرَسُ اِذَا كَتَبَ الطَّلَاقَ بِيَدِهِ لَزِمَهُ

---

۱) عمدة القاري: ۲۰/۲۹۱).
۲) فتح الباري: ۹/۵۵۰).
۳) فتح الباري: ۹/۵۵۰).

وَقَالَ حَمَّادٌ الأَخْرَسُ وَالأَصَمُّ إِنْ قَالَ بِرَأْسِهِ جَازَ إِذَا أَشَارَ كُلٌّ مِنْهُمَا بِرَأْسِهِ جَازَ.

قوله: وَقَالَ بَعْضُ النَّاسِ لَا حَدَّ وَلَا لِعَانَ: بعضې خلقو ونیلی دی چه اشارې سره نه حد واجب کیږی اونه لعان. که یو سړی په اشارې سره اووئیل چه فلانی سړی زنا کړې ده یا اشارې سره ئې اووئیل چه څما ښځې زنا کړې ده .نو داسې سړی باندې به نه حد جاری وی. اونه داسې ښځې خاوند باندې به لعان وی،بیا ددې خلقو هم دا مذهب دې چه کتاب او اشارې سره طلاق واقع کیږی حالانکه د طلاق او قذف په مینځ کښې هیڅ فرق نشته دې، (لهذا طلاق اشارې سره کیدیشی نو قذف کښې اشاره ولې غیر معتبر ده) که هغه دا اووائی چه د قذف دپاره کلام ضروری دې نو دې ته به وئیلې کیږی چه د طلاق دپاره هم کلام ضروری دې ګنې په اشارې سره طلاق .قذف او داشان عتاق ټول ئې باطل اوګنړل یعنی یا خو په دې ټولو کښې اشاره معتبر اوګنړی یا په ټولو کښې غیرمعتبر،طلاق کښې اشارې لره معتبر ګنړل او قذف کښې غیرمعتبر ګنړل دا فرق صحیح نه دې.

دا په اصل کښې حضرت امام بخاری رحمه الله دحضرات حنفیه په مذهب باندې رد کړې دې.«بعض الناس»نه یا خو حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله مراد دې او یا حنیفه،څکه چه دحنفیه په نیز طلاق کښې دننه داخرس اشاره مفهمه معتبر ګنړلې شی،لیکن په قذف کښې نه ده . حضرت امام بخاری رحمه الله طلاق او دقذف په مینځ کښې دا فرق درست نه ګنړی،دهغوی خیال دې چه اشاره یا دواړو کښې معتبر کیدل پکار دی یا په دواړو کښې غیر معتبر.

لیکن حضرات حنفیه د دواړو په مینځ کښې چه کوم فرق کړې دې هغه بالکل واضح دې.څکه چه دطلاق تعلق احکامو سره دې،او دلعان تعلق حدود سره او دحدود په باره کښې قاعده ده چه«الحدود تندری بالشبهات»حدود شبهات سره ساقط کیږی،لعان دخاوند په حق کښې دحد قذف قائمقام وی او دښځې په حق کښې حد زنا قائمقام وی او دا خبره څپل ځائې باندې کړې شوې ده.چه اشاره او رمز که هر څومره واضح ولې نه وی،لیکن په دې کښې احتمال بیا هم باقی پاتې کیږی او داحتمال باقی پاتې کیدو وجې سره شبه پیش راتلې شی،ددې وجې حنفیه لعان او حدود کښې اشاره اعتبار نه دې کړې .(۱)

قوله: وَكَذٰلِكَ الأَصَمُّ يُلَاعِنُ: کونړ سړې لعان کولې شی. حنفیان هم دې ته درست وائی. څکه چه هغه ژبې سره خبرې کولې شی. او په دې کښې هیڅ احتمال نشته دې،امام بخاری رحمه الله داهم څپل تائید کښې پیش کوی لیکن فرق واضح دې. چونکه احناف داخرس اشاره اعتبار سره دشبك په وجه نه کوی او اصم خو اشاره نه کوی خبرې کوی په خلاف داخرس چه هغه خبرې کوی اشارې نه کوی.

شعبی رحمه الله او قتاده رحمه الله فرمائی چه کله سړې«انت طالق»اووائی او څپلز ګوتو سره«د دریو

۱) فیض الباری: ۳۲۶/۴،وعمدة القاری : ۲۹۱/۲۰).

طلاقو)اشاره اوکړی نو ددې اشارې په وجه ښځه به بائنه وی.
دحنفیه په نیز هم عدد طلاق کښې اشاره معتبره ده.ابن ابی شیبه‌دا تعلیق موصولاً نقل کړې دې.(١)
حضرت ابراهیم‌نخعی رحمه الله فرمائی چه ګونګی که خپل لاس سره طلاق اولیکی نو طلاق به واقع کیږی،ابن ابی شیبه دا تعلیق موصولاً نقل کړې دې (٢)دحنفیه په نیز هم دکتابت په ذریعه طلاق واقع کیږی.

قوله: وَقَالَ إِبْرَاهِيمُ الْأَخْرَسُ إِذَا كَتَبَ الطَّلَاقَ بِيَدِهِ لَزِمَهُ: د حضرت امام‌ابوحنیفه رحمه الله استاد حماد بن ابی سلیمان رحمه الله فرمائی که ګونګې او کونړ که په سره اشاره اوکړی‌نو جائز ده(معلومه شوه چه اشاره معتبره ده).
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه د حضرت امام‌ابوحنیفه رحمه الله داستاد قول نقل کوی ګویا چه حضرت امام بخاری رحمه الله د حنفیانو الزام مسترد کول غواړی.(٣)

قوله: وَقَالَ حَمَّادٌ الْأَخْرَسُ وَالْأَصَمُّ إِنْ قَالَ بِرَأْسِهِ جَازَ: علامه عینی رحمه الله فرمائی چه حافظ ابن حجر رحمه الله دشیخ حماد پەمرادباندې پوهه شوې نه دې.که هغه دده په مقصدباندې پوهه شوې وې،نو دا خبره به ئې نه کوله .دشیخ عماد مقصد دادې چەدګونګی اشاره که معروفه وی نو هغه دعبارت او نطق قائمقام ده.او دحنفیانو هم دامسلک دې.(٤)

[٤٩٩٤] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا لَيْثٌ عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ الْأَنْصَارِيِّ أَنَّهُ سَمِعَ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِخَيْرِ دُورِ الْأَنْصَارِ قَالُوا بَلَى يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ بَنُو النَّجَّارِ ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ بَنُو عَبْدِ الْأَشْهَلِ ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ بَنُو الْحَارِثِ بْنِ الْخَزْرَجِ ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ بَنُو سَاعِدَةَ ثُمَّ قَالَ بِيَدِهِ فَقَبَضَ أَصَابِعَهُ ثُمَّ بَسَطَهُنَّ كَالرَّامِي بِيَدِهِ ثُمَّ قَالَ وَفِي كُلِّ دُورِ الْأَنْصَارِ خَيْرٌ[ر: ٣٥٧٨].

[٤٩٩٥] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ أَبُو حَازِمٍ سَمِعْتُهُ مِنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ السَّاعِدِيِّ صَاحِبِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بُعِثْتُ أَنَا وَالسَّاعَةَ كَهَذِهِ مِنْ هَذِهِ أَوْ كَهَاتَيْنِ وَقَرَنَ بَيْنَ السَّبَّابَةِ وَالْوُسْطَى [ر: ٣٦٥٢]

[٤٩٩٦] حَدَّثَنَا آدَمُ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ حَدَّثَنَا جَبَلَةُ بْنُ سُحَيْمٍ سَمِعْتُ ابْنَ عُمَرَ يَقُولُ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الشَّهْرُ هَكَذَا وَهَكَذَا وَهَكَذَا يَعْنِي ثَلَاثِينَ ثُمَّ قَالَ وَهَكَذَا وَهَكَذَا وَهَكَذَا يَعْنِي تِسْعًا وَعِشْرِينَ يَقُولُ مَرَّةً ثَلَاثِينَ وَمَرَّةً تِسْعًا وَعِشْرِينَ [ر: ١٨٠١].

---

١) فتح الباری: ٩/٥٥١).
٢) فتح الباری: ٩/٥٥١).
٣) فتح الباری: ٩/٥٥١).
٤) عمدة القاری: ٢٠/٢٩٢).

[۴۹۹۷] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ عَنْ اسْمَاعِيلَ عَنْ قَيْسٍ عَنْ ابِي مَسْعُودٍ قَالَ وَاشَارَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهِ نَحْوَ الْيَمَنِ الايمَانُ هَاهُنَا مَرَّتَيْنِ الا وَانَّ الْقَسْوَةَ وَغِلَظَ الْقُلُوبِ فِي الْفَدَّادِينَ حَيْثُ يَطْلُعُ قَرْنَا الشَّيْطَانِ رَبِيعَةَ وَمُضَرَ [ر:۳۱۲۶].

[۴۹۹۸] حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ زُرَارَةَ اخْبَرَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ ابِي حَازِمٍ عَنْ ابِيهِ عَنْ سَهْلٍ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَانَا وَكَافِلُ الْيَتِيمِ فِي الْجَنَّةِ هَكَذَا وَاشَارَ بِالسَّبَّابَةِ وَالْوُسْطَى وَفَرَّجَ بَيْنَهُمَا شَيْئًا [ر:۵۶۵۹].

حضرت امام بخارى رحمه الله پنخه مرفوع احاديث ذكركړى دى، په دې ټولو كښې داشارې ذكر دې . ليكن ديو هم تعلق لعان سره نه دې .او دحدود په باب كښې‌نه دې، لهذا ددې احاديثو نه دلعان په باب كښې اشاره معتبر كيدو باندې استدلال كول قابل قبول نه دى.

آخرى حديث حضرت امام بخارى رحمه الله دلته په ړومبى ځل باندې ذكر كړو چه حضرت نبى كريم ﷺ فرمائيلى دى چه ځه او يتيم كفالت كولو والادواړه به په جنت كښې داشان يو او دسبابه(مسواكې ګوتې) او مينځنۍ ګوتې سره ئې اشاره اوكړه اوددواړو په مينځ كښې ئې لږه شان فاصله پرينبوده. اشاره وه دقرب طرفته چه ځه او ديتيم پرورش كولو والا به جنت كښې يو بل سره نزدې يو.

۲۴=بَاب إِذَا عَرَّضَ بِنَفْيِ الْوَلَدِ

[۴۹۹۹] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ قَزَعَةَ حَدَّثَنَا مَالِكٌ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ عَنْ ابِي هُرَيْرَةَ انَّ رَجُلًا اتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ وُلِدَ لِي غُلَامٌ اسْوَدُ فَقَالَ هَلْ لَكَ مِنْ ابِلٍ قَالَ نَعَمْ قَالَ مَا الْوَانُهَا قَالَ حُمْرٌ قَالَ هَلْ فِيهَا مِنْ اوْرَقَ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَانَّى ذَلِكَ قَالَ لَعَلَّهُ نَزَعَهُ عِرْقٌ قَالَ فَلَعَلَّ ابْنَكَ هَذَا نَزَعَهُ [ر:۶۸۸۴،۶۴۵۵].

د حضرت امام بخارى رحمه الله مقصد دادې كه يو سړې صراحتًا دخپل بچى د نسب انكار اونه كړى بلكه تعريضًا انكار اوكړى، دتعريض مطلب دادې چه څوك داسې خبره ذكر كړى چه د هغې نه غير مذكوره خبره معلومه شى.(۱) لكه اووائى چه روره ! ځما رنګ تور دې، دابچې دسپين رنګ ولې پيدا شوې دې، ددې جملې مطلب دا هم كيديشى چه دابچې ځما نه دې، په دې تعريض باندې دلعان مرتب كولو سلسله كښې اختلاف دې.

دحضرات حنفيه، شافعيه او جمهور علماء په نيز تعريض باندې حد قذف نه جارى كيږى . اونه دزوجين په مينځ كښې به لعان رازى. البته تعزيرًا ده ته سزا وركولې شى.

دحضرات مالكيه په نيز دتعريض وجې سره لعان او حد دواړه جارى كيږى. د حضرت امام احمد بن حنبل رحمه الله نه يو روايت دجمهورو مطابق او نور روايتونه دمذهب مالكيه مطابق دې.(۲)

---

۱) التعريض هوذكر شئ يفهم منه شئ اخر لم يذكر ... فتح البارى: ۵۵۲/۹).

۲) مذاهب مذكوره دپاره اوګورئ الابواب والتراجم : ۸۲/۲).

روایت باب کښې دی چه یو سړي دحضرت نبی کریم ﷺ په خدمت کښې حاضرشو او عرض ئې اوکړو چه یارسول الله ﷺ !خما یو هلك پیدا شوي دې چه تور دې (دا تعریض وو چه څه سپین یم او هلك تور دې نوهغه څما خوئې څنګه شو)حضرت نبی کریم ﷺاوفرمائیل چه آیا تاسره اوښان شته دې .هغه اووئیل چه آو .حضرت نبی کریم ﷺ ترې تپوس اوکړوچه هغه دڅه رنګ دې ؟هغه اووئیل چه دسور رنګ .حضرت نبی کریم ﷺ تپوس اوکړو چه آیا په هغه کښې څه توربخن خاکی رنګ شته دې ؟هغه اووئیل چه آو. حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه داسې ولې اوشو؟هغه اووئیل چه شائد څه رګ دې راخکلې وی. نو حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه ممکن دی چه ستا څه رګ دې راخکلې وی.

قوله: ان رجل اتی النبی ﷺ: ددې سړی نوم ضمضم بن قتاده وو، (۱) دې راغلواو وې وئیل چه((ان مرای ولدت غلاما اسود))دا تعریض وو، نو ددې روایت په بعضو طریق کښې ددې جملې نه پس دا الفاظ هم دی چه((یعرض بنفیه))(۲)

یعنی هغه ددې هلك دځپل ځان نه نفی کول غوښتل چه څه خو سپین یم او دا هلك تور دې. دا څما خوئې څنګه کیدیشی ؟.هم ددې تعریض په وجه داحدیث حضرت امام بخاری رحمه الله په دې باب کښې ذکر کړو. حضرت نبی کریم ﷺدده د فهم اوماحول مطابق دده نه سوال اوکړو چه اوښان دمختلف رنګونو ولې وی. د سور اوښ بچې اکثر تور رنګ کښې وی داسې ولې وی؟ هغه اووئیل چه((لعل نزعه عرق)) یعنی یو رګ ده لره راکاړی.مطلب دادې چه ددې په اصول کښې څه څیز ددې رنګ وی. هغه څیز په ده باندې غالب راشی. چه ددې په وجه بچې هغه رنګ اختیاروی. (۳) حضرت نبی کریم ﷺاوفرمائیل چه ستا په خوئې کښې هم داشان کیدیشی.

((لعل نزعه عرق))کښې لعل فعل باندې داخل دې،حالانکه هغه په اسم باندې داخلیږي، بعضې روایتونو((لعله نزعه عرق))دې نوبیاخو څه اشکال نشته دې، بعضو وئیلی دی چه صحیح خبره داده چه((عرق))منصوب دې ((لعل عرقا نزعه))په دې صورت کښې ((عرقا))د((لعل)) په اسم وی.((اورق الذی فیه سواد لیس بحالك بل یمیل الی الغبرة))یعنی داسې رنګ چه خالص تور نه وی بلکه په دې کښې څه خاکوالئی هم وی.(۴)

حضرت امام بخاری رحمه الله په ددې باب تحت مذکوره روایت ذکر کړې دې،اودې طرفته ئې اشاره کړې ده چه قذف او لعان کښې تعریض معتبر نه دې لکه څنګه چه دجمهورو مسلك دې.

---

۱) فتح الباری: ۵۵۳/۹).

۲) فتح الباری: ۵۵۳/۹).

۳) والمغنی یحتمل ان یکون فی اصولها ماهو باللون المذکور،فاجتذبه الیه فجاء علی لونه وادعی الداودی ان لعل هنالک الحقیق (فتح الباری: فتح الباری: ۵۵۲/۹).

۴) فتح الباری: ۵۵٤/۹).

٢٥=باب إحلاف الملاعن

[٥٠٠٠] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ اسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا جُوَيْرِيَةُ عَنْ نَافِعٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ انَّ رَجُلًا مِنَ الْانْصَارِ قَذَفَ امْرَاتَهُ فَاحْلَفَهُمَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ فَرَّقَ بَيْنَهُمَا [ر: ٤٤٧١].

دحضرات حنفيه په نيز لعان اصل کښې شهادت دې، چه ددې تاکيد ديمين په ذريعې سره کيږي. دمالکيه او شوافع په نيز لعان په اصل کښې يمين دې او د (اشهد) په ذريعه ددې تاکيد کولې شي، دثمره اختلاف او کتابيه په مينځ کښې دلعان صورت دراتلو په نوبت کښې به ظاهر وي. دمالکيه او شوافع په نيز ددوی په مينځ کښې به لعان درست وي. ځکه چه کتابيه ديمين اهل نه دې لکه څنګه چه ماقبل تير شوی دی.

حضرت امام بخاری رحمه الله د ((احلاف الملاعن)) عنوان قائم کړې دې او دې طرفته ئې اشاره کړې ده چه هغه لعان لره يمين ګڼړی، حديث باب کښې هم ددوی استدلال دې ځکه چه په دې کښې ((فاحلفهما)) الفاظ دی، احلاف نه کلمات لعان ادا کيدل مراد دی.

دحنفيه مستدل دقران پاك آيت دې، ((فشهادة احدهم اربع شهادات بالله)) په دې کښې لعان لره شهادت سره تعبير کړې شوې دې.

٢٦=باب يَبْدَأُ الرَّجُلُ بِالتَّلَاعُنِ

[٥٠٠١] حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا ابْنُ ابِي عَدِيٍّ عَنْ هِشَامِ بْنِ حَسَّانَ حَدَّثَنَا عِكْرِمَةُ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا انَّ هِلَالَ بْنَ امَيَّةَ قَذَفَ امْرَاتَهُ فَجَاءَ فَشَهِدَ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ انَّ اللَّهَ يَعْلَمُ انَّ احَدَكُمَا كَاذِبٌ فَهَلْ مِنْكُمَا تَائِبٌ ثُمَّ قَامَتْ فَشَهِدَتْ [ر: ٢٥٢٦].

حضرت امام بخاری رحمه الله په دې باب کښې دا خبره وئيل غواړي چه دلعان شروع به دسړی نه کيږي. دا يو متفق عليه مسئله ده، البته که اتفاق سره ښځې دسړی نه مخکښې لعان اوکړو نو د حضرت امام شافعی رحمه الله او اشهب مالکی او ابن عربی په نيز ددې دلعان اعتبار به نشی کولې. بلکه د سړی د لعان نه پس ښځې سره به اعاده کولې شی. د حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله او قاسم مالکی په نيزدده دلعان اعتبار به کولې شی، ځکه چه قران پاك کښې دسړی اودښځې لعان لره حرف عطف واو ذريعې سره بيان کړې شوې دې. او واو مطلقاً جمعې دپاره رازی. دترتيب تقاضا نه کوی.(١)

په حديث باب کښې دلعان متعلق دحضرت هلال بن اميه رضی الله عنه قصه مختصرطور ذکر کړې شوې ده، ددې په آخر کښې دی چه ((ثم قامت فشهدت)) يعنی دسړی دلعان نه پس بيا ښځه پاسيده او دې لعان اوکړو، معلوم شو چه ابتداء دسړی نه به وی.

---

١) مذکوره تفصيل دپاره اوګوری فتح الباری: ٥٥٦/٩).

۲۷- باب اللعان ومن طلق بعد اللعان

حضرت امام بخاری رحمه الله دترجمة الباب نه دې طرفته اشاره کړې ده چه د ښځې خاوند ترمينځه فرقت نفس لعان سره واقع کیږی . یا به د تفریق حاکم ضرورت راپیښیږی. ترجمة الباب کښې د«ومن طلق بعد اللعان»الفاظونه د حضرت امام بخاری رحمه الله رجحان دې طرفته معلومیږی چه نفس لعان سره فرقت نه واقع کیږی بلکه دې نه پس ملاعن به طلاق ورکوی نو بیا به فرقت واقع کیږی. په دې مسئله کښې دالاندې څلور مذاهب دی:

① دائمه ثلاثه مذهب دادې چه نفس لعان سره به فرقت نه واقع کیږی،دمالکیه په نیزفراغ زوج او شوافع په نیز فراغ زوجه نه پس به فرقت واقع کیږی.

② دحضرات حنفیه په نیز تفریق حاکم سره یا دخاوند طلاق ورکولو سره به فرقت واقع کیږی.نفس لعان سره طلاق نه واقع کیږی. د حضرت امام بخاری رحمه الله رجحان هم دې طرفته معلومیږی . (۱) په دې مسئله کښې دحنفیه مسلك دایلاء برعکس دې،ایلاء کښې دحنفیه په نیز دقضا قاضی ضرورت‌نشته دې بلکه نفس مدت تیریدو سره‌به طلاق واقع کیږی. د ائمه ثلاثه‌په نیز په ایلاء کښې تفریق قاضی‌نه بغیر فرقت به واقع نه وی. لکه څنګه چه ماقبل کښې په بحث د ایلاء کښې تیرشو.

③دریم قول دادې چه نه‌نفس لعان سره فرقت واقع کیږی اونه تفریق حاکم سره بلکه خاوند به طلاق ورکوی،نوفرقت به واقع شی.

④ څلورم قول د ابوعبیده‌دې چه فرقت‌نفس تهمت لګولو سره واقع کیږی،دلعان نوبت او که نه رازی.(۲)

[۵۰۰۲] حَدَّثَنَا اسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ انَّ سَهْلَ بْنَ سَعْدٍ السَّاعِدِيَّ اخْبَرَهُ انَّ عُوَيْمِرًا الْعَجْلَانِيَّ جَاءَ الَى عَاصِمِ بْنِ عَدِيٍّ الْانْصَارِيِّ فَقَالَ لَهُ يَا عَاصِمُ ارَايْتَ رَجُلًا وَجَدَ مَعَ امْرَاتِهِ رَجُلًا ايَقْتُلُهُ فَتَقْتُلُونَهُ امْ كَيْفَ يَفْعَلُ سَلْ لِي يَا عَاصِمُ عَنْ ذَلِكَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَالَ عَاصِمٌ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذَلِكَ فَكَرِهَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَسَائِلَ وَعَابَهَا حَتَّى كَبُرَ عَلَى عَاصِمٍ مَا سَمِعَ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا رَجَعَ عَاصِمٌ الَى اهْلِهِ جَاءَهُ عُوَيْمِرٌ فَقَالَ يَا عَاصِمُ مَاذَا قَالَ لَكَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ عَاصِمٌ لِعُوَيْمِرٍ لَمْ تَاتِنِي بِخَيْرٍ قَدْ كَرِهَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَسْالَةَ الَّتِي سَالْتُهُ عَنْهَا فَقَالَ عُوَيْمِرٌ وَاللَّهِ لَا انْتَهِي حَتَّى اسْالَهُ عَنْهَا فَاقْبَلَ عُوَيْمِرٌ حَتَّى جَاءَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَسَطَ النَّاسِ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ ارَايْتَ رَجُلًا وَجَدَ مَعَ امْرَاتِهِ رَجُلًا ايَقْتُلُهُ فَتَقْتُلُونَهُ امْ كَيْفَ يَفْعَلُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ

---

۱) فتح الباری: ۵۵۸/۹،والمغنی لابن قدامة: ۴۱۱/۷، ۴۱۰).

۲) الابواب والتراجم: ۸۲/۲).

صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ انْزِلَ فِيكَ وَفِي صَاحِبَتِكَ فَاذْهَبْ فَاْتِ بِهَا قَالَ سَهْلٌ فَتَلَاعَنَا وَاَنَا مَعَ النَّاسِ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا فَرَغَا مِنْ تَلَاعُنِهِمَا قَالَ عُوَيْمِرٌ كَذَبْتُ عَلَيْهَا يَا رَسُولَ اللَّهِ اِنْ اَمْسَكْتُهَا فَطَلَّقَهَا ثَلَاثًا قَبْلَ اَنْ يَأْمُرَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ فَكَانَتْ سُنَّةَ الْمُتَلَاعِنَيْنِ [ر: ٤١٣].

حضرت سهل بن سعد ساعدی ﷺ فرمائی چه عویمر عجلانی ﷺ ،عاصم بن عدی انصاری ﷺلره راغلو اودوی ته ئې اووئیل چه عاصم دا اووایه که څوك سړې خپلې ښځې سره څوك سړې اووینی او هغه دغه سړې قتل کړی نو تاسو به هغه قتل کوئ او (که هغه قتل نه کړی)نو بې چاره به څه اوکړی؟اوس ددې باره کښې څما دپاره دحضرت نبی کریم ﷺ نه تپوس اوکړه. عاصم ددې متعلق دحضرت نبی کریم ﷺ نه تپوس اوکړو نو حضرت نبی ﷺ ددې مسئلو (بلاضرورت سوال کول راپیښې شی او بغیرد راپیښیدو نه ښه ګنړل) ناخوښه کړل او دا ئې معیوب اوګنړل.عاصم چه څه د حضرت نبی کریم ﷺ نه په جواب کښې څه واوریدل نو هغه په ده ښه اونه لګیدل. نو کله چه عاصم واپس راغلو خپل کور والو ته نو ده سره عویمر رسیدلې وو او تپوس ئې اوکړو چه رسول الله ﷺ څه جواب ورکړو ؟عاصم اووئیل چه" تا څه خیردنه وه کړې "رسول الله ﷺ څما په سوال کولو بد اوګنړل. عویمر اووئیل چه په الله قسم څه به منع نه شم. ترکومې پورې چه ددې مسئلې متعلق دحضرت نبی کریم ﷺ نه تپوس اونکړم.نو کله چه عویمر د حضرت نبی کریم ﷺ په خدمت کښې دخلقو په مخکښې راغلو اوعرض ئې اوکړو چه یارسول الله ﷺ اووائې چه سړې بل سړې خپلې ښځې سره اووینی اوهغه داسړې قتل کړی نودا سړی به قتل کیږی نوبه داسې صورت کښې به هغه څه کوی؟رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه ستا او ستا دښځې متعلق آیت نازل شوې دې.نو لاړ شه اوخپله ښځه راوله. دسهیل بیان دې چه دواړو لعان اوکړو او څه خلقو سره دحضرت نبی کریم ﷺ سره موجود اووم. هرکله چه دواړه د لعان نه فارغ شو نو نو عویمر اووئیل چه یارسول الله ﷺ که څه اوس دا ځان سره اوساتم نو څه به دروغژن یم . نو دحضرت نبی کریم ﷺ دحکم ورکولو نه مخکښې هغه دې ته درې طلاق ورکړل.ابن شهاب زهری فرمائی چه هم دا دلعان کولو والا طریقه شوه(ددوی په مینځ کښې دلعان نه پس تفریق کولې شی) .

دعویمر عجلانی د والد مختلف نوم روایتونو کښې یو ملاویږی .د ابو داود په روایت کښې عویمر بن اشقر دې،ابن عبدالبر الاستیعاب کښې عویمر بن ابیض دې اوخطیب بغدادی په مبهمات کښې عویمر بن الحارث لیکلی شوی دی،حافظ ابن حجر ﷫ هم دا قابل اعتماد ګنړلی دی .غالبًا دده دوالد نوم حارث او اشقر او ابیض دهغه القاب وو. (١)

عاصم بن عدی،دعویمر عجلانی د والد دتره خوئې وو،دعاصم لور عویمر سره وه. چه دهغې نوم خوله وو،بعض روایتونو کښې دی چه عویمر سره دعاصم وریره وه،عاصم د خپل قو م سردار وو.(٢)

---

١) فتح الباری: ٥٥٩/٩).
٢) فتح الباری: ٥٥٩،٥٦٠/٩).

قوله: ارأیت رجلا وجد مع امراته رجلا ایقتله فتقتلونه ام کیف یفعل: یعنی یو سړی خپلې ښځې سره څوك بل سړې اوموندو(نو داپه زناسره کنایه ده یعنی دوی ئې په زنا اوکتل)نوآیا داسې خاوند که داسړې قتل کړی نوتاسو به خاوند په قصاص کښې قتل کوی یا به هغه(که قتل نه کړی نو)څه به کوی.

په دې مسئله کښې دجمهورو مسلك دادې که یوسړی خپلې ښځې سره یو غیر سړې اوکتلو په زناکولو او ده زانی قتل کړونو خاوند به په قصاص کښې قتل کیږی.اویا دا چه خاوندبه په زناکښې څلور ګواهان پیش کوی.یا مقتول دمړ کیدو نه مخکښې دزنا اعتراف اوکړی. یا دمقتول ورثاء اعتراف اوکړی.نو په دې صورتونوکښې به خاوند نه شی قتل کولې.دحنفیه هم دا مسلك دې. حضرت امام احمد بن حنبل رحمه الله او داسحاق بن‌راهویه‌په نیز دزنا دثبوت دپاره‌دوه ګواهان‌پیش کولو په صورت کښې‌هم خاوند لره به قصاص کښې‌نشی قتل کولې.(۱)

دحنفیه په نیزدیانتًا خودخاوند دپاره دې قتل کول جائز دی نو قضاءً جائز نه دی مګر هغه سړې مشهور باالشرد الفساد وی. (۲)

قوله: فکره رسول الله لمسائل وعابها: دحضرت عاصم سوال‌رسول الله ﷺ ته ښه اونه لګیدو. یو خو په دې وجه چه‌په دې کښې اشاعت فاحشه وو. دمسلمانانو نه خلاف یهودیانو ته او دښمنانوته د پروپیګنډې ملاویدو امکان وو.دویم دا چه‌کله به‌څه واقعه‌او حادثه راپیښه نشوه نو قبل الوقوع ددې متعلق سوال کول‌حضرت نبی کریم ﷺ ته ښه معلوم نشو. او سائل حضرت عاصم‌سره اوسه پورې‌دا واقعه نه وه پیښه شوې. (۳)

دحضرت نبی کریم ﷺ نه دا مسئله‌دپوښتلو دپاره‌عاصم عویمر ته وئیلی وو،عویمرخو یا ددې وجې‌اووئیل چه‌هغه سره دا واقعه شوې وه،لیکن دعاصم په مخکښې هغه ددې اظهار کول مناسب اونه ګنړل او یا دا واقعه‌هغه سره نه وه شوې. خوهغه ددې حکم معلومول غوښتل . اتفاقا هغه چه کومه مسئله معلومول غوښتل نوهغه ده سره هم اوشوه. نو په روایت کښې د ا قول هم دې چه((ان الذی سالتك عنه قد ابتلیت به))(۴)

لیکن‌په ظاهر دا معلومیږی چه حضرت عویمر سره دا واقعه شوې وه،او ددې باجود حضرت رسول الله ﷺدحضرت عاصم متعلق داتپوس کول خوښ نه کړل.عویمر دحضرت نبی کریم ﷺ په خدمت کښې حاضر شو اوددې مسئلې تپوس ئې اوکړو ځکه چه‌هغه مبتلا شوې وو اودوی ددې حکم دمعلومولو ضرورت وو.

قوله: قال ابن شهاب فکانت سنة المتلاعنین: د ابوداودپه روایت کښې‌د ((تلك))

---

۱) فتح الباری: ۵۶۰/۹ . تکملة فتح الملهم : ۲۵۷/۱).
۲) تکملة فتح الملهم: ۲۵۷/۱).
۳) فتح الباری: ۵۶۱/۹. ۵۶۲).
٤) فتح الباری: ۵۶۱/۹).

اضافه ده چه ددې مشار اليه «الفرقة» دې، «فكانت تلك سنة المتلاعنين»(١) يعنى لعان كولو والو په مينځ كښې فرقت واقع كيدل يو طريقه قائم اوشوه.
دحديث مناسبت دترجمة الباب نه واضح دى چه په دې كښې لعان هم ذكر شو. او دلعان نه پس طلاق هم.

دلعان مشروعيت كله نه شو؟: ابن جرير، طبرى، ابوحاتم او ابن حبان وغيره حضراتو رائې داده چه دلعان مشروعيت په نهم(٩) هجرئى شعبان كښې اوشو.(٢) قاضى عياض او امام نووى هم دا مختار گنړلې دې. ليكن د حافظ ابن حجر رحمه الله رجحان هم دې طرفته دې چه دلعان مشروعيت په شعبان لسمه هجرئى كښې شوې دې او مذكوره واقعه لسمه هجرئى كښې راغلې وه.

حافظ ابن حجر رحمه الله ددې يو دليل داپيش كړې دې چه حضرت سهل بن سعد ساعدى رضي الله عنه دلعان په موقع باندې موجود وو، په كتاب الحدود كښې ددوى يو روايت رازى، هغه فرمائى چه «شهدت المتلاعنين وانا ابن خمس عشرة سنة» يعنى لعان كولو والو سره څه حاضر اوم. او په هغه وخت كښې څما عمر پخلس كاله وو، بل طرفته په روايت كښې دننه دا هم تصريح ده چه د حضرت نبى كريم صلى الله عليه وسلم دوفات په وخت كښې دحضرت سهل پنځلس كاله وو او نو كله چه حضرت نبى كريم صلى الله عليه وسلم دوفات په وخت كښې هم دده عمر پنځلس كاله وو، او دلعان په وخت كښې هم پنځلس كاله، ددې نه متبادر هم دا كيږى چه لعان په نهمه هجرئى كښې نه وو بلكه په شعبان لسمه هجرئى كښې شروع شوې دې. ځكه چه حضرت نبى كريم صلى الله عليه وسلم په ربيع الاول يولسمه هجرئى كښې وفات شوې دې.

دويم دليل دادې چه د دارقطنى روايت دې چه دلعان واقعه غزوه تبوك نه پس پيښه شوې ده او غزوه تبوك باتفاق اهل سير رجب نهمه هجرئى كښې شوې ده. بل طرفته په اسلام كښې رومبې لعان دحضرت هلال بن اميه سره پيښ شوې دې. دمسلم په روايت كښې ددې تصريح شته دې، (٣) حضرت هلال بن اميه دهغه دريو مخلصو صحابه كرامو رضي الله عنهم نه وو چه په غزوه تبوك كښې متخلف وو او اوچه دهغوى توبه پنځوس ورځې پس نازله شوې وه. په دې قصه كښې دا خبره منقول ده چه د حضرت هلال ښځه په دې پنځوسو ورځو كښې د څلويښتو ورځو تيريدو نه پس دحضرت نبى كريم صلى الله عليه وسلم په خدمت كښې حاضره شوه او دخپل خاوند د خدمت كولو اجازت ئې اوغوښتلو. اوس په ظاهره ددې خبرې وقوع ډير مشكل په نظر راتلل چه په نهمه هجرئى كښې چه په كوم شعبان كښې مسلمانان دتبوك نه واپس شو. چه په هغې كښې حضرت هلال د توبې په انتظار كښې گوشه نشين شوې وو. ښځه څلويښت ورځې تيريدونه پس دهغه په خدمت كښې وه، دلعان واقعه هم په دې مياشت كښې راغله. ددې

---

١) فتح البارى: ٩/٥٦٤).
٢) فتح البارى: ٩/٥٥٩).
٣) اوگورئ صحيح مسلم (مع تكملة فتح الملهم) كتاب اللعان: ١/ ٢٥٠).

وجې دلعان واقعه په شعبان لسمه هجرئي کښې ده په نهمه کښې نه ده. (١) والله اعلم.
په کتاب ا لتفسير کښې د لعان دآيت متعلق دا خبره تيره شوې ده چه هغه دحضرت هلال بن اميه په واقعه کښې نازل شوی وو، دهغه واقعه مخکښې پيښه شوې وه، د حضرت عويمر رضي الله عنه دلعان واقعه دې نه پس ده، (٢) ليکن د دواړو واقعاتو وقوع يو بل ته نزدې نزدې شوې دی.

٢٨=بَاب التَّلَاعُنِ فِي الْمَسْجِدِ

د حضرت امام شافعی رحمه الله په نيزلعان به په مسجد کښې کولې شی البته که ښځه په حالت حيض کښې وی نو دمسجد دروازې سره به کولې شی. (٣)
حنفيه فرمائی چه مسجد دلعان دپاره متعين نه دې، چه چرته حاکم وی هغه ځائې کښې به لعان کولې شی، که هغه مسجدوی او که هغه بل ځائې.
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه حضرت امام بخاری رحمه الله ددې ترجمة الباب نه حنفيانو مسلك سره ا ختلاف طرفته اشاره کړې ده، د حنفيانو مسلك دې چه دلعان دپاره مسجد متعين نه دې. (۴)
علامه عينی فرمائی چه د حضرت امام بخاری رحمه الله مقصد دلعان دپاره مسجد متعين کول نه دی بلکه دهغوی مقصد مسجد کښې دلعان جواز وقوع ښانئی، او جواز دحنفيه په نيزهم دې. لهذا دا وئيل چه حضرت امام بخاری رحمه الله مسلك دحنفيه اختلاف طرفته ته اشاره کوی. درست نه دی. (۵)

[٥٠٠٣] حَدَّثَنَا يَحْيَى اَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ اَخْبَرَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ قَالَ اَخْبَرَنِي ابْنُ شِهَابٍ عَنْ الْمُلَاعَنَةِ وَعَنْ السُّنَّةِ فِيهَا عَنْ حَدِيثِ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ اَخِي بَنِي سَاعِدَةَ اَنَّ رَجُلًا مِنْ الْاَنْصَارِ جَاءَ اِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ اَرَاَيْتَ رَجُلًا وَجَدَ مَعَ امْرَاَتِهِ رَجُلًا اَيَقْتُلُهُ اَمْ كَيْفَ يَفْعَلُ فَاَنْزَلَ اللَّهُ فِي شَاْنِهِ مَا ذُكِرَ فِي الْقُرْاٰنِ مِنْ اَمْرِ الْمُتَلَاعِنَيْنِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ قَضَى اللَّهُ فِيكَ وَفِي امْرَاَتِكَ قَالَ فَتَلَاعَنَا فِي الْمَسْجِدِ وَاَنَا شَاهِدٌ فَلَمَّا فَرَغَا قَالَ كَذَبْتُ عَلَيْهَا يَا رَسُولَ اللَّهِ اِنْ اَمْسَكْتُهَا فَطَلَّقَهَا ثَلَاثًا قَبْلَ اَنْ يَاْمُرَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ فَرَغَا مِنْ التَّلَاعُنِ فَفَارَقَهَا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ ذَاكَ تَفْرِيقٌ بَيْنَ كُلِّ مُتَلَاعِنَيْنِ
قَالَ ابْنُ جُرَيْجٍ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ فَكَانَتْ السُّنَّةُ بَعْدَهُمَا اَنْ يُفَرَّقَ بَيْنَ الْمُتَلَاعِنَيْنِ وَكَانَتْ حَامِلًا وَكَانَ ابْنُهَا يُدْعَى لِاُمِّهِ قَالَ ثُمَّ جَرَتْ السُّنَّةُ فِي مِيرَاثِهَا اَنَّهَا تَرِثُهُ وَيَرِثُ

---

١) دحافظ ابن حجر رحمه الله مذكوره دليلونو دپاره اوګورئ فتح الباری: ٥٥٩/٩).
٢) اوګورئ كشف الباری: كتاب التفسير: ٤۶۶).
٣) عمدة القاری: ٢٩٧/٢٠).
٤) فتح الباری: ٥۶٥/٩).
٥) عمدة القاری: ٢٩۶/٢٠).

مِنْهَا مَا فَرَضَ اللّٰهُ لَهُ

قَالَ ابْنُ جُرَيْجٍ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ السَّاعِدِيِّ فِي هَذَا الْحَدِيثِ اِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِنْ جَاءَتْ بِهِ اَحْمَرَ قَصِيرًا كَاَنَّهُ وَحَرَةٌ فَلَا اُرَاهَا اِلَّا قَدْ صَدَقَتْ وَكَذَبَ عَلَيْهَا وَاِنْ جَاءَتْ بِهِ اَسْوَدَ اَعْيَنَ ذَا اَلْيَتَيْنِ فَلَا اُرَاهُ اِلَّا قَدْ صَدَقَ عَلَيْهَا فَجَاءَتْ بِهِ عَلَى الْمَكْرُوهِ مِنْ ذَلِكَ [ر: ۴۱۳].

«فقال ذاك تفريق .....» د «قال» فاعل يا سهل بن سعد دي يا ابن شهاب زهری دي. «قال ابن جريج» دا ماقبل سند سره متصل دي. «وكانت حاملا» چه کومې ښځې «خوله» سره لعان شوې وو هغه حامله وه، ددې نه معلوم شو چه نفی د حمل په صورت کښې هم لعان کولې شي. يعنی که څوك سړې اووائی چه څما ښځې ته کوم حمل دې هغه څما نه دې نو په دې صورت کښې به ددوی په مينځ کښې لعان کولې شی، د ابن ابی ليلی رحمه الله او د حضرت امام مالك رحمه الله هم دا مذهب دې، د امام ابويوسف رحمه الله نه هم دا روايت دې، د حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله، امام محمد رحمه الله او په مالکيه کښې د ابن ماجشون مسلك دې چه محض د نفی حمل په بناء باندې لعان به نه کيږي. د امام ابويوسف مشهور روايت هم ددې مطابق دې. (۱) دلته په حديث باب کښې بيشکه ددې خبرې ذکر دې چه هغه ښځه حامله وه ليکن په رواياتو کښې دا تصريح راغلې ده چه ددې خاوند په دې باندې تهمت لګولې وو او چه ددې په وجه ددوی په مينځ کښې لعان اوشو. «انها ترثه ويرث منها ما فرض الله له .....» دا مسئله اتفاقی ده چه لعان نه پس چه بچې پيدا کيږي، ښځه به ددې بچی وارثه وی. او بچې به ددې ښځې وارث وی.

قوله: <u>ان جاءت به احمر قصيرا كانه حرة فلا ارها الا قد صدقت وكذب عليها:</u>

حضرت نبی کريم د لعان نه پس اوفرمائيل که ښځه نه د سور رنګ وړوکی قد والا بچې پيدا شو نو ښځه رښتونې ده او سړې دروغژن دې، او که د تور رنګ غټو سترګو والا بچې او غټو سرين والا بچې پيدا شو نو سړې به رښتونې وی، نو ښځې نه د دويم صورت بچې پيدا شو.

«وحرة» د چمچورئی په شان يو وړوکې شان زهريلا کيږې. (۲) «اعين» غټو سترګو والا، «اليتين» دا د «الية» تثنيه ده، سرين ته وائی. ددې صفت مخذوف دې «ای عظيمين» کتاب التفسير کښې روايت تير شوې دې په هغې کښې «عظيم الاليتين» الفاظ دی. (۳)

۲۹- بَابُ قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ كُنْتُ رَاجِمًا بِغَيْرِ بَيِّنَةٍ

حضرت نبی کريم ﷺ فرمائيلی دی که ما بغير د څه ګواه نه څوك رجم کولې نو دا ښځه به مې کولې. د جمله حضرت نبی کريم د بدکارې او زناکارې ښځې متعلق فرمائيلې وه، ددې نه

---

۱) عمدة القاری: ۲۰/۲۹۷).

۲) وحرة (بفتح الواو والحاء) دويبة تترامی علی الطعام واللحم فتفسده (ارشاد الساری: ۱۲/۸۵).

۳) کشف الباری: کتاب التفسير: ۴۶۵.

معلوم شو که څوك سړي مشهور باالشر وي نو صرف دشهرت په وجه په دې باندې حد نه جاري کيږي تر کومې پورې چه ګواه نه وي يا اقرار اونه کړي.

[٥٠٠٤] حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عُفَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنِي اللَّيْثُ عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْقَاسِمِ عَنْ الْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّهُ ذُكِرَ التَّلَاعُنُ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ عَاصِمُ بْنُ عَدِيٍّ فِي ذَلِكَ قَوْلًا ثُمَّ انْصَرَفَ فَأَتَاهُ رَجُلٌ مِنْ قَوْمِهِ يَشْكُو إِلَيْهِ أَنَّهُ قَدْ وَجَدَ مَعَ امْرَأَتِهِ رَجُلًا فَقَالَ عَاصِمٌ مَا ابْتُلِيتُ بِهَذَا الْأَمْرِ إِلَّا لِقَوْلِي فَذَهَبَ بِهِ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرَهُ بِالَّذِي وَجَدَ عَلَيْهِ امْرَأَتَهُ وَكَانَ ذَلِكَ الرَّجُلُ مُصْفَرًّا قَلِيلَ اللَّحْمِ سَبْطَ الشَّعَرِ وَكَانَ الَّذِي ادَّعَى عَلَيْهِ أَنَّهُ وَجَدَهُ عِنْدَ أَهْلِهِ خَدْلًا آدَمَ كَثِيرَ اللَّحْمِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللَّهُمَّ بَيِّنْ فَجَاءَتْ شَبِيهًا بِالرَّجُلِ الَّذِي ذَكَرَ زَوْجُهَا أَنَّهُ وَجَدَهُ فَلَاعَنَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَهُمَا

قَالَ رَجُلٌ لِابْنِ عَبَّاسٍ فِي الْمَجْلِسِ هِيَ الَّتِي قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ رَجَمْتُ أَحَدًا بِغَيْرِ بَيِّنَةٍ رَجَمْتُ هَذِهِ فَقَالَ لَا تِلْكَ امْرَأَةٌ كَانَتْ تُظْهِرُ فِي الْإِسْلَامِ السُّوءَ قَالَ أَبُو صَالِحٍ وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ آدَمَ خَدِلًا [٦٨١١،٦٨٦٤،٦٨٦٣،٥٠١٠].

حضرت ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دې چه حضرت نبي کريم ﷺ سره دلعان تذکره کيدله،عاصم بن عدی رضي الله عنه د دې متعلق څه تپوس اوکړو،بيا هغه (کور) ته واپس شو نو ده لره دده دقوم يو سړي(حضرت عويمر رضي الله عنه) راغلو اوشکايت ئې اوکړوچه هغه خپلې ښځې سره يو پردې سړې په زنا کولواوليدو.عاصم اووئيل چه څه دخپلې خبرې په وجه په دې مبتلا شوم،او ده سره دحضرت نبي کريم ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم. اودهغه سړي متعلق موهغوی ته اووئيل چه کوم سړې ده خپلې ښځې سره ليدلې وو. هغه (خاوند) پخپله زيړ رنګ والا،کمزورې او خورو ويښتو والا وواوچه دکوم متعلق ئې دعوی کړې وه چه هغه ئې خپلې ښځې سره ليدلې دې ،هغه غنم رنګې اوڅورب وو. حضرت نبي کريم ﷺ اوفرمائيل چه ياالله ! اصل حقيقت ښکاره کړه. نوهغه ښځې دهغه سړي پشان بچې راوړو چه دکوم متعلق ئې دعوی کړې وه. حضرت نبي کريم ﷺ ددې دواړو په مينځ کښې لعان اوکړو. يو سړي(عبدالله بن شداد دحضرت ابن عباس رضي الله عنه د ترور ځوی)دحضرت ابن عباس رضي الله عنه نه تپوس اوکړوچه آيا دا هغه ښځه وه چه دکوم متعلق حضرت نبي کريم ﷺ فرمائيلي وو چه ((لوکنت احد راجما بغيربينة رجمت هذه))يعنی که ما څوك بغير دګواهئ سنګسار کولې نو دا ښځه به مې کړې وې.حضرت ابن عباس رضي الله عنه جواب ورکړو چه نه . هغه بله ښځه وه چه هغې به علانيه په اسلام کښې بدئ کولې(چه دهغې نوم حضرت ابن عباس رضي الله عنه اونه خودلو).

قوله: فَقَالَ عَاصِمُ بْنُ عَدِيٍّ فِي ذَلِكَ قَوْلًا ثُمَّ انْصَرَفَ: حضرت عاصم بن عدی رضي الله عنه دحضرت نبي کريم ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او د لعان څه خبره ئې اوکړه.دې نه پس د حضرت عويمر رضي الله عنه واقعه پيښه شوه.نو هغه اووئيل چه څه دخپلې دې خبرې په وجه په دې

کښې مبتلا شوم. حضرت عویمر سره دحضرت عاصم لوریا وریره وه چه هغې سره ئې لعان اوشو. ددې رشتې په حوالې سره هغه هم مبتلا شو هغه څه خبره وه چه کومه عاصم کړې وه. او چه کومه هغه دخپلې ابتلاء سبب اوخودلو. علامه کرمانی رحمه الله فرمائی چه هغه داسې نامناسبه خبره کړې وه چه دهغې نه دتکبر او نخوت او عجب اظهار کیدو. (١)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه ددې «قول» نه هغه سوال مراد دې چه کوم هغه دحضرت عویمر رضی الله عنه په وینا باندې دحضرت نبی کریم ﷺ نه کړې وواو حضرت نبی کریم ﷺ دا ناخوښ کړې وو لکه څنګه چه دحضرت سهل حدیث ماقبل تیر شوې دې. د ابن ابی حاتم په روایت کښې ددې تصریح ده چه «فقال عاصم انالله وانا الیه راجعون، هذا والله بسؤالی عن هذا الامربین الناس فابتلیت به» (٢)

قوله: قَالَ أَبُو صَالِحٍ وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ آدَمَ خَدِلًا: «ادم» د «ادمة» نه دې په معنی د غنم رنګی «خدل» غټو پنډو والا، روایت باب کښې «خدلا» دخاء په فتحې او د دال په سکون سره دې) ابو صالح اوعبدالله بن یوسف نه «خدلا» د (خاء په فتحې او د دال په کسرې سره) روایت شوې دې. دابو صالح نوم عبدالله بن صالح دې، په کتاب المحازبین کښې ددوی روایت د حضرت امام بخاری رحمه الله نه موصولا کړې دې، دعبدالله بن یوسف روایت کښې امام په کتاب الحدودو کښې موصولا نقل فرمائیلې دې. (٣)

٣٠=بَاب صَدَاقِ الْمُلَاعَنَةِ

[٥٠٠٥] حَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ زُرَارَةَ أَخْبَرَنَا إِسْمَاعِيلُ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ قَالَ قُلْتُ لِابْنِ عُمَرَ رَجُلٌ قَذَفَ امْرَأَتَهُ فَقَالَ فَرَّقَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ أَخَوَيْ بَنِي الْعَجْلَانِ وَقَالَ اللَّهُ يَعْلَمُ أَنَّ أَحَدَكُمَا كَاذِبٌ فَهَلْ مِنْكُمَا تَائِبٌ فَأَبَيَا وَقَالَ اللَّهُ يَعْلَمُ أَنَّ أَحَدَكُمَا كَاذِبٌ فَهَلْ مِنْكُمَا تَائِبٌ فَأَبَيَا فَقَالَ اللَّهُ يَعْلَمُ أَنَّ أَحَدَكُمَا كَاذِبٌ فَهَلْ مِنْكُمَا تَائِبٌ فَأَبَيَا فَفَرَّقَ بَيْنَهُمَا

قَالَ أَيُّوبُ فَقَالَ لِي عَمْرُو بْنُ دِينَارٍ إِنَّ فِي الْحَدِيثِ شَيْئًا لَا أَرَاكَ تُحَدِّثُهُ قَالَ قَالَ الرَّجُلُ مَالِي قَالَ قِيلَ لَا مَالَ لَكَ إِنْ كُنْتَ صَادِقًا فَقَدْ دَخَلْتَ بِهَا وَإِنْ كُنْتَ كَاذِبًا فَهُوَ أَبْعَدُ مِنْكَ [ر:٤٧٤١].

«ملاعنة» هغه ښځه چه هغې سره د لعان واقعه راپیښه شوې وی . که هغه مدخول بها ده نو بالاجماع دې ته به پوره مهر ملاویږی. اوغیر مدخود بها ده نو د جمهور علماء د حضرت امام

---

١) شرح بخاری للکرمانی وفتح الباری: ٥٦٨/٩).
٢) فتح الباری: ٥٦٧/٩).
٣ (ارشاد الساری: ١٢/ ٨٦_٨٧).

مالك رحمه الله حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله اود حضرت امام شافعي رحمه الله په نيز به دې ته نيم مهر ملاويږي، ابوالزناد، حكم بن عينيه او دحماد بن ابى سليمان په نيز دې ته پوره مهر ملاويږي ،د امام زهرى رحمه الله په نيز به دې تهبه هيڅ نه ملاويږي،د حضرت امام مالك رحمه الله روايت ددې مطابق دې. (۱)

قوله: فَرَّقَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ أَخَوَيْ بَنِي الْعَجْلَانِ: ((اخوى بنى العجلان)) نه د بنو عجلان سره تعلق لرونكى ښځه خاوند مراد دى ،ښځې خاوند ته((اخ))د دين په وجه اووئيلې شو .((إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ))((اخوة)) د ((اخوى))تثنيه ده. داضافت په وجه نون تثنيه حذف كړې شو.په ښځه باندې د((اخ))مذكر اطلاق درست نه دې،ددې وجې د((اخت))لفظ دلته تغليباً((اخت)) د ((اخ))تابع كړې شوه او((اخوى))اووئيلې شو. مراد ددې نه حضرت عويمر رضي الله عنه اودده ښځه خوله دى. ددې دواړو تعلق د قبيله بني عجلان سره وو.(۲)

قوله: ففرق بينهما: ددې نه دمذهب حنفيه اثبات كيږى چه نفس لعان سره فرقت نه واقع كيږى بلكه قاضى به ددوى په مينځ كښې تفريق راولى.(۳)

قوله: قَالَ أَيُّوبُ فَقَالَ لِي عَمْرُو بْنُ دِينَارٍ إِنَّ فِي الْحَدِيثِ شَيْئًا لاَ أَرَاكَ تُحَدِّثُهُ قَالَ قَالَ الرَّجُلُ مَالِي قَالَ قِيلَ لاَ مَالَ لَكَ: سعيد بن جبير رضي الله عنه نه روايت كوونكى دوه شاګردان دى يو ايوب سختيانى او دويم عمرو بن دينار دې،دايوب په روايت كښې دحديث آخرى حصه نشته دې،او دعمرو سره ده،نو ايوب وائى چه عمرو بن دينار ماته اووئيل چه خه تا لره ګورم چه تاسو دحديث دا آخرى حصه نه بيانوئى.نو دحديث آخرى حصه بيانولو سره حضرت عمرو اووئيل چه لعان كونكى سړى حضرت نبى كريم ﷺ ته اووئيل چه خما مال به چرته خى ؟يعنى ما چه دې ته كوم مهر وركړې وو هغه به ماته ملاويږى،حضرت نبى كريم ﷺ اوفرمائيل چه مال به تاته نه ملاويږى ځكه كه ته په خپله دعوى كښې رښتونې ئې نو مال به ددې وجې نه ملاويږى چه تا ښځې سره صحبت كړې دې او كه ته دروغژن ئې نو بيا دمال ملاويدل نور زياته بعيده خبره ده.بهر حال دحديث دا آخرى حصه د سعيدبن جبير رضي الله عنه نه عمرو بن دينار خو روايت كوى ليكن ايوب دا حصه نه نقل كوى.((فيحفظ فيه عمرو ومالم يحفظه ايوب))(۴)

((قال الرجل مالى))په دې كښې((مالى))فاعل دې او فعل محذوف دې يعنى ((ايذهب مالى))آيا خما

---

۱) عمدة القارى: ۳۰۰/۲۰،فتح البارى: ۵۷۰/۹).

۲) عمدة القارى: ۳۰۰/۲۰،وارشاد السارى: ۸۷/۱۲،وفيه وما اطلاق الاخوة فبالنظر الى ان المومنين اخوة او الى القرابة بينهما بسبب ان الزوجين كليهما من قبيلة عجلان).

۳) ارشادالسارى: ۸۷/۱۲).

٤) فتح البارى: ۵۷۱/۹،وعمدة القارى: ۳۰۰/۲۰).

مال به څي،ماته به نه ملاویږي ؟«قال قیل لا مال لك»په دې کښې د «قال» فاعل راوی حدیث حضرت ابن عمر دې یا سعید بن جبیر دې یا عمرو بن دینار دې،یعنی راوی دحدیث اوونیل چه دې سړی ته په جواب کښې اوونیلې شو چه «لا مال لك».«قیل» په دې ځائې کښې صیغه دمجهول ده.راتلونکی باب کښې چه کوم روایت رازی په هغې کښې «قال» دمعروف صیغه ده یعنی حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه «لا مال لك».

۳۱=بَابُ قَوْلِ الْإِمَامِ لِلْمُتَلَاعِنَيْنِ إِنَّ أَحَدَكُمَا كَاذِبٌ فَهَلْ مِنْكُمَا تَائِبٌ

[۵۰۰۶] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِاللّٰهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ عَمْرٌو سَمِعْتُ سَعِيدَ بْنَ جُبَيْرٍ قَالَ سَأَلْتُ ابْنَ عُمَرَ عَنْ حَدِيثِ الْمُتَلَاعِنَيْنِ فَقَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلْمُتَلَاعِنَيْنِ حِسَابُكُمَا عَلَى اللّٰهِ احَدُكُمَا كَاذِبٌ لَا سَبِيلَ لَكَ عَلَيْهَا قَالَ مَالِي قَالَ لَا مَالَ لَكَ انْ كُنْتَ صَدَقْتَ عَلَيْهَا فَهُوَ بِمَا اسْتَحْلَلْتَ مِنْ فَرْجِهَا وَانْ كُنْتَ كَذَبْتَ عَلَيْهَا فَذَاكَ ابْعَدُ لَكَ قَالَ سُفْيَانُ حَفِظْتُهُ مِنْ عَمْرٍو

وَقَالَ أَيُّوبُ سَمِعْتُ سَعِيدَ بْنَ جُبَيْرٍ قَالَ قُلْتُ لِابْنِ عُمَرَ رَجُلٌ لَاعَنَ امْرَاتَهُ فَقَالَ بِاصْبَعَيْهِ وَفَرَّقَ سُفْيَانُ بَيْنَ اصْبَعَيْهِ السَّبَّابَةِ وَالْوُسْطَى فَرَّقَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ اخَوَيْ بَنِي الْعَجْلَانِ وَقَالَ اللّٰهُ يَعْلَمُ انَّ احَدَكُمَا كَاذِبٌ فَهَلْ مِنْكُمَا تَائِبٌ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ قَالَ سُفْيَانُ حَفِظْتُهُ مِنْ عَمْرٍو وَايُّوبَ كَمَا اخْبَرْتُكَ [ر:۴۴۷۱].

د حضرت امام بخاری رحمه الله مقصد دادې چه قاضی او امام ته پکاری دی چه لعان کوونکو ته اووائی چه په تاسو دواړو کښې یو ضرور دروغژن دې،نوآیا تاسو څوك دخپلې خبرې نه رجوع او توبه کولو والا شته دې .حضرت نبی کریم ﷺ هم لعان کوونکو ته دا جمله فرمائیلې وه، لکه څنګه چه په روایت باب کښې رازی.البته په دې کښې اختلاف دې چه دا کلمات دلعان نه مخکښې به وئیلې کیږی یا دلعان نه پس،دقاضی عیاض په نیز حضرت نبی کریم ﷺ دا کلمات دتوبې دترغیب ورکولو دپاره دلعان نه پس وئیلې وو ،لهذا دلعان نه پس وئیل پکار دی.

د داودی په نیز حضرت نبی کریم ﷺ دلعان نه مخکښې د ویرولو دپاره دا کلمات ارشاد فرمائیلې وو .لهذا دلعان نه مخکښې وئیل پکار دی. په روایت کښې احتمال دې .حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه مخکښې وئیل زیات مناسب دی .(۱)بهتر دادی چه دلعان نه مخکښې دې اووائی چه دروغژن سړې مخکښې والې اونه کړی. او دلعان نه پس دې هم ووئیلې شی.چه دروغو وئیلو والا توبې طرفته متوجه شی.

---

۱) فتح الباری: ۵۷۳/۹).

قوله: سَأَلْتُ ابْنَ عُمَرَ عَنِ الْمُتَلَاعِنَيْنِ: سعيدبن جبير دحضرت ابن عباس رضي الله عنه نه دلعان كولو والا متعلق تپوس اوكړو.دراصل د معصب بن زبير په زمانه كښې دلعان يو واقعه پيښه شوې وه. هغوى دمتلاعنين په مينځ كښې تفريق نه وو كړې.نو په دې باندې سعيد بن جبير رحمه الله دحضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه په خدمت كښې حاضر شو او سوال ئې اوكړو او هغوى دا روايت بيان كړو.

قوله: قَالَ سُفْيَانُ حَفِظْتُهُ مِنْ عَمْرٍو وَأَيُّوبَ: سعيد بن جبير نه عمرو بن دينار اوايوب دواړه روايت نقل كوى او ددې دواړو نه سفيان بن عيينه دا روايت نقل كوى.سفيان پخپله تصريح كوى چه ما ددې دواړو نه دا حديث آوريدلى دې.

٣٢-بَابُ التَّفْرِيقِ بَيْنَ الْمُتَلَاعِنَيْنِ

[٥٠٠٧] حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ بْنُ الْمُنْذِرِ حَدَّثَنَا أَنَسُ بْنُ عِيَاضٍ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ عَنْ نَافِعٍ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَخْبَرَهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَّقَ بَيْنَ رَجُلٍ وَامْرَأَةٍ قَذَفَهَا وَأَحْلَفَهُمَا

[٥٠٠٨] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ أَخْبَرَنِي نَافِعٌ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ لَاعَنَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ رَجُلٍ وَامْرَأَةٍ مِنَ الْأَنْصَارِ وَفَرَّقَ بَيْنَهُمَا [ر:٤٤٧٣].

ددې ترجمة الباب نه د حضرت امام بخارى رحمه الله مقصد دادې چه دلعان نه پس دمتلاعنين په مينځ كښې به حاكم تفريق راولى. او دوى به يوبل سره نه اوسوى. ددې ترجمة الباب نه د حضرت امام بخارى رحمه الله رجحان دې طرفته معلوميږى چه نفس لعان سره به فرقت نه واقع كيږى بلكه حاكم چه كله تفريق راولى نو بيا به فرقت واقع كيږى لكه څنګه چه دحنفيه مسلك دې.

د تفريق نه پس لعان كونكې ښځې خاوند په مينځ كښې به دوباره نكاح كولې شى كه نه په دې كښې اختلاف دې.د حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله اود امام محمد رحمه الله په نيز كه زوج خپل ځان ته دروغژن وائى نو لعان د طلاق بائن په درجه كښې دې او دوباره به دې ښځې سره واده كولې شى.

د حضرت امام شافعى رحمه الله او د حضرت امام مالك رحمه الله او امام ابويوسف رحمه الله او د امام زفر رحمه الله په نيز دلعان نه پس لعان كولو والا به هم په هيڅ صورت كښې دوباره ښځه خاوند نه شى پاتې كيدلې.ددې نه حرمت موبده ثابتيږى (١)څكه چه حضرت نبى كريم صلى الله عليه وسلم ته حضرت عويمر عجلانى رحمه الله ته فرمائيلى وو چه«لا سبيل لك عليها»او يو روايت كښې دى چه «المتلاعنان اذا تفرقا لا يجتمعان ابدا»(٢)

حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله ددې دا تاويل كوى چه متلاعنين جمع نشى كولې،تر كومې

---

١) دمذاهبو دتفصيل دپاره اوګورئ مختصر اختلاف العلماء : ٢/٥٠٦).

٢) اوګورئ سنن دار قطنى باب المهر: ٣/٢٧٦،رقم : ١١٦).

پورې چه هغوی په خپل لعان باندې قائم وی،ليکن که زوج خپل ځان ته دروغژن اووائی نو په باندې به حدف جاری کیږی او لعان به ختم شي،خو که هغه په لعان باندې قائم وی نو بیا بیشکه هغه کله هم جمع نشی کولې.او په خپلو کښې ددوی نکاح نشی کولې.(١)

٣٣=بَاب يَلْحَقُ الْوَلَدُ بِالْمُلَاعِنَةِ

[٥٠٠٩] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا مَالِكٌ قَالَ حَدَّثَنِي نَافِعٌ عَنْ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَاعَنَ بَيْنَ رَجُلٍ وَامْرَأَتِهِ فَانْتَفَى مِنْ وَلَدِهَا فَفَرَّقَ بَيْنَهُمَا وَأَلْحَقَ الْوَلَدَ بِالْمَرْأَةِ[ر:٤٤٧١].

ولد به دلعان کولو والا ښځې سره لاحق کولې شی،خاوند طرفته به دده نسبت نه شی کولې.نو په روایت کښې ددې تصریح شته دې،حضرت نبی کریم ﷺ بچې ښځې سره لاحق کړې وو یعنی بچې ئې صرف مور ته منسوب کړې وو.

دحضرت امام احمد بن حنبل رحمه الله په نیز نفس لعان سره به دبچی نفی اوشی،که سړی په اشارې سره هم لعان کښې ددې ذکر نه وی کړې.(٢)لیکن جمهور علماء فرمائی چه د بچی دنفی دپاره دخاوند طرفنه وضاحت ضروری دې ځکه چه پخپله لعان دبچی د نفی دپاره مشروع نه دې .لعان خو خاوند ته حد قذف او د ښځې دحد زنا نه بچ کولو دپاره دې،خاوند په ښځه باندې د زنا تهمت لګولو باوجود که بچې خپل تسلیموی نو دبچی نسب به ثابت منلې کیږی .که دبچی د نسب نفی کوی نو د خاوند د طرفنه به ددې نفی اعتبار نه وی. البته امام صاحب ددې دپاره څه خاص مدت نه دې متعین کړې،د اوؤورځو یو روایت ددوی نه منقول دی .امام ابو یوسف رحمه الله او امام محمد رحمه الله د څلویښتو ورځو موده مقرر فرمائیلې دد.د حضرت امام شافعی رحمه الله په نیز زر ترزره به نفی معتبره وی ګنی نه .(٣)

٣٤=بَاب قَوْلِ الْإِمَامِ اللَّهُمَّ بَيِّنْ

[٥٠١٠] حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي سُلَيْمَانُ بْنُ بِلَالٍ عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ قَالَ أَخْبَرَنِي عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ الْقَاسِمِ عَنْ الْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّهُ قَالَ ذُكِرَ الْمُتَلَاعِنَانِ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ عَاصِمُ بْنُ عَدِيٍّ فِي ذَلِكَ قَوْلًا ثُمَّ انْصَرَفَ فَأَتَاهُ رَجُلٌ مِنْ قَوْمِهِ فَذَكَرَ لَهُ أَنَّهُ وَجَدَ مَعَ امْرَأَتِهِ رَجُلًا فَقَالَ عَاصِمٌ مَا ابْتُلِيتُ بِهَذَا الْأَمْرِ إِلَّا لِقَوْلِي فَذَهَبَ بِهِ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرَهُ بِالَّذِي وَجَدَ عَلَيْهِ امْرَأَتَهُ وَكَانَ ذَلِكَ الرَّجُلُ مُصْفَرًّا قَلِيلَ اللَّحْمِ سَبْطَ الشَّعَرِ وَكَانَ الَّذِي وَجَدَ عِنْدَ أَهْلِهِ آدَمَ خَدْلًا كَثِيرَ اللَّحْمِ جَعْدًا قَطَطًا فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللَّهُمَّ بَيِّنْ فَوَضَعَتْ شَبِيهًا

---
١) مختصر اختلاف العلماء : ٥٠٧/٢ . وبدائع الصنائع،كتاب اللعان : ٢٤٥/٣).
٢) فتح البارى: ٥٧٥/٩).
٣) عمدة القارى: ٣٠٢/٢٠).

بِالرَّجُلِ الَّذِي ذَكَرَ زَوْجُهَا أَنَّهُ وَجَدَ عِنْدَهَا فَلَاعَنَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَهُمَا فَقَالَ رَجُلٌ لِابْنِ عَبَّاسٍ فِي الْمَجْلِسِ هِيَ الَّتِي قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ رَجَمْتُ أَحَدًا بِغَيْرِ بَيِّنَةٍ لَرَجَمْتُ هَذِهِ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ لَا تِلْكَ امْرَأَةٌ كَانَتْ تُظْهِرُ السُّوءَ فِي الْإِسْلَامِ [ر:۵۰۰۳].

ددې باب نه د حضرت امام بخاری رحمه الله مقصد دادې چه دلعان نه پس دې امام اووائی چه «اللهم بين»انې الله ﷻ! ته اصل حقيقت واضح کړې .يعنې چه کوم بچې پيدا کيدو والا دې په هغه کښې داسې نښې ظاهر کړې چه دهغې نه معلوم شی چه بچې دچا دې.دخاوند دې يا چه په چا باندې تهمت لګولې شوې دې دهغه دې . (۱)

داشان دخلقو په مينځ کښې ددې متعلق چه کوم التباس به وی هغه به ختم شی او نورو لره به عبرت وی.بيا دپاره به خلق ددې حرکتونو نه پرهيز کوی.

حديث باب«باب قول الامام للمتلاعنين ......»کښې تير شوې دې .«جعدا» د«جيم په فتحې سره او دعين په سکون سره»ګلګوتې وينښتو والا .«قططا»چه دچا وينښته زيات ګلګوتې وی.

۳۵=بَاب إِذَا طَلَّقَهَا ثَلَاثًا ثُمَّ تَزَوَّجَتْ بَعْدَ الْعِدَّةِ زَوْجًا غَيْرَهُ فَلَمْ يَمَسَّهَا

[۵۰۱۱] حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ حَدَّثَنَا يَحْيَى حَدَّثَنَا هِشَامٌ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي عَنْ عَائِشَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ حَدَّثَنَا عَبْدَةُ عَنْ هِشَامٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّ رِفَاعَةَ الْقُرَظِيَّ تَزَوَّجَ امْرَأَةً ثُمَّ طَلَّقَهَا فَتَزَوَّجَتْ آخَرَ فَأَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَتْ لَهُ أَنَّهُ لَا يَأْتِيهَا وَأَنَّهُ لَيْسَ مَعَهُ إِلَّا مِثْلُ هُدْبَةٍ فَقَالَ لَا حَتَّى تَذُوقِي عُسَيْلَتَهُ وَيَذُوقَ عُسَيْلَتَكِ [ر:۲۴۹۶].

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه د صحيح بخاری ځومره نسخې ځماپه علم کښې دی په هغې کښې مسائل دعدت دپاره«لعان»نه بيل مستقل «کتاب العدة»عنوان نشته دې .البته په شرح ابن بطال کښې په مخکښې باب «باب واللائی يئسن من المحيض»نه مخکښې«کتاب العدة» او ددې په بعضو نسخو کښې د«ابواب العدة»عنوان دې ليکن دا عنوان دمخکښې باب په ځائې دلته کيدل پکار دی ځکه چه ددې باب لعان سره هيڅ تعلق نشته دې. (۲)

دحلاله نکاح مسئله : حضرت امام بخاری رحمه الله په دې باب کښې دحلالې د مسئلې بيان کړې دې،که يو سړی خپلې ښځې ته طلاق مغلظه ورکړو او دې نه پس ددې سړی ښځې بل سړی سره نکاح اوکړه نو آيا نکاح محض به داول خاوند په حق کښې حلاله جوړه شی او دده دپاره

---

۱) فتح الباری: ۵۷۶/۹).
۲) فتح الباری: ۵۸۰/۹).

به بياد رومبی خاوندسره ددې نكاح نه پس كه طلاق اوشو نو دعدت نه پس به نكاح جائز وی يا نه ؟په دې كښې درې اقوال دی.
① حضرت سعيد بن المسيب فرمائی چه دبل سړی سره صرف نكاح كول تحليل دپاره كافی دی. ابن الجوزی د داود ظاهری قول هم ددې مطابق نقل كړې دې .
② جمهور فقهاء فرمائی چه بل سړی سره نكاح او جماع د دواړو كيدل تحليل دپاره ضروری دی.صرف نكاح دحلالې دپاره كافی نه ده بلكه وطی هم ضروری ده.البته انزال شرط نه دې.
③ حضرت حسن بصری رحمه الله فرمائی چه بل سړی سره صرف نكاح او جماع كيدل دتحليل دپاره كافی نه دې بلكه انزال ه ددې دپاره ضروری دې،(١)
د جمهورو مستدل دروايت باب نه دې. چه په هغې كښې دحضرت رفاعه قرظی واقعه ذكرده. دحضرت رفاعی قرظی ښځې بل سړی سره نكاح اوكړه ،دنكاح نه پس هغې خپل اول خاوند لره راتلل غوښتل نو حضرت نبی كريم ﷺ هغې ته اووفرمائيل چه ((لاحتى تذوقى عسيلته ويذوق عسيلتك))((عسيلة))نه جماع مراد ده. حضرت عائشه رضی الله عنها نه ددې هم دا تفسير منقول دې.(٢) نو د دې حديث نه داخبره صفا معلومه شوه چه ښځه تركومې پورې دبل سړی سره د نكاح كولو نه پس جماع اونكړی نوتر هغه وخته پورې هغه به اول خاوند دپاره حلاله كيدلې نشی.
دامراة رفاعه واقعه : ① دلته حديث باب كښې،د امراة رفاعه واقعه بيانكړې شوې ده. رفاعه بن سموال(بروزن غضنفر)،قرظی د بنو قريظې يوې ښځې سره واده اوكړو .ددې ښځې د نوم بارد كښې اختلاف دې. تميمه (دتاء په فتحه سره)تميمه(تصغير سره)سهيمه،اميمه مختلف روايتونه ملاويږی. (٣)
رفاعه دې ښځې ته طلاق وركړونو دې يو بل سړی سره واده اوكړو چه دهغه نوم عبدالرحمان بن الزبير (دزاء په فتحه اودباء په كسره سره)وو. عبدالرحمان دې ښځې سره په جماع كولو په څوجه قادر نشو نو هغه دحضرت نبی كريم ﷺ په خدمت كښې حاضره شوه او شكايت ئې اوكړو چه هغه په جماع باندې قادر نه دې . حضرت نبی كريم ﷺ اوفرمائيل چه شائد ته خپل رومبی خاوند رفاعه لره واپس تلل غواړې . ليكن دهغه دپاره ته تر هغه وخت پورې حلاله نه ئې تر كومې پورې چه ته دې بل خاوند سره جماع اونه كړې .
((ليس معه الامثل هدبة)) يعنی ده سره نشته دې مگر دكپړې د غوټې په شان. ((هدبة)) (دباء په ضمه او د دال په سكون سره) دكپړې طرفته وائی.((وارادت ان ذكره يشبه الهدبة فى الاسترخاء

---

١) دمذاهبو دتفصيل دپاره اوگورئ فتح البارى: ٥٨٣،٥٨٤/٩،وعمدة القارى: باب من اجاز طلاق الثلاث : ٢٣٦/٢٠).
٢) عمدة القارى: ٢٣٦/٢٠).
٣) فتح البارى:٥٨٠/٩).

وعدم الانتشار»(١)((حتى تذوقى عسيلة))تر دې پورې چه ته دهغه شهد اوڅنې يعنى دهغه سره جماع اوكړې .((عسيلة))د((عسل))تصغير دې .((عسل)) مونث دې،ددې وجې ددې په تصغير كښې تاء تانيث ده، د ((عسيلة))تفسير ماقبل كښې دحضرت عائشه رضي الله عنها حوالې سره تير شوې دې چه دې نه جماع مراد ده. ازهرى فرمائى چه((الصواب ان معنى العسيلة حلاوة الجماع الذى يحصل بتغييب الحشفة فى الفرج))(٢)

②عهد نبوى ﷺ كښې دداشان ديوبلې واقعې ذكر هم ملاويږى . نو مقاتل بن حيان په خپل تفسير كښې د قران پاك آيت((فلا تحل له من بعد حتى تنكح زوجا غيره))په شان نزول كښې ذكركړې دې چه دا آيت د عائشه بنت عبدالرحمان بن عتيك متعلق نازل شوې دې. هغه د خپل د تره زوئې رفاعه بن وهب بن عتيك په نكاح كښې وه. رفاعه بن وهب دې ته درې طلاقه وركړل. نو دې عبدالرحمان بن زبير سره واده اوكړو. عبدالرحمان دې ته طلاق وركړو نو هغه دحضرت نبى كريم ﷺ په خدمت كښې حاضره شوه. او وې ونيل چه عبدالرحمان ماته دجماع كولو نه بغير طلاق راكړو. اوس څه خپل ړومبى خاوند لره ورتلې شم. نو حضرت نبى كريم ﷺ اوفرمائيل چه نه .(٣)

بعضې حضرات مذكوره واقعات يو شميرى. ليكن حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه غالب دادى چه مذكوره دواړه واقعات جداجدا دى. څكه چه ړومبۍ واقعه د رفاعه بن سموال دښځې ده اودوئمه واقعه درفاعه بن وهب ده او دواړو ښځو ودونه عبدالرحمان بن زبير سره كړى وو.(۴)

③ داشان يو بله واقعه امام نسائى ذكركړې ده. د غميصاء يا درميصاء نومې يو ښځه دحضرت نبى كريم ﷺ په خدمت كښې حاضره شوه او دخپل خاوند شكايت ئې اوكړو چه په هغه جماع كولو قادر نه دې. نوددې خاوند حضرت نبى كريم ﷺ ته عرض اوكړو چه دا دروغ وائى. دراصل دا خپل ړومبى خاوند لره تلل غواړى. په دې باندې حضرت نبى كريم ﷺ اوفرمائيل چه((ليس ذالك لها حتى تذوق عسيلته))(٥)

---

١) فتح البارى :٥٨٢/٩ . دكتاب للباس په روايت كښې دى ((ان رفاعه طلق امرائة فتزوجها عبدالرحمان بن الزبير قالت عائشه : فجاءت .... وعليها خمارا خضر فشكت اليها ... اى الى عائشة.... من زوجها وارتها خضرة بجلدها فلما جاء رسول الله ﷺ والنساء يبصرن بعضهن بعضا قالت عائشة مامارايت ما يلقى المومنات لجلدهااشد خضرة من ثوبها وسمع زوجها فجاء ... ومعه ابنان لمن غيرها.... قالت : والله مالى اليمين ذنب الا اليه من مامعه ليس باغنى عن من هذه ..... واخذت هدبة من ثوبها ...... كذبت والله يارسوالله ﷺ انى لانفضها نفض الاديم ولكنها ناشزة تريد رفاعة قال : فان كان ذالک لم تحل له الحديث وانظر فتح البارى: ٤٨٢/٩).

٢) ارشاد السارى: ٥٨٣/١٢).

٣) فتح البارى: ٥٨١/٩ . وتفسير ا لدرالمنثور فى التفسير بالماثور: ٢٨٣/١).

٤) فتح البارى: ٥٨١/٩، ٥٨٢).

٥) فتح البارى: ٥٨١/٩،والدر المنثور فى التفسير بالماثور: ١/ ٢٨٤ (سورة البقره).

بهر حال ددې ټولو رواياتو پيش نظر جمهور علماء فرمائي چه مطلقه مغلظه ړومبي خاوند له په هغه وخت کښې حلاليدې شي ترکومې چه دويم خاوند دنکاح کولو نه پس ده سره جماع اونه کړي او جماع نه پس بيا ورته طلاق ورکړي نو بيا دعدت تيريدو نه پس هغه اول خاوند دپاره حلاليدې شي.

دحنفيه په مسلک باندې يو اشکال او ددې جواب: دحنفيه په نيز خبر واحد سره کتاب الله باندې زياتې جائز نه ده. دحنفيه مسلك باندې دلته دا اشکال کيږي چه حديث باب خبر واحد دې، دې سره دقران پاك آيت «حتى تنكح زوجا غيره» باندې زياتې جائز نه دې. په آيت کښې صرف دنکاح کولو ذکر دې. حديث نه دجماع کولو دقيد اضافه جائز کيدل نه دی پکار.

① ددې يو جواب دادې چه دحنفيه په نيز نکاح دوطی په معنی کښې حقيقت ده. او مذکوره آيت کريمه کښې نکاح په حقيقي معنو کښې مستعمل ده، ددې وجې دحديث نه په دې باندې زياتی اونشوه بلکه حديث ظاهر دقران پاك موافق دې. (١)

② دويم جواب دادې چه حديث باب خبر واحد نه دې بلکه خبر مشهور دې او خبر مشهور نه زيادتی فی النص جائز ده. (٢) نو امام ابوبکر جصاص رازی رحمه الله فرمائي چه :

«وقد وردت عن النبي ﷺ اخبار مستفيضة في انها لا تحل للاول حتى يطاها الثاني منها حديث الزهري عن عروة عن عائشة ان رفاعة القرظي ..... وروى ابن عمر وانس بن مالك عن النبي ﷺ مثله، ولم يذكرا قصة امراة رفاعة، وهذه اخبار قد تلقاها الناس بالقبول، واتفق الفقهاء على استعمالها فهي عندنا في حيز التواتر، ولا خلاف بين الفقهاء في ذالك الا شئ يروى عن سعيد بن المسيب انه قال انها تحل للاول بنفس عقد النكاح دون الوطء ولم نعلم احدا تابعه عليه فهو شاذ» (٣)

٣٦=بَابُ وَاللَّائِي يَئِسْنَ مِنَ الْمَحِيضِ مِنْ نِسَائِكُمْ إِنِ ارْتَبْتُمْ [الطلاق: ٤].

قَالَ مُجَاهِدٌ إِنْ لَمْ تَعْلَمُوا يَحِضْنَ أَوْ لَا يَحِضْنَ وَاللَّائِي قَعَدْنَ عَنِ الْمَحِيضِ وَاللَّائِي لَمْ يَحِضْنَ فَعِدَّتُهُنَّ ثَلَاثَةُ أَشْهُرٍ [الطلاق: ٤].

ددې باب نه مخکښې د ابن بطال په نسخه کښې د «كتاب العدة» عنوان دې. بعضو کښې د «ابواب العدة» عنوان دې. حضرت امام بخاری رحمه الله ددې ځائې نه د عدت مسائل بيانوی.

«عدة، عد، يعد» مصدر نه دې په معنی د شميرلو. اصطلاح شرع کښې دعدت تعريف دې «هی تربص ای انتظار مدة تلزم المراة عند زوال النکاح» (٤)

---

١) فتح الباري: ٩/٥٨٥).
٢) عمدة القاري: ٢٠/٢٣٦ (باب من اجاز طلاق الثلاث).
٣) احكام القران للجصاص، باب ذكر الاختلاف في الطلاق بالرجال: ١/ ٣٩٠).
٤) عمدة القاري: ٢٠/٣٠٣).

د نابالغه جينۍ او د بوائى ښځې عدت : حضرت امام بخارى رحمه الله فرمائى چه «العدة اسم لمدة تتربص بها المراة عن التزويج بعد وفاة زوجها او فراقه لها اما بالولادة او بالاقراء او الاشهر» (١)

په باب كښې حضرت امام بخارى رحمه الله د سورة طلاق آيت ذكر فرمائيلې دې چه په هغې كښې د دوه قسمه ښځو دعدت بيان دې . يو هغه ښځه هغه سن ياس ته اورسى او ددې حيض راتلل بند شى.دويم هغه جينكۍ دهغوى حيض لا شروع شوې هم نه وى .ددې دواړو قسم ښځو عدت درې مياشتې دې.

په آيت كريمه كښې«ان ارتبتم»په تفسير كښې حضرت امام بخارى رحمه الله د مجاهد قول نقل كړې دې،«ان لم تعلموا يحضن اولا يحضن»يعنى«ان ارتبتم»معنى داده چه تاسو ته معلوم نه وى چه دې ته به حيض رازى يا نه .چه دكومو ښځو په حيض راتلو اونه راتلو كښې تاسو ته شك وى نو دهغوى عدت درې مياشتې دې.

ليكن جمهور علماء فرمائى چه په آيت كريمه كښې«ان ارتياب فى اتيان الحيض وفى عدم اتيان الحيض» مراد نه دې يعنى دحيض راتللو او نه راتللوكښې شك وارتيات مراد نه دې بلكه «ارتياب فى الحكم» مراد دې يعنى مذكوره دواړو قسمه ښځو په حكم كښې كه تاسو ته شك اوارتياب دې چه د عدت قانون څه پكار دې او ددوى دپاره دشريعت څه فيصله ده نو ددوى عدت درې مياشتې خودلې شوې دې.

نو واحدى ددې آيت كريمه په شان نزول كښې روايت نقل كړې دې چه سورة بقره كښې چه كله دعدت آياتونه نازل شو نوحضرت ابى بن كعب حضرت نبى كريم ﷺ ته اوفرمائيل چه خلق وائى چه بعضې داسې ښځې پاتې شوې چه دهغوى د عدت حكم نازل نشو،حضرت نبى كريم ﷺ تپوس اوكړو چه هغه كومې ښځې دى ؟هغوى عرض اوكړو چه«الصغار والكبار و ذوات الحمل»يعنى وړوكې جينكۍ اوسن ياس ته رسيدلې بوډئى ښځې او حامله ښځې،نوپه دې باندې دامذكوره آيت نازل شو،چه په هغې كښې ددې ښځو دعدت حكم بيان كړې شو.(٢)دمجاهد رحمه الله تعليق باب لره فريابى موصولاً نقل كړې دې.(٣)

٣٧=بَاب وَأُولَاتُ الْأَحْمَالِ أَجَلُهُنَّ أَنْ يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ

[٥٠١٢] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ جَعْفَرِ بْنِ رَبِيعَةَ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ هُرْمُزَ الْأَعْرَجِ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَنَّ زَيْنَبَ بِنْتَ أَبِي سَلَمَةَ أَخْبَرَتْهُ عَنْ أُمِّهَا أُمِّ سَلَمَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ امْرَأَةً مِنْ أَسْلَمَ يُقَالُ لَهَا سُبَيْعَةُ كَانَتْ تَحْتَ

---

١) فتح البارى: ٥٨٧/٩).
٢) عمدة القارى: ٣٠٣/٢٠).
٣) ارشاد السارى: ٩٣/١٢).

زَوْجِهَا تُوُفِّيَ عَنْهَا وَهِيَ حُبْلَى فَخَطَبَهَا أَبُو السَّنَابِلِ بْنُ بَعْكَكٍ فَأَبَتْ أَنْ تَنْكِحَهُ فَقَالَ وَاللَّهِ مَا يَصْلُحُ أَنْ تَنْكِحِيهِ حَتَّى تَعْتَدِّي آخِرَ الأَجَلَيْنِ فَمَكُثَتْ قَرِيبًا مِنْ عَشْرِ لَيَالٍ ثُمَّ جَاءَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ انْكِحِي [ر:٣٦٢٦].

[٥٠١٣] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ عَنِ اللَّيْثِ عَنْ يَزِيدَ أَنَّ ابْنَ شِهَابٍ كَتَبَ إِلَيْهِ أَنَّ عُبَيْدَ اللَّهِ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ أَخْبَرَهُ عَنْ أَبِيهِ أَنَّهُ كَتَبَ إِلَى ابْنِ الأَرْقَمِ أَنْ يَسْأَلَ سُبَيْعَةَ الأَسْلَمِيَّةَ كَيْفَ أَفْتَاهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ أَفْتَانِي إِذَا وَضَعْتُ أَنْ أَنْكِحَ [ر:٣٧٧٠].

[٥٠١٤] حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ قَزَعَةَ حَدَّثَنَا مَالِكٌ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنِ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ أَنَّ سُبَيْعَةَ الأَسْلَمِيَّةَ نُفِسَتْ بَعْدَ وَفَاةِ زَوْجِهَا بِلَيَالٍ فَجَاءَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاسْتَأْذَنَتْهُ أَنْ تَنْكِحَ فَأَذِنَ لَهَا فَنَكَحَتْ

دحامله ښځو عدت: حضرت امام بخاري رحمه الله په دې باب کښې دحامله ښځو دعدت مسئله بيان کړې ده چه ددوی عدت وضع حمل دې لکه څنګه چه دقران پاك آيت دې او هم دا دجمهور علماء او آئمه اربعه مسلك دې البته حضرت علی رضي الله عنه او حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه نه منقول دی چه دحامله ښځو عدت به«ابعد الاجلين»وی يعنی که هغوی وضع حمل د څلورو مياشتو او لسو ورځو نه مخکښې کوی نوعدت به څلور مياشتې لسو ورځې وی او که وضع حمل دڅلورو مياشتو لسو ورځو نه پس کوی نو عدت به ئې وضع حمل وی. حضرت ابن عباس رضي الله عنه نه مذهب جمهور طرفته ته رجوع هم منقول ده.(١) روايت باب دجمهور علماء مستدل دې چه په دې کښې وضع حمل عدت لره ګڼړلې شوې دې،کتاب التفسير کښې ددې تفصيل تير شوې دې.

د حضرت سبيعه واقعه: دباب په روايت کښې سبيعه بنت حارث واقعه بيان شوې ده. ددې خاوند حضرت سعد بن خوله رضي الله عنه وفات شو،لکه څنګه چه په کتاب المغازی کښې روايت دې(٢) دوضع حمل نه پس ابوالسنابل ده ته دنکاح کولو پيغام اوليږلو نوهغوی انکار اوکړو. دموطاپه روايت کښې دی چه دې ته دوه سړو د نکاح پيغام ورکړې وو چه په هغوی کښې يو ځوان او بل بوډا وو.(٣) چه کوم ځوان وو دهغه نوم ابوالبشر بن حارث وو.(۴) او ابو السنابل د زيات عمر والا سړې وو ددې وجې سبيعه د ځوان دنکاح پيغام قبلول اوغوښتل، په دې باندې ابوالسنابل اووئيل چه ترکومې پورې څلور مياشتې لس ورځې تيرې نه کړې تر هغه وخته پورې ستاد پاره چاسره نکاح کول حلال نه دی. دهغې وضع حمل د خاوند د وفات نه دوه درې مياشتې پس شوې وو بعضو روايتونوکښې دوه مياشتې،بعضو

---

١) عمدة القاري: ٢٠/٣٠٤).
٢) كشف الباري،كتاب المغازي باب فضل من شهد بدرا : ١٤٥).
٣) فتح الباري: ٩/٥٩٠).
٤) فتح الباري: ٩/٥٩٠.ارشادالساري: ١٢/٩٤).

كښې خلوېښت ورځې ، بعضو كښې پنځوېشت ورځې ذكر دى.(١)بهر حال څلور مياشتې لس ورځې لا تيرې شوې نه وې.ابوالسنابل دا په دې وجه اووئيل چه په هغه وخت كښې د سبيعه نور رشته دار موجود نه وو. دهغه خيال وو چه تر هغه وخت به دهغې رشته دار راشي او هغوى سره به خبره اوكړى نوشاند دا به ماسره په نكاح كولو راضى شى. (٢) سبيعه دحضرت نبى كريم ﷺ په خدمت كښې حاضره شوه او وې وئيل چه څما وضع حمل اوشو آيا اوس څه نكاح كولې شم ؟حضرت نبى كريم ﷺ اوفرمائيل چه ته نكاح كولې شې.

قوله: فقال والله مايصلح ان تنكحيه: دصحيح بخارى په ډيرو نسخو كښې ((فقال))په ځائې ((فقال))دې ليكن صحيح ((فقالت))دمذكر صيغه ده،ضمير ابوالسنابل طرفته راجع دې .

په((ان تنكحيه)) كښې((ان))مصدريه دې او بتاويل مصدر دې او دا جمله د((يصلح))فاعل دې.د ابوالسنابل مختلف نومونه روايتونو كښې رازى ،عمرو ،عامر ، اصرم، عبدالله(٣)

د باب په دويم روايت كتاب المغازى كښې تفصيل سره تير شوې دې (۴)دريم روايت كښې دى ((ان سبيعة نفست))((نون ضمه او فاء په كسره سره))په معنى د ((ولدت)).

٣٨=بَاب قَوْلِ اللّٰهِ تَعَالٰى وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ ثَلَاثَةَ قُرُوءٍ [البقرة: ٢٢٨]

وَقَالَ اِبْرَاهِيمُ فِيمَنْ تَزَوَّجَ فِي الْعِدَّةِ فَحَاضَتْ عِنْدَهُ ثَلَاثَ حِيَضٍ بَانَتْ مِنْ الْأَوَّلِ وَلَا تَحْتَسِبُ بِهِ لِمَنْ بَعْدَهُ وَقَالَ الزُّهْرِيُّ تَحْتَسِبُ وَهَذَا أَحَبُّ إِلَى سُفْيَانَ يَعْنِي قَوْلَ الزُّهْرِيِّ وَقَالَ مَعْمَرٌ يُقَالُ أَقْرَأَتْ الْمَرْأَةُ إِذَا دَنَا حَيْضُهَا وَأَقْرَأَتْ إِذَا دَنَا طُهْرُهَا وَيُقَالُ مَا قَرَأَتْ بِسَلًى قَطُّ إِذَا لَمْ تَجْمَعْ وَلَدًا فِي بَطْنِهَا

دمطلقات عدت په قرآن پاك كښې مذكور آيت كښې درې قروء خودلې شوې دې،په دې باندې دټولو اتفاق دې ليكن د((قرء))په تفسير كښې اختلاف دې.

دحضرات حنفيه په نيز((قرء))دلته د حيض په معنى كښې ده او هم دا د حضرت امام احمد بن حنبل رحمه الله صحيح قول دې،حضرات صحابه كرام رضي الله عنهم كښې حضرت عمر بن الخطاب رضي الله عنه، حضرت على رضي الله عنه ،حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه هم دا قول منقول دې.بلكه اثرم دحضرت امام احمد بن حنبل رحمه الله نه نقل كړې دى چه اكابر صحابه كرام رضي الله عنهم هم دا قول دې .

حضرت امام شافعى رحمه الله او حضرت امام مالك رحمه الله فرمائى چه((قرء))د ((طهر)) په معنى

---

١) فتح البارى: ٥٩٢/٩) .

٢) نوپه موطا كښې روايت دې ..... وكان اهلها غيبا،ورجا،اذا جاء اهلها ان يوشروه بها ... اوګورئ الموطا للامام مالک كتاب الطلاق باب عدة المتوفى عنها زوجها اذاكانت حاملا : ٥٨٩/٢).

٣) فتح البارى: ٥٩٠/٩).

٤) اوګورئ كشف البارى: كتاب المغازى ،باب من شهد بدرا : ١٤٥).

کښې دي، حضرات صحابه کرام ﷡ کښې حضرت عبدالله بن عمر ﷠، حضرت زید بن ثابت ﷠ او حضرت عائشه ﷝ نه هم دا قول منقول دې، د حضرت امام احمد بن حنبل ﷫ نه یو روایت هم ددې مطابق دې. (۱)

د حضرت امام بخاری رحمه الله رجحان: حضرت امام بخاری ﷫ په باب کښې دحضرت ابراهیم نخعی چه کوم اثر نقل کړې دې، په هغې کښې اګر چه یو بله مسئله بیان شوې ده لیکن ددې اثر په ذکر کولو سره د حضرت امام بخاری ﷫ رجحان اومیلان دې طرفته معلومیږی چه دهغوی په نیز ((قرء)) دحیض په معنی کښې ده او هغه په دې مسئله کښې دحضرات حنفیه سره موافقت کوی، ځکه چه په دې اثر کښې دمطلقه عدت حیض شمیرلې شوې دې، طهر نه.

دحضرت ابراهیم نخعی داثر حاصل: حضرت ابراهیم نخعی ﷫ داثر حاصل دادې چه یو مطلقه ښځې عدت کښې دننه بل واده اوکړو، لکه اوسه پورې لا ددې حیض نه وو تیر شوې چه دې بله نکاح اوکړه، دنکاح نه پس بل خاوند ورته هم طلاق ورکړو. اوس د رومبی خاوند عدت هم په دې باندې لازم شو او د دویم خاوند هم عدت په دې باندې لازم شو. د رومبی خاوند عدت ختمیدو دپاره دوه حیضونه او د دویم خاوند د عدت دپاره درې حیضوه نه باقی وی . نو اوس چه کوم دوه حیضونه رازی هغه به دویم خاوند په حیض کښې شمیرلې شی یا نه؟ ابراهیم نخعی ﷫ فرمائی چه دا دوه حیضونه به د دویم خاوند په عدت کښې نشی شمیرلې . خاوند عدت به شمیرلې شی. او د دویم خاوند دعدت دپاره دې نه پس مستقل درې مزید حیضونه به دا تیروی. لیکن امام زهری ﷫ فرمائی چه دا دوه حیضونه به د دویم خاوند دعدت دپاره شمیرلې کیږی، مخکښې د دویم عدت پوره کیدو دپاره به صرف دیو حیض ضرورت وی. داشان ټول څلور حیضونو سره به د دویم خاوند عدت تیر شی، د زهری ﷫ دې قول لره ابوسفیان خوښ کړې دې او دحنفیه په نیز هم دا مسلك دې. د حضرت امام مالك ﷫ یو روایت هم ددې مطابق دې . (۲) دحضرت ابراهیم نخعی ﷫ دا تعلیق ابن ابی شیبه موصولاً نقل کړې دې. (۳)

قوله: وقال معمر: اقرات المراة اذادنا حيضها واقرات اذادناه طهرها: ابو عبیده معمر بن مثنی فرمائی چه د ((اقرات)) استعمال په هغه وخت کښې هم کیږی چه کله دحیض زمانه رانزدې او په هغه وخت کښې هم کیږی چه کله زمانه د طهر رانزدې، حاصل دادې چه مذکوره لفظ دحیض او دطهر دواړو دپاره استعمالیږی.

قوله: ويقال: ماقرات بسلاقط اذالم تجمع ولدا في بطنها: ((ماقرات بسلاط)) په هغه وخت کښې وئیلې کیږی چه کله ښځه شنډه وی او هغه په رحم کښې بچې نشی جمع کولې،

---

۱) اوګورئ بدایة المجتهد، کتاب الطلاق، الباب الاول فی العدة الفصل الاول فی عدة الزوجات : ۸۹/۲).

۲) الابواب والترجم: ۸۳/۲، وفتح الباری: ۵۹۵/۹، وارشاد الساری: ۹۶/۱۲).

۳) ارشادالساری: ۹۶/۱۲).

معلومه شوه چه د ((قرء)) معنی جمع کولو راځي. حیض ته قرء په دې وجه اوونیلې شو چه په دې کښې دجمع شوې وینې خروج کیږی او طهر ته قرء ددې وجې وائی چه په دې کښې رحم کښې دننه وینه جمع کیږی، کتاب التفسیر کښې په سورت نور کښې هم داجمله تیره شوې ده(١)

٣٩=بَابُ قِصَّةِ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ

وَقَوْلِ اللَّهِ: وَاتَّقُوا اللَّهَ رَبَّكُمْ لَا تُخْرِجُوهُنَّ مِنْ بُيُوتِهِنَّ وَلَا يَخْرُجْنَ إِلَّا أَنْ يَأْتِينَ بِفَاحِشَةٍ مُبَيِّنَةٍ وَتِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ وَمَنْ يَتَعَدَّ حُدُودَ اللَّهِ فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهُ لَا تَدْرِي لَعَلَّ اللَّهَ يُحْدِثُ بَعْدَ ذَلِكَ أَمْرًا أَسْكِنُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنْتُمْ مِنْ وُجْدِكُمْ وَلَا تُضَارُّوهُنَّ لِتُضَيِّقُوا عَلَيْهِنَّ وَإِنْ كُنَّ أُولَاتِ حَمْلٍ فَأَنْفِقُوا عَلَيْهِنَّ حَتَّى يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ إِلَى قَوْلِهِ بَعْدَ عُسْرٍ يُسْرًا [الطلاق:٦-٧].(٢)

حضرت امام بخاري رحمه الله د فاطمه بنت قیس واقعه تفصیل سره نه ده بیان کړې، ددې وجې چه ددوی دقصې روایات د حضرت امام بخاري رحمه الله د شرط مطابق نه دی. البته امام مسلم او امام ابوداود ددې قصه تفصیل سره بیان کړې ده. حضرت امام بخاري رحمه الله ددوی قصې طرفته اشاره کړې ده.

دحضرت فاطمه بنت قیس واقعه : حضرت فاطمه بنت قیس رضي الله عنها یو صاحب عقل وجمال والا ښځه وه. ابوعمرو بن حفص دې سره نکاح اوکړه، حضرت علي رضي الله عنه چه کله حضرت نبی کریم ﷺ یمن ته اولیږلو نو ابوعمرو هم دوی سره لاړو او هغه ځائې هغوی خپلې ښځې فاطمه ته دریم طلاق اولیږلو او خپل د تره زوئې حارث بن هشام ته ئې اووئیل چه فاطمه ته څه کهجورې او اوربشې ورکړه، فاطمه ته دا کمې معلومې شوې او دحضرت نبی کریم ﷺ په خدمت کښې حاضره شوه او شکایت ئې اوکړو نوحضرت نبی کریم ﷺ هغې ته اوفرمائیل چه ((لیس لك سكنى ولا نفقة))(٣) او هغې ته ئې حکم اوکړو چه ته د ام شریك په کور کښې عدت پوره کړه. بیا ئې اوفرمائیل چه ام شریك لره څمونږ اصحاب زیات ځی راځي نو ددې وجې ته دهغه ځائې په ځائې د عبدالله بن ام مکتوم په کور کښې عدت پوره کړه. ځکه چه هغه نابینا سړې دې، هغه ځائې کښې به ته آزادئی او بې تکلفئ سره اوسیږې. هرکله چه ستا عدت پوره شی نو ماته اطلاع راکړه، نو عدت پوره کیدو باندې هغې حضرت نبی کریم ﷺ

---

١) اوګورئ کشف الباري، کتاب التفسیر: ٤٦٤).

٢) (بيوتهن) مساكنهن التي يسكنها وهي بيوت الازواج (يخرجن) حتى تنقضي عدتهن (بفاحشة) زنا، فيخرجن لاقامة الحد عليهن وقيل : الفاحشة النشوز وسوء الخلق فيسقط حقهن بالسكنى (مبينة)) ظاهرة وثابتة . (حدودالله) احكام شرعه (امرا) رجعة . (اسكنوهن) اى المطلقات حتى تنقضي عدتهن ((من حيث سكنتم) من مكان سكناكم ونوعه (وجدكم) سعتكم وطاقتكم (تضاروهن) توذوهن (لتضيقوا عليهن) في المسكن حتى يخرجن (اولات حمل) ذوات حمل حبالى (الى قوله) وتتمتها ﴿ فَإِنْ أَرْضَعْنَ لَكُمْ فَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ وَأْتَمِرُوا بَيْنَكُمْ بِمَعْرُوفٍ وَإِنْ تَعَاسَرْتُمْ فَسَتُرْضِعُ لَهُ أُخْرَى ۞ لِيُنْفِقْ ذُو سَعَةٍ مِنْ سَعَتِهِ وَمَنْ قُدِرَ عَلَيْهِ رِزْقُهُ فَلْيُنْفِقْ مِمَّا آتَاهُ اللَّهُ لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا مَا آتَاهَا سَيَجْعَلُ اللَّهُ بَعْدَ عُسْرٍ يُسْرًا ۞ ﴾

٣) فتح الباري: ٥٩٧/٩).

ته اطلاع ورکړه او وې وئیل چه ماته معاویه بن ابی سفیان او ابوجهم د نکاح پیغام لیږلی دې، حضرت رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه ابوجهم خو خپله همسا دخپلې اوګې نه نشي کوزولې (ډیر سخت طبیعت والا دې) اومعاویه مفلس سړې دې، هغه سره مال نشته دې، ته اسامه بن زید سره نکاح اوکړه، نودحضرت نبی کریم ﷺ په وینا سره فاطمه حضرت اسامه سره نکاح اوکړه. فرمائی چه الله ﷻ په هغې کښې داسې خیر واچولوچه ښځو به ماسره رشک کولو.(۱)

د معتده مبتوته دنفقې او سکنی حکم : حضرت امام بخاری رحمه الله په دې باب کښې دراصل دمعتده مبتوته نفقه او سکنی مسئله بیان کړې ده یعنی هغه ښځه چه کومې ته طلاق بائن اوشو او هغه غیر حامله ده نو د عدت په دوران کښې ددې دخاوند د طرفنه نفقه اوسکنی به ملاویږی که نه، په دې کښې ا ختلاف دې.

مطلقه رجعیه ته خو په بالاتفاق د عدت په دوران کښې نفقه او سکنی ملاویږی، مطلقه رجعیه مبتوته که حامله ده نو دې ته به هم بالاتفاق دعدت په دوران کښې نفقه او سکنی ملاویږی، اختلاف دمطلقه مبتوته غیرحامله کښې دې.

① د حضرت امام احمد بن حنبل رحمه الله، امام اسحاق رحمه الله، حسن بصری رحمه الله او د ظاهریه په نیز معتده غیرحامله دعدت دوران کښې نه به ورته نفقه ملاویږی اونه سکنی.

② د حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله، سفیان ثوری رحمه الله او د ابراهیم نخعی رحمه الله په نیز دې ته به دعدت په دوران کښې سکنی و نفقه دواړه ملاویږی حضرت عمر رضی الله عنه اود حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه هم دا قول منقول دې.

③ د حضرت امام مالك رحمه الله او د حضرت امام شافعی رحمه الله په نیزبه دې ته د عدت په دوران کښې سکنی ملاویږی البته نفقه به نه ملاویږی .(۲) او د حضرت امام بخاری رحمه الله رجحان هم دې طرفته معلومیږی ځکه چه هغه په باب کښې کوم روایت ذکرکړې دې دې هغې نه سکنی ثابتیږی او دنفقه د وجوب متعلق څه دلیل هغوی ذکر کړې نه دې ،د فاطمه بنت قیس واقعه نه استدلال کوی چه حضرت نبی کریم ﷺ دوی ته اوفرمائیل چه «لا نفقة لك ولا سكنى» ستا دپاره نه نفقه شته دې او نه سکنی شته دې.

دحضرت امام مالك رحمه الله، او دحضرت امام شافعی رحمه الله مستدل دقران پاك آیت دې چه کوم حضرت امام بخاری رحمه الله دلته په ترجمة الباب کښې ذکر کړې دې ﴿أَسْكِنُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنتُم مِّن وُجْدِكُمْ وَلَا تُضَارُّوهُنَّ لِتُضَيِّقُوا عَلَيْهِنَّ وَإِن كُنَّ أُولَاتِ حَمْلٍ فَأَنفِقُوا عَلَيْهِنَّ حَتَّىٰ يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ﴾ یعنی دې مطلقه ښځو ته استوګنه او سکنی ورکړئ چه کوم ځائې کښې تاسو پخپله اوسیږئ دخپل طاقت مطابق اودوی ته ایذا مه ورکوئ چه تاسو په دوی باندې تنګی واچوئ او که دوی

---

۱) صحیح مسلم، کتاب الطلاق، باب المطلقة البائن لانفقة لها : ۱۱۱۴/۲، رقم الحدیث : ۱۴۸).

۲) دمذاهبومذکوره دتفصیل دپاره اوګورئ الابواب والترجم : ۸۳/۲، وعمدة القاری: ۳۰۷/۲۰، وفتح الباری: ۶۰۰/۹، وبدایة المتجهد، کتاب الطلاق ،بیان احکام العدد: ۹۵/۲)

حاملوى نو په دوى باندې خرچ كوى تر دې پورې چه وضع حمل اوشى.
په دې آيت كريمه كښې الله ﷻ دسكنى حكم خو مطلق وركړې دې او دنفقه حكم ئې دحامله كيدو سره مقيد كړې دې، دحضرت امام شافعى رحمه الله په نيز چونكه مفهوم مخالفت حجت دې او ددې اعتبار كيږى ځكه چه هغه ددې آيت كريمه نه ثابتوى كه ښځه حامله وى نو دې ته به نفقه نه ملاويږى. (١)
دحضرت فاطمه بنت قيس قصې نه هم هغه داشان استدلال كوى چه په دې كښې دوه حكمونه دى «لا نفقه لك ولا سكنى» دسكنى حكم چونكه دقران كريم آيت «اسكنوهن» سره معارض دې ددې وجې ددې اعتبار به نه كيږى البته دنفقې حكم چونكه د آيت معارض نه دې ددې وجې ددې اعتبار به كيږى.
داحنافو دلائل: حضرات حنفيه هم دخپل مسلك دپاره دقران وحديث دآثارونه دلائل پيش كوى.
① په سورة بقره كښې «وللمطلقات متاع باالمعروف حقا على المتقين» په دې آيت كښې د«مطلقات» د رجعيه او مبتوته دواړو دپاره شامل دې، داشان د «متاع» لفظ دنفقه او د كسوه ټولو دپاره شامل دې (٢)
② يو بل آيت كښې دمطلقات ذكر كوى او فرمائى چه «وعلى المولودله رزقهن وكسوتهن بالمعروف» يعنى دوالد په ذمه ددې ښځو خوراك او لباس د ددستور مطابق دې دلته هم دمبتوته او د رجعيه كښې هيڅ فرق اونشو.
③ دارقطنى كښې حضرت جابر رضي الله عنه نه روايت دې چه حضرت نبى كريم ﷺ فرمائيلى دى چه «المطلقات ثلاثا لها السكنى والنفقة» (٣)
تركومې چه دحضرت فاطمه بنت قيس د واقعې تعلق دې نو ددې جواب دادې چه د حضرت فاطمه حديث حضرت عمر فاروق رضي الله عنه، حضرت عائشه رضي الله عنها او حضرت اسامه بن زيد رد كړې وو (۴) د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه مخكښې چه كله هغه حديث پيش كړې شو نو هغوى اوفرمائيل چه «لا نترك كتاب الله وسنة نبينا بقول امراة لاندرى حفظت او نسيت لها السكنى والنفقة» (۵) يعنى كتاب او دخپل نبى سنت لره مونږ د يو ښځې د قول په وجه نشو پريخودې ،معلوم نه دى چه دا خبره هغې ته صحيح ياده هم ده اوكه نه ده .
د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه ددې حديث نه معلوميږى چه كتاب الله او سنت رسول ﷺ كښې مبتوته دپاره سكنى او نفقه دواړه دى. كتاب الله كښې دسكنى حكم خو صراحتًا موجود دې

---

١) فتح البارى: ٩/٦٠٠).
٢) تفسير ابن جرير الطبرانى : ٣٤٢/٢.(كذا فى ا لتكملة : ٢٠٢/١).
٣) سنن دار قطنى كتاب الطلاق : ٢١/٤.وانظر للتفصيل اعلاء ا لسنن باب ان المطلقة المبتوتة لها السكنى والنفقه : ١٠٤/١١).
٤) عمدة البارى: ٣٠٨/٢٠).
٥) اوګورئ صحيح مسلم (مع تكملة فتح الملهم) كتاب الطلاق باب المطلقة البائن لانفقة لها : ١/ ٢١٣).

ارشاد دې چه((واسكنوهن من حيث سكنتم))خو حنفيه په ددې آيت كريمه نه نفقه وجوب باندې هم څلورو طريقو سره استدلال كړې دې :

① سكنى يومالى حق دې چه الله ﷻ تصريح سره دخاوند په ذمه واجب فرمائيلې دې .اودا حق مبتوته اورجعيه دواړو لره ثابت دى،دسكنى حق واجب كيدل د وجوب نفقه هم تقاضا كوى ځكه چه سكنى يو مالى حق كيدو په وجه دنفقې يو حصه ده نو كله چه سكنى واجب ده نو نفقه هم واجب كيدل پكار دى.

② په دې آيت كريمه كښې دى چه((ولاتضاروهن))يعنى دې مطلقه ښځو ته ضرر او تكليف مه وركوئى او په نفقه نه وركولو كښې هم ضرر او تكليف دې.

③ ددې جملې نه مخكښې جمله ده چه((لتضيقوا عليهن))او تنګى او تضبيق چه څنګه سكنى كښې كيدېشى،داشان ترك نفقه كښې هم تنګى داخل ده.

امام جصاص رازى رحمه الله ددې آيت كريمه نه دنفقه دوجوب باندې مذكوره دريو طريقو سره استدلال كړې دې.(١)

بعضې حضراتو ددې آيت كريمه نه دنفقه ثبوت باندې داشان استدلال كړې دې چه لفظ د((اسكنوهن))سره سكنى او نفقه دواړه ثابتيږى.((سكنى))خو واضح دى چه ددې لفظ منطوق دې او نفقه داشان ثابتيږى چه معتده حق زوج دپاره دعدت په دوران كښې د خاوند په كور كښې محبوسه وى اوقاعده ده چه كوم سړې چه دچا دپاره محبوس اوسى،ددې نفقه ده په ذمه لازميږى لكه قاضى عامة المسلمين دپاره محبوس كيږى نو ددې نفقه او وظيفه دعامة المسلمين بيت المال نه ادا كيږى.ددې قاعدې پيش نظر دمعتده نفقه دخاوند په ذمه كيدل پكار دى.

حاصل دا چه قران كريم كښې((اسكنوهن))نه صراحتًا دسكنى وجوب ثابت شو نو مذكوره قاعده دحبس نه نفقه پخپله واجب شوه.داشان چه ګويا كتاب الله نه نفقه او سكنى د دواړو ثبوت اوشو.(٢)

④ بيا د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه په قرات كښې((وانفقوعليهن))اضافه ده.د هغوى قرات دې((اسكنوهن من حيث سكنتم وانفقو عليهن من وجدكم))(٣) په دې قرات كښې دسكنى دحكم په شان دنفقې حكم هم صراحت سره دې.ممكن دى چه دحضرت عمر فاروق رضي الله عنه هم دا

---

١) احكام القران للجصاص سورة الطلاق: ٣/ ٥٦٥).

٢) احكام القران للجصاص :٥٦٥.٥٦٦/٣ . قال ابن رشدى بداية المجتهد : ٢/ ٩٥.امالذين اوجبولها السكنى والنفقة فصاروالى وجوب السكنى لها بعموم قوله تعالى : اسكنوهن من حيث سكنتم من وجدكم. وصارو الى وجوب النفقة لها لكون النفقة تابعة لوجوب الاسكان فى الرجعية وفى الحامل وفى الزوجية وبالجملة فحيثما وجبت السكنى فى الشرع النفقة).

٣) روح المعانى : ١٣٩/٢٨ (سورة الطلاق).

قرات وی.نوبیا هغوی((لا ندع کتاب ربنا))اووئیل چه زمونږ درب په کتاب کښې د نفقه او سکنی دواړو ذکر شته دې.

اوس پاتې شو((وسنة نبینا))چه سنتو سره دنفقه ثبوت څنګه وی.هغه داشان دې چه امام طحاوی رحمه الله په شرح المعانی الاثار کښې هم دا روایت دحضرت ابراهیم نخعی رحمه الله په طریق دحضرت عمر فاروق رضی الله عنه نه نقل کړې دې . ددې په آخر کښې دحضرت عمرفاروق رضی الله عنه ارشاددې چه((سمعت رسول الله ﷺ یقول لها السکنی والنفقة))(١) په دې مرفوع حدیث کښې صراحت سرددمبتوته دپاره دسکنی او نفقه دواړو دوجوب ذکر دې.

دابراهیم نخعی رحمه الله مراسیل حجت دی: د ا مام طحاوی رحمه الله په دې روایت باندې اشکال کړې شوی دی چه دا منقطع ده. ځکه چه ابراهیم نخعی رحمه الله دحضرت عمرفاروق رضی الله عنه نه نقل کوی او هغوی دحضرت عمر رضی الله عنه په زمانه کښې موجودنه وو.

ددې جواب ورکړې شوی چه د ابراهیم نخعی د ارووایت‌ته به‌زیات نه زیات مرسل وئیلې کیږی اود ابراهیم نخعی رحمه الله مراسیل دحضرات محدثین نه معتبر او صحیح ګڼړلې شوی دی.

امام جرح وتعدیل یحیی بن معین فرمائی چه((مراسیل ابراهیم احب الی من مراسیل الشعبی))(٢)

او دشعبی دمراسل متعلق عجلی فرمائی چه((ومرسل الشعبی صحیح))(٣)

حضرت عبدالله بن مسعود نه د شعبی مراسیل بالاتفاق صحیح دی. هغوی پخپله خپل معمول او اصول بیان کړی دی چه کله‌څه روایت دحضرت عبدالله بن مسعود نه ماته‌یو استاد نه ملاویږی‌نو څه‌دهغه استاد نوم اخلم اوهغه روایت بیانوم .او کله چه د ډیر استاذانو نه ملاویږی نوځه‌ددې استاذانو نومونه نه اخلم‌بلکه نیغ په نیغ‌دا دحضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه‌مرسل بیانوم .(۴)ددې وجې‌حافظ ابن رجب فرمائی چه‌حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه دحضرت ابراهیم نخعی رحمه الله مراسیل ددوی مسانید نه زیات قوی او صحیح وی .(۵) دحضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه په‌شان‌حضرت عمر رضی الله عنه نه هم ددوی ټول مراسیل‌درست دی.نو حافظ ابن عبدالبر په((التمهید))کښې‌ددې خبرې تصریح کړې ده(۶) اومذکوره‌روایت دحضرت عمر رضی الله عنه‌نه دې .

او که دا تسلیم کړې شی چه دحضرت ابراهیم نخعی رحمه الله دا روایت‌منقطع کیدو په وجې سره حجت نه دې.بیا هم دحضرت عمر فاروق رضی الله عنه دا جمله چه((لاندع کتاب ربنا وسنة نبینا))په

---

١) شرح معانی الاثار: ٢/ ٣٥).

٢) تهذیب الکمال : ٢/ ٢٣٨،وتهذیب التهذیب : ١/ ١٧٧،وسر اعلام النبلاء : ٤/ ٥٢٢).

٣) خلاصة الخزرجی : ١٨٤).

٤) کتاب العلل للترمذی: ٢/ ٢٣٧ (فی اخر سننه).

٥) تعلیقات تهذیب الکمال : ٢/ ٢٣٩) .

۶) التمهید لابن عبدالبر باب بیان التدیس ومن یقبل نقله ویقبل مرسد: ١/ ٣٧،٣٨).

صحت كښې خوبهر حال چاته شك نشته دې او داصول حديث قاعده ده چه د يو صحابي وينا ((السّنة كذا)) د حديث فرموع په درجه كښې ده.(١)
بيهقي په دې باندې اشكال كړې دې چه د ((سنة نبينا)) الفاظ دابواحمد زبيري تفردد دې ځكه چه ابواحمد دشيخ عمار بن زريق نه يحيى بن آدم هم دا روايت نقل كړې دې . ليكن هغوي د ((سنة نبينا)) الفاظ نه دي وئيلي او يحيى بن آدم زبيري نه احفظ دی.
ليكن ماردينى جواب وركړې دې چه د يحيى او زبيرى په روايت كښې تعارض نشته دې، ځكه چه زبيرى ديحيى مخالفت نه كوي بلكه يو اضافه ئې كړې ده چه دهغې نه ديحيى روايت خالي دې او زبيري ثقه دې ،د ثقه زياتې او اضافه قبلولې شى . بيا زبيرى په دې اضافه كښې متفرد هم نه دې بلكه مصنف بن ابى شيبه كښې ددې شواهد او متابعات هم دی.(٢)
دحضرت فاطمه بنت قيس دواقعې جواب : تر كومې پورې چه د حضرت فاطمه بنت قيس ﷞ دواقعې تعلق دې چه نو ددې جواب دادې چه هغوي ته سكنى او نفقه دمخصوص حالت په وجه نه ده وركړې شوې،سكنى خو يو په دې وجه ورنكړې شوه چه دهغې دخاوند كور په ويران ځائې كښې وو،او هلته دهغې عدت تيرول مناسب نه وو،دويم دا چه هغه د ژبې نه لږه تيزه وه،چه دهغې په وجه دخخر گنئ سره دهغې جوړښت نه راتلو.نو حضرت نبی كريم ﷺ د قران پاك آيت ((ولا يخرجن الا ان ياتين بفاحشة مبينة)) باندې عمل كولو او هغه ئې بل ځائې ته منتقل كړه.آيت كريمه كښې د ((فاحشة)) تفسير دحضرت ابن عباس ﷠ نه بدگوئى او زبان درازى منقول دې .(٣)
باقى پاتې شوه نفقه نو ددې آسان جواب دادې چه هر كله هغې ته سكنى ورنكړې شوه نو دنفقې هم هغه مستحق نه وه. ځكه چه نفقه خو د احتباس په وجه واجب كيږى . هر كله چه احتباس پاتې نشو نو نفقه هم پاتې نشوه.
او داهم وئيلې شى چه ددې خاوند دخپل وكيل په ذريعه څه كهجورې او اوربشې اوليږلې ليكن هغې دخپل حق نه كمې اوګڼړلې او واپس ئې كړې نو ممكن دى چه دحضرت نبی كريم ﷺ دقول ((لا نفقة لك)) كښې دزائد نفقه نفى وى. چه دكومې هغې مطالبه كوله،مطلقًا دنفقې نفى نه ده .(٤)
باقى د ((وان كن اولات حمل)) مفهوم مخالف سره دحضرت شوافع نه چه كوم استدلال كړې دې،دهغې جواب دحضرات حنفيه دطرفنه وركولې شى چه مفهوم مخالفت ځمونږ په نيز په

---

١) عمدة القاري: ٣١١/٢٠،تكملة فتح الملهم : ١/ ٢٠٦).
٢) مصنف بن ابى شيبه : ٥/ ١٤٧ . ١٤٨).
٣) مصنف عبدالرزاق،كتاب ا لنكاح،باب الاان ياتين بفاحشة مبينة : ٦/ ٣٢٣،رقم الحديث : ١١٠٢٢).
٤) فلما كان سبب النقلة من جهتها كانت بمنزلة الناشرة فسقطت نفقتها وسكناها جميعا (احكام القران للجصاص : ٥٦٨/٣،من سورة الطلاق).

نصوص کښې حجت نه دې،او د «اولات حمل» دا قید ،قید احترازی نه بلکه حامله ښځو لره په طورخاص ددې وجې ذکر اوفرمانيلوچه اکثر وختونوکښې دحمل موده اوږده وی،ددې وجې متنبه فرمائی که بالفرض موده دحمل اوږده شی نو بیا هم وضع حمل پورې نان نفقه دسابقه خاوند په ذمه به واجب وی.

دليل دادې چه مذکوره آیت مطلقه رجعیه او مبتوته دواړولره شامل دې. اومطلقه رجعیه باندې دټولو اتفاق دې چه هغه غیر جامله وی نو بیا به هم هغې ته نفقه ملاویږی . چه ددې نه معلوم شو چه مطلقه رجعیه په حق کښې «وان کن اولات حمل» د مفهمو مخالف اعتبار به چا هم نه کولې.لهذا دمبتوته په حق کښې ددې اعتبار نه دې پکار.(۱)

[۵۰۱۵]حَدَّثَنَا اسْمَاعِيلُ حَدَّثَنَا مَالِكٌ عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ عَنْ الْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ وَسُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ انَّهُ سَمِعَهُمَا يَذْكُرَانِ انَّ يَحْيَى بْنَ سَعِيدِ بْنِ الْعَاصِ طَلَّقَ بِنْتَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْحَكَمِ فَانْتَقَلَهَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ فَارْسَلَتْ عَائِشَةُ امُّ الْمُؤْمِنِينَ الَى مَرْوَانَ بْنِ الْحَكَمِ وَهُوَ امِيرُ الْمَدِينَةِ اتَّقِ اللَّهَ وَارْدُدْهَا الَى بَيْتِهَا قَالَ مَرْوَانُ فِي حَدِيثِ سُلَيْمَانَ انَّ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ الْحَكَمِ غَلَبَنِي وَقَالَ الْقَاسِمُ بْنُ مُحَمَّدٍ اوَمَا بَلَغَكِ شَانُ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ قَالَتْ لَا يَضُرُّكَ انْ لَا تَذْكُرَ حَدِيثَ فَاطِمَةَ فَقَالَ مَرْوَانُ بْنُ الْحَكَمِ انْ كَانَ بِكِ شَرٌّ فَحَسْبُكِ مَا بَيْنَ هَذَيْنِ مِنْ الشَّرِّ

[۵۰۱۶] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْقَاسِمِ عَنْ ابِيهِ عَنْ عَائِشَةَ انَّهَا قَالَتْ مَا لِفَاطِمَةَ الَا تَتَّقِي اللَّهَ يَعْنِي فِي قَوْلِهَا لَا سُكْنَى وَلَا نَفَقَةَ

[۵۰۱۷] حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَبَّاسٍ حَدَّثَنَا ابْنُ مَهْدِيٍّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْقَاسِمِ عَنْ ابِيهِ قَالَ عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ لِعَائِشَةَ الَمْ تَرَيْ الَى فُلَانَةَ بِنْتِ الْحَكَمِ طَلَّقَهَا زَوْجُهَا الْبَتَّةَ فَخَرَجَتْ فَقَالَتْ بِئْسَ مَا صَنَعَتْ قَالَ الَمْ تَسْمَعِي فِي قَوْلِ فَاطِمَةَ قَالَتْ امَا انَّهُ لَيْسَ لَهَا خَيْرٌ فِي ذِكْرِ هَذَا الْحَدِيثِ

وَزَادَ ابْنُ ابِي الزِّنَادِ عَنْ هِشَامٍ عَنْ ابِيهِ عَابَتْ عَائِشَةُ اشَدَّ الْعَيْبِ وَقَالَتْ انَّ فَاطِمَةَ كَانَتْ فِي مَكَانٍ وَحْشٍ فَخِيفَ عَلَى نَاحِيَتِهَا فَلِذَلِكَ ارْخَصَ لَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ(۲)

قوله: حدثنا اسماعيل: يحيى بن سعيد دا روايت د قاسم بن محمد او سليمان بن يسار دواړونه نقل کوی چه دوی د دواړو حضراتونه دا تذکره واوريده چه يحيى بن سعيد

---

۱) احكام القران : ۵۶۵/۳).

۲) الحديث اخرجه البخاری ايضافی الطلاق باب قصة فاطمة بنت قيس رقم الحديث : ۵۳۲۳، ۵۳۲۴،۵۳۲۵،۵۳۲۶،وباب المطلقة اذا حشی عليها فی مسکن زوجها ان يقتحم عليها او تبذو .. علی اهلها بفاحشة،رقم الحديث : ۵۳۲۷،۵۳۲۸،واخرجه ابوداود فی الطلاق باب فی نفقة المبتوتة : ۱/ ۳۱۱).

العاص د عبدالرحمان بن الحکم لور (چه دهغې نوم عمره وو)ته طلاق ورکړو (دا دمشهور خلیفه مروان بن الحکم وریره وه)عبدالرحمان خپله لور د خاوند کور نه منتقل کړه،په دې باندې ام المومنین حضرت عائشه رضي الله عنها دمدینې امیر او د جینۍ تره مروان بن الحکم ته اووئیل چه دالله ﷻ نه ویریږئی او جینۍ د خاوند کور ته واپس کړه (چه هغه ځائې کښې عدت تیر کړی)مراون دحضرت عائشه رضي الله عنها د خبرې څه جواب ورکړو ؟ دا روایت د قاسم او سلیمان ددوؤ حضراتو نه دې او د دواړو په روایتونوکښې د مروان جواب مختلف دې .دسلیمان بن یسار په روایت کښې دی چه مروان حضرت عائشه رضي الله عنها ته اووئیل چه په دې سلسله کښې مابانديې(څما رور) عبدالرحمان غالب شو (او هغه خپله لور د خاوند دکور نه منتقل کړه)اود قاسم په روایت کښې دی چه مروان حضرت عائشه رضي الله عنها ته اووئیل چه آیاتاته دحضرت فاطمه بنت قیس واقعه معلوم نه ده ؟ .(چه هغه دخاوند کور نه منتقل شوې وه)حضرت عائشه رضي الله عنها اوفرمائیل چه ستا به هیڅ حرج نه وی که ته د فاطمه حدیث ذکر نه کړې. (مطلب دادې چه هغه واقعه ستا دپاره حجت نه ده ځکه چه د فاطمه یوګز ژبه وه او دهغې به هر وخت څخر ګنې سره جنګ وو،هغه دهغې د مخصوص حالت په وجه بیل کړې شوې وه او ددې وجې هغه واقعه ستا دپاره حجت نه ده)مروان بن الحکم اووئیل چه ((ان کان بك شر فحسبك ما بين هذا من الشر))(١) په دې کښې ((بك)) د ((عند)) په معنی کښې ده یعنی که ستاسو په نیزهلته شروو نو ددې دواړو په مینځ کښې هم شردې،مطلب دادې که ته دا ګنړې هلته به هغې وخت نشو تیرولې. د خاوند په کور کښې هغه د شر اونزاع په وجه نشو اوسیدې نو ددې وجې هغه منتقل کړې شوې وه .نودلته هم د ښځې خاوند په مینځ کښې ډیر شر او نزاع ده چه ددې په وجه دعبدالرحمان لور دیحیی بن سعید کور نه منتقل کړې شوې ده . هلته دخروج او انتقال سبب که نزع او شروو نو هغه سبب د لته هم دې.

دباب په دویم روایت کښې حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائی چه فاطمه باندې څه اوشو؟آیا هغه دالله ﷻ نه ویریږی نه چه وائی چه مطلقه ته به نه نفقه ملاویږی او نه سکنی.

دریم روایت کښې دی چه حضرت عروه رضي الله عنه حضرت عائشه رضي الله عنها ته اووئیل چه آیا تا دحکم فلانۍ نمښۍ نه وه لیدلې چه دهغې خاوند هغې ته طلاق بائن ورکړې وو او هغه دکورنه وتلې ده.حضرت عائشه رضي الله عنها اووئیل چه هغې بداوکړل .عروه اووئیل آیا تا دفاطمه قول نه دې آوریدلې ((لا سكنى ولا نفقة))نو حضرت عائشه رضي الله عنها اوفرمائیل چه ددې حدیث په بیانولوکښې د فاطمه دپاره هیڅ ښیګړه نشته دې.

دعبدالرحمان بن ابی الزناد په روایت کښې اضافه ده چه حضرت عائشه رضی الله فاطمه ته په سختۍ سره اووئیل او ډیر معیوب ئې اوګنړلو او وې وئیل چه فاطمه په یو ویران مکان کښې وه . چه دهغې اطراف کښې به سړی ویریدل.په دې وجه حضرت نبی کریم ﷺ دې ته رخصت ورکړو.

---

١) ای ان کان عندک ان سبب خروج فاطمة ماوقع بینهما وبین اقارب زوجها من الشر،فهذالسبب موجود .(فتح الباری: ٥٩٨/٩).

دحضرت عائشه رضي الله عنها مقصد دادې چه د فاطمه واقعه يو مخصوص واقعه ده او ديو خاص سبب په وجه دې ته دخاوند دکور نه دوتلو اجازت ورکړې شوې وو .دا عام قانون ګنړل او په استدلال کښې پيش کول درست نه دی.

قوله: وزاد ابن ابى الزناد عن هشام عن ابيه .: امام ابوداود دا موصولاً نقل کړې دې.«مکان وحش»(دواو فتحې سره) په معنی د ويران.ابن حزم اعتراض کړې دې چه عبدالرحمان بن ابى الزناد انتهائي ضعيف راوى دې. او دهغوى دا روايت باطل دې ليکن دهغوى دا خبره درست نه ده ،بيشکه ابوالزناد باندې بعضو ائمه جرح کړې ده ليکن هغه متروك الحديث نه دې بلکه يحيى بن معين رحمه الله فرمائی چه«انه اثبت الناس فى هشام ابن عروة»(١)او دهغوى دا روايت دهشام نه دې«فلله در البخارى ما اكثر استحضاره واحسن تصرفه فى الحديث والفقه»(٢)

٣٠=بَابُ الْمُطَلَّقَةِ إِذَا خُشِيَ عَلَيْهَا فِي مَسْكَنِ زَوْجِهَا أَنْ يُقْتَحَمَ عَلَيْهَا أَوْ تَبْذُوَ عَلَى أَهْلِهَا بِفَاحِشَةٍ

[٥٠١٨] حَدَّثَنِي حِبَّانُ اخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ اخْبَرَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُرْوَةَ انَّ عَائِشَةَ انْكَرَتْ ذٰلِكَ عَلَى فَاطِمَةَ [ر:٥٠١٥].

ما قبل باب کښې حضرت امام بخارى رحمه الله وئيلى وو چه معتده بائنه دپاره سکنى به وى،اوس دلته دا وئيل غواړى که څه راپيښ شى چه دهغې په وجه هغه دخاوند د کورنه دعدت په دوران کښې منتقل کيدل غواړى نو هغه منتقل کيدې شى.

عذر دا هم کيدې شى چه مکان داسې ځائې کښې واقع دې چه هغه ديواجنبى سړى يا دطلاق ورکونکى سړى دراتلو خطره وى چه د ښځې دپاره دضرر باعث کيدې شى،او عذر دا هم کيدې شى چه ښځه ګزږبې ده،خاوند او دده رشته داروسره هر وخت جنګونه کوى او دې پرې ژوند تنګ کړې دې .

دفاطمه بنت قيس متعلق دا دواړه خبرې نقل کړې شوې دى چه دهغې کور په ويران ځائې کښې وو او هلته يو سړې راتلې شو،امام ابو داود ددې ذکر موصولاً او حضرت امام بخارى رحمه الله تعليقاً کړې دې لکه څنګه چه مخکښې باب کښې تير شو او حضرت سعيد بن المسيب نه دامام نسائى دويم روايت کښې د دونمې خبرې ذکر دې. په دې کښې دحضرت فاطمه بنت قيس متعلق دى.«انها كانت لسنة»يعنى هغه ګز ږبې وه(٣)

---

١) فتح البارى: ٩/٦٠٠،ددوى وفات په ١٧٤ هجرئى کښې اوشو،اوګورئ طبقات ابن سعد : ٧/٣٢٤،ددوى حالات اوګورئ تهذيب الكمال : ٩٨/١٧،تاريخ البخارى الكبير: ٥/ الترجمه : ٩٩٧،وميزان الاعتدال :٢ الترجمه: ٤٩٠٨،وشذرات الذهب : ١/ ٢٨٤).

٢) تهذيب الكمال : ٩٨/١٧).

٣) فتح البارى: ٥٩٨/٩).

په ترجمة الباب كښې دى چه ((المطلقة اذا خشى عليها)) ((خشى)) د مجهول صيغه ده. او ددې نائب فاعل ((ان يقتحم عليها)) دې يعنى كله چه په دې باندې د چا راتلو ويره وى، د ((اقتحام)) معنى ده چه ((الهجوم على الشخص بغير اذن)) بغير د اجازت نه چالره ورتلل، ((تبذوا)) د بذا نه دې . چه ددې معنى بدگوئى او زبان درازى رازى ، بعضو نسخو كښې ((على اهله)) دى ((اى اهل المطلق)) په دې صورت كښې د ((اهله)) ضمير طلاق وركولو والا طرفته ته راجع به وى، (١)

((اذا خشى عليها او تبذوعلى اهلها)) شرط دې او جزا محذوف ده تقدير به وى ((تنتقل الى مسكن غير مسكن الطلاق)) (٢) يعنى هغه بل چرته منتقل كيد يشى.

حضرت امام بخارى رحمه الله ددې باب تحت د حضرت عروه رضي الله عنه چه كوم روايت نقل كړې دې په هغې كښې دى چه ((ان عائشه انكرت ذالك على فاطمة)) يعنى حضرت عائشه رضي الله عنها په فاطمه باندې ددې قول متعلق نكير كړې دې د ((ذالك)) مشار اليه فاطمه بنت قيس قول ((لانفقة ولاسكنى)) دې (٣)

د حضرت عروه رضي الله عنه داحديث د ړومبى باب په آخر كښې لږ په تفصيل سره تير شوې دې د هغې په آخر كښې دى چه ((ان فاطمه كانت فى مكان وحش فخيف على ناحيتها فلذالك ارخص لها النبى ﷺ)) او د نسائى روايت هم تير شوې دې . په هغې كښې ((انهاكانت لسنة)) الفاظ دى. حضرت امام بخارى رحمه الله ددې روايتونو د مجموعې نه ترجمة الباب ثابت كړې دې . او د نسائى والا حديث چونكه د حضرت امام بخارى رحمه الله په شرط باندې نه وو ددې وجې هغه ئې په باب كښې شامل نه كړو .نو حافظ ابن حجر رحمه الله ليكى چه :

((وقد اخذ البخارى الترجمة من مجموع ماورد فى قصة فاطمة فرتب الجواز على الاحد الامرين اما خشية الاقتحام عليها واما ان يقع منها على اهل مطلقها فحش من القول)) (٤)

علامه كرمانى رحمه الله فرمائى چه :

((فان قلت لم يذكر البخارى ماشرط فى الترجمة من البذاء قلت علم من القياس على الاقتحام والجامع بينهما رعاية المصلحة وشدة الحاجة الى الاحتراز عنه)) (٥)

علامه قسطلانى رحمه الله فرمائى چه :

((وقال شارح التراجم ذكر فى الترجمة الخوف عليها، والخوف منها والحديث يقتضى الاول وقاس الثانى عليه، ويويده قول عائشة لها فى بعض الطرق اخرجك هذا اللسان فكان الزيادة لم تكن على شرطه فضمنها

---

١) فتح البارى: ٦٠١/٩، ارشاد السارى: ١٠٠/١٢).
٢) ارشاد السارى: ١٠٠/١٢).
٣) ارشاد السارى: ١٠١/١٢).
٤) فتح البارى: ٥٩٩/٩).
٥) شرح الكرمانى: ٢٣٤/١٩).

للترجمة قياسا»(١)
مطلب دادې چه حضرت امام بخاري رحمه الله په ترجمة الباب كښې د معتده د جواز خروج د پاره دوه علتونه بيان كړى دى. يو «الخوف عليها» يعنى په دې باندې د چا د راتلو ويره وى نو بالكل وتلې شى، دويم «الخوف منها» يعنى د دې د ژبې نه ويره وى نو هم بالكل تلې شى، ليكن روايت كښې صرف د رومبى علت ذكر دې، د دويم روايت ذكر نشته دې. روايت باب كښې اګر چه د رومبى علت هم ذكر نشته دې خكه چه هغه په دې خائې كښې ډير مختصر دې. البته دې نه مخكښې والا باب په آخر كښې د مذكوره علت ذكر په دې روايت كښې دې.
او دويم علت تاسو د قياس نه هم ثابتولې شى چه كله په دې باندې د چا د راتلو ويره د طلاق وركوونكى خاوند د كور نه د وتلو علت هم جوړيدې شى. نو د دې د زبان درازئى نه ويره هم خروج د جواز سبب جوړيدل پكار دى. او بعضې روايتونو كښې د دې دويم علت تصريح هم ده ليكن هغه روايات د حضرت امام بخاري رحمه الله په شرط باندې نه دى، د دې وجې هغه ئې ذكر نه كړل.
د معتده مطلقه د كور نه د وتلو حكم: د معتد مطلقه د كور نه د وتلو باره كښې حضرات ائمه كرام كښې ا ختلاف دې.
① د حضرت امام مالك رحمه الله او حضرت امام شافعى رحمه الله او امام احمد رحمه الله په نيز مطلقه ښځه د عدت په دوران كښې د ورځې د ضرورت د پاره د كور نه وتلې شى.
② د حضرات حنفيه په نيز معتده مطلقه د كور نه بهر نه شى وتلې .(٢)
د حضرات ائمه استدلال د حضرت جابر رضى الله عنه روايت دې چه كوم امام مسلم او امام ابو داود نقل كړې دې . هغه فرمائى چه «طلقت خالتى فاردات ان تجد نخلها فزجرها رجل ان تخرج فاتت النبى صلى الله عليه وسلم فقال اخرجى، فجدى نخلك فانك عسى ان تصدقى او تفعلى معروفا»(٣)
يعنى حضرت جابر رضى الله عنه فرمائى چه خما ترور ته طلاق وركړې شو نو هغې د (عدت په دوران) كښې غوښتل چه د خپل باغ ميوه پريكړى، هغې لره يو سړى د كور نه د وتلو نه منع كړه نو هغه حضرت نبى كريم صلى الله عليه وسلم لره راغله نو حضرت نبى كريم صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل چه ته اوزه او د خپل باغ ميوه پريكولې شې. ډير ممكن دى چه ته هغه صدقه كړې يا په څه بل ښيګړه كښې ئې خرچ كړې.
ائمه ثلاثه د دې حديث نه استدلال كوى او فرمائى چه مطلقه د عدت په دوران كښې د كور نه وتلې شى، لكه څنګه چه په روايت كښې دى.
حضرات حنفيه د قران پاك نه استدلال كوى، د الله تعالى ارشاد دې چه «**ولا يخرجن الا ان ياتين بفاحشة مبينة**» يعنى هغه مطلقه ښځې د كورونو نه نشى وتلې مګر چه هغوى د يو واضحې برائى ارتكاب اوكړى. په دې آيت كښې د عموم نه استدلال كوى او فرمائى چه په دې كښې

---

١) ارشادالسارى: ١٢/ ١٠١).
٢) الابواب والتراجم : ٢/ ٨٣، وتكملة فتح ا لملهم، كتاب الطلاق، باب جواز خروج البائن : ١/).
٣)صحيح مسلم، كتاب الطلاق، باب جواز خروج البائن : ٢/، وسنن ابى داود ، كتاب الطلاق:٢/)

تولې مطلقات صراحتا دعدت ختميدو پورې د كور نه دبهر وتلو نه منع كړې شوې دى . لهذا معتده مطلقه دكور نه بهر نشى وتلې.

باقى پاتې شو د حضرت جابر رضي الله عنه حديث نو ددې جواب دادې چه هغه خبر واحددې.او خبر واحدنه دكتاب الله تخصيص يا تقييد جائز نه دې. او ددې حديث تاويل هم كولې شى چه هغه داحكام عدت دنزول نه مخكښې واقعه وى.

په دې باندې دليل دې چه دحديث راوى حضرت جابر رضي الله عنه خپله فتوى ددې حديث خلاف ده. امام طحاوى رحمه الله د هغوى دا فتوى نقل كړې ده. دهغوى نه تپوس اوكړې شوچه معتده مطلقه او معتده د وفات دوران عدت كښې دكور نه نه شى وتلې. نوهغوى اوفرمائيل چه نشى وتلې.(١)

د معتدة الوفات دنفقه او سكنى حكم : داټول تفصيل دمعتده مطلقه متعلق وو.تر كومې چه تعلق دې دمعتدة الوفات دنفقې او دسكنى نوددې تفصيل په كتاب التفسير كښې تير شوې دې .معتدة الوفات د ورځې په وخت كښې د خپل كور نه بهر وتلې شى.او د احنافو په نيز معتدة الوفات(كونډهې) دپاره نه نفقه شته اونه سكنى.حامله وى او كه غير حامله چونكه د زوج د انتقال نه پس ددې اموال ورثه منقول شو،لهذا د ورثه ته دمال نه به نفقه ادا كولې شى او نه سكنى .(٢)

دعلامه نووى رحمه الله مطابق دلته خو نفقه واجب نه ده كه هغه حامله وى اوكه غير حامله البته دسكنى دپاره نووى رحمه الله فرمائى چه «والاصح عندنا وجوب السكنى»(٣)

حنابله په نيز كه هغه غير حامله وى نو نه نفقه شته دې او نه سكنى اوكه حامله وى نو دوه روايتونه دى يو روايت كښې حامله دپاره نفقه او سكنى نشته او بل روايت كښې حامله دپاره نفقه او سكنى شته دې«كذا قال الموفق»(٤)

دمالكيه په نيز متوفى عنها زوجها دپاره نفقه نشته كه حامله وى اوكه غيرحامله البته سكنى په دې صورت كښې ده چه كله كور د زوج ملكيت وى يا دكرايه وى او خاوند دوفات نه قبل كرايه اد كړې وى كنى نه«كذا قال الباجى»(٥)

....

١) شرح معانى الاثار كتاب الطلاق : ٢/).
٢) بدائع الصنائع : ٢١١/٣،و اوجز ا لمسالک : ١٠/١٨٥).
٣) الصحيح لمسلم مع شرح الكامل للنوى: ١/ ٤٨٣).
٤) اوجز المسالک : ١٠/١٨٥،والمقنع فى فقه الامام احمد كتاب النفقات:٣/٣١١،والعدة شرح العدة للمقدسى: ٤٣٣،باب نفقه المعتدات والانصاف فى معرفة الراجع من الخلاف للمرداوى : ٩/٣٦٩،٣٦٨).
٥) اوجزالمسالک : ١٠/١٨٥،والفقه الاسلامى وادلته : ٧/٦٥٩،والشرح الصغير للدردير: ٢/ ٦٨٦،باب العدة والمنتقى شرح موطا للباجى : ٤/١٣٤،وبلغة السالک لأقرب المسالک الصارى: ١/ ٢٥٠).

٤١=بَاب قَوْلِ اللّٰهِ تَعَالٰى وَلَا يَحِلُّ لَهُنَّ أَنْ يَكْتُمْنَ مَا خَلَقَ اللّٰهُ فِي أَرْحَامِهِنَّ [ر: البقره : ٢٢٨]. مِنْ الْحَيْضِ وَالْحَبَلِ

[٥٠١٩] حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ الْحَكَمِ عَنْ ابْرَاهِيمَ عَنْ الاسْوَدِ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ لَمَّا ارَادَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انْ يَنْفِرَ اذَا صَفِيَّةُ عَلَى بَابِ خِبَائِهَا كَئِيبَةً فَقَالَ لَهَا عَقْرَى او حَلْقَى انَّكِ لَحَابِسَتُنَا اكُنْتِ افَضْتِ يَوْمَ النَّحْرِ قَالَتْ نَعَمْ قَالَ فَانْفِرِي اذًا [ر:٣٢٢].

دعدت تعلق دحيض او حمل سره دې،ددې وجې ښځې ته دحيض او حمل د كتمان اجازت نشته دې،په دې سلسله كښې هغه امين ده . امام حاكم په ((مستدرك)) كښې روايت نقل كړې دې ((ان من الامانة ان ائتمنت على فرجها)) (١) لهذا كه ښځه دحيض او حمل متعلق څه خبره پيش كړې نو هغه به تسليمولې شي،خو كه معتده څه داسې خبره اووائي چه دعقل نه بالكل بهر وي او چه دهغې ښكاره دروغژن كيدل معلوم دى نو دې لره به معتبر نه شي ګڼړلې .(٢)

قوله: حدثنا سليمان .....: حضرت عائشه ﷞ فرمائي چه حضرت نبى كريم ﷺ چه كله(حجة الوداع نه) دواپس تلو اراده اوكړه نو حضرت صفيه ﷞ دخپلې خيمې دروازې سره خفه ولاړه وه(ځكه چه هغې ته په منى كښې دطواف زيارت كولو نه پس دمعذورئى ايام شروع شوى وو)حضرت نبى كريم ﷺ هغې ته اوفرمائيل چه آيا ته به مونږ لره منع كړې،يعنى آيا تا دنحر په ورځ يعنى د لسمې ذى الحجه طواف زيارت كړې دې،هغې اوفرمائيل چه آو . نو بيا حضرت نبى كريم ﷺ اوفرمائيل چه نو بيا خو څه هيڅ حرج نشته دې.(ځكه چه طواف وداع دحائضه دپاره ضرورى نه دې).

ددې حديث نه معلوميږى چه حيض وغيره سلسله كښې دښځې دقول اعتبار كيږى ځكه چه دحضرت نبى كريم ﷺ دحضرت صفيه ﷞ د ايام بيمارئى دشروع كيدو په وجه د سفرد موخر كيدو اراده كړې وه،او دهغې نه هيڅ تحقيق اونه كړو چه واقعى دهغې ايام بيمارى شروع شوى دى كه نه،ددې تكذيب ئې اونكړو،معلوم شو چه په دې باره كښې به دښځې دقول اعتبار كولې شى.(٣)

داحديث په كتاب الحج كښې ((باب التمتع)) لاندې تير شوې دې .(٤)

قوله: فقال لها عقرى او حلقى انك لحابستنا: ددې جملې تركيب اولغوى تشريح كښې مختلف قولونه دى.

---

١) فتح البارى: ٦٠٢/٩).
٢) فتح البارى: ٦٠٢/٩).
٣)افتح البارى: ٦٠٢/٩).
٤) ارشادالسارى: ١٠٢/١٢).

① دابوعبيده او امام سيبويه په نيز ((عقرا : حلقا)) تنوين سره دوى او دا دواړه ((عقرا)) او ((حلقا)) مصدر دى. تركيب كښې دا مفعول مطلق واقع دى. لكه څنګه چه ((سقيا، رعيا)) او ((جدعا)) الفاظ مفعول مطلق واقع كيږى . تقديرى عبارت دې ((عقرك الله عقرا)) الله ﷻ دې تالره شنډ كړى . ((وحلقك الله حلقا)) الله دې ستا مرئى خرابه كړى، الله دې ستا حلق كښې تكليف كړى.(١)

② دعلامه زمحشرى رحمه الله په نيز ((عقرى)) او ((حلقى)) الف سره دى، اوتركيب كښې خبر واقع كيږى .مبتدا محذوف دى ((اى هى عقرى)) يا ((انت عقرى))(٢)

③ د بعضو په نيز ((عقرى)) او ((حلقى)) الف سره د ((فعلى)) په وزن مصدردى، په معنى د ((العقر والحلق)) لكه څنګه چه ((شكوى)) د ((شكو)) په معنى كښې مصدر دې.(٣)

دا اګر چه لغوى اعتبار سره بددعائيه الفاظ دى ليكن عام استعمال كښې د دې لغوى معنى مراد اخستې شى بلكه په طور دتعجب او تحير دا الفاظ استعماليږى .(۴) دلته هم په طور دتعجب او تحير استعمال شوى دى.

۴۲=بَاب وَبُعُولَتُهُنَّ أَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ [البقرة:٢٢٨] فِي الْعِدَّةِ وَكَيْفَ يُرَاجِعُ الْمَرْأَةَ إِذَا طَلَّقَهَا وَاحِدَةً أَوْ ثِنْتَيْنِ

[٥٠٢٠] حَدَّثَنِي مُحَمَّدٌ اخْبَرَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ حَدَّثَنَا يُونُسُ عَنْ الْحَسَنِ قَالَ زَوَّجَ مَعْقِلٌ اخْتَهُ فَطَلَّقَهَا تَطْلِيقَةً

[٥٠٢١] وحَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى حَدَّثَنَا عَبْدُ الاعْلَى حَدَّثَنَا سَعِيدٌ عَنْ قَتَادَةَ حَدَّثَنَا الْحَسَنُ انَّ مَعْقِلَ بْنَ يَسَارٍ كَانَتْ اخْتُهُ تَحْتَ رَجُلٍ فَطَلَّقَهَا ثُمَّ خَلَّى عَنْهَا حَتَّى انْقَضَتْ عِدَّتُهَا ثُمَّ خَطَبَهَا فَحَمِيَ مَعْقِلٌ مِنْ ذَلِكَ انَفًا فَقَالَ خَلَّى عَنْهَا وَهُوَ يَقْدِرُ عَلَيْهَا ثُمَّ يَخْطُبُهَا فَحَالَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهَا فَانْزَلَ اللَّهُ وَاذَا طَلَّقْتُمْ النِّسَاءَ فَبَلَغْنَ اجَلَهُنَّ فَلَا تَعْضُلُوهُنَّ الَى اخِرِ الْايَةِ فَدَعَاهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَرَا عَلَيْهِ فَتَرَكَ الْحَمِيَّةَ وَاسْتَقَادَ لِامْرِ اللَّهِ [ر:٣٢٥٥].

[٥٠٢٢] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ نَافِعٍ انَّ ابْنَ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا طَلَّقَ امْرَاةً لَهُ وَهِيَ حَائِضٌ تَطْلِيقَةً وَاحِدَةً فَامَرَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انْ يُرَاجِعَهَا ثُمَّ يُمْسِكَهَا حَتَّى تَطْهُرَ ثُمَّ تَحِيضَ عِنْدَهُ حَيْضَةً اخْرَى ثُمَّ يُمْهِلَهَا حَتَّى تَطْهُرَ مِنْ حَيْضِهَا فَانْ ارَادَ انْ يُطَلِّقَهَا فَلْيُطَلِّقْهَا حِينَ تَطْهُرُ مِنْ قَبْلِ انْ يُجَامِعَهَا فَتِلْكَ الْعِدَّةُ الَّتِي امَرَ اللَّهُ انْ تُطَلَّقَ

١) النهاية لابن الاثير: ٣/ ٢٧٣).
٢) مجمع بحار الانوار: ٣/ ٦٤٠).
٣) النهاية ٣/ ٢٧٣).
٤) مجمع بحار الانوار: ٣/ ٦٤٠).

لَهَا النِّسَاءُ وَكَانَ عَبْدُ اللهِ إِذَا سُئِلَ عَنْ ذٰلِكَ قَالَ لِأَحَدِهِمْ إِنْ كُنْتَ طَلَّقْتَهَا ثَلَاثًا فَقَدْ حَرُمَتْ عَلَيْكَ حَتّٰى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَكَ

وَزَادَ فِيهِ غَيْرُهُ عَنِ اللَّيْثِ حَدَّثَنِي نَافِعٌ قَالَ ابْنُ عُمَرَ لَوْ طَلَّقْتَ مَرَّةً أَوْ مَرَّتَيْنِ فَإِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَنِي بِهٰذَا [ر: ٤٦٢٥].

د طلاق نه درجوع مسئله: حضرت امام بخاری رحمه الله په دې باب کښې درجوع عن طلاق مسئله بیان کړې ده،که یوسړی خپلې ښځې ته طلاق رجعي ورکړو نو مدت کښې دننه دننه که هغه رجوع اوکړی نو د نوې نکاح ضرورت نشته دې اوکه عدت تیر شو اوبیا هغه رجوع کول غواړی نوپه دې صورت کښې عقدجدید او نوې نکاح به ضرورت وی. حضرت امام بخاری رحمه الله باب کښې دننه دحضرت عبدالله رضي الله عنه چه کوم حدیث ذکر کړې دې په هغې کښې درجوع ړومبې صورت موندې شي یعنی ((رجوع فی العدت))او حضرت معقل بن یسار چه کوم حدیث ذکرکړې دې په هغې کښې درجوع دویم صورت موندې شي یعنی((رجوع بعد العدت)) د علماء په دې باندې اتفاق دې چه خاوند د طلاق رجعي ورکولو نه پس عدت کښې دننه درجوع حق لري. اگر چه ښځه ناخوښه وی او ده سره اوسیدل نه غواړی.(١)

د طلاق نه به څنګه رجوع کولې شي: حضرت امام بخاری رحمه الله په ترجمة الباب کښې مخکښې فرمائی چه ((وکیف یراجع المراة اذا طلقها...)) یعنی د طلاق نه به درجوع طریقه څه وی؟

د حضرت امام شافعی رحمه الله په نیز رجوع بالکلام به وی .خاوند به اووائی چه ما د طلاق نه رجوع اوکړه .د امام اوزاعی رحمه الله او حضرت امام مالك رحمه الله په نیز رجوع بالجماع به وی . حضرت امام مالك رحمه الله خو دنیت شرط هم لګوی چه خاوند به رجوع عن الطلاق نیت سره جماع اوصحبت اوکړی نو بیا به رجوع صحیح وی. دحنفیه په نیز رجوع قول اوعمل دواړه سره کیدیشی.((جماع مس بالشهوة نظر الی فرجها بالشهوة)) سره رجوع به اوشي.اگرچه ده درجوع کول قصدنه وی کړې.(٢) امام احمد نه یوقول د حضرت امام شافعی رحمه الله موافق او دویم قول د اوزاعی رحمه الله موافق منقول دې .

دباب لاندې حضرت امام بخاری رحمه الله چه کوم روایات ذکر فرمائیلی دی دا مخکښې تیر شوی دی . ړومبی روایت کښې دی چه((فحمی معقل من ذالك انفا)) یعنی حضرت معقل(بفتح المیم وسکون العین وکسر القاف)دخودداری په وجه دې نه منع کړې شو او هغوی دوباره خپلې خور ته ددې خاوند سره دنکاح کولو اجازت ورنکړو .((حمی الاباب سمع من حمی عن الشیئ)) اودریدل، حمایت کول،((انفا)) دهمزه اونون فتحې سره)خوداری .(٣)((واستقاد لامرالله)) یعنی ده دالله جل جلاله د حکم طاعت اوکړو.

---

١) فتح الباری: ٩/٤٠٤).

٢) فتح الباری: ٩/٤٠٤ . والابواب والترجم: ٢/ ٨٤).

٣) ارشادالساری: ١٢/١٠٣).

۴۳=بَاب مُرَاجَعَةِ الْحَائِضِ

[۵۰۲۳] حَدَّثَنَا حَجَّاجٌ حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ اِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سِيرِينَ حَدَّثَنِي يُونُسُ بْنُ جُبَيْرٍ سَأَلْتُ ابْنَ عُمَرَ فَقَالَ طَلَّقَ ابْنُ عُمَرَ امْرَأَتَهُ وَهِيَ حَائِضٌ فَسَأَلَ عُمَرُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَمَرَهُ أَنْ يُرَاجِعَهَا ثُمَّ يُطَلِّقَ مِنْ قُبُلِ عِدَّتِهَا قُلْتُ فَتَعْتَدُّ بِتِلْكَ التَّطْلِيقَةِ قَالَ أَرَأَيْتَ إِنْ عَجَزَ وَاسْتَحْمَقَ [ر: ۴۶۲۵].

كه يوسړى په زمانه دحيض كښې خپلې ښځې ته طلاق وركړونو دحضرت نبى كريم ﷺ ارشاد دې چه ده ته رجوع كول پكاردى. په دې باندې دټولو عالمانو اتفاق دې. البته ددې رجوع په شرعى حيثيت كښې اختلاف دې. د حضرت امام مالك رحمه الله او داود ظاهرى په نيز رجوع واجب ده. د حضرت امام احمد بن حنبل رحمه الله يوروايت ددې مطابق دې، او دحنفيه په نيز مختار هم دا دى. د حضرت امام شافعى رحمه الله په نيز رجوع مستحب ده، د حضرت امام احمد بن حنبل رحمه الله ظاهر مذهب هم ددې مطابق دې او حنفيه كښې قدورى دا مختار گرزولې دې، د دلائلو تفصيل دكتاب الطلاق په شروع كښې تير شوې دې.

حضرت امام بخارى رحمه الله خو د ((باب مراجعة الحائض)) ترجمه خو قائمه كړې ده ليكن وجوب او عدم وجوب سره هغوى هيڅ بحث نه دې كړې.

۴۴=بَاب تُحِدُّ الْمُتَوَفَّى عَنْهَا زَوْجُهَا أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا

وَقَالَ الزُّهْرِيُّ لَا أَرَى أَنْ تَقْرَبَ الصَّبِيَّةُ الْمُتَوَفَّى عَنْهَا الطِّيبَ لِأَنَّ عَلَيْهَا الْعِدَّةَ

[۵۰۲۴] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ أَبِي بَكْرِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ حَزْمٍ عَنْ حُمَيْدِ بْنِ نَافِعٍ عَنْ زَيْنَبَ بِنْتِ أَبِي سَلَمَةَ أَنَّهَا أَخْبَرَتْهُ هَذِهِ الْأَحَادِيثَ الثَّلَاثَةَ قَالَتْ زَيْنَبُ دَخَلْتُ عَلَى أُمِّ حَبِيبَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ تُوُفِّيَ أَبُوهَا أَبُو سُفْيَانَ بْنُ حَرْبٍ فَدَعَتْ أُمُّ حَبِيبَةَ بِطِيبٍ فِيهِ صُفْرَةٌ خَلُوقٌ أَوْ غَيْرُهُ فَدَهَنَتْ مِنْهُ جَارِيَةً ثُمَّ مَسَّتْ بِعَارِضَيْهَا ثُمَّ قَالَتْ وَاللّٰهِ مَا لِي بِالطِّيبِ مِنْ حَاجَةٍ غَيْرَ أَنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا يَحِلُّ لِامْرَأَةٍ تُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ أَنْ تُحِدَّ عَلَى مَيِّتٍ فَوْقَ ثَلَاثِ لَيَالٍ إِلَّا عَلَى زَوْجٍ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا

قَالَتْ زَيْنَبُ فَدَخَلْتُ عَلَى زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ حِينَ تُوُفِّيَ أَخُوهَا فَدَعَتْ بِطِيبٍ فَمَسَّتْ مِنْهُ ثُمَّ قَالَتْ أَمَا وَاللّٰهِ مَا لِي بِالطِّيبِ مِنْ حَاجَةٍ غَيْرَ أَنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ عَلَى الْمِنْبَرِ لَا يَحِلُّ لِامْرَأَةٍ تُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ أَنْ تُحِدَّ عَلَى مَيِّتٍ فَوْقَ ثَلَاثِ لَيَالٍ إِلَّا عَلَى زَوْجٍ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا

قَالَتْ زَيْنَبُ وَسَمِعْتُ أُمَّ سَلَمَةَ تَقُولُ جَاءَتْ امْرَأَةٌ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّ ابْنَتِي تُوُفِّيَ عَنْهَا زَوْجُهَا وَقَدْ اشْتَكَتْ عَيْنَهَا أَفَتَكْحُلُهَا فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا كُلَّ ذٰلِكَ يَقُوْلُ لَا ثُمَّ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّمَا هِيَ أَرْبَعَةُ أَشْهُرٍ وَعَشْرٌ وَقَدْ كَانَتْ إِحْدَاكُنَّ فِي الْجَاهِلِيَّةِ تَرْمِي بِالْبَعْرَةِ عَلَى رَأْسِ الْحَوْلِ قَالَ حُمَيْدٌ فَقُلْتُ لِزَيْنَبَ وَمَا تَرْمِي بِالْبَعْرَةِ عَلَى رَأْسِ الْحَوْلِ فَقَالَتْ زَيْنَبُ كَانَتِ الْمَرْأَةُ إِذَا تُوُفِّيَ عَنْهَا زَوْجُهَا دَخَلَتْ حِفْشًا وَلَبِسَتْ شَرَّ ثِيَابِهَا وَلَمْ تَمَسَّ طِيبًا حَتّٰى تَمُرَّ بِهَا سَنَةٌ ثُمَّ تُؤْتٰى بِدَابَّةٍ حِمَارٍ أَوْ شَاةٍ أَوْ طَائِرٍ فَتَفْتَضُّ بِهِ فَقَلَّمَا تَفْتَضُّ بِشَيْءٍ إِلَّا مَاتَ ثُمَّ تَخْرُجُ فَتُعْطٰى بَعْرَةً فَتَرْمِي ثُمَّ تُرَاجِعُ بَعْدُ مَا شَاءَتْ مِنْ طِيبٍ أَوْ غَيْرِهِ سُئِلَ مَالِكٌ مَا تَفْتَضُّ بِهِ قَالَ تَمْسَحُ بِهِ جِلْدَهَا [ر: ۱۲۲۱، ۵۰۲۵].

((تحد))د((احداد))نه دې د((احداد))معنی ترک زینت او سوګ کولو رازی. ((احداد))لغت کښې منع کولو ته وائی. او اصطلاح کښې معتده دوران عدت خپل ځان لره د زینت لکه خوشبو وغیره سامان نه منع کول. کونډه به د عدت په دوران کښې ځلور میاشتې لس ورځو پورې د زینت نه احتراز کول او دا سوګ کور په دې واجب دی ،د حضرت حسن بصری رحمه الله او شعبی رحمه الله په نیز واجب نه دی لیکن د دوی قول شاذ دې.(۱)

قوله: وقال الزهري : لا اری ان تقرب الصبية الطيب لان عليها العدة: ابن شهاب زهری رحمه الله فرمائی چه ځه مناسب نه ګنړم چه کمسنه جنیئ(چه دهغې خاوند مړ شی) خوشبوته نزدې شی او خوشبو اولګوی د دې وجې چه په هغې باندې عدت شته دې.

کهٔ یو کمسنې او نابالغې جینئ خاوند مړشي نو دائمه ثلاثه په نیز په دې باندې سوګ واجب دې د حضرات حنفیه په نیز په دې باندې سوګ نشته دې.(۲)

حضرت امام بخاری رحمه الله د امام زهری رحمه الله تعلیق ذکر کوی او د آئمه ثلاثه تائید کوی((لان عليها العدة))نه چه کوم علت ذکر فرمائی هغه دا امام زهری رحمه الله دقول حصه نه ده بلکه حضرت امام بخاری رحمه الله ذکر فرمائیلي ده ځکه چه ابن وهب دا موصولاً نقل کړې ده. په دې کښې دا الفاظ نشته دې .(۳) حاصل دا دې چه چونکه چه په کمسن اونابالغه جینئ باندې عدت تیرول واجب نه دی د دې وجې سوګ تیرول هم په دې باندې واجب نه دې پکار.

حضرات حنفیه د روایت باب نه استدلال کوی، چه په هغې کښې((لا يحل لامراة تومن بالله واليوم الاخر .....))په دې کښې د((امراة))لفظ وئیلي شوې دې چه د دې اطلاق په بالغه باندې کیږی په نابالغه جینئ باندې د((امراة)) نه کیږی. د دې وجې نه نابالغه جینئ د سوګ تیرولو پابند نه ده.

دسوګ موده : د دې نه پس حضرت امام بخاری رحمه الله په باب کښې د حضرت حمید بن نافع په

---

۱) فتح الباری: ۹/۶۰۷).
۲) فتح الباری: ۹/۶۰۶،الابواب والتراجم : ۲/ ۸۴).
۳) فتح الباری: ۹/۶۰۶).

واسطه دحضرت زینب بنت ابی سلمه نه دري روايتونه نقل کړې دی .یوروایت کښې دحضرت ام حبیبه دویم روایت کښې دحضرت زینب بنت جحش او په دریم روایت کښې د ام ا لمومنین حضرت ام سلمه رضي الله عنها واقعه نقل کړې شوې ده. زینب بنت ابی سلمه دحضرت نبی کریم ﷺ ربیبه او دام المومنین حضرت ام سلمه(داول خاوند نه) لور وه.(۱)
هغه فرمائی چه څه د حضرت نبی کریم ﷺ زوجه حضرت ام حبیبه لره ورغلم په هغه وخت کښې چه کله دهغې دوالد ابوسفیان انتقال اوشو.حضرت ام حبیبه رضي الله عنها خوشبو راوغوښتله چه په هغې کښې دخلوق یا بل څیززردی وه .اویوجینئ ته ئې اولګوله.بیا هغې لاسونه په خپل رخسا ر باندې راښکل اووې وئیل چه په خدائې ماته دخوشبو ضرورت نشته دې لیکن ما دحضرت نبی کریم ﷺ نه دا آوریدلی دی چه کومه ښځه په الله ﷻ باندې اوپه ورځ دآخرت باندې ایمان لری دهغې دپاره جائز نه دی چه هغه دچا په مرګ باندې د دریو ورځو نه زیات سوګ اوکړی سوا د خاوند نه چه دهغه سوګ څلور میاشتې اولس ورځو پورې دې.
حضرت زینب رضي الله عنها فرمائی چه څه حضرت زینب بنت جحش لره ورغلم او کله چه دهغې رور وفات شوې وو،هغې خوشبو راوغوښتله او دائې استعمال کړه او وې فرمائیل چه په خدائې ماته دخوشبو ضرورت نشته دې مګر ما د حضرت نبی کریم ﷺ نه آوریدلی دی چه په منبر باندې ناست وو چه دیو ښځې دپاره چه هغه په الله ﷻ او په ورځ دقیامت باندې ایمان لری حلال نه دی چه په مړی باندې درې ورځو نه زیات سوګ اوکړی سوا دخاوند نه چه دهغه سوګ څلور میاشتې او لس ورځې پورې دې.
حضرت زینب بنت جحش فرمائی چه ما (دخپلې مور) ام سلمه رضي الله عنها نه واوریدل چه وئیل چه یو ښځه دحضرت نبی کریم ﷺ په خدمت کښې حاضره شوه او عرض ئې اوکړو چه یارسول الله ﷺ خما د لور خاوند مړ شوې دې او دهغې په سترګه کښې تکلیف دې نو آیا مونږ هغې له رانجه لګولې شو،حضرت رسول الله ﷺ دوه یا درې ځل اووئیل چه نه .
بیا حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه اوس خو د عدت موده څلور میاشتې او لس ورځې ده حالانکه د جاهلیت په زمانه کښې تاسو کښې یو ښځې به پوره یوکال پس به څپیاکې غورزولې کولې او (دې نه پس به دعدت نه بهر راوتله).
د جاهلیت دزمانې عدت : راوی دحدیث حضرت حمید وائی چه ما دزینب بنت ابی سلمه نه تپوس اوکړو چه دکال په پوره کیدو څپیاکو غورزلو کولو به څه مطلب وو ؟نو حضرت زینب اوفرمائیل چه کله به د یو ښځې دخاوند انتقال اوشو نو هغه به یو تنګې کوټې ته داخله شوه، خرابې جامې به واغوستلې او هیڅ خوشبوبه ئې نه لګولې تر دې پورې چه یوکال به تیر شو .دې نه پس به دې لره یو څوپایا (خر،چیلئ یا څه بل مارغه) راوستلې شو او په دې باندې به ئې خپل بدن او څرمن مخل،دیر کم به داسې کیدل چه په هغې باندې بدن اومخې او

---

۱) زینب بنت ابی سلمة : وهی بنت ام سلمة زوج النبی ﷺ وهی ربیبة النبی ﷺ وزعم ابن التین انها لارواية لها عن رسول الله ﷺ كذا قال وقد ا خرج لهامسلم حديثها كان اسمی برة فسمانی رسول الله ﷺ زينب الحديث واخرجها البخاری حدیثا تقدم فی اوائل السرة النبوية (وانظر فتح الباری: ۶۰۶/۹).

مره نشي،بيا به هغه بهر راوتله،دې ته به ئې يو څېپاكه وركړهاو هغې به داغوزاره كړه،بيا به واپس شوه او خوشبو وغيره به ئې چه څه لګول به ئې اولګول (داشان به دهغې عدت مكمل شو).

حضرت امام مالك رحمه الله نه تپوس اوشو چه د((تفتض به))نه څه مراد دې‌نو هغوى‌به اوفرمائيل چه‌ددې معنى داده چه‌هغه ښځې به دې ښناور سره خپله څرمن مخله.

قوله: انها اخبرته هذه الاحاديث الثلاثة: حضرت زينب بنت ابى سلمه حضرت حميد بن نافع‌ته درې احاديث اوونيل،په دې دريو واړو كښې‌ابتدائى دوه احاديث‌په كتاب الجنائز كښې تير شوى دى.(١)

قوله: لايحل لامراة تومن باالله واليوم الاخر: حنفيه او مالكيه ددې نه استدلال كوى چه سوګ په مومنه باندې واجب دې،ذميه باندې نشته دې .ځكه چه داحكم صرف مومنه دپاره شامل دې.د ذميه نه خاموش دې . اواشياء‌كښې اصل چونكه اباحت دې لهذاپه ذميه باندې سوګ واجب نه دې،د شوافع په نيزذميه باندې هم سوګ واجب دې.(٢)

قوله: على ميت: دمالكيه په نيز مفقود الخبر ښځه باندې‌سوګ تيرول شته دې، د جمهورو په نيزنشته دې،جمهور ددې لفظ نه استدلال كوى ځكه چه‌دمفقود الخبروفات متحقق او يقينى نه دې. (٣)

قوله: الاعلى زوج: د خاوند نه علاوه‌په بل رشته دار باندې د دريو ورځو نه زيات سوګ كول درست نه دى،امام ابوداود په مراسيل‌كښې عمرو بن‌شعيب‌روايت نقل كوى چه‌په پلار باندې‌اووه ورځې‌پورې‌سوګ كولې شى‌ليكن‌هغه روايت‌مرسل دې .(۴)

قوله: اربعة اشهر وعشرا: دكونډې عدت څلور مياشتې او لس ورځې دې،په دې كښې حكمت دادې چه‌دبچى د كامل تخليق اونفخ روح مرحله‌شپږوشلو ورځو تيريدو نه پس مكمل كيږى . څلور مياشتوكښې‌هره مياشت كه د ديرشو ورځووى‌نو دڅلورو مياشتو نه شپږ شلې ورځې جوړيږى.ليكن چونكه مياشت د يوكم ديرش ورځو هم وى‌ددې وجې‌لس ورځې‌احتياطًا وركړې شوى دى اوڅلور مياشتې لس ورځې‌مقرر شوى دى .(۵)

يواشكال او دهغې جوابونه: په دې باندې د حضرت امام احمد بن حنبل رحمه الله يو اشكال كيديشى چه كوم دحضرت جعفر بن ابى طالب ښځې حضرت‌اسماء بنت عميس نه مروى

---

١) اوګورئ كتاب الجنائز باب احداد المراة على غير زوجها رقم الحديث : ١٨٠، ١٢٨٢،ص / ٢٥١). البته آخرى روايت دلته په ړومبى ځل ذكر شو.

٢) فتح البارى: ٩/٦٠٧).

٣) فتح البارى: ٩/٦٠٧).

٤) فتح البارى: ٩/٦٠٧).

٥) ارشاد السارى: ١٢/١٠٦).

دي. هغوی فرمائی چه د حضرت جعفر دشهادت نه پس حضرت نبی کریم ﷺ په دریمه ورځ مالره راغلو او وې فرمائیل چه نن نه پس ته سوګ مه کوه.(١)
ددې نه دسوګ کول موده درې ورځې معلومیږي، ددې مختلف جوابونه ورکړې شوی دی.
① داحدیث شاذ دې ځکه چه دا دباب صحیح احادیث مخالف دې، ددې وجې معتبر نه دې.
② امام طحاوی رحمه الله فرمائی چه داحکم مخکښې وو، دې نه پس داحادیث باب منسوخ کړې شو.
③ په دې کښې چه کوم سوګ نه حضرت نبی کریم ﷺ منع فرمائیلې دهغه عام سوګ نه وو بلکه حضرت اسماء دمعروف سوګ نه زیات مبالغې سره سوګ اوکړو چه دکومې نه منع کړې شوې وه.
④ بعضو وئیلی چه حضرت اسماء حامله وه. درې ورځې پس وضع حمل شوې وو او وضع حمل سره عدت پوره کیږي، ددې وجې هغه منع کړې شوې وه .(٢)

قوله: جاءت امراة الی رسول الله: ددې ښځې نوم چه کومه دحضرت نبی کریم ﷺ په خدمت کښې حاضره شوې وه، دابن وهب په روایت کښې عاتکه بنت نعیم راغلې دې . البته ددې دلور نوم معلوم نشو. ددې دلور دخاوند نوم هم په دې روایت کښې مغیره مخزومی مذکور دې .(٣)

قوله: اشتکت عینها: «عینها» «اشتکت» دپاره فاعل هم کیدیشی، دده سترګه شکایت کوی، دشکایت نسبت په دې صورت کښې «عین» طرف ته مجاز به وی، او «عینها» مفعول به هم جوړیدیشی. «اشتکت» کښې ضمیر فاعل به وی یعنی هغه جینۍ د خپلې سترګې شکایت کوی. منذری رحمه الله دا دویم صورت راجح ګڼړلې دې .او علامه حریری رحمه الله هم دا صورت صحیح اوګڼړلو. نو هغه په «درة الغواص» کښې فرمائی چه «لا یقال اشتکت عین فلان والصواب ان یقال اشتکی فلان عینه لانه هو المشتکی لاهی» (۴)

«افنکحلها»: «نکحل» دنون په ضمه سره باب افعال نه دې په معنی درنجو لګولو یعنی آیا مونږ هغې ته سرمه لګولې شو.

قوله: کانت المراة اذا توفی عنها زوجها دخلت حفشا: «حفش» دحاء په کسره دفاء په سکون سره .وړوکې کور، تنګې کوټې ته وائی.(۵)
بعره پچې ته وائی.

---

١) فتح الباری: ٦٠٨/٩.
٢) فتح الباری: ٦٠٩/٩.
٣) فتح الباری: ٦٠٩/٩_٦١٠.
٤) ارشاد الساری: ١٠٨/١٢.
٥) فتح الباری: ١١١/٩.

قوله: فقلما تفتض بشئ الا مات: دلته د«تفتض به» چه کوم لفظ استعمال شوې دې دهغې مختلفې معنې بیان کړې شوی دی:

① دحضرت امام مالك حوالې سره دحدیث په آخر کښې تیر شوی دی چه ددې معنی دی «تمسح به جلدها» یعنی هغه ښځه چه ځناور سره خپل بدن مخی.

② ابن قتیبه هم ددې قریب قریب «افتضاض» تشریح کړې ده. هغه فرمائی چه ما په حجاز کښې دخلقو نه د«افتضاض» دمعنې تپوس اوکړو نو وې وئیل چه «المعتدة كانت لا تمس ماء ولا تقلم ظفرا ولا تزيل ثم تخرج بعد الحول باقبح منظر ثم تفتض اى تكسر ما هى من العدة بطائر تمسح به قبلها وتنبذه فلا يكاد يعيش بعد ما تفتض به» (۱)

یعنی معتده به نه اوبو ته لاس لګولو او نه به ئې نوکونه اخستل، نه به ئې ویښته صفا کول، یو کال نه پس هغه به د تنګې کوټې بهر شوه او ډیر خراب صورت به ئې وو او د عدت پابندئی به ئې دیو مارغه په ذرعه ختمې کړې، داشان به ئې دې مارغه سره خپله شرمګاه اوچوله او بیا به ئې دا غوزوله، هغه مارغه به د«افتضاض» ددې عمل نه پس عام طورژوندې نه پاتې کیدو.

علامه خطابی رحمه الله فرمائی چه «افتضاض» د «فضضت الشئ» نه ماخوذ دې، چه ددې معنی ماتول رازی چونکه مارغه سره مذکوره عمل نه پس معتده دعدت دپابندئې ماتولې او ختمولې. ددې وجې دې ته «افتضاض» وائی . (۲) په «تفتض به» کښې باء سببیه دې.

③ بعضو وئیلی دی چه د«افتضاض» معنی په خوږو اوبو سره غسل کول دی.

د«تفتض» معنی ده هغه اوبو سره غسل کوی او د«فضة» چاندئی په شان چمکداره شی. نو امام اخفش فرمائی چه «افتضاض» د«فضة» نه ماخوذ دې. او ددې معنی د پاکیدو او نظافت حاصلولو ده. او امام خلیل فرمائی چه «فضفض» خوږو اوبو ته وائی او «افتضاض» غسل کول ته وائی. (۳)

چه کوم ځناور سره معتده خپل بدن مخی هغه اکثر مری، ممکن دی چه دا د شیطان او جناتو اثر وی او دا هم کیدیشی چه د ګندګئ په وجه ددې جسم کښې داسې جراثیم پیدا کیږی چه هغې سره ځناور مړکیږی. یا ټول کال داشان اوسیدو سره ددې په جسم کښې داسې حرارت اوګرمی پیدا کیږی چه ځناور دې سره مری. والله اعلم .

قوله: فتعطى بعرة: «تعطى» د«اعطاء» مضارع مجهول صیغه ده. ضمیر په دې کښې دننه نائب فاعل دې، او «بعرة» مفعول به دې . معتده ته څپیاکې ورکوی، او هغه دا غورزوی .

---

۱) فتح الباری: ۹/۶۱۲).
۲) ارشاد الساری: ۱۲/۱۰۹).
۳) ارشاد الساری: ۱۲/۱۰۹).

د دې مقصد يا خو دې طرفته اشاره كول وو چه دې د ښځو په شان دعدت كيفيت اوغوزولو. او يا دې طرفته اشاره وه چه دمشقت او تكليف دا حالت ددې دپاره د خاوند په حق كښې دتعظيم په وجهٔ د بوج باعث نه وو بلكه د ښځو په شان سپك وو، او يو قول دا هم دې چه معتده تفاولا به ښځې غوزولې چه دا حالت دوباره كله دې طرفته رانشي.(١)

قوله: فدخلت على زينب ابنة جحش حين توفي اخوها: دا خبره په دويم روايت كښې ده چه زينب بنت ابى سلمه فرمائى چه څه ام المومنين حضرت زينب بنت جحش له راغلم. كله چه ددې درور انتقال اوشو. د حضرت زينب بنت جحش درې رونړه وو. يو عبدالله بن جحش، دويم عبيدالله بن جحش اودريم عبد بن جحش، چه دده كنيت ابواحمد الاعمى وو.

عبدالله بن جحش خودلته مراد نه شى كيدې ځكه چه هغه په جنګ احد كښې شهيد شوې وو. او زينب بنت ابى سلمه په هغه وخت كښې بچې وو. اوبه دې حالت كښې حضرت زينب بنت جحش له دتعزيت دپاره څنګه راتلې شى.

عبيدالله بن جحش هم مراد نشى اخستې. ځكه چه دې مرتد شوې وو او نصرانى مذهب ئې اختيار كړې وو، او په پنځمه هجرئى يا شپږمه هجرئى كښې په حبشه كښې دنصرانيت په مذهب انتقال شوې وو.

عبد بن جحش هم مراد نشى اخستې ځكه چه دده انتقال دخپلې خور حضرت زينب نه بعد شوې دې (اګر چه بعض حضرات هم دې مراد اخلى او وئيلې ئې دى چه دده انتقال مخكښې شوې دې).

بعض علماء ددې اشكال يو جواب دا وركوى چه درور نه عبيدالله بن جحش مراد دې. هغه اګر چه مرتد شوې وو بيا هم رور وو. ددې وجې حضرت زينب ته ددې غم وو. خاص كر د نصرانيت په حالت دده وفات نو نور زيات غم وو ځكه حضرت زينب سوګ اوكړو. اودا هم كيدېشى چه رورنه ددې علاتى يا رضاعى رور مراد وى.(٢)

٣٥=بَاب الْكُحْلِ لِلْحَادَّةِ

[٥٠٢٥] حَدَّثَنَا ادَمُ بْنُ ابِي ايَاسٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ نَافِعٍ عَنْ زَيْنَبَ بِنْتِ امِّ سَلَمَةَ عَنْ امِّهَا انَّ امْرَاةً تُوُفِّيَ زَوْجُهَا فَخَشُوا عَلَى عَيْنَيْهَا فَاتَوْا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاسْتَاذَنُوهُ فِي الْكُحْلِ فَقَالَ لَا تَكَحَّلْ قَدْ كَانَتْ احْدَاكُنَّ تَمْكُثُ فِي شَرِّ احْلَاسِهَا اوْشَرِّ بَيْتِهَا فَاذَا كَانَ حَوْلٌ فَمَرَّ كَلْبٌ رَمَتْ بِبَعَرَةٍ فَلَا حَتَّى تَمْضِيَ ارْبَعَةُ اشْهُرٍ وَعَشْرٌ وَسَمِعْتُ زَيْنَبَ بِنْتَ امِّ سَلَمَةَ تُحَدِّثُ عَنْ امِّ حَبِيبَةَ انَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَحِلُّ لِامْرَاةٍ مُسْلِمَةٍ تُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْاخِرِ انْ تُحِدَّ فَوْقَ ثَلَاثَةِ ايَّامٍ الَّا عَلَى زَوْجِهَا ارْبَعَةَ اشْهُرٍ وَعَشْرًا [ر: ٥٣٤٩ وانظر: ٥٠٢٣].

---

١) فتح الباري: ٩/٦١٢).
٢) فتح الباري: ٩/٦٠٦).

[٥٠٣٦] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا بِشْرٌ حَدَّثَنَا سَلَمَةُ بْنُ عَلْقَمَةَ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ قَالَتْ أُمُّ عَطِيَّةَ نُهِينَا أَنْ نُحِدَّ أَكْثَرَ مِنْ ثَلَاثٍ إِلَّا بِزَوْجٍ [ر:٣٠٧].

((حاده)) سوګ کولووالا ښځې ته وائي. دباب په ړومبي روايت کښې دي چه د يو ښځې خاوند وفات شو . خلقو ته دده سترګو فکر شو نو هغوی دحضرت نبی کريم ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او د سرمې (رنجو) لګولو اجازت ئې اوغوښتلو. اوس حضرت نبی کريم ﷺ اوفرمائيل چه رانجه مه لګوه. (دجاهليت په زمانه کښې دعدت تيرولو دا طريقه وه چه) په تاسوکښې به يو ښځه په خرابه کوټه کښې اوسيده، کله چه به کال تير شو، بيا به يوسپې تيريدلو چه هغه به دې په څپياکو ويشتلو. (نوبيا به عدت ختميدو اوس په اسلام کښې سهولت ورکړې شو) لهذا کله پورې چه به څلور مياشتې لس ورځې تيرې نه شی نو ترهغه وخت پورې به رانجه نه لګوی. دا حديث ددې نه مخکښې هم تير شوې دې. ((احلاس)) د ((حلس)) (دحاء په کسره اولام په سکون سره) جمع ده، جامو او نرى څادرته وائى. ((اوشربيتها)) راوى ته شك دې چه ((شر احلاسها)) ئې وئيلي وو يا ((شر بيتها)) ئې وئيلي وو. دجامو او مکان دواړو صفت ده بيان کړو ((فلاحتى تمضى اى فلا تكتحل حتى تمضى اربعة اشهر وعشرة ايام)) (١)

چه کومې ښځې سوګ کوی د هغوی دپاره د رانجو لګولو حکم: حضرت امام بخاری رحمه الله په دې باب کښې دسوګ کولو والو ښځو درانجو لګولو مسئله بيان کړې ده. په دې باندې خود ټولو ائمه اتفاق دې چه سوګ والا ښځې ته بغير دضرورت او حاجت نه رانجه لګول جائز نه دی. البته دضرورت په صورت کښې هم رانجه لګولې شی که نه .په دې کښې اختلاف دې.

① د ظاهريه په نيز دضرورت په وخت کښې هم سوګ والا ښځه رانجه نه شی لګولې، د حضرت امام بخاری رحمه الله رجحان هم دې طرفته معلوميږى .ځکه چه هغوی په باب کښې کوم حديث بيان کړې دې هغه د ظاهريه مستدل دې چه حضرت نبی کريم ﷺ په سترګه کښې دتکليف نه باوجود دې سوګ والامعتده ښځې ته درانجو لګولو اجازت ورنکړو.

② دحضرت امام شافعی رحمه الله په نيز دضرورت په وخت کښې سوګ والا ښځه دشپې په وخت کښې رانجه لګولې شی. د ورځې نه .د حضرت امام مالك رحمه الله په يو روايت کښې هم ددې مطابق دی. دهغوی استدلال دحضرت ام سلمه رضي الله عنها د دې روايت نه دې چه کوم حضرت امام مالك رحمه الله او حضرت امام احمد بن حنبل رحمه الله او امام ابوداود ذکر کړې دې. دحضرت ام سلمه رضي الله عنها نه يو معتده درانجو لګولو متعلق تپوس اوکړو نو هغوی جواب ورکړو ((لا تكتحلى به الا من امر بد منه يشتد عليك فتكتحلين بالليل وتمسحينه بالنهار)) اوبيا ئې اوفرمائيل چه ما دخپل خاوند ابو سلمه په وفات باندې داشان کړی وو. نوحضرت نبی کريم ﷺ فرمائيلی وو چه ((فلا تجعليه الا بالليل وتنزعيه بالنهار)) اوموطا کښې روايت دې چه ((اجعليه بالليل وامسحيه بالنهار)).

---

١) عمدة القاري: ١ ٢/٥).

③ دحضرات حنفیه په نیز دضرورت په وخت کښې سوګ کولو والا ښځې دورځې په وخت کښې رانجه لګولې شی او دشپې په وخت کښې هم . دحضرت امام مالك رحمه الله یو روایت هم ددې مطابق دې ((لان الضرورات تبیح المحظورات)).
دحدیث باب جواب دا ورکولې شی چه په دې کښې حضرت نبی کریم ﷺ د رانجو لګولونه منع کړې وه چه حضرت نبی کریم ﷺ په نیز ضرورت متحقق نه وو یا په دې وجه چه هغه بیماری لره وه اویا په دې وجه چه ددې علاج رانجو لګولونه علاوه نورو څیزونو سره ممکن وو(١)

٣٦= بَابُ الْقُسْطِ لِلْحَادَّةِ عِنْدَ الطُّهْرِ

[٥٠٢٧] حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الْوَهَّابِ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ حَفْصَةَ عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ قَالَتْ كُنَّا نُنْهَى أَنْ نُحِدَّ عَلَى مَيِّتٍ فَوْقَ ثَلَاثٍ إِلَّا عَلَى زَوْجٍ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا وَلَا نَكْتَحِلَ وَلَا نَتَطَيَّبَ وَلَا نَلْبَسَ ثَوْبًا مَصْبُوغًا إِلَّا ثَوْبَ عَصْبٍ وَقَدْ رُخِّصَ لَنَا عِنْدَ الطُّهْرِ إِذَا اغْتَسَلَتْ إِحْدَانَا مِنْ مَحِيضِهَا فِي نُبْذَةٍ مِنْ كُسْتِ أَظْفَارٍ وَكُنَّا نُنْهَى عَنْ اتِّبَاعِ الْجَنَائِزِ [ر:٣٠٢].

په دې باب کښې حضرت امام بخاری رحمه الله د سوګ والا ښځې د حیض نه پاکیدو په وخت کښې قسط خوشبو داستعمالولو بیان کړې دې. حضرت ام عطیه فرمائی چه مونږ خلقو ته په یو مړی باندې د دریو ورځو نه زیات سوګ کولو نه منع کړې شوی یو. مګر خاوند باندې دخلورو میاشتو او لسو ورځو پورې دسوګ کولو بیان شته دې. مونږ به نه رانجه لګول،نه به مو خوشبو لګوله.اونه به مو رنګ شوې جامه اغوستله البته د ثوب عصب اجازت وو.(د ثوب عصب تفصیل مخکښې رازی) کله چه مونږنه به یو ښځه دحیض نه پاکه شوه او غسل به ئې اوکړونو د لږ شان قسط اظفار د استعمال مونږ ته اجازت وو او مونږ خلقو لره جنازې پسې د تلو نه منع کړې شوی وو.

((ننهی)) دمضارع مجهول صیغه ده،د اول نون په ضمه او هاء په فتح سره . ((رخص)) بضم الراء وکسر الخاء) دماضی مجهول صیغه ده،((نبذة)) په معنی د ((شئ قلیل کست اظفار)) د اظفار د خائې نوم دې،صغانی فرمائی چه صحیح لفظ
ظفار دې،چه عدن په ساحل باندې دیو خائې نوم دې.(٢)

قوله: قَالَ ابوعبدالله القسط والکست مثل الکافور والقافور نبذة قطعة: حضرت امام بخاری رحمه الله فرمائی چه د قسط لفظ دقاف سره هم دې او کاف سره هم لکه څنګه چه کافور کاف او قاف دواړو سره استعمالیږی،((نبذة)) په معنی د ټکړې،لږه حصه .

---

١) دمذاهب مذکوره تفصیل دپاره اوګورئ الابواب والتراجم : ٢/ ٨٤،وتکمله فتح الملهم: ١/ ٢٢٨،او اوګورئ فتح الباری: ٩/ ٦١٠).
٢) ارشاد الساری: ١١/ ١١٢).

٣٨= باب تلبس الحادة ثياب العصب

[٥٠٢٨] حَدَّثَنَا الْفَضْلُ بْنُ دُكَيْنٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ السَّلَامِ بْنُ حَرْبٍ عَنْ هِشَامٍ عَنْ حَفْصَةَ عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ قَالَتْ قَالَ لِي النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَحِلُّ لِامْرَأَةٍ تُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ أَنْ تُحِدَّ فَوْقَ ثَلَاثٍ إِلَّا عَلَى زَوْجٍ فَإِنَّهَا لَا تَكْتَحِلُ وَلَا تَلْبَسُ ثَوْبًا مَصْبُوغًا إِلَّا ثَوْبَ عَصْبٍ
وَقَالَ الْأَنْصَارِيُّ حَدَّثَنَا هِشَامٌ حَدَّثَتْنَا حَفْصَةُ حَدَّثَتْنِي أُمُّ عَطِيَّةَ نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا تَمَسَّ طِيبًا إِلَّا أَدْنَى طُهْرِهَا إِذَا طَهُرَتْ نُبْذَةً مِنْ قُسْطٍ وَأَظْفَارٍ قَالَ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ الْقُسْطُ وَالْكُسْتُ مِثْلُ الْكَافُورِ وَالْقَافُورِ [ر: ٣٠٧].

په دې باب کښې حضرت امام بخاری رحمه الله دسوګ والا دښځې دپاره د ثیاب عصب استعمال اجازت بیان کړې دې. فرمائي چه سوګ والا ښځه د ثیاب عصب استعمال کولې شی.

علامه سهیلی رحمه الله فرمائی چه عصب دیو وښو نوم دې. چه په یمن کښې کیږی .چه دې سره جامه رنګ کولې شی. دې جامو لره چه په وښو کښې رنګ کولې شی،ثیاب عصب وئیلې شی . لیکن حافظ ابن حجر رحمه الله دې تشریح لره غریب ګڼړی.(١)

مشهور دی چه د وړنی ریشلو نه پس دا تړلې شی او دې ته رنګ ورکولې شی . دې نه پس بیا دا پرانیزی او جوړوی ئې. په کوم کوم ځائې کښې چه په دې وړنی کښې بندش وی هغه ځائې ته رنګ نه رسی. ددې نه چه کومه کپړه جوړیږی په هغې کښې زینت نه وی،ددې وجې دسوګ او داحداد په زمانه کښې داغوستلو اجازت دې .نو علامه ابن الاثیر لیکی چه :

«العصب برود یمنیة غزلها ای یجمع ویشد ثم یصبغ وینسج فیاتی موشیا لبقاء ماعصب منه ابیض لم یاخذه صبغ یقال برد عصب وبرود عصب بالتنوین والاضافة وقیل هی برود مخططة والعصب الفتل فیکون النهی للمعتدة عما صبغ بعد النسج» (٢)

خلاصه دا دی چه سوګ والا ښځه د رنګینو جامو او ثوب مصبوغ داغوستلو نه مع کړې شوې ده. لیکن دا ممانعت ثیاب عصب لره شامل نه دی بلکه ممانعت دهغه جامو د استعمال نه دې چه د جوړیدو نه پس رنګ شوی وی. حالانکه ثیاب عصب جوړیدونه مخکښې په رنګ کښې اچولې شی.

په دویم روایت کښې دی چه «قال الانصاری» نه محمد بن عبدالله بن المثنی مراد دې چه د حضرت امام بخاری رحمه الله شیخ دې.

قوله: ولا تمس طیبا الا ادنی طهرها: یعنی سوګ والا ښځه خوشبونه شی استعمالولې، البته د طهر زمانې ته نزدې لږ شان قسط اظفار استعمالولې شی.

«الا ادنی طهرها ای عند قرب طهرها» (٣)

---

١) فتح الباری: ٩/٦١٤).
٢) النهایة فی غریب الحدیث والاثر لابن الاثیر: ٣/ ٢٤٥).
٣) فتح الباری: ٩/٦١٥).

دسوګ والا ښځې دپاره دثیاب عصب داستعمال حکم : دسوګ والا ښځې دپاره د ثیاب عصب په استعمال کښې په حضرات فقهاء کرام کښې اختلاف دې.په دې خوا تفاق دې چه معتده به رنګینه اوښکلې جامه او زینت والا جامه نه استعمالوی.دثیاب عصب متعلق د حضرت امام شافعی رحمه الله صحیح قول دادې چه معتدة الوفات دپاره ددې استعمال حرام دې اوهم دا مسلك دحضرات حنفیه دې.

حضرت امام مالك رحمه الله فرمائی که جامه غټه وی،نرمه او نرئی نه وی نوبیا جائز دی لیکن که هغه نرمه او نرئی وی نو بیا ددې استعمال جائز نه دې.

حضرت امام احمد بن حنبل رحمه الله نه جواز او عدم جواز دواړه قسمه روایتونه منقول کړی دی لیکن دهغوی صحیح روایت د عدم جواز دې.(۱)

داسې معلومیږی چه عراق او کوفه وغیره کښې دثوب عصب ترقی یافته شکل تیار شوې وو،اودزینت په موقعوبه دا استعمالیده . ددې وجې څمونږ فقهاء کرام دخپلې زمانې او علاقې مناسب سرددعرف مطابق معتده دپاره ددې استعمال ممنوع ګرځولې دې .حدیث کښې دی چه د ثوب عصب اجازت ورکړې شوې دې چه په هغه وخت کښې دیو ساده کپړه شمیرلې شوه.اودزینت دپاردبه نشوه استعمالولې.

٣٨= بَاب وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا إِلَى قَوْلِهِ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ [البقره : ٢٣٤]

[٥٠٢٩] حَدَّثَنِي اسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ اخْبَرَنَا رَوْحُ بْنُ عُبَادَةَ حَدَّثَنَا شِبْلٌ عَنْ ابْنِ ابِي نَجِيحٍ عَنْ مُجَاهِدٍ وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنكُمْ وَيَذَرُونَ ازْوَاجًا قَالَ كَانَتْ هَذِهِ الْعِدَّةُ تَعْتَدُّ عِنْدَ اهْلِ زَوْجِهَا وَاجِبًا فَانْزَلَ اللَّهُ وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنكُمْ وَيَذَرُونَ ازْوَاجًا وَصِيَّةً لِازْوَاجِهِمْ مَتَاعًا الَى الْحَوْلِ غَيْرَ اخْرَاجٍ فَانْ خَرَجْنَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا فَعَلْنَ فِي انْفُسِهِنَّ مِنْ مَعْرُوفٍ قَالَ جَعَلَ اللَّهُ لَهَا تَمَامَ السَّنَةِ سَبْعَةَ اشْهُرٍ وَعِشْرِينَ لَيْلَةً وَصِيَّةً انْ شَاءَتْ سَكَنَتْ فِي وَصِيَّتِهَا وَانْ شَاءَتْ خَرَجَتْ وَهُوَ قَوْلُ اللَّهِ تَعَالَى غَيْرَ اخْرَاجٍ فَانْ خَرَجْنَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فَالْعِدَّةُ كَمَا هِيَ وَاجِبٌ عَلَيْهَا زَعَمَ ذَلِكَ عَنْ مُجَاهِدٍ

وَقَالَ عَطَاءٌ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ نَسَخَتْ هَذِهِ الْآيَةُ عِدَّتَهَا عِنْدَ اهْلِهَا فَتَعْتَدُّ حَيْثُ شَاءَتْ وَقَوْلُ اللَّهِ تَعَالَى غَيْرَ اخْرَاجٍ وَقَالَ عَطَاءٌ انْ شَاءَتْ اعْتَدَّتْ عِنْدَ اهْلِهَا وَسَكَنَتْ فِي وَصِيَّتِهَا وَانْ شَاءَتْ خَرَجَتْ لِقَوْلِ اللَّهِ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا فَعَلْنَ فِي انْفُسِهِنَّ قَالَ عَطَاءٌ ثُمَّ جَاءَ الْمِيرَاثُ فَنَسَخَ السُّكْنَى فَتَعْتَدُّ حَيْثُ شَاءَتْ وَلَا سُكْنَى لَهَا [ر:٤٢٥٧].

[٥٠٣٠] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ عَنْ سُفْيَانَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ ابِي بَكْرِ بْنِ عَمْرِو بْنِ حَزْمٍ

١) دمذاهبو تفصیل دپاره اوګورئ الابواب والتراجم: ٢/ ٨٤.اوګورئ فتح الباری: ٩/ ٦١٤).

حَدَّثَنِي حُمَيْدُ بْنُ نَافِعٍ عَنْ زَيْنَبَ بِنْتِ أُمِّ سَلَمَةَ عَنْ أُمِّ حَبِيبَةَ بِنْتِ أَبِي سُفْيَانَ لَمَّا جَاءَهَا نَعِيُّ أَبِيهَا دَعَتْ بِطِيبٍ فَمَسَحَتْ ذِرَاعَيْهَا وَقَالَتْ مَا لِي بِالطِّيبِ مِنْ حَاجَةٍ لَوْلَا أَنِّي سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا يَحِلُّ لِامْرَأَةٍ تُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ تُحِدُّ عَلَى مَيِّتٍ فَوْقَ ثَلَاثٍ إِلَّا عَلَى زَوْجٍ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا [ر:۱۲۲۱].

په دې باب کښې حضرت امام بخاری رحمه الله دمتوفی عنها زوجها دعدت مسئله بیان کړې ده. متوفی عنها زوجها دعدت باره کښې دوه آیتونه نازل شو. یو آیت دې چه (وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا) او دویم آیت دې چه (وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا وَصِيَّةً لِأَزْوَاجِهِمْ مَتَاعًا إِلَى الْحَوْلِ غَيْرَ إِخْرَاجٍ)

په دې دواړو خبرو کښې دننه اختلاف دې اول خودا چه عدت د خاوند په کور کښې تیر کړې شی که نه؛ دویم دا چه موده څلور میاشتی لس ورځې ده یا یو کال ؟.

ړومبی آیت نه معلومیږی چه دعدت به دخاوند په کو رکښې تیروی «يتربص بانفسهن» کښې «تربص» نه «تربص فی لبيت الزوج» مراد دی. او مدت دعدت په دې کښې څلور میاشتې او لس ورځې دی او دویم آیت نه معلومیږی چه «تربص» یو کال پورې به وی او که وتل غواړی نو وتلې شی.

جمهور علماء چه په دوی کښې ائمه اربعه هم شامل دی دهغوی رائې داده چه «يتربصن بانفسهن اربعة اشهر» والا آیت ناسخ دې او «وَصِيَّةً لِأَزْوَاجِهِمْ مَتَاعًا إِلَى الْحَوْلِ غَيْرَ إِخْرَاجٍ» والا آیت منسوخ شوې دې. اګر چه په تلاوت کښې ناسخ مقدم او منسوخ موخر دې.

مجاهد رحمه الله او عطاء دحضرت ابن عباس رضی الله عنه خلاف نقل کړی دی چه آیت الحول نه دې منسوخ . دوصیت حکم په آیت الحول کښې څلور میاشتې او لس ورځې عدت مقرر کیدونه پس راغلې دې. بیا زوجات ته اختیار ورکړې شوې دې که هغوی غواړی نو ددې وصیت نه استفاده کولې شی یا ددوی دمرضئ خلاف استفاده کول نه وی نو نه دې وی، اوس دا اوګنړنی چه دلته درې خیزونه ذکر شو:

① متوفی عنها زوجها دپاره څلور میاشتې او لس ورځې دعدت واجب دی.

② متوفی عنها زوجها سکونت به په بیت زوج کښې لازم وی.

③ ازواج باندې وصیت واجب کیدل.

حضرت امام بخاری رحمه الله یو قول د حضرت مجاهد رحمه الله نقل کړو او یو دعطاء رحمه الله او دا دواړه دحضرت ابن عباس رضی الله عنه شاګردان دی. نو ګویا هغوی دابن عباس رضی الله عنه رائې پیش کړې ده.

حضرت مجاهد رحمه الله وئیلی دی چه د «وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا وَصِيَّةً لِأَزْوَاجِهِمْ» څلورو میاشتو او لسوورځو سره هېڅ تعلق نشته دې. آیت الحول کښې ازواج لر ه د دې پابند جوړ کړې شوی دی چه هغوی دې دزوجات دپاره نور د اووه میاشتو او شلو ورځو وصیت اوکړی. متاع او سکنی دپاره چه پوره کال شی. او زوجات ته دا اختیار ورکړې شوې دې چه هغوی

دې ددې وصيت مطابق بيت زوج کښې اوسيدل غواړی نو اوسيږی دې او که اوسيدل نه غواړی نو نه دې اوسيږی.

عطاء وائی چه ((وصية لازواجهم)) والا آيت الحول کښې امور ثلاثه کښې امر ثانی منسوخ شويدې . اود ښځې دپاره په بيت زوج کښې عدت تيرول ضروری پاتې نشو.عطاء وائی چه نه تر څلورومياشتو لس ورځو پورې په عدت کښې دخاوند په کور کښې اوسيدل ضروری دی او نه په مدت وصيت کښې بيت زوج کښې سکونت اختياورل ضروری دی. دعطاء په نيز څلور مياشتې لس ورځې دعدت حکم په خپل ځائې باقی دې.آيت الحول نازليدو سره سکونت فی بيت زوج وجوب ختم شو.نه مدت دعدت څلور مياشتې لس ورځې کښې وجوب باقی پاتې شو اونه مدت دوصيت اووه مياشتې شل ورځو کښې.

مجاهد رحمه الله مدت وصيت کښې خود ښځې د اختيار ذکرکړې دې ليکن دعدت په موده کښې يعنی څلور مياشتې لس ورځو باره کښې مجاهد رحمه الله سکوت اختيار کړې دې.ليکن ظاهردادی چه دمجاهد رحمه الله په نيزهم چه څنګه مدت وصيت کښې ښځې دپاره بيت زوج کښې سکونت واجب نه دې داشان دعدت مدت څلور مياشتې او لس ورځو کښې هم سکونت فی بيت الزوج واجب نه دې،اګر چه هغوی ددې ذکر نه دې کړې ددې وجې چه کله مدت وصيت کښې چه کوم لوئې مدت دې سکونت فی الزوج ضروری نه دې نو مدت عدت څلور مياشتې او لس ورځوکښې چه کوم وړوکې شان مدت دې دا سکونت ضروری نه دې لهذا که دا اومنلې شی چه مجاهد رحمه الله سکونت فی بيت الزوج لره مدت وصيت کښې ضروری نه ګڼړی نه مدت عدت کښې نو بيا عطاء او مجاهد کښې اختلاف باقی پاتې نشو.

دې نه پس عطاء فرمائی چه د آيت ميراث نازليدو نه پس ښځې دپاره بيت زوج کښې د اوسيدلو ا ختيار ختم شو.نه هغه څلور مياشتې او لس ورځې مدت عدت کښې هلته پاتې کيديشی.اونه مدت وصيت اووه مياشتې اوشل ورځې هلته پاتې کيديشی. که اوسيږی نو کرايه به ورکوی. ميراث دې ته ملاؤ شو. رقم دې سره شته او اوسيدل غواړی نو کرايه دې ورکړی بلکه آيت ميراث نه پس خو دا وصيت هم جائز نه ګڼړی. څکه چه آيت تربص نزول کښې مقدم وو اوآيت الحول موخر وو مګر آيت الميراث ددې هم موخر دې لهذا هغه آيت الحول دپاره ناسخ دې.

په دې دريمه مسئله کښې هم آيت الحول آيت الميراث سره منسوخ شو، عطاء رحمه الله او مجاهد رحمه الله کښې اختلاف نشته دې دواړه ددې قائل دی.

ددې تفصيل نه معلوم شو چه د مجاهد رحمه الله اود عطاء رحمه الله بيان کښې دابن عباس رضي الله عنه مذهب بيان کولو کښې اختلاف نه دې ليکن دابن عباس رضي الله عنه په روايتونوکښې اختلاف واقع شوې دې،بعضې روايتونونه عدم نسخ معلوميږی لکه څنګه چه حضرت امام بخاری رحمه الله نقل کړی دی.اوددې تفصيل ددوی په مخکښې پيش کړې شو.اوبعضو روايتونوکښې نسخ معلوميږی. علامه سيوطی رحمه الله درمنثور کښې فرمائيلی دی چه ((اخرج ابوداود والنسائی والبيهقی من طريق عکرمة عن ابن عباس رضي الله عنه فی قوله ((وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا ۚ وَصِيَّةً لِّأَزْوَاجِهِم مَّتَاعًا إِلَى

الْحَوْلِ غَيْرَ إِخْرَاجٍ» قال نسخ الله ذالك باية الميراث بما فرض الله لهن من الربع والثمن ونسخ اجل الحول بان جعل اجلها اربعة اشهروعشرا»(۱)

داشان روایاتو نه دحضرت ابن عباس ﷺ رائې دجمهورو موافق معلومیږی چه هغه آیت الحول د «اربعة اشهروعشرا» والا آیت سره منسوخ منی.

٣٩= بَابُ مَهْرِ الْبَغِيِّ وَالنِّكَاحِ الْفَاسِدِ

وَقَالَ الْحَسَنُ إِذَا تَزَوَّجَ مُحَرَّمَةً وَهُوَ لَا يَشْعُرُ فُرِّقَ بَيْنَهُمَا وَلَهَا مَا أَخَذَتْ وَلَيْسَ لَهَا غَيْرُهُ ثُمَّ قَالَ بَعْدُ لَهَا صَدَاقُهَا

[٥٠٣١] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ثَمَنِ الْكَلْبِ وَحُلْوَانِ الْكَاهِنِ وَمَهْرِ الْبَغِيِّ [ر:٢١٢٢].

[٥٠٣٢] حَدَّثَنَا آدَمُ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ حَدَّثَنَا عَوْنُ بْنُ أَبِي جُحَيْفَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ لَعَنَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْوَاشِمَةَ وَالْمُسْتَوْشِمَةَ وَآكِلَ الرِّبَا وَمُوكِلَهُ وَنَهَى عَنْ ثَمَنِ الْكَلْبِ وَكَسْبِ الْبَغِيِّ وَلَعَنَ الْمُصَوِّرِينَ [ر:١٩٨٠]

[٥٠٣٣] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ الْجَعْدِ أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ جُحَادَةَ عَنْ أَبِي حَازِمٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ كَسْبِ الْإِمَاءِ [ر:٢١٦٣].

«بغی»(دباء په فتحه او غین په کسره اودیاء په تشدید سره)بروزن فعیل زانیه ته وائی. دا د صفت صیغه ده. او د «بغاء» نه مشتق دې.چه ددې معنی د زنا ده. مذکر او مونث دواړو دپاره دا لفظ استعمالیږی.

علامه کرمانی ﷫ فرمائی چه ددې وزن دفعول دې،اصل کښې «بغوی» وو .واو یاء سره بدل کړې شواو یاء مناسبت سره غین ته کسره ورکړې شوه اود یاء په یاء کښې ادغام اوکړې شو.(۲)

په دې باب کښې حضرت امام بخاری ﷫ درحقیقت په نکاح فاسد کښې دمهر مسئله بیان فرمائیل غواړی. لیکن د نکاح فاسد په سلسله کښې چونکه دوی سره څه روایت موجود نه دې.ددې وجې هغوی دمهر بغی روایت نه داستدلال کړې دې او ترجمه کښې «مهر بغی»اضافه کړې ده . چونکه نکاح فاسد کښې چه کومه وطی وی هغه هم یو قسم بغاء او زنا ده.

دنکاح فاسد ډیر صورتونه دی لکه دګواهانو نه بغیر نکاح،په زمانه دعدت کښې نکاح، نکاح موقت،دا دنکاح فاسد صورتونه دی.(۳)

«وقال الحسن اذا تزوج محرمة فرق بینهما ولها ما اخذت ولیس لها غیره ثم قال بعد لها صداقها»

«محرمة»(دمیم په ضمه او د راء په تشدید سره)«ای امراة محرمة علیه» د مستملی په روایت کښې«محرمة»(دمیم په فتحه او حاء په سکون سره او دراء په فتحه سره) دې،«ای ذا محرمة» یعنی ذی رحم محرمه ښځه(۴)

---

۱) اوګورئ الدرالمنثور: ۱/ ۳۰۹،وتعلیقات لا مع الداری: ۲۶/۹).
۲) فتح الباری: ۶۱۷/۹، وعمدة القاری : ۹/۲۱).
۳) عمدة القاری: ۹/۲۱).
٤) عمدة القاری: ۹/۲۱).

حضرت حسن بصری رحمه الله فرمائی که یوسړی یو ذی رحم محرم ښځې سره نکاح اوکړه او دې ته معلوم نه وو نومعلومیدونه پس د دواړو په مینځ کښې تفریق اوجدائی به راوستلې شي.
اوس پاتې شو دا چه دې ښځې ته به څه ملاویږی یا نه نو د حضرت حسن بصری رحمه الله دوه قولونه دی، یو قول دادې چه دې ته به صداق مسمی ملاویږی یعنی په نکاح کښې چه مهر مقرر شوې وو هغه به دې ته ملاویږی.«ولها ما اخذت»نه هم دا مراد دی او دویم قول دادې چه دې ته به مهر مثل ملاویږی ، «لها صداقها» یعنی «صداق مثلها» هم دا دواړه قولونه د جمهورو طرف ته هم منسوب دې. بعضو وئیلی دی چه «صداق مسمی» ملاویږی. اوبعضې فرمائی چه مهر مثل به ملاویږی. ابن بطال دا داکثرو علماء کرامو قول کنړلې دې .(۱)

محرم سره دنکاح کولو حکم :دا صورت خو په هغه وخت کښې دې چه یوسړی په بې خبرئی کښې یو محرمې سره نکاح اوکړه،لیکن که چا دقصده ددې خراب حرکت ارتکاب اوکړو نو د داسې سړی په حکم کښې اختلاف فقهاء دې :

① دحضرت امام مالك رحمه الله،حضرت امام شافعی رحمه الله او حضرت حسن بصری او په حنفیه کښې امام ابویوسف رحمه الله او د امام محمد رحمه الله په نیز داسې سړی باندې حدزنا جاری به وی.(۲)

② د حضرت امام احمد بن حنبل رحمه الله او د ا مام اسحاق په نیز ذی رحم محرمې ښځې سره واده کولو والا سړې به قتل کولې شي او دده مال به ضبط کولې شي .(۳)

③ دابن حزم ظاهری په نیز د پلار ښځې سره نکاح کولو والابه قتل کولې شی . لیکن باقی محارمو سره نکاح کولو والا باندې به حدزنا جاری کیږی.(۴)

④ دحضرت امام ابوحنیفه رحمه الله او حضرت سفیان ثوری رحمه الله په نیز په ده باندې به حدزنا نه جاری کیږی بلکه تعزیرا به ده ته سزا ورکولې شی.(۵)

حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائی چه «الحدود تندرئ بالشبهات» حدود دپاره قاعده دا ده چه هغه دشبهاتو په وجې سره ساقط کیږی اودلته «شبهة العقد» دې ددې وجې حد شرعی نه جاری کیږی البته سخته سزا به ورکولې شی.(۶)

حضرت امام احمد بن حنبل رحمه الله د سنن ابی داود د روایت نه استدلال کوی، حضرت براء بن عازب رضی الله عنه فرمائی چه خما خپل تره(ابوبرده بن نیار)سره ملاقات اوشو اودوی سره بیرغ وو. ما تپوس اوکړو چه چرته ځئی ؟هغوی اووئیل چه:

«بعثنی رسول الله صلی الله علیه وسلم الی رجل نکح امراة ابیه فامرنی ان اضرب عنقه واخذ ماله»(۷)

حافظ ابن حجر رحمه الله په «الاصابة» کښې فرمائی چه نکاح کولو والا ددې سړی نوم منظور بن زبان او دښځې نوم ملیکه بنت خارجه وو. لیکن په دې باندې اشکال کیږی چه منظور بن زبان خو دحضرت نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه پس ژوندې وو کله چه حدیث کښې دی چه د مذکوره

---

۱) فتح الباری: ۶۱۸/۹).
۲) المحلی لابن حزم کتاب الحدود حکم القتل فیمن اعرس بامراة ابیه : ۲۰۰/۱۲).
۳) بذل المجهود کتاب الحدود،باب فی الرجل یزنی بحریمه : ۴۲۳/۱۷).
٤) المحلی لابن حزم: ۱۲/ ۲۰٤).
۵) بذل المجهود: ۱۷: ٤۲۳).
۶) بذالمجهود : ٤۲۲/۱۲).
۷) سنن ابو داود کتاب الحدود،باب فی الرجل یزنی بحریمه: ٤/ ٤۵۵،رقم الحدیث : ٤٤۵۷).

سرېد ښځ پريكولو حكم وركړې شوې وو.(١)
بهر حال ددې روايت نه استدلال كوى او حضرت امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائى چه ذى رحم محرم سره نكاح كولو والا به قتل كولې شى.
علامه ابن حزم رحمه الله دقتل په دې حكم كښې مورد حديث سره خاص كړې دې چه «امراة الاب» سره نكاح كولو صورت كښې خوبه قتل كولې شى ليكن دويم محارم كښې به نشى قتل كولې بلكه حدزنا به پرې جارى كيږى .(٢)
حضرت مولانا عبدالحى لكهنوى رحمه الله په يو رساله «القول الجازم فى سقوط الحد بنكاح المحارم» نوم سره تحرير فرمائيلې ده.او د حضرات حنفيه مسلك په دې كښې مدلل بيان كړې دې.
دا حديث په كتاب البيوع كښې «باب ثمن الكلب» لاندې تير شوې دې،(٣) سپې خرخول او ددې قيمت اخستل دحضرت حسن بصرى رحمه الله او حضرت امام شافعى رحمه الله او حضرت امام احمد بن حنبل رحمه الله په نيز حرام دى. حديث باب ددې حضراتو مستدل دې.
دحضرت ابراهيم نخعى،سحنون مالكى او حضرات حنفيه په نيز ثمن الكلب جائز دې . حديث كښې چه څنګه وارد شوى دى دا ددې حضراتو په نيز منسوخ شوى دى.(۴)
دويم روايت كښې دى چه حضرت نبى كريم ﷺ په واشمة«بدن كښې ستنې سره رانجه لګول والا» او مستوشمة«او بل لره ستنې سره رانجه لګولو والا» باندې او سود كوونكى او سود خورونكى باندې لعنت دې او د سپې قيمت اودزنا كمائى نه منع فرمائيلې ده او تصوير جوړونكى والو باندې لعنت دې.
داحديث هم كتاب ا لبيوع كښې«باب ثمن الكلب» لاندې تير شوې دې.(۵)
دريم روايت كښې دى چه حضرت نبى كريم ﷺ د«كسب اماء» د وينځو د كمائى نه منع فرمائيلې ده يعنې وينځو زنااوكړه اوچه كوم رقم ئې حاصل كړو دهغې نه ئې منع فرمائيلې ده.
دا حديث هم په كتاب البيوع كښې تير شوې دې.(۶)

٥٠ = بَابُ الْمَهْرِ لِلْمَدْخُولِ عَلَيْهَا وَكَيْفَ الدُّخُولُ أَوْ طَلَّقَهَا قَبْلَ الدُّخُولِ وَالْمَسِيسِ

[٥٠٢٣] حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ زُرَارَةَ أَخْبَرَنَا إِسْمَاعِيلُ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ قَالَ قُلْتُ لِابْنِ عُمَرَ رَجُلٌ قَذَفَ امْرَأَتَهُ فَقَالَ فَرَّقَ نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ أَخَوَيْ بَنِي الْعَجْلَانِ وَقَالَ اللَّهُ يَعْلَمُ أَنَّ أَحَدَكُمَا كَاذِبٌ فَهَلْ مِنْكُمَا تَائِبٌ فَأَبَيَا فَقَالَ اللَّهُ يَعْلَمُ أَنَّ أَحَدَكُمَا كَاذِبٌ فَهَلْ مِنْكُمَا تَائِبٌ فَأَبَيَا فَفَرَّقَ بَيْنَهُمَا، قَالَ أَيُّوبُ فَقَالَ لِي عَمْرُو بْنُ دِينَارٍ فِي الْحَدِيثِ شَيْءٌ لَا أَرَاكَ تُحَدِّثُهُ قَالَ قَالَ الرَّجُلُ مَالِي قَالَ لَا مَالَ لَكَ إِنْ كُنْتَ صَادِقًا فَقَدْ دَخَلْتَ بِهَا وَإِنْ كُنْتَ كَاذِبًا فَهُوَ أَبْعَدُ مِنْكَ [ر: ۴۴۷۱].

---

١) تعليقات بذل المجهود: ١٢/٤٢٢).
٢) المحلى لابن حزم: ١٢/٢٠٥).
٣) عمدة القارى: ٢١/٩).
٤) عمدة القارى: ٢١/٩).
٥) عمدة القارى: ٢١/١٠).
۶) عمدة القارى: ٢١/١٠).

د حضرت امام بخاری رحمه الله مقصد دادې چه دمدخول بها دپاره مهر واجب دې .دا مسئله متفق علیه ده چه کومه ښځه مدخول بها ده،ددې وجې مهر واجب دې. که مهر مسمی دې او مخکښې نه مقرر دې نو هغه واجبدې گنی مهر مثل به واجب وی.

قوله: كيف الدخول :د دخول کیفیتاوددې حقیقت شرعیه تفصیل کښې حضرات فقهاء کرام کښې اختلاف دې.

حضرات حنفیه، حضرت امام احمد بن حنبل رحمه الله او یو روایت کښې حضرت امام مالك رحمه الله فرمائی چهدخول په حقیقت کښې خلوت صحیحه دې، که ښځې سرهدسړی خلوت اوشی، داشان چهڅوك څه شرعي یاحسي مانع موجود نه وی نو داسې خلوت صحیحه به دخول گنړلې شی. دحضرت امام شافعي رحمه الله په نیزدخول نه مراد جماع ده.د حضرت امام احمد بن حنبل رحمه الله یو روایت ددې مطابق دې .(١)

حضرت امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائی کهدخول دخاوند په کور کښې وی نو هغه ځائې کښې به د ښځې قول معتبر وی. یعنی د اختلافپه صورت کښېخاوند د بینه او گواهانو په ذریعه ثابتوی. اوکه ثابت نه کړې شی نو دښځې قول به مع الیمین معتبر وی. او کهدښځې په کور کښې دخول شوې وی نوهلته بهدزوج قول معتبروی.یعنی کهاختلاف شی نو ښځه به بینه سره ثابتوی. که نه وی نو قول د رجل مع الیمین به معتبر وی. اوبینه سره ثابتول څه مشکله خبره نه دهځکه چهددوی په نیزد دخول نه مراد خلوت دې اوددې علم خلقو ته کیږی.

قوله: او طلقها قبل الدخول والمسيس :یعنی که یو سړي دخول او مسیس نه مخکښې طلاق ورکړو نو ددې څه حکم دې؟دلته امام بخاری رحمه الله د دخول نه پس د «مسیس» لفظ ذکر کړې دې. اودا تاسو ته معلومه شوی دی چهدخول، مسیس،مس او جماع په یو معنی کښې مستعمل دی. حضرت امام بخاری رحمه الله د دخول نه پس د مسیس لفظ راوړی اودې خبرې طرفته اشاره کوی چه هغه د حضرت امام شافعي رحمه الله تائید کوی ځکه چه دهغه په نیز دخول دجماع په معنی کښې دې.

دباب لاندې حضرت امام بخاری رحمه الله چه کوم حدیث نقل کړې دې،د هغې په آخر کښې دی چه«ان كنت صادقا فقد دخلت بها»چه ددې نه معلومیږی چه مدخول بها دمهر حقداره وی.

٥١- بَابُ الْمُتْعَةِ لِلَّتِي لَمْ يُفْرَضْ لَهَا

لِقَوْلِهِ تَعَالَى لَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِنْ طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ مَا لَمْ تَمَسُّوهُنَّ أَوْ تَفْرِضُوا لَهُنَّ فَرِيضَةً إِلَى قَوْلِهِ إِنَّ اللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ [البقرة:٢٣٦،٢٣٧].

وَقَوْلِهِ وَلِلْمُطَلَّقَاتِ مَتَاعٌ بِالْمَعْرُوفِ حَقًّا عَلَى الْمُتَّقِينَ كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ [البقرة:٢٤١،٢٤٢].

وَلَمْ يَذْكُرِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمُلَاعَنَةِ مُتْعَةً حِينَ طَلَّقَهَا زَوْجُهَا [ر:٥٠٠٢].

[٥٠٣٥] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَمْرٍو عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِلْمُتَلَاعِنَيْنِ حِسَابُكُمَا عَلَى اللَّهِ أَحَدُكُمَا كَاذِبٌ لَا سَبِيلَ لَكَ عَلَيْهَا قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَالِي قَالَ لَا مَالَ لَكَ إِنْ كُنْتَ صَدَقْتَ عَلَيْهَا فَهُوَ بِمَا اسْتَحْلَلْتَ مِنْ فَرْجِهَا وَإِنْ كُنْتَ كَذَبْتَ عَلَيْهَا فَذَاكَ أَبْعَدُ وَأَبْعَدُ لَكَ مِنْهَا [ر:٥٠٠١].

---

١) فتح الباری: ٦١٩/٩).

دا حديث بعينه هم دارنګ متن اوسند سره په کتاب التفسير کښې تير شوي دي.او هلته ددې تشريح هم تيره شوې ده.(۱)

په دې باب کښې حضرت امام بخاري رحمه الله دمطلقه دپاره دمتعه مسئله بيانوى، متعه مطلقه ښځه درخصت کولو په وخت کښې څه ورکولو ته وائى. د حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز دمتعه په طور لوپټه، څادراو جامه ورکول پکاردى.(۲)

په دې مسئله کښې د ائمه اربعه اختلاف دې.

①د حضرت امام مالك رحمه الله او حضرت امام احمد بن حنبل رحمه الله په نيز متعه مطلقًا واجب نه ده،که ښځه مدخول بها وى او که غير مدخول بها،مهر مقرر شوې وى يا نه وى مقرر شوې.

②دحضرت امام شافعي رحمه الله په نيز متعه هرې مطلقه دپاره واجب ده که مدخول بها وى او که غير مدخول بها وى،مهر مقرر شوې وى اوکه نه .

③ دحضرات حنفيه په نيز متعه صرف دهغه مطلقه دپاره واجب ده چه غير مدخول بها وى او ددې دپاره مهر مقرر شوې نه وى.((ولايجمع المهرمع المتعة))(۳)

نو د ترجمة الباب آيت کښې دواړه قيدونه دى.((مالم تمسوهن اوتفرضوالهن فريضة)) په دې کښې دواړه خبرې ذکر دى که هغه مدخول بهانه وى او ددې دپاره مهر تسميه نه وى شوې .

دې نه پس فرمائى چه حضرت نبى کريم ﷺ په لعان کښې دلعان کولو والا ښځې دپاره د متعه هيڅ تذکره نشته دې تر دې پورې چه ددې خاوندې دې ته طلاق ورکړى،حالانکه هغه ملاعنه مدخول بها وه،معلوم شو چه متعه صرف دهغه مطلقه دپاره ده چه غير مدخول بها وى.

دحنفيه او شافعيه په نيز ملاعنه((لعان کولو والا ښځه))د مطلقه په حکم کښې ده((فتجب لها ما تجب للمطلقة))د مالکيه اوحنابله په نيز ملاعنه دپاره متعه نشته دې.(۴)

وهذا آخر ما اردنا إيراده من شرح أحاديث كتاب فضائل القرآن وكتاب النكاح و الطلاق من صحيح البخارى للشيخ المحدث الجليل سليم الله خان حفظه الله ورعاه ومتعنا الله بطول حياته وقد وقع الفراغ من تسويده و إعادة النظرفيه ، ثم تصحيح ملازم الطبع بيوم الأربعاء ٩ من ذى القعدة (۱۴۲۰)هـ الموافق ۱۵ فبرائر ۲۰۰۰م والحمد لله الذى بنعمته تتم الصالحات وصلى الله على النبى الأمى وآله وصحبه وتابعيهم وسلم عليه وعليهم مادامت الأرض والسموات رتبه و راجع نصوصه وعلق عليه ابن الحسن العباسى عضو قسم التحقيق والتصنيف والأستاذ بالجامعة الفاروقية ، وفقه الله تعالى لإتمام باقى الكتب كما يحبه ويرضاه وهو على كل شئ قدير ،ولا حول ولا قوة إلا بالله العلى العظيم ، ويليه إن شاء الله شرح كتاب النفقات.

....

۱) کشف الباري: کتاب التفسير: ۸۰-۷۹).

۲) المتعة جلباب ودرع وخمار واليه ذهب ابوحنيفه رحمه الله (عمدة القارى: ۲۱/۱۱).

۳) الابواب والتراجم : ۲/ ۸۵-۸۴،وعمدة القارى: ۲۱/۱۱).

۴) الابواب والتراجم : ۲/ ۸۵).

مصادر و مراجع

الاتقان فی علوم القرآن جلال الدین سیوطی سهیل اکیڈمی، لاهور۔
اسد الغابة فی معرفة الصحابة عز الدین ابن الاثیر جزری دار الکتب العلمیة بیروت۔
الاصابه حافظ ابن حجر دالفکر بیروت۔
الاستیعاب علامه بن عبد البر دار الفکر بیروت۔
احکام القرآن علامه ابو بکر احمد بن علی جصاص دار الکتاب العربی بیروت۔
احکام القرآن محمد بن عبدالله: ابن العربی مالکی دار المعرفة بیروت۔
احکام القرآن مفتی محمد شفیع و مولانا ظفر احمد عثمانی ادارة القرآن کراچی۔
ارشاد الساری احمد بن محمد قسطلانی دار الکتب العلمیة بیروت۔
الاعلام خیر الدین زرکلی دار العلم للملایین۔
اعلاء السنن، مولانا ظفر احمد عثمانی ادارة القرآن کراچی۔
اعانة الطالبین سید ابو بکر المشهور بالسید بحری احیاء التراث العربی بیروت۔
الانصاف فی معرفة الراجح من الخلاف علاء الدین علی بن سلیمان مردوی دار احیاء التراث العربی۔
اوجز المسالک شیخ الحدیث مولانا زکریا صاحب رحمة الله علیه، ادارہ تالیفات اشرفیه، ملتان۔
اصول البزدوی ابو الحسن علی بن محمد البزدوی الصدف پبلشرز، کراچی۔
احسن الفتاوی مفتی رشید احمد ایچ ایم سعید، کراچی۔
الاشباہ والنظائر علامة ابن نجیم ادارة القرآن کراچی۔
الابواب والتراجم مولانا محمد زکریا ایچ ایم سعید، کراچی۔
امداد الاحکام مولانا ظفر احمد عثمانی مکتبه دار العلوم، کراچی۔
آپ بیتی مولانا محمد زکریا مکتبة الشیخ کراچی۔
البحر المحیط محمد بن یوسف ابو حیان مالکی اندلسی دار الفکر بیروت۔
البدر الساری مولانا بدر عالم میرٹھی خضر راہ بک ڈپو، دیوبند۔
بیان القرآن حضرت مولانا اشرف علی تھانوی مطبع مجتبائی، دہلی۔
البحر الرائق شیخ زین العابدین ابن نجیم ایچ ایم سعید کمپنی، کراچی۔
بدایة المجتهد ابن رشد قرطبی مصطفی البابی، مصر۔
بدائع الصنائع علامه علاء الدین بن مسعود کاسانی ایچ ایم سعید کمپنی، کراچی۔
البرهان فی علوم القرآن بدر الدین محمد بن عبد الله زرکشی دار المعرفة، بیروت۔
بلغة السالک لاقرب المسالک احمد بن محمد الصاوی مالکی مطبعه مصطفی البابی، مصر۔
تذکرة الحفاظ شمس الدین ذهبی دار احیاء التراث العربی۔
تیسیر مصطلح الحدیث محمود بن احمد طحان مکتبه داز التراث، کویت۔
تهذیب التهذیب حافظ ابن حجر دار صادر بیروت
تقریب التهذیب حافظ ابن حجر دار الرشد، حلب۔

تاریخ بغداد احمد خطیب بغدادی دار الکتاب العربی بیروت۔
تاریخ بخاری کبیر ، امام بخاری دار الکتب العلمیۃ بیروت۔
تغلیق التعلیق حافظ ابن حجر المکتب الاسلامی۔
تدریب الراوی جلال الدین سیوطی مکتبہ علمیۃ مدینہ منورہ۔
التقریب امام نووی مکتبہ علمیہ ، مدینہ منورہ۔
تعلیقات لامع الدراری شیخ الحدیث مولانا زکریا صاحب مکتبہ امدادیہ ، مکہ مکرمہ۔
تعلیقات البخاری مصطفی دیب بغا دار ابن کثیر ، بیروت۔
تکملۃ فتح الملہم مولانا محمد تقی عثمانی مکتبہ دار العلوم کراچی
تفسیر کبیر امام فخر الدین رازی مکتب الاعلام الاسلامی ، ایران۔
تفسیر عثمانی علامہ شبیر احمد عثمانی مجمع الملک فهد ، سعودی عرب۔
تفسیر ابن جریر حافظ ابن جریر طبری دار المعرفۃ ، بیروت۔
تفسیر ابن کثیر اسماعیل ابن کثیر دار الفکر بیروت۔
التعلیق الصبیح مولانا محمد ادریس کاندھلوی مکتبہ عثمانیہ ، لاهور۔
التلخیص الحبیر حافظ ابن حجر دار نشر الکتب الاسلامیہ ، لاهور۔
تعلیقات تهذیب الکمال ڈاکٹر بشار عواد مؤسسۃ الرسالۃ ، بیروت۔
تلخیص مستدرک حاکم شمس الدین ذهبی دار الفکر بیروت۔
تعلیقات هدایہ مولانا عبد الحی لکهنوی قدیمی کتب خانہ کراچی۔
تفسیر مدارک عبد اللہ بن احمد نسفی دار احیاء الکتب العربیہ ، مصر۔
التغلیق علی جامع الاصول عبد القادر الارناؤوط دار الفکر بیروت۔
التعلیق المغنی علی سنن الدار قطنی شمس الحق دار نشر الکتب الاسلامیہ ، لاهور۔
تبیین الحقائق علامہ عینی ادارۃ القرآن ، کراچی۔
الجامع لاحکام القرآن محمد بن احمد قرطبی دار الفکر بیروت۔
جامع المسانید علامہ خوارزمی
جامع الاصول مبارک بن احمد قرطبی دار الفکر بیروت۔
حاشیۃ صحیح البخاری ، احمد علی سهارنپوری قدیمی کتب خانہ کراچی۔
حاشیۃ صحیح البخاری ، ابو الحسن محمد بن عبد الهادی سندهی قدیمی کتب خانہ کراچی۔
الحاوی الکبیر علی بن محمد بن حبیب ماوردی دار الفکر بیروت۔
حلیۃ الاولیاء ابو نعیم اصبهانی دار الفکر بیروت۔
حاشیۃ علوم الحدیث نور الدین عتر دار الفکر بیروت۔
خلاصۃ الخزرجی علامہ صفی الدین خزرجی دار الفکر بیروت۔
خصائل نبوی شرح شمائل ترمذی مولانا محمد زکریا مکتبۃ الشیخ بهادر آباد کراچی۔
دلائل النبوۃ ابو نعیم اصبهانی دار النفائس

دلائل النبوة احمد بن الحسين بيهقى مكتبه اثريه، لاهور۔
الدر المختار، محمد بن علی حصکفی ایچ ایم سعید کمپنی، کراچی۔
الدر المنثور جلال الدین سیوطی مؤسسة الرسالة، بیروت۔
روح المعانی ابو الفضل محمود آلوسی مکتبه امدادیه، ملتان۔
الروض الانف عبد الرحمن بن عبد الله سهیلی مکتبه فاروقیه، ملتان۔
زاد المعاد علامه ابن القیم مؤسسة الرسالة۔
زهر الربی امام سیوطی قدیمی کتب خانه، کراچی۔
سنن ابن ماجه محمد بن یزید: ابن ماجه دار الکتب المصری قاهره۔
سنن نسائی احمد بن شعیب نسائی اداره تالیفات اشرفیه، ملتان۔
سنن ابی داؤد سلیمان بن اشعث ابو داؤد، دار احیاء السنة النبویة۔
سنن دار قطنی علی بن عمر دارقطنی دار نشر الکتب الاسلامیه، لاهور۔
سیر اعلام النبلاء سمش الدین بن محمد ذهبی مؤسسة الرسالة۔
السیرة الحلبیة علی بن برهان الدین حلبی المکتبة الاسلامیة، بیروت۔
سیرة ابن هشام ابو محمد عبد الله بن هشام مصطفی البابی، مصر۔
سنن الترمذی محمد بن عیسی ترمذی دار احیاء التراث العربی، بیروت۔
سنن الترمذی محمد بن عیسی ترمذی ایچ ایم سعید، کمپنی۔
سنن کبری احمد بن الحسین بن بیهقی نشر السنه ملتان۔
سنن الدارمی عبد الله بن عبد الرحمن دارمی قدیمی کتب خانه کراچی۔
شرح الکرمانی محمد بن یوسف الکرمانی دار احیاء التراث العربی بیروت۔
الشرح الصغیر احمد بن محمد دردیر دار المعارف، مصر۔
الشرح الکبیر (العزیز شرح الوجیز) عبد الکریم بن محمد رافعی مکتبه عباس احمد الباز، مکه مکرمه۔
شرح مسلم یحیی بن شرف نووی قدیمی کتب خانه کراچی۔
شرح معانی الآثار احمد بن محمد طحاوی ایچ ایم سعید کمپنی، کراچی۔
شرح الطیبی حسین بن محمد طیبی ادارة القرآن، کراچی۔
شرح مؤطا للزرقانی محمد زرقانی دار الفکر، بیروت۔
شمائل ترمذی امام ترمذی میر محمد کتب خانه، کراچی۔
مشکل الآثار امام طحاوی
الموضوعات علامه ابن الجوزی قدیمی کتب خانه، کراچی۔
المدونة الکبری امام مالک دار صادر بیروت۔
صحیح البخاری، محمد بن اسمعیل بخاری قدیمی کتب خانه، کراچی۔
صحیح البخاری، محمد بن اسمعیل بخاری دار السلام ریاض۔
صحیح مسلم مسلم بن حجاج قدیمی کتب خانه، کراچی۔

صحیح مسلم مسلم بن حجاج دار الفکر بیروت ۔
صحیح ابن حبان محمد بن حبان ۔
طبقات ابن سعد محمد بن سعد دار صادر بیروت۔
ظفر الامانی بشرح مختصر السید الشریف مولانا عبد الحی لکھنوی مکتب المطبوعات اسلامیہ، حلب ۔
الجرجانی فی مصطلح الحدیث
عمدۃ القاری محمد بن احمد عینی ادارۃ الطباعۃ المنیریۃ، بیروت۔
العدۃ شرح العمدۃ بہاء الدین عبد الرحمن بن ابراہیم مقدسی مکتبہ الریاض الحدیثہ
العرف الشذی مولانا انور شاہ کشمیری قدیمی کتب خانہ کراچی ۔
عنایہ مع فتح القدیر محمد بن محمود بابرتی مصطفی البابی، مصر۔
عمدۃ الرعایہ مولانا عبد الحی لکھنوی قدیمی کتب خانہ کراچی۔
غایۃ السعایہ مولانا عبد الحی لکھنوی مکتبہ خیر کثیر، کراچی ۔
غرائب القرآن (علی ہامش تفسیر ابن جریر) نظام الدین الحسن بن محمد نیشاپوری مطبعۃ امیریہ مصر
فتح القدیر محمد بن عبدالواحد: ابن الہمام مکتبہ رشیدیہ، کوئٹہ۔
فتح القدیر محمد بن علی شوکانی مکتبہ مصطفی البابی، مصر۔
فتح الباری، حافظ ابن حجر عسقلانی قدیمی کتب خانہ کراچی ۔
فتح الباری، حافظ ابن حجر عسقلانی دار الفکر بیروت۔
فیض الباری، مولانا انور شاہ کشمیری خضر راہ بکڈپو، دیوبند۔
الفقہ الاسلامی و ادلتہ علامہ وہبہ زحیلی مکتبہ حقانیہ، پشاور۔
فتاوی عالمگیری، جماعۃ من علماء الہند، نورانی کتب خانہ، پشاور۔
فتح المغیث عبد الرحیم بن الحسین عراقی دار الکتب العلمیۃ، بیروت۔
فضائل القرآن ابو عبید قاسم بن سلام دار الکتب العلمیۃ، بیروت۔
فتح الملہم مولانا شبیر احمد عثمانی، ادارۃ القرآن، کراچی۔
القاموس المحیط، مجد الدین محمد بن یعقوب فیروز آبادی، مطبعۃ مصطفی البابی، مصر۔
قوت المغتذی علامہ سیوطی میر محمد کتب خانہ۔
کشف الباری (کتاب الایمان، کتاب المغازی) شیخ الحدیث مولانا سلیم اللہ خان مکتبہ فاروقیہ، کراچی۔
الکامل فی ضعفاء الرجال، عبد اللہ بن عدی، دار الفکر، بیروت۔
کتاب الثقات ابو حاتم محمد بن حبان بستی، دار الفکر، بیروت۔
الکوکب الدری، حضرت مولانا رشید احمد گنگوہی، رحمہ اللہ تعالیٰ، متوفیٰ ۱۳۲۳ھ، ادارۃ القرآن کراچی۔
کتاب الآثار امام اعظم ابو حنیفہ کتب خانہ مجیدیہ، ملتان۔
کشف الاستار نور الدین علی بن ابی بکر ہیثمی مؤسسۃ الرسالۃ، بیروت۔
کنز العمال، علامہ علی متقی بن حسام الدین، مکتبۃ التراث الاسلامی، حلب۔
کتاب الام، امام شافعی، دار المعرفۃ، بیروت۔
کنز الدقائق عبد اللہ بن احمد نسفی مکتبہ رشیدیہ، کوئٹہ۔

كتاب الضعفاء الكبير محمد بن عمر عقيل ، دار الكتب العلمية ۔
اللباب عبد الغنی غنیمی میدانی مکتبہ علمیہ ، بیروت۔
لامع الدراری ، مولانا رشید احمد گنگوہی ، مکتبہ امدادیہ مکۃ مکرمۃ۔
لسان العرب ، علامہ ابن منظور افریقی ، نشر ادب الحوزۃ ، ایران ۔
معالم السنن ، امام احمد بن محمد الخطابی ، مطبعۃ الانصار الاسلامیہ المحمدیۃ ۔
مجموع فتاوی ابن تیمیہ شیخ الاسلام علامہ ابن تیمیہ دار العربیہ ، بیروت۔
المحلی بالآثار ، علی بن احمد : ابن حزم دار الکتب العلمیۃ بیروت۔
مجمع الزوائد و منبع الفوائد ، نور الدین علی بن ابی بکری ہیثمی ، دار الفکر ، بیروت۔
مقدمہ ابن صلاح عثمان بن عبد الرحمن : ابن صلاح دار الکتب العلمیہ ، بیروت۔
مجمع بحار الانوار ، علامہ محمد طاہر پٹنی مجلس دائرۃ المعارف حیدر آباد دکن ۔
مشکاۃ المصابیح ، محمد بن عبد اللہ خطیب تبریزی ، قدیمی کتب خانہ ، کراچی ۔
مرقاۃ المفاتیح ملا علی قاری مکتبہ امدادیہ ، ملتان۔
المغنی ، موفق الدین ابن قدامۃ ، دار الفکر ، بیروت ۔
معارف القرآن مفتی محمد شفیع صاحب ادارۃ المعارف ، کراچی۔
مسند امام احمد بن حنبل امام احمد بن حنبل المکتب الاسلامی ، دار صادر بیرو۔
مختار الصحاح محمد بن ابی بکر رازی دار المعارف ، مصر۔
میزان الاعتدال علامہ ذہبی ، دار احیاء التراث العربی بیروت ۔
مصنف ابن ابی شیبۃ ، عبد اللہ بن محمد بن ابی شیبۃ الدار السلفیہ ، بمبئی ۔
المقنع فی فقہ الامام احمد بن حنبل موفق الدین ابن قدامہ مکتبہ الریاض الحدیثہ ، ریاض۔
المنتقی شرح المؤطا ابو الولید سلیمان بن خلف باجی دار الکتاب العربی ، بیروت۔
معجم البلدان ، یاقوت بن عبد اللہ حموی دار احیاء التراث العربی ، بیروت ۔
مختصر اختلاف العلماء احمد بن محمد : طحاوی ، اختصار : جصاص رازی دار البشائر الاسلامیہ ، بیروت۔
المجموع شرح المہذب ، امام نووی ، شرکۃ من علماء الازہر۔
حماسۃ ، ابو تمام میر محمد کتب خانہ ، کراچی۔
حاشیہ ترمذی ، احمد علی سہارنپوری میر محمد کتب خانہ ۔
مؤطا ، امام مالک ، دار احیاء التراث العربی۔
مؤطا ، امام محمد نور محمد ، کراچی ۔
مباحث فی علوم القرآن مناع القطان مکتبہ المعارف ، ریاض
المتواری علی تراجم ابواب البخاری ، احمد بن محمد : ابن المنیر ، مظہری کتب خانہ گلشن اقبال ۔
معارف السنن مولانا محمد یوسف بنوری ایچ ایم سعید کمپنی ، کراچی۔
النشر فی القراءات العشر ، محمد بن الجزری ، مکتبہ تجاریہ مصر۔
نیل الاوطار ، محمد بن علی شوکانی ، مطبع مصطفی البابی ، مصر۔
النہایۃ فی غریب الحدیث ، علامہ ابن الاثیر ، دار احیاء التراث العربی بیروت ۔
نصب الرایۃ عبد اللہ بن یوسف زیلعی ، مجلس علمی ڈابھیل ۔
وفیات الاعیان ، علامہ ابن خلکان ، دار صادر ، بیروت۔
ہدی الساری ، حافظ ابن حجر عسقلانی ، دار الفکر ، بیروت ۔
الہدایۃ ، علی بن ابی بکر مرغینانی . ایچ ایم سعید کمپنی ، کراچی ۔